فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوٰی فریدیه

شپږم جلد

افادات	محدث کبیر فقیه العصر مفتی اعظم عارف بالله مولانا مفتی **محمد فرید** رحمة الله علیه جامعه دار العلوم حقانیه اکوړه خټک
تخریج وترتیب	مفتی محمد وهاب منګلوری مدرس دار العلوم صدیقیه زروبی
ترجمه وکمپوزنګ	**دار الترجمه وکمپوزنګ سنټر** عبدالغني پلازه محله جنګی پشاور
زیر سرپرستی	مولانا حافظ **حسین احمد صدیقی** نقشبندی مهتمم دار العلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی
ناشر	مکتبه رشیدیه اکوړه خټک

دكتاب نوم: فتاوى ديوبند پاكستان المعروف بفتاوى فريديه (شپږم جلد)

افادات: محدث كبير فقيه العصر مفتي اعظم عارف بالله مولانا
مفتي محمد فريد مجددي زروبوي رحمه الله
شيخ الحديث وصدر دارالافتاء جامعه دارالعلوم حقانيه اكوړه ختك

ترتيب و تخريج: مولانا مفتي محمد وهاب منګلوري نقشبندي
دارالافتاء دارالعلوم صديقيه

معاون: مولانا مفتي عصمت الله حقاني

ترجمه وكمپوزنګ: دارالترجمه وكمپوزنګ سنټر
عبدالغني پلازه محله جنګي پشاور

زيرنګراني: برهان الدين صديقي فاضل جامعه دارالعلوم كراچي
ايم اے عربي پشاور يونيورستي (فون: ۰۳۴۴_۹۱۲۹۰۲۳)

مصححين: (۱) مولانا لطف الرحمن صاحب مدرس ونګران قاسم العلوم شيقدر
(۲) مولانا محمد يعقوب حقاني صاحب

ضخامت: ۶۴۰ صفحات

رومبي چهاپ: مئي ۲۰۱۴ء .... رجب ۱۴۳۵ھ

زير سرپرستي: مولانا حافظ حسين احمد صديقي نقشبندي
مهتمم دارالعلوم صديقيه زروبي ضلع صوابي (پاكستان)

ناشر: مكتبه رشيديه سردار پلازه اكوړه ختك نوشهره
رابطه نمبر: ۰۳۴۴-۹۰۸۴۶۹۳

فهرست مضامین

صفحه	مضمون

باب الایلاء واللعان

باب الظهار

باب الخلع

مضمون	صفحه

باب العدة

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

باب فی التحلیل

باب ثبوت النسب

صفحه	مضمون
۱۲۲	اووه میاشتې وروسته پیدا شوی ماشوم ثابت النسب وي
۱۲۷	د اغوا شوې زنانه د بچي نسب او د ماشوم د نکاح مسئله
۱۲۸	صرف په بې ثبوته الزام باندې د نسب نفی نه شي کیدې
۱۲۸	د ولد الزنا نسبت به د مور طرف ته کولې شي او د مور وارث به وی
۱۲۹	مطلقه مغلظه لره د کیښودلو په صورت کې د پیدا شوی اولاد حکم
۱۳۰	د کویږدن نه پس د جماع نه د پیدا شوی اولاد حکم
۱۳۱	د وادهٔ نه څلور میاشتې پس د پیدا کیدونکی ماشوم نسب
۱۳۲	د دوه کالو نه د غائب خاوند د ښځې د حمل مسئله
۱۳۲	د ښځې د کنځلو په طور د خاوند نه د اولاد نفی کول

فصل في العزل وضبط التوليد

مضمون	صفحه

باب النفقات

مضمون	صفحه

كتاب الأيمان

باب ما یتعلق بالنذر

مضمون	صفحه

کتاب الوقف

مضمون	صفحه

باب احکام المساجد

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه
په مسجد یا د هغې په حدودو کې د کانونه جوړول جائز نه دی	۳۰۴
د مسجد د پاره په وقف ځمکه کې د مسجد د امام د پاره د کور آبادولو حکم	۳۰۵
د مسجد د پاسه د بيت الخلاء جوړولو مسئله	۳۰۵
د مسجد اضافی ځای لره د خطیب په کور کې د شاملولو حکم	۳۰۶
د مسجد په غیر آباد حصه ځمکه کې د کرونديٖ حکم	۳۰۷
د مسجد د دوه هالونو ترمینځه د لارې په صورت کې د اقتداء مسئله	۳۰۷
د مسجد لرګی اخستلو سره استعمالول جائز دی	۳۰۸
د يو مسجد د پاره اخستلې شوې سيمنټ اوبل مسجد ته د قرض ورکولو حکم	۳۰۹
په جومات باندې د فدیه، عشر او زکوٰة نه علاوه باقی تبرع او خیرات خرج کولې شی	۳۱۰
د مسجد په نوم باندې جبری چنده اخستل جائز نه دی	۳۱۰
د مسجد د تعمیر د پاره د عوامو نه د چندې حکم	۳۱۱
په مسجد کې د چنده کولو او ورکولو حکم	۳۱۱
د تعمیر مسجد د پاره په مسجد کې چنده غوښتل	۳۱۲
د صاحب استطاعت خلقو د مسجد د پاره د چندې ورکولو حکم	۳۱۳
د تربیلا ډیم د متاثره مساجدو د حکومتی رقم حکم	۳۱۴
په تربیلا ډیم کې د ډوبو شوو مساجدو په بدله کې د حکومتی رقم مصرف	۳۱۵
د عبدالقادر جیلانی رحمه الله په نوم سالانه خیرات په مسجد کې خرچ کول	۳۱۶
د مسجد د فنډ نه د مړی شوی امام د ښځې د امداد وغیره حکم	۳۱۸
د مسجد د فنډ نه د غسل خانو وغیره د تعمیر مسئله	۳۱۹
د يو مسجد چنده په بل مسجد کې لګول او د مسجد فنډ په مسجد کې جمع کول	۳۲۱
د يو مسجد چنده په بل مسجد کې د خرچ کولو حکم	۳۲۲

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه
مسجد دپاره د چنده ورکولو په شرط باندې په نیلام کې بولی نه کول ...	۳۸۵
د مسجد د بجلۍ نه بالمعاوضه تار اخستل ...	۳۸۵
د مساجد په دیوالونو باندې د یا الله یا محمد لیکلو مسئله ...	۳۸۶
په مسجد کې د لیټرین جوړولو مسئله ...	۳۸۷
د مسجد دپاره د لاؤډ سپیکر راوړلو والاد دخل اندازۍ وغیره حکم ...	۳۸۸
د مړي تابوت (صندوق) د مسجد په کار راوستل ...	۳۸۸
د مسجد د تعمیر نه په اضافي چنده باندې د کتابونو اخستلو او د مدرسې د کتب ذاتي په استعمال کې د راوستلو حکم ...	۳۸۹
د مسجد د بلډنګ متعلق مختلف سوالات ...	۳۸۹
د مسجد دپاره کړې شوې جبري چنده واپس کول پکار دي ...	۳۹۰
کوم مسجد چې زیات محتاج وي په هغې کې رقم خرچ کول مقدم دي ...	۳۹۱
د مسجد په وقف شوې ځمکه مکې د مسجد کمیټۍ د تصرف حیثیت	۳۹۲
په مسجد کې د لارې وغیره جوړلو حکم ...	۳۹۳
مسجد سره نږدې د میلمنو دپاره ځای جوړول او په هغې باندې د مسجد د فنډ نه د صرف کولو حکم ...	۳۹۴
د مسجد په انګڼ کې د زړو قبرونو د لرې کولو او په مسجد کې د شاملولو حکم ...	۳۹۵
په مسجد کې د اذان کولو او د بجلۍ پکې لګولو حکم ...	۳۹۵
د مسجد د فنډ نه مناسب معاوضه اخستلو سره او په قرض کې د مُجری کولو مسئله ...	۳۹۶
په موقوف مسجد کې حصه داری وغیره نه شي کیدې ...	۳۹۷
د ګرمۍ او یخنۍ په مسجدونو کې یو مسجد لره په مخالف موسم کې د بندولو مسئله ...	۳۹۸

مضمون	صفحه

باب ما يتعلق بالمدارس

مضمون	صفحه

کتاب الجهاد

باب شرائط الجهاد وغیره

باب الغنائم وقسمتها

باب الاستیمان واحکام دار الحرب

باب الاستعانة من الكفار وغيره

كتاب الحدود والتعزيرات

باب التعزير

باب حد الزنا

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

باب حد السرقة

كتاب القصاص

کتاب الدیة والکفارة

مضمون	صفحه

مضمون	صفحه

کتاب المرتد

بسم الله الرحمٰن الرحيم

فتاوىٰ ديوبند پاكستان المعروف بفتاوىٰ فريديه (شپږم جلد)

الحمدلله رب العالمين والصلوٰة والسلام على سيدنا محمد وآله واصحابه اجمعين وعلى كل من تبعهم باحسان الى يوم الدين، امابعد!

د فتاوىٰ ديوبند پاكستان المعروف بفتاوى فريديه شپږم جلد پيش كولې شى، ددې نه مخكې پنځه جلدونه پوره په تيزۍ سره چاپ شوى وو، او الله تعالى ورته قبوليت وركړې وو، دا قبوليت زمونږ د حضرت رحمة الله عليه د علم وعمل، تقوىٰ او طهارت، عجز او تحمل، فقه اوفتاوىٰ اوپه علوم او معارف كې لدنى كامل مهارت او د ارشاد نبوى من كان لِلّٰه كان الله له، د صحيح مصداق كيدو نتيجه او كرامت دې، پس ښكاره شوه چې دا عظيمه علمى ذخيره ددې بې مثاله فقيه النفس، وسيع النظر مفتى، د لوى محدث، مفسر او عظيم عارف او مرشد قطب الارشاد حضرت مولانا مفتى محمد فريد رحمة الله عليه د علومو او معارف او د دينى خدماتو يوه حصه ده.

كونسى خوبى پر جان دوں كس ادا پر مرمٹوں خوبياں لاكھ بھرى ہيں آپ كى تصوير ميں

د ځينې عوارضو په بنا د تاخير په وجه په شپږم جلد كې ډير انتظار اوكړې شو، خو د ''دير آيد درست آيد،، په مصداق په ديكې جلتى اونه كړې شوه چه په تخريج او ترتيب اوپه مخكينى طرز او اسلوب كې څه فرق رانه شى. او د مخكينو جلدونو په شان په دې جلد كې هم څه كمې پاتې نه شى.

حقيقت دادې چې د علوم تفسيريه او حديثيه نه پس په علوم دينيه شرعيه كې چې د فقهې او فتاوىٰ كوم مقام او مرتبه ده، بل علم ته دومره درجه حاصله نه ده، فقهائې عظام او مفتيان كرام چې دوى د امت مسلمه دپاره د روحانى طبيبانو حيثيت لرى دغه حضراتو د عرف او عادة الناس او د روزمره راتلونكى زمانې په لحاظ سره د ټولو نوو راپيښيدونكو مسئلو حل پيش كړې دې، د قرآن اوحديث د ډيرو علومو او معارفو چينې ئې جارى كړې دى او د علم تږى ئې سيرابه كړې دى. الله تعالى په احناف فقهاؤ كې د ديوبند اكابرين علمائې كرامو ته په علم فقه كې قابليت او جامعين ورنصيب كړې دې، ټول ددې اعتراف او اقرار كوى، په فقه حنفى كې د فقه او فتاوىٰ د تصانيفو ډير زيات كتابونه دى، چې په هغې كې د ''فتاوىٰ ديوبند پاكستان معروف به فتاوى فريديه،، نوم د ځليدونكى ستورى په شان دې، اود الله تعالى د طرفه چې كوم جامعيت، شهرت او قبوليت دې فتاوىٰ ته وركړې شوې دې د رڼا ورځې په شان ښكاره دې

د مخكينو جلدونو په شان ما فقير هرې مسئلې لره د جدا جدا ساتلو اود جامع

عنوان ورکولو اهتمام کړې دې چه په مسئلې پوهيدلو او د مسائلو په تخريج کې آسانی وی، د هرې مسئلې متعلق د فقهې د متداول کتابونو حواله جات او چرته چې د آيت يا حديث ضرورت وو دهغې تخريج شوې دې، چې جامع او مدلل مسائلو پوهيدلو او راويستلو کې آسانی وی، او چرته چې د زياتی تشريح او وضاحت ضرورت محسوس شرنو په حاشيه کې د مختلفو حواله جاتو اود قديم او جديد کتابونو نه د هغې وضاحت شوې دې.

په دې موقع زه فقير دا خبره ښکاره کول ضروری کنم چې په دې ټول علمی خدمت کې زما هيڅ کمال نشته دا ټول د الله کريم فضل او کرم او خصوصی مهربانی ده.

کنه نو: من آنم که من دانم تهی دامن بدر آرم

ډيره بې انصافی به وی چې په دې موقع د بعضې حضراتو اجمالی تذکره او نه کړم، هغه داچې د ژوند د ټولو نه زياته قيمتی سرمايه محترم مور اوپلار او استاذان مشائخ او خاصکر سيدی وشيخی واستاذی الکريم حضرت مولانا مفتی سيف الله حقانی مدظله العالی او صاحبزاده مولانا خواجه حافظ حسين احمد صديقی مدظله العالی چه دا دواړه حضرات ددې فتاوې په نګرانئ، اشاعت او اهتمام کې لګيا دی، ددې مشفقانه دعاګانې اود حضرات علمائې کرامو او مشائخو خصوصی توجو او مفيدې مشورې په دې کارخير کې ماسره شامل حال دی. او مولانا حافظ ولی الرحمن حقانی حفظه الله د کمپوزنګ مشکل کار په شوق سره سرته اورسولو، زما ددې خدمت په برکت دې الله کريم دې ټولو حضراتو ته صحت او عافيت اوپه عمر کې ښه خير او برکت ورنصيب کړی.

په آخره کې د زړه په صدق سره د الله کريم نه دعا کوم چه زما دا سعی دې په خپل دربار کې قبوله کړی، او زما دپاره او د ټولو استاذانو مشائخو، محترم مور اوپلار، اولاد او خاصکرد سيدی ومرشدی وشيخی و مولائی محدث کبير فقيه العصر مفتی اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتی محمدفريد صاحب رحمة الله تعالی عليه دپاره دې صدقه جاريه او دائمی ثواب اوګرځوی.........آمين

بجاه سيد المرسلين صلی الله عليه وسلم

طالب دعا: فقير محمد وهاب منګلوری فريدی عفی عنه

رئيس قسم التخصص فی الفقه والافتاء الفريدفقهی اکيډمی

دار العلوم اسلاميه حکوميه سيدو شريف سوات

۲۰۱۳ء | ۱۰ | ۲۳

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوٰی فریدیہ

باب الایلاء واللعان

قال اللہ تبارك وتعالٰی:

لِلَّذِيْنَ يُؤْلُوْنَ مِنْ نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ اَرْبَعَةِ اَشْهُرٍ ۚ فَاِنْ فَآءُوْ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۲۲۶﴾

(سورۃ البقرۃ......۲۲۶)

....

باب الایلاء واللعان

ښځې ته د نه ورنږدې کیدو قسم کول ایلاء ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو خاوند خپلې ښځې ته ووائی چې قسم دې زه به کله هم تاته نږدې نه راځم، بیا په څلورمه ورځ خاوند په خپل قسم باندې پښیمانه شی او نن اتمه ورځ ده نو د دې مسئلې څه حکم دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: تاج اکبر اضاخیل بالا نوښهار... ۲۵ جولائی ۱۹۷۵ء

الجواب: دا سړی خپلې ښځې ته نږدې کیدې شی خو د نږدې کیدو نه پس به د قسم کفاره ضروری وی، وهو حکم الایلاء کما صرحوا به (۱) وهوالموفق.

ښځې ته د نږدې نه ورتلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د خپلې ښځې نه خفه شي او قسم وخوري چې زه به تاته نږدې نه درځم هغه درې ځله دا کار وکړي، خو بیا قسم مات کړی، آیا طلاق واقع شو یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد اقبال کوهاټ.... ۱۳ اکتوبر ۱۹۸۴ء

الجواب: که دې خاوند د جماع کولو نه قسم کړې وی او د څلور میاشتو پوره کیدو نه مخکښې ئې قسم مات کړو نو د هغه په قسم باندې طلاق نه راځی او

---

(۱) قال العلامة المرغینانی: واذا قال الرجل لامرأته والله لا اقربک او قال والله لا اقربک اربعة اشهر فهو مول لقوله تعالیٰ: للذین یؤلون من نسائهم تربص اربعة اشهر (الآیة) فان وطیها فی الاربعة الاشهر حنث فی یمینه ولزمته الکفارة لان الکفارة موجب الحنث وسقط الایلاء لان الیمین ترتفع بالحنث الخ- (هدایة ۲:۳۸۰ باب الایلاء)

که ځلور میاشتې ئې پوره کړې وی نو په هغه باندې اول ځل ښځه په یو طلاق بائن باندې مطلقه شوې ده او که د دې نه پس ئې د نکاح تجدید نه وی کړې نو سراسر په حرامو کې اخته دې (۱) **وهوالموفق**

"زه به ستا نه مخکښ پیدا شوې یم که تاسره مې څه تعلق وساتلو" د دې خبرې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې خاوند ښځې ته د غصې په حالت کې ووایې چې زه به ستا نه مخکښ پیدا شوې یم که ما تاسره څه تعلق وغیره وساتلو. نو آیا دا ښځه طلاقه شوه یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: معرفت فرید احمد (متعلم حقانیه) وروکې لاهور صوابۍ.. ۳ اپریل ۱۹۸۵ء

الجواب: احتیاط دا دې چې دا سړې دې د ځلورو میاشتو تیریدلو نه مخکښ د دې ښځې وغیره سره تعلق وساتې چې د ایلاء د حکم نه بچ شی. **هوالموفق**

ښځې سره د صحبت نه کولو قسم کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د نن نه شپږ میاشتې مخکښ زما وادهٔ د یو سازش د لاندې د یوې بدنامې کورنۍ سره وکړې شو، مور او پلار ته مې هم پته نه وه، د وادهٔ نه پس ماته معلومه شوه چې ښځې خپل عزت ختم کړې دې، اوس زما ښځه زما تابعداره ده، هغه ماته د سپې پورې هم ویلې دی ما فیصله کړې ده چې دا جینۍ د ښځې جوړولو قابله نه ده پس ما درې ځله قسم وکړو چې زه به د خپلې ښځې سره نه یو ځای کیږم،

---

(۱) قال العلامة المودود الموصلی : اذا قال والله لا اقربک او لا اقربک اربعة اشهر فهو مول وکذلک لو حلف بحج او صوم... فان قربها فی الاربعة الاشهر حنث وعلیه الکفارة وبطل الایلاء وان لم یقربها ومضت اربعة اشهر بانت بتطلیقة.
(الاختیار لتعلیل المختار ۲: ۱۹۵ باب الایلاء)

پس د هغې څلور میاشتې پوره شوې، ما د هغې نه پس په ښځه باندې دا خبره ښکاره کړه، ښځې مې ټول حال پلار ته ووېل، پلار مې غصه شو، خو ما پلار ته ووېل چې هغه سره دوباره نکاح کول نه غواړم، اوس هغه طلاق شوې دې یا نه؟ یا به طلاق نامه ورکوم؟ که پلار صاحب دوباره جبرا زما نکاح کول غواړي نو آیا جبرا نکاح کیدې شي؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: گوندل ..... اټک ..... ۱۹ رجب ۱۳۹۳ھ

الجواب: واضحه دې وی چې په تاسو باندې ښځه د څلور میاشتو نه پس مطلقه شوې ده په طلاق بائن سره، ستاسو ترمینځ نکاح ختمه شوې ده، **کما في الدر المختار، والا یقربها بانت واحدة بمضیها** (۲: ۷۵٤)(۱) که تاسو دوباره نکاح کول غواړئ نو عدت هم ختمولې شئ خو ستاسو د مرضئ نه بغیر نکاح کول کالعدم اونامنظورده. **وفي الدر المختار: ولا تجبر البالغة البكر على النكاح قال العلامة الشامي في ردالمحتار: ۲: ٤١٠ ولا الحر البالغ الخ**(۲) **وهوالموفق**

لاندې الفاظ کنائی او قسم کول ایلاء ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زما د لور خاوند (زوم) دا لاندې لیکل شوې الفاظ استعمال کړې دی چې ته زما ښځه نه ئې ته زما قابله نه ئې، زما دې قسم وی که زه تاسره صحبت وکړم نو د خپلې مور سره به مې صحبت کړې وی او ته زر د خپل مور او پلار کره لاړه شه، بیا ئې زما لور خپله د لاس نه نیولو سره ما کره پرینښودله، اوس زما د لور دپاره شرعی حکم څه دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: چهب ... کیملپور ... شوال ۲ .... ۱۳۸۹ھ

---

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۵۹۵: ۲ باب الایلاء)

۲) (الدرالمختار مع ردالمحتار ۳۲٤: ۲ باب الولی)

الجواب: د هغه سړي دا الفاظ چې ته زما ښځه نه ئې ته خپل مور او پلار کره لاړه شه، د طلاق د کنایاتو نه دی، پس که خاوند د طلاق په اراده باندې دا الفاظ ویلې وی نو ښځه طلاقه شوې ده کنه نو نه ده طلاقه شوې (۱) او دا لفظ چې زه قسم کوم دا د ایلاء الفاظ دی، پس که خاوند په څلورو میاشتو کې دننه دننه رجوع ونکړه نو ښځه به مطلقه شی،

فی الدرالمختارمعردالمحتار۲: ۵۶۲(لوقال والله لااقربك)ای بلابیان مدة اشار الی انه کالموقت بمدة الایلاء لان الاطلاق کالتأبید(۲) وفی الهندیة: ۱: ۵۰۴ الایلاء منع النفس عن قربان المنکوحة منعا مؤکداً بالیمین بالله او غیره مطلقا اوموقتا الخ(۳)۔وهوالموفق

د لعان مسئله او د لیکل شوي طلاق حکم

سوال: څه فرمائی علماء کرام د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی خپلې ښځې ته چې د هغې نه شپږ اووه بچی پیدا شوې دی، ووئیل چې دا ماشومان زما د نطفې نه نه دی بلکه د غیر نه دی یعنی په خپله ښځه باندې ئې تهمت لګولو حال دا چې حقیقت داسې نه دې، په دې صورت کې په دې سړی باندې لعان راځی یا نه؟ او هغه ته به حد قذف ورکولې شی یا نه او دا زنانه په هغه باندې د همیشه دپاره حرامیږی یا نه؟

---

۱ ﴾ قال العلامة الاوزجندی: الکنایة ما یحتمل الطلاق ولا یکون الطلاق مذکوراً نصا... لا یقع الطلاق بشیئ من الکنایات الا بالنیة...وعن ابی یوسف رحمه الله تعالیٰ فی الاملاء انه الحق بهذه الخمسة اربعة اخری لاملک لی علیک لا سبیل لی علیک الحقی باهلک لو قال ذلک فی حال مذاکرة الطلاق او فی الغضب وقال لم انو به الطلاق یصدق قضاء فی قول ابی حنیفة الخ۔(فتاویٰ قاضی خان علی هامش الهندیة ۴۶۷: ۱فصل فی الکنایات والمدلولات)

۲ ﴾ الدرالمختار مع ردالمحتار ۵۹۴: ۲باب الایلاء)

۳ ﴾ (فتاویٰ عالمگیریه ۴۷۶: ۱الباب السابع فی الایلاء)

هم دغه شان دې سړی طلاق ثلاثه خپلې ښځې ته ليکل ورکړل چې ته په ما باندې طلاقه، طلاقه، طلاقه ئې، او تا ته د بل خاوند کولو اجازت دې د دې نه پس ئې بغير د حلالې نه دوه مياشتې پس بغير د تجديد نکاح نه دا زنانه خپله ښځه جوړه کړه او وجه ئې دا بيان کړه چې ليکل شوي طلاق نه واقع کيږي په وينا کيږي د دې مسائلو شرعی حکم څه دې؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: مولوی محب الله.... مئ ۱۶ .... ۱۹۷۳ء

الجواب: (۱) چونکې په پاکستانی قانون کې د حدود جاری کولو اجازت نشته لهذا په دې سړی باندې نه لعان جاری کيدې شی او نه حد قذف، **لان الحدود مفوضة الى السلطان لحديث معروف**. (۲) په ليکلو سره طلاق واقع کيږي، **كما فى ردالمحتار ۲: ۵۸۹ (۱) وفى الهندية ۱: ۴۰۳ فليراجع (۲) وهوالموفق**

د خاوند د لور نه انکار کول او د زنانه د اقرار مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی خپلې منکوحې ته ووايي چې ستا د خيټې نه چې کوم هلك پيدا شوې دې، دا زما نه دې او زما ښځه وائی چې دا د بل چا دې، هم ستا د نطفې نه دې، او خاوند په جرګه کې هم انکار کړې دې اوس په دې دوارو کې د چا خبره صحيح ده؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: لطيف c/o مولانا عزيز الرحمن صاحب کوهاله مری ستمبر ۱۹۶۹/۹/۲۷ء

---

۱) قال العلامة الشامی: (قوله کتب الطلاق الخ) قال فی الهندية الكتابة على نوعين مرسومة وغير مرسومة ونعنى بالمرسومة ان يكون مصدر او معنونا مثل ما يكتب الى الغائب... وان كانت مرسومة يقع الطلاق نوى اولم ينو الخ۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۴۶۴ مطلب فی الطلاق بالكتابة)

۲) ومثله (فی فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۳۷۸ الفصل السادس فی الطلاق الكتابة)

الجواب: که دې سړی د نفاس په موده کې زیات انکار کړې وی نو د هغه انکار صحیح دې دا جینۍ به صرف مور ته منسوب کیږی، په دې شرط چې لعان جاری شی، او که وروستو ئې انکار کړې وی نو دا انکار نامنظور دې او دا جینۍ به د دواړو طرف ته باقاعده منسوب وی.

فی الهندیة: رجل له امرأة فجاءت بولد فنفاه وقال هذا الولد لیس منی اوقال هذا الولد من الزنا وسقط اللعان بوجه من الوجوه فانه لا ینتفی النسب سواء وجب علیه الحد اولم یجب، وکذلك اذاکان من اهل اللعان فلم یتلاعنا، فانه لاینتفی النسب، کذافی شرح الطحاوی، (هندیة ۱: ۵۴۳)(۱) وفی الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۸۱۳ نفی الولد الحی عند التهنئة ومدتها سبعة ایام عادة (وعندهما تقدیره بمدة النفاس) وعنده بابتیاع آلة الولادة صح وبعده لا(۲). وهوالموفق

...

۱) (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۵۱۹ الباب الحادی عشر فی اللعان)

۲) (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۶۴۱ مطلب الحمل یحتمل کونه نفخا وفیه حکایة، قبیل باب العنین)

بسم الله الرحمن الرحیم

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوی فریدیه

باب الظهار

قال الله تبارك وتعالیٰ:

وَالَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْ نِّسَآىِٕهِمْ ثُمَّ يَعُوْدُوْنَ لِمَا قَالُوْا فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّتَمَآسَّا ؕ ذٰلِكُمْ تُوْعَظُوْنَ بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ﴿۳﴾

(سورة المجادلة.....۳)

....

باب الظهار

ښځه "به په ما د مور په شان وې" ویونکی مظاهر دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید خپلې ښځې زینب ته وویل چې کله هم ته د پلار کور ته لاړې نو په ما به د مور په شان نې. څه ورځې پس د زینب ورور راغلو او هغه سره کور ته لاړه، اوس به د زید دپاره څه حکم وی؟ آیا د ظهار کفاره به په هغه باندې راځی یا نه؟ او دا قید به د همیشه تلو دپاره وی او که په یو کرت تلو سره ختم شوې دې؟ بینواتوجرو

المستفتی: حاجی محمد شریف کرم ایجنسی..... ۱۹۶۹/۵/۱۲ء

الجواب: په صورت مسئوله کې دا خاوند (په شرط د نیت د ظهار) مظاهر دې د کفارې ورکولو نه مخکې د دې ښځې سره جماع وغیره نه شی کولې (۱) خو د بیا دپاره به پرې ظهار نه وی لازم لعدم کلمة التکرار (۲) وهوالموفق.

ښځې ته ویل " ته زما مور نې" او خوابنې ته د کنځلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زما خوم زما لور ته درې کرته وویل چې ته زما مور نې بیا نې ما (خوابنې) ته دا الفاظ ووئیل

---

۱) قال العلامة الموصلی: الظهار وهو ان یشبه امرأته او عضوا یعبر به عن بدنها او جزأ شائعا منها بعضو لا یحل النظر الیه من اعضاء من لا یحل له نکاحها علی التأبید وحکمه حرمة الجماع ودواعیه حتی یکفر فان جامع قبل التکفیر استغفر الله تعالیٰ. (الاختیار لتعلیل المختار ۲:۲۰۷ باب الظهار)

۲) قال العلامة الحصکفی: وصح اضافته الی ملک او سببه کان نکحتک فکذا حتی لو قال ان تزوجتک فانت علی کظهر امی ماة مرة فعلیه لکل مرة کفارة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۲۶ باب الظهار)

چې زه به تا سره بدکاری کوم، خو د مسجد امام صاحب وویل چې طلاق واقع شوې دې، د واقعې ګواهان هم موجود دی، صحیح مسئله څه ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد رحیم مسلم ټاؤن راولپنډی..... ١٣ ربیع الثانی ١٤٠٢هـ

الجواب: په صورت مسئوله کې د وقوع طلاق حکم ورکول بې قاعدې دی. اما الثانی فظاهر لان المحرم هو الوطی دون ارادة الوطی واما الاول فلعدم حرف التشبیه کما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ٢: ٧٩٤ والا ینو شیئا او حذف الکاف لغا وتعین الادنیٰ (١). وهوالموفق

دا ښځه به زما خور وی ویلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې د خپلې ښځې متعلق دا ووائی چې دا ښځه به زما خور وی، د دې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: فیروز شاه یارحسین صوابئ... ١٢ صفر ١٣٩٢هـ

الجواب: په صورت مسئوله کې صرف د نکاح تجدید کافی دې که عدت باقی وی او که تیر شوې وی، وهذا حکم الکنایات (٢) ولیس بظهار کما لا یخفی علی من راجع الی العرف (٣). وهوالموفق

---

١) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٦٢٦ باب الظهار)

٢) قال العلامة الحصکفی: والکنایات لاتطلق بها قضاء الا بنیة او دلالة الحال الخ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢: ٥٠٢ باب الکنایات)

٣) قال العلامة الشامی: (قوله وان نوی بانت علی مثل امی او کامی برا او ظهارا او طلاقا صحت نیته لانه کنایة) ای من کنایات الظهار والطلاق قال فی البحر واذا نوی به الطلاق کان بائنا کلفظ الحرام وان نوی الایلاء فهو ایلاء عند ابی یوسف وظهار عند محمد والصحیح انه ظهار عند الکل لانه تحریم مؤکد بالتشبیه ونظر فیه فی الفتح بانه انما یتجه فی انت علی حرام کامی والکلام فی مجرد انت کامی... [بقیه حاشیه برصفحه آئنده

ښځې ته مور یا خور ویلو سره طلاق نه واقع کیږي

سوال: څهٔ فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړې د غصې په حالت کې خپلې ښځې ته مور یا خور ووائی درې کرته ووایي، بیا هغه خپلې ښځې لره طلاق شده ګڼلو سره هغې سره تعلقات پرې کړي هم په دې حالت کې تقریبا دولس کاله تیر شي دولس کاله پس د خط په ذریعه لیکلې طلاق ورکوی خو لیکلې صرف یو نوټس (خط) دې اوس هغه دې ښځې لره څنګه دوباره آبادولې شي؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حکیم عبدالستار رضا فقیر والی بهالونګر ۱۸/۱/۱۹۷۵

الجواب: ښځې ته مور خور ویلو سره طلاق نه واقع کیږي، **کما فی الدرالمختار:** والا ینو شیئا او حذف الکاف لغا (۲:۷۹۴)(۱) وجه الدلالة انه مقابل لقوله: وان نوی بأنت علی مثل ای صحت نیته ووقع ما نواه قلت فیحمل علی التوبیخ دون الکرامة کما لایخفی، خو که په نوټس (خط) کې طلاق لیکل شوې وی نو د هغې حکم آسان دې او که صرف درې ولیکل شو نو بغیر د تحلیل (حلالې) نه خلاصې نشته هغه داچې دا ښځه به بل سړی سره نکاح کوي او خپل هواهش به پوره کوي وروسته به دا دویم خاوند طلاق ورکوي ښځه به د خپل عادت سره سم عدت تیروی بیا به لومړي سړي ته رواکیږي. **وهوالموفق**

ته زما خور ئې ویلو سره طلاق نه واقع کیږي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره چې زید ته خپلې ښځې

...بقیه ازحاشیه ګذشته] ای بدون لفظ حرام، قلت وقد یجاب بان الحرمة مرادة وان لم تذکر صریحا هذا وقال الخیر الرملی وکذا لو نوی الحرمة المجردة ینبغی ان یکون ظهارا وینبغی ان لا یصدق قضاء فی ارادة البر اذا کان فی حال المشاجرة وذکر الطلاق۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۲۶ باب الظهار)

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۲۶ باب الظهار)

کنځلې وکړې، زید د جنګ په حالت کې د غصې نه خپلې ښځې ته وویل: ته زما مور خور ئې، نه ئې د طلاق اراده وه او نه د طلاق مذاکره موجود وه، اوس په دې الفاظو سره طلاق واقع کیږي یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: قاري همایون چک نمبر ۲۲ پوسټ خاص ۳۱/۳/۱۹۷۳

الجواب: د صدق په شرط به په مستفتي زید باندې منکوحه طلاقه نه وي، في الدرالمختار: والاینوشیئاً اوحذف الکاف لغاوتعین الادنٰی (١) وهوالموفق

که ته مې د کور نه او نه ویستلې نو زه به ستا خوی نم ویلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړي خپلې ښځې ته وویل چې لمونځ مه پریږده که د نن نه پس دې مونځ پریښودلو نو تا به د کور نه اوباسم او که ته ما د کور نه او نه ویستلې نو ستا خوی به یم، په دې صورت کې د هغه سړي نیت د طلاق نه وو، اوس هغه زنانه بیا هم مونځ ونکړو آیا دا ظهار دې یا طلاق او که بل څه څیز دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: حافظ اسلام نور تریاب هنګو ۲۲/۱/۱۹۷۵

الجواب: د طلاق نیت او تحریم ادات د تشبیه د ذکر کولو په وخت موثر دی، لاعند عدمه، کمایفیده مافي الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ۲/۷۹۳، والا ینوشیاءاوحذف الکاف لغاً (٢) پس په صورت مسئوله کې د عدم تشبیه د وجې نه نه ظهار لازمیږي او نه طلاق، هم دغه شان دا ایلا هم نه ده، لان الاخراج لایستلزم عدم القربان لامکان القربان خارج البیت فلایکون ایلاء البتة (٣) وهوالموفق

---

١) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۶۲۶:۲ باب الظهار)

٢) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۶۲۶:۲ باب الظهار)

٣) قال العلامة ابن عابدین: والکنایة کل لفظ لایسبق. [بقیه حاشیه برصفحه آئنده

که د کور نه و نه وتلې نو ستا څوی به یم ظهار نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړې خپلې ښځې ته ووائی چې د کور نه ووځه که ونه وتلې نو زه به ستا څوی یم. پس هغه زنانه و نه وتله ځکه چې د خاوند قسم ئې اوریدلې هم نه وو. اوس دا الفاظ د قسم دی او که د ظهار دی؟ او کفاره څه ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: گل فراز...... ۱۹۷۵/۲/۱

الجواب: دا ظهار یا ایلاء نه ده لعدم التشبیه(۱) ولعدم الیمین علی القربان (۲) خو د یمین کفاره ورکول غوره دی، لکونه یمینا فی الظاهر. وهوالموفق.

د صبی او مجنون ظهار صحیح نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په طلاق کې عاقل او بالغ کیدل ضروری دی یا نه آیا په ظهار کې هم عقل او بلوغ ضروری دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی علی اکبر کوه مری کوهاله.... ۱۹۹۱/۸/۳۰

...بقیه ازحاشیه گذشته] الی الفهم معنی الوقاع منه ویحتمل غیره ولا یکون ایلاء بلا نیة ویدین فی القضاء. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۹۳ باب الایلاء)

۱) قال العلامة الموصلی: الظهار وهو ان یشبه امرأته او عضوا یعبر به عن بدنها او جزئا شائعا منها بعضو لا یحل النظر الیه من اعضاء من لا یحل له نکاحها علی التأبید. (الاختیار لتعلیل المختار ۲:۲۰۶ باب الظهار)

۲) قال الحداد الیمنی: الایلاء هو فی اللغة الیمین وفی الشرع عبارة عن الیمین علی ترک وطیٔ الزوجة فی مدة مخصوصة والایلاء ممدود لانه مصدر الایلاء والمولی من لا یمکنه قربان امرأته فی المدة الا بشیئ یلزمه بسبب الجماع فی المدة. (الجوهرة النیرة ۲:۱۲۹ کتاب الایلاء)

الجواب: په ظهار کې هم د مظاهر عاقل او بالغ کیدل شرط دی، کما فی الطلاق، وفی الهندیة: وشرط الظهار ان یکون الزوج من اهل الکفارة فلا یصح ظهار الذمی کالصبی والمجنون (١). وهوالموفق

خاوند ته ورور ویلو سره ظهار نه لازمیږي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې تی وی پروګرام "دین و دنیا" کې یو عالم وویل چې که زنانه خپل خاوند ته ووائی چې ته زما ورور ئې نو په دې سره ظهار واقع کیږي، آیا دا مسئله صحیح ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: احمد گل پشاور

الجواب: د طلاق او ظهار تعلق د خاوند سره دې، د ښځې د داسې کولو هیڅ اعتبار نشته

لان الطلاق والظهار لا یکون الا من الزوج العاقل البالغ المسلم، وفی الهندیة: وشرط الظهار ان یکون الزوج من اهل الکفارة ومن الشرائط ان لا یکون معتوها ولا مدهوشا ولا مبرسما ولا مغمی علیه ولا نائما الخ(٢)۔ وهوالموفق

ته زما د مور خور برابر ئې. زما د مور په شان ئې. فارغه ئې. الفاظو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی خپلې ښځې ته وویل چې ته زما د مور خور برابر ئې او د نن تاریخ نه ته زما د مور په شان ئې د نن تاریخ نه نو زما د طرف نه فارغه ئې، دا خبره هغه د ډیرو خلقو مخکې کړې ده، اوس د طلاق وغیره څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد اشراف چمن کوټ، آزاد کشمیر ١٣/١٠/١٩٧٦

---

١) (فتاویٰ عالمگیریة ٨٠٥:١ الباب التاسع فی الظهار)

٢) (فتاویٰ عالمگیریة ٨٠٥:١ الباب التاسع فی الظهار)

الجواب: د دې سرې اول کلام لغو دې، او د دويم کلام بنياد په نيت باندې دې يعنې که د نکاح د ختمولو په ارادې سره ئې ويلې وی نو طلاق بائن به واقع شی او که د جماع د حرمت په ارادې سره وی نو ظهار به وی، او کلام سوم په ظاهر کې د کنايات نه دې چې د طلاق د واقع کيدو دارومدار په نيت باندې دې، يدل على الاولين ما فی شرح التنوير: وان نوى بانت على مثل امى او كامى وكذا لوحذف على (خانية) برا او ظهارا اوطلاقا صحت نيته ووقع ما نواه لانه كناية والا لم ينو شيئا او حذف الكاف لغا (هامش ردالمحتار ۲:۷۹۴)(۱) ويدل على الثالث ما فيه ايضا فالكنايات لا تطلق بها قضاء الابنية اودلالة الحال وفى ردالمحتار ۲:۶۳۶ قوله قضاء قيد به لانه لا يقع ديانة بدون النية ولووجدت دلالة الحال(۲) پس د نيت متعلق دې تحقيق وکړی چې د حکم شرعی تعين وشی. وهوالموفق

په جنګ کې ښځې ته "زما مورې خاموشه شه" ويلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د ښځې او خاوند ترمينځه جګړه شروع وه، او دې دوران کې خاوند خپلې ښځې ته ووئيل چې "زما مورې ته خاموشه شه" په دې سره په نکاح باندې څه اثر پريوځی؟

بينواتوجروا

المستفتی: آصف محمود اټک ښهر ۲۷/۳/۱۹۷۸

الجواب: چونکې په دې الفاظو کې تشبيه نشته په دې وجه په دې سره نه ظهار لازميږی او نه طلاق، كما فى الدرالمختار ۲/۷۹۴. والا ينو شيئا اوحذف

۱) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۶۲۶ باب الظهار)
۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۵۰۱،۵۰۲ باب الكنايات)

الکاف لغاً وتعین الادنی ای البر یعنی الکرامة ویکره(۱). وهوالموفق

معلق بالشرط ظهار او د قبل الکفاره پیدا شوی ماشوم حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړې خپلې ښځې ته ووائی ﴿لوفعلت کذافأنت علی مثل امی﴾ چې که تا دا کار وکړو نو ته په ما د مور په شان ئې په دې سره د هغه اراده د قسم وه، اوس سوال دا دې چې آیا ظهار په شرط د تعلیق صحیح دې؟ او د شرط د وقوع نه پس به په دې باندې د ظهار احکام جاری کیږی؟ او که هغه د ظهار کفاره ادا نه کړه او د خپلې ښځې سره ئې مباشرت وکړو نو د هغه څه حکم دې؟ په دې موده کې چې کوم ماشوم پیدا شی هغه به ولد الزنا وی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سید صالح...... ۳/۱۲/۱۹۷۲

الجواب: دا ظهار معلق بالشرط دې او صحیح دې. کمافی الهندیة ۱/۵۳۴ یصح ظهار زوجته تعلیقا (۲) فیجری علیه احکام الظهار بعد وجود الشرط (۳). او د ظهار د وجې نه نکاح نه ماتیږی خو وطی حرام ده،

---

۱) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۲۶ باب الظهار)

۲) وفی الهندیة: یصح ظهار زوجته تعلیقا بان قال ان دخلت الدار وان کلمت فلانا فانت علی کظهر امی کذا فی البدائع.
(فتاوی عالمگیریة ۱:۵۰۹ قبیل الباب العاشر فی الکفارة)

۳) قال العلامة الشامی: قوله(وان نوی بانت علی مثل امی او کامی برا او ظهارا او طلاقا صحت نیته لانه کنایة) ای من کنایات الظهار والطلاق ... قال فی البحر واذا نوی به الطلاق کان بائناً کلفظ الحرام وان نوی الایلاء فهو ایلاء عند ابی یوسف وظهار عند محمد والصحیح انه ظهار عند الکل ... وقال الخیر الرملی وکذا لو نوی الحرمة المجردة ینبغی ان یکون ظهارا الخ.
(فتاوی شامیة علی الدر المختار ۲:۶۲۶ باب الظهار)

كما في حالة الحيض فلايكون ولده من الزنا نعم يجب عليه الاستغفار، في الهندية ۱: ۵۳۲ ان وطئها قبل ان يكفر استغفر الله تعالىٰ ولا شيئ عليه غير الكفارة الاولىٰ... المظاهر اذا لم يكفر ورفع امره الى القاضي يحبسه القاضي حتى يكفر او يطلق كذا في الظهيرية(۱)۔ وهوالموفق

ښځې ته بغير د تشبيه نه په خور مور ويلو سره ظهار نه لازميږي

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د غصې په حالت کې ما خپلې ښځې ته وويل چې د نن نه پس ته زما خور يې. د هغې نه وروستو د جينې والو جرګه وکړه چې په هغې کې د کلی تقريبا ټول مشران او امام صاحب شامل وو، جرګې فيصله وکړه چې د غصې په حالت کې داسې خبره شوې ده د دې سزا دې د قرآن کريم نه ورکړې شي نو مولوی صاحب د ۲۸ پارې نه فيصله وکړه چې يا دوه مياشتې مسلسل روژې اونيسه يا په شپيتو مسکينانو باندې خوراک وکړه ما په شپيتو يا د شپيتو نه په زياتو مسکينانو باندې خوراک وکړو آيا دا فيصله صحيح ده؟ بينواتوجروا

المستفتی: حوالدار محمد يعقوب خان... ۱/۹/۱۹۷۳

الجواب: چونکې تاسو داسې نه دی ويلی چې ته په ما باندې د مور خور په شان يې لهذا ستاسو دا لفظ ويل مکروه دی خو په تاسو باندې کفاره نشته، لما في الدر المختار على هامش ردالمحتار (۲: ۷۹۴) والا ينوشيئا اوحذف الكاف لغا وتعين الادنىٰ اى البر يعنى الكرامة ويكره قوله انت امى الخ(۲)۔ والتفصيل في ردالمحتار فليراجع(۳)۔ وهوالموفق

---

۱) (فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۵۰۶،۵۰۷ الباب التاسع فى الظهار)

۲) (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۲:۶۲۶ باب الظهار)

۳) قال العلامة ابن عابدين: (قوله او حذف الكاف)..[بقيه حاشيه برصفحه آئنده

په کفاره او ظهار کې د مثل پیسو فطرانه ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د ظهار په کفاره کې که رقم د فطرانې د رقم په مثل ادا کړی نو دا به جائز وی که ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد غوث بلوچستان........ ۱۳۸۹ھ

الجواب: په قرآن کریم کې عبادة دا حکم کړې شوې دې چې کله ئې په اعتاق او صیام باندې قدرت نه وی نو شپیتو مسکینانو ته دې خوراک ورکړې شی، او فقهاء کرامو لیکلې دی چې هر مسکین ته دې فطرانه ورکړې شی،

قال الله تعالیٰ: فمن لم یستطع فاطعام ستین مسکینا (الآیة)(١) وفی الهدایة ۲۹۴ ویطعم کل مسکین نصف صاع من بر او صاعا من تمر او شعیر او قیمة ذلک لقوله علیه الصلوٰة والسلام فی حدیث اوس بن الصامت وسهل بن صخر (سلمة بن صخر) لکل مسکین نصف صاع من بر(٢)۔ وهوالموفق

...

...بقیه ازحاشیه گذشته] بان قال انت امی ومن بعض الظن جعله من باب زید اسد در منتقی عن القهستانی قلت ویدل علیه ما نذکره عن الفتح من انه لا بد من التصریح بالاداة، (قوله لغا) لانه مجمل فی حق التشبیه فما لم یتبین مراد مخصوص لا یحکم بشیئ فتح (قوله ویکره الخ) جزم بالکراهة تبعا للبحر والنهر والذی فی الفتح وفی انت امی لا یکون مظاهرا و ینبغی ان یکون مکروها فقد صرحوا بان قوله لزوجته یا اخیة مکروه وفیه حدیث الخ۔

(فتاویٰ شامیه هامش الدرالمختار ۲:۶۲۶ قبیل باب الکفارة)

١) (سورة المجادلة آیت : ۴ پاره ۲۷)

٢) (هدایة ۲:۳۹۳ فصل فی الکفارة کتاب الطلاق)

بسم الله الرحمٰن الرّحيم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوٰی فریدیه

(شپږم جلد)

باب الخلع

....

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوٰی فریدیہ

باب الخلع

قال اللہ تبارک وتعالٰی:

فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا یُقِیْمَا حُدُوْدَ اللّٰهِ ۙ

فَلَا جُنَاحَ عَلَیْهِمَا فِیْمَا افْتَدَتْ بِهٖ ؕ

(سورۃ البقرۃ........۲۲۹)

....

باب الخلع

د خلع وعدې سره طلاق نه کیږي. خلع د عقد د انشاء نوم دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسمی زمان ښځه په صنوبر پسې وتښتیده او لاړه، لس کاله تیر شو د صنوبر د طرف نه د طلاق کوششونه کیدل خو زمان په یو صورت کې هم او نه منله. آخر د ښهر معتبرین د شرعی احکاماتو طرف ته زمان راغب کړو، هغه وویل چې که ما ته درې زره روپۍ راکړې نو زه به طلاق ورکوم، پس د صنوبر مشر ورور په جرګه کې موجود وو او د صنوبر د طرف نه ئې د وکیل په حیثیت خلع منظور کړه، په مقرر ورځ باندې په مقرر ورځ باندې زمان او د صنوبر ورور د اسلامی جرګې وړاندې حاضر شو جرګې زمان ته وویل چې تا چې پیسو اخستلو سره د خلع کومه وعده کړې وه د هغې دپاره تیار ئې؟ زمان وویل چې خلع خو ماته منظور ده او زه طلاق ورکوم زما نور شرطونه هم دی ۱: د شلو زرو روپو کالی او د خرچې د یوې ماشومې چې هغه به پیۓ (شیدې) څښل د مور سره وه د هغې به عوض کې که څوارلس کناله ځمکه راکوۓ نو زه طلاق ورکوم جرګې انکار وکړو، په دې انکار باندې هغه د جرګې نه پاڅیدو او لاړو، اوس ۱: آیا د زمان ښځه په خلع مقرر کولو سره طلاقه شوه یا نه؟ ۲: صنوبر سره د ښهر د معتبرینو او د اهل جرګه د روزولۍ تعلقات ساتل جائز دی یا نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: مولوی عبدالهادی قریشی کوټ نجیب الله هزاره ... ۲۵/۱۱/۱۹۷۲

الجواب: ۱: چونکې زمان خلع نه ده کړې صرف وعده ئې کړې ده لهذا په هغه باندې ښځه نه ده طلاقه شوې، **لان الخلع عقد وانشاء**[۱] ۲: که صنوبر خپل

---

۱ وفی الهندية: لو قال خلعت نفسک منی بکذا فقالت خلعت قیل یصح وقیل لا یصح مطلقا والمختار انه لا یصح الا اذا اراد به التحقیق لانه سوم ظاهراً ...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده ـ

ځان زاني او ګناهګار کړي نو فاسق او لائق د تعزير دي او که مستحل وي نو کافر او مرتد دي. (١) او بهر حال هغه سره اعزازي تعلقات ساتل حرام دي وهوالموفق

زنانه خاوند ته طلاق نه شي ورکولې خو خلع ورسره کولې شي

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې مسماة فلانۍ بيان کوي چې زه خپل هوش او حواس قائم ساتلو سره په الله پاک باندې قسم کولو سره تحريري بيان کوم چې زما د خاوند د فلاني قوم د فلانۍ بې حيايۍ او بدکارۍ د وجې نه د هغه د کور د ښځې او خاوند تعلقات بالکل ختموم چې مذکور خاوند که د څه قسم جبر زما په مور پلار باندې کوي يا په څه حيلې سره هم ما حاصلول غواړي نو زما د عصمت او مال و نفس او هر قسم نقصان به ذمه دار وي. لهذا درخواست دې چې حاملين شريعت دې زما په دې مهم کارکې مدد کولو سره د مشکلاتو تدارک وفرمائي. بينواتوجروا

سائله .... هکړاکيړي مري ١٩٧٥ء/١٣/١١

...بقيه ازحاشيه گذشته] كذا فى محيط السرخسي ولو قال خلعتک بكذا فقالت نعم فليس بشيئ كانها قالت نعم خلعتني ولو قالت رضيت او اجزت صح وكذا لو قال طلقني بكذا فقال نعم فليس بشيئ لانه وعد بخلاف قولها انا طالق.
(فتاوىٰ عالمگيرية٤٨٨:١ الباب الثامن فى الخلع وما فى حكمه الفصل الاول)

١) قال العلامة ابن عابدين: فى شرح العقائد النسفية استحلال المعصية كفر اذاثبت كونها معصية بدليل قطعي وعلى هذا تفرع ما ذكر فى الفتاوىٰ من انه اذا اعتقد الحرام حلالا فان كان حرمته لعينه وقد ثبت بدليل قطعي يكفر والا فلا بان تكون حرمته لغيره او ثبت بدليل ظني وبعضهم لم يفرق بين الحرام لعينه ولغيره وقال من استحل حراما قد علم فى دين النبى عليه الصلاة والسلام تحريمه كنكاح المحارم فكافر.
(فتاوىٰ شامية هامش الدر ٢:٢٩ مطلب استحلال المعصية القطعية كفر)

الجواب: واضحه دې وی چې زنانه خاوند ته طلاق نه شی ورکولې. (١) خو خلع کولې شی یعنی خاوند ته مال ورکولو سره د هغه په رضا باندې آزادی حاصلولې شی. (٢) بله دا چې دا زنانه په ظلم او بدکردارئ سره بغیر د اجازت نه، د مور پلار وغیرهما کور ته تښتیدلې شی. (٣) **وهوالموفق**

دویم سړې د زنانه په اذن سره اصالة یا وکالة خلع کولې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د زید د ښځې سخر بدکردار دې څو کرته ئې د اینګور په عصمت باندې د ډاکئ اچولو ناکام کوشش وکړو خو ښځې ترې ځان بچ کړې دې او خپل رشته دار ئې د سخر د ارادې نه خبره کړې دی چې هغه خلق دې دا سخر منع کړی خو هغه منع نه شو بیا یوې جرګې په زنانه باندې حکم صادر کولو سره دا فیصله وکړه چې که دا زنانه بل سړی سره وادهٔ کول غواړی نو هغه به اته سوه روپئ ادا کوی، او د هغې نه پس به ورته موجوده خاوند طلاق ورکړی، اوس زنانه خواره مور پلار

---

١) قال العلامة الحصكفی : لحدیث ابن ماجة الطلاق لمن اخذ بالساق.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢:٤٦١ کتاب الطلاق)

٢) وفی الهندیة : اذا تشاق الزوجان وخافا ان لا یقیما حدود الله فلا بأس بان تفتدی نفسها منه بمال یخلعها به.
(فتاویٰ عالمگیریة ١:٤٨٨ الباب الثامن فی الخلع الفصل الاول)

٣) قال الشیخ عزیز الرحمن الدیوبندی : چې کله هغه (خاوند) داسې شریر النفس او ظالم او بدکار دې او سائله په معصیت باندې مجبوروی نو په مذکوره حالت کې هغه سره نه دی اوسیدل پکار او شریعت انسان نه مجبوروی چې د داسې ظالم او فاسق سره پاتې شی، خو بغیر هغې نه د طلاق ورکولو نه د نکاح د ماتیدلو او د بلې نکاح د جواز هیڅ صورت نشته، پس هر څنګه چې وی د حکامو په ذریعه دې په هغې باندې زور اچولو او جبر کولو سره طلاق واخستلې شی او پس د عدت تیرولو نه دویمه نکاح صحیح ده.
(فتاوی دار العلوم دیوبند ١٠/٢٤٩ باب سیزدهم)

کره اوسیږي او د پیسو ورکول هم نا ممکن دی آیا په زنانه باندې د دې پیسو
ادا کول لازم دي یا نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: مولانا ضیاء الحق حقاني باجوړ سکاوټس ملا کنډ ایجنسي ... ۱۹۷۲/۹/۶

الجواب: په وادهٔ کړې شوې باندې پیسې مقرر کول یو غلط رسم دې د هغه زنانه دپاره ضروري دی چې خاوند ته پیسې ورکولو سره خلع (طلاق بالمال) حاصل کړي، یا چې کوم انسان د وادهٔ کولو اراده لري نو هغه اصالة یا وکالة (د مخکې خاوند سره) خلع وکړي او د زنانه په اذن سره دې د بدل خلع ضامن شي، لانهم صرحوا بصحة خلع الاجنبي مع كون البدل عليه فليراجع الى رد المحتار ۲/۷۸۲(۱) والهندية ۱/۵۲۹(۲). وهوالموفق

د بدل خلع مقدار مقرر نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زما ښځه نافرمان ده د هغې مور پلار هغه په زبردستئ سره کور ته بوتله او د ډیرې تقاضې کولو باوجود ئې نه واپس کوی یو لور هم ورسره ده چې یو نیم کال عمر لري چونکې د جینئ د مور پلار ماحول ښه نه دې کوم چې زما د لور په وروستنی کردار باندې اثر اچولې، زه خپله ښځه په کور کې اوسیدل غواړم خو د هغې مور پلار د طلاق غوښتنه کوی او زما د مجبوریاتو نه ناجائزه فائده اوچتوی ، زما په

(۱) قال العلامة ابن عابدين : وفى الفصولين اذا ضمنه الاب او الاجنبى وقع الخلع ثم ان جازت نفذ عليها وبرئ الزوج من المهر والا ترجع به على الزوج والزوج على المخالع وان لم يضمن توقف الخلع على اجازتها فان اجازت جاز وبرئ الزوج عن المهر والا لم يجز.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۱۷ مطلب فى خلع الصغيرة)

(۲) وفى الهندية : رجل قال لرجل اخلع امرأتک على هذا العبد او هذه الالف او هذه الدار ففعل فالقبول الى المرأة فان قبلت الخلع طلقت وعليها تسليم البدل المسمى فان استحق البدل ضمنت.
(فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۵۰۳ الفصل الثالث فى الطلاق على المال)

وادۀ او ښځه باندې خرچ تقریبا پنځوس زره روپۍ راغلې دې نو آیا د خلع په صورت کې دجینۍ اودهغې دمورپلارنه یولاک روپۍ وصولولې شم؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمدگل فراز مری... ۱۹۷۸/۷/۲۹

الجواب: په شریعت کې د خلع د بدل څه خاص مقدار مقرر نه دې خو د مهر د مقدار نه زیات وصولول مکروه دی یدل علیه فی الهندیة ۱/۵۱۵ (۱) او که ستاسو دعوی صحیح او سره د دلیل وی نو تاسو ماشومه واپس اخستلې شئ (شامی) (۲) وهوالموفق

په خلع کې د مهر واپس اخستلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د نکاح نه پس په ښځه خاوند کې که نفرت او اختلاف پیدا شی او ښځه د خلع مطالبه وکړی نو د ښځې دپاره حق مهر واپس اخستل جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: ډاکټر عروج اعوان پشاور چهاونی...... ۱۲/۱/۱۹۹۰

الجواب: چې ظلم د خاوند د طرف نه وی نو د هغه دپاره مهر واپس اخستل حرام دی او که د ښځې د طرف نه وی نو د مهر مقدار واپس اخستل جائز دی

---

(۱) وفی الهندیة: اذا تشاق الزوجان وخافا ان لا یقیما حدود الله فلا بأس بان تفتدی نفسها منه بمال یخلعهابه... وان کان النشور من قبلها کرهنا له ان یأخذ اکثر مما اعطاها من المهر ولکن مع هذا یجوز اخذ الزیادة فی القضاء کذا فی غایة البیان.
(فتاوی عالمگیریة ۱:۴۸۸ الباب الثامن فی الخلع الفصل الاول)

(۲) قال العلامة الحصکفی: الحضانة تثبت للام... الا ان تکون مرتدة او فاجرة فجورا یضیع الولد به کزنا وغناء وسرقة ونیاحة کما فی البحر والنهر بحثا قال المصنف والذی یظهر العمل باطلاقهم کما هو مذهب الشافعی ان الفاسقة بترک الصلاة لا حضانة لها الخ.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۸۸ باب الحضانة)

او دهغې نه زيات اخستل غوره نه دي (شامي باب الخلع ٢/٧٠٠) (١) وهوالموفق

د مهر مسمى نه زيات مال باندې خلع جائز ده خو غوره نه ده

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زيد د ترۀ د لور خالدې سره نکاح وکړه د کور په تنازعات خو زيات تر د خالدې د مور پلار د کم عقل توب د وجې نه هغوی خالده خپل کور ته بوتله، اوس زيد بل وادۀ د عابدې سره وکړو د خالدې پلار وائي چې خالدې ته طلاق ورکړه خو زيد خالده پريښودل نه غواړي، خو پلار ئې نه مني، اوس زيد مطالبه وليکله چې طلاق به ورکوم خو پنځه زره روپۍ په طور د خلع راکوي، آيا داسې معامله جائز ده؟ بينواتوجروا

المستفتي: فيض الحق حقاني رياض سعودي عرب ١٩٨٤ء/٧/١٦

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت د زيد دپاره د مهر مسمٰى نه زيات مال اخستل جائزدي خو غوره نه دي، بلکې غوره دا ده چې څومره مو ښځې ته مهر ورکړې وي هم په هغه مقدار باندې خلع وکړي (شامي ٢/٧٧٢) (٢) وهوالموفق

دويم خاوند باندې د اول خاوند د وادۀ د خرچ شرط کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زيد خپلې ښځې

---

(١) قال العلامة الحصكفي: وكره تحريما اخذ شيئ ويلحق به الابراء عمالها عليه ان نشز وان نشزت لا ولو منه نشوز ايضا ولو باكثر مما اعطاها على الاوجه فتح وصحح الشمنى كراهة الزيادة وتعبير الملتقى لا بأس به يفيد انها تنزيهية وبه يحصل التوفيق۔
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢:٦٠٩ باب الخلع)

(٢) قال العلامة الحصكفي: وكره تحريما اخذ شيئ ان نشز وان نشزت لا ولومنه نشوز ايضا ولو باكثر مما اعطاها على الاوجه فتح وصحح الشمنى كراهة الزيادة وتعبير الملتقى لا بأس به يفيد انها تنزيهية وبه يحصل التوفيق۔
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٢:٦٠٩ باب الخلع)

ته درې طلاقه د ګواهانو په مخکې ورکړی خو په طلاق نامه باندې د هنده دا اقرار لیکلې شوې دې چې کله هغه نکاح ثانی د خاوند ثانی سره وکړی نو دویم خاوند په اول خاوند (زید) ته د وادهٔ هغه خرچه کومه چې ئې د هنده په وادهٔ باندې کړې وه اول خاوند ته ادا کوی، اوس دا اقرار د هنده د طرف نه نهٔ دې چې دا خرچه به زه ادا کوم بلکې دویم خاوند لیکلې ده، اوس عمرو د هنده سره نکاح وکړه، آیا په عمرو باندې دا خرچه لازمه ده که نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حاجی سراج الدین هری پور ۱۹۸۳ء/۶/۹

الجواب: دا معامله د عام طلاق معامله ده خلع نه ده، پس په دې خاوند باندې چاته خرچه ورکول واجب نه دی، بله دا چې زید هنده ته د نکاح د منع کولو هیڅ اجازه نه لري بهر حال دا شرعی معامله نه ده بلکې د جاهلانو غیر اسلامی رسم دې. **وهوالموفق**

د خاوند د رضامندئ نه بغیر خلع صحیح نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې یو سړې هر اعتبار سره (مثلاً د مال او نفقې صحت) سره صحیح دی خو ښځې په عدالت کې بغیر د څه شرعی عذر نه د خاوند خلاف د خلع دعوی دائر کړې ده او خاوند په خلع باندې راضی نه دې، آیا د قاضی دپاره جبرا خلع کول جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد زمان اٹک خضرو ۱۹۸۷ء/۹/۲۹

الجواب: چې کله خاوند باقاعده ښځې لره آباد ساتی او حقوق زوجیت یې هم ادا کوی نو بغیر د شرعی وجې نه د قاضی خلع او تفریق جائز او منظور نه دې لعدم رضا الزوج بالخلع کالطلاق، **وفی الهندیة ۱/۵۰۳، وشرطه شرط الطلاق** (۱). **وهوالموفق**

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۱:۴۸۸ الفصل الاول فی شرائط الخلع وحکمه)

د نابالغ کیدو په حالت کې د خلع او طلاق مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د زید نکاح د شپږو کالو په عمر کې د بازیرې سره په عمر د اتو کالو شوې وه هغه وخت دواړه نابالغ وو، د نکاح نه څلور کاله پس هغوی جینئ ته طلاق نامه لیکلې وه، د دې نه پس ئې په هغه کال باندې د هغه جینئ په بل ځای کې کوژدن وکړه. په دې نکاح او کوژدن کې د مسمی زید مور پلار هم شریک شو او نکاح اوتړلې شوه. په طلاق نامه کې چې د خلع په صورت کې کوم رقم لیکلې شوې دې هغوی نه دې ورکړې د دې نه پس هغوی په دې باندې اصرار کوی چې نورې پیسې هم راکړئ، آیا شرعی حیثیت سره د هغوی دا رقم اخستل صحیح دی یا نه؟ د فریق اول والاخلق صرف د پیسو د تقاضې د وجې نه ضد کوی چې د جینئ زمونږ ده، په دې علاقه کې اکثر داسې واقعات راغلې دی، د وړو ماشومانو کوژدن کولو سره بیا طلاق ورکولو سره د جینکو د مور پلار نه په زرګونو روپئ طلب کوی او دا پیسې د خلع په حیثیت سره وصولوی د علاقې مولوی صاحبان دې ته جائز وائی، شرعی حکم څه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: معروف خان پل کوټ مانسهره......۱۴۰۱ھ/۷/۶

الجواب: په ظاهره د خلع په وخت کې دا ماشوم نابالغ معلومیږی او د نابالغ خلع نامنظور او کالعدم وی **لما فی الهندیة ۱/۵۲۹، اذا خالع الاب علی ابنه الصغیر لایصح وخلع الصبی باطل** (۱) او په تقدیر د بلوغ سره دا معامله د خلع شرعی نه ده. پس په ښځې باندې دا رقم واجب الادا نه دې، **ونظیره ما فی الهندیة ۱/۵۲۲، ولو قال انت طالق وعلیك الف فقبلت طلقت بلامال عند ابی حنیفة رحمه الله** (۲) او که باقاعده په شهادت سره خلع شرعی ثابته شی نو دا

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۱:۵۰۴ قبیل الباب التاسع فی الظهار)

۲) (فتاوی عالمگیریة ۱:۴۹۶ الفصل الثالث فی الطلاق علی المال)

پیسې به په ښځه باندې واجب الادا وی (۱) هوالموفق

د صبی او مجنون دپاره خلع کول صحیح نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې نابالغ ماشوم خپلې ښځې ته په عوض د مهر یا نورو مالونو خلع وکړي، نو آیا د هغوی خلع صحیح ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: انعام الله سوکړی بنون... ۲۲ نومبر ۱۹۷۴ء

الجواب: کوم سړي چې د طلاق ورکولو اهل نه وی هغه د خلع کولو اهل هم نه دي. لما فی الهندیة: وشرطه شرط الطلاق (۲) پس د نابالغ او مجنون خلع کول صحیح نه دی. وفی الهندیة: وخلع الصبی باطل والمعتوه والمغمی علیه من مرض بمنزلة الصبی فی ذلك هكذا فی المبسوط (۳)۔ وهوالموفق

نابالغ نه خپله خلع کولې شی او نه د هغه د طرف نه کیدلې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د خپل نابالغ هلك واده د نابالغې جینۍ سره وکړو، ایجاب و قبول د مورپلار په ذریعه وشو جینۍ شپږ کالو پورې باقاعده اباده وه، بیا یوه میاشت د خپلې ترور په کور کې د اوسیدو نه پس بیا یو کاله پورې د خاوند په کور کې اوسیده، بیا په بالغه کیدو باندې ئې په خپله مرضۍ بل واده وکړو، د دې نه پس د هلك پلار په درې سوه روپۍ باندې خلع حاصل کړه، هلك ورته هیڅ طلاق ورنکړو حال دا

---

۱) قال العلامة المودود الموصلی: الخلع وهو ان تفتدی المرأة نفسها بمال لیخلعها به فاذا فعلا لزمها المال۔
(الاختیار لتعلیل المختار ۲:۲۰۰ باب الخلع)
۲) (فتاوی عالمگیریة ۱:۴۸۸ الباب الثامن فی الخلع وما فی حکمه)
۳) (فتاوی عالمگیریة ۱:۵۰۴ قبیل الباب التاسع فی الظهار)

چې هلك نابالغ دې د داسې نکاح او هلك باره کې څه حکم دې؟ بينواتوجروا

المستفتی: مولانا عزیز الرحمن کوهاله مری......۳۰ دسمبر ۱۹۶۸ء

الجواب: نابالغ نه خپله خلع کولې شی او نه يې پلار د هغه د طرف نه خلع کولې شی لهذا د هغه جينۍ نکاح په بل ځای کې کول ناجائز دی، په دې شرط چې پورته ذکر شوې واقعات صحيح وی

وفی الهندية ۱: ۵۲۹ اذا خالع الاب علی ابنه الصغير لا يصح ولا يتوقف علی اجازته كذا فی فتاوی قاضی خان خلع السكران والمكره جائز عندنا وخلع الصبی باطل هكذا فی المبسوط انتهی مختصرا(۱)۔ وهوالموفق

د اختلاف راتلو په صورت کې زنانه د خلع کولو يا د نکاح فسخ کولو اجازه شته

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د يو سړی وادۀ وشو او باقاعدګۍ سره ښځه او خاوند تر يوې مياشتې پورې آباد وو، بيا د نادارۍ د وجې نه ئې ښځه وهلو ټکولو سره د کور نه وويستله، زنانه تقريبا د څلورو کالو نه زيات د پلار په کور وه، هم په دې وخت کې هغه ته د جرګې په طور ووئيلې شو چې ښځه آباده کړه او خرچه او جامې ورته ورکړه او حق مهر ورکولو سره جينۍ بوځه، نودهغه په جواب کې ئې وويل چې نه جامې ورکوم، نه خرچه او نه جينۍ بوځم بلکې د هغه جرګې د ځای نه لاړو، بيا ئې د ځو کسانو مخکې دا وويل چې د حق مهر نه چې مو کوم کالې ورکړې دې هغه دې ماته واپس کړې شی او پنځه زره روپۍ په بدل کې خلع کولو سره جينۍ چې چېرته غواړی وادۀ کولې شی، دومره لوئې رقم مور پلار نه شی ادا کولې، صرف د جينۍ تنګول مقصود دی، په دې صورت کې د خلع او خلاصی شرعی طريقه څه ده؟ بينواتوجروا

المستفتی: کريم ګل خان بفه هزاره

---

۱) (فتاوی عالمگيرية ۱:۵۰۴ قبيل الباب التاسع فی الظهار)

الجواب: فقهاء کرامو تصریح کړې ده چې په جماع وغیره سره ټول مهر د خاوند په ذمه واجب کیږي خو چې کله دا مهر مهر معجل نه وي نو د مرګ یا د طلاق په وخت واجب الادا ګرځي د دې نه مخکې واجب الادا نه وي،

في الهندية ١: ٣٢٣ والمهر يتأكد بأحد معان ثلاثة الدخول والخلوة الصحيحة وموت احد الزوجين الخ(١) وفيها ايضا ٣٣٩ وان كان لا الى غاية معلومة فقد اختلف المشائخ فيه قال بعضهم يصح وهو الصحيح وهذا لان الغاية معلومة في نفسها وهو الطلاق او الموت(٢)

لهذا د دې خاوند په ذمه باندې مهر واجب دې خو واجب الاداء به هغه وخت وي چې کله مرګ یا جدائي راشي، او ښځه که مناسب مقدار پیسې (د مهر مقدار) ورکولو سره خاوند خلع ته تیار کړي نو دا ډېر غوره صورت دې، او که خاوند نه د زوجیت حقوق ادا کولو ته تیار وي او نه مناسب خلع ته تیاریږي نو په دې صورت کې دا زنانه د مسلمان حاکم په ذریعه د هغه نه د طلاق (تنسیخ نکاح) حاصلولو مجاز ده. **(الحيلة الناجزة)(٣) وهو الموفق.**

---

١) (فتاویٰ عالمگیریة ٣٠٣:١ الفصل الثانی فیما یتأکد به المهر والمتعة)

٢) (فتاویٰ هندیة ٣١٨:١ الفصل الحادی عشر فی منع المرأة نفسها بمهرها والتاجیل الخ)

٣) قال الشاه اشرف علی التهانوی : زوجه متعنت لره اول لازم دی چې په څه طریقې سره خلع وغیره وکړي خو که باوجود د سعي بلیغ نه څه صورت جوړ نه شي نو د سختې مجبورئ په حالت کې د موالکو په مذهب باندې د عمل کولو ګنجائش شته ځکه چې د هغوی په نزد زوجه متعنت ته د تفریق حق ملاویدې شي. او د سختې مجبورئ دوه صورتونه دی یو دا چې زنانه خپله په حفظ او عزت سره په کسب معاش باندې قدرت ساتي او دویم صورت د مجبورئ دا دې چې اګر چې په سهولت یا په مشکله د خرچ انتظام کیدې شي خو د خاوند نه په بیل اوسیدو کې د ابتلاء معصیت قوی ویره وي، او صورت د تفریق ئې دا دې چې زنانه خپله مقدمه قاضی اسلام یا مسلمان حاکم او د هغه د نه کیدو په صورت کې جماعت المسلمین ته پیش کړي او چاته چې پیش شي هغه دې د معاملې... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د ناداری په صورت کې ښځې ته بغیر د خلع نه فسخ نکاح لیکل او بیا د مقدمې صورت

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې مسمی مقبول علی په وخت د وادهٔ خپله مسماة زاهدې بی بی ته په سرکاری کاغذ باندې ولیکل چې د عدم اتفاق زوجین په صورت کې مسماة مذکوره ته رجوع بعد العدالت کیدو سره بغیر د خلع نه د نکاح د فسخ کولو اختیار وی، اوس بنا په عدم اتفاق مسماة مذکوره رجوع عدالت عالیه ته وکړه، پرلپسې تر شپږو میاشتو پورې عدالت مقبول علی طلب کړو خو هغه د خبریدلو باوجود عدالت ته پیش نه شو، بالآخر عدالت ذکر شوې لیکلو ته کتلو سره د نکاح د فسخ کیدو حکم جاری کړو، آیا دا شرعا جائز ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالحمید مظفر آباد هزاره..... ۳ نومبر ۱۰۷۵

الجواب: د ضرورت په وخت قضاء علی الغائب جائز ده.

کمافی ردالمحتار ۴:۲۳۹، فالظاهر عندی ان یتأمل فی الوقائع ویحتاط ویلاحظ الحرج والضرورات فیفتی بحسبها جوازا اوفسادا الی آخر ماقال فلیراجع (۱)

باقی په دې خاص صورت کې د نکاح د فتوې ورکولو نه مونږ معذور یو تر څو پورې چې د ټولو مسائلو نه مونږ خبر نه شو، هم دغه شان چې د دې نه هم خبر نه شو چې په هغه لیک باندې دستخط د عقد نکاح نه مخکې شوې دې او که وروستو. (۲) وهوالموفق

...بقیه ازحاشیه گذشته] د شرعی شهادت وغیره په ذریعه پوره تحقیق وکړی او که د زنانه صحیح ثابته شی چې سره د وسعت نه ورته خرچ نه ورکوی نو د هغې خاوند ته به ووئیلې شی چې د زنانه حقوق ادا کړه یا ورته طلاق ورکړه کنه نو مونږ په په مینځ کې جدائی راولوو دې نه پس هم که هغه ظالم په څه صورت باندې عمل ونکړی نو قاضی کوم چې شرعا د هغه قائم مقام وی د هغه په ښځه دې طلاق واقع کړی. (الحیلة الناجزة ۱۶۴، حکم زوجه متعنت فی النفقة)

۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴:۳۷۷ قبیل مطلب فی القضاء علی المسخر)

۲) قال العلامة النووی: اذالم یفهم المفتی السوال اصلا...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د خلع نه پس د تجديد نكاح مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زيد د خپلې ښځې په بدكارئ كې د اخته كيدو د وجې نه د هغه په قتل پسې لگيدلې دې خو بدامنى كونكى خلق زيات وو هم په دې وجه هغه تر نهو لسو ورځو پورې هغه هم په دې سوچ او فكر كې وو چې د څو كسانو سره ئې قتل كړم، هم په دې وخت كې خالد زيد ته مشوره وركړه چې مجرم صحيح طريقې سره تاته معلوم نه دى لهذا غوره دا ده چې د منكوحه مهر تاته معاف كړې شى او ته هغې ته طلاق وركړې دا صورت به ستا دپاره غوره وى، زيد د خالد دا مشوره قبلولو سره ښځې ته يو طلاق وركړو د هغې نه څو ورځې پس زيد ووېل چې زه د خپل طلاق نه رجوع كوم، په دې صورت كې دا رجوع صحيح ده يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتى: اشرف الدين

الجواب: په صورت مسئوله كې كه زيد د خپلې ښځې سره جماع وكړه نو د هغه مراجعت صحيح دې كنه نو تجديد نكاح (دنكاح تازه كول) ضرورى ده، هم دغه شان د خلع په صورت كې د نكاح تجديد ضرورى دې.

فى ردالمحتار ۲: ۷۲۸ ان الخلوة الصحيحة لاتكون كالوطى فى الرجعة انتهى (۱) وفى الدرالمختار وحكمه ان الواقع به ولو بلا مال وبالطلاق الصريح على مال طلاق بائن، او په ظاهره دا معامله خلع ده، كما لايخفى ويؤيده ما فى ردالمحتار

...بقيه ازحاشيه گذشته] ولم يحضر صاحب الواقعة فقال الصيمرى يكتب يزاد فى الشرح ليجيب عنه او لم افهم ما فيها فاجيب قال وقال بعضهم لا يكتب شيئا اصلا قال ورأيت بعضهم كتب فى هذا يحضر السائل ليخاطبه شفاها.
(شرح المهذب للنووى ۱۶ فصل فى آداب الفتوى)

۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۵۷۴ باب الرجعة)

وارادبالمال مایشتمل الابراءمنه حتی لوقالت ابرأتك عمالی علیك علی ٢:٧٧٠
طلاق ففعل برئ وبانت(١)۔وهوالموفق

١) (الدرالمختار مع ردالمحتار ٢:٦٠٨ قبیل مطلب ابرأته من حق یکون للنساء علی الرجال)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوٰی فریدیه

(شپږم جلد)

باب العدة

....

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوٰی فریدیه

باب العدة

قال الله تبارك وتعالٰی:

يَآأَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ وَأَحْصُوا الْعِدَّةَ

(سورة الطلاق........۱)

....

باب العدة

د طلاق د عدت وخت د طلاق د ورکولو د وخت نه شروع کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې د طلاق عدت د کوم وخت نه شروع کیږی چې کله طلاق ورکړی یا زنانه ته علم اوشی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مطیع الله مدینه منوره سعودی عرب... ۵ جمادی الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب: د طلاق عدت د طلاق د وخت نه شروع کیږی نه د علم د وخت نه. (شامی) (۱) وهوالموفق

د عدت وخت د طلاق ورکولو نه شروع کیږی

او د خاوند د طرف نه شرطونه لګول باطل دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوه زنانه مطلقه مغلظه ده او د طلاق نه مخکې د مور پلار په کور باندې تر دولسو کالو پورې پاتې شوې ده، آیا د طلاق نه پس به پوره موده تیروی او که په هغې کې به څه کمې وی؟ په طلاق نامه کې ئې دا شرط ولیکلو چې زنانه به دویمه نکاح نه کوی کنه نو خاوندته به شل زره روپۍ ورکوی، د دې شرط څه حکم دې؟

بینواتوجروا

المستفتی: مولانا حسین احمد فاضل بنوری ټاؤن

امام مسجد بالا حصار پشاور... ۱۹ دسمبر ۱۹۸۵ء

---

(۱) قال العلامة الحصكفي : ومبدأ العدة بعد الطلاق وبعد الموت على الفور وتنقضي العدة وان جهلت المرأة بهما ای بالطلاق والموت لانها اجل فلا يشترط العلم بمضيه سواء اعترف بالطلاق او انكر ، قال ابن عابدين : (قوله لانها اجل) ای لان العدة اجل فلا يشترط العلم بمضيه ای بمضی الاجل. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۶۶۲ باب العدة)

الجواب: دا زنانه د لیکلو د وخت نه مطلقه شوې ده او هم د دې وخت نه عدت شروع شوې دې (۱) او د خاوند دا شرط لګول باطل او نامنظور دي خو په خاوند باندې نفقه د عدت باقاعده واجب ده که دا زنانه ناشزه نه وي. (۲) وهوالموفق

د نابالغې مدخول بها ښځې د عدت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړي ښځه چې تراوسه پورې نابالغه وه او وادهٔ ئې شوې وو، هم دې دوران کې هغه دې نابالغې ښځې ته طلاق ورکړو اوس د دې زنانه دعدت څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالجبار پشین بلوچستان ... ۱۳ مارچ ۱۹۷۷ء

الجواب: نابالغه زنانه به د حیض د نه کېدو د وجې نه درې میاشتې حیض تیروی که دې دوران ئې حیض شروع شو نو د میاشتو په ځای به د حیض نه عدت شروع کوی

وفی الهندیة: والعدة لمن لم تحض لصغر اوکبر اوبلغت بالسن ولم تحض ثلاثة اشهر کذا فی النقایة وکذا لورأت دما یوما ثم لم ترفعدتها بالشهور وهو الصحیح ولو رأت ثلاثة دما ثم انقطع فعدتها بالحیض (۳). وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحصکفی: ومبدأ العدة بعد الطلاق وبعد الموت علی الفور وتنقضی العدة وان جهلت المرأة بهما ای بالطلاق والموت. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۶۲ باب العدة بعید مطلب فی وطء المعتدة بشبهة)

۲) قال العلامة الحصکفی: لا نفقة لاحد عشر ... وخارجة من بیته بغیر حق وهی الناشزة. قال ابن عابدین: تنبیه: تزوج معتدة البائن انما لا یسقط نفقتها ما دامت فی بیت العدة والا صارت ناشزة کما فی الذخیرة. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۷۰۲ باب النفقة)

۳) (فتاوی عالمگیریة ۱:۵۲۶ الباب الثالث عشر فی العدة)

په مطلقه غیر مدخول بها باندې عدت نشته

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یوې پیغلې جینۍ د یو ځوان هلک سره نکاح د شریعت مطابق قائم شوه دا پیغله جینۍ ناڅاپه د یو پردي سړی سره لاړه چې په هغې باندې ورته زوړ خاوند فورا طلاق ورکړو، اوس به دا دویم خاوند د عدت نه مخکې نکاح کوی یا بغیر د عدت نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سخی سرور، وانړه خان محمد دی آئی خان.... ۲۷ اپرایل ۱۹۷۰

الجواب: چې نه جماع شوې وی او نه خلوت، نو دا زنانه د طلاق نه پس متصل نکاح کولې شی په دې باندې عدت نشته. قال فی الهندیة: ۱: ۵۴۹ هی انتظار مدة معلومة یلزم المرأة بعد زوال النکاح حقیقة او شبهة المتأکد بالدخول اوالموت کذافی شرح النقایة للبرجندی(۱)۔ وهوالموفق

په غیر مدخول بها باندې عدت وفات واجب او دې دوران کې به نکاح ثانی باطله شی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوه کوېژدن کړې زنانه چې د هغې نکاح لوستلې شوې وی او د رخصتۍ نه مخکې ئې خاوند وفات شو، آیا په هغه زنانه باندې عدت واجب دې؟ او که د عدت تیریدلو نه مخکې بل سړی سره نکاح وکړې شی نو جائز به وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: گل حسین کوهاټ بنهر.... ۱۱ اگست ۱۹۷۴ء

الجواب: په دې زنانه باندې عدت واجب دې، بغیر د عدت تیرولو نه ئې نکاح حرام او کالعدم ده. فی الدرالمختار: والعدة للموت اربعة اشهر وعشر من

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۵۲۶:۱ الباب الثالث عشرفی العدة)

الايام مطلقا وطئت اولا ولوصغيرة (هامش درمختار ۲: ۸۳۰)(۱) وفى الهندية ۱: ۲۹۸ لا يجوز للرجل ان يتزوج زوجة غيره وكذلك المعتدة سواء كانت العدة عن طلاق اووفاة اودخول الخ(۲)۔ وهوالموفق

د غیر مدخول بها د عدت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید د یوې زنانه سره نکاح وکړه، د خلوت نه مخکې باز خان دا منکوحه زنانه په زبردستئ سره خپل کور ته بوتله، اوس باز خان د زید سره صلح وکړه او هغه زنانه ته ئې طلاق ورکړو اوس که باز خان هغه زنانه لره په نکاح اخلی نو آیا دا زنانه به عدت تیروی؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالحلیم متعلم حقانیة .... ۱۲ جنوری ۱۹۷۲

الجواب: دا زنانه د دې بل سړی سره بغیر د عدت نه نکاح کولې شي.

فى الدرالمختار: وسبب وجوبها (اى العدة) عقد النكاح المتاكد بالتسليم وما جرى مجراه من موت اوخلوة، هامش ردالمحتار ۲: ۸۲۴(۳) وفيه ايضا وكذا لا عدة لو تزوج امرأة الغير ووطئها عالما بذلك ودخل بها (هامش الرد ۲: ۸۳۵)(۴)۔ وهوالموفق

د طلاق رجعی د عدت دوران کې که خاوند مړ شی نو زنانه به عدت وفات تیروی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی خپلې

---

۱) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۶۵۵: ۲ مطلب فى عدة الموت باب العدة)

۲) (فتاوىٰ عالمگيرية ۲۸۰: ۱ القسم السادس المحرمات التى يتعلق بها حق الغير)

۳) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۶۵۰: ۲ باب العدة)

۴) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۶۶۷: ۲ قبيل الفروع آخر باب العدة)

ښځې ته دوه طلاق رجعي ورکړل، د عدت دوران کې خاوند وفات شو، اوس به دا زنانه عدت وفات تیروی یا عدت طلاق؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد انور متعلم تعلیم القرآن......۳۱ مارچ ۱۹۷۳

الجواب: د طلاق رجعي په صورت کې به بالاتفاق عدت وفات تیروی. وفی الهدایة۲/۴۰۳اما اذاکان رجعیا فعلیها عدة الوفاة بالاجماع (۱) وهوالموفق.

د درې کالو نه غیر آباد زنانه به هم د طلاق نه پس عدت تیروی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې تر درې کالو پورې زنانه د خاوند نه غیر آباد او بیله وه، اوس خاوند درې کاله پس طلاق ورکړو د هغه زنانه عدت به څه وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالصمد پیر سباق لوښهر ......۳۰ جمادی الثانیة ۱۴۰۱ هجری

الجواب: دا زنانه د درې حیضه تیریدلو نه پس په بل ځای کې وادهٔ کولې شی. (شامی باب العدة) (۲)، وهوالموفق

د درې کالو نه د غیر آبادې زنانه د طلاق د عدت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوه زنانه د درې کالو نه غیر آباد ده بیا د هغې خاوند طلاق ورکړو. نو د دې زنانه د عدت څه مسئله ده آیا پوره عدت به تصور کولې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نیاز محمد یعقوب دهاوی آزاد کشمیر ۲۶ جولائی ۱۹۷۳ء

---

۱) (هدایة ۲:۴۰۲ باب العدة)

۲) قال العلامة الحصکفی: ومبدأ العدة بعد الطلاق وبعد الموت علی الفور وتنقضی العدة وان جهلت المرأة بهما ای بالطلاق والموت، قال ابن عابدین: وهذا مبنی علی تعریف البدائع من ان العدة اجل ضرب لانقضاء ما بقی من آثار النکاح وقدمنا ترجیحه. (الدرالمختار مع هامش ردالمحتار ۲:۶۶۲ باب العدة)

الجواب: په داسې زنانه باندې مکمل عدت تیرول ضروري دی، لان عدة المدخول بها ثلاثة قروء ولم يستثنوا منها هذه المرأة وامثالها والمسئلة اجماعية. (۱) وهوالموفق

د زانیه د عدت او تجدید نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی بازګل منکوحه د عالم ګل نومی سړی سره لاړه، تقریبا د پنځه ځلویښت ورځو پورې دواړه غائب وو بیا سل کلومیتره لرې په یو ځای کې دواړه ونیول شو، دکوم ځای نه چې هغوی د پاکستان طرف ته تښتیدل پولیس عالم ګل د ګرفتارولو نه پس جیل ته ولیږلو او زنانه پلار ته حواله کړې شوه، درې میاشتې پس مشرقاضي فیصله وکړه چې زنانه د سابقه خاوند بی بی ده او بیا هغه ته حواله کړې شوه، ښځه او خاوند هم هغه شان خوشحاله دی اوس د کلی خلق بازګل د مانځه په صف کې اودریدلو ته نه پریږدی، بازګل وائی چې ما دوباره نکاح کړې ده خلق وائی چې د هغه حلاله نه ده شوې نکاح به څنګه صحیح شی، بعض وائی چې د نامحرم سړی سره په اوسیدو باندې ئې نکاح ماته شوې ده او طلاق واقع شوې دې لهذا د مسئلې حقیقت او د عقد نکاح نه پس د عدت حکم بیان کړئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی زین العابدین برکلی علاقه کلکت... ۱۵ شوال ۱٤۰۲ھ

---

۱) وفی الهندية : العدة هی انتظار مدة معلومة يلزم المرأة بعد زوال النكاح حقيقة او شبهة المتأكد بالدخول او الموت كذا فی شرح النقاية للبرجندی، رجل تزوج امرأة نكاحا جائزا فطلقها بعد الدخول او بعد الخلوة الصحيحة كان عليها العدة ... اذا طلق الرجل امرأته طلاقا بائنا او رجعيا او ثلاثا او وقعت الفرقة بينهما بغير طلاق وهی حرة ممن تحيض فعدتها ثلاثة اقراء.
(فتاوی عالمگیرية ۱:۵۲٦ الباب الثالث عشر فی العدة)

الجواب: (۱) که هغه اغواء کونکی د دې زنانه سره عقد نکاح نه وی کړې نو په دې زنانه باندې هيڅ عدت نشته. لمافی الهندية: لاتجب العدة على الزانية (۵۴۶/۱)(۱)

(۲) او د تجديد نکاح ضرورت بهر حال نشته او که دا زنانه مستحله وی او زنا لره حلاله ګڼی نو د ارتداد د وجې نه ئې اوله ګناه باطله شوې ده او دويمه نکاح ئې ضروری ده.(۲)

(۳) او دې خاوند لره د جماعت د مانځه نه منع کول ناجائز او عوامی تعزير دې اسلامی تعزير نه دې. قال الله تعالى: ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان يذكر فيها اسمه (الاية)(۳). وهوالموفق

د مفقود الخبر د ښځې د عدت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د مفقود الخبر ښځې څومره عدت دې او کله به شروع کيږی؟ بينواتوجروا

المستفتى: محمد خان سواتى ...... ۱۲ مارچ ۱۹۷۴ء

الجواب: د مفقود ښځه به د حکم بالموت نه پس د وفات عدت تيرولو سره په بل خاى کې نکاح کوى، كمافى الدار المختار يحكم بموته فى حق ماله فتعتد منه عرسه للموت الخ، هامش ردالمحتار: ۳۵۸/۳(۴) وهوالموفق

---

۱) (فتاوى عالمگيرية ۵۲۶:۱ الباب الثالث عشر فى العدة)

۲) قال الملا على قارى: ان استحلال المعصية صغيرة كانت او كبيرة كفر اذا اثبت كونها معصية بدلالة قطعية.
(شرح فقه الاكبر للقارى ۱۵۲ بيان استحلال المعصية كفر)

۳) (سورة البقرة آيت: ۱۱۴ پاره: ۱ ركوع: ۱۴)

۴) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۳۶۳:۳ قبيل كتاب الشركة)

د نفاس په حالت کې د طلاق ورکولو په صورت کې د عدت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې چه یوه زنانه د وضع حمل نه دوه ورځې پس طلاقه شی نو آیا د عدت دپاره به دا نفاس د درې حیضو قائم مقام شمار کولې شی. **بینواتوجروا**

المستفتی: گل احمد میاں کانوکلے ۲۷ جولائی ۱۹۷۵ء

الجواب: څنګه چې د حیض دوران کې د طلاق ورکولو په وخت دا حیض نامکمل او غیر محسوب وی.(۱) هم دغه شان د نفاس دوران کې به هم دا حکم وی. کمافی الدرالمختار: والنفاس کالحیض، هامش ردالمحتار ۲/۵۷۸ (۲) وهوالموفق

که خلوت وشی خو ښځه نې ځان ته نه پرېږدی نو آیا دا خلوت صحیح دې؟

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې خپله منکوحه یو کوټې ته داخلولو سره خلوت وکړې خو ښځه خاوند خپل بدن مس کولو ته نه پرېږدی، دا خلوت صحیح دې یا فاسده، او په دې خلوت باندې د مطلقه کیدو په صورت کې به عدت تیرول واجب وی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا لطیف الرحمن کوټکه حیات خان تختی خیل

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله ولا اعتداد بحیض طلقت فیه) ای اذا طلقها فی الحیض لا یحسب من العدة لان ما وجد قبل الطلاق لا یحتسب به منها لعدم التجزی فلو احتسب کمل من الرابعة فوجبت کلها لعدم التجزی ایضا.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۶۶۰ قبیل مطلب فی وطئ المعتدة بشبهة)

۲) قال العلامة الحصکفی: والنفاس... کالحیض فی کل شیئ الا فی سبعة، قال ابن عابدین: وصورة العدة اذا قال لامرأته اذا ولدت فانت طالق فولدت ثم قال مضت عدتی فانها تحتاج الی ثلاث حیض ما خلا النفاس.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۱:۲۱۹ باب الحیض قبیل مطلب فی حکم وطئ المستحاضة)

الجواب: دا مختلف فيه مسئله ده، كما فى الهندية ۱:۳۰۵ وان خلابها ولم تمكنه من نفسها اختلف المتأخرون فيه، قال بعضهم لاتصح الخلوة وقال بعضهم تصح كذا فى السراج الوهاج(۱) پس په احتياط باندې عمل كول پكار دى، فلوكان وقع تحريه على الحملة منها فهى ليس بأقل من كلبها العقور(۲) وهوالموفق.

د يو كرت خلوت صحيحه تيرولو نه پس هم عدت طلاق تيرول لازمي دي

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې مور پلار په يو ځای کې د خپل ځوی وادهٔ وکړو ځوی صرف يوه شپه خپلې ښځې ته لاړو، د ناداري او طبيعت د نه لګيدو د وجې نه ئې بغير د جماع کولو نه سحر بهر راتلو سره د ګواهانو مخکې طلاق ورکړو آيا په دې زنانه باندې چې جماع ورسره نه ده شوې عدت واجب دې يا نه دې؟ بينواتوجروا

المستفتی: عزيز الرحمن هزاره.... ۱۴ اپريل ۱۹۷۴ء

الجواب: خلوت صحيحه قائم مقام د وطی دې، پس په دې زنانه باندې د طلاق عدت واجب دې،

فى الدر المختار: والخلوة بلا مانع حسى وطبعى (الى ان قال) كالوطئ فيما يجيئ الخ فى تاكد المهر والنفقة والسكنى والعدة انتهى بحذف يسير(۳)۔ وهوالموفق

۱) (فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۳۰۵ الفصل الثانى فيما يتأكد به المهر والمتعة)

۲) قال العلامة الحصكفى: والكلب يمنع ان كان عقورا مطلقا وفى الفتح وعندى ان كلبه لا يمنع مطلقا او كان للزوجة والا يكن عقورا و كان له لا يمنع.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۳۶۸ مطلب فى احكام الخلوة)

۳) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۳۶۷،۳۷۰ مطلب فى احكام الخلوة)

معتده صرف د موهومه خطرې د وجې نه نه بلکې د ضرورت د وجې نه سفر کولې شي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو پیر او مرشد چې د هغوی حلقه متوسلین او مریدین تر لرې لرې پورې خوره شوې ده او د الله پاک مخلوق د هغوی نه مستفیض شوې دی د هغوی دوه بیبیانې دی د یوې نه ئې اولاد شته او د دویمې نه ئې اولاد نشته دواړه بیبیانې ئې په مختلف ښهرونو کې اوسیږی، اوس هغه بزرگ وفات شوې دې او د اولاد والا بی‌بی ئې په دغه ځای کې اوسیږی کوم ځای کې چې د حضرت پیرصاحب مزار دې اوس د متوسلین خواهش دې چې دا بله بي بي هم هغه مقام ته بوځی نو آیا هغه اهلیه د عدت دوران دا سفر کولې شي او حال دا چې هغه ځای تقریبا سل میله دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حافظ محمد عباس، احمد پور شرقیه .... ۶ فروری ۱۹۷۴ء

الجواب: د معتده دپاره صرف د موهومه خطرې د وجې نه سفر جائز نه دې خو د ضرورت د وجې نه جائز دې. لاكن المتحقق ههنا الاول دون الثانی، والمجوزهوالثانی دون الاول، كما فی الدرالمختار: ولا تخرجان منه الاان تخرج اويتهدم المنزل اوتخاف انهدامه اوتلف مالها اولاتجد كراء البيت ونحو ذلك من الضرورات (هامش ردالمحتار ۲: ۸۵۴)([1]).-وهوالموفق

د خاوند او مور پلار د کور نه علاوه په بل ځای کې عدت تیرول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د زید د لور وادهٔ د عمر سره وشو بیا هغه طلاق مغلظه ورکړو زید هغه جینئ بکر ته حواله کړه، او د هغې په کور کې ئې شپه تیره کړه د زید حکم شرعا څه دې؟ او د بکر څه

[1] (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۷۴ فصل فی الحداد)

حکم دې چا چې د عدت په ورځو کې یوه زنانه ساتلې ده؟ او بکر هغې سره نکاح کول غواړي؟ بينواتوجروا

المستفتي: محمود الهي خضرو اټک...۲۱ جولائی ۱۹۷۹ء

الجواب: که د بکر وغیره سره ئې د خلوت صحیحه نوبت متیقن یا مظنون نه وي نو د مور په کور او د بکر په کور کې څه خاص فرق نشته. اصل حکم خو د خاوند په کور کې د عدت تیرولو دې، د عوارض د وجې نه دې اصل لره متروک کول ګران دی. كما لا يخفى على من نظر الى حديث فاطمة (۱) وعبارات الفقهاء في باب العدة (۲). وهوالموفق

دوران عدت کې د پنشن د وصولولو دپاره تلل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زما خاوند وفات شوې دې زه هره میاشت خپل متعلقه دفتر ته ځم او د دې وصولئ نه بغیر کورنی اخراجات نه پوره کیږي، د غریبئ ژوند تیروم، آیا زه د پنشن د وصولولو دپاره بهر وتلې شم یا نه؟ بعض خلق د وتلو وائی او بعض د نه وتلو، صحیح مسئله څه ده؟ بينواتوجروا

المستفتي: نامعلوم........ لاهور ملتان روډ...... ۲۵ جنوری ۱۹۸۴ء

---

(۱) عن عروة ان عائشة انكرت ذلك على فاطمة وزاد ابن ابى الزناد عن هشام عن ابيه عابت عائشة اشد العيب وقالت ان فاطمة كانت فى مكان وحش فخيف على ناحيتها فلذلك ارخص لها النبى ﷺ. (صحيح البخارى ۲:۸۰۲ باب المطلقة اذا خشى عليها فى مسكن زوجها الخ كتاب الطلاق)

(۲) قال العلامة ابن نجيم: قوله وتعتد ان فى بيت وجبت فيه الا ان تخرج او ينهدم اى معتدة الطلاق والموت تعتد ان فى المنزل المضافة اليهما بالسكنى وقت الطلاق والموت ولا يخرجان منه الا لضرورة لما تلونا من الآية الخ.
(البحر الرائق ۴:۱۵۴ فصل فى الحداد)

الجواب: که د پنشن د وصولئ دپاره ستاسو تلل ضروری وی او د بل په ذریعه دا کار نه مکمل کیږی او د وخت تیرولو د مشکلاتو ښکار یئ نو د مجبورئ د وجې نه تاسو په قدر د ضرورت د کور نه وتلې شئ، بیا فورا واپس راتلل ضروری دی، فی الدرالمختار ۵۳۶ جلد ۳ وتعتدان فی بیت وجبت فیه ولا تخرجان منه الاان تخرج اوینهدم المنزل اوتخاف انهدامه اوتلف مالها اولاتجد کراء البیت ونحوذلك من الضرورات فتخرج لاقرب موضع الیه(۱). وهوالموفق

د معتده د نفقې انتظام نه کیدو او عصمت د وجې نه بل ځای ته منتقل کیدې شي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو ځوان وادهٔ کولو سره شپږ میاشتې پس په یو جنګ کې شهید شو د هغه ځوان درې وروڼه هم دی، اوس به د هغه شهید ښځه عدت چېرته تیروی د خاوند په کور کې که د مور او پلار په کور کښ؟ هغه زنانه د عدت پرواه نه کول سره د مور او پلار کور ته تیښته اختیار کړه، بغیر د اجازت نه دا کار جائز دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: قاضی خلیل الرحمن دوبیان صوابی

الجواب: په دې کونډه باندې عدت تیرول ضروری دی او د خاوند د کور نه به بل کور ته نه منتقل کیږی؟ لمافی الهدایة ۴۰۸ وعلی المعتدة ان تعتد فی المنزل الذی یضاف الیها بالسکنیٰ حال وقوع الفرقة والموت... وان کان نصیبها من دارالمیت لایکفیها فاخرجها الورثة من نصیبهم انتقلت(۲) وبمعناه فی سائر کتب الفروع، د دې عبارت نه دا هم معلومه شوه چې که د هغه زنانه د سکونت حصه د هغه دپاره ناکافی وی او نور وارثان د بهادرئ نه کار نه اخلی نو د هغه دپاره بل کور ته منتقل کیدل جائز دی، هم دغه شان په دې کونډې باندې د

---

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۶۷۴: ۲ فصل فی الحداد)

۲) (هدایة علی صدر فتح القدیر ۱۶۶: ۴ قبیل باب ثبوت النسب)

[illegible] به ستر پرده ضروري دی کما ورد في رد المحتار (المسدود في الموت
شرعي ستر او [illegible] ليس بمحرم لها محرمة (١) لهذا که د حائل انتظام
ونه شي يا شهوت خطره وي نو دې ميرمن ته مستقل کور ورکول به ضروري وي والله اعلم

مطلقه مدخول بها بنځه د عدت په وخت کې مطلقه
پردي سړي ته حواله کول بې غيرتي او ديوث توب دی

سوال: څه فرمايي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې مثلاً زيد خپله لور
زکيه د پاره د کور اهالو په محضر کې د خپل زوم نه طلاق ثلاثه حاصل کړل، د
طلاق نه په څوشت ورځې پس ئې يو سړي ته حواله کړه د پاره د نکاح، هغه
خان سره کړه او کراچۍ ته لاړو، نه ئې عدت تيريدلو ته انتظار وکړو بلکې بغير
د نکاح نه ئې يو غير سړي ته حواله کړه د دې شرعي حکم څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا عزيز الرحمن خطيب کوهاټ ..... ٥ اگست ١٩٧٤ء

الجواب: که دا جينۍ واده شوې (مدخول بها) وي نو د عدت بل چاته حوال
کول بې غيرتي او ديوثي ده (٢) خو که د خلوت ممنوعه نه ئې د حفاظ
انتظام وي نو بې غيرتي به نه وي (٣)

---

١) (رد المحتار هامش الدر المختار ٢: ٦٧٥ قبيل فصل في ثبوت النسب)

٢) قال العلامة الحصكفي: يا ديوث هو من لا يغار على امرأته او محرمه، قال ابن عابدين
قال الزيلعي هو الذي يرى مع امرأته او محرمه رجلا فيدعه خاليا بها وقيل هو المتسبب
الجمع بين اثنين لمعنى غير ممدوح وقيل هو الذي يبعث امرأته مع غلام بالغ او
مزارعه الى الضيعة او يأذن لهما بالدخول عليها في غيبته. (الدر المختار مع رد المحتار
٣: ٢٠٢ باب التعزير)

٣) قال العلامة ابن عابدين: (قوله: لئلا يختلي بالاجنبية ومفاده ان الحائل يمنع ال
المحرمة) اي مفاد التعليل ان الحائل يمنع الخلوة المحرمة ويمكن ان يقال في الاج
كذلك وان لم تكن معتدته الا ان يوجد نقل بخلافه بحر.
(رد المحتار هامش الدر المختار ٢: ٦٧٥ فصل في الحداد)

نوټ: په ایام عدت کې بغیر دضرورت نه د کورنه وتل حرام دی په کوم کې چې طلاق ورکړې شوې وی، کذا فی ردالمحتار(١) والهندیة (٢) والبحر(٣) وهوالموفق

په حالت د سفر کې د عدت وفات مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی سره د کار (مزدوری) دوران کې د هغه سره ښځه او بچی هم د وطن نه بهر د ملازمت (مزدوری) په ځای کې اوسیدل، دې دوران کې خاوند مړ شو آیا په دې زنانه باندې هم عدت واجب دې؟ د سفر معامله ده که د دې ځای نه بدل شی نو بیا به عدت پاتې وی یا نه؟ آیا دا ښځه د خپل خاوند سره په بل ځای کې د پردې سره اوسیدې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: ماسټر غلام نبی ټیکسلا .... ١٧ دسمبر ١٩٧٤ء

الجواب: په دې کونډه باندې عدت واجب دې او د هغې دپاره د دې کور نه

---

(١) قال العلامة الحصكفی: ولا تخرج معتدة رجعی وبان بأی فرقة كانت علی مافی الظهيرية ولو مختلعة علی نفقة عدتها فی الاصح اختيار او علی السكنیٰ فيلزمها ان تكتری بيت الزوج معراج لو حرة مكلفة من بيتها اصلا لا ليلا ولا نهارا ولاالی صحن دار فيها منازل لغيره ولو باذنه لانه حق الله تعالیٰ.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٢:٦٧٣ قبيل مطلب الحق ان علی المفتی ان ينظر فی خصوص الوقائع الخ)

(٢) وفی الهندية: علی المعتدة ان تعتد فی المنزل الذی يضاف اليها بالسكنیٰ حال وقوع الفرقة والموت كذا فی الكافی لو كانت زائرة اهلها او كانت فی غيربيتها لامرحين وقوع الطلاق انتقلت الی بيت سكناها بلاتأخير وكذا فی عدة الوفاة كذا فی غاية البيان.
(فتاویٰ عالمگيرية ١:٥٣٥ الباب الرابع عشر فی الحداد)

(٣) (البحر الرائق ٤:١٥٤ فصل فی الحداد)

انتقال کول جائز نه دی. کما فی تنقیح الفتاوی ۱:۵۷ وتعتدان ای معتدة طلاق وموت فی بیت وجبت فیه ولا یخرجان منه الاان تخرج اوینهدم المنزل او تخافا انهدامه او تلف مالها اولا تجد کراء البیت ونحو ذلك من الضرورات(۱). وهوالموفق

معتده به د خاوند په کور کې اوسېږي خو د خلوت نه به ځان ساتي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يو سړي خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل اوس هغه زنانه د دې خاوند نه حامله ده او دې زنانه لره په نکاح کې د اخستلو خواهش لري، پس د حمل د وجې نه د بل سړي سره لا نکاح نه شي کولې نو آيا دا زنانه د حمل په ورځو کې د اول خاوند په کور کې اوسيدې شي يا نه؟ چې د حمل نه پس حلاله وکړې شي؟ بینواتوجروا

المستفتی: میاں اشراف الله اکوړه خټک.....۳۰ جولائی ۱۹۷۷

الجواب: د دې معتده دپاره د خاوند په کور کې اوسیدل جائز بلکې ضروری دی خو د دې فسق وفجور په زمانه کې دې د خلوت نه ځان ساتي.

کما فی شرح التنویر: ولهما ان یسکنا بعد الثلاث فی بیت واحد اذالم یلتقیا التقاء الازواج ولم یکن فیه خوف فتنة وفیه عن المجتبیٰ الافضل الحیلولة بستر ولو فاسقا فبامرأة(هامش ردالمحتار ۲:۸۵۵)(۲). وهوالموفق

د مطلقه مغلظه د خاوند په کور کې د اوسیدو او د ښځې د لاس د تیار کړی ښوی پخلی حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يو سړي د ګواهانو په موجودګۍ کې خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل او ښځه ئې حامله هم ده

۱) (تنقیح الفتاویٰ الحامدیة ۱:۵۷ باب العدة)
۲) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۷۵ قبیل فصل فی ثبوت النسب)

اوس دا سړې د خپلو بچو په فالنه باندې مجبور دې آیا دا د مطلقه ښځې په کور کې اوسیدې شی؟ آیا دا خاوند د هغه ښځې د لاس تیار کړې پخلې خوړلې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد عارف گھوئ سری .... ۳ جولائی ۱۹۷۸ء

الجواب: که دا مخکې ذکر شوی ښځه خاوند بوډاګان او مامون وی نو په یو کور کې د هغوی اوسیدل جائز دی او د هغه سړی دپاره د دې زنانه د لاس پخ کړې حلال دې خو آزادی او خلوت حرام دې

کما فی شرح التنویر: وسئل شیخ الاسلام عن زوجین افترقا ولکل منهما ستون سنة وبینهما اولاد تتعذر علیهما مفارقتهم فیسکنان فی بیتهم ولا یجتمان فی فراش ولا یلتقیان التقاء الازواج هل لهما ذلک قال نعم واقره المصنف (هامش ردالمحتار ۲ :۸۵۵)(۱). وهوالموفق

مطلقه مغلظه په کور کې د خادمې په حیثیت سره ساتل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې خاوند خپلې ښځې ته طلاق مغلظه ورکړې دې د عدت د تیریدلو نه پس زنانه سره د راوتلو نه راوځی او خاوند ته وائی چې ما دې په طور د خادمې وساتی، آیا خاوند دا ښځه د خادمې په طور ساتلې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالغفور واه کینټ .... ۲ جمادی الثانیة ۱۳۹۱ھ

الجواب: که د خلوت او آزادئ نه په امن وی نو د نوکرې په حیثیت سره ساتلو کې څه باک نشته، کما فی شرح التنویر: وسئل شیخ الاسلام عن زوجین افترقا ولکل منهما ستون سنة وبینهما اولاد تتعذر علیهما مفارقتهم فیسکنان فی بیتهم

---

۱ ﴾ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۷۵ قبیل فصل فی ثبوت النسب فصل فی الحداد)

ولا یجتمعان فی فراش ولا یلتقیان التقاء الازواج هل لهما ذلك قال نعم واقره المصنف۔(هامش ردالمحتار۲: ۸۵۵)(۱)۔وهوالموفق

د عدت دوران کې خرچه ورکول د خاوند ذمه داری ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی خپله ښځه طلاق ثلاثه مغلظه ورکولو سره فارغه کړه، آیا د عدت دوران د دې مطلقه د اخراجاتو ذمه دار خاوند دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: اسلم گل اسلام آباد........ ۱۹۷۳/ ۳/ ۲۳

الجواب: د عدت دوران د معتده خوراک او جامه او د استوګنې اخراجات د خاوند په ذمه واجب دی، که خاوند انکار کوی نو معتده د حاکم په ذریعه دا حقوق وصولولې شی.

وفی الهندیة: المعتدة عن الطلاق تستحق النفقة والسکنیٰ کان الطلاق رجعیا او بائنا اوثلاثا حاملاً کانت المرأة اولم تکن کذافی قاضی خان (۲)۔وهوالموفق

د مبانه زنانه د حق مهر او دوران عدت کې د نفقې مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ما خپلې ښځې ته صرف یو طلاق ورکړې دې، الفاظ دا وو: ته په ما باندې طلاقه ئې! اګر چې د طلاق ورکولو په وخت زما د هیڅ قسم طلاق ورکولو ارده نه وه، تقریبا پنځه کاله تیر شو چې ما د هغې سره د ازدواجی ژوند تعلقات بند کړی دی ځکه چې هغې به ما سره هر وخت جګړې کولې، اوس ما د دویم وادهٔ اراده کړې ده چونکې نن صبا د عائلی قوانین د وجې نه دویم وادهٔ منع دې، بهرحال ما د

---

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۶۷۵ قبیل فصل فی ثبوت النسب فصل فی الحداد)

۲) (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۵۵۷ الفصل الثالث فی نفقة المعتدة)

دویم وادهٔ دپاره فیس داخل کړو اوس ماته د دغه ښځې د طرف نه قانوني خطره پیدا شوه په دې وجه ما په عدالت کې فرضي شهادت پیش کولو سره زنانه لره مطلقه ظاهرولو سره د دویم وادهٔ اجازت اخستلو سره وادهٔ کړې دې، ګواهانو هم دا ګواهي قائمه کړه چې مونږ ته د معتبرو ذرائع نه معلومه شوې ده چې دې سړي د دې تاریخ نه مخکې خپلې ښځې ته طلاق ورکړې دې، حال دا چې دا ټوله فرضي کارروائي ده، اوس حاکم په ما باندې مبلغ سل روپۍ حق مهر او یو نیم سل روپۍ د عدت خرچه مقرر کړې ده ما د دواړه قسم پیسو داخلولو نه انکار کړې دې او د شریعت کولو درخواست مې کړې دې چې که واقعي ذکر شوې زنانه مطلقه وی نو حق مهر به ادا کړم، کنه نو واپس به رجوع وکړم، ځکه چې ما د هغې نه وروستو د طلاق هیڅ اقرار نه دې کړې او دا کارروائي ټوله فرضي وه ددې لپاره چې د قانوني جرم نه بچ شم اوس د حق مهر او د عدت د خرچې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: عبدالرحیم نوره وردی، ۱۸ اګست ۱۹۶۶

الجواب: چونکې طلاق صریح د ارادې نه بغیر هم واقع کیږی لهذا دا ښځه طلاقه شوې ده (۱) او د عدت تیریدلو نه پس مبانه شوې ده (۲) او په تاسو باندې ټول مهر ورکول ضروري دی. (۳) او چونکې د عدت د زمانې نه مخکې

---

۱) قال العلامة طاهر الانصاری: وطلاق اللاعب والهازل وطلاق الرجل الذی اراد ان یتکلم فسبق لسانه بالطلاق فالطلاق واقع۔
(خلاصة الفتاوی ۷۵: ۲ کتاب الطلاق)

۲) قال العلامة ابن عابدین: والرجعی لا یزیل الملک الا بعدمضی العدة۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵۷۶: ۲ باب الرجعة)

۳) وفی الهندیة: والمهر یتأکد باحد معان ثلاثة الدخول والخلوة الصحیحة وموت احد الزوجین سواء کان مسمی او مهر المثل حتی لا یسقط منه شئ بعدذلک الا بالابراء۔
(فتاوی عالمگیریة ۳۰۳: ۱ الفصل الثانی فیما یتأکد به المهر والمتعة)

ختم شوې دې لهذا فی الحال په تاسو باندې د عدت نفقه ورکول ضروری نه دی بیشکه د بعض فقهاء کرامو په نزد د عدت نفقه کومه چې زنانه برداشت کړه د خاوند نه به وصولولې شی (ماخوذ از ردالمحتار ودر المختار)(۱) وهوالموفق

په وضع د حمل سره عدت ختمیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوه مطلقه زنانه وه چې هغه حامله هم وه خپل خاوند یې هغې سره جماع وکړه او صباله هغه حمل پریوتلو آیا عدت پوره شو؟ بینواتوجروا

المستفتی: محبوب الرحمن شاه...... ۹ اپریل ۱۹۷۵

الجواب: په وضع د حمل سره عدت ختم شو (ماخوذ از ردالمحتار)(۲) وهوالموفق

د مطلقه مغلظه په وضع حمل سره عدت ختمیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوه منکوحه

---

۱) قال العلامة الشامی المکنی بابن عابدین: (قوله ولا تسقط النفقة الخ) ای اذا مضت مدةالعدة ولم تقبضها فلها اخذها لو مفروضة ای او مصطلحا علیها لکن لو مستدانة بامر القاضی فلا کلام والافقیه خلاف اختار الحلوانی انها تسقط ایضا واشار السرخسی الی انها تسقط وفی الذخیرة وغیرها انه الصحیح قال فی البحر وعلیه فلا بد من اصلاح المتون فانهم صرحوا بان النفقة تجب بالقضاء او الرضا وتصیر دینا وهنا لا تصیر دینا الا اذالم تنقض العدة لکن فی النهر ان اطلاق المتون یشهد لما اختاره الحلوانی قلت وظاهر الفتح اختیاره حیث اقتصر علیه. (ردالمحتار هامش الدالمختار ۲:۷۲۷ قبیل مطلب فی نفقة المطلقة باب النفقة)

۲) قال العلامة ابن عابدین: (قوله وضع حملها) ای بلا تقدیر بمدة سواء ولدت بعد الطلاق اوالموت بیوم او اقل جوهرة والمراد به الحمل الذی استبان بعض خلقه او کله... واذا اسقطت سقطا ان استبان بعض خلقه انقضت به العدة لانه ولد والا فلا. (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۶۵۶ بعید مطلب فی عدة الموت)

مطلقه مغلظه په عدت کې وه، او خاوند هغې سره مجامعت او کوروالی وکړو تردې چې د بار بار مجامعت او کوروالي له امله هغه ښځه حامله شوه او وضع د حمل ئې شو، آیا عدت تیر شوې دې یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: فضل معبود تنګی..... ۹ ستمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: عدت تیر شوې دې.

كما في الهندية ١: ٥٥٤ طلق امرأته ثلثا وكتم طلاقها عن الناس فلما حاضت حيضتين وطئها فحبلت ثم اقر بطلاقها كان لها النفقة مالم تضع الولد لان عدتها انما تنقضي بوضع الحمل كذا في الفتاوى الكبرى (١)۔ وهوالموفق

په وضع د حمل سره عدت ختمیږي او دویمه نکاح جائز کیږي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړي د طلاق ثلاثه په ذریعه خپله ښځه رخصت کړه، په ګواهانو کې د محلې مولوی صاحب او یو سپین ږیرې شامل وو، د طلاق نه دیرش ورځې پس مولوی صاحب د هغې زنانه نکاح د بکر سره وکړه او د خپل نوي خاوند سره ئې ژوند تیرول شروع کړل، آیا دا نکاح شرعا جائز ده، که نه وي نو د دې مولوی صاحب دپاره څه تعزیر دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد اشرف خان

الجواب: ممکنه ده چې دې مطلقه د حمل اسقاط کړې وي او د حامله عدت په وضع د حمل سره ختمیږي. قال الله تعالیٰ: واولات الاحمال اجلهن ان يضعن حملهن (٢) وفي ردالمحتار ٢: ٨٣١ واذا اسقطت سقطا ان استبان بعض خلقه انقضت به العدة لانه ولد والافلا (٣)۔ وهوالموفق

---

١) (فتاوی عالمگیرية ١: ٥٣٢ قبيل الباب الرابع عشر في الحداد)

٢) (سورة الطلاق آیت: ۴: پاره: ۲۸ رکوع: ۱)

٣) (ردالمحتار هامش الدر المختار ٦٥٦: ٢ بعيد مطلب في عدة الموت)

د عدت موده درې حیضه تیرول دی اګرچې په دې باندې دوه کاله تیر شی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوې زنانه ته طلاق ورکړې شو هغه یو داسې زنانه ده چې هغې ته پنځه میاشتې پس حیض راځی نو آیا د هغې دپاره دومره اوږده موده تیرول ضروری دی او که فورا نکاح وکړې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نور محمد صاحب

الجواب: په دې زنانه باندې درې حیضه تیرول ضروری دی اګر چې دوه کاله موده تیره شی. لما فی الدر المختار: الشابة الممتدة بالطهر بان حاضت ثم امتد طهرها فتعتد بالحیض الی ان تبلغ سن الایاس (١). وهوالموفق.

د عدت کم از کم موده شپیتهٔ ورځې ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زنانه ته په طلاق ملاویدو باندې کم ازکم څومره موده عدت تیرول راځی د دې نه مو خبر کړئ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد رفیق قریشی اسلام آباد

الجواب: که دا معتده حامله نه وی نو کم ازکم شپیتهٔ ورځې عدت به تیروی. کما فی شرح التنویر: قالت مضت عدتی والمدة تحتمله وکذبها الزوج قبل قولها مع حلفها والا تحتمله المدة لا لان الامین انما یصدق فیما لا یخالفه الظاهر ثم لو بالشهور فالمقدر المذکور ولو بالحیض فاقلها لحرة ستون یوما(٢) (٣) وهوالموفق

---

١) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ٢:٦٥٣ قبیل مطلب فی عدة الصغیرة المراهقة)

٢) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ٢:٦٦٥ قبیل مطلب فی الدخول فی النکاح الاول دخول الخ)

٣) وقال العلامة ابن عابدین: (قوله ستون یوما) فیجعل کانه طلقها فی الطهر بعد الوطء ویؤخذ لها اقل الطهر خمسة عشر لانه لا غایة لاکثره...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د صاحبینو په نزد د عدت کم از کم موده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوې زنانه ته درې طلاقه ورکړې شو د هغه زنانه عام عادت ایام تحیض اووه ورځو پورې دې او د طهر موده ئې اوویشت ورځې ده اوس هغه زنانه یوه میاشت پس دویمه نکاح وکړی، آیا په دومره موده کې د یوې زنانه حیض پوره کیدو سره شرعا د عدت موده مکمل کیدې شی؟ آیا په دې مسئله کې د زنانه قول قابل قبول دې چې هغه وائی چې په ما باندې درې حیضه تیر شوې دی؟ که په دې موده کې یعنی ۵۳ ورځې عدت پوره کیدو نه مخکې چې کوم امام مسجد د هغه زنانه سره نکاح وکړی آیا د هغه اقتداء صحیح ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: صوفی محمد حلیم دینه جهلم ..... ۱۹۷۵ء | ۸ | ۲۴

الجواب: چونکې د صاحبین په نزد په یو کم شلویښت ورځو کې عدت ختمیدلې شی(۱) لهذا دانکاح لوستونکی وغیره دتعزیرلائق نه دی. وهوالموفق

...بقیه ازحاشیه گذشته] واوسط الحیض خمسة لان اجتماع اقلهما نادر فثلاثة اطهار بخمسة واربعین وثلاث حیض بخمسة عشر فصارت ستین وهذا علی تخریج محمد لقول الامام، وعلی تخریج الحسن له یجعل کانه طلقهافی آخر الطهر احترازا عن تطویل العدة علیها ویؤخذ لها اقل الطهر واکثر الحیض لیعتد لا فطهر ان بثلاثین یوما وثلاث حیض بثلاثین ایضا وعندهما اقل مدة تصدق فیها الحرة تسعة وثلاثون یوما ثلاث حیض بتسعة ایام وطهر ان بثلاثین افاده ط.

(ردالمحتار هامش شرح التنویر ۲:۶۶۵ باب العدة)

۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله ستون یوما) فیجعل کانه طلقها فی الطهر بعد الوطء ویؤخذ لها اقل الطهر خمسة عشر لانه لا غایة لاکثره... واوسط الحیض خمسة لان اجتماع اقلهما نادر فثلاثة اطهار بخمسة واربعین وثلاث حیض بخمسة عشر فصارت ستین وهذا علی تخریج محمد لقول...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د عدت درې حیض په اتویشت ورځو کې نه پوره کیږي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړي خپلې ښځې ته طلاق ورکړو، پوره اتویشت ورځې پس د هغې نکاح په بل ځای کې وکړې شوه، آیا په شریعت کې داسې څه حواله هم موجود ده چې عدت صرف اتویشت ورځې وي؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: محمد اشرف باسیان راولپنډی ...... ۲۶ رجب ۱۳۹۰ھ

الجواب: زمونږ په نزد د طلاق او خلع یو حکم دې یعنی درې حیض وغیره کوم چې په اتویشت ورځو کې نه شي پوره کیدې، بیشکه د بعض ائمه رحمهم الله په نزد د خلع حکم یو حیض دې نو د هغوی په نزد عدت (یعنی استبراء) په اتویشت ورځو کې پوره کیدې شي. (۱) **وهوالموفق**

...بقیه ازحاشیه گذشته] الامام وعلى تخريج الحسن له يجعل كانه طلقها فى آخر الطهر احترازا عن تطويل العدة عليها ويؤخذلها اقل الطهر واكثر الحيض ليعتد لافطهر ان بثلاثين يوما وثلاث حيض بثلاثين ايضا وعندهما اقل مدة تصدق فيها الحرة تسعة وثلاثون يوما ثلاث حيض بتسعة ايام وطهر ان بثلاثين افاده ط- (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۶۵ قبيل مطلب الدخول فى النكاح الاول دخول فى الثانى)

(۱) وفى المنهاج: (قوله ان تعتد بحيضة) وفى رواية النسائى بزيادة الواحدة اختلفوا فى ان الخلع طلاق او فسخ، فقال احمد هو فسخ وعدتها حيضة واحدة وروى عنه ان عدتها كعدة المطلقة، وروى عن الشافعى انه فسخ ولكن عدتها عدة المطلقة، وقال ابوحنيفة ومالك والشافعى فى رواية انها طلاق بائن وعدتها عدة الطلاق، استدل احمد بحديث الباب، واحتج الجمهور بما رواه الدارقطنى فى سننه عن ابن عباس ان النبى ﷺ جعل الخلع تطليقة بائنة وبما رواه ابن ابى شيبة وابوداؤد فى مراسيله وعبد الرزاق عن سعيد بن المسيب مرسلا ان النبى ﷺ ...[بقيه حاشيه برصفحه آئنده

چې د کومې زنانه خاوند وفات شي هغه د عدت نه پس د خپلو بچو سره هر ځای کې اوسيدې شي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يو سړې وفات شو او دوه بچي او يوه کونډه ترې پاتې شوه، اوس دا ښځه د عدت نه پس د خپلو بچو سره د خپلو ورونو سره اوسيږی او د خاوند د وارثانو سره ئې صلاح مشوره نه ده کړې د دې شرعی حکم څه دې؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: محمد ابراهيم مهاجر افغانستان .... ۸ ستمبر ۱۹۸۷ء

الجواب: دا کونډه صاحب اختيار ده، که هر ځای غواړی اوسيدې شی او بهر حال د دې کونډې ورونو يا د خاوند ورونو ته دا اختيار نشته چې هغه خرڅه کړی دا ښکاره ظلم دې او دا وراثت جاهليت دې. (۱) وهوالموفق

...بقيه ازحاشيه گذشته] جعل الخلع تطليقة وبما رواه مالک عن عثمان انها تطليقة،وبما رواه ابن ابی شيبة عن علی وعن ابن مسعود رضی الله عنهم، وبالجملة ان المختلعة مطلقة والمطلقات يتربصن بانفسهن ثلاثة قروء، والجواب عن حديث الباب ان معناه ان تعتد بحيض لا بالاشهر كالمتوفی عنها زوجها ورواية النسائی بتصريح الوحدة محمولة علی فهم الراوی، وبالجملة ليس مع الخصم حديث صريح فی كونها فسخا بخلاف الجمهور كما عرفت.

(منهاج السنن شرح ترمذی ۴:۳۱۰ باب ماجاء فی الخلع)

(۱) قال العلامة عماد الدين ابن كثير : (قال الله تعالیٰ: يٰايها الذين آمنوا لا يحل لكم ان ترثوا النساء كرهاً) قال كانوا اذا مات الرجل كان اولياؤه احق بامرأته ان شاء بعضهم تزوجها وان شاؤوا زوجوها وان شاؤوا لم يزوجوها فهم احق بها من اهلها فنزلت هذه الآية فی ذلک هكذا رواه البخاری وابوداؤد والنسائی الخ...

وقال زيد بن اسلم فی الآية : كان اهل يثرب اذا مات الرجل منهم فی الجاهلية ورث امرأته من يرث ماله وكان يعضلها حتی يرثها ...[بقيه حاشيه برصفحه آئنده

...بقیه ازحاشیه گذشته] او یزوجها من اراد وکان اهل تهامة یسیئ الرجل صحبة المرأة حتی یطلقها ویشترط علیها ان لا تنکح الا من اراد حتی تفتدی منه ببعض ما اعطاها فنهی الله المؤمنین عن ذلک رواه ابن ابی حاتم۔

(تفسیر ابن کثیر ۲:۲۱۵ سورة النساء آیت:۱۹)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

(ششم جلد)

باب فی التحلیل

....

بسم الله الرحمن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

باب فی التحلیل

قال الله تبارك وتعالیٰ:

فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ ط

(سورة البقرة........۲۳۰)

....

باب فی التحلیل

حدیث "لعن الله المحلل والمحلل له" په کراهت محمول دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې حدیث ﴿لعن الله المحلّل والمحلّل له﴾ څه مطلب دې او حال دا چې زمونږ د احنافو فتوی د تحلیل په جواز باندې ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد اکرام الدین وارډ ضلع دیر ... ۳۰ اگست ۱۹۷۵ء

الجواب: د دې حدیث مطلب دا دې چې سره د کراهیت نه دویمه نکاح جائز ده، وهذا محمول علی ان اللعن محمول علی کراهته عند الاشتراط اواخذ الاجرة۔ وتحل للثانی لانه علیه الصلاة والسلام سماه محللاً وهو المثبت للحل(۱)، والتفصیل فی المطولات فلیراجعه(۲)۔وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الموصلی: فان تزوجها بشرط التحلیل کره وحلت للاول وقال ابویوسف النکاح فاسد لانه کالمؤقت، ولا تحل للاول لفساده، وقال محمد هو جائز لشروط الجواز ولا تحل للاول لانه عجل ما اخره الشرع فیعاقب بالمنع کقتل المورث، ولابی حنیفة قوله علیه السلام لعن الله المحلل والمحلل له ومراده النکاح بشرط التحلیل فیکره للحدیث وتحل للثانی لانه علیه الصلاة والسلام سماه محللا وهو المثبت للحل، او نقول وحد الدخول فی نکاح صحیح لان النکاح لا یفسد بالشرط فتحل للاول، ولو تزوجها بقصد التحلیل ولم یشرطه حلت للاول بالاجماع۔(الاختیار لتعلیل المختار ۲:۱۹۳ باب الرجعة)

۲) وفی المنهاج: (قوله لعن رسول الله ﷺ المحلل والمحلل له) اعلم ان نکاح الزوج الثانی علی ثلاثة اوجه، الاول: نکاح رغبة بلا قصد التحلیل وبلا اشتراطه وهو جائز بلا کراهة فبالدخول فیه یحصل التحلیل، والثانی: النکاح بقصد التحلیل بلا اشتراطه فی العقد وهو جائز عندنا وعند الشافعی خلافا لمالک واحمد فانهما قالا انه لایحلها للاول، وروی عن ابی حنیفة وابی یوسف ومحمد ایضا، والثالث: النکاح ... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د درې طلاقو نه پس بغیر د حلاله نه خلاصې نشته

او په دوه کې پس د عدت نه د نکاح تجدید کافي دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید په یو وخت خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل او طلاق ئې د حمل په حالت کې ورکړو، د حمل د وضع کولو نه ځلوېښت ورځې پس ئې خپله ښځه د مور پلار کره ولیږله او د ځلورو میاشتو تیریدلو نه پس ئې خپل مینځ کې تصفیه وکړه، مسئله مدرسه تبلیغ اسلام ګوليړه ته راولیږلې شوه، جواب دا ملاؤ شو چې که د طلاق اظهار نه وی شوې نو دوباره دې نکاح وکړې شی او که د طلاق اظهار شوې وی نو حلاله دې وکړې شی پس طلاق ورکونکی د خپل حقیقی ورور سره

...بقیه ازحاشیه گذشته] باشتراط التحلیل فی العقد وهو فاسد عند الشافعی وروی ذلک عن ابی یوسف ایضا، وقال ابوحنیفة هو نکاح صحیح فان طلقها بعد الدخول حلت للاول۔

وظاهر حدیث الباب یقتضی التحریم والفساد ویؤیده ما اخرجه ابن ماجة باسناد حسن ان النبی ﷺ سماه التیس المستعار، وکذا ما اخرج ابن ابی شیبة عن عمربن الخطاب رضی الله عنه انه قال لا اوتی بمحلل ولا محلل له الا رجمتهما، وظاهر اطلاق القرآن یقتضی صحة النکاح والتحلیل ، قال الله تبارک وتعالیٰ: فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غیره، وهو یعم النکاح بقصد التحلیل وبشرطه، وکذا اشارة حدیث الباب یقتضی صحة النکاح والتحلیل ، لان النبی ﷺ سماه محلا، ویؤیده ان عمر رضی الله تعالیٰ عنه قال للمحلل الزم امرأتک ، رواه الشافعی والبیهقی کما فی کنز العمال، وکذا روی ابن جریر فی تهذیب الآثار ان عمر رضی الله عنه امضی نکاح المحلل۔

والجواب : عن حدیث الباب وحدیث ابن ماجة انه محمول ان اللعن محمول علی کراهته عند الاشتراط اواخذ الاجرة، واما اذا قصد التحلیل لا یکره وکان ماجورا لقصد الاصلاح لا سیما اذا کانت لهما صحبة قدیمة لا یرضیان بالفراق، والجواب عن اثر عمر انه معارض باثره الآخر فیحمل علی التغلیظ او علی ما اذا وقت اللیلة وغیرها۔

(منهاج السنن شرح ترمذی ۴:۲۷۰، ۲۷۱ باب ماجاء فی المحلل والمحلل له)

حلاله وکړه او پس د حلالې نه ئې د مذکوره ورور نه طلاق واخستلو، آیا د لیکل شوې حالاتو د لاندې دا دوباره نکاح صحیح کیدې شی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: علی گوهر جان ایبټ آباد... ۱۲ ستمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: که دې خاوند درې طلاقه ورکړې وی و بهر حال بغیر د حلاله نه بله لاره نشته، او که دوه طلاقه ئې ورکړې وی نو په عدت ختمیدو سره به تجدید د نکاح ضروری او کافی وی، د حلالې ضرورت نشته، **والمسئلة من الواضحات فلا حاجة الی نقل العبارات(۱) وهوالموفق**

د کراهیت باوجود حلاله ثابته ده او مطلق مامون وی نو د هغه کور ته راتلې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مطلقه ښځې دوباره په نکاح کې د اخستلو دپاره د حلالې په خاطر خاوند دا وعده واخلی چې د مباشرت نه پس به طلاق ورکړی چې پس د عدت نه د سابقه خاوند سره نکاح وکړې شی، آیا داسې کول صحیح دی، بله دا چې سابقه خاوند مطلقه زنانه په خپل کور کې د ماشوم د پیو ورکولو دپاره د څه مودې پورې ساتلې شی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: سید اسماعیل مرزا اټک... ۱۷ اگست ۱۹۸۳ء

الجواب: ۱: سره د کراهیت نه به حلاله ثابته وی (شامیه)(۲) ۲: که دا خاوند

---

۱) وفی الهندیة: اذا کان الطلاق بائنا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضاء ها وان کان الطلاق ثلاثا فی الحرة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها کذا فی الهدایة. (فتاوی عالمگیریة ۱:۴۷۲ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

۲) قال العلامة الحصکفی: وکره التزوج للثانی تحریما لحدیث لعن المحلل والمحلل له بشرط التحلیل کتزوجتک علی ان احللک وان حلت للاول...[بقیه حاشیه برصفحه آئنده

مامون وي نو دي کور ته تلي راتلي شي.(۱) وهوالموفق

د همبسترۍ نه بغیر صرف په نکاح سره حلاله نه کیږي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دي مسئلي په باره کي چي زید خپلي نکاح کړي ښځي ته طلاق ثلاثه ورکړل، چي د هغي د وجي نه هغه دوه دري کاله غیر آباد وه وروستو ئي د يو سړي سره د حلالي په غرض نکاح وکړه خو د همبسترئ نه بغیر ئي په بله ورځ طلاق اخستلو سره د مخکي خاوند سره د نکاح عقد وکړو، آیا د هم بسترئ نه بغیر د حلالي شرط پوره شو که پوره شوي وی نو عدت لازمی وو یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد اکرم خان کوهاله مری ۱۷ اگست ۱۹۷۲ء

الجواب: د صحبت نه بغیر حلاله نامنظور ده، لحدیث: حتی تذوقی عسیلته، الحدیث(۲) وفی الدر المختار: لاینکح مطلقة من نکاح صحیح نافذ کما سنحققه

...بقیه ازحاشیه گذشته] لصحة النکاح وبطلان الشرط.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۸۶ باب الرجعة)

۱) قال العلامة الحصکفی: وفی المجتبیٰ الافضل الحیلولة بستر ولو فاسقا فبامرأة قال ولهما ان یسکنا بعد الثلاث فی بیت واحد اذا لم یلتقیا التقاء الازواج ولم یکن فیه خوف فتنة انتهیٰ. (الدرالمختار علی هامش الشامیة ۲:۶۷۵ فصل فی الحداد)

۲) عن عائشة قالت: جاء ت امرأة رفاعة القرظی الی رسول الله ﷺ وعنده ابوبکر وخالد بن سعید بن العاص علی الباب ینتظر ان یؤذن له علی رسول الله ﷺ فقالت: یا رسول الله! انی کنت عند رفاعة فطلقنی فبت طلاقی، قال اتریدین ان ترجعی الی رفاعة، لا حتی یذوق عسیلتک وتذوقی عسیلته، فنادیٰ خالد بن سیعد ابابکر: الا تریٰ ما تجهر به هذه عند رسول الله ﷺ. (رواه الستة واحمد والبیهقی). (سنن الدارمی ۲:۲۱۵ باب مایحل المرأة لزوجها الذی طلقها فبت طلاقها)

بها ای بالثلاث حتی یطأها غیره الخ(هامش رد المحتار۲/۷۳۹)(۱)وهو الموفق

په حلاله کې بغیر د صحبت او جماع نه د هغه د لور سره د محلل د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید او عمرو دواړه د ترۀ ځامن دی په تعلقات خرابیدلو باندې زید خپلې ښځې ته طلاق ورکړو، څو ورځې پس ئې بیا صلح وشوه نو زید خپله ښځه عمر ته د دوه درې ورځو دپاره په نکاح ورکړه، خو د رشته دارۍ د وجې نه عمر سره جماع او صحبت ونکړو او طلاق ئې ورکړو، اوس د زید یوه لور ده کومه چې د مذکوره زنانه نه پیدا شوې ده، عمرو ته ئې په نکاح کې ورکول غواړی آیا د عمرو دپاره د دې منکوحه زنانه د لور سره نکاح جائز ده؟ او حال دا چې عمر د زید د ښځې سره جماع او صحبت نه دې کړې؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالقهار مری ایبټ آباد

الجواب: که زید خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې وی نو عمرو سره د نکاح نه پس صحبت او جماع ضروری ده. (لحدیث مالك) (۲) او بغیر د جماع نه د هغوی دپاره دا زنانه حرامه ده (۳) او د عمرو دپاره د دې زنانه د لور سره

---

۱) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۵۸۳: ۲ بعید مطلب فی العقد علی المبانة)

۲) عن عائشة رضی الله عنها قالت: طلق رجل امرأته ثلاثا فتزوجها رجل، ثم طلقها قبل ان یدخل بها، فاراد زوجها الاول ان یتزوجها فسئل رسول الله ﷺ عن ذلک، فقال: لا حتی یذوق الآخر من عسیلتها ما ذاق الاول متفق علیه واللفظ لمسلم. (بلوغ المرام ۳۳۴ کتاب النکاح)

۳) قال العلامة الموصلی: والمبانة بالثلاث لا تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ثم تبین منه لقوله تعالی: ...[بقیه حاشیه برصفحه آئنده

نکاح جائز ده که جماع او مس نه وی شوي، صرح به فی الدر المختار باب المحرمات(۱) والمهر(۲) وهوالموفق

د باقاعده حلالې کولو نه پس نکاح ثانی جائز کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکړو مطلقه په خپل کور کې ناسته وه او د یو سړي سره ئې هم نکاح ونکړه، اوس یې خاوند خاموش دې چې د دې زنانه سره دویمه نکاح

...بقیه ازحاشیه گذشته] (فان طلقها) یعنی الثالثة، (فلا تحل له من بعد حتی تنکح زوجا غیره) والنکاح المطلق فی الشرع ینصرف الی الصحیح حتی لو دخل بها فی نکاح فاسد لا تحل للاول وقوله حتی تنکح یقتضی الدخول لما ذکرنا ان النکاح الشرعی هو الوطء ولقوله، زوجا، ونکاح الزوج لا یکون الا بالوطء ویدل علیه الحدیث المشهور وهو ما روی فی الصحیح ''ان عائشة بنت عبد الرحمن بن عتیک القرظی کانت تحت ابن عمها رفاعة بن وهب فطلقها ثلاثا، فجاء ت الی النبی ﷺ فقالت: یا رسول الله انی کنت تحت رفاعة فطلقنی فبت طلاقی فتزوجت عبد الرحمن بن الزبیر وانما معه مثل هدبة الثوب، فتبسم ﷺ وقال: اتریدین ان ترجعی الی رفاعة؟ قالت: نعم فقال: حتی یذوق عسیلتک وتذوقی عسیلته'' (رواه البخاری وابوداؤد والنسائی وابن ماجة ومالک احمد) وسواء دخل بها فی حیض او نفاس او احرام لحصول الدخول۔ (الاختیار لتعلیل المختار ۲:۱۹۳ باب الرجعة)

۱) قال العلامة الحصکفی: وحرم بالمصاهرة بنت زوجته الموطوئة وام زوجته وجداتها مطلقا بمجرد العقد الصحیح وان لم توطأ الزوجة لما تقرر ان وطء الامهات یحرم البنات ونکاح البنات یحرم الأمهات، قال ابن عابدین: واحترز بالموطوئة عن غیرها فلا تحرم بنتها بمجرد العقد وفی ح عن الهندیة ان الخلوة بالزوجة لا تقوم مقام الوطء فی تحریم بنتها الخ۔ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۳۰۲ فصل فی المحرمات)

۲) قال العلامة ابن عابدین: (قوله وحرمة البنات) ای لم یقیموا الخلوة مقام الوطء فی ذلک فلوخلا بزوجته بدون وطء ولا مس بشهوة لم تحرم علیه بناتها بخلاف الوطء والکلام فی الخلوة الصحیحة کما صرح به فی التبیین والفتح وغیرهما الخ۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۷۱ بعید مطلب فی احکام الخلوة باب المهر)

وکړی، د دې دپاره هغه دا طريقه اختياروی چې د دې زنانه نکاح د بل سړی سره وشی هغه يوه شپه هغې سره صحبت وکړ او په بله ورځ يې طلاق ورکړ، د عدت د پوره کیدو نه پس د هغه سړې سره (يعنی سابقه خاوند سره) دويمه نکاح وکړی او د دويم سړی سره اول دا مقرر کړې شوه چې د نکاح نه پس يوه شپه د استعمالولو نه وروسته په دويمه ورځ طلاق ورکړی په دې طريقې سره د شريعت ټولې تقاضې پوره کيږی؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: حاجی رشيد الدين واه کينټ

الجواب: د پورته ذکر شوی صورت نه سره د کراهت نه حلاله کيږی او باقاعده د خاوند سابق سره نکاح جائز کيږی. (شامی ۷۴۳/۲)[۱] **وهوالموفق**

صرف نكاح بغير د جماع نه د تحليل دپاره كافی نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی خپلې ښځې ته طلاق مغلظه ورکړې دې د عدت د ختميدو نه پس ئې د خاوند ثانی سره نکاح وکړه، آيا بغير د خلوت صحيحه نه د دويم خاوند نه طلاق اخستلو سره عدت تيرولو باندې د خاوند اول سره نکاح کولې شی؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: مولانا محمد يوسف غرنی بانډه مردان... ۲۵ اگست ۱۹۷۹ء

الجواب: د تحليل دپاره د خاوند ثانی دخول ضروری دې، صرف نکاح يا خلوت صحيحه ناکافی دې، هم دا د ائمه اربعه مسلک دې. **ومتمسکهم الحديث**

---

۱ ﴾ قال العلامة الحصكفی: وكره التزوج للثانی تحريما لحديث لعن المحلل والمحلل له بشرط التحليل كتزوجتك على ان احللك وان حلت للاول لصحة النكاح وبطلان الشرط فلا يجبر على الطلاق كما حققه الكمال.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۵۸۶ باب الرجعة)

المشهور: لا حتی یذوق عسیلتك وتذوق عسیلته (رواه البخاری)(۱) وصرح به ردالمحتار(۲) والهندیة(۳) والبحروغیرهم(۴)۔ وهوالموفق

د حمل په حالت کې د تحلیل د پاره دويمه نکاح کالعدم دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يوه مطلقه په غرض د حلالې د حمل په حالت کې نکاح وکړي، او د حمل په باره کې ئې چاته هم نه وو ويلی، پنځه میاشتې پس ئې ماشوم پیدا شو. آیا دا زنانه اوس د اول خاوند سره نکاح کولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: سید اکبر خان بالا گړهئ مردان ... ۱۶ مارچ ۱۹۷٤ء

الجواب: که دا حامله اقرار کوی چې د دويمې نکاح په وخت کې حامله وه نو ماشوم به د خاوند اول نه ثابت النسب وی.(۵) او نکاح ثانی او تحلیل به

---

۱) (الصحیح البخاری ۲:۷۹۱ کتاب الطلاق)

۲) قال العلامة الحصکفی: والایلاج فی محل البکارة یحلها والموت عنها لا ... یشترط ان یکون الایلاج موجبا للغسل وهو التقاء الختانین بلا حائل یمنع الحرارة وکونه عن قوة نفسة الخ۔ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۵۸۵ باب الرجعة)

۳) وفی الهندیة :لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحا صحیحا ویدخل بها ...ویشترط ان یکون الایلاج موجبا للغسل وهو التقاء الختانین هکذا فی العینی شرح الکنز۔ (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۴۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة ومایتصل به)

٤) قال العلامة ابن نجیم : والموت لا یقوم مقام الدخول فی حق التحلیل۔ (البحر الرائق ر۴:۵۶ کتاب الطلاق)

۵) وفی الهندیة : واذا تزوج الرجل امرأة فجاء ت بالولد لاقل من ستة اشهر منذ تزوجها لم یثبت نسبه وان جاء ت به لستة اشهر فصاعدا یثبت نسبه منه اعترف به الزوج او سکت فان جحد الولادة تثبت بشهادة ...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

کالعدم وی. لعدم صحة النکاح فی العدة(۱) وهوالموفق

په زنا سره حلاله نه شی کیدې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې مطلقه مغلظه که د غیر محرم سره بغیر د نکاح نه جماع وکړی نو آیا دا به د حلاله قائم مقام وی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حبیب الرحمن کوهاټ... ۱۷ ربیع الثانی ۱٤۰۳ھ

الجواب: په زنا سره حلاله نه شی کیدې. (۲) **وهوالموفق**

بغیر د حلاله نه د مطلقه مغلظه د دوباره نکاح حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی خپلې ښځې ته زبانی او تحریری درې طلاقه ورکړي اوس یو مولوی صاحب بغیر د حلالې نه دغې سره نکاح کوي آیا دا صحیح ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد یوسف ترهتی مظفر آباد کشمیر... ۸ ربیع الثانی ۱۳۹۷ھ

الجواب: د ائمه اربعه په نزد په درې طلاقو ورکولو سره ښځه مطلقه مغلظه

...بقیه ازحاشیه گذشته] امرأة واحدة تشهد بالولادة کذا فی الهدایة.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۵۳٦ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب)

۱) وفی الهندیة: لا یجوز للرجل ان یتزوج زوجة غیره وکذلک المعتدة سواء کانت العدة عن طلاق او وفاة او دخول فی نکاح فاسد او شبهة نکاح کذا فی البدائع.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۸۰ القسم السادس المحرمات التی یتعلق بها حق الغیر)

۲) وفی الهندیة: واذا وطئها انسان بالزنا او بشبهة لا تحل لزوجها لعدم النکاح.
(فتاویٰ عالمگیریة ۱:٤۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

کرخی خلافاً لابن تیمیة وابن القیم والحجة علیهما ما رواه عبد الرزاق عن عبادة مرفوعاً وعن عمر وعثمان وابن مسعود وابن عباس وابی هریرة وعبد الله بن عمرو بن العاص موقوفاً وحدیث جعلها واحدة محمول علی ارادة التاکید فافهم (۱)

---

(۱) وفی المنهاج : اعلم ان الائمة الاربعة اتفقوا علی وقوع الثلاث جملة سواء کان بلفظ واحد مثل انت طالق ثلاثا او کان بثلاث الفاظ مثل انت طالق انت طالق انت طالق ، فاذا کان بلفظ واحد فلا فرق فیه بین المدخول بها وغیر المدخول بها واذا کان بثلاث الفا ظ فهو مختص بالمدخول بها الا اذا کرر الالفاظ واراد التاکید دون الاستیناف اولم ینو شیئا من الاستیناف اوالتاکید فتقع واحدة ، وما نسب الی مالک انه قال بوقوع الواحدة بقوله انت طالق ثلاثا فی روایة فیرده ماذکره عبد الرحمن بن القاسم فی المدونة الکبری ، ومذهب الجمهور هوالمروی عن عمر وعثمان وعلی وابن عباس وابن عمرو ابن مسعود وعبد الله بن عمرو بن العاص وابی هریرة ومغیرة بن شعبة وعمران بن حصین رضی الله تعالیٰ عنهم کما فی مصنف عبد الرزاق وزادالمعاد وغیره واذا لو حظت الروایات والآثار فیعلم منها ان ابن عباس ایضا وافق جمهور الصحابة وذهب الی ان البکر یعنی غیر المدخول بها اذا طلقت بثلاث الفاظ تجعل واحدة... ومال ابن القیم ومتبعوه الی ان الثلاث تجعل واحدة مطلقا سواء کان بلفظ واحد او بثلاث الفاظ وسواء کانت الزوجة مدخولا بها او غیر المدخول بها وخالف السلف والائمة الاربعة... والجواب عن حدیث ابن عباس انهم تعارفوا التاکید اذا طلقوها بثلاث الفاظ فی عهد النبی ﷺ وعهد ابی بکر واول عهد عمر رضی الله عنهما فتحصل البینونة بعد مدة مدیدة ثم تفرقوا، بعضهم یقصدون التاکید والبعض الاخرون یقصدون الاستیناف ویستعجلون البینونة فی آخر عهده فحکم بوقوع الثلاث الخ.

(منهاج السنن شرح ترمذی ۴:۳۰۲ باب ماجاء فی الرجل طلق امرأته البتة)

پس په صورت مسئوله کې ناکافی دې (۱) او دا مولوی صاحب قابل تعزیر دې په دې شرط که هغه قصدا دا کار کړې وی. وهوالموفق

د حلالې دپاره د نابالغ سره نکاح د تحليل لپاره

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې دی، اوس د ښځې کورنۍ والاوايي چې دا طلاق د غصې په حالت کې وو په دې وجه واقع نه دې، صرف د نکاح تجديد کافی دې، او حال دا چې مولوی صاحب فرمائی چې طلاق مغلظه واقع شوې دې، په دې وجه د دې خاوند دپاره دا جائز نه ده سوا د نکاح ثانی يعنی تحليل نه، خو هغوی د نکاح ثانی دپاره تيار نه دی اوس که بالفرض دا نکاح ثانی د يو نابالغ ماشوم سره کولو باندې د هغه نه طلاق واخلی نو په دې صورت کې به د خاوند اول سره بيا نکاح ثانی صحيح وی يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: نور محمد وهاڑی بورے والا .... ۱۴ رمضان المبارک ۱۴۰۳ھ

الجواب: د درې طلاقو د ورکولو په صورت کې بغير د حلالې نه خلاصې نشته لقوله تعالیٰ: فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره (الآية) (۲) وقال عليه الصلوٰة والسلام: حتى تذوقي عسيلته (الحديث) (۳).

نوټ: د نابالغ طلاق نامنظور وی (۴) وهوالموفق

---

۱) وفی الهندية: وان كان الطلاق ثلاثا فی الحرة وثنتين فی الامة لم تحل حتى تنكح زوجا غيره نكاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها كذا فی الهداية.
(فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۴۷۳ فصل فيما تحل به المطلقة وما يتصل به)
۲) (سورة البقرة آيت ۲۳۰)
۳) (صحيح البخاری ۲:۷۹۱ كتاب الطلاق)
۴) وفی الهندية: ولا يقع طلاق الصبی وان كان (بقيه حاشيه) يعقل والمجنون والنائم الخ.
(فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۳۵۳ فصل فيمن يقع طلاقه... [بقيه حاشيه بر صفحه آئنده

په نابالغ باندې د حلاله کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو خاوند خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل مولویانو ورته وویل چې حلاله ضروری ده هغوی د دې ښځې نکاح د دیارلسو کالو یو هلک سره وتړله. لس دولس ورځې پس د هغه هلك نه طلاق واخستل شو او پس د عدت د تکمیل نه زوړ خاوند سره نکاح وکړې شوه، اوس سوال دا دې چې آیا د دیارلسو کالو ماشوم سره نکاح صحیح ده یا نه؟ او آیا هغه د بلوغ نه مخکې د طلاق اختیار لری؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: راجه محمود احمد... اسلام آباد... ۸ اگست ۱۹۸۴ء

الجواب: تاسو معلومات وکړئ چې دا دیارلس کلن هلک بالغ وو یا نابالغ،

...بقیه ازحاشیه گذشته] وفیمن لا یقع طلاقه)

په دې صورت کې که نابالغ سره حلاله اوکړې شی، نو نفس حلاله جائز ده لیکن په دې صورت کې ددې نابالغ طلاق نه واقع کیږی، پس که چیرې دا نابالغ مراهق وی اود نکاح او جماع نه پس وفات شی نود عدت نه پس به ړومبی خاوند سره دویمه نکاح جائز وی، لیکن د طلاق ورکولو دپاره به (د نابالغ) د بالغ کیدو پورې صبر کوی

قال العلامة الکاسانی: وسواء کان الزوج الثانی بالغا او صبیا یجامع فجامعها او مجنونا فجامعها لقوله تعالیٰ حتی تنکح زوجا غیره من غیر فصل بین زوج وزوج ولان الصبی والمجنون یتعلق به احکام النکاح من المهر والتحریم کوطی البالغ العاقل.

(بدائع الصنائع ۳:۱۸۹ فصل فی ان یکون النکاح الثانی صحیحا)

اوپه فتاویٰ عالمگیری کې دی: وفی الانفع الصبی المراهق فی التحلیل کالبالغ اذا جامعها قبل البلوغ وطلقها بعد البلوغ لان الطلاق منه قبل البلوغ غیر واقع کذا فی التتارخانية.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۴۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به) (ازمرتب)

که دا معلومه شوه چې دا هلک بالغ وو د هغه احتلام یا انزال کیدو (۱) نو معامله صحیح او حلاله شوې ده (۲) او که نابالغ وی نو خپله نکاح نه شی کولې، ایجاب او قبول نه شی کولې، او که بل سړې د هغه دپاره ایجاب او قبول وکړی نو نکاح صحیح ده (۳) خو د بلوغ نه مخکې طلاق نه شی ورکولې (۴) وهوالموفق

په حلاله کولو باندې پیسې اخستل او رشوت د صحت حلاله دپاره ضرر نه ورکوی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د پنځلس زره روپو په شرط حلاله وکړی. یا په بل صورت د شرط نه مخکې نکاح وکړی او بیا لس زره روپۍ اوغواړی چې که رقم دې راکړو خو صحیح ده کنه نو طلاق نه ورکوم. آیا دا پیسې د محلل دپاره جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حافظ مختار احمد حقانی کوهاټ... ۱۸ رجب ۱۴۰۵ھ

---

۱) قال العلامة الحصکفی: بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال والاصل هو الانزال... فان لم یوجد فیهما شیئ فحتی یتم لکل منهما خمس عشرة سنة به یفتی... وادنی مدته له اثنتا عشرة سنة ولها تسع سنین هو المختار کما فی احکام الصغار.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۵:۱۰۷ فصل بلوغ الغلام بالاحتلام)

۲) وفی الهندیة: وفی الانفع الصبی المراهق فی التحلیل کالبالغ اذا جامعها قبل البلوغ وطلقها بعد البلوغ، لان الطلاق منه قبل البلوغ غیر واقع کذا فی التتارخانیة، فسر المراهق فی الجامع الصغیر فقال غلام لم یبلغ ومثله یجامع جامع امرأته وجب الغسل علیها واحلها للزوج الاول ومعنی هذا الکلام ان تتحر ک آلته ویشتهی کذا فی الهدایة.
(فتاوی عالمگیریة ۱:۴۷۳ فصل فیما تحل به المطلقة وما یتصل به)

۳) قال العلامة الحصکفی: وینعقد بایجاب وقبول وضعا للمضی کزوجت نفسی او بنتی او موکلتی منک ویقول الآخر تزوجت (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۸۵ کتاب النکاح)

۴) وفی الهندیة: ولا یقع طلاق الصبی وان کان یعقل.
(فتاوی عالمگیریة ۱:۳۵۳ فصل فی من یقع طلاقه ومن لا یقع)

الجواب: دا روپۍ رشوت دي (۱) خو د حلالې د صحت دپاره ضرري نه دي لصحة النكاح عنده(۲) وهوالموفق

د طلاق ثلاثه نه پس بغير د تحليل نه د ښځې د ساتلو حكم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړي خپلې ښځې ته طلاقه ثلاثه ورکړل هغه وخت دهغه د لور عمردرې مياشتې وو، څلور مياشتې پس د کلي سپين روږي (مشران) هغه ته د جرګې په شکل کې راغلل چې تفصيل معلوم شي. هغه په تفصيل سره د طلاق دا نقل واورولو: ما فلانی د فلانی خوی خپلې ښځې ته طلاق ثلاثه ورکړل او اقرار ئې وکړو چې د عدت تيريدلو نه پس هغه بله نکاح کولې شي که کوی او که نه کوی د هغه مرضی د طلاق نه پس يعنی څلور مياشتې پس هلک دوباره د څه کسانو (کوم چې رشته دار وو) په وينا د خپل طرف نه د دويمې نکاح مجلس منعقد کړو او د نکاح اعلان ئې وکړو، مقامی علماء کرامو د دويمې نکاح د ناجائز کيدو فتوی ورکړه، خو هغوی کلک ولاړ وو مونږ هغوی سره تعلق پريښودلو، اوس د قرآن او سنت په رڼا کې آيا دا نکاح جائز ده؟ او دا څنګه منع کيدلې شي؟ بله دا چې صرف قطع تعلق کافی دې او که بله هم څه لاره شته؟ او که دا کبيره

---

۱) قال العلامة ابن حجر الهيتمی: والرشوة فی الحکم يتوصل بها الراشی الی حکم الحاکم ثم المتوصل اليه بالرشوة ان کان حکما بحق او توقفا عن الحکم بباطل فسبب تسمية ما يبذل لاجله رشوة وتحريمه انه به يستمد العدل ويخرجه من الحاکم ... وحيث حرم الاخذ حرم البذل الا اذا کان علی ان يحکم بالحق فيحرم الاخذ دون البذل الخ.
(ايضاح الاحکام لما يأخذه العمال والحکام ۱۱۴ الفصل الثانی فی الرشوة وفيه طرفان)

۲) وفی الهندية: وان کان الطلاق ثلاثا لم تحل له حتی تنکح زوجا غيره نکاحا صحيحا ويدخل بها ثم يطلقها او يموت عنها.
(فتاوی عالمگيرية ۱:۴۷۳ فصل فيما تحل به المطلقة وما يتصل به)

ګناه وی نو آیا دا ګناه کونکې قتل کړې شی او که صرف بائیکاټ کافی دې.

بینواتوجروا

المستفتی: سید عبدالحکیم عاجز ... عباسیه الکویت ... ۲۸ ذی الحجة ۱۴۰۲ھ

الجواب: د طلاق ثلاثه مغلظه د وقوع نه پس بغیر د تحلیل نه دویمه نکاح کول د مذاهب اربعه په نزد ګناه ده او ناجائز او کالعدم ده، که عدت تیر شوې وی یا نه وی تیر شوې. (۱) په دې ښځه باندې هم دا لازم دی چې دې خاوند ته په جماع باندې قدرت ورنکړی، د خاوند نه دې وتښتي یا دې بل څۀ مناسب تجویز وکړی خو د وسلې او قتل نه دې ځان ساتی. (عالمګیری) (۲) وهوالموفق

د طلاق ثلاثه نه پس ښځې لره په کور کې د ساتلو او د هغوی د معاونینو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی خپلې ښځې ته درې طلاقه د ګواهانو په مخکې لیکلو سره د رجسټرئ په ذریعه ولیږلو، بیا ئې د پولیس په کومك سره دوباره دا ښځه د هغې د پلار نه وتختوله، آیا د درې طلاقو نه پس په زبردستئ دا ښځه ځان سره ساتلې شی؟ هم دغه شان د دې حمایت کونکی خلق چا چې په دې تختولو کې تعاون کړې دې هغوی سره نورو مسلمانانو لره څه سلوک کول پکار دی، ترڅو چې هغوی

---

(۱) قال العلامة الحصکفی: الا اذا طلقها ثلاثا وطلبت التفریق فانه یفرق بینهما اجماعا کما لو خالعها ثم اقام معها من غیر عقد او تزوج کتابیة فی عدة مسلم او تزوجها قبل زوج آخر وقد طلقها ثلاثا فانه فی هذه الثلاثة یفرق من غیر مرافعة بحر عن المحیط۔ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۲۰ باب نکاح الکافر)

(۲) وفی الهندیة: وکذلک ان سمعت انه طلقها ثلاثا وجحد الزوج ذلک وحلف فردها علیه القاضی لم یسعها المقام معه وینبغی لها ان تفتدی بمالها او تهرب منه الخ۔
(فتاوی عالمگیریة ۵:۳۱۳ قبیل الباب الثانی فی العمل بغالب الرأی)

د دې حرکت نه توبه نه وی کړې؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام دین معرفت محمد عبدالله (شهید)

خطیب اسلام آباد... ۲۸ دسمبر ۱۹۷۵ء

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت په دې خاوند باندې دا اوله زنانه مطلقه مغلظه شوې ده، لقوله تعالى: **فان طلقها فلا تحل له من بعد حتى تنكح زوجا غيره** (۱) او بغیر د تحلیل (حلاله) نه خلاصې نشته، پس دې خاوند او د هغه په کومك کونکو باندې د حرام کار کولو د وجې نه توبه لازم ده او د اصرار په صورت کې په اهل اسلام باندې ضروری ده چې دا زنانه د هغه نه جدا کړی (۲) او دې خاوند او د هغه د کومك کونکو سره ترك موالات (بائیکاټ) وکړی. (۳) **وهوالموفق**

---

۱) (سورة البقرة: ۲۳۰)

۲) قال العلامة الحصکفی: الا اذا طلقها ثلاثا وطلبت التفريق فانه يفرق بينهما اجماعا كما لو خالعها ثم اقام معها من غير عقد او تزوج كتابية فی عدة مسلم او تزوجها قبل زوج آخر وقد طلقها ثلاثا فانه في هذه الثلاثة يفرق من غير مرافعة بحر عن المحيط. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۴۲۰ باب نكاح الكافر)

۳) قال العلامة النووی: واعلم ان فی حديث كعب هذا رضى الله عنه فوائد كثيرة... الحادية عشرة استحباب هجران اهل البدع والمعاصی الظاهرة وترك السلام عليهم ومقاطعتهم تحقير الهم زجراً.

(شرح النووی على مسلم ۲:۳۶۳ باب حديث توبة كعب بن مالك)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

(شپږم جلد)

باب ثبوت النسب

....

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

باب ثبوت النسب

قال رسول اللہ ﷺ:

اَلْوَلَدُ لِلْفِرَاش وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَر.

(رواہ ابوداؤد)

....

باب ثبوت النسب

د شپږو میاشتو نه په کمه موده کې پیدا کیدونکی ماشوم ثابت النسب نه وی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید خپلې ښځې ته طلاق ورکولو سره فارغه کړه د طلاق نه اته میاشتې پس هندې د خالد سره نکاح وکړه، خالد سره د نکاح نه څلور میاشتې او څلیرشت ورځې پس د هندې نه یو ماشوم پیدا شو، خالد د هنده نه دې باره کې پوښتنه وکړه، نو هنده زبانی او تحریری اقرار کوي چې دا ماشوم د فلانی سړی دې یعنی د غیر نه دې اوس به دا ماشوم ولد الزنا وی او که د زید یا خالد طرف ته به منسوب وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی عبدالحکیم کهیوال جهلم

الجواب: دا هلک د خالد ځوی نه شی کیدې. لان اقل مدة الحمل ستة اشهر (۱) او د زانی هم نه شی کیدې. (لان النسب لایثبت من الزنا قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الولد للفراش وللعاهر الحجر)(۲) پس که د طلاق په وخت زنانه حامله وه نو نسب به ئې د زید نه ثابت وی، لان المعتدة فراش له،

---

۱) قال العلامة المودود الموصلی: اقل مدة الحمل ستة اشهر لما روی ان رجلا تزوج امرأة فجاء ت بولد لستة اشهر فهم عثمان برجمها فقال ابن عباس: لوخاصمتکم بکتاب الله لخصمتکم، فان الله تعالیٰ یقول: وحمله وفصاله ثلاثون شهرا، وقال: والوالدات یرضعن اولادهن حولین کاملین، فبقی لمدة الحمل ستة شهر.

(الاختیار لتعلیل المختار ۲:۲۲۷ فصل فی اقل مدة الحمل واکثرها)

۲) عن ابی هریرة رضی الله عنه یرفعه قال الولد للفراش وللعاهر الحجر، رواه الستة واحمد فی المسند والبیهقی. (سنن الدارمی ۲:۲۰۳ باب الولد للفراش کتاب النکاح)

او که بیماري ئې راتله نو دا ماشوم به صرف مور ته منسوب کولې شي. (۱)

وهوالموفق

شپږ میاشتې پس پیدا کیدونکی ماشوم نه انکار

کول په صریح غلطۍ باندې اصرار کول دي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په یوې زنانه باندې حیض راغلو، او دهغې نه اتلس ورځې پس د هغې خاوند کور ته راغلو، او درې میاشتې چوتې تیرولو نه پس دوباره قطر ته لاړو، تقریبا شپږ میاشتې او څلور ورځې تیریدلو نه پس د غوا په دیکې سره د ښځې ماشوم پیدا شو کوم چې په قد کې بالکل وړوکې او کمزورې وو، خو ژوندې بچ کیدو سره صحت یاب شو، اوس خاوند خپلې ښځې ته لیکلې دي چې د دنیا یو میډیکل تاریخ هم دا نه منی چې په دومره موده کې ماشوم پیدا کیدې شي، چونکې زنانه پاکه او باحیاء ده خو خاوند د هغه ماشوم نه انکار کوی او وائی چې زه خپلې ښځې په دهوکه کې ساتلې یم اوس دا ماشوم د هغوی ترمینځه د جدایۍ سبب جوړیږی آیا په دومره موده کې ماشوم ژوندې پاتې کیدې شي؟ بینواتوجروا

المستفتی: قاضی محمد سجاول خان پیروت ایبټ آباد

الجواب: چې کله د نکاح نه شپږ میاشتې پس ماشوم پیدا شي نو دا ماشوم د

---

(۱) وفی الهندیة: واذا تزوجت المعتدة بزوج آخر ثم جاء ت بولد ان جاء ت به لاقل من سنتین منذ طلقها الاول او مات ولاقل من ستة اشهر منذ تزوجها الثانی فالولد للاول وان جاء ت به لاکثر من سنتین منذ طلقها الاول او مات ولستة اشهر فصاعدا منذ تزوجها الثانی فهو للثانی والنکاح جائز وان جاء ت به لاکثر من سنتین منذ طلقها الاول او مات ولاقل من ستة اشهر منذتزوجها الثانی لم یکن للاول ولا للثانی ... ومهما امکن احالة النسب الی الفراش الصحیح کان اولیٰ وان لم یمکن اثباته منه وامکن اثباته من الثانی فالنسب [illegible] الخ. (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۵۳۸ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب)

خاوند ثابت النسب وی او چې کله د جماع نه شپږ میاشتې پیدا شی نو د هغه په ثابت النسب کیدو کې هیڅ شک نشته. (۱) دا خاوند ښکاره په غلطۍ اصرار کوی. وهوالموفق

اووه ماشتې وروسته پیدا شوی ماشوم ثابت النسب وي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د ښځې سره د جماع نه پس زما په کور کې د اووۀ میاشتو نه پس ماشوم پیدا شو، د پیدائش نه پس پنځلس ورځو پورې مور او ځوی زمونږ په کور کې وو او زمونږ هیڅ شک او شبهه نه وه خو بعض خپلوانو زه مجبوره کړم او ویې ویل چې دا هلک ستا نه دې ښځه هم د هر قسم یقین پیدا کولو او قسم کولو دپاره تیاره شوه، خو ما هغې ته درې طلاقه ورکړل او هغه ماشوم مې هم خان سره بوتلو د هغه هلک څۀ حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: صالح خان پېی نوښهر .....۷ رجب ۱۴۰۶ھ

الجواب: دا ماشوم د طلاق ورکونکی ځوی او وارث دې ځکه چې دا ماشوم پوره موده کې پیدا شوې دې (۲) او مور ئې لعان هم نه دې کړې، بغیر د لعان

---

۱) قال العلامة المرغینانی: ومن قال ان تزوجت فلانة فهی طالق فتزوجها فولدت ولدا لستة اشهر من یوم تزوجها فهو ابنه وعلیه المهر، اما النسب فلانها فراشه لانها لما جاء ت بالولد لستة اشهر من وقت النکاح فقد جاء ت به لاقل منها (وبعد صفحة) واقل مدة الحمل ستة اشهر لقوله تعالیٰ وحمله وفصاله ثلٰثون شهرا ثم قال وفصاله فی عامین فبقی للحمل ستة اشهر.

(هدایة ۲:۴۰۸،۴۱۲ باب ثبوت النسب)

۲) قال العلامة الحصکفی: اکثر مدة الحمل سنتان... واقلها ستة اشهر اجماعا فیثبت نسب ولد معتدة الرجعی ولو بالاشهر لا یأسها بدائع.

(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۷۶ فصل فی ثبوت النسب)

نه د ماشوم نفی نامنظور او کالعدم کیږی (۱) والمسئلة من الواضحات فلا حاجة الی نقل العبارات. وهوالموفق

د اغوا شوې زنانه د بچی نسب او د ماشوم د نکاح مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوه وادۀ شوې ښځه یو بل سړی سره اوسیدله د هغه سړی نه د هغې ناجائزه ماشومه پیدا شوه. او د اصلی خاوند په باره کې هغه زنانه په عدالت کې بیان ورکړو چې دا سړې زما خاوند نه دې او زه چې چا سره اوسیږم. هغه زما خاوند دې اوس دا جینۍ ځوانه شوه خو د هغې کویژدن مسترد کولې شی ځکه چې دا ناجائز ماشومه ده، آیا د هغې نکاح شرعا جائز ده، او دا به چاته منسوب کولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد حسن پشاور......۵ اګست ۱۹۷۹ء

الجواب: د حدیث (الولد للفراش وللعاهر الحجر) (۲) په وجه باندې دا جینۍ د اول خاوند لور ده که اغوا کونکی دې زنانه سره عقد نکاح کړې وی نو سره د کالعدم کیدو به د دې اغواء کونکی نه د دې ماشوم نسب ثابت وی (۳) د دې جینۍ نکاح د څلورو وارو امامانو په نزد صحیح ده. وهوالموفق

---

۱) قال العلامة المرغینانی: ولو کان القذف بنفی الولد نفی القاضی نسبه والحقه بامه وصورة اللعان ان یأمر الحاکم الرجل فیقول اشهد بالله انی لمن الصادقین فیما رمیتک به من نفی الولد وکذا فی جانب المرأة ولو قذفها بالزنی ونفی الولد ذکر فی اللعان الامرین ثم ینفی القاضی نسب الولد ویلحقه بامه. (هدایه ۲:۳۹۷ باب اللعان)

۲) (سنن الترمذی ۱:۱۳۸ باب ماجاء ان الولد للفراش ابواب الرضاع)

۳) وفی الهندیة: (بعد عبارة طویلة) لان نکاح الثانی فاسد ومهما امکن احالة النسب الی الفراش الصحیح کان اولی وان لم یمکن اثباته منه وامکن اثباته من الثانی فالنسب یثبت من الثانی... لان النکاح الثانی وان کان فاسدا لکن لما تعذر...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

صرف په بې ثبوته الزام باندې د نسب نفی نه شی کیدې

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی واده کولو نه يو کال پس سعودی عرب ته لاړو بيا د ښځې يو ماشوم پيدا شو خو له بده مرغه چا دا ښځه مجبوره کړه چې ته دا ووايه دا ماشوم زما د پلندر نه دې، حال دا چې د هغه زنانه پلندر هم په سعودی عرب کې دې نو آيا شرعا په دې خبرې سره دا پلندر مجرم ثابتيدلې شی؟ او د ماشوم څه حکم دې؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: عبدالرشيد بازار شهيدان مردان ..... ۳ جمادی الثانية ۱۴۰۱ھ

الجواب: صرف الزام بغير د ثبوت نه يو بې اثر اقدام دې په دې سره نه ملزم مجرم ثابتدلې شی او نه ماشوم حرامی کيدلې شی، نسب او نکاح په خپل حال برقرار دی. (۱) وهوالموفق

د ولد الزنا نسبت به د مور طرف ته کولې شی او د مور وارث به وی

سوال: څه فرمائی علماء دين د لاندې ليکلې شوې مسائلو په باره کې چې ۱: د ولد الزنا احکام مجموعی طور په کوم کتاب کې موجود دی؟ ۲: هندة منکوحة الغير تبنتيدلو سره د زيد سره اوسيدله زيد دا د ښځې په طور استعمال کړه او دوه ماشومان ئې پيدا شو اوس دا ماشومان د زيد وارثان دی يا نه؟ که دا ماشومان بالغ کيدو سره نکاح کول غواړی که د دوی نه يوه جينۍ وی نو په وخت د نکاح به د دې نسبت چاته وی، يعنی د ثبوت نسب په باره کې ستاسو څه حکم دې؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: فضل مولا پير خيل بابوزئی مردان ..... ۱۹ جولائی ۱۹۷۲ء

بقيه ازحاشيه گذشته] اثبات النسب من النكاح الصحيح فاثباته من الفاسد اولى من الحمل على الزنا هكذا فى البدائع-(فتاوى عالمگيرية ۱:۵۳۸ الباب الخامس عشر فى ثبوت النسب)

۱) قال رسول الله ﷺ الولد للفراش وللعاهر الحجر، رواه ابوداؤد.
(مشكواة المصابيح ۱:۲۸۷ باب اللعان الفصل الاول)

الجواب: ۱: (لم اجدها مجتمعة فيما عندي من الكتب). ۲: که هغه دويم سړی بغير د عقد نکاح نه جماع وکړي نو دا ماشومان حراميان دی (۱) دا ماشومان نه د هغه سړی نه ميراث حاصلولې شی او نه دا سړې د هغوی وارث جوړيدې شی خو د هغه زنانه وارث کيدې شی او دا زنانه او د دې زنانه بچی د هغوی وارثان کيدې شی (۲) لحديث الولد للفراش وللعاهر الحجر (۳) وصرح به الفقهاء في باب ثبوت النسب(۳) د مور طرف ته به ئې نسبت کولې شی مثل ولد الملاعنة (۴). وهوالموفق

مطلقه مغلظه لره د کينودلو په صورت کې د پيدا شوی اولاد حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی د شهادت په ذريعه ووېل چې که زه په فلانی ځای کې رشته ورکړم نو په ما

---

۱) وفي الهندية: اذا زنى رجل بامرأة فجاء ت بولد فادعاه الزاني لم يثبت نسبه منه واما المرأة فيثبت نسبه منها. (فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۱۲۷ الفصل الثامن في دعوة الولد من الزنا وما في حكمه)

۲) وفي الهندية: ولو زنى بامرأة فحملت ثم تزوجها فولدت ان جاء ت به لستة اشهر فصاعدا ثبت نسبه وان جاء ت به لاقل من ستة اشهر لم يثبت نسبه الا ان يدعيه ولم يقل انه من الزنا اما ان قال انه منى من الزنا فلا يثبت نسبه ولا يرث منه كذا في الينابيع. (فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۵۴۰ الباب الخامس عشر في ثبوت النسب)

۳) (مشكوٰة المصابيح ۱:۲۸۷ باب اللعان الفصل الاول)

۴) قال العلامة المرغيناني: ولو قذفها بالزنى ونفى الولد ذكر في اللعان الامرين ثم ينفي القاضي نسب الولد ويلحقه بامه لما روى ان النبي عليه السلام نفى ولد امرأة هلال بن امية عن هلال والحقه بها ولان المقصود من هذا اللعان نفي الولد فيوفر عليه مقصوده فيتضمنه القضاء بالتفريق وعن ابي يوسف ان القاضي يفرق ويقول قد الزمته امه واخرجته من نسب الاب لانه ينفك عنه فلابد من ذكره (هداية ۲:۳۹۷ باب اللعان)

باندې په ښځه طلاق ثلاثه وی، د دې قسم اوچتولو نه پس هغه هم په هغه ځای کې رشته ورکړه د دې نه پس ئې مطلقه ښځه خان سره کړه او دې دوران کې د هغې دوه ماشومان پیدا شو. کال دوه کاله پس هغه بیا ښځې ته طلاق ثلاثه ورکولو سره هغه د کور نه ویستله. او د هغه ښځې دا بچی تر اوسه پورې د پلار سره دی د هغوی څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد بشیر عباسی مظفر آباد...... ۲٤ فروری ۱۹٦۹ء

الجواب: په شرط د صدق دا هلکان د هغه سړی خامن نه دی. **لعدم النکاح وعدته.(۱) وهوالموفق**

د کوېږدن نه پس د جماع نه د پیدا شوی اولاد حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د زید کوېږدن په شهادت د څلورو ګواهانو شوې وه چې د هغې دوه کاله شوې وو د جینۍ خلقو د دواړو د خوانۍ باوجود د وادهٔ په کولو کې تاخیر وکړو، په دې موده کې زید

---

۱) چونکې په دې صورت کې عدت هم تیرشوې دې او د نکاح تجدید ئې په نکاح باطل اوفاسد کې، هم نه دې کړې، لهٰذا دا بچی به ثابت النسب نه وی. یدل علیه ما قال العلامة الحصکفی: وعدة المنکوحة نکاحا فاسداً فلا عدة فی باطل وکذا موقوف قبل الاجازة اختیار لکن الصواب ثبوت العدة والنسب- (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:٦۵۹ مطلب عدة المنکوحة فاسدا والموطوأة بشبهة)

دغه شان د دوباره نکاح نه پس د ثبوت النسب قول په هندیه کې هم شته پس که چېرې نکاح اونه شوه اګرچه فاسده یا باطله وی نودا بچی به ثابت النسب نه وی، وفی الهندیة: لو طلقها ثلاثا ثم تزوجها قبل ان تنکح زوجا غیره فجاء ت منه بولد ولا یعلمان بفساد النکاح فالنسب ثابت وان کانا یعلمان بفساد النکاح یثبت النسب ایضا عند ابی حنیفة کذا فی التتارخانیة ناقلا عن تجنیس الناصری- (فتاوی عالمګیریة ۱:۵٤۰ قبیل الباب السادس عشر فی الحضانة)...(ازمرتب)

خپلې کوېژدن کړې جینۍ ته تلو راتلو او بدفعلي ئې هم کوله، اوس د وادۀ نه پس د شپږو میاشتونه مخکې د پیدا کیدونکي اولاد څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: صوفی محمد رمضان نصیر اباد... ۱۳ مارچ ۱۹۷۶ء

الجواب: واضحه دې وی چې د جینۍ او هلک د خپلوانو ترمینځه که د ګواهانو په مخکې باقاعده ایجاب او قبول شوې وی نو دا به نکاح وی اګر چې خطبه یا نکاح خوان نه وی، لهذا دا اولاد به حلالی وی، او که د کوېژدن په وخت کې ایجاب او قبول نه وی شوې (صرف د نکاح وعده شوې وی) نو دا دویم به د وادۀ په وخت عقد د نکاح وی او په زنا سره د حاملې شوې نکاح صحیح ده او او په داسې صورت کې جماع کول هم جائز دی او اولاد به هم حلالی وی. **کما فی الهندیة ۱: ۵۶۱ ولو زنی بامرأة فحملت ثم تزوجها فولدت ان جاءت به لستة اشهر فصاعدا ثبت نسبه وان جاءت به لاقل من ستة اشهر لم یثبت نسبه الاان یدعیه**(۱) خلاصه دا چې دا ماشوم به ثابت النسب وی او دا نکاح صحیح ده. وهوالموفق

د وادۀ نه څلور میاشتې پس د پیدا کیدونکی ماشوم نسب

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی څلور میاشتې او پنځلس ورځې پس ماشومه پیدا شوه آیا د هغې نسب به د دې نکاح والاسره ثابتیږی اوحال داچې داسړې اقرارکوی چې داغلطی زمانه شوې آیا هغه اولنۍ نکاح په خپل حال ده او که دویمه نکاح به کوی؟ بینواتوجروا

المستفتی: قاضی حبیب الله ایبټ آباد..... ۱۰ رمضان ۱۴۰۵ هجری

الجواب: که د هغه سړی نکاح د وادۀ نه دوه میاشتې یا د هغې نه زیاته موده مخکې شوې وی نو دا جینۍ به د هغه نه ثابت النسب او د هغه لور وي او که

(۱) (فتاویٰ عالمگیریة ۱: ۵۴۰ قبیل الباب السادس عشر فی الحضانة)

نکاح ئې د دې نه مخکې نه وی شوې نو که دا خاوند ووائی چې دا زما نه دې نو په دې صورت کې هم ثابت النسب ده او د هغه لور ده، او که ووائی چې ما د هغې سره زنا کړې ده نو ثابت النسب نه ده او دا نکاح بهر حال صحیح ده که دا عمل د هغه نه شوې وی یا د بل زانی نه، **والمسئلة الاولی مسطور فی الهندیة ۵٤۰/۱ (۱) وهوالموفق**

د دوه کالو نه د غائب خاوند د ښځې د حمل مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید د کاروبار په سلسله کې د دوه کالو نه بهر وو او ښځه ئې په خپل کور باندې پاتې شوې ده د ښځې په خیټه په دې ورځو کې حمل ظاهر شو کوم چې د دوه کالو نه پس پیدا شو او دوه کاله پس زید کور ته راغې چې کله وضع د حمل وشوه نو دا خبره مشهوره شوه چې دا ماشوم د زید نه دې، اوس شرعا د دې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم ....۱۰ فروری ۱۹۷٤ء

الجواب: د شریعت د اصولو په رڼا کې به دا حمل د زید نه ثابت وی دا ماشوم به حرامی نه وی، لان اکثرمدة الحمل سنتان کما صرحوا به (۲) **وهوالموفق**

د ښځې د کنځلو په طور د خاوند نه د اولاد نفی کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید د خپلې بوې

---

۱) وفی الهندیة: ولو زنی بامرأة فحملت ثم تزوجها فولدت ان جاء ت به لستة اشهر فصاعدا ثبت نسبه وان جاء ت به لاقل من ستة اشهر لم یثبت نسبه الا ان یدعیه ولم یقل انه من الزنا اما ان قال انه من الزنا فلا یثبت نسبه ولا یرث منه.

(فتاوی عالمگیریة ۱:۵٤۰ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب)

۲) قال العلامة المرغینانی: واکثر مدة الحمل سنتان لقول عائشة رضی الله عنها الولد لا یبقی فی البطن اکثر من سنتین ولو بظل معزل- (هدایة ۲:٤۱۲ باب ثبوت النسب)

ښځې په موجود ګئ کې چې د هغې پنځه ماشومانې او دوه ماشومان وو، دويم وادهٔ وکړو چې د هغې اوس يو ماشوم دې. زيد د دواړو ښځو او اولاد سره مساوي سلوک کوی خو هر چې د مال او ځاروو تعلق دې هغه ئې د اولې ښځې او اولاد په تحويل کې دی، هغه ښځې په مزه مزه خپل اولاد لره د دې خاوند خلاف د بدلې اخستلو په جذبه باندې راوچتول شروع کړل چې هغوی په آسانئ سره په ټول جائيداد باندې قابض شی ځو ورځې مخکې واقعه ده چې اولې ښځې د خاوند سره جګړه وکړه او وې ويل چې زما اولاد ستا د نطفې نه نه دی پيدا شوی بلکې د غير نه دی او حراميان دی او د زنا پيدائش دې او ډيره بې عزتی ئې ورله وکړه په دې صورت کې د دې زنانه اولاد د هغه سړی وارثان کيدې شی؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: محمد روشن خان ... پاسيان کوهاله .... ۱۷ اګست ۱۹۷۲ء

الجواب: دا اوله ښځه ئې باقاعده ښځه ده. **لعدم تحقق القواطع**، او دا ټول په ټول اولاد د دې سړی وارثان دی او د هغه د منکوحه نه پيدا شوې دی (۱) د دې سړی په انکار يا د بل چاپه انکار سره وراثت ته هيڅ نقصان نه شی رسيدلې. (۲) **وهوالموفق**

...

۱) وفی الهندية: قال اصحابنا لثبوت النسب ثلاث مراتب الاولى النكاح الصحيح وما هو فی معناه من النكاح الفاسد والحكم فيه انه يثبت النسب من غير دعوة ولا ينتفی بمجرد النفی وانما ينتفی باللعان فان كانا ممن لا لعان بينهما لا ينتفی نسب الولد كذا فی المحيط.
(فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۵۳۶ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب)

۲) قال العلامة الموصلی: ويستحق الارث برحم ونكاح وولاء اما الرحم والنكاح فبالكتاب والاجماع واما الولاء فلما يأتی ان شاء الله تعالىٰ.
(الاختيار لتعليل المختار ۲:۵۵۵ كتاب الفرائض)

بسم الله الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

(ششپږم جلد)

فصل فی العزل وضبط التولید

....

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوی فریدیه

فصل فی العزل وضبط التوليد

عن جابر رضی الله تعالٰی عنه:
قال كنا نعزل والقرآن ينزل.

(متفق عليه)

....

فصل فی العزل وضبط التولید

د ځلورو میاشتو نه مخکې د حمل ساقط کول او د حمل د مانع دوایانو استعمالول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: د اولاد بندول (منصوبه بندی) دپاره علاج کول څنګه دی د بعض زنانو په استقرار حمل باندې دوه درې میاشتې تیرې شی یعنی د علوق توقع وی هغه وخت د اسقاط حمل دوایانې استعمالول څنګه دی؟ ۲: که د چا اولاد زیات وی خو د زنانه صحت کمزورې وی او د زیات اولاد په پیدائش سره د صحت خرابیدلو خطره وی نو آیا دا شرعا جائز ده؟ او د عزل طریقه څه ده، آیا د هغه دپاره عزل جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: c/o مولانا سلطان محمود

ناظم اعلیٰ دار العلوم حقانیة ... ۱۲ ربیع الثانی ۱۴۰۳ هجری

الجواب: ۱: د ځلورو میاشتو تیریدلو نه مخکې اسقاط حمل جائز دې چې کله په مصلحت یا د خاوند په اجازت (عند الحاجت) باندې مبنی وی. (۱)
۲: په دې صورتونو کې ضبط تولید (۲) په عزل سره (یعنی د انزال په وخت اله

---

(۱) وفی الهندیة: امرأة مرضعة ظهر بها حبل وانقطع لبنها وتخاف علی ولدها الهلاک ولیس لابی هذا الولد سعة حتی یستأجر الظئر یباح لها ان تعالج فی استنزال الدم ما دام نطفة او مضغة او علقة لم یخلق له عضو وخلقه لایستبین الا بعد مأة وعشرین یوما اربعون نطفة واربعون علقة واربعون مضغة کذا فی خزانة المفتیین وهکذا فی فتاویٰ قاضی خان۔
(فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۵۶ الباب الثامن عشر فی التداوی والمعالجات وفیه العزل واسقاط الولد)

(۲) وفی الهندیة: رجل عزل عن امرأته بغیر اذنها لما یخاف من الولد السوء فی هذا الزمان فظاهر جواب الکتاب ان لا یسعه وذکر هنا یسعه لسوء هذا الزمان کذا فی الکبریٰ وله منع امرأته من العزل کذا فی الوجیز للکردری۔
(فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۵۶ قبیل الباب التاسع عشر فی الختان والخصاء الخ)

د فرج نه بهر انزال کولو سره، یا په پوکنۍ یا دوایۍ استعمالولو سره جائز دي.
(۱) خو اپریشن کول قابل اعتراض دی. (۲) وهوالموفق

۱) وفی المنهاج: العزل هو ان یجامع فاذا قارب الانزال نزع وانزل خارج الفرج وهو مباح خلاف الاولی ... واعلم ان المعالجة لضبط الولادة باکل الحبوب واستعمال آلات الانسداد لیست بممنوعة اذا کانت بمشاورة الزوجین عند الحاجة کالمرض والضعف والمعاشرة الخبیثة وغیرها دون الاملاق.
(منهاج السنن شرح ترمذی ۲۸۳: ۴ باب ماجاء فی العزل)

۲) د دې آپریشن نه مراد د رحم ختمول دی چې په هغې سره دائمی طریقې سره قوت تولید فوت شی او د توالد او تناسل اهلیت ختم شی کوم چې د مصالح او شریعت بالکل خلاف ده.
قال الامام ولی الله الدهلوی: وقال رسول الله ﷺ: تزوجوا الولود الودود فانی مکاثربکم الامم، اقول: تواد الزوجین به تتم المصلحة المنزلیة، وکثرة النسل بها تتم المصلحة المدنیة والملیة، وود المرأة لزوجها دال علی صحة مزاجها وقوة طبیعتها مانع لها من ان یطمع بصرها الی غیره باعث علی تجملها بالامتشاط وغیر ذلک الخ. (حجة الله البالغة ۱۲۳: ۲ ابواب تدبیر المنزل)
هم دغه شان دا د رحم ختمول د خصی کولو مترادف دی او فقهاء کرامو د انسان خصی کولو ته بالاتفاق حرام ویلې دی. وفي الهندیة : خصاء بني ادم حرام بالاتفاق (عالمگیریة : ۳۵۷/۵) که څوک دا اعتراض وکړی چې په رحم ختمولو او خصی کولو کې فرق دې چې په رحم ختمولو کې صرف قوت تولید ختمیږی نه اشتهاء او لذت او قوت جماع او په اختصاء کې خو دا دواړه طاقتونه ختمیږی، نو مونږ دا وایو چې کله دواړه څیزونه په اختصاء کې ختمیږی نو ګویا دا دوه مستقل جرمونه دی په خصی کیدو کې یو د رحم ختمولو ارتکاب کولې شی، د دې نه علاوه الله پاک د دې بیان داسې بیان فرمائیلې دې چې د هغې نه خپله واضحه ده چې مقصود صرف قضاء شهوت نه دې بلکې د اولاد ډیروالې او اولاد پیدا کول دی.
...[بقیه حاشیه برصفحه آئنده

د ضرورت په وخت اسقاط د حمل د څلورو میاشتو نه مخکې جائز دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یوې زنانه حمل د زنا نه راشی بیا دا زنانه په طبیب یا ډاکټر سره اسقاط د حمل وکړی چې دا زنانه په خپل قوم یا کورنئ کې رسوا نه شی نو د الله پاک په نزد به دا ډاکټر یا طبیب ماخوذ وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: حکیم فرخ سیر صالح خانه نوشهره

...بقیه ازحاشیه گذشته] حیث قال الله تبارک وتعالیٰ: (نساؤکم حرث لکم) ای مواضع حرث لکم وهذا مجاز شبهن بالمحارث تشبیها لما یلقی فی ارحامهن من النطف التی منها النسل بالذور والولد بالنبات ووقع قوله (نساء کم حرث لکم) بیانا وتوضیحا لقوله: (فأتوهن من حیث امرکم الله) ای ان المأتی الذی امرکم الله به هو مکان الحرث لا مکان الفرث تنبیها علی ان المطلوب الاصلی فی الاتیان هو طلب النسل لا قضاء الشهوة فلا تأتوهن الامن المأتی الذی نیط به هذا المطلوب- (تفسیر النسفی ۱۲۴:۱ البقرة: ۲۲۳)

د دې نه علاوه د رحم ختمول په تغیر فی خلق الله کې داخل دې،

قال النسفی: (ولآمرنهم فلیغیرن خلق الله) ای بفقء عین الحامی واعفائه عن الرکوب او بالخصاء وهو محظور فی بنی آدم او بالوشم او بنفی الانساب واستلحاقها او بتغییر الشیب بالسواد او بالتخنث (انتهی بحذف یسیر- (تفسیر مدارک ۲۸۳:۱ النساء: ۱۱۹)

هم دغه شان دا د فساد فی الارض د قسمونو نه دې. قال الله تبارک وتعالیٰ واذا تولی سعی فی الارض لیفسد فیها ویهلک الحرث والنسل والله لا یحب الفساد، (البقرة: ۲۰۶)

د دې نه علاوه دې د هیئة کبار العلماء سعودی عربیه د یو مجلس فیصله هم وکتلې شی: واما ما یفعله الاطباء فی هذا الزمان سن قطع بعض العروق لابطال قوة التولید مع بقاء قوة الجماع لتحدید النسل فلا شک فی تحریمه فلا یقاس علی العزل قطعا فان بینهما فرقا کبیرا، فالعزل سبب ظنی واما قطع العرق فسبب قطعی لمنع الحمل ولا یبقی للجانی خیار بعد ذلک فی وجود الولد- (وهذا قرار رقم ۴۲ بتاریخ ۱۳۹۶/۴/۱۳ه).

(التعلیق للبسام السلفی علی بلوغ المرام ۳۴۴ باب عشرة النساء)...(ازمرتب)

الجواب: د ضرورت په وجه اسقاط د حمل جائز دي چې لکه نفخ روح یعنی د
څلور میاشتو نه مخکې وی. (۱) وهوالموفق

د مانع حمل دوایانو د استعمال حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې بعض زنانه د
حمل نه مانع دوایانې استعمالوی چې په هغې سره حمل نه پاتې کیږی، آیا دا
دوایانې استعمالول جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: انوارالحق متعلم حقانیه

الجواب: دا دوایانې که په مصلحت یا د خاوند په اجازت باندې مبنی وی نو
د هغې استعمال مباح دې، قیاساعلی العزل (۲) خو مستقل ضبط تولید
(آپریشن سره) قابل اعتراض دې. وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: (وجاز لعذر) كالمرضعة اذا ظهر بها الحبل وانقطع لبنها وليس لابى الصبى ما يستأجر به الظئر ويخاف هلاک الولد قالوا يباح لها ان تعالج فى استنزال الدم ما دام الحمل مضغة او علقة ولم يخلق له عضو وقدروا تلک المدة بمأة وعشرين يوما وجاز لانه ليس بآدمى وفيه صيانة الآدمى خانية.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵:۳۰۵ قبيل كتاب احياء الموات)

۲) قال العلامة ابن عابدين: (تنبيه) اخذ فى النهر من هذا ومما قدمه الشارح عن الخانية والكمال انه يجوز لها سدفم رحمها كما تفعله النساء مخالفا لما بحثه فى البحر من انه ينبغى ان يكون حراما بغير اذن الزوج قياسا على عزله بغير اذنها قلت لكن فى البزازية ان له منع امرأته عن العزل، نعم النظر الى فساد الزمان يفيد الجواز من الجانبين فما فى البحر مبنى على ما هو اصل المذهب وما فى النهر على ما قاله المشايخ والله الموفق.
(ردالمحتار هامش الد[illegible] ۲۰۴ بعيد [illegible] حكم اسقاط الحمل)

د مړ شوی ماشوم اسقاط جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د يوې زنانه حمل راغلو يعنی حيض ئې بند شو بيا يوه، دوه يا درې مياشتې پس ئې په خيټه کې حمل ورک شوې دې او زنانه ته تکليف هم دې نو آيا په دې صورت کې د اسقاط حمل دوائی استعمالول جائز دی يا نه؟ **بينواتوجروا**.

المستفتی: مولانا عبدالرحمن حقانی ۲۸ جون ۱۹۷۲ء

الجواب: که د قرائن نه د جنين مړۀ کيدل معلوم شی نو د دوايئ په ذريعه د دې اسقاط او غورځول جائز دې. **وهونظيراسقاطه قبل الحياة (۱) وهوالموفق**

د ضرورت د وجې نه د جزوی ضبط توليد حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د يو سړی شپږ اووۀ بچی دی د هغوی مور غواړی چې د توالد او نورو اولادونو پيدا کيدو دا سلسله بنده کړی ځکه چې د اولاد د تربيت پالنې د کثرت د وجې نه ترې مونځونه قضاء کيږی او نور فرائض هم نو که د دين د وجې نه د سد توالد دوائی استعمال کړې شی نو د شريعت په رڼا کې به جائز وی يا نه؟ دويم دا چې د يو سړي څلور ماشومان دی، د هغوی مور معتوه الحال ده د اولاد پالنه په ښه طريقې سره نه شی کولې، بد مزاجه هم ده چې د دوه درې مياشتو بچی هم وهی په دې صورت کې د سد توالد څه حکم دې؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: عبدالله پير سباق........۲۰ جنوری ۱۹۷۵ء

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: (قوله ويكره ان تسقى لاسقاط حملها وجاز لعذر) كالمرضعة اذا ظهر بها الحبل وانقطع لبنها وليس لابى الصبى ما يستأجر به الظئر ويخاف هلاک الولد قالوا يباح لها ان تعالج فى استنزال الدم ما دام الحمل مضغة او علقة ولم يخلق له عضو وقدروا تلک المدة بمأة وعشرين يوما وجاز لانه ليس بآدمی وفيه صيانة الآدمی خانية. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵:۳۰۵ قبيل كتاب احياء الموات)

الجواب: داسې جزوي طریقې سره ضبط تولید منع نه دي(١) لعدم افضاءه الی فتح باب الزنا ولعدم کونه خشیة الاملاق فلایکون فوق العزل (٢) وهو الموفق

د انجکشن په ذریعه د شنډې ښځې د حملدار کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د افزائش نسل دپاره يو انجکشن دي که هغه شنډه زنانه ولګوی او د هغې اولاد وشی نو هغه به حرامی وی که حلالی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا عبدالرؤف لونډ خوړ مردان......٢٨ رمضان المبارک ١٤٠٥هـ

الجواب: زنانه سوا د خپل خاوند نه د نورو خلکو منی په خپل فرج کې نه شی داخلولې.(٣) او د داخلیدو په صورت کې به دا ماشوم صرف دې زنانه ته منسوب وی که غیر منکوحه وی.(٤) په داسې طریقې د توالد سره زنا عام

---

١) وفی المنهاج: اعلم ان المعالجة لضبط الولادة بأکل الحبوب واستعمال آلات الانسداد ليست بممنوعة اذا كانت بمشاورة الزوجين عند الحاجة كالمرض والضعف والمعاشرة الخبيثة وغيرها دون الاملاق- (منهاج السنن شرح ترمذی ٢٨٣:٤ باب ماجاء فی العزل)

٢) قال العلامة ابن نجيم: لان العزل جائز عن امة نفسه بغير اذنها والاذن فی العزل عن الحرة لها ولا يباح بغيره لانه حقها، وفی الخانية ذكر فی الكتاب انه لا يباح بغير اذنها وقالوا فی زماننا يباح لسوء الزمان الخ- (البحر الرائق ٣٠٠:٣ باب نكاح الرقيق)

٣) وعن رويفع بن ثابت رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال: لا يحل لامرئ يومن بالله واليوم الآخر ان يسق ماء ه زرع غيره اخرجه ابوداؤد والترمذی وصححه ابن حبان- (رواه ابوداؤد (٢١٥٨) والترمذی (١١٣١) وابن حبان (١١: ٤٨٥٠) والبزار والبيهقی (٧:٤٤٩) واحمد (٤:١٠٨) وقال الترمذی هذا حديث حسن)

٤) په فتوی کې ذکر شوې صورت د غیرمنکوحه ښځې دې، وفی الهندية: اذا زنى رجل بامرأة فجاء ت بولد فادعاه الزانی لم يثبت نسبه منه واما المرأة فيثبت نسبه منها- (فتاوی عالمگيرية ١٢٧:٤ الفصل الثامن فی دعوة الولد من الزنا وما فی حكمه)...

...[بقيه حاشيه بر صفحه آئنده

کیږی خکه چې زنانه به زنا کوی او چې کله ماشوم زاوږی نو د انجکشن رشتوی سرتیفکیټ به حاصلوی. وهوالموفق

...بقیه ازحاشیه گذشته]

او که چیرې دا ښځه منکوحه وه نو اګرچې په ذکرشوې طریقه کې د اولاد حصول حرام او د اسلامی اصولو خلاف دی خود نکاح په وجه به نسب ددې خاوند نه ثابت وی کما فی الهندیة: قال اصحابنا لثبوت النسب ثلاث مراتب الاولی النکاح الصحیح وما هو فی معناه من النکاح الفاسد والحکم فیه انه یثبت النسب من غیر دعوة ولا ینتفی بمجرد النفی وانما ینتفی باللعان فان کانا ممن لا لعان بینهما لا ینتفی نسب الولد کذا فی المحیط. (فتاوی عالمگیریة ١:٥٣٦ الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب) اوپه حدیث کې دی، عن ابی هریرة رضی الله عنه یرفعه قال الولد للفراش وللعاهر الحجر (رواه الستة واحمد فی المسند والبیهقی وسنن الدارمی)

وفی المنهاج: نقل ابن الاعرابی ان الفراش عند العرب یعبر به عن الزوج وعن المرأة والاکثر اطلاقه علی المرأة وفی القاموس الفراش زوجة الرجل، وقال ابن الهمام فی فتح القدیر معنی الفراش کون المرأة مقصودا من وطیها الولد، اما ظاهرا کما فی ام الولد فانه اذا اعترف به ظهر قصده الی ذلک، او وضعا کالمنکوحة یثبت نسب ما تأتی به ولا ینتفی بنفیه الا باللعان وولد ام الولد وان ثبت نسبه بلا دعوة ینتفی بمجرد نفیه.

(منهاج السنن شرح ترمذی ٤:٢٩٥ باب ماجاء ان الولد للفراش)

البته که د خاوند ماده منویه حاصله کړی او دهغې سره څه دوایانې ملاوکړی اود ښځې په مبیضه کې ئې داخله کړی نوپه دې صورت کې څه شرعی مانع نشته.

کما فی الهندیة: رجل عالج جاریته فیما دون الفرج فانزل فاخذت الجاریة ماء ه فی شیئ فاستدخلته فی فرجها فعلقت عند ابی حنیفة ان الولد ولده وتصیر الجاریة ام ولد له کذا فی قاضی خان.

(فتاوی عالمگیریة ٤:١١٤ الباب الرابع عشر فی دعوی النسب). ...ازمرتب

عزل کول مباح خلاف اولی دی

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د عزل شرعي حيثيت څه دی بعض ورته جائز او بعض ورته مکروه وائي؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم...... ۲۸ مارچ ۱۹۹۱ء

الجواب: عزل مباح خلاف اولی دی، که د ښځې په اجازت سره وی (۱) وهوالموفق

---

(۱) وفی المنهاج: العزل هو ان يجامع فاذا قارب الانزال نزع وانزل خارج الفرج وهو مباح خلاف الاولیٰ، (قوله لم يفعل ذلک احدکم) انکر عليه انکارا خفيفا، وفی رواية: ما عليکم ان لا تفعلوا ومعناها الاباحة، لا رفع الاثم کما فی حديث عائشة فلا جناح عليه ان لا يطوف بهما، معناه اباحة السعی وهی امر خاص، وقوله لا جناح عليه ان يطوف بهما معناه رفع الاثم، ورفع الاثم يعم المفروض والواجب والسنة والمباح وکذا يؤيد الاباحة رواية جابر رضی الله تعالیٰ عنه کنا نعزل والقرآن ينزل وفی رواية لمسلم فبلغ ذلک نبی الله ﷺ فلم ينهنا، (قوله زعمت اليهود انه الموؤدة الصغری) الوء دا الحقيقی هو اعدام الولد الموجود، والعزل هو الامتناع عن الولادة، والامر الجامع بينهما هو الحرمان من الولد، (قوله کذبت اليهود) لان زعمهم ان العزل سبب للحرمان من الولد زعم باطل، فان قيل: روی مسلم واحمد انه عليه الصلوٰة والسلام قال ان العزل الوء د الخفی، وفيه موافقة لزعم اليهود، واجيب عنه: بان العزل وء دنظرا الی قصد العازل، وليس بوء د نظرا الی نفس الامر، لان الله اذا اراد ان يخلقه لم يمنعه شيئ او يقال ان العزل وء د اذا لوحظ انه سبب عادی لحرمان الولد وليس بوء د اذا لوحظ انه غير موثر فی الحرمان، او يقال انه عليه الصلوٰة والسلام وافق اولا باهل الکتاب ثم خالفهم بعد نزول الوحی.

(منهاج السنن شرح جامع السنن للترمذی ۴:۲۸۳ باب ماجاء فی العزل)

د جماع په وخت غباره (کوپړئ) استعمالول مباح خلاف اولی دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې بعض خلق د جماع په وخت (ساتهی) کوپړئ استعمالوی آیا داسې کول جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: سید انور شاه پشاور شهر...... ۲۳ مارچ ۱۹۹۳ء

الجواب: دا جائز خلاف اولی دې

وحکمه حکم العزل، فی الدرالمختار: ویعزل عن الحرة بأذنها لکن فی الخانیة انه یباح فی زماننا لفساده قال الکمال فلیعتبر عذرا مسقطا لاذنها(۱).

نوټ: د ښځې نه اجازت اخستل پکار دی. وهوالموفق

(۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۴۱۲ مطلب فی حکم العزل)

بسم اللّٰہ الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

(شپږم جلد)

باب النفقات

....

بسم الله الرحمن الرحیم

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوی فریدیه

باب النفقات

قال رسول الله ﷺ:

اذا اعطی الله احدکم خیراً

فلیبدأ بنفسه واهل بیته.

(رواه مسلم)

....

باب النّفقات

د منکوحه ناوادهٔ کړې زنانه د نفقې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یوې زنانه نکاح شوې ده او تر اوسه پورې ئې لاوادهٔ نه دې شوې او په وادهٔ کې د تاخیر نه کار اخلي آیا د هغې نفقه په خاوند باندې لازم ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد شیر جهانګیره.....۱۲ مارچ ۱۹۸۵ء

الجواب: واضحه دې وی چې منکوحه نا وادهٔ کړې ښځه کومه چې د خاوند د مطالبې باوجود د وادهٔ او رخصتي دپاره تیاره نه وی نو هغه د نفقې مستحقه نه ده. کما في الهندية ۱: ۵۴۶ فان كان الزوج قد طالبها بالنقلة فان لم تمتنع عن الانتقال الى بيت الزوج فلها النفقة فاما اذا امتنعت عن الانتقال فان كان الامتناع بحق بان امتنعت لتستوفي مهرها فلها النفقة واما اذا كان الامتناع بغير حق بان كان اوفاها المهر او كان المهر موجلا او وهبته منه فلا نفقة لها كذا في المحيط(۱).وهو الموفق

د ناشزه (بد چلنده) زنانه نفقه په خاوند باندې واجب نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوه زنانه خفه کېدو سره د پلار کره لاړه بیا پرې خو کرته جرګې وشوې خو د بار بار راغوښتلو باوجود د خاوند کور ته رانغله. آیا د مور پلار په کور دا زنانه د

۱) (فتاوی عالمگیریة ۵۴۵:۱ الباب السابع عشر فی النفقات الفصل الاول)

نفقې مطالبه کولې شي؟ بینواتوجروا

المستفتي: ثمر خطاب...... مانسهره

الجواب: د مور پلار کور ته بغیر د څه وجې نه تلل او د راغوښتلو باوجود چې کومه زنانه دخاوند کورته نه راځي هغه ناشزه ده، دداسې ناشزه (نافرمانې) زنانه نفقه په خاوند باندې واجب نه ده ترڅو چې د خاوند کور ته رانشي وفي الهداية (۴۱۳ جلددوم) وان نشزت فلا نفقة لها حتى تعود الى منزله لان فوت الاحتباس منها واذاعادت جاءالاحتباس فتجب النفقة([1]). وهوالموفق

د بیمارې ښځې د مور پلار په کور کې علاج او د خاوند نه د خرچې مطالبه

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړي ښځه بیماره شوه، حتی الوسع علاج ئې ورله وکړو خو په دې وخت کې جینۍ مورپلار خپل کور ته بوتله د علاج معالجې نه پس اوس د خاوند نه نفقه غواړي او حال دا چې د خاوند د اجازت نه بغیر تلې وه آیا دا نفقه او د علاج رقم په خاوند باندې لازم دي؟ بینواتوجروا

المستفتي: نعمت الله... اسلام پور سید و شریف سوات... ۸ جون ۱۹۸۶ء

الجواب: که د دې ښځې د مجبورۍ د وجې نه مور پلار خپل کور ته بوتلې وی نو د نفقې مستحقه ده خو د دوایۍ بهر حال مستحقه نه ده، کما في رد المحتار ۸۹۳/۲([2]) خو د اخلاقو په باب کې ورکول مناسب دی. وهوالموفق

---

۱) (هداية ۲:۴۱۶ باب النفقة)

۲) قال العلامة الحصكفي: مرضت عند الزوج فانتقلت لدار ابيها ان لم يمكن نقلها بمحفة ونحوها فلها النفقة والا لا كما لا يلزمه مداواتها، قال ابن عابدين: اى اتيانه لها بدواء المرض ولا اجرة الطبيب ولا الفصد ولا الحجامة هندية. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۷۰۱ باب النفقة)

د کوېژدن نه پس د مور او پلار په کور باندې د اوسیدونکې ښځې د نفقې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د کوېژدن نه پس تر دوه کالو پورې جینۍ د مور او پلار په کور باندې پاتې شوې ده او بیا په دې حالت کې مطلقه هم شوه، آیا د دې دوه کلونو خرچه په خاوند باندې واجب ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: جمشید استاذ توپی صوابی...۲/ ۷/ ۱۴۰۱هـ

الجواب: که دا جینۍ د وادۀ او رخصتۍ نه انکاری نه وه نو دا جینۍ د خرچې اخستلو مستحقه ده کنه نو نه به وی (مأخوذ از شامی ۸۸۹/۲) (۱) وهوالموفق

د ښځې د علاج معالجې او تجهیز او تکفین خرچه په چا باندې ده؟

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ګواهانو ګواهی ورکړه چې د فلانۍ نکاح د فلانۍ سره شوې ده او حال دا چې خاوند بالکل انکار کوی چې نه ما نکاح کړې ده او نه مې نکاح کول غوښتل، اوس د ښځې

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: وفی الهندية عن الذخيرة ولو كان النكاح صحيحا من حيث الظاهر ففرض لها القاضی النفقة واخذتها شهرا ثم ظهر فساد النكاح بان شهدوا انها اخته رضاعا وفرق بينهما رجع عليها بما اخذت ولو انفق بلا فرض القاضی لم يرجع بشیئ (وبعد صفحة) (قوله ولو هی فی بيت ابيها) تعميم لقوله فتجب للزوجة وهذا ظاهر الرواية فتجب النفقة من حين العقد الصحيح وان لم تنتقل الی منزل الزوج اذا لم يطلبها وقال بعض المتأخرين لا تجب مالم تزف الی منزله وهو رواية عن ابی يوسف واختاره القدوری وليس الفتویٰ عليه وتمامه فی الفتح۔ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹۹،۷۰۱ باب النفقة)

وفی الهندية: الكبيرة اذا طلبت النفقة وهی لم تزف الی بيت الزوج فلها ذلک اذا لم يطالبها الزوج بالنقلة ومن مشائخ بلخ رحمهم الله تعالیٰ من قال لا تستحقها اذ لم تزف الی بيته والفتویٰ علی الاول كذا فی الفتاویٰ الغيائية۔

(فتاویٰ عالمگيرية ۱:۵۴۵ الفصل الاول فی نفقة الزوجة)

وروړ وائی چې دا خاوند د واده نه پس ډمبې؛ نه تبتیدلې وو، د هغه ښځه یعنی زما خور بیماره شوه ما ئې علاج معالجه وکړه د کفن دفن خرچ مې برداشت کړو، اوس دې خاوند ماته هغه خرچه ادا کړی او حال دا چې خاوند بالکال انکار کوی په دې صورت کې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانامفتی بدر منیر مهتمم دار العلوم مدنیه امانډره سوات ۲۵ | ۱۲ | ۱۹۸۵ء

الجواب: په شرط د ثبوت نکاح، په دې ناکح باندې صرف د تکفین او تجهیز رقم واجب دې (۱) نه د معالجې او رسمونو. (فلیراجع الی ردالمحتار ۸۹۳/۲) (۲) وهوالموفق

د ښځې نفقه په خاوند او د غیر قادر علی الکسب اولاد نفقه په پلار باندې ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: ښځه بوډۍ شی او اولاد ئې هم وی خو خاوند ئې د خرچ خوراک حق ادا کوی، د هغې څه حکم دې؟ ۲: خاوند خپله ښځه اولاد ته حواله کوی حال دا چې اولاد د هغې اهل نه دې؟ ۳: خاوند سره ئې ښۀ ډیر دولت دې خو د ښځې حصه نه ادا کوی؟

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: اعلم ان الواجب عليه (ای الزوج) تكفينها وتجهيزها الشرعيان من كفن السنة اوالكفاية وحنوط واجرة غسل وحمل ودفن دون ما ابتدع فی زماننا من مهللين وقراء و مغنين وطعام ثلاثة ايام ونحو ذلک ومن فعل ذلک بدون رضا بقية الورثة البالغين يضمنه فی ماله.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۶۳۹:۱ مطلب فی كفن الزوجة على الزوج)

(۲) قال العلامة الحصكفی: لا تفرض على غائب باقامة الزوجة بينة على النكاح او النسب ولا تفرض ايضا ان لم يخلف مالا فاقامت بينة ليفرض عليه ويأمرها بالاستدانة ولا يقضی به لانه قضاء على الغائب وقال زفر يقضی بها ای النفقة لا بالنكاح- وقال ابن عابدين: (النفقة بانواعها)من الطعام والكسوة والسكنى ولم ارمن ذكر هنا اجرة الطبيب وثمن الادوية وانما ذكروا عدم الوجوب للزوجة-(الدرالمختار مع ردالمحتار ۷۲۵،۷۲۸ : ۲ مطلب فی نفقة المطلقة)

۴: د ښځې دماغی توازن ئې خراب شوې دې آیا په خاوند باندې خرچ خوراک لازم نه دې؟ ۵: خاوند د تیرو پنځویشتو کالو نه د ښځې حقوق غصب کولو سره نورو ته ورکوی؟ ۶: ښځه ئې ورې او برېنده ده خاوند ئې مزې کوی د دې څه حکم دې؟ ۷: که د اولاد والده خدمت کوی نو آیا خاوند د خپلې ښځې حقوق غصب کولې شی؟ ۸: په دې دوارو باندې د جادو کونکی او د چا په وینا چې پرې شوې دې د هغوی دوارو څه حکم دې؟ ۹: که اولاد د مور د حقوق دپاره عدالت ته رجوع وکړی نو آیا هغوی ته دا حق حاصل دې؟ ۱۰: چې اولاد ورې او په تکلیفونو کې وی والدین مالدار وی په دې صورت کې د طرفین د حقوق څه حکم دې؟ ۱۱: د انصاف دپاره څه اقدام اوچتیدلې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: الطاف حسین رسالپور کینټ .... ۱۹ اپریل ۱۹۷۵ء

الجواب: کومه ښځه چې مطلقه نه ده هم دغه شان د نابالغ اولاد نفقه په هغه سرې باندې فرض ده دا مستحقین خپل حقوق د حکومت په ذریعه حاصلولې شی. هم دغه شان بغیر د اجازت نه په پټه باندې هم د دې خاوند د مال نه نفقه او جامې وغیره باقاعده اخستلې شی (۱)

بهر حال دا سرې ظالم او مجرم دې بله دا چې جادو کول یا په بل باندې کول حرام قطعی دی او ډیر کرته کفر دې (۲). **وهوالموفق**

---

(۱) قال العلامة الحصکفی: والابوان لو انفقا ما عندهما لغائب من ماله علی انفسهما وهو من جنسه ای جنس النفقة لا یضمنان لوجوب نفقة الولاد والزوجیة قبل القضاء حتی لو ظفر بجنس حقه فله اخذه ولذا فرضت من مال الغائب بخلاف بقیة الاقارب الخ. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۷۴۴ مطلب فی مواضع لا یضمن فیها المنفق اذا قصد الصلاح)

(۲) قال العلامة ابن عابدین: وفی حاشیة الایضاح لبیری زاده قال الشمنی تعلمه وتعلیمه حرام اقول مقتضی الاطلاق... وللسحر فصول کثیرة فی کتبهم فلیس کل ما یسمی سحرا کفرا اذ لیس التکفیر به لما یترتب علیه من الضرر بل لما یقع به مما هو کفر کاعتقاد انفراد الکواکب بالربوبیة او اهانة قرآن او کلام مکفر ونحو ذلک الخ.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۳۳ مقدمة مطلب السحر انواع)

د ښځې د مهر او کالو (زیوراتو) او د عدت د ورځو د نفقې مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زما د لور نکاح خوشدل نومې هلك سره شوې وه، څه موده پس هغه زما لور زما کور ته راولیږله، زما په کورکې ئې نهه میاشتې تیرې کړې نو ما خپله لور دوباره خپل خاوند کره بوتله، پس هغه خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل، آیا زه د دغه هلك نه د نهه میاشتو نان ونفقه (د خوراك څښاك) خرچه اخستلې شم، د دې نه علاوه ئې چه په عدت کې کومې ورځې تیرې کړې دی د هغې نان ونفقه هم اخستلې شم، د دې نه علاوه مهر او څه زیورات موجود دی هغه دا جینۍ اخستلې شی؟ بینواتوجروا

المستفتي: بمعرفت مولانا گوهرالرحمٰن صاحب تفهیم القرآن.... ۱۹۶۸ء | ۳ | ۱۹

الجواب: دا طلاقه شوې جینۍ زیورات او مهر اخستلې شی، لان المهر یکون واجب الاداء بعد الموت اوالطلاق کما فی الهندیة ۱: ۳۳۹ (۱) خو (د خاوند) په کور کې د نه اوسیدلو ورځو نفقه نه شی اخستلې. کما فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲: ۹۰۶ (۲) اود عدت په ورځو کې که د مور په کور کې اوسیږي یعنی د خاوند په کور کې نه وی نو د نفقې مستحقه نه ده. کالمنکوحة الناشزة. (۳) وهوالموفق

---

(۱) وفی الهندیة: والمهر یتأکد باحد معان ثلاثة الدخول والخلوة الصحیحة وموت احد الزوجین سواء کان مسمی او مهر المثل حتی لا یسقط منه شیئ بعد ذلک الا بالابراء.
(فتاوی عالمگیریة ۱: ۳۰۳ الفصل الثانی فیما یتأکد به المهر والمتعة)

(۲) قال العلامة ابن عابدین: (قوله والنفقة لا تصیر دینا الخ) ای اذا لم ینفق علیها بان غاب عنها او کان حاضرا فامتنع فلا یطالب بها بل تسقط بمضی المدة الخ.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۷۱۵ مطلب لا تصیر النفقة دینا الا)

(۳) قال العلامة محمد امین الشامی: وفی المجتبیٰ نفقة العدة کنفقة النکاح وفی الذخیرة وتسقط بالنشوز.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۷۲۷ مطلب فی نفقة المطلقة)

د عدت وفات دوران کښې د کونډې د نفقې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې خاوند وفات شوې دې او ښځه د وفات عدت تیروی د هغه اخراجات به په چا باندې وی بینواتوجروا

المستفتی: عبدالرحیم توره وړئ هنګو.... ٣ فروری ١٩٧٨ء

الجواب: د خاوند د مال نه ښځه د وراثت حق اخستلې شی، او د وفات د عدت خرچه د خاوند د مال نه واجب نه ده.

وفی الهداية (٢:٤٢٣) ولا نفقة للمتوفی عنها زوجها... ولان النفقة تجب شيئاً فشيئاً ولا ملك له بعد الموت فلا يمكن ايجابها فی ملك الورثة(١)،

که خاوند په وراثت کښې څه نه وی پریښودلې او نه ښځې سره څه وی نو بیا په محارم باندې باقاعده نفقه لازم ده. (٢) **وهوالموفق**

په عنین (نامرد) باندې خرچه واجب ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې یو سړی واده کړې وو خو هغه نامرد وو وروستو په دواړو کښې جدائی راغله، اوس ئې خاوند مطالبه کوی چې ما سره د تیرو کړې شوې ورځو نفقه دې ماته واپس راکړې شی چې په دې ورځو کښې ما هیڅ جماع وغیره نه ده کړې، آیا د دې زنانه دپاره دا نفقه واپس کول ضروری دی؟ **بینواتوجرو**

المستفتی: شاه سعید خان......رسالپور نوشهره

---

١) (هداية ٢:٤٢٢ باب النفقة)

٢) وفی الهندية: والنفقة لکل ذی رحم محرم اذا کان صغيرا فقيرا او کانت امرأة بالغة فقيرة او کان ذکراً فقيرا زمنا او اعمیٰ ويجب ذلک علی قدر الميراث ويجبر عليه کذا فی الهداية (فتاویٰ عالمگيرية ١:٥٦٥ الباب الخامس فی نفقة ذوی الارحام)

الجواب: واضحه دې وي چې د نکاح د وجې نه دا زنانه د هغه سړي دپاره محبوس وه په دې وجه د هغه ورځو خرچه په خاوند باندې لازم وه اګر چې په وطی باندې قادر نه وو،

وفی الدر المختار ۲/۸۹۰، فتجب للزوجة بنكاح صحيح على زوجها لانها جزاء الاحتباس وكل محبوس المنفعة غيره يلزمه نفقته(۱) وهوالموفق.

د خاوند نه د جهیز سامان، مهر، د علاج خرچه او د نفقه اخستلو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ما خپله لور خپل ورارۀ ته په نکاح ورکړه، هغه بالکل صحت منده وه او د خاوند نه ئې دوه درې ماشومان پیدا شوې دي، د نکاح نه څلور پنځه کاله پس هغې ته دماغي بیماري پیښه شوې ده، د دوه درې کالو مودې پورې متواتر ما په خپل کور کې د هغې پالنه وکړه ځکه چې د وادۀ نه څلور پنځه کاله پس چې کله هغه خاوند د کور نه ویستله نو هغه زما کور ته راغله، بیا د هغې یو هلک چې د خاوند په کور کې پیدا شوې وو زما په کور کې مې لور بیماریدلو سره فوت شو د هغه تجهیز او تکفین هرڅه ما وکړل دغه د وفات په وخت ئې نه خاوند او نه نور رشته دار زما کور ته راغلل، په خپل کور کې ما د خپلې لور علاج وکړو او په خوراک څښاک او جامو باندې مې تقریبا څلور پنځه سوه روپۍ خرچه کړې ده، هم دغه شان د خاوند د بدې راویې د وجې نه د هغې دماغ زیات خطرناک ثابت شو، ما به هغه د خاوند کور ته بوتله خو هغه به نه پریښودله ما د دې وجې نه د هرڅه بوج په خپل ځان باندې واچولو چې هغه زما خپل ورارۀ دې، تقریبا لس دولس ورځې وشوې چې هغوی لیکلې طلاق نامه راولیږله او حال دا چې د دې نه مخکې ئې مونږ ته هیڅ خبر نه وو راکړې، اوس سوال دا دې چې دا څومره موده زما په کور باندې پاتې شوې ده زه د دې خرچ د شریعت په رڼا کې وصولولې شم یا نه؟ بله دا چې زما د کور نه چې کوم

(۱) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۹۹ باب النفقة)

سامان دې سره د خاوند کور ته تلې دې هغه وصولولې شم که نه؟ بل هغه د درې څلورو کالو خرج خوراک کوم چې زما په کور کې هغې کړې دې هغه ترې وصولولې شم او که نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: دوران ګل شيدو نوبهر .... ۱۱ جمادی الثانی ۱۳۸۹ھ

الجواب: د پلار د کور نه چې ئې څومره سامان وړلې دې هغه زنانه ئې واپس اخستلې شي، ځکه چې دا نه د سخې مملوک دې او نه د خاوند (**والدليل عليه العرف**) (۱) او پلار ئې د دوايئ رقم نه شي وصولولې (شامی: ۲/۸۸۹). (۲) او پلار چې کوم خرج کړې دې هغه هم په خاوند باندې لازم دې (شامی ۲/۹۰۶) (۳) بيشکه مهر اخستلې شي. (۴) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: ان ما ذكروه فی مسئلة الجهاز انما هو فيما اذا كان النزاع من الاب اما لو مات فادعت ورثته فلا خلاف فی كون الجهاز للبنت لما فی الولوالجية جهزا بنته ثم مات فطلب بقية الورثة القسمة فان كان الاب اشترىٰ لها فی صغرها او فی كبرها وسلم لها فی صحته فهو لها خاصة... ويدل عليه ما مر من قول المصنف والشارح ليس له الاسترداد منها ولا لورثته بعده وانما الكلام فی سماع دعوى العارية بعد الشراء اوالتسليم والمعتمد البناء على العرف كما علمت۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۳۹۸ مطلب، فی دعوى الاب ان الجهاز عارية)

۲) قال العلامة ابن عابدين: (قوله كما لا يلزمه مداواتها) اى اتيانه لها بدواء المرض ولا اجرة الطبيب ولا الفصد ولا الحجامة هندية عن السراج والظاهر ان منها ما تستعمله النفساء مما يزيل الكلف ونحوه۔ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۷۰۲ باب النفقة)

۳) قال العلامة ابن عابدين: (قوله والنفقة لا تصير دينا الخ) اى اذا لم ينفق عليها بان غاب عنها او كان حاضرا فامتنع فلا يطالب بها بل تسقط بمضى المدة الخ۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۷۱۵ مطلب لا تصير النفقة دينا الا بالقضاء اوالرضاء)

۴) قال العلامة الحصكفی: ويتأكد عند وطء او خلوة صحت من الزوج او موت احدهما الخ۔ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۲:۳۵۸ باب المهر)

محتاج پلار د ځامنو د مالونو نه ضروريات اخستلې شي

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د يو سړی څلور ځامن دی چې په هغې کې يو ايم ايس سی او حاجی دې، دويم کارخانه دار او حاجی دې او باقی دوه د کاروبار او زرګونو روپو مالکان دی، خو د هغوی پلار غريب، نادار، محتاج، بوډا، کمزورې او ضعيف دې، هم دغه شان حاجی، عالم او نيک نام دې دا اولاد پلار ته په سپک نظر ګوری خرچه وغيره هم نه ورکوی او حال دا چې پلار ئې د ډوډئ د ټکړې محتاج دې، آيا د دې نافرمان اولاد څه عمل قبول دې؟ مونځ، روژه او حج د هغوی صحيح کيدې سی؟ آيا په شريعت محمد ﷺ کې داسې پلار د هغوی د اولاد خلاف د نان او نفقه دعوی په عدالت کې کولې شی؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: حاجی رحمان ګل حافظ آباد ګجرانواله... ۱۹مارچ ۱۹۸۹ء

الجواب: عقوق الوالدين د حديث په بناء فسق او لويه ګناه ده. (۱) خو محبط اعمال نه ده (۲) اودا محتاج پلار بهرحال دهغوی د مالونو نه دضرورت په قدر اخستلې شی که دا اولاد رضا وی او که نه وی، د حديث په وجه ﴿ **انت ومالك لابيك** ﴾ (۳) خودحاکم په ذريعه خرچ مقررکول زيات آسان دی (۴) **وهوالموفق**

---

۱ ﴾ عن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ الكبائر الاشراک بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس واليمين الغموس رواه البخاری۔
(مشکواة المصابيح ۱۷:۱ باب الكبائر وعلامات النفاق)

۲ ﴾ قال العلامة التفتازانی : واهل الكبائر من المؤمنين لا يخلدون فی النار وان ماتوا من غير توبة ... مع ما سبق من الادلة القاطعة الدالة على ان العبد لا يخرج بالمعصية عن الايمان۔ (شرح العقائد النسفية ۱۱۷ واهل الكبائر)

۳ ﴾ (رواه ابن ماجة والطبرانی كما فی الاختيار لتعليل المختار ۲۴۲:۲)

٤ ﴾ قال العلامة الحصكفی :النفقة لاصوله ولواب امه الفقراء... بالسوية... والمعتبر فيه القرب والجزئية... لا يعتبر الارث... الا لمرجح ... [بقيه حاشيه برصفحه آئنده

بوډا مور پلار ته د نفقې نه ورکولو او د هغوی

د بې عزتۍ کونکو سره دې ترک موالات وکړې شي

سوال: څه فرمائی علما دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی مور پلار اتیا پنځه اتیا کالو ته رسیدلي دی هغه هغوی ته خوراک او خرچه نه ورکوی بلکې د دې په ځای بې عزتی یې کوی د هغوی بچی هم نیا نیکهٔ ته کنځلې کوی او دا سړې نې اوری دې سړی ته به مونږ شرعا څه سزا ورکړو؟ بینواتوجروا

المستفتی: علی محمد سالکران مری .... ۳۰ اگست ۱۹۷۵ء

الجواب: د مقامی بااثر کسانو دپاره ضروری دی چې د دې سړی سره ترک موالات (کاروبار پریښودل) او معاشرتی بائیکاټ وکړی چې توبه ګار او پښیمان شی (۱) وهوالموفق

د نابالغ اولاد نفقه په پلار باندې واجب ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی ښځې ته

...بقیه ازحاشیه گذشته] کوالد وولد فعلی ولد لترجحه بانت ومالک لابیک قال ابن عابدین : ای بهذا الحدیث الذی رواه عن النبی ﷺ جماعة من الصحابة کما فی الفتح وهو مؤول للقطع الخ- (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۷۳۸،۷۳۹ مطلب ضابط فی خصر احکام نفقة الاصول والفروع)

(۱) قال العلامة علاء الدین الطرابلسی : والتعزیر لا یختص بفعل معین ولا قول معین فقد عزر رسول الله ﷺ بالهجر وذلک فی حق الثلاثة الذین ذکرهم الله تعالیٰ فی القرآن العظیم فهجروا خمسین یوما لا یکلمهم احد، وقصتهم مشهورة فی الصحاح... فمنها امر عمر رضی الله عنه بهجر ضبیع الذی کان یسأل عن الذاریات وغیرها ویأمر الناس بالتفقه فی المشکلات من القرآن، فضربه ضربا وجیعا ونفاه الی البصرة اوالکوفة وامر بهجره فکان لا یکلمه احد حتی تاب وکتب عامل البلد الی عمر بن الخطاب رضی الله عنه یخبره بتوبته فاذن للناس فی کلامه- (معین الحکام ۱۹۵ فصل التعزیر)

طلاق ورکړې دې د دې ښځې نه ئې دوه لوڼې او يو ځوی دې او د مور سره اوسيږی دهغوی خرچ وغيره په مورباندې لازم دې اوکه په پلارباندې؟ بينواتوجروا

المستفتی: صلاح الدين حضرو اٹک

الجواب: که د دې ماشومانو خپل ملکيتی مال نه وی نو د هغه نفقه په پلار باندې واجب ده، که دا ماشومان پلار سره وی او که ځوی سره،

وفی الهندية (۱: ۵۶۰) نفقة الاولاد الصغار علی الاب لا يشارکه فيها احد کذا فی الجوهرة النيرة (وبعد اسطر) انما يجب علی الاب اذا لم يکن للصغير مال واما اذا کان له مال فتکون مؤنة الرضاع من مال الصغير(۱). وهوالموفق

د ښځې او بچو خرچه په خاوند باندې لازمه او د نورو احسان وی

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د ولادت دوران د ماشوم د پيدا کيدو کومه خرچه وغيره راځی د هغې ادا کول د خاوند په ذمه لازم دی او که د ښځې د مور پلار په ذمه؟ زمونږ په نزد دا عموما د ښځې مور او پلار برداشت کوی؟ بينواتوجروا

المستفتی: مولوی کبير خان مانسهره کل آباد... ۲۳ مارچ ۱۹۸٤ء

الجواب: دا خرچه د خاوند په ذمه لازم ده (۲) او که نور خلق ئې ادا کړی نو احسان دې، وفی الهداية (۲: ۴۲۴) ونفقة الاولاد الصغار علی الاب لا يشارکه فيها

---

۱) (فتاوی عالمگيرية ۱: ۵۶۰ الفصل الرابع فی نفقة الاولاد)

۲) په در مختار کې دی: واجرة القابلة علي من استاجرها من زوجة او خاوند ولو جاءت بلا استيجار قيل عليه وقيل عليها. (در مختار ۲/۷۰۵، باب النفقة) يعنی د دايي أجرت (مزدوری) په هغه چا دې چا چې راغوښتلې وی او که بغير د راغوښتلو نه راغلو نو بعض وائی چې په سړی باندې دی او د بعض په نزد په زنانه باندې. او وجه د اختلاف علامه شامی رحمه الله قياس په ذو وجهين... [بقيه حاشيه برصفحه آئنده

احد كما لا يشاركه في نفقة الزوجة لقوله تعالىٰ وعلى المولود له رزقهن والمولود له هو الاب(١)۔ وهوالموفق

د ورونو نه د واده د خرڅې اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې باره کې چې د صادق درې بچیان بالغ وو په یو کنال کې رهائشي جائیداد کې درې واړه د خپل پلار سره شریک زراعت کولو پلار د دوه ځامنو نکاح او واده وکړو او د خپل ځان نه ئې جدا کړل او یو ځوی د پلار سره وو او د هغوی واده هم وشو. څه موده پس ئې پلار وفات شو، اوس چې کوم ورونه بیل شوې وو په خپله حصه ځمکه کې ئې کور جوړول غوښتل، خو وړوکې ورور ئې وائی چې زما په واده چې کومه خرچه شوې ده د هغې حصه ماته راکړه کنه نو زه به کور جوړیدو ته نه پریږدم، آیا په دې دواړو ورونو باندې د هغه د واده د پاره څه ورکول واجب دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سلطان حسین سودهیر صوابی... ۲۵ صفر ۱۴۰۱ھ

الجواب: دا ورور د واده د خرچې په مطالبه کې په غلطئ باندې دې که هغه د خپلې ګټې نه خرچه کړې وی یا د پلار د مال نه. **وهوالموفق**

بقیه ازحاشیه گذشته] باندې کړې دې. حيث قال: عبارة البحر عن الخلاصة فلقائل ان يقول عليه لانه مؤنة الجماع ولقائل ان يقول عليها كاجرة الطبيب وكذا ذكر غيره ومقتضاه انه قياس ذووجهين لم يجزم أحدمن المشائخ باحدهما خلاف ما يفهمه كلام الشارح ويظهر لى ترجيح الاول لان نفع القابلة معظمة يعود الى الولد فيكون على ابيه تامل (شامية ۲:۷۰۵)

زمونږ شیخ مفتی صاحب دامت برکاتهم فرمائی چې د مؤنت جماع او أجرت (مزدوری) طبیب په ځای د هغه بچی پیدا کیدلو لره ترجیح ده چې په مسئله د ولادت کې اصل دا ولد دې او د ولد نفقه د پلار په ذمه ده لهذا د علامه شامی قول چې (ویظهر لي ترجیح الاول لان نفع القابلة معظمة يعود الي الولد) راجح او معقول دې **(ازمرتب)**

١) (هداية ٢:٤٢٣ فصل ونفقة الاولاد باب النفقة)

په شریکو ورونو کې د ناوادهٔ کړي ورونو د مهر مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د زید نهه ځامن دی او د هغه د دوه ځامنو دپاره د جائیداد نه (خرچ اخستلو سره) ودونه وکړل او درې ځامنو په خپله ګټه ودونه وکړل او باقی څلور ځامن بغیر د وادهٔ نه پاتې شوې دی، کوم چې اوس ټول یوځائې اوسیږی او یوځائې خوراک څښاک کوی، اوس سوال دا دې چې آیا په زید باندې یا په وادهٔ کړې ځامنو باندې لازم دی چې هغوی د ناوادهٔ کړی ځامنو وادهٔ وکړی؟ او آیا ضروری ده چې د هغوی د ښځو دپاره چې کوم مهر مقرر کړې شوې وو د هغوی د ښځو دپاره هم هغه مهرونه مقرر کړې شی او که هر څه ئې ورکړل او هغه ئې منظور کړل نو صحیح به وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا حاجی محمد حقانی مدرسه نظامیه میران شاه.....۱ ستمبر ۱۹۸۳ء

الجواب: د پلار دپاره د یو خوی وادهٔ کول هم ضروری نه دی، نکاح او وادهٔ په هر سړی باندې بذات خود کله سنت وی او کله واجب (۱) او د پلار هغوی سره د احسان کولو نه دا نه لازمیږی چې هغوی دنورو ورونو سره لازمی او جبری طریقو سره احسان وکړی هم دغه شان پلار هم یو خوی ته د مهر حصه ورکولو باندې نه شی مجبورولې. (۲) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحصکفی: ویکون واجبا عند التوقان فان تیقن الزنا الا به فرض نهایة وهذا ان ملک المهر والنفقة والا فلا اثم بترکه بدائع ویکون سنة مؤکدة فی الاصح فیأثم بترکه الخ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۸۲ کتاب النکاح)

۲) وفی الهندیة: ولا یجب علی الاب نفقة الذکور الکبار الا ان یکون الولد عاجزا عن الکسب لزمانة او مرض الخ.

(فتاویٰ عالمگیریة ۱:۵۶۳ الفصل الرابع فی نفقة الاولاد)

د وادهٔ د خرڅې د وعدې پوره کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زيد د يوې کونډې سره وادهٔ وکړو، چې د هغه بالغ هلکان او جينکئ وې. د زيد هم د مخکې ښځې نه اولاد وو. زيد بلې ښځې ته وويل چې ته د خپلې لور نکاح زما د خوی سره په دې شرط باندې وکړه چې دا هلک به ستا د لور د وادهٔ د خرڅې ذمه دار وی، اوس ګواهان هم وائي چې داسې شوې وو. اوس د کونډې ځوی د خپل پلندر د ځوی نه د وادهٔ خرڅه غواړی. سوال دا دې چې د دې قسم شرطونو په نکاح کې څه اعتبار شته که دا د شروط فاسده نه دی؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: مولانا مفتي بدر منير دار العلوم مدنيه اماندره سوات ... ۱۲ دسمبر ۱۹۸۵ء

الجواب: دا شرط وعده دې او وعده هم د رسم او رواج ده د مهر او نفقې نه ده، او داسې وعده پوره کول نه واجب دی او نه عادت دې (۱)

كما في الحموي ۳۰۸ واما من عزم على الوفاء ثم بدا له فلم يف فهذا لم يوجد منه صورة نفاق كما في الاحياء من حديث طويل عند ابي داؤد والترمذي الخ، قلت لاسيما اذا كان الامتناع لاجل كونه رسما قبيحا. وهو الموفق

---

۱) قال الملا على قاري: قال النووي: اجمعوا على ان من وعد انسانا شيئا ليس بمنهي عنه فينبغي ان يفي بوعده وهل ذلک واجب او مستحب؟ فيه خلاف، ذهب الشافعي وابوحنيفة والجمهور الى انه مستحب الخ.
(مرقاة المفاتيح شرح المشكواة ۸:۶۲۷ آخر باب المزاح)

بسم الله الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

(شپږم جلد)

کتاب الأیمان

....

بسم الله الرحمن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

كتاب الأيمان

قال رسول الله ﷺ:

من حلف بغير الله

فقد أشرك.

(رواه الترمذی)

....

كتاب الأيمان

په دروغه قسم کونکې فاسق دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په دروغه باندې قسم کړې دې چې ما دا څمکه نه ده خرڅه کړې حال دا چې هغه خرڅه کړې وی نو د دې دروغژن قسم څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد سعید اټک........ ۱۲٦کتوبر ۱۹۷۸ء

الجواب: که دې سړی یقینا په دروغه قسم کړې وی نو دا سړې فاسق دې، ﴿الحدیث الکبائر الاشراك بالله﴾ الحدیث (۱) او د هغې نه یو په دروغه قسم هم دې وهوالموفق.

په دروغه قسم کونکې فاسق او مردود الشهادة دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د دوه کسانو ترمینځه جګړه وشوه او مقدمه شروع وه په دې مقدمه کې دوه کسان په طور د ګواه په عدالت کې پیش شو او د الله پاک په خپل ځان ګواه کولو سره ئې قسمونه وکړل، او د کلی ټولو عوامو ته معلومه ده چې دې دواړو په دروغه قسمونه وخوړل، د دوی شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا عثمان غنی سکنه زروبۍ متعلم حقانیه ... ۲۱ ربیع الثانی ۱٤۰۲ھ

---

۱ ﴾ عن عبد الله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ الکبائر الاشراک بالله وعقوق الوالدین وقتل النفس والیمین الغموس رواه البخاری وفی روایة انس وشهادة الزور بدل الیمین الغموس، متفق علیه.
(مشکواة المصابیح ۱۷:۱ باب الکبائر وعلامات النفاق)

الجواب: كه دې دوه كسانو قصدا د شرعي اباحت بغير په دروغه قسمونه وخوړل نو دا دواړه فاسق او فاجر او مردود الشهادة دي

قال الله تبارك وتعالىٰ: واجتنبوا قول الزور (الآية) (۱) وقال رسول الله ﷺ عدلت شهادة الزور بالاشراك بالله. (رواه ابوداؤد والترمذي وابن ماجة) (۲) وقال عليه السلام: الكبائر الاشراك بالله ... واليمين الغموس. (رواه البخاري) (۳). وهوالموفق

قصدا په دروغه باندې قسمونه خوړونكو سره د تعلقاتو حكم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره كې چې كوم انسان قصدا په دروغه قسمونه خوري او په دې باندې بار بار اصرار كونكى هم وي هغه سره تعلقات ساتل څنګه دي؟ بينواتوجروا

المستفتي: على محمد اعوان ميانوالى.... ۲۹ جولائی ۱۹۸۶

الجواب: داسې سړې فاسق او فاجر دې (۴) دوی سره د فاسقانو په شان رويه ساتل ضروري دي. (۵) وهوالموفق

---

۱) (سورة الحج آيت: ۳۰، پاره: ۱۷)

۲) (مشكواة ۳۲۸: ۲ وابوداؤد ۲:۵۰۶ وابن ماجة ۱۷۱ والترمذی ۲:۵۶)

۳) (صحيح البخاري ۲:۹۸۷ باب اليمين الغموس)

۴) عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما قال: جاء اعرابي الى النبي ﷺ، فقال: يا رسول الله، ما الكبائر؟ فذكر الحديث وفيه اليمين الغموس، وفيه قلت: وما اليمين الغموس؟ قال: التي يقتطع بها مال امرئ مسلم هو فيها كاذب، اخرجه مسلم.
(بلوغ المرام ۴۵۹ رقم حديث ۱۲۸۴ كتاب الايمان والنذور)

۵) قال العلامة الشامي: ذكر صاحب الملتقط يكره للمشهور المقتدى به الاختلاط برجل من اهل الباطل والشر الا بقدر الضرورة لانه يعظم امره... [بقيه حاشيه بر صفحه آئنده

د لفظ عهد استعمال یمین دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ما د تمیرګرې تلو متعلق دا وعده وکړه چې بیا به دې ځای ته نه راځم که راغلم نو یا الله زما روح ستا ده، اوس تیمرګرې ته تلې شم یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: پائنده ګل بجلی ګهر مردان .... ۱٤ ربیع الثانی ۱۳۹۷ھ

الجواب: که تاسو د عهد لفظ استعمال کړې وی نو تاسو به تیمرګرې ته د تلو نه پس کفاره ورکوئ کنه نو په تاسو باندې تیمرګرې ته تلو کې هیڅ کفاره نشته، **کما فی الهدایة ۲/۴۵۰ وکذا قول وعهد الله ومیثاقه (۱) وبمعناه فی جمیع کتب الفقه(۲) وهوالموفق**

په عهد او وعده کې فرق او عهد په معنی د قسم مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید د رشته دارو نه خفه شو چې زما د الله پاک سره وعده ده چې زه به بیا د هغوی طرف ته نه راځم، اوس د بعض مجبورو د وجې نه هغه رشته دارو کره تلل غواړی، د هغه دپاره څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: پروفیسر محمد منظور اقبال قریشی هاړی هزاره

بقیه ازحاشیه گذشته] بین الناس... ولو کان رجل لا یعرف یداریه لیدفع الظلم عن نفسه من غیر اثم فلا بأس به.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵:۲۷۵ فصل فی البیع کتاب الحظر)

۱ هدایه ۲:۴۵۹ باب ما یکون یمینا ومالا یکون یمینا)

۲) وفی الهندیة: ولو قال وعهد الله او قال وذمة الله یکون یمینا... او قال علیه عهد او علیه عهد الله ان لا یفعل کذا... یکون یمینا.

(فتاوی عالمگیریة ۲:۵۳ الباب الثانی فی ما یکون یمینا ومالا یکون)

الجواب: واضحه دې وی چې په عربۍ ژبه کې د عهد او وعدې حقیقت بیل بیل دې، الاول هوالمواثقة بين الاثنين وايفاءه فرض، والثانى اخبارعن ايصال الخبرفى المستقبل وايفائه سنة (١) او فقهاء کرامو د عهد لفظ د الفاظ يمين نه شمار کړې دی. كمافى الهداية ٤٦٠ (٢) والهندية ٥٩/٢ (٣)، وردالمحتار ٧٣/٣ (٤)، او د وعدې لفظ به د يمين نه نه شی شمار کولې، خو په پښتو او اردو کې د وعدې لفظ د عهد په ځای په کثرت سره استعمالیږی پس د هغه سړی دپاره ضروری ده چې دې طرف ته لاړ شی او کفاره (يمين) ادا کړی قال رسول الله ﷺ: «وَإِذَا حَلَفْتَ عَلَى يَمِينٍ فَرَأَيْتَ غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَكَفِّرْ عَنْ يَمِينِكَ وَائْتِ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ» متفق عليه، مشكاة ٢٩٦/٢ (٥) وهوالموفق

---

١) قال العلامة نصير الدين الغورغشتوى: الوعد الاخبار بايصال الخير فى المستقبل... وذهب الجمهور منهم ابو حنيفة والشافعى الى انه يستحب الوفاء بالوعد استحبابا مؤكداً... والعهد هو الموافقة بين الاثنين كعقد المسلمين مع اهل الذمة... والوفاء بالعهد فرض ونقضه غدر الخ.
(حاشية غورغشتوية على المشكواة ١٨:١ باب الكبائر وعلامات النفاق)

٢) قال العلامة المرغيناني: وكذا قوله وعهد الله وميثاقه لان العهد يمين.
(هداية ٤٥٩:٢ باب مايكون يمينا ومالايكون)

٣) وفى الهندية: ولو قال وعهدالله او قال وذمة الله يكون يمين.
(فتاوىٰ عالمگيرية ٥٣:٢ الباب الثانى فيما يكون يمينا ومالا فلا)

٤) قال العلامة ابن عابدين: (قوله وعهد الله) لقوله تعالىٰ: واوفوا بعهد الله اذا عاهدتم ولا تنقضوا الايمان الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٥٨:٣ بعيد مطلب تتعد الكفارة الخ)

٥) (مشكواة المصابيح ٢٩٦:٢ باب الايمان والنذور)

یمین غموس کبیره دې او د ارشاد الطالبین د عبارت تاویل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې اخوند درویزه بابا په خپل کتاب ارشاد الطالبین کې په بحث د رد کفر کې لیکلې دی چې که یو سړې د قبلې طرف ته مخ کولو سره درې کرته د الله پاک په نوم باندې قسم وخوری چې فلانې سړې قسم وخوری چې فلانې سړې داسې دې، که یو سړې واقعې داسې وی کنه نو قسم خوړونکې سړې د دې درې قسمونو د وجې نه کافر کیږی، په دې سلسله کې شرعی مسئله څه ده؟ **بینواتوجروا**

الجواب: په فقه کې یمین غموس د کبائرو نه شمار کړې شوې دې نه د موجبات کفر نه (۱) لهذا د اخوند درویزه رحمة الله علیه قول به په تغلیظ او تشدید باندې محمول وی او واجب التاویل دې **وهوالموفق**

د حل او حرمت متعلق په مسائلو کې د صلح د پاره په دروغه قسم خوړل حرام دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د طلاق په باره کې یو فتوی طلب کړې شوې وه، یو فتوی د دار العلوم کراچۍ نه هم راغلې وه کومه چې ستاسو په خدمت کې ارسال کولې شی، په دې سلسله کې ما د یو ګواه نه تپوس وکړو چې ته دا څنګه وائې چې طلاق ورکونکې د غصې د وجې نه بیهوش وو، آیا تاسو به قسم وخوری؟ په دې باندې ګواه وویل چې صوفی صاحب تاسو ته معلومه نه ده چې په صلح صفایۍ کې دروغ ویل جائز دی او د فساد د دفع کولو د پاره که یو سړې په دروغه قسم هم وکړی نو هغه ګناه نه ده،

---

(۱) قال العلامة الحصکفی : غموس تغمسه فی الاثم ثم النار وهی کبیرة مطلقا، قال العلامة ابن عابدین : مطلقا ای اقتطع بها حق مسلم اولا، وهذا رد علی قول البحر ینبغی ان تکون کبیرة اذا اقتطع بها مال مسلم او آذاه وصغیرة ان لم یترتب علیها مفسدة فقد نازعه فی النهر بانه مخالف لاطلاق حدیث البخاری الکبائر الاشراک بالله وعقوق الوالدین وقتل النفس والیمین الغموس. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۵۱ قبیل مطلب فی معنی الاثم.

شیخ سعدی رحمه الله فرمائی: دروغ مصلحت امیز به ازر استي فتنه انگیز، ما هغه ته وویل چې آیا تا چېرته د یو مفتی صاحب نه پوښتنه هم کړې ده چې په دې قسم ګواهۍ یا دا قسم معامله کې د دروغ ګواهۍ ګنجائش هم دې او که ستاسو خپل اجتهاد دې؟ اوس هغه غریب سره هم غم پیدا شوې دې، ستاسو د فتوی انتظار به وی چې په دې کیس کې د صلح او صفایۍ او د فع فساد دپاره په دروغه قسم ګنجائش شته یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: ګل محمد........ ۹ جولائی ۱۹۷۵ء

الجواب: محترم المقام السلام علیکم! د دې نه پس دې دا واضحه وی چې د حل او حرمت متعلق په دروغه قسم کول او دروغ ویل حرام دی (۱) په دې سره دا حرام نه حلالیږی او نه بالعکس، خو مظلوم لره دظلم نه د بچ کولو دپاره توریه یعنی ذوالوجهین کلام کول جائز دی، او د جائز اصلاح په وخت هم جائز ده. (۲) کما فی حدیث صحیح (۳) خو په کومه صلح کې چې حرام حلالولي شی نو هغه صلح بذات خود حرام او واجب الاجتناب وی (۴)

نوټ: د کراچۍ والا جواب صحیح دې خو هغوی د سکر (بیهوشۍ) حکم

---

۱) عن جابر بن عبد الله يقول: سمعت رسول الله ﷺ: يقول لا يحلف رجل على يمين آثما عند منبرى هذا ولو على سواك اخضر الا تبوا مقعده من النار، رواه ابوداؤد وابن ماجة والموطأ ومسند احمد. (المنتقى لابن الجارود النيشافورى ۳۴۴ باب ماجاء فى الايمان)

۲) قال العلامة الحصكفى: الكذب مباح لاحياء حقه ودفع الظلم عن نفسه والمراد التعريض لان عين الكذب حرام قال وهو الحق ... وفى الوهبانية قال وللصلح جاز الكذب او دفع ظالم. (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۵:۳۰۳ فصل فى البيع الحظر والاباحة)

۳) قال رسول الله ﷺ: ليس الكذاب الذى يصلح بين الناس فينمى خيرا او يقول خيرا. (صحيح البخارى ۱:۳۷۱ باب ليس الكاذب الذى يصلح بين الناس)

۴) قال رسول الله ﷺ: الصلح جائز بين المسلمين الا صلحاً حرم حلالاً او احل حراماً. (ابن ماجة ۲:۱۷۰ باب الصلح قبيل ابواب الشهادات)

لیکلې دي د مدهوش تفصیل ئې نه دې لیکلې زمونږ په جواب کې د مدهوش تفصیل موجود دې. وهوالموفق

چا ته د ووټ ورکولو قسم خوړل بیا خپله الیکشن کې حصه واخلی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید قرآن کریم له مخې ته کیښودلو او د الله پاک قسم کولو سره ئې حلفا وویل چې مونږ به ووټ چوهدری کونسلر ته ورکوو او د پخولو دپاره ئې درې کرته قسم وکړو، د دې مضبوط قول و قرار او قسم باوجود په دهوکې سره خپله په الیکشن کې اودریدلو سره چیئرمین منتخب شو، آیا په دې صورت کې دا زید د الله پاک د کلام د توهین مرتکب نه شو؟ آیا دا سړې فاسق کیدو سره د عوامو د نمائندګۍ اهل دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: چوهدری دوست محمد کونسلر راول ډیم اسلام آباد... ۱۹ اگست ۱۹۸۴ء

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت بغیر د څه مصلحت او بغیر د اذن شرعی (۱) دا اقدام منافقانه اقدام دې. لحدیث البخاری(۲) وهوالموفق

په قسم کې نیابت نه جاری کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د ځمکې په باره کې قسم وخوړلو او دا الفاظ ئې وویل چې دا زما په ما او زما په اولاد باندې خوړل حرام دی، د دې سړی دپاره څه حکم دې چې هغه د دې ځمکې نه

---

۱) عن عبد الرحمن بن سمرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: واذا حلفت علی یمین فرأیت غیرها خیراً منها فکفر عن یمینک وآت الذی هو خیر، متفق علیه وفی لفظ البخاری: فأت الذی هو خیر وکفر عن یمینک، رواه البخاری ۶۶۲۲ ومسلم الایمان ۱۹ وابوداؤد ۳۲۷۷.

۲) عن ابی هریرة قال: قال رسول الله ﷺ: آیة المنافق ثلاث اذا حدث کذب واذا وعد اخلف واذا اؤتمن خان، متفق علیه.

(مشکواة المصابیح ۱۸:۱ باب الکبائر وعلامات النفاق)

خوراک کولې شی یا نه؟ او حال دا چې د هغه اولاد بالغ دې نو آیا دا اولاد د خپل پلار د قسم په قید کې شامل دی یا نه؟ یعنی دا اولاد دا څمکه کرولو سره خوړلې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالرزاق.....٦ مئی ۱۹۷۵ء

الجواب: واضحه دې وی چې په قسم کې نیابت نه جاری کیږی، **کما صرحوا فی باب الوکالة بالخصومة**(۱) پس: پلار قسم به د پلار سره مخصوص وی دا حرمت به اولاد ته تجاوز نه کوی پس که پلار دا څمکه وکرله نو هغه به حانث وی او د قسم کفاره به اداکوی او که اولاد ئې کرونده وکړه نو هیڅ حنث او کفاره به پرې نه لازمیږی. **(لانه حرمها علیهم لانه اقسم علی فعلهم، فافهم)** وهوالموفق

په قرآن کریم (مصحف) باندې قسم خوړل معتبر دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی بل سړی ته وویل چې په قرآن کریم باندې قسم وکړه چې ته به د فلانی فلانی سره خبرې نه کوې او حال دا چې د دې قسم ورکونکی او فلانی ترمینځه دشمنی وه او د حالف او فلانی ترمینځه هیڅ ناچاقی نه وه، پس هغه په قرآن کریم باندې قسم وکړو خو د هغه په زړه کې وو چې د فلانی سره به خبرې کوی او فی الحال به قسم کوی چې د قسم کونکی د غضب او غصې نه بچ شی.

هغه سړې (مستفتی) ماته راغلو نو ما هغه ته وویل چې: **لا کفارة علیك لوجهین الاول ان الیمین بالقرآن لایکون یمینا فیکون داخلا فی الغموس، فافتی بعض العلماء بالکفارة فنسئل عنکم ان تشرفوا بما هوالمختار والحق عندکم؟ بینواتوجروا**

المستفتی: ع.غ.ف... مدرس منهاج العلوم نریاب.....۸ جون ۱۹۷۵ء

---

(۱) قال العلامة الحصکفی: وله تحلیف الموکل لا الوکیل لان النیابة لا تجری فی الیمین-
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۴۶۱:۴ باب الوکالة بالخصومة والقبض)

الجواب: لیعلم ان الحلف بالقرآن معتبر کما فی الدرالمختار علی هامش ردالمحتار۳: ۷۰: قال الکمال لا یخفی ان الحلف بالقرآن الآن متعارف فیکون یمینا(۱) والیمین المسئول عنها یمین منعقدة لانه علی امر مستقبل(۲) نعم هو هزل لاکنه لا یؤثر لقوله علیه السلام ثلاث جدهن جد وهزلهن جدالطلاق والعتاق والیمین(۳)۔ وهوالموفق

په قرآن کریم باندې قسم کول د متاخرینو په نزد معتبر دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په قرآن کریم باندې قسم کول څنګه دی؟ بعض خلق په دې باندې انکار کوی ددې لپاره شرعی حکم څه دې چې حق واضح او فتنه ختمه شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: قاضی حبیب السلام پیر سباق نوښهر ۱۲ اکتوبر ۱۹۸۳ء

الجواب: د متاخرینو په نزد په قرآن کریم باندې قسم کیدې شی

کما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۳: ۷۰ لا یقسم بغیر الله تعالیٰ کالنبی والقرآن والکعبة قال الکمال ولا یخفی ان الحلف بالقرآن الآن متعارف

---

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۵۶ مطلب فی القرآن کتاب الایمان)

۲) قال العلامة القدوری: والیمین المنقدة هی الحلف علی الامر المستقبل ان یفعله اولا یفعله فاذا حنث فی ذلک لزمته الکفارة- (اللباب فی شرح الکتاب ۴ ۱۰: ۳ کتاب الایمان)

۳) قال عبد الرزاق المهدی: قال الزیلعی فی نصب الرایة ۲۹۳: ۳ کذا ذکره المصنف النکاح والطلاق والیمین، وذکره الغزالی وصاحب الخلاصة: فجعل العتاق عوض الیمین وکلاهما غریب- وانما الحدیث: ثلاث جدهن جد وهزلهن جد: النکاح والطلاق والرجعة، هکذا اخرجه اصحاب السنن، ولم یخرجه النسائی اصلاً، اخرجه ابوداؤد ۲۱۹۴، والترمذی ۱۱۸۴، وابن ماجة ۲۰۳۹ والدار قطنی ۲۵۶: ۳، ۲۵، والحاکم ۱۹۸: ۲۰- (تثبیت اولی الالباب بتخریج احادیث اللباب ۱۰۵: ۳ کتاب الایمان)

فیکون یمیناً، انتهی وفی ردالمحتار ونقل فی الهندیة عن المضمرات وقد قیل هذا فی زمانهم اما فی زماننا فیمین وبه ناخذ ونأمر ونعتقد(۱). وهوالموفق

په قرآن کریم باندې لاس کېښودل قسم نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يو سړي په قرآن کریم باندې لاس کېښودلو سره خبره کړې ده، او په ژبې سره قسم وغيره هيڅ نه دی، آيا دا قسم دی؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: ایم ارشد محمود تحصیل پنډ داد خان

الجواب: په قرآن کریم باندې صرف لاس کېښودل قسم نه دی.(۲) وهوالموفق

په چا باندې د يوې خبرې منلو د پاره د چا په کور کې د قرآن کریم کېښودلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ما د زید نه قسم اخستلې وو چې زه به خپله لور په فلانی ښهر کې نه ورکوم، اوس د دې ښهر يو سړي قرآن کریم راوچت کړو او د زید کور ته ئې راوړلو او وې ويل چې د

(۱) (الدرالمختار مع ردالمحتار ۳:۵۶ مطلب فی القرآن)

(۲) قال العلامة ابن عابدین: (بعد ذکر عبارة العینی) وفیه نظر ظاهر اذالمصحف لیس صفة لله تعالیٰ حتیٰ یعتبر فیه العرف والالکان الحلف بالنبی والکعبة یمینا لانه متعارف... نعم لو قال اقسم بما فی هذا المصحف من کلام الله تعالیٰ ینبغی ان یکون یمیناً.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۵۶ قبیل مطلب تتعدد الکفارة لتعدد الیمین)
وقال الشاه اشرف علی التهانوی: که چېرې قرآن مجید ئې په لاس کې واخستلو یا ئې برې لاس کېښودو څه خبره ئې اوکړه خو قسم ئې اونه کړو نو قسم اونه شو.
(بهشتی زیور ۲۴۷ تیسرا حصه قسم کهانې کا بیان)

خپلې لور رشته مونږ ته راکړه، اوس د دې شرعي حکم څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولوی احمد گل بساله مانسهره ... ۷ فروری ۱۹۷٦ء

الجواب: د زید مرضی ده که غواړی نو په دې بنهر کې دې رشته ورکړی او که غواړی نه دې ورکوی، خو د ورکولو په صورت کې د قسم کفاره ورکول ضروری دی، والمسئلة من الواضحات فلاحاجة الی نقل العبارت.(۱)

نوټ: د زید په کور کې د قرآن کریم وړولو یا کیښودلو سره په رشته نه ورکولو سره هیڅ گناه او خطره نشته. (۲) وهوالموفق

قرآن کریم گواه جوړولو سره که د یو کار نه انکاروکړی نو دا قسم نه دې؟

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې کلام پاک په لاس کې نیولو سره دا ووائی چې دا کلام پاک گواه دې چې زه به بیا فلانې کار نه کوم، یعنی د دې گناه د کار نه د کلام پاک په ذریعه توبه وکړی او بیا څه موده پس هغه د گناه کار د هغه نه بیا وشی نو د دې شرعي حکم څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: ډاکټر ع، ح، د. سیناهال پشاور یونیورسټی ..... ۲٦ ستمبر ۱۹۸٤ء

الجواب: دا عوامی قسم دې د دې نه د خلاف کولو په صورت کې کفاره یا

---

(۱) قال العلامة ابن الساعاتی: ویمین منعقدة ان یحلف علی فعل او ترک فی المستقبل وتجب بالحنث الکفارة ان شاء اعتق رقبة او کسی عشرة مساکین کلا منهم ثوبا شاملا لبدنه فما زاد او ما تجزیٔ فیه الصلاة او اطعمهم کالفطرة الخ.
(مجمع البحرین وملتقی النیرین ۷۱۸ کتاب الایمان)

(۲) وقال الشاه اشرف علی التهانوی: که چیرې قرآن مجید ئې په لاس کې واخستلو یا ئې پرې لاس کیښودو څه خبره ئې اوکړه خو قسم ئې اونه کړو نو قسم اونه شو.
(بهشتی زیور ۲٤۷ تیسرا حصه قسم کهانې کا بیان)

کفر نه لازمیږی، خو توبه او استغفار لازم دی.(۱) وهوالموفق

قرآن کریم لره په سر باندې کیښودلو سره د ځمکې په حدود باندې ګرځیدل قسم نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې پنځویشت کاله وشو چې دوه ډلو خپله ځمکه تقسیم کړې وه، د دومره مودې تیریدلو نه پس یوې ډلې د چا په وینا باندې دوباره د تقسیم مطالبه وکړه چې مونږ ته کمه ځمکه راکړې شوې ده، فریق ثانی کوم چې ضعیف العمر او بوډا دې ووېل چې تقسیم صحیح شوې دې کنه نو پټواری راوغواړه او تقسیم وکړه، خو فریق اول د پټواری د خرچ د وجې نه د منصفی تقسیم ووېل، خو فریق ثانی انکار وکړو چې منصف رواداری کوی، په دې وخت کې یو دریم سړی چې انتهائی مفسد او چالاک انسان دې فساد او جنګ جګړې جوړول د هغه محبوب کار دې هغه ووېل چې تاسو قرآن کریم په سر کیږدئ او تاویدلو سره فیصله وکړئ، خو د دې نه دواړو ډلو انکار وکړو، بیا هغه مفسد ووېل چې زه دا کار کولې شم، او قرآن کریم په سر باندې کیښودلو او ګرځیدلو سره ئې ډیره ځمکه د فریق اول په نوم کړه، په دې وخت کې چې د فریق ثانی ځوی د بهر ملازمت (مزدوری) نه کور ته راغلو نو هغه دې ظلم ته کتلو سره دا نوی حدود پامال کړل او سابقه حدود ئې حال کړل په دې باندې هغه مفسد سړی ته علم وشو نو هغه د یو څو دروغژنو ملایانو په یو ځای کولو باندې دا فتوی ورکړه چې نوې حدود ماتونکی دې شپیتهٔ مسکینانو ته ډوډې ورکړي هغه د قران کریم توهین کړې دې، او عام خلقو هغه مفسد ته ووېل چې د قرآن کریم توهین تا کړې دې چې قرآن کریم دې په سر او ترخ کې نیولې دې او په پردو زمکو باندې ګرځیدلې ئې، اوس سوال دا دې چې د دې کسانو څه حکم دې او په هغوی باندې څه کفاره ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد اعظم ساکن چمن کوٹ آزاد کشمیر ... ۸ جولائی ۱۹۷۳ء

---

۱) قال العلامة الطحطاوی: قوله اشهد الله لا افعل یستغفر الله ولا کفارة وکذا اشهد ک واشهد ملائکتک لعدم العرف، قوله وکذا اشهد ک الخ ای فانه یستغفر الله تعالیٰ فیه ولا کفارة.(الطحطاوی علی الدرالمختار ۲:۳۳۲ کتاب الایمان)

الجواب: قرآن کریم په سر باندې کېښودلو سره ګرځېدل نه قسم دې او نه شهادت خو یو خبر مؤکد دې چې د هغې منل په فریق ثانی باندې ضروری نه دی. پس په فریق ثانی باندې ملامته ویل او په هغوی باندې کفاره واجب کول بې اصل او بې بنیاده خبرې دی

که د فلانئ سره مې نکاح وکړه نود قرآن کریم سره به مې نکاح کړې وی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې ووائی چې که ما د فلانئ جینئ سره نکاح وکړه نو نعوذ بالله ما د قرآن کریم سره نکاح وکړه یو بل سړې بیا وایي چې که ما د رفیعه سره نکاح وکړه نو معاذ الله د ﴿الحمدلله﴾سره به مې نکاح کړې وی،اوس شرعی حکم څه دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: جاوید ابراهیم پراچه تل ... ٤ربیع الثانی ... ۱٤۰۱ھ

الجواب: دا دواړه کسان دې توبه او استغفار وکړی او د نکاح او وادهٔ نه پس دې یوه یوه د قسم کفاره ورکړی. لمافی الهندیة۲/۶۰ولوقال ان فعل کذا فهو یهودی .... او نحو ذلك مما یکون اعتقاده کفرا فهو یمین استحسانا کذا فی البدائع(۱). وهوالموفق

د قسم په ارادې سره کلمه طیبه لوستل یمین دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د قسم خوړلو په وخت په قرآن کریم باندې قسم ونکړو بلکې کلمه طیبه لوستلو سره ئې وویل چې ﴿لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ﴾زه به دوباره دا کار نه کوم، نو آیا په قرآن کریم باندې د لاس کېښودلو نه بغیر کلمه طیبه لوستلو سره قسم کیږی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی سعید الرحمٰن سعید. ملاکنډ ایجنسی ... ۷ دسمبر ۱۹۷۵ء

---

۱) (فتاویٰ عالمګیریة ۲:۵٤ الباب الثانی فیما یکون یمینا وما لا یکون یمینا الفصل الاول)

الجواب: کوم سړي چې د قسم په اراده سره کلمه ولولی نو دا قسم دی. کما فی الهندیة ۲/۶۱، ولو قال لا اله الا الله لافعلن کذا فلیس یمین الا ان ینوی یمینا وکذلك سبحن الله والله اکبر کذا فی السراج الوهاج.(۱) وهوالموفق

د رسول الله ﷺ امتی به نه یم ویل قسم دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی داسې قسم وکړی چې د رسول الله ﷺ امتی به نه یم او د هغې نه پس د هغه هغه کار وشی چې د هغې نوعیت د ګناه دی، د دې قسم کفارې څه مسئله ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد انور شاه درګئ ملاکنډ ایجنسی

الجواب: چونکې د پیغمبر ﷺ د امتی کیدو نه براءت د ایمان نه انکار دی، لهذا دا الفاظ د قسم دی. او مخالفت د حانث کیدو په صورت کې د قسم کفاره ورکول ضروری دی. (ماخوذ از شامی ۳/۵۲) (۲) وهوالموفق

"که فلانې کار مې ونکړو نو د محمد ﷺ امتی به نه یم" قسم دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړي وویل که فلانۍ جامې مې واغوستلې نو زه به د محمد ﷺ امتی نه یم. بیا هغه سړی هغه جامې واغوندي نو آیا دا قسم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحیم متعلم حقانیة ...۲۱ مارچ ۱۹۸۵ء

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲:۵۵ الباب الثانی فیما یکون یمیناً ومالا یکون)

۲) قال العلامة الحصکفی: المصحف والقرآن وکلام الله یمین زاد احمد والنبی ایضا ولو تبرأ من احدها فیمین اجماعاً... وبرئ من الاسلام او القبلة او صوم رمضان اوالصلاة او من المؤمنین- قال ابن عابدین: (قوله اومن المؤمنین) لان البراءة منهم تکون لانکار الایمان خانیة- (الدرالمختار مع ردالمحتار ۳:۵۶،۵۷ مطلب تتعد الکفارة لتعدد الیمین)

الجواب: دا سړي دې د قسم کفاره ورکړي (۱) او دا سړې مسلمان دې کافر شوي نه دې، لان تعليق الكفر بالشرط يمين وسيجئ انه اعتقد الكفر به يكفر الخ كما في شرح التنوير (۲) يعتقدون اليمين دون شئ اخر. وهوالموفق

''که ما دا کار وکړو نو زه به کافر يم'' ددې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې که چا قسم وکړو چې که ما دا کار وکړو نو کافر به يم، بيا هغه سړي هغه کار وکړي نو د هغه حکم به څه وي؟ بينواتوجروا

المستفتی: مولانا عبدالحميد خواجه خيل ډاک طوطائی بونير ..... ۱۴ مارچ ۱۹۸۸ء

الجواب: که دا سړې بې علمه وي او دا عقيده ساتي چې په داسې قسم سره حانث کافر کيږي نو دا سړي به د مخالفت په صورت کې کافر وي، کنه نو کافر به نه وي (عالمگيری) (۳) وهوالموفق

---

۱) وفی الهندية: ولو قال انا برئ من النبی والقرآن فانه يكون يمينا كذا فی الكافی. (فتاوی عالمگيرية ۲:۵۳ الباب الثانی فيما يكون يميناً ومالا يكون)

۲) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۵۷ قبيل مطلب تتعدد الكفارة لتعدد اليمين)

۳) وفی الهندية: ولو قال ان فعل كذا فهو يهودی او نصرانی او مجوسی او برئ من الاسلام او كافر ... او نحوذلك مما يكون اعتقاده كفرا فهو يمين استحساناً حتی لو فعل ذلك الفعل يلزمه الكفارة وهل يصير كافرا اختلف المشائخ فيه قال شمس الائمة السرخسی والمختار للفتوی انه ان كان عنده انه يكفر متی اتی بهذا الشرط ومع هذا اتی يصير كافرالرضاه بالكفر وكفارته ان يقول لا اله الا الله محمد رسول الله وان كان عنده انه اذا اتی بهذا الشرط لا يصير كافراً لا يكفر. (فتاوی عالمگيرية ۲:۵۴ الباب الثانی فيما يكون يميناً ومالايكون)

که مې بیا دا کار وکړو نو کافر به یم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوې زنانه جامې وینځلې هغه ډیره ستړې شوه په دې وجه ئې د خولې نه دا الفاظ اوختل که ما بیا جامې ووینځلې نو زه به کافره یم، اوس د دې الفاظو څه حکم دې؟

بینواتوجروا

المستفتی: شمس الرحمٰن (متعلم حقانیة) پشاور.... ۵ محرم ۱۴۰۳ هجری

الجواب: دا د قسم الفاظ دی، لما فی الهندیة ۲: ۶۵ لو قال ان فعل کذا فهو یهودی او مجوسی او بریٔ من الاسلام او کافر فهو یمین استحساناً کذا فی البدائع(۱)۔ وهوالموفق

که ما په فلانی مسجد کې مونځ ورکړو نو زه به کافر یم قسم دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی ووېل که ما په فلانی مسجد کې مونځ ورکړو نو زه به کافر یم، بیا هغه هلته مونځ ورکړو اوس څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالحمید خطیب کرنالوی جیل...... یکم ذیقعده ۱۳۹۶ هـ

الجواب: دا سړې به د مونځ ورکولو نه پس حانث وی

کما فی الهندیه ۲: ۶۰: ولو قال ان فعل کذا فهو یهودی او نصرانی او مجوسی او بریٔ من الاسلام او کافر او یعبد من دون الله او یعبد الصلیب او نحو ذلك مما یکون اعتقاده کفرا فهو یمین استحسانا کذا فی البدائع حتی لو فعل ذلك الفعل یلزمه الکفارة وهل یصیر کافرا اختلف المشائخ فیه قال شمس الائمة السرخسی

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲:۵۴ الباب الثانی فی مایکون یمیناً ومالا یکون یمینا۔ ومثله فی البدائع الصنائع ۳:۱۶ کتاب الایمان)

رحمه الله والمختار للفتوی انه ان کان عنده انه یکفر متی اتی بهذا الشرط ومع هذا اتی یصیر کافراً لرضاه بالکفر وکفارته ان یقول لا اله الا الله محمد رسول الله وان کان عنده انه اذا اتی بهذا الشرط لا یصیر کافراً لا یکفر(۱). قلت: والظاهر من حال العلم العوام هو الثانی، وقلت ایضا الحدیث محمول علی التغلیظ لان مدار الکفر علی الانکار وما یقوم مقامه فافهم(۲). وهو الموفق

که زه کور ته راغلم نو مسلمان به نه یم قسم دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ما په کور کې په څه خبره باندې خفه کیدو سره وویل چې که زه کور ته بیا راغلم نو زه به مسلمان نه یم کافر به یم وغیره، اوس د شریعت په رڼا کې زما دپاره څه حکم دي؟ بینوا توجروا

المستفتی: ۱۵ جنوری ۱۹۷۵ء

الجواب: دا قسم دي، لهذا د حانث کیدو په صورت کې به کفاره ورکوی. **ما فی الهندیة۲/۶۰،** ولو قال ان فعل کذا فهو یهودی او نصرانی او مجوسی اوبرء

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲:۵۴ الباب الثانی فیما یکون یمیناً ومالا یکون)

۲) عن ثابت بن الضحاک قال قال رسول الله ﷺ من حلف بملة غیر الاسلام کاذبا فهو کما قال هذا حدیث حسن صحیح وقد اختلف اهل العلم فی هذا اذا حلف الرجل بملة سوی الاسلام قال هو یهودی او نصرانی ان فعل کذا وکذا ففعل ذلک الشیئ فقال بعضهم قد اتی عظیماً ولا کفارة علیه وهو قول اهل المدینة وبه یقول مالک بن انس والی هذا القول ذهب ابو عبید وقال بعض اهل العلم من اصحاب النبی ﷺ والتابعین وغیرهم علیه فی ذلک الکفارة وهو قول سفیان واحمد واسحاق.
(سنن الترمذی ۱:۱۸۶ ابواب النذور والایمان)

من الاسلام او کافر فهو يمين استحسانا (۱) وهوالموفق

د شرعی او آسمانی کتابونو نه د بری کیدو قسم خوړل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی غلا کوله ځو خله ونيول شو، بالآخر ځو کسانو هغه د يوې جرګې مخې ته پيش کړو، هغه د بيا دپاره د د غلا نه توبه وکړه او د جرګې په مخکې ئې ووېل چې که ما بيا دا کار وکړو نو زه به د شرعی او آسمانی کتابونو نه بری يم، د دې نه پس دوباره د دې جرم مرتکب شو، اوس د دې قسم کولو څه حکم دې؟ بينواتوجروا

المستفتی: نور زمان بفه هزاره.... ۳ جولائی ۱۹۷۸ء

الجواب: دا د قسم الفاظ دی او حانث شوې دې د قسم کفاره دې ورکړی، وفی الهندية ۲/۵۷، ولو قال ان فعلت كذا فانا برء من الكتب الاربعة فهو يمين واحدة (۲) وهوالموفق

که فلانی سره مې خبرې وکړې نو د مور سره به مې زنا کړې وی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی ووېل چې که د فلانی سره خبرې وکړم نو لکه مور سره چې زنا وکړم، اوس بعض خلق دا سړې فلانی سره په خبرو باندې مجبوروی، نو د خبرو اترو په صورت کې په زيد باندې څه کفاره لازم ده؟ بينواتوجروا

المستفتی: سيد ولی اعظم تور ورسک بونير.... ۱۹ ستمبر ۱۹۷۷ء

الجواب: دا د قسم الفاظ نه دی پس دا سړې د دې فلانی سره خبرې کولې شی، هم دغه شان دا الفاظ د ظهار سبب هم نه دی، (لعدم التشبيه) او نه د

---

۱) (فتاوی عالمگيرية ۲:۵۴ الباب الثانی فيما يكون يمينا ومالا يكون)
۲) (فتاوی عالمگيرية ۲:۵۷ الباب الثانی فيما يكون يمينا ومالا يكون يمينا)

ایلاء سبب دی، (لعدم ارادة زوجته فافهم_ وفی الهندیة: لو قال ان فعلت کذا فأنا زان او سارق او شارب خمر او کل ربوا فلیس بحالف ۵۵/۲ (۱) وهو الموفق

که فلانې کار مې وکړو نو ټول حلال څیزونه به په ما باندې حرام وی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې ووائی چې که ما فلانې کار وکړو نو ټول حلال څیزونه به په ما باندې حرام وی، اوس د دې قسم نه د وتلو څه طریقه ده؟ اوس دا سړې څه کفاره ورکولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرشید ارشد لاهور .... ۲۹ مئی ۱۹۷٤ء

الجواب: که دا سړې د مرګ نه مخکې هغه جائز کار وکړی نو حانث به نه وی او که په ټول ژوند کې ئې هغه کار ونکړې شو نو د ژوند په آخری وخت کې به حانث شی، او وارثان به د قسم کفاره ادا کوی، کنه نو ګناهګار به وی. (۲) هم دغه شان په عرف کې دا لفظ ماکول او مشروب ته یقینا شامل دې خو د جماع متعلق د دې نیت یا عرف معتبر دې که هغه نیت د ایلاء یا طلاق کړې وی نو هغه وخت به پرې د دې حکم مرتب کیږی، هذا اذا کان معروفین بالارادة، والتفصیل فی ردالمحتار ۸۹/۳ (۳) وهوالموفق

---

۱) (فتاویٰ عالمگیریة ۵۵ : ۲ الباب الثانی فیما یکون یمینا ومالا یکون یمیناً)

۲) قال العلامة الحصکفی : اما المطلقة فحنثه فی آخر حیاته فیوصی بالکفارة بموت الحالف ویکفر عن یمینه بهلاک المحلوف علیه.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۶۸ : ۳ قبیل مطلب استعملوا لفظ ینبغی بمعنی یجب)

۳) قال العلامة ابن عابدین :قال فی الهدایة ولو قال کل حل علی حرام فهو علی الطعام والشراب الا ان ینوی غیر ذلک...ولا یتناول المرأة [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

"که فلانې کار مې وکړو نو ټول حلال دې په ما حرام وي" دا قسم دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په جرګه کې ولیکل چې زه که فلانې کار وکړم نو په ما باندې به د الله پاک ټول حلال څیزونه حرام وی، بیا که هغه سړې قصدا د هغه کار ارتکاب وکړی، او وائی چې فکر نشته چې هر څه کیږی هغه کار به کوم، اوس د داسې سرکش او باغی ملزم دپاره په شریعت کې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی یعقوب خان خطیب وهاولی مظفر آباد کشمیر ..... ۱۹ مئی ۱۹۶۹ء

الجواب: په عرف کې دا لفظ ماکول او مشروب ته یقینا شامل دې، لهذا په هغه سړی باندې د یمین کفاره لازم ده، ﴿لانه اکل وشرب﴾ خو د جماع متعلق د دې نیت یا عرف معتبر دې، که هغه نیت د ایلاء یا طلاق کړې وی نو د ایلاء او طلاق حکم به پرې هم مرتب کیږی.

وهکذا اذا کان معروفین بالارادة، والتفصیل فی ردالمحتار ۳:۸۹ وفیه والحاصل ان المعتبر انصراف هذه الالفاظ عربیة او فارسیة الی معنی بلا نیة التعارف فیه فان لم یتعارف سئل عن نیته الخ(۱). وهوالموفق

د غوا د پيو، شلمبو او غوړو د خوراک نه نې قسم وکړو بيا نې د هغې د پيو نه پخ شوې چائې وڅښله؟

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی قسم

بقیه ازحاشیه گذشته] الا بالنیة لاسقاط اعتبار العموم واذا نواها کان ایلاء ... قلت ومقتضی قوله فانه یستعمل فیما یتناول عادة ان العرف کان اولا فی استعماله فی الطعام اوالشرب ثم تغیر ذلک الی عرف آخر وغلب استعماله فی الطلاق... والفتویٰ علی قول المتاخرین بانصرافه الی الطلاق البائن عاما او خاصا کما ذکرناه هناک-

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۷۱ مطلب کل حل علیه حرام)

(۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۷۱ مطلب کل حل علیه حرام)

وکړو چې زه به د غوا پي، شلمبې او غوړي نه خورم، آیا دا سړې د دې غوا د شیدو نه تیار کړې شوې چای استعمالولې شي؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی عبداللطیف کهوکهر ایبټ آباد......۱۰ ربیع الثانی ۱۳۹۶ھ

الجواب: د دې غوا د پیو نه تیاره شوې چائې څنبل په رواج او عرف کې د هغې نه خوراک کول دی او خوړل به شمیرلې شي لهذا د دې نه دې ځان وساتي (۱) **وهوالموفق**

ښځې له د لسو لبنتو وهلو قسم او د ایوب علیه السلام د حیلې کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړي د بیمارئ په حالت کې په غصه کې ښځې ته ووایې چې که زه صحت مند شوم نو قسم دې چې تا به لس لبنتې وهم، آیا دا سړې د سیدنا ایوب علیه السلام حیله کولې شي؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی عبدالعلی مهمند ایجنسی

الجواب: دا سړې (په دې حیلې سره) د حانث کیدو نه بچ شو، بری شو او که په دې وهلو کې په حقه وی نود آخرت د انتقام نه به هم بچ شي. (۲) **وهوالموفق**

---

(۱) وفی الهندیة: ولوحلف علی اکل شیئ لا یتأتی فیه المضغ بنفسه فأکل مع غیره فان کان مما یؤکل کذلک حنث فی یمینه نحو ان حلف ان لا یأکل اللبن فأکله بخبز او تمر او حلف لا یأکل هذا العسل فأکل کذلک یحنث فی یمینه.

(فتاوی عالمگیریة ۲:۸۱ الباب الخامس فی الیمین علی الاکل والشرب)

(۲) قال العلامة الحموی: قال الله تعالیٰ: (وخذ بیدک ضغثا فاضرب به ولا تحنث) هذا تعلیم المخلص لایوب علیه السلام عن یمینه التی حلف لیضربن امرأته مأة عود، وقد تعلق محمد بهذه الآیة فی مسائل الحیل،... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د امر مباح د پاره د قسم ماتولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په کلی کې دوه مسجدونه دی چې په هغې کې جتې او نیمچه ملایان امامان دی، د صدقه فطر په سلسله کې د دواړو امامانو د مقتدیانو سره اختلاف پیدا شو، دواړو متفقه طور ښکاره د پنځو عاقل، بالغ مسلمانانو په مخکې په قرآن کریم باندې قسم خوړلو سره وویل چې تر څو پورې دا خلق به مونږ ته درې حصې صدقه فطر نه راکوی مونږ به امامت نه کوو. یوه میاشت پس په قرآن کریم باندې قسم او خپل مینځ کې کړې لوظ ئې شاته ګزارولو سره امامت شروع کړو او د کلی والاخبره ئې ومنله، د دوی متعلق د لاندې لیکلې شوې سوالانو څه حکم دې؟

۱: د مسجد د امام د قرآن کریم قسم ماتول او لوظ ماتول د دنیاوی مفاد دپاره حانث کیدلو شرعا څه حکم دې؟

۲: دا امام به په حانث کیدو باندې څه کفاره ورکوی؟

۳: په قرآن کریم باندې دا قسم کوم قسم دې؟

۴: که امام دا کفاره ادا نه کړی او ضد کوی نو آیا د هغه اقتداء جائز ده؟

۵: په هغه پسې د کړې شوې مونځونو څه حکم دې؟

۶: د هغه دپاره څه تعزیر دې؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: مولوی محمد رفیق هزاره...... ۱۷ نومبر ۱۹۷۴ء

بقیه ازحاشیه گذشته] والخصاف لم یتعلق بها فی حیلة، قیل لان حکمها منسوخ، وعامة المشائخ علی ان لیس بمنسوخ وتکلموا فیما بینهم فی شرط البر فیه، قال بعضهم: ان یأخذ الحالف مأة عود ویسوی رؤوس الاعواد قبل الضرب.

(حموی علی الاشباه والنظائر ۲۹۴:۳ الفن الخامس الحیل)

الجواب: واضحه دې وی چې د صدقه فطر په څه حصه باندې امامت کول (یعنی په طریق اُجرت (مزدوری) یا عوض) امر مباح دې نه مامور به دې او نه منهی عنه دې، لهذا د دې قسم په ماتولو کې به گناه نه وی، خو کفاره ورکول ضروری دی.

کما فی الهندیة: ۲:۵۸ والمنعقدة فی وجوب الحفظ اربعة انواع، نوع منها یجب اتمام البر فیها وهو ان یعقد علی فعل طاعة امر به، او امتناع عن معصیة وذلک فرض علیه قبل الیمین وبالیمین یزداد وکادة (الی ان قال) ونوع یتخیر فیه بین البر والحنث، والحنث خیر من البر فیندب فیه الی الحنث، ونوع یستوی فیه البر والحنث فی الاباحة فیتخیر بینهما وحفظ الیمین اولیٰ کذا فی المبسوط لشمس الائمة([1]). وهوالموفق

د وروړ سره د تعلقات نه ساتلو قسم ماتول ضروری دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی قسم وکړې چې د نن نه پس به د خپل وروړ سره تعلقات نه ساتم، اوس د هغه نه مور هم خفه ده، اوس که په دې صورت کې دا سړې د خپل وروړ سره تعلقات بحال کړی او قسم مات کړی نو د هغه څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: انورعلی خان دامان چارسده... ۲۵ مارچ ۱۹۸۸ء

الجواب: د هغه سړی دپاره د دې قسم ماتول ضروری دی او په حانث کیدو باندې دې کفاره ورکړی، فی الدرالمختار ۳/۶۲ ومن حلف علی معصیة کعدم الکلام مع ابویه اوقتل فلان الیوم وجب الحنث والتکفیر.([2]) وهوالموفق

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲:۵۲ کتاب الایمان الا لباب الاول)

۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۶۸ قبیل مطلب استعملوا لفظ ینبغی بمعنی یجب)

د جماع نه د قسم کولو په صورت کښې به په لاس سره منی ویستلو باندې نه حانث کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې د یوې (پردی) جینۍ متعلق ما دا وویل چې که ما دې سره جماع وکړه نو نعوذ بالله ما د قرآن کریم سره جماع وکړه، یو کرت هم هغه جینۍ په کړکۍ کښې ولاړه وه ما هغې ته د راتلو وویل خو هغې انکار وکړو نو ما هلته د شهوت نه مغلوب کیدو سره مشت زنی وکړه هغه وخت زما په زړه کښې دا خبره وه چې ته خو نعوذ بالله د قرآن سره جماع کوې هم په دې وخت کښې رانه منی خارج شوه او ورسره په ما قیامت راغلو، اوس ستاسو نه تپوس کوم چې زما توبه به قبوله شی او که نه؟ او زما د پورته ویلې کلماتو څه حکم دې؟ زه کافر شوې خو نه یم؟ که څه وظیفه وی راته ولیکئ؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: و، ر، ش، تل هنگو ... ۲۶ شوال ۱۴۰۱ھ

الجواب: چونکې په لاس سره منی ویستلو سره د حرمت نه زنا نه ده، **لعدم صدق تعریف الزنا والجماع علیه** (۱) لهذا تاسو په دې قسم کښې نه یئ حانث شوې، او بهر حال د منی ویستلو په وخت چې کوم غلط خیال ستاسو په دماغو کښې راغلې وو په هغې سره کافر شوی نه یئ (۲) خو دا خیال په کثرت تعوذ او کثرت حوقله **(لاحول ولاقوة الا الله ویل)** سره زائل کول ضروری دی او که تاسو هغه جینۍ سره د نکاح نه پس جماع وکړه نو صرف د قسم کفاره ورکول به کافی وی. (۳) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الجرجانی: الزنی الوطء فی قبل خال عن ملک وشبهة. (التعریفات للجرجانی ۸۳ باب الزای) وهکذا فی البحر الرائق ۳:۵)

۲) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ان الله تجاوز عن امتی ما وسوست به صدورها ما لم تعمل به او تتکلم، متفق علیه. (مشکواة المصابیح ۱۹:۱ باب فی الوسوسة)

۳) قال العلامة الحداد الیمنی: والیمین المنعقدة هی الحلف. [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

په قسم کې په حانث کېدو باندې کفاره واجب ده

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې یو سړی قسم وکړو چې زه به په دې امام پسې مونځ نه کوم، ځکه چې هغه علماء کرامو ته کنځلې کړې دی، بیا ئې د امام سره د صفایئ په طور خبرې اترې وشوې نو هغه امام انکار وکړو او ویې ویل چې ما غلطو ملایانو ته کنځلې کړې دی او بیا مې په دې امام پسې مونځ شروع کړو، د دې قسم کولو څه حکم دې بینواتوجروا

المستفتی: سید عبدالرحمن الوچ......۲۶ شوال ۱۳۸۹ھ

الجواب: دا سړې حانث شوې دې او په هغه باندې کفاره ورکول ضروری دی. (۱) وهوالموفق

د حانث کېدو په صورت کې کفاره ورکول لازمی دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی او زما ترمینځه د ځمکې مقدمه روانه وه، د علاقې معززین د جرګې په ذریعه چې د هغې مشری محمد عرفان چیئرمین یونین کونسل کوله او زمونږ ترمینځه ئې صلح وکړه، او مونږ دواړو ته ئې په قرآن کریم باندې حلفیه لیک راکړو چې مونږ دواړه به د بیا دپاره د یو بل سره د هیڅ قسم شرارت ابتداء یعنی مقدمه بازی وغیره نه کوو، پس ما د هغه حلف نامې خیال ساتلو سره کم از کم لس زره روپئ نقصان برداشت کړو او هیڅ قسم مقدمه کې مې حصه وانخستله،

...بقیه ازحاشیه گذشته] علی الامرالمستقبل ان یفعله او لا یفعله فاذا حنث فی ذلک لزمته الکفارة.

(الجوهرة النیرة ۲:۲۸۷ کتاب الایمان)

۱) قال العلامة المودود الموصلی: واذا حنث یعنی فی الایمان المستقبلة فعلیه الکفارة لقوله تعالیٰ: ولکن یؤاخذ کم بما عقدتم الایمان.

(الاختیار لتعلیل المختار ۲:۲۸۸ کتاب الایمان)

خو فریق مخالف د دې قسم خیال ونه ساتلو او په دویمه ورځ ئې د مقدمې چلولو ابتداء وکړه، لهذا مجبورا ما هم جوابی کارروائی شروع کړه، اوس دې قسم څه حکم دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد جعفر خان بیروټ مری...... ۱۹۶۹ء | ۸ | ۱۲

الجواب: د مخالف سړي په مقدمه چلولو کې د مخکې کیدو د وجې نه مجرم او حانث دې د هغه دپاره ضروری ده چې کفاره ورکړی

وفی ردالمحتار ۳: ۷۰ ونقل فی الهندیة عن المضمرات وقد قیل هذا فی زمانهم اما فی زماننا فیمین وبه نأخذ ونأمر ونعتقد وقال محمد بن مقاتل الرازی انه یمین وبه اخذ جمهور مشائخنا، انتهی (۱). وهوالموفق

د قسم د فدیه کیفیت

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ یو دوست په قرآن کریم باندې قسم خوړلې وو چې زنا به نه کوم، خو د شیطان په دهوکه کولو سره هغه نه دا گناه وشوه اوس هغه ډیر پریشان دې په دې قرآن باندې د قسم څه حل دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: نور حسین رسالپور چهاؤنی نوښهر

الجواب: فی الحال دې دا سړې لسو مسکینانو ته ډوډئ ورکړی یا لسو مسکینانو ته غله یا دې ورته د هغې قیمت ورکړی یعنی هر یو مسکین ته پاؤ کم دوه سیره (انگریزی) غنم یا دې د هغې قیمت ورکړی. که هغه سره مال نه وی فقیر وی نو درې ورځې روژې دې پرلپسې اونیسی. (۲) او د بیا دپاره دې د دې قبیح کار نه بالکل پرهیز وکړی. وهوالموفق

---

(۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۵۶ مطلب فی القرآن کتاب الایمان)

(۲) وفی الهندیة: الکفارة هی احد ثلاثة اشیاء ان قدر عتق رقبة یجزی فیها ما یجزی فی الظهار او کسوة عشرة مساکین لکل واحد ثوب فما زاد... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د قسم په کفاره کې لسو مسکینانو ته د پیسو یا طعام د ورکولو کیفیت او مقدار

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د قسم په کفارې سره ذمه څنګه فارغیږي؟ څومره مسکینانو ته خوراک ورکول لازمی دي؟ که یو حاجتمند ته د ټولو مسکینانو خوراک په یو ځل ورکړې شي نو د هغې څه حکم دې؟ بله دا چې که حانث هغه رقم یو سړي ته ورکړي چې دا پیسې زما د طرف نه د قسم د کفارې په طور په مسکینانو ووېشئ اوخره نو آیا ذمه فارغیږي؟ بینواتوجروا

المستفتی: رحیم الله باچا... اضاخیل پالا نوښهر

الجواب: الف : کوم سړي چې په طعام سره کفاره ورکول غواړي نو دا سړې به لسو مسکینانو ته اصالة یا وکالة غله یا د هغې قیمت ورکوي، هر یو مسکین ته د صدقة الفطر مقدار (پاؤ کم دوه سیره غنم یا د هغې قیمت) نه کم به نه ورکوي او دا هم جائز ده چې لسو مسکینانو ته اصالة یا وکالة سحر او مابنام دوه وخته خوراک ورکړي که کم وي او که زیات.

فی الهندیة ۲ : ۷۰ طعام التملیك ان یعطی عشرة مساکین کل مسکین نصف صاع من حنطة اودقیق اوسویق اوصاعا من شعیر کما فی صدقة الفطر (وقالوا بعداسطر) وطعام الاباحة اکلتان مشبعتان غداءً وعشاءً الخ(۱).

ب : که یو مسکین ته ئې په یو کرت ټوله کفاره ورکړه یا د هغې قیمت اصالة یا وکالة ورکړي نو دا به ناکافی وي او که په لسو ورځو کې روزانه دې یو

بقیه ازحاشیه گذشته] وادناه ما یجوز فیه الصلاة او اطعامهم والاطعام فیها کالاطعام فی کفارة الظهار... فان لم یقدر علی احد هذه الاشیاء الثلاثة صام ثلاثة ایام متتابعات وهذه کفارة المعسر والاولیٰ کفارة الموسر- (فتاویٰ عالمگیریة ۲ : ۶۱ الفصل الثانی فی الکفارة)

۱) (فتاویٰ عالمگیریة ۲ : ۶۳ الفصل الثانی فی الکفارة)

مسکین ته ورکوی نو دا صحیح ده. لما فی الهندیة: ولو اعطی مسکینا واحدا عشرة اثواب مرة واحدة لم یجزیه کما فی الطعام وان اعطاه فی کل یوم ثوبا حتی استکمل عشرة اثواب فی عشرة ایام اجزأه کما فی الطعام (وفیها ایضاً) رجل اعطی کفارة یمینه مسکینا واحداً خمسة اصواع (من الحنطة) لم یجز الا اذا اعطی مسکینا واحداً فی عشرة ایام فیقوم عدد الایام مقام عدد المساکین (۱). وهو الموفق

د قسم د کفارې په روژو کې تسلسل ضروری دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړې په قسم کې حانث شی او په کفاره کې روژې نیسی نو آیا په دې کې هم تسلسل یعنی تتابع ضروری دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: اسحاق جنرل ستور بټ خیله.....۲۱ مارچ ۱۹۸۵ء

الجواب: د قسم د کفارې په روژو کې تسلسل ضروری دې د قضاء کولو په صورت کې به د سره روژې نیسی

وفی الهدایة فصل فی کفارة الیمین ۲: ۴۶۱ فان لم یقدر علی احد الاشیاء الثلاثة صام ثلاثة ایام متتابعات... ولنا قراءة ابن مسعود رضی الله عنه فصیام ثلاثة ایام متتابعات وهی کالخبر المشهور (۲). وهو الموفق

د قسم په کفاره کې تداخل، خوراک یا جامې ورکولو په صورت کې قیمت ورکول او د نذر د قیمت ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: زید قسم وکړو چې بیا دپاره به فلانې کار نه کوم، خو ډیر کرته حانث شو، نو زید به د یو قسم کفاره ورکوی او که د جدا جدا؟

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲: ۶۲،۶۳ الفصل الثانی فی الکفارة)

۲) (هدایة ۱: ۴۶۰ فصل فی الکفارة کتاب الایمان)

۲: که زید د یمین په کفاره کې د طعام او لباس ورکولو په صورت کې د دې دواړو څیزونو قیمت یعنې پیسې ورکړي نو آیا صحیح ده؟

۳: که یو سړی نذر ومني چې زه به د الله پاک په لاره کې یو دیګ پخوم نو که چاته د دیګ قیمت ادا کړي آیا دا صحیح ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: خورشید احمد اداره تحقیقات اسلامی اسلام آباد.... ۱۳ رمضان ۱۴۰۵ھ

الجواب: ۱: د امام محمد رحمه الله په نزد دا تداخل صحیح دي او ډیرو فقهاء کرامو دې ته اصح ویلې دي. (شامی ۳/۷۳، مطبع مصطفی البابی الجلی) (۱)

۲: د دوه سیره (انګریزی) غنمو قیمت معتبر دی نه دجامې قیمت، کمافی رد المحتار ۲/۲۸۶، باب زکاة الغنم (۲) پس نیم من غنم په لسو مسکینانو باندې مساوی تقسیمول کافی دی.

۳: صحیح ده. کمافی ردالمحتار ۲/۲۸۲، فلراجع (۳) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: وفی البغیة کفارات الایمان اذا کثرت تداخلت ویخرج بالکفارة الواحد ة عن عهدة الجمیع وقال شهاب الائمة هذا قول محمد قال صاحب الاصل هو المختار عندی.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۵۷ مطلب تتعدد الکفارة لتعدد الیمین)

۲) قال العلامة الشامی: ذکره فی غایة البیان کما قدمناه معللا بان معنی القربة فیه اتلاف الملک ونفی الرق وذلک لا یتقوم قلت وینبغی استثناء الکسوة ایضا لما فی البحر عن الفتح بخلاف ما لو کان کسوة بان أدی ثوبا یعدل ثوبین لم یجز الا عن ثوب واحد الخ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۲۴ باب زکاة الغنم)

۳) وفی الشامیة قوله جاز دفع القیمة فی ...ونذر) کان نذر ان یتصدق بهذا الدینار فتصدق بقدره دراهم او بهذا الخبز فتصدق بقیمته جاز عندنا کذا فی فتح القدیر.

(الشامیة علی هامش الدرالمختار ۲:۲۴ باب زکاة الغنم)

د قسم په ډېرو کفاراتو کې د تداخل مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې په زرو قسمونو کې حانث شوې دې، آیا په دې سړی باندې به زر کفارې وی او که یوه د قسم کفاره؟ یعنی په دې کفاراتو کې تداخل جائز دې یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: فرید الله شریک دوره حدیث حقانیه ..... ٦ ربیع الثانی ١٤٠٢هـ

الجواب: او په کفاراتو کې تداخل کولې شی،

کما فی ردالمحتار هامش الدر ٧١:٣ وفی البغية كفارات الايمان اذا كثرت تداخلت ويخرج بالكفارة الواحدة عن عهدة الجميع وقال شهاب الائمة هذا قول محمد قال صاحب الاصل هو المختار عندی (١)۔ وهو الموفق

په حق او صحیح امر باندې قسم کول جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې بعض خلق وائی چې په دنیاوی معاملاتو کې قسمونه خوړل اگر که جائز ولې نه وی صحیح نه دی خو په داسې معاملاتو کې چې په جائز قسمونو خوړلو سره (کوم چې شرعا ناجائز وی) ذاتی عزت او ذاتی مال او جائیداد برقرار ساتلې کیدې شی، هم دغه شان فتنه ختمیدلې شی نو په دې صورت کې به د قسم څه حکم وی؟

بینواتوجروا

المستفتی: عبدالحمید ایس وی کهوئی بهار ایف آر. دی آئی خان ... ٤ ذیقعده ١٣٨٩هـ

الجواب: په احادیثو کې قسم خوړلو (چه په حق باندې وی) هیڅ وعید نه دې راغلې، خو د دې ترغیب موجود دې چې یو سړې حقدار وی او هغه جګړه

---

١) (ردالمحتار هامش الدر المختار ٣: ٥٧ مطلب تتعدد الكفارة لتعدد اليمين)

پریږدي او ختم کړي نو د هغه دپاره په جنت کښ کور تیارولي شي (۱) لهذا داسې کول غوره دي خو واجب نه دي او د ګناه سبب نه دې. وهوالموفق

یمین مباح امر دې چې کله د دروغو نه خالي وي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښ چې زید دا عقده ساتی چې حلف او قسم خوړل سنت دی یعنی العیاذبالله رسول الله ﷺ خوړلي دي او بکر د دې عقیدې مخالف دې چې حلف بغیر د ضرورت نه د رزق او قبر د تنګسیا سبب دې، په دې دواړو کښ د چا عقیده صحیح ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد ثناء الله کتوزئی.... ۲۵ جولائی ۱۹۷۵ء

الجواب: قسم مباح کار دې خو چې کله د دروغو نه خالي وي. (۲) وهوالموفق

...

---

۱) عن ابی امامة قال قال رسول الله ﷺ انا زعیم ببیت فی ربض الجنة لمن ترک المراء وان کان محقا وببیت فی وسط الجنة لمن ترک الکذب وان کان مازحا وببیت فی اعلی الجنة لمن حسن خلقه.
(سنن ابی داؤد ۲:۳۱۳ طبع مکتبه امدادیه باب حسن الخلق)

۲) قال العلامة ابن عابدین: والیمین بالله تعالی لا یکره وتقلیله اولی من تکثیره.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۵۰ مطلب فی یمین الکافر)

بسم الله الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

(شپږم جلد)

باب ما یتعلق بالنذر

....

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوي ديوبند پاکستان

المعروف به

فتاوی فریدیه

باب ما يتعلق بالنذر

قال رسول الله ﷺ:
لا نذر في معصية
وكفارته كفارة اليمين.

(رواه الترمذي والنسائي)

....

باب مایتعلق بالنذر

د نذر د صحیح کیدو دپاره د عباداتو په شان نیت او اراده ضروري ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ماته چا د اوابین څلور رکعته ښودلې دی اگر چې دی شپږ رکعتونه، بیا ماته څه وسوسې پیدا شوې، بهر حال ما د دې څلورو رکعتونو متعلق وویل چې په ما باندې دا څلور رکعتونه فرض دی تول عمر به دا ادا کوم. هم دغه شان د سحر د دوارو سنتو متعلق هم ما دا الفاظ ویلې وو چې دا به په ما باندې تول عمر فرض وی. اوس د دې شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: فضل الرحمن چمن بلوچستان.... ۲۴ مئی ۱۴۰۱ھ

الجواب: په دې الفاظو سره هر دواړه مونځونه په دې سړی باندې واجب شوي دی، **لوجود کنایة النذر،** خو د نذر په صحت کې د نورو عباداتو په شان نیت ضروري دې (۱) پس که د دې سړی په دې الفاظو باندې د تلفظ په وخت د نذر اراده وه نو دا مونځونه په هغه باندې واجب نه دی. (۲) **لحدیث انما الاعمال بالنیات** (۳) **وهوالموفق**

---

(۱) قال العلامة ابن نجیم: وانما اشترطت النیة فی العبادات بالاجماع اوبآیة: وما امروا الا لیعبدوا الله مخلصین له الدین حنفاء... واما فی العبادات کلها فهی شرط صحتها الا الاسلام الخ. (الاشباه والنظائر علی صدر الحموی ۱:۶۹،۷۱ لا ثواب الا بالنیة)

(۲) قال الشیخ علی حیدر: ان الالفاظ الصریحة لا تحتاج الی نیة ویکفی حصول الفعل لترتب الحکم علیها... اما فی الالفاظ غیر الصریحة فیختلف حکم اللفظ الواحد باختلاف مقصد الفاعل الخ. (درر الحکام شرح المجلة ۱:۱۹،۲۰ المادة:۲)

(۳) (رواه البخاری ۱/۲، ومسلم باب الامارة ۱۵۵، وابوداؤد باب الطلاق، والترمذی ۱۶۲۷، والنسائی باب الطهارة ۵۹۰، وابن ماجه ۴۲۲۷، ومسند احمد ۱/۲۵)

ټول عمر د روژې نيولو يا مونځ کولو يا د مور
پلار د مرګه پورې د نکاح نه کولو نذر منل

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی وويل چې ۱: که ما دا کار وکړو نو په ما باندې ټول عمر روژې يا مونځونه ادا کول دي يا د دوه مياشتو يا څلورو مياشتو روژې يا ئې دا وويل چې زه به د هميشه دپاره نکاح نه کوم؟ ۲: يا ئې دا وويل چې زه به د مور يا د پلار د مرګه پورې نکاح نه کوم اوس د دې نذر نه د وتلو څه لاره ده؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: عبدالواحد افغاني..........٤ جولائی ۱۹۷۲ء

الجواب: (۱) قال في الهداية ۲:۴۶۳ اذا قال ان فعلت كذا فعلي حجة اوصوم سنة اوصدقة مال املكه اجزأه من ذلك كفارة يمين وهوقول محمد ويخرج عن العهدة بالوفاء بما سمى ايضاً وهذا اذا كان شرطا لايريد كونه الخ(۱)۔ (۲) لاحرج في النكاح لعدم اليمين والنذر وغيره۔ وهوالموفق

چه کله لفظ نذر يا صيغه د لزوم نه وی نو نذر شرعی نه دی

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې آيا په عربۍ ژبه کې د نذر منلو الفاظ دا دي (لله علي ان افعل كذا) خو په پښتو کې مونږ داسې وايو چې که دا بيمار ښه شو يا فلانې کار وشو نو زه به دا چيلی وغيره صدقه کوم، يعنی لفظ د صدقې استعمالوو د نذر لفظ نه استعمالوو او حال دا چې په نيت کې مو هم دا وو چې دا به ذبح کوو نو ماشومان به ئې هم خوری او خپله او په فقراء باندې به ئې هم خوری او يا په دې کې د يو څيز نيت هم نه وی نو په دې صورت کې به دا نذر وی يا صدقه؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: گل فراز.... يکم فروری ۱۹۷۵ء

---

۱) (هداية ۲:۴۶۱،۴۶۲ قبيل باب اليمين في الدخول والسكنى)

الجواب: په ظاهره کې دا صدقه ده نذر نه دې. **لعدم صیغة اللزوم ای علی** یعنی په ما باندې (۱) **وهوالموفق**

که لفظ د نذر یا صیغه د لزوم نه وی نو دا عوامی نذر دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو مریض وویل چې که الله پاک ماته شفاء راکړه نو زه به څه طعام د الله پاک په نوم ورکوم کوم چې به غریب او مالدار ټول خوری د دې نذر څه حکم دې؟ بله دا چې دا نذر مالدار خلق خوړې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سعید الرحمن متعلم حقانیه ... ۳ صفر ۱۴۰۳ هجری

الجواب: چونکې دې سړی خو نه د نذر لفظ استعمال کړو او نه ئې د لزوم صیغه استعمال کړې ده لهذا د قواعدو په رڼا کې دا عوامی نذر دې اسلامی نذر نه دې. (۲) **وهوالموفق**

که کاروبار مې کامیاب شو نو هر کال به حج کوم، شرعی نذر نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی وویل که زما کاروبار الله پاک کامیاب کړو نو زه به هر کال حج کوم، اوس د هغه

---

(۱) قال العلامة ابن البزاز الکردری: ان عوفیت صمت کذا لم یجب مالم یقل لله علی، وفی الاستحسان یجب وان لم یکن تعلیقا لا یجب قیاسا واستحسانا کما اذا قال انا احج فلا شیئ ولو قال ان فعلت کذا فانا احج ففعل یجب علیه الحج ان سلم ولدی اصوم ما عشت فهذا وعد-(فتاوی بزازیة علی هامش الهندیة ۲۷۲:۴ الثالث فی النذر)

(۲) وفی الهندیة: ولو قال ان عوفیت صمت کذا لم یجب حتی یقول لله علی وهذا قیاس وفی الاستحسان یجب وان لم یکن تعلیق لا یجب علیه قیاساً ولا استحساناً کذا فی الظهیریة-(فتاوی عالمگیریة ۲۱۰:۱ قبیل الباب السابع فی الاعتکاف)

کاروبار کامیاب شوې دې نو آیا دا نذر صحیح دې یا نه؟ او هغه وائی چې زما نیت د نذر نه وو هسې د شکر په طور مې ویلې وو؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا (مفتی) محمد سردار مقیم دار العلوم کراچی یکم جمادی الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: په صورت مسئوله کې نه د نذر لفظ موجود دې او نه د لزوم لفظ (علی د دې ترجمه) موجود ده پس دا وعده د نذرشرعی نه ده. (۱) وهوالموفق

که الله پاک مې خوی ته صحت ورکړو نو دا غوا به خیرات کوم نذر نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید بیمار وو، د هغه مور وویل چې که الله پاک هغه ته شفاء ورکړه نو زه به دا معینه غوا خیرات کوم، اوس د صحت مند کیدو نه پس زید د دې معین غوا قیمت ورکولې شی؟ د خیرات په صورت کې ئې خپله خوړې شی؟ مور ئې لفظ د خیرات ویلې وو آیا دا نذر دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد افضل متعلم دوره حدیث حقانیه..... یکم ربیع الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: دا امر نذر شرعی نه دې لعدموجود کلمة الالتزام (۲) پس دا زنانه د دې خیرات په کولو او نه کولو کې صاحب اختیار دی یعنی د دې غوا په

---

(۱) قال العلامة ابو اللیث السمرقندی: النذر ایجاب عن الفعل المباح علی نفسه تعظیما لله تعالیٰ بذکر اسمه، وایجاب العبد معتبر بایجاب الله تعالیٰ حتی لو قال لله علی صوم اوصلاة یصح نذره، ولو قال علی تسبیح وتهلیل وتحمید لا یصح نذره، ولو قال لله علی حج او صوم سنة یلزمه فیجب الوفاء به ان علق نذره وبشرط بان قال: ان فعلت کذا فعلی حجة او صوم سنة ففعل فعلیه الوفا بنفس النذر. (فتاویٰ النوازل ۲۴۲ فصل فی النذر)

(۲) وفی الهندیة: ولو قال ان عوفیت صمت کذا لم یجب حتی یقول لله علی وهذا قیاس وفی الاستحسان یجب وان لم یکن تعلیق لا یجب علیه قیاساً ولا استحساناً کذا فی الظهیریة. (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۱۰ ... [بقیه حاشیه برصفحه آئنده

خیرات کولو یا د هغې د قیمت په خیرات کولو او د هغه خیرات نه په خوړلو او نه خوړلو کښې. وهوالموفق

په خپل خان باندې د کټې څه حصه مقرر کول او د هغې نه د رجوع کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په خپل ځان باندې د کټې نه لسمه حصه د الله پاک دپاره مقرر کړې خو ورسره دا هم ووائی چې دا لسمه حصه په ما باندې نذر نه وو آیا دا سړې د خپل قول نه رجوع کولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: حبیب الرحمن مدینة المنورة.... ۳ مارچ ۱۹۸۵ء

الجواب: دا قول نذر شرعی دې، لانه نفاه بنفسه. د هغې نه رجوع او واپسی مطلوب ده او نه ممنوع ده. وهوالموفق

که هلک کور ته واپس راغلو نو جینئ به په غریبه کورنئ کې ورکوم. شرعی نذر نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی نذر ومنلو چې که زما ورک شوې ځوی کور ته راغلو نو زه به خپله لور په یو غریب خاندان کې چې د خاندان نه بهر په نکاح ورکوم، اوس هلک واپس کور ته راغلو نو آیا دا نذر کونکې خپله لور داسې پردی او غریب خاندان کې ورکولې شی د چا چې ئې نذر منلې وو؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالقیوم لیو دربند مانسهره.... ۱۴ رمضان ۱۴۰۵ھ

...بقیه ازحاشیه گذشته] قبیل الباب السابع فی الاعتکاف)

وقال ابن البزاز الکردری :ان عوفیت صمت کذالم یجب مالم یقل لله علی ،وفی الاستحسان یجب، وان لم یکن تعلیقا لا یجب قیاساً واستحسانا کما اذا قال انا احج فلا شیئ ولو قال ان فعلت کذا فانا احج ففعل یجب علیه الحج ان سلم ولدی اصوم ماعشت فهذا وعد.

(فتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ۴:۲۷۲ الثالث فی النذر)

الجواب: نکاح کول عبادت دي خو په نکاح ورکول یا په غیر مناسب ځای کې په نکاح ورکول عبادت نه دي امر مباح دي، بهر حال دا نذر نذر شرعی نه دي. (۱) دا سړي خپله لور باقاعده په خاندان یا غیر خاندان کې ورکولې شي وهوالموفق

په نذر کې د فقهاء کرامو بعض عبارتونه په اختصار محمول دی

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی وویل که الله پاک زما کاروبار کامیاب کړو نو زه به هر کال حج ادا کوم، اوس د هغه سړی دحج کار کامیابیدلو سره روان دي، نو آیا دا نذر دي؟ او حال دا چې هغه سړي وائی چې زما نیت د نذر نه وو هم داسې د شکریه ادا کولو نیت مې وو، د دې نذر څه حکم دي؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا مفتی محمد سردار

مقیم دارالعلوم کراچی.... یکم جمادی الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: په صورت مسئوله کې چونکې نه د نذر لفظ موجود دي او نه د لزوم لفظ (عَلَیّ یا د دې ترجمه) موجود دي پس دا وعده د نذر شرعی نه ده (۲) د فقهاء کرامو هغه عبارتونه چې په هغې کې لفظ د نذر یا کلمه د لزوم نه وی هغه به په اختصار باندې محمول کولې شي. **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: الاشارة الی ما ذکره من ان ما لیس من جنسه فرض لا یلزم وعبارة الدرر المنذور اذا کان له اصل فی الفروض لزم الناذر کالصوم والصلاة والصدقة والاعتکاف وما لا اصل له فی الفروض فلا یلزم الناذر کعیادة المریض وتشییع الجنازة ودخول المسجد وبناء القنطرة والرباط والسقایة ونحوها هذا هو الاصل الکلی.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۷۴ مطلب فی احکام النذر)

۲) قال العلامة ابن عابدین: فی الخانیة قال ان برئت من مرضی هذا ذبحت شاة فبریٔ لا یلزمه شیئ الا ان یقول فلله علی ان اذبح شاة ... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

که فلانې کار مې وکړو نو زر روژې به نیسم.

د حانث کیدو په صورت کې به د یمین کفاره وی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو طالب علم وویل چې زه به د چا غیبت نه کوم که او مې کړې نو قسم خورم چې زر روژې به نیسم، وروستو زید غیبت وکړو اوس څومره روژې لازم دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: شیر علی مدرسه حسینیه نورک وزیرستان ... ۲ ربیع الاول ... ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا سړې د قسم په کفاره (مثلا درې روژو) سره فارغ الذمة کیدې شی. لما فی الهندیة وان علق بشرط لا یرید کونه کدخول الدار او نحوه یتخیر بین الکفارة وبین عین ما التزمه، وروی ان اباحنیفة رجع الی التخییر ایضاً وبهذا کان یفتی اسماعیل الزاهد قال رضی الله عنه وهواختیاری ایضاکذافی

بقیه ازحاشیه گذشته] وهی عبارة متن الدرر وعللها فی شرحه بقوله لان اللزوم لا یکون الا بالنذر والدال علیه الثانی لا الاول، فافادان عدم الصحة لکون الصیغة المذکورة لا تدل علی النذر ای لان قوله ذبحت شاة وعد لا نذر ویؤیده ما فی البزازیة لو قال ان سلم ولدی اصوم ماعشت فهذا وعد ولکن فی البزازیة ایضا ان عوفیت صمت کذا لم یجب مالم یقل لله علی وفی الاستحسان یجب.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۷۶ قبیل مطلب النذر غیر المعلق لا یختص بزمان ومکان)

وفی الهندیة: ولو قال ان عوفیت صمت کذا لم یجب حتی یقول لله علیّ وهذا قیاس وفی الاستحسان یجب وان لم یکن تعلیق لا یجب علیه قیاسا ولا استحسانا کذا فی الظهیریة. (فتاوی عالمگیریة ۱:۲۱۰ الباب السادس فی النذر)

المبسوط وهذا التفصيل هو الصحيح كذا في الهداية(۱)۔ وهوالموفق

د نذر په طور په خپل ځان باندې د حلال څیزونو د حرامولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ما د الله پاک سره وعده کړې وه چې الله تعالی ماته د بیمارئ نه صحت راکړی نو په خپله خوشحالئ سره به خپله مرغوب خوراک (سیخ تیکه، غوښه په سیخ ورته کړې شوې) خوراک پریږدم، اوس زه د الله پاک په فضل سره ښه شوې یم او د دې بیمارئ د ختمیدلو امید دې اوس مسئله دا ده چې چونکې غوښه حلاله ده کومه چې ما خپله په ځان حرام کړې وه په دې وجه مې کله کله په زړه کې دا خبره راځی چې ما حلال ولې حرام کړل اوس که زه د دې حلال څیز خوراک پریږدم نو ګناه به وی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالقیوم مینګوره سوات.....۱۱۰کتوبر ۱۹۷٤ء

الجواب: دا پورته الفاظ نه د نذر دی او نه قسم دې د دې نه په مخالفت کولو کې هیڅ کفاره نشته، خو که د حرام لفظ استعمال کړې شوې وی یا د نذر لفظ نو په تاسو باندې به د قسم کفاره وی، لما فی الهندية: تحريم الحلال يمين كذا في الخلاصة (هندية ۲/ ٦۲)(۲) وفي بيان القرآن (۲/ ٤۱) اول الجزء الرابع) خو د تحریم نذر کوم چې په حقیقت کې قسم او یمین دې زمونږ په شریعت کې جائز نه دې بلکې په دې کې لومړی حنث دې بیا یې کفاره ورکول واجب دی، كما قال الله تعالى: لم تحرم ما احل الله لك، هم دغه شان په تفسیر کبیر کې دی. (۳) وهوالموفق

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ٦٥: ۲ممايتصل بذلک مسائل النذر الفصل الثانی فی الكفارة)

۲) (فتاوی عالمگیریة ٥٥: ۲ الباب الثانی فيما يكون يميناً ومالا يكون)

۳) (بیان القرآن مکمل للت ھانوی ٤۱: ۲ سورة آل عمران پاره: ٤)

د یو څاروی د ذبح او تصدق نذر صحیح دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په خپل ځان باندې دا نذر متعین کړی چې که زما فلانې کار وشو نو زه به د الله پاک د رضا دپاره میښه، غوا یا چیلۍ ذبح کوم، په مقصود پوره کیدو باندې به هغه حیوان مذکور ذبح کوی او که هم داسې ئې بغیر د ذبح کولو نه هم ورکولې شی؟ بله دا په ذبح کولو سره د څاوی قیمت کمیږی نو آیا دا نذر صحیح دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبادالله هزاروی .... ۱٤ جنوری ۱۹۷۵ء

الجواب: دا نذر صحیح دی، **لوجود الواجب من جنسه**(۱) پس که دا نذر صرف د ذبح وی نو هغه به ژوندې تصدق کول ناکافی وی او که د ذبح صدقې غوښه د نذر وی نو صدقه کول به کافی وی. (۲)

---

۱) قال العلامة الحصکفی: ومن نذر نذراً مطلقاً او معلقا بشرط وکان من جنسه واجب ای فرض کما سیصرح به تبعا للبحر والدرر وهو عبادة مقصودة، وقال العلامة الشامی بعد صفحتین: وحمل ما فی الخانیة والدرر من صحة قوله لله علی ان اذبح شاة علی القول بانه یکفی ان یکون من جنسه واجب وسیاتی فی آخر الاضحیة عن الخانیة لو نذر عشر اضحیات لزمه ثنتان لمجئ الامر بهما وفی شرح الوهبانیة الاصح وجوب الکل لایجابه ماالله من جنسه ایجاب ونقل الشارح هناک عن المصنف ان مفاده لزوم النذر بما من جنسه واجب اعتقادی او اصطلاحی ویؤیده ایضاً ما قدمناه عن البدائع وبه یعلم ان الاصح ان المراد بالواجب ما یشمل الفرض والواجب الاصطلاحی لا خصوص الفرض فقط. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۳:۷۲،۷٦ مطلب فی احکام النذر)

۲) قال العلامة الحصکفی: ولو قال ان برئت من مرضی هذا ذبحت شاة او علی شاة اذبحها... فلا یصح الا اذا زاد واتصدق بلحمها فیلزمه لان الصدقة من جنسها فرض وهی الزکاة... ولو قال لله علی ان اذبح جزورا واتصدق بلحمه فذبح مکانه سبع شیاه جاز. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۷٦ مطلب فی احکام النذر)

دا مسائل د ردالمحتار ۲۹/۳ نه ماخوذ دی وهوالموفق

مشروط نذر د شرط د پوره کیدو نه مخکې نه ساقطیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی نذر ومنلو چې که زما فلانې کار وشو نو په ما باندې به د الله پاک په نوم دا څیز نذر وی، اوس که دا سړې د کار کیدو نه مخکې نذر شوی څیز ادا کړی نو دا به صحیح وی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: ۱۹ ذی قعده ۱۴۰۲هجری

الجواب: د یو کار سره مشروط کار کیدو نه مخکې په نذر ورکولو سره د کار کیدو واجب نذر نه ساقطیږی (۱) وهوالموفق

د نذر د شرط موجودیدو نه مخکې د ادا کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی نذر ومنلو چې که زما فلانې کار وشو نو زه به فلانې څیز د الله پاک په نوم باندې نذر ورکوم، اوس د کار کیدو نه مخکې ئې هم هغه څیز په طور د نذرانې فقیرانو ته ورکړو نو نذر به ئې ادا شوې وی یا او که د کار پوره کیدو نه پس به ئې ورکول لازمی وی؟ بینواتوجروا

الجواب: نذر که د یو کار سره مشروط وی نو د شرط په موجودګۍ سره مشروط نه واجب کیږی او نه به دا ادائیګی د وجود الشرط نه مخکې صحیح وی، د کار کیدو نه پس به ئې دوباره په نذر پوره کیدو سره ذمه فارغه شی.

---

۱) قال العلامة الشامی: بخلاف النذر المعلق فانه لا یجوز تعجیله قبل وجود الشرط ... فلو جاز تعجیله لزم وقوعه قبل سببه فلا یصح.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۷۷ مطلب النذر غیر المعلق لا یختص برمان الخ)

في رد المحتار ۳/۷۰، بخلاف النذر المعلق فانه لا یجوز تعجیله قبل وجود الشرط.
(۱) وهوالموفق

د نذر مصرف، مطلق معلق کې فرق او د منذور نه خپله د خوراک حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: د نذر مصرف څه دې یعنی فقراء یا بهر نې چاته ورکولې شی؟

۲: په نذر مطلق او مقید کې څه فرق دې؟

۳: آیا نذر کوونکي د نذرشوی خوراک وغیره خپله خوراك کولی شی؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولانا محمد ایوب ګندف قلندر خیل صوابۍ

الجواب ۱: نذر او زکاة یو مصرف دې، رد المحتار ۷۹/۲ (۲) خو د نذر کړې شوی څیز کافر ته ورکول جائز دی، د هدیه وغیره په شان (۳)

۲: په نذر معلق کې د شرط د وجود نه مخکې یو څیز هم نه واجب کیږی (رد المحتار ۱۷۳/۲) (۴)

---

۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۷۷ مطلب النذر غیر المعلق لا یختص بزمان)

۲) قال العلامة ابن عابدین: (قوله مصرف الزکاة والعشر)... وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذلک من الصدقات الواجبة کما فی القهستانی۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۴ باب المصرف)

۳) قال العلامة الحصکفی: وجاز دفع غیرها وغیر العشر والخراج الیه ای الذمی ولو واجباً کنذر وکفارة وفطرة خلافا للثانی وبقوله یفتی حاوی القدسی۔
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۷۳ باب المصرف)

۴) قال العلامة الشامی: بخلاف النذر المعلق فانه لا یجوز تعجیله قبل وجود الشرط، قلت وقدمنا هناک الفرق وهو ان المعلق علی شرط لا ینعقد سببا للحال کما تقرر فی الاصول بل عند وجود شرطه فلو جاز تعجیله لزم وقوعه قبل سببه فلا یصح۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۷۷ مطلب النذر غیر المعلق لا یختص بزمان ومکان)

۳: ترڅو پورې چې کلمه د (عَلَيَّ) يا د دې مترادف استعمال کړې شوې نه وی يا ئې لفظ نه وی استعمال کړې نو خپله ئې هم خوړلې شی ځکه چې دا نذر شرعی نه دې لعدم کلمة الايجاب وصرح فی البدائع فی کتاب النذر: ان النذر هو ايجاب الله.(۱) وهوالموافق

د نذر په روژو کې د تسلسل مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی د څو ورځې روژو نذر منلې وو اوس به داسې مسلسل روژې نيسی يعنی تسلسل لازمې دې او که په مختلفو وختونو کې ئې بيلې هم نيولې شی؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: عليم گل استاد اسماعيله مردان

الجواب: که د مسلسل روژو نيت ئې نه وی کړې نو تسلسل ضروری نه دې، وفی الهندية ۱/۲۱۰ ولو قال لله علی ان اصوم شهرا متتابعا لزمه التتابع وان اطلق يخير(۲) وهوالموافق

---

۱) قال العلامة الکاسانی: اما رکن النذر هو الصيغه الدالة عليه وهو قوله لله عز شانه علی کذا او علیّ کذا... اذا لوجوب عند وجود الصيغة من الاهل فی المحل بايجاب الله تعالیٰ لا بايجاب العبد اذ ليس للعبد ولاية الايجاب وانما الصيغة علم علی ايجاب الله تعالیٰ.

(بدائع الصنائع ۴:۲۲۶ کتاب النذر)

۲) (فتاوی عالمگيرية ۱:۲۱۰ الباب السادس فی النذر)

نذر عرفی او د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ د رضا د پاره د رقم د تخصیص وغیره حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی دا ویلې دی چې زه د الله پاک سره وعده کوم چې زه به د حلالې مزدورۍ ۱/۴ حصه د الله پاک او د هغه د خوږ نبی ﷺ د رضا د حصول دپاره خرج کوم، خو که د څه ناموافق حالاتو په وجه باندې ئې چېرته یوه میاشت ادا نه کړې شم نو د الله پاک نه به معافی غواړم زه به د الله پاک نه دا دعا کوم چې د دې په بدله کې راله په آخرت کې یو عالیشان محل جوړ کړی او په جنت الفردوس کې زما اهل وعیال اوسیږی.

د پورته عبارت څه حکم دې؟ آیا دا نذر دې چې د هغې پوره کول لازم وی؟ او که نذر نه دې؟ هم دغه شان د نذر په صورت کې د رسول الله ﷺ د نامې د شرکت څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا عبدالرحمن دارالعلوم هادیه کلبهار پېښور ... ۱۱۳ کتوبر ۱۹۸۴ء

الجواب: دا کلام نذر عرفی دې شرعی نذر نه دې، د دې پوره کول لازم نه دی. لعدم لفظ النذر ولعدم صیغة الالتزام(۱). ولا ضیر فی طلب رضاء الرسول ﷺ ولا فی الجمع کما لا ضیر فی طلب محبة الرسول ﷺ ولا فی الجمع، فافهم. وهو الموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین: فی الخانیة قال ان برئت من مرضی هذا ذبحت شاة فبرئ لا یلزمه شیئ الا ان یقول فلله علی ان اذبح شاة، وهی عبارة متن الدرر وعللها فی شرحه بقوله لان اللزوم لا یکون الا بالنذر والدال علیه الثانی لا الاول، فافاد ان عدم الصحة لکون الصیغة المذکورة لا تدل علی النذر ای لان قوله ذبحت شاة وعد لا نذر ویؤیده ما فی البزازیة لو قال ان سلم ولدی اصوم ما عشت فهذا وعد لکن فی البزازیة ایضاً ان عوفیت صمت کذا لم یجب مالم یقل لله علیّ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۷۶ مطلب فی احکام النذر).

د وقف معلق یو صورت او د هغې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې زید دیوې مدرسې د پرانستلو اراده وکړه زید د مدرسې دپاره د ځمکې د ورکولو فضائل بیان کړل بکر وویل چې زما فلانئ ځمکه د مدرسې دپاره د الله پاک دپاره وقف ده خو که مدرسه کامیابه نه شوه نو زه به دا ځمکه به بیا اخلم، زید په هغه ځمکه باندې فصل کرل شروع کړل او مدرسه ئې آباده نه کړه، په دې وجه بکر دا ځمکه واپس اخستلو سره خرڅه کړه او د هغې رقم ئې د محلې په مسجد کې خرچ کړو، آیا د شریعت په رڼا کې د بکر دا تصرف صحیح دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالوهاب سنګری بټل هزاره

الجواب: په حقیقت کې دا نذر معلق دې، کوم چې غیر صحیح دې، **فی الدر المختار: وان یکون قربة فی ذاته معلوما منجزا لا معلقا ولا مضافا ولا موقتا** (هامش ردالمحتار ۲/۳۶۰) لهذا د بکر دا تصرف جائز او نافذ دې (۱) (۲)

وهوالموفق

جرګه کې بوتلې شوې چیلی (د ننواتی ګډ) او د حاجی د راتلو په وخت د بیزې وغیره د بوتلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په چا باندې د جرګې کولو په وخت ګډه چیلی د ننواتی په طور او د حاجیانو په دوباره راتلو باندې د ګډې بیزې د بوتلو څه حکم دې؟ آیا دا په ﴿ مااهل به لغیرالله ﴾ کې داخل نه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: ګل جنان وزیرستان متعلم حقانیه... ۱۸ ستمبر ۱۹۸۵ء

---

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۳۹۴ قبیل مطلب فی وقف المرتد والکافر)

۲) اودا نذر په دې وجه هم صحیح نه دې چې په دې کې صیغه د نذر او لزوم موجودنه ده. (سیف الله حقانی)

الجواب: دا چیلی ﴿ما اهل به لغیر الله﴾ نه ده خصوصا چې کله ژوندی انسان ته حواله کولې شی، لان القصد منه تقدمة الرواج لا تعظیم هذ الشخص بالذبح(۱) وهوالموفق

د بزرګانو په قبرونو باندې د نذر و نیاز حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ما سره د اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه ترجمې والا قرآن کریم دې چې په هغې کې د مزاراتو د زیارت نه په سختئ سره منع شوې ده لکه چې د سورة ما ئ.ده په آخری رکوع کې ارشاد دې چې الله پاک به سیدنا عیسی علیه السلام ته وائی چې آیا تاسو خلقو ته ویلې وو چې زما او زما د مور نه معبودان جوړ کړئ؟ د هغې په تفصیل کې ئې لیکلې دی چې کوم خلق په زیارتونو (قبرونو) وغیره باندې نذر ونیاز کوی نو د څلورو وارو مذاهبو خلاف کوی او د زیارت ذبیحه حرامیږی، په زیارتونو باندې چې کوم خلق نذر ونیاز کوی جائز نه دی، نذر ونیاز صرف د الله پاک دپاره دې، اوس ډیر خلق دا جائز ګڼی په قبرونو باندې څادرې خوروی او ډیوې پرې بلوی آیا دا کار صحیح دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: خیر محمد سپاهی......۱۶ جون ۱۹۷۵ء

---

۱) قال العلامة الحصکفی: ذبح لقدوم الامیر ونحوه کواحد من العظماء یحرم لانه اهل به لغیر الله ولو ذکر اسم الله تعالیٰ ولو ذبح للضیف لا یحرم لانه سنة الخلیل واکرام الضیف اکرام الله تعالیٰ والفارق انه ان قدمها لیأکل منها کان الذبح لله والمنفعة للضیف او للولیمة او للذبح وان لم یقدمها لیأکل منها بل یدفعها لغیره کان لتعظیم غیر الله فتحرم، قال العلامة ابن عابدین: واعلم ان المدار علی القصد عند ابتداء الذبح فلا یلزم انه لو قدم للضیف غیرها ان لا تحل لانه حین الذبح لم یقصد تعظیمه بل اکرامه بالاکل منها وان قدم الیه غیرها الخ.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۵:۲۱۷،۲۱۸ قبیل کتاب الاضحیة)

الجواب: محترم المقام دامت برکاتهم! د السلام علیکم نه پس دې واضحه وی چې د قبرونو د زیارت د پاره تلل سنت دی. (۱) او د هغوی نه توسل شرعی کول جائز دې. (۲) د هغوی د پاره نذر کول حرام دی. (۳) او دا نذر شوې څاروې اګر چې د الله پاک په نوم باندې ذبح کړې شوې وی حرام او مردار دې. (۴) ایصال ثواب جائز دې. (۵) کرامت د اولیاء حق دی د هغوی په قبرونو باندې غلاف نه ایښودل احتیاط دې (۶) او بغیر د ضرورت نه په مزارات

---

۱) قال العلامة ابن عابدین : فی الفتح والسنة زیارتها قائماً والدعاء عندها قائما کما کان یفعله ﷺ فی الخروج الی البقیع ویقول السلام علیکم الخ.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۶۶۵ مطلب فی زیارة القبور)

۲) قال الشاه اشرف علی التهانوی :حدیث مصعب بن سعد... دل علی امرین... والثانی ثبوت التوسل بالمقبولین ذواتهم واعمالهم الظاهرة والباطنة کما تدل علیه بضعفائها ودعوتهم واخلاصهم الخ.
(بوادر النوادر ۷۰۶ الادراک والتوصل)

۳) قال العلامة الحصکفی : واعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام وما یؤخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقرباً الیهم فهو بالاجماع باطل وحرام.-(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۱۳۹ قبیل باب الاعتکاف)

٤) قال العلامة ابن البزاز الکردری : ولو ذبح لقدوم الامیر او لقدوم واحد من العظمآء لا یحل اکله وان ذکر اسم الله تعالیٰ علیه لانه ذبح لتعظیم غیر الله.
(فتاویٰ بزازیة علی هامش الهندیة ۶:۳۰۲ کتاب الصید)

٥) قال العلامة ابن عابدین : وفی البحر من صام او صلی او تصدق وجعل ثوابه لغیره من الاموات والاحیاء جاز ویصل ثوابها الیهم عند اهل السنة والجماعة کذا فی البدائع.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۶۶۶ مطلب فی القرأة للمیت واهداء ثوابها له)

٦) قال العلامة ابن عابدین : کره بعض الفقهاء وضع الستور والعمائم والثیاب علی قبور الصالحین والاولیاء قال فی فتاویٰ الحجة وتکره الستور علی القبور ولکن نحن نقول الآن اذا قصد به التعظیم فی عیون العامة حتی لا یحتقروا... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

باندې شمع بلول ممنوع دی (۱) او د هغه اولیاء نه غائبانه حاجتونه غوښتل شرک دي (۲) وهوالموفق

نوټ: د اشرف علی تهانوی رحمه الله بیان کړي مسائل حق دی.

د اولیاء الله د رضا کولو دپاره نذر و نیاز کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې اکثر خلق د څه زیارت یعنی ولی په نوم باندې نذر ونیاز کوی چې ګډه بیزه، غوا د یو بزرګ په نوم باندې ذبح کولو سره غوښه د هغوی په اولاد باندې تقسیم کړی د دې شرعی حکم څه دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سلطان روم جلبئ صوابي... ۱۰ محرم ۱۳۹۲ھ

بقیه ازحاشیه گذشته] صاحب القبر ولجلب الخشوع والادب للغافلين الزائرين فهو جائز لان الاعمال بالنيات وان كان بدعة فهو كقولهم بعد طواف الوداع يرجع القهقرى حتى يخرج من المسجد اجلالا للبيت حتى قال فى منهاج السالكين انه ليس فيه سنة مروية ولا اثر محكى وقد فعله اصحابنا.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵:۲۵۶ قبیل فصل فی النظر والمس)

۱) وفى الهندية: ويكره عند القبر مالم يعهد من السنة والمعهود منها ليس الا زيارته والدعاء عنده قائماً (وبعد صفحة) وايقاد النار على القبور فمن رسوم الجاهلية والباطل والغرور كذا فى المضمرات. (فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۱۶۶،۱۶۷ قبيل الفصل السابع فى الشهيد)

۲) قال العلامة ابن عابدين: ومنها انه ان ظن ان الميت يتصرف فى الامور دون الله تعالىٰ واعتقاده ذلک کفر.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۳۹ قبيل باب الاعتكاف)

الجواب: که نذر د الله پاک د رضا کولو او تقرب دپاره وی او اولیاء الله ته صرف ایصال ثواب ورکول مقصود وی نو په دې کې هیڅ باک نشته او که د اولیاء الله رضا کول مقصود وی نو دا حرام دی او اکثر عوام په دې حرامو کې پراته دی (۱) **وهوالموفق**

د شیخ جیلانی او علی هجویری په نوم نذر کول حرام او ایصال ثواب صحیح دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ما څه پیسې د شیخ عبدالقادر جیلانی په نوم منلې دی هم دغه شان مې د علی هجویری لاهوری د نذرانې په بکس کې د پیسو اچولو نذر کړې ده آیا دا پورته ذکر شوې دواړه خبرې صحیح دې؟ آیا زه دا پیسې په یو دارالعلوم یا د یوې کونډې په امداد کې خرچ کولې شم؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد سلیم راناکریم پوره پشاور ... ۱۹۶۹ء | ۵ | ۳

الجواب: که تاسو داسې نذر کړې وی چې د الله پاک دپاره په ما باندې نذر دې او زه به د عبدالقادر جیلانی رحمه الله یا علی هجویری لاهوری په نوم ایصال ثواب کوم نو نذر صحیح دې او تاسو دا پیسې دارالعلوم او کونډې او یتیم ته هم ورکولې شئ او که تاسو د دې اولیاء دپاره نذر کړې وی او د هغوی تقرب او رضا مو مراد وی نو دا نذر باطل دې او ستاسو دپاره توبه او استغفار ضروری دی. (صرح به العلامه الشامی فی المجلد الثانی قبیل الاعتکاف، (۲)) **وهوالموفق**

---

۱ ﴾ قال العلامة الحصکفی : واعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام ومایؤخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا الیهم فهو بالاجماع باطل وحرام مالم یقصدوا صرفها لفقراء الانام وقد ابتلی الناس بذلک ولا سیما فی هذه الاعصار. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲ : ۱۳۹ مطلب فی النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام)

۲ ﴾ قال العلامة ابن عابدین : (قوله ان النذر الذی... [بقیه حاشیه برصفحه آئنده

د یو پیر په مقبره باندې د مذبوحه نذر مختلف صورتونه

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی وویل چې که زه کامیاب شوم نو د الله پاک په نوم باندې به د فلانی پیر په مقبره باندې غوئې ذبح کوم په دې کې ډیر اختلاف دې لهذا د لاندې لیکلې شوې جزئیاتو څهٔ حکم دې؟

۱. دا فلانې غوئې به د فلانی پیر په مقبره ذبح کوم.

۲. دا فلانې غوئې به د الله پاک په نوم باندې په فلانئ مقبره کې په پیر ذبح کوم

۳. یو غوئې به ذبح کوم د الله پاک په نوم د فلانی پیر په مقبره باندې

۴. زه به یو غوئې د فلانی پیر په نوم د هغه په مقبره کې ذبح کوم. **بینواتوجروا**

المستفتی: حبیب الرحمن دیروی متعلم حقانیه احاطه مدنیه ...۲۲ رجب ۱۴۰۱هـ

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت د دې غوئی خوړل په دې ټولو صورتونو

بقیه از حاشیه گذشته] یقع للاموات ... باطل وحرام) لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا یجوز لانه عبادة والعبادة لا تکون لمخلوق ومنها ان المنذور له میت والمیت لا یملک ومنها انه ان ظن ان المیت یتصرف فی الامور دون الله تعالیٰ واعتقاده ذلک کفر اللهم الا ان قال یا الله انی نذرت لک ان شفیت مریضی او رددت غائبی او قضیت حاجتی ان اطعم الفقراء الذین بباب السیدة نفیسة او الامام الشافعی او اشتری حصر المساجدهم او زیتا لوقودها او دراهم لمن یقوم بشعائرها الی غیر ذلک مما یکون فیه نفع للفقراء والنذر لله عز وجل وذکر الشیخ انما هو محل الصرف النذر لمستحقیه القاطنین برباطه او مسجده فیجوز بهذا الاعتبار-
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۱۳۹ مطلب فی النذر الذی یقع للاموات الخ)

کې حرام دی. لکونها ما اهل به لغیر الله (۱) فی الصورة الاول والرابع، وما ذبح علی النصب (۲) فی الصورة الثانیة والثالثة. وهوالموفق

په نذر للاولیاء کې د مذبوحه څاروی د حرمت او حلت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې دا ووائی چې مثلا ما دا ګډه یا څاروې وغیره د بابا ولی دپاره نذر کړې دې آیا دا نذر صحیح دې؟ او د دې ګډه وغیره خوړل جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: شمس الحق متعلم حقانیه..... ۲۹ ستمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: چونکې نذر عبادت دې او هر عبادت کې (للهیت) شرط دې لهذا دا نذر باطل او حرام دې او تبدیل ملک یا توبې نه مخکې دا مذبوحه حرامه ده، او د ذبح نه پس به په توبې سره دا حرمت مرتفع شی.

یدل علی الاول ما فی الدر المختار: واعلم ان النذر الذی یقع للاموات من اکثر العوام وما یؤخذ من الدراهم والشمع والزیت ونحوها الی ضرائح الاولیاء الکرام تقربا الیهم فهو باطل بالاجماع وحرام، قال العلامة الشامی: لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا یجوز لانه عبادة والعبادة لا تکون لمخلوق الخ (۳).

ویدل علی الثانی: ان بالتوبة وتبدل الملك انتفی الوصف المحرم. وهوالموفق

---

۱) قال الله تعالیٰ: انما حرم علیکم المیتة والدم ولحم الخنزیر وما اهل به لغیر الله. (سورة البقرة آیت: ۱۷۳)

۲) حرمت علیکم المیتة والدم ولحم الخنزیر وما اهل لغیرالله به والمنخنقة والموقوذة والمتردیة والنطیحة وما اکل السبع الا ما ذکیتم وما ذبح علی النصب وان تستقسموا بالازلام. (سورة المائدة آیت: ۳)

۳) (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۳۹ باب الاعتکاف)

نذر لغیر الله اګر چې تکبیر هم پرې ویلې شوې وی بیا هم مردار دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې بعض خلق د اولیاء کرام او بزرګان دین په مزارات باندې نذر کولو سره څاروی ذبح کوی حال دا چې په هغې باندې تکبیر لوستلې شی نو د دې قسم نذر او مذبوحې او ذابح څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد اکرام ترکوټ ایبټ آباد... ۲۰ فروری ۱۹۶۹ء

الجواب: چونکې په مزاراتو باندې د څاروی ذبح کولو اراده د اولیاء الله تقرب او رضا وی لهذا دا څاروې مردار دې اګر چې په دې باندې تکبیر ویلې شوې وی، یدل علیه ما فی الدر المختار: **ذبح لقدوم الامیر ونحوه کواحد من العظماء یحرم لانه اهل به لغیر الله ولو ذکر اسم الله تعالیٰ(۱) وهکذا فی غیر واحد من کتب الفقه والتفسیر وروی فیه حدیث رواه احمد،** او د ذابح په ارتداد کې د فقهاء کرامو اختلاف دې لهذا د کفر فتوی مونږ نه شو ورکولې. **وهوالموفق**

د اصلاح د عقیدې نه پس د نذر صحیح طریقه

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د شیخ رحمکار کاکا صاحب په نوم نذر کړې وې چې زه به څلور خواره دیګونه د وریجو پخوم، اوس دهغه سړی کارشوې دې اوهغه ته د نذرصحیح طریقه بیان کړې شوه، هغه د نیت تصحیح وکړه چې اوس چې دا سړې کله وریجی پخوی نو آیا غنی خلق دا خوړلې شی؟ د هغه اهل وعیال دا خوړلې شی؟ هم دغه شان د وریجو پخولو په وخت ختنه وغیره کول څنګه دی؟ که د خوړو وریجو په ځای د غوښې وغیره سره وریجې پخې کړی د دې څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد ګل پیو لوښهر ..... ۵ ستمبر ۱۹۷۲ء

---

۱) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲۱۷:۵ قبیل کتاب الاضحیة)

الجواب: چونکې دا نذر باطل دې، **لکونه للمخلوق (۱)** لهذا د عقیدې د اصلاح نه پس دا سړې صاحب اختیار دې که وریجې پخوی یا غوښه او که څه نقد ورکوی (۲) که سنتې پکې کوی یا نه کوی. **وهوالموفق**

د منذور غوښې او وریجو په ځای قیمت تقسیمول غوره دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی نذر منلې وو چې که زما فلانې کار وشی نو زه به میینه ذبح کوم او وریجې پخولو سره به د دواړو کلو په عوامو باندې تقسیموم، اوس ئې کار شوې دې د هغه دپاره څه طریقه خپلول پکار دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: رومان شاه تبلیغی جمال گرهی مردان ... ۲۹ جولائی ۱۹۸٤ء

---

۱) قال العلامة الحصكفي: واعلم ان النذر الذى يقع للاموات من اكثر العوام وما يؤخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها الى ضرائح الاولياء الكرام تقربا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام- قال ابن عابدين: (باطل وحرام) لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا يجوز لانه عبادة والعبادة لا تكون لمخلوق ومنها ان المنذور له ميت والميت لا يملک، ومنها انه ان ظن ان الميت يتصرف فى الامور دون الله تعالىٰ واعتقاده ذلک كفر اللهم الا ان قال يا الله انى نذرت لک ان شفيت مريضى او رددت غائبى او قضيت حاجتى ان اطعم الفقراء الذين بباب السيدة نفيسة اوالامام الشافعى او الامام الليث او اشترى حصراً لمساجدهم او زيتالو قودها او دراهم لمن يقوم بشعائرها الى غير ذلک الخ-

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲: ۱۳۹ مطلب فى النذر الذى يقع للاموات الخ)

۲) قال العلامة ابن عابدين: والنذر من اعتكاف او حج او صلاة او صيام او غيرها غير المعلق ولو معينا لا يختص بزمان ومكان ودرهم وفقير فلو نذر التصدق يوم الجمعة بمكة بهذا الدرهم على فلان فخالف جاز الخ-

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۷۷ مطلب النذر غير المعلق لا يختص بزمان ومكان)

الجواب: ستاسو دپاره غوره ده چې تاسو د دې منذور (میښې او وریجو) قیمت په مسکینانو باندې خصوصا د دین طالب علمانو باندې تقسیم کړئ (۱) او په غوښه او وریجو تقسیمولو سره به تاسو په دینی او دنیوی مشکلاتو کې اخته شئ (۲) **وهوالموفق**

د منذور څیز نه ملاویدو په صورت د هغې د قائم مقام مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د اوښ د ذبح کولو نذر منلې دې خو د هغه په علاقه کې اوښان نه ملاویږی او د بهر نه به راوستل غواړی هغه به دومره ګران پریوځی چې د هغه د طاقت نه بهر ده چې دا سړې د هغې په بدل کې بل څاروې ذبح کولې شی؟ او که په قیمت ورکولو سره به ئې کار اوشی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حافظ عباس موړکو چترال

---

۱) وفی الهندیة: ویجوز دفع القیم فی الزکاة عندنا وکذا فی الکفارات وصدقة الفطر والعشر والنذر.
(فتاوی عالمگیریة ۱۸۱:۱ الباب الثالث فی زکاة الذهب والفضة والعروض)

وفی الهندیة: هذا فی الواجبات کالزکاة والنذر والعشر والکفارة فاما التطوع فیجوز الصرف الیهم کذا فی الکافی.
(فتاوی عالمگیریه ۱۸۹:۱ الباب السابع فی المصارف)

۲) په دې کې به دینی مشکلات دا راځی چه زمونږ د علاقې په عرف کې چونکې په خیرات کې عام خلق رابللې شی که مالداره وی اوکه فقیر وی، نوکه مالداره او رشته دار ئې اوخوری نو مالی نذر به خپل مصرف ته اونه رسیږی نو ستا په ذمه به باقی پاتې وی، او دنیوی مشکلات دادی چه زمونږ د عرف په وجه ستا مالداره رشته دار او خپلوان به خفګان ښکاره کوی چه مونږ ئې خپل دعوت کښې راونه غوښتلو او مستقل به د غیبت او چغلئ یوه سلسله شروع شی...... (از مرتب)

الجواب: که واقعتا په دې علاقه کې د اوښ ملاویدل مشکل وي نو دې نذر کونکی ته اختیار دې چې یا خو دې اووۀ بیزې یا ګډې ذبح کولو سره خپل نذر پوره کړی یا دې بیا د درمیانه قسم اوش قیمت په مسکینانو باندې تقسیم کړی، فی الدر المختار: ولو قال لله علی ان اذبح جزورا او تصدق بلحمه فذبح مکانه سبع شیاه جاز(۱) وهوالموفق

د مسمی نذر په بدل کې د نور مال ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زما د پتون هډوکې مات شوې وو ما نذر ومنلو چې د صحت په صورت کې به چې کومه قرضه د فلانی سړی سره ده هغه مال به مدرسه حقانیه یا په خپل مسجد باندې خرچ کوم، د الله پاک په فضل راته شفاء نصیب شوه ما مقروض ته د قرض مال ورکولو وویل هغه په یو ځل د ورکولو نه معذرت وکړو که زه هم هغه رقم خپل ځان سره د موجوده مال نه خرچ کړم نو آیا زما ذمه به فارغ شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نثار الحق زیارت کاکا صاحب نوښهر ...... ۳ ذو القعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: چونکې په نذر کې د مسمی په ځای قیمت ورکولو سره ذمه فارغیږی (۲) لهذا تاسو د دې ملکیت په بدل کې په ملکیت ناجزه سره ذمه فارغه کولې شئ وهوالموفق

د سلو روپو د غوا نذر کول او اوس په سل روپئ نه ملاویدل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې د یو کار

---

۱) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۳:۷۶ مطلب فی احکام النذر)

۲) وفی الهندیة: ویجوز دفع القیم فی الزکاة عندنا وکذا فی الکفارات وصدقة الفطر والعشر والنذر کذا فی الهدایة.
(فتاوی عالمگیریة ۱:۱۸۱ الباب الثالث فی زکاة الذهب والفضة مسائل شتی)

د کیدو په صورت کې نذر وکړي چې د سلو روپو غوا به ذبح کوم اوس غوا په سل روپۍ نه ملاویږي نو د خلاصی به څه صورت وي؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محبوب شاه دره آدم خیل

الجواب: غوا ذبح کول ضروری نه دی سل روپۍ مسکینانو ته ورکړې، ماخوذازشامی (۱) وهوالموفق

نذر شرعي، په دې کې د بدلون او نقدو پيسو وغيره ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په دې طریقه باندې نذر وکړي چې که زما فلانې کار وشو نو د الله پاک په نوم باندې به یو خوږ دیګ پخوم او په مسکینانو او غریبانانو به ئې خورم اوس نذر په هغه باندې واجب شوې دې خو د هغه اراده ده چې که یو دیګ پوخ کړم نو د مسکینانو سره به ئې مالدار هم وخوری او دوست او رشته دار هم، ځکه چې هغوی به خفه شی چې مونږ ته ئې دعوت رانکړو، اوس که هغه سړې د دې دیګ خرچه نقدې پیسې مسکینانو یا یو دینی مدرسې ته ورکړی نو آیا ذمه به ئې فارغه شی؟ دویم صورت دا چې که څوک وکیل جوړ کړی او هغه ته پیسې ورکړی چې دا دیګ پوخ کړی او تقسیم ئې کړی نو آیا ذمه به ئې فارغه شی؟ اګر چې هغه ته اول صورت خوښ دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: اخونزاده سلطان سید ادینه صوابی ۱۶ دسمبر ۱۹۷۴ء

---

۱) قال العلامة الحصكفي: وجاز دفع القيمة فى زكاة وعشر وخراج ونذر، قال ابن عابدين: كان نذر ان يتصدق بهذا الدينار فتصدق بقدره دراهم او بهذا الخبز فتصدق بقيمته جاز عندنا كذا فى فتح القدير ... بخلاف النذر بالتصدق بشاتين وسطين فتصدق بشاة بقدرهما جاز لان المقصود اغناء الفقير وبه تحصل القربة وهو يحصل بالقيمة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲: ۲۴ باب زكاة الغنم)

الجواب: واضحه دې وی چې په ظاهره کې دا نذر واجب الایفاء نه دې، **لعدم کلمة الالزام وهی علیّ وما یساویه ویرادفه** (مثلاً په ما باندې) (۱) او کوم نذر چې واجب الایفاء وی په هغې کې اصالة یا وکالة د هغه څیز ورکول یا د هغې قیمت ورکول جائز دی (ماخوذ از شامی وغیره) (۲) خو د ذمه فراغت په نقد قیمت ورکولو کې په آسانئ سره حاصلیږی او انفع هم دې. (۳) **وهوالموفق**

نذر عرفی او شرعی او د نذر د قیمت ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی داسې وواییې چې که زما فلانې مقصد الله پاک پوره کړو نو دوه چیلی به د الله پاک په نوم باندې ورکوم، د نذر کولو په وخت چیلی موجود نه وو او نه معین کړې شوې وو اوس هغه مقصد پوره کیدو سره د دوه چیلو قیمت په فقراء باندې خرچ کول غواړی آیا په نذر کې قیمت ورکول جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سلطان محمود ناظم اعلیٰ دارالعلوم حقانیه ۳۰ جون ۱۹۷۳ء

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: اللزوم لا یکون الا بالنذر... فافادان عدم الصحة لکون الصیغة المذکورة لا تدل علی النذر ای لان قوله ذبحت شاة وعد لا نذر ویؤیده ما فی البزازیة لو قال ان سلم ولدی اصوم ما عشت فهذا وعد.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۷۶ مطلب فی احکام النذر)

۲) قال العلامة الحصکفی: وجاز دفع القیمة فی زکاة وعشر وخراج ونذر.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۲:۲۴ باب زکاة الغنم)

۳) وقال العلامة الحصنی: نذر ان یتصدق بعشرة دراهم من الخبز فتصدق بغیره جاز ان ساوی العشرة کتصدقه بثمنه.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۷۷ مطلب النذر لا یختص بزمان ومکان الخ)

الجواب: په ظاهره کې دا نذر عرفی دې، **لعدم لفظ النذر ولعدم کلمة اللزوم،** نذر شرعی نه دې (۱) او فقهاء کرامو په باب الزکاة کې لیکلې دی چې په زکاة او نذر وغیره کې قیمت ورکول جائز دی. (۲) **وهوالموفق**

د منذور په ځای د هغې قیمت ورکول جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ما د یو تکلیف د رفع کیدو دپاره نذر منلې وو اوس مسئله دا ده چې که مونږ د هغه څیز په اندازه قیمت ستاسو په خدمت کې مدرسې ته در ولیږو نو آیا دا جائز ده؟

بینواتوجروا

المستفتی: رضاء الحق ایف آر او پیښور... ۷ دسمبر ۱۹۶۹ء

الجواب: د نذر په ځای د هغې قیمت ورکول جائز دی.

فی الدرالمختار: وجاز دفع القیمة فی زکوٰة وعشر وخراج وفطرة ونذر، وفی ردالمحتار ۲۳:۲ (قوله ونذر) کان نذران یتصدق بهذا الدینار فتصدق بقدره دراهم او

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: فا فادان عدم الصحة لکون الصیغة المذکورة لا تدل علی النذر ای لان قوله ذبحت شاة وعد لا نذر ویؤیده ما فی البزازیة لو قال ان سلم ولدی اصوم ما عشت فهذا وعد لکن فی البزازیة ایضاً ان عوفیت صمت کذا لم یجب مالم یقل لله علیّ وفی الاستحسان یجب، ولو قال ان فعلت کذا فانا احج ففعل یجب علیه الحج.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۷۶ مطلب فی احکام النذر)

۲) وفی الهندیة: ویجوز دفع القیم فی الزکاة عندنا وکذا فی الکفارات وصدقة الفطر والعشر والنذر کذا فی الهدایة.

(فتاوی عالمگیریة ۱:۱۸۱ مسائل شتی الفصل الثانی فی العروض)

بهذا الخبز فتصدق بقیمته جاز کذا فی الفتح القدیر (۱) ۔ وهو الموفق

د منذور نه خپله ناذر او د هغه ښځې بچی خوراک نه شی کولې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې نذر کونکی د خپل نذر کړې شوې څیز نه خوراک کولې شی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: قمر الزمان دوسهره چارسده

الجواب: د نذر نه ناذر خوراک نه شی کولې او نه یې په خپل ښځې او بچو خوړلې شی. کما فی ردالمحتار ۷۹/۲ (۲) وهو الموفق

د ښځې خوی ته د نذر پیسې ورکول جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید د یوې زنانه سره نکاح وکړه او هم دغه شان د زنانه یو ماشوم فیروز نومی د بل خاوند نه دې که زید یو څیز نذر کړی نو آیا دا فیروز ته ورکولې شی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: فضل معبود جندول معیار ..... ۵ دسمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: فقهاء کرامو چې څومره قواعد لیکلې دی نو د هغې په رڼا کې دې فقیر هلک ته زکاة، عشر، نذر او فطرانه ورکول جائز دی. (۳). وهو الموفق

---

۱) (الدر المختار مع ردالمحتار ۲:۲۴ باب زکاة الغنم)

۲) قال العلامة ابن عابدین: (قوله مصرف الزکاة والعشر)... وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذلک من الصدقات الواجبة کما فی القهستانی.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۶۴ باب المصرف)

۳) قال العلامة ابن عابدین: وقید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب کالاخوة والاعمام والاخوال الفقراء... ویجوز دفعها لزوجة ابیه وابنه وزوج ابنته تاتر خانیة.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ۲:۶۹ باب المصرف)

فقیر ورور ته نذر یا د هغې قیمت ورکول جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زما پلار صاحب د حج په دوران کې زمونږ نه جدا شو او ورك شو، ۲۲ ورځې تیرې شوې دی، پدې دوران کې ما او ښځې مې نذر وکړه چې که زمونږ پلار محترم ملاؤ شو نو یو ګډه او یو چیلې به صدقه کوم، بیا پلار صاحب ملاؤ شو بیا یو انتهائی فقیر او غریب ورور دې خپل کور او ځمکه هم نه لري بلکې ما سره یوځای دې آیا مونږ د دې منختې رقم هغه ته ورکولې شو؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی یوسف ایبټ آباد... ۲۳ جمادی الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: که ستا دا ورور غریب او مسکین وی نو ته دا نذر یا د دې قیمت هغه ورور ته ورکولې شې. (۱) وهوالموفق

...

(۱) قال العلامة ابن عابدین: وکذا کل صدقة واجبة کالفطرة والنذر والکفارات... وقید بالولاد لجوازه لبقیة الاقارب کالاخوة والاعمام والاخوال الفقراء بل هم اولیٰ لانه صلة وصدقة. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۶۹ باب المصرف)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوی فریدیہ

(ششم جلد)

کتاب الوقف

....

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوی فریدیه

كتاب الوقف

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:

من اخذ من الارض شيئاً بغير حقه

خسف به يوم القيمة الى سبع ارضين.

(رواه البخاری)

....

کتاب الوقف

د وقف د ثبوت دپاره د مالک اقرار او

د غیر مالک دپاره شهادت ضروری دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دوه سړو خپل مینځ کې ځمکه سره بدله کړه او قبضه هم وکړې شوه د دې نه پس چې چا ځمکه بدله کړه د هغوی خامن د دې ځمکې مالکان جوړېږي او تقریبا پنځوس کاله غائب پاتې شوې دی په هغې کې یو سړې قبرستان ته نژدې دې هغه که ووائی چې دا ځمکه زما پلار د قبرستان دپاره وقف کړې ده، د دومره مودې تیریدلو باوجود د وقف دا دعوی صحیح ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: میان عبدالوهاب منډه کودر ضلع دیر ... ۱۰ ذیقعده ۱۳۸۹ھ

الجواب: که دا اقرار والامالک وی (المرءیؤخذ باقراره)(۱) دا اصل په بناء وقف صحیح دې او که مالک نه وی نو د شهادت نه بغیر نا منظور دي **وهوالموفق**

د وقف د وصیت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زما پلار د وفات نه مخکې وصیت کړې وو چې زما د جائیداد نه په لس مرلې په ځمکه باندې مسجد تعمیر وشو اوس هغوی وفات شوې دې کوم ځای کې چې زمونږ ځمکه ده هلته کورونه کم دی او ورسره یو مسجد هم موجود دې اوس که د دې لس مرلې ځمکې قیمت په مسجد باندې خرچ کړې شی نو آیا په دې سره به زمونږ د پلار صاحب ذمه فارغه شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: جمشید شیوه صوابۍ مردان ....۸ اگست ۱۹۸۳ء

---

۱) وفی المجلة: المرأموآخذ باقراره- (شرح المجلة ۲۲۶:۱ ماده: ۷۹)

الجواب: لس مرلې نه معلوم دي او نه شائع بلکې يو مجهول څيز دي پس دا وقف د عدم تحقق شراط د وجې نه غير صحيح دي، خو که په وارثانو کې نابالغ او غائب نه وی نو د ټولو وارثانو په اجازت سره د دې زمکې په بل طرف کې خرچ کول (تبرعا) صحيح دی، **قال فی شرح التنویر۲/۴۲۳:** وان یکون قربة فی ذاته معلوما(۱) وبمعناه فی وقف الهندیة(۲) وهوالموفق

د واقف وقف شوې څيز دوباره اخستل

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې وقف کوونکې د وقف کولو نه پس خپل وقف شوې ځای قيمتا دوباره اخستلې شی؟ که جائز وی نو د هغې قيمت په مسجد کې لګول جائز دی؟ بينواتوجروا

المستفتی: فضل معبود تنګی معيار جندل... ۳ستمبر۱۹۷۹ء

الجواب: د وقف شوي څيز خرڅول صحيح نه دی، لخروجه عن ملك الواقف فی المختار(۳) وهوالموفق

باقاعده وقف شوې ځمکه نه شی واپس کيدې

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زيد د ځمکې يوه حصه د مدرسې دپاره يو مهتمم ته وقف کړه، وروستو هغه د څه وجې نه مثلا

---

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۳۹۴ مطلب قد یثبت الوقف بالضرورة)

۲) وفی الهندية: ومنها عدم الجهالة فلو وقف من ارضه شيئاً ولم يسمه كان باطلاً.
(فتاویٰ عالمگیریة ۲:۳۵۵ الباب الاول كتاب الوقف)

۳) وفی الهندية: وعندهما حبس العين على حكم ملك الله تعالیٰ على وجه تعود منفعته الى العباد فيلزم ولا يباع ولا يوهب ولا يورث كذا فی الهداية وفی العيون واليتيمة ان الفتویٰ على قولهما الخ.
(فتاویٰ عالمگیریة ۲:۳۵۰ اول كتاب الوقف)

د بدعتی کیدو د وجې نه یا د څه الزام د وجې نه وقف لره واپس کول غواړي آیا دا رجوع صحیح ده؟ بینواتوجروا

المستفتي: داؤد شاه

الجواب: که دا حقیقت وی چې زید باقاعده وقف کړې وي نو زید دا وقف نه شی اخستلې، یدل علیه ما فی الهندیة: ۲:۳۶۲ وعندهما حبس العين على حكم ملك الله تعالىٰ على وجه تعود منفعته الى العباد فيلزم ولا يباع ولا يوهب ولا يورث كذا في الهداية وفي العيون واليتيمة ان الفتوى على قولهما كذا في شرح ابي المكارم للنقاية(۱) وفي الدرالمختار: فيلزم فلا يجوز ابطاله ولا يورث عنه وعليه الفتوى ابن الكمال هامش ردالمحتار ۳: ۴۹۵(۲)۔ وهوالموفق

په مسلم یا مبرهن وقف باندې د ملکیت دعوی صحیح نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ قبرستان د ۱۹۳۷ء نه وقف شوې دې خو یو سړې دعویدار دې چې دا زما ملکیت دې د دې دعوې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولانا شاد محمد حقانی شبقدر چارسده... ۲ ربیع الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: د کومې خمکې موقوفه کیدل چې تسلیم شده یا د شهادت نه ثابت وی نو په هغې کې د مکان وغیره جوړول ممنوع او دعوی د ملکیت ناجائز ده. لان المخالفة عن شرائط الوقف كالمخالفة عن النص(۳)

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲:۳۵۰ اول كتاب الوقف)

۲) (الدرالمختار عليه هامش ردالمحتار ۳:۳۹۲ اول كتاب الوقف)

۳) قال العلامة ابن عابدين: وما خالف شرط الواقف فهو مخالف للنص وهو حكم لا دليل عليه سواء كان نصه في الوقف نصا او ظاهرا،... وهذا موافق لقول مشائخنا كغيرهم شرط الواقف كنص الشارع فيجب اتباعه...[بقیه حاشیه برصفحه آئنده

ولان الوقف لایملك(۱) صرح به فی کتب الفقه، وهوالموفق

د سکول او سینما دپاره د ځمکې وقف کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سکول دپاره د ځمکې د وقف کولو څه حکم دې؟ هم دغه شان د سینما دپاره د ځمکې ورکولو څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی حکمت الله فاضل حقانیه ..... ۳۱ جنوری ۱۹۸۷ء

الجواب: سکول اګر چې بذات خود د عصری علومو مرکز دې خو د دې ماحول کې بد تهذیب هم ښودلې شی. په خلاف د سینما کې چې هغه سراسر ګناه او ګندګی ده پس د سینما دپاره وقف کونکې د انسانی نسل دپاره تباه کن دې او وقف کونکې د شرابی انګور والا باغ لره خروب کونکې دې (۲)

وهوالموفق

بقیه ازحاشیه گذشته] کما صرح به فی شرح المجمع للمصنف۔

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۹۷ مطلب ما خالف شرط الواقف فهو مخالف للنص)

۱) قال العلامة الحصکفی: فاذا تم ولزم لا یملک ولا یملّک ولا یعار ولا یرهن۔

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۴۵۶ کتاب الوقف)

۲) قال العلامة محمد خالد الآتاسی: درء المفاسد اولی من جلب المنافع ای رفعها وازالتها، فاذا تعارضت مفسدة ومصلحة، فدفع المفسدة مقدم فی الغالب، لان اعتناء الشرع بالمنهیات اشد من اعتنائه بالمأمورات لما یترتب علیها من الضرر المنافی لحکمة الشارع فی النهی ولذا قال ﷺ اذا امرتکم بشیئ فاتو منه ما استطعتم واذا نهیتکم عن شیئ فاجتنبوه وفی الکشف حدیث: ترک ذرة مما نهی الله عنه خیر من عبادة الثقلین، مجامع۔

(شرح المجلة مادة: ۴۰، ۱:۷۰) ...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د مړی په متروکه ځمکه کې وقف او غیر وقف کې د وارثانو اختلاف

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی وفات شوې دې د هغه نه په میراث کې څه ځمکه پاتې شوه، اوس په وارثانو کې یو وارث وائی چې هغه دا ځمکه په خپل ژوند کې وقف کړې وو او باقی وارثان انکار کوی نو په دې صورت کې به شرعی فیصله څه وی.

المستفتی: سعید انور کوهاټ

الجواب: واضحه دې وی چې کله یو وارث دا اقرار وکړی چې دا ترکه (ځمکه) موقوف دې او باقی وارثان د دې نه انکار وکړی نو د دې اقرار کونکی حصه به موقوف شمارلې شی او د نورو وارثانو حصه به موقوف نه وی، بلکې دا مملوک ده. لما فی الهندیة ۲: ۴۳۳ ولو اقر بالوقف (الی ان قال) وان کان مع المقر وارث آخر یجحد ذلك کان نصیب الجاحد من هذه الارض للجاحد یفعل ما یشاء ونصیب المقر یکون وقفا علی ما اقربه کذا فی فتاوی قاضی خان (۱).

وهوالموفق

د مړی د خاورې کیدو نه پس مقبره باندې د کروندې او ونو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د قبرستان په ځمکه باندې څومره موده پس پورې زراعت جائز دې؟ بله دا چې د دې ځمکې نه ونې پرې کول جائز دی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد ادریس

بقیه ازحاشیه گذشته]

وفی الهندیة: واما شرائطه... ومنها ان یکون قربة فی ذاته وعند التصرف فلا یصح وقف المسلم اوالذمی علی البیعة والکنیسة او علی فقراء اهل الحرب کذا فی النهر الفائق۔

(فتاوی عالمگیریة ۲: ۳۵۳ کتاب الوقف الباب الاول)

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲: ۴۴۲ الباب الثامن فی الاقرار)

الجواب: چې کله د تحری نه معلومه شی چې مړی خاورې شی نو د هغې نه پس کرونده وغیره جائز ده، **کمافی الدرالمختار: کما جاز زرعه والبناء علیه اذا بلی وصار ترابا زیلعی** (هامش رد المحتار ۱/۸٤۰) (۱) او که مقبره موقوف وی نو ونې دې د مقبرې په ضروریاتو کې خرج کړې شی، او که مملوک وی نو مالک ئې باقاعده په خپلو ضروریاتو کې خرج کولې شی، **والتفصیل فی الهندیة** ۲/۳۸۳،۳۸۵،۳۸٦. (۲) **بینواتوجروا**

د وقف مشاع حکم او د مسجد دپاره د وقف شوې ځمکې د اخستلو او خرڅولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: د مشترکه ځمکې وقف صحیح دې یا نه؟
۲: که یو سړې د مسجد دپاره ځمکه وقف کړی او بنیادونه کیږدی خو هغې سره بل مسجد جوړ کړې شو او اوس هغه واقف وائی چې که زه دا وقف شوې

---

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:٦٦۲ مطلب فی دفن المیت)

۲) وفی الهندیة: مقبرة علیها اشجار عظیمة فهذا علی وجهین اما ان کانت الاشجار نابتة قبل اتخاذ الارض مقبرة او نبتت بعد اتخاذ الارض مقبرة ففی الوجه الاول المسألة علی قسمین اما ان کانت الارض مملوکة لها مالک او کانت مواتا لا مالک لها واتخذها اهل القریة مقبرة ففی القسم الاول الاشجار بأصلها علی ملک رب الارض یصنع بالاشجار واصلها ما شاء... اما ان علم لها غارس اولم یعلم ففی القسم الاول کانت للغارس وفی القسم الثانی الحکم فی ذلک الی القاضی ان رأی بیعها وصرف ثمنها الی عمارة المقبرة فله ذلک کذا فی الواقعات الحسامیة... سئل نجم الدین فی مقبرة فیها اشجار هل یجوز صرفها الی عمارة المسجد قال نعم ان لم تکن وقفا علی وجه آخر قیل له فان تداعت حیطان المقبرة الی الخراب یصرف الیها او الی المسجد الخ. (فتاویٰ عالمگیریة ۲:٤۷۳، ٤۷٦، ٤۷٤ المسائل التی تعود الی الاشجار فی المقبرة)

خمکه خرڅولو سره په بل مسجد یامدرسه کې خرچ کړم نو جائز ده؟ بینواتوجروا

المستفتي: مفتي بدر منير حقاني بټ خيله امانډره... ۱۱ دسمبر ۱۹۸۳ء

الجواب: ۱: وقوف مشاع د مدرسې او مسجد دپاره اتفاقا صحيح نه دي او د نورو امورو دپاره مختلف فيه دي او د قواعد په رڼا کې عدم جواز راجح دي كما في الهندية ۲:۳۷۲ وقف المشاع المحتمل للقسمة لايجوز عند محمد وبه اخذ مشائخ بخارى وعليه الفتوى كذا في السراجية والمتأخرون افتوابقول ابي يوسف انه يجوز وهو المختار كذا في خزانة المفتيين واتفقا على عدم جعل المشاع مسجداًاو مقبرة مطلقا، انتهى ما في الهندية(۱) وفي ردالمحتار ۱:۴۵۷ لفظة الفتوى آكد وابلغ من لفظة المختار(۲).

۲: دا سوال مجمل دي دا معلومات وکړئ چې هغه سړی د وقف الفاظ ویلي دي یا نه؟ تعین بقعه واره (بنیاد) کړې دي یا نه؟ که جواب په اثبات کې وي نو بیع به ناجائز وي. (۳) وهوالموفق

د وقف شوي مقبرې د ونو خرڅول

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې دلته يو وقف مقبره ده چې په هغې کې ځنګل جوړ شوې دي اوس بعض خلقو د هغې د ونو د خرڅولو مشوره راکړې ده آيا د وقف شوي مقبرې ونې خرڅول جائز دي؟ دغه شان به د دې پيسو مصرف څه وي؟ بينواتوجروا

المستفتي: عبدالعزيز وزيرستان..... ۹ جمادي الثانية ۱۴۰۱ هجري

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲:۳۶۵ فصل في وقف المشاع الباب الثاني)

۲) (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۱:۳۶۲ مطلب لفظة الفتوى آكد الخ)

۳) وفي الهندية: اما حكمه... متى صح الوقف... حتى لا يملك بيعه ولا يورث عنه. (فتاوی عالمگیریة ۲:۳۵۲ الباب الاول كتاب الوقف)

الجواب: مقامي حاكمان د وقف شوي مقبرې ونې خپله خرڅولې شي او د هغې نه حاصل شوی رقم لره د هغه مقبرې په توسيع باندې خرچ کولې شي. كما فى الهندية ۲: ۴۵۴، ۴۵۵ وفى القسم الثانى المسئلة على قسمين اما ان علم لها غارس اولم يعلم... وفى القسم الثانى الحكم فى ذلك الى القاضى ان رأى بيعها وصرف ثمنها الى عمارة المقبرة فله ذلك كذا فى الواقعات الحسامية(۱). وهوالموفق

په جنازګاه کې د برنډې د جوړولو د پاره د مقبرې د ونو د خرڅولو حكم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې مونږ په جنازګاه کې برنډه جوړول غواړو ځکه چې د بارانونو په ورځو کې ډېر سخت تکليف وی د ټول قوم مشوره دا ده چې په مقبره کې ډېرې زړې او بيکاره ونې دی لهذا هغه دې خرڅې کړې شي او هغه پيسې دې په برنډه باندې خرچ کړې شي نو د دې څه حكم دې. بينواتوجروا

المستفتي: مولانا فخر الدين غورغشتي اټک.... ۲۲ ستمبر ۱۹۸۷ء

الجواب: که دا ونې په دې وقف شوې ځمکه کې خپله راختلې وی یا د هغې لګونکې نامعلوم وی نو د حاكم يا بااثر خلقو په اجازت سره د هغې خرڅول او د هغې نه حاصل شوې رقم د مصالح مقبره په تعمير کې خرچ کول جائز دی. كمافى الهندية ۲/ ۴۵۴-۴۵۵ عن الواقعات الحسامية(۲) وهوالموفق

---

۱) (فتاوىٰ عالمگيرية ۴۷۴:۲ الباب الثانى عشر فى الرباطات والمقابر)

۲) وفى الهندية: وفى القسم الثانى: الاشجار باصلها على حالها القديم وفى الوجه الثانى المسألة على قسمين اما ان علم لها غارس اولم يعلم ففى القسم الاول كانت للغارس وفى القسم الثانى الحكم فى ذلك الى القاضى ان رأى بيعها وصرف ثمنها الى عمارة المقبرة فله ذلك كذا فى الواقعات الحسامية. (فتاوىٰ عالمگيرية ۴۷۴:۲ الباب الثانى عشر فى الرباطات [illegible] والخانات)

د مقبرې د ونو ګټه په مقبره او مسجد کې د خرچ کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په مقبره کې ډېرې ونې راختلې دی د کلی خلقو هغه خرڅې کړې دی د هغو پیسو په سکول او مسجد باندې خرچ کول څنګه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نبی الله بن حضرت الله ... ۱۸ جون ۱۹۷۶ء

الجواب: که په دې مقبره (موقوفه) کې د ونو لګونکې معلوم وی نو دا ونې دې د مقبرې په ضروریاتو کې خرچ کړې شی او د عدم ضرورت په صورت کې دې په مسجد کې خرچ کړې شی او که لګونکې معلوم نه وی نو بیا دې په مسجد کې خرچ کړې شی. فلیراجع الی الهندیة ۴۵۳/۲-۴۵۶ یعنی چې کله د مقبرې دپاره ضرورت نه وی (۱) او چونکې سکول یو غیر مایوس څیز دې په هغې کې د دې خرچ کول یو خلاف قاعده امر دې (۲) **وهوالموفق**

---

۱) وفی الهندیة : مقبرة علیها اشجار عظیمة فهذا علی وجهین اما ان کانت الاشجار ثابتة قبل اتخاذ الارض مقبرة او نبتت بعد اتخاذ الارض مقبرة ففی الوجه الاول المسألة علی قسمین... وفی القسم الثانی الحکم فی ذلک الی القاضی ان رأی بیعها وصرف ثمنها الی عمارة المقبرة فله ذلک کذا فی الواقعات الحسامیة (وبعد صفحة) سئل نجم الدین فی مقبرة فیها اشجار هل یجوز صرفها الی عمارة المسجد قال نعم ان لم تکن وقفاً علی وجه آخر قیل له فان تداعت حیطان المقبرة الی الخراب یصرف الیها او الی المسجد قال الی ما هی وقف علیه ان عرف وان لم یکن للمسجد متول ولا للمقبرة فلیس للعامة التصرف فیها بدون اذن القاضی کذا فی الظهیریة.
(فتاویٰ عالمگیریة ۴۷۶،۴۷۳:۲ المسائل التی تعود الی الاشجار فی المقبرة الخ)

۲) قال العلامة ابن عابدین : وظاهره انه لا یجوز صرف وقف مسجد خرب الی حوض وعکسه وفی شرح الملتقی یصرف وقفها لاقرب مجانس لها ،ط.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴۰۷:۳ مطلب فی نقل انقاض المسجد ونحوه)

د عیدګاه په دیوال باندې د چنده ورکونکو نومونه او د هغوی د ورکړې شوې پیسو لیکلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دلته عوامو یوه عیدګاه تعمیر کړې ده د تعمیر ناظم د عیدګاه په دیوال باندې د چنده ورکونکو نومونه او د هغوی د پیسو مقدار لیکلې دې ایا په قرآن او سنت او شریعت محمدی ﷺ کې دا جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد سلیم هیډ ماسټر بهلا کر کهوټه راولپنډی..... ۲۶ جنوری ۱۹۶۹ء

الجواب: که ریا او شهرت مقصود وی نو ناجائز ده او که همت افزائی او د پیسو په وصولۍ باندې خبرول مقصود وی نو جائز ده. (۱) **وهوالموفق**

د عام لارې تنګول یا ورانول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو عام لاره ده چې په هغې باندې څاروی او عام خلق تلل راتلل کوی او په هغې باندې څو کورونه هم آباد دی اوس یو سړې په زوره دا لاره ورانول غواړی چې کلیوال وغیره په تکلیف کې اخته شی آیا دا لاره تنګول یا ورانول جائز دی. **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالقهار

الجواب: عام لاره خرابول خصوصا چې کله د کلی خلقوته ضرروی ناجائز دی، وفی الهندیة ۶: ۴۳ وفی الجامع الصغیر: رجل اخرج الی الطریق کنیفاً اومیزاباً اوبنی

---

(۱) قال الشیخ ثناء الله الفانی فتی: (لا تنفقوا الا ابتغاء وجه الله) وهذا یقتضی تحریمة الانفاق اذا لم یکن فیه ابتغاء وجه الله فانه اضاعة المال وذلک حرام.
(التفسیر المظهری ۱:۳۷۷ سورة البقرة پاره: ۳)

قال فی عمدة القاری: من بنی مسجداً قال بکیر حسبت انه قال یبتغی به وجه الله بنی الله له مثله فی الجنة. (عمدة القاری ۴:۳۱۱)

دکانا او جرصنا فلکل واحد من عرض الناس ان یقلع ذلك ویهدمه اذا فعل ذلك بغیر اذن الامام اضر ذلك بالمسلمین اولم یضر الخ[۱]۔ وهوالموفق

د کانو په غونډۍ باندې د مسجد یا قبر تګ وی نو د هغې څه حکم دی؟

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ د څمکې سره متصل څو مرلې زمونږ نوره څمکه ده چېرته چې یو زوړ قبر او د کانو یو غونډۍ ده د کلی د یو بوډا سړی وینا ده چې په یو زمانه کې دلته مسجد وو دا څمکه وکنستل شوه څو هلته د قبرونو هیڅ آثار ښکاره نه شو نو آیا مونږ دا څمکه او دا غونډۍ استعمالولې شو یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالله ولوله دګرهځ حبیب الله په لار ... ۲۳ جمادی الاولی ۱۴۰۱ھ

الجواب: د قواعدو په رڼا کې د دې څمکې او د دې کانو استعمال په ذاتی امورو کې جائز دې څو که په دې خاص ځای کې د مسجد کیدل باقاعده ثابت شی نو دا خاص ځای به همیشه د مسجد په حکم کې وی، **کذافی وقف شرح التنویر**[۲] **وهوالموفق**

د هندوانو پرېښودل شوی جائیداد وغیره د بیت المال او حکومت ملکیت دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په پاکستان کې متروکه وقف جائیدادونه (د هندوانو) کوم چې د محکمه اوقاف په تحویل کې

---

۱) (فتاوی عالمګیریة جلد: ۴۰ الباب الحادی عشر فی جنایة الحائط والجناح الخ)

۲) قال العلامة الحصکفی: ولو خرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عند الامام والثانی ابدا الی قیام الساعة وبه یفتی حاوی القدسی۔
(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۳:۴۰۶ مطلب فی احکام المسجد)

دی د هغه سرکاری محکمه اوقاف په املاک باندې د کورونو وغیره قیام بغیر د اذن او اجازت نه څه حکم لری؟ بینواتوجروا

المستفتی: محبوب الرحمن رحمانی جامعه فاروقیه رحمانیه اټک ...... ۳۱ مئی ۱۹۸۶ء

الجواب: کوم هندوان چې هندوستان ته تلی دی او هلته ئې مستقل استوګنه اختیار کړې ده د هغوی املاک د بیت المال او حکومت حق دې په هغې کې صرف د حکومت د خاوندانو تصرف جائز دې قال الله تعالیٰ: وما افآء الله علی رسوله منهم فما اوجفتم علیه من خیل ولا رکاب ولکن الله یسلط رسله علی من یشآء، والله علی کل شیئ قدیر(۱). وهوالموفق

چې د وقف مصرف ختم شی نو نزدې طرف ته مصرف جوړ کړې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د زید نیکه ګانو په مسجد کې د اوبو د ویستلو دپاره د لرګی ارټ لګولې وو او دې لوټکو والا ارټ دپاره ئې پنځه کناله او درې مرلې ځمکه وقف کړې وه چې د هغې لیکل د مال په کاغذاتو کې موجود دی چې د هغې په ګټې سره به مو د ارټ د مرمت وغیره انتظام کولو د هغه مشرانو د وفات نه پس دا ځمکه د هغوی د وارثانو په لاسونو کې راغله او دا حضرات هم د هغه ځمکې د ګټې نه د اوبو انتظام کوی اوس چونکې د بجلۍ پمپ لګیدلې دې او ورسره د مسجد انتظامیه په اصرار باندې د لرګی ارټ د اوسپنې په ارټ باندې بدل شوې دې چې د هغې نه د بجلۍ نه کیدو په صورت کې اوبه راویستلې شی چونکې په پمپ سره او د اوسپنې په ارټ سره د لوټکو وغیره سلسله ختمه شوه، لهذا د مسجد انتظامیه د زید نه مطالبه وکړه چې اوس تاسو دا ځمکه په اجاره باندې ورکړئ یا د ځمکې د ګټې نه حصه راکړئ چې په هغې سره د مسجد باقی تعمیری کارونه وکړو، سره د دې چې د هغه بزرګانو د وینا مطابق هغوی ته د بجلۍ کامل بل ادا کول پکار دی خو هغه د ځمکې د ګټې نه ډیر زیات دې په

---

۱) (سورة حشر آیت: ۶ پاره: ۲۸)

دې وجه کمیتې د بل په وصولولو باندې اصرار نه کوي، د دې باوجود زید وغیره وارثان په دې باندې اصرار کوي چې مونږ د زمکې د لوټکې وغیره ذمه دار یو نه اجاره ورکوو او نه به د ځمکې نه حصه ورکړو، او ځمکه به زمونږ په تصرف کې وي اوس د دې شرعي حکم څه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: اراکین مسجد شیشم تور ډهیر صوابي... ۵ جمادی الثاني ۱۴۰۳ھ

الجواب: په عرف باندې د نظر کولو نه معلومیږي چې دا معامله وقف ده. ونظیره ما في البحر ۵:۱۹۱ **اشتروا من غلة داري هذه کل شهر بعشرة دراهم خبزاً وفرقوه على المساكين صارت الدار وقفاً**(۱) او دا قاعده ده چې کله د وقف مصرف منقطع شي نو دویم نژدې طرف ته مصرف جوړ کړې شي، **کما في الشامية** ۵۱۳/۳، **وفي الشرح الملتقى يصرف وقفها لاقرب مجانس لها**(۲) **فافهم**، خلاصه دخبرې دا ده چې دا وارثان دې د واقف د دې زمکې حاصلات په دې اوبو پمپ باندې صرف کړي چې وقف کونکي ته ثواب ورسیږي. **وهوالموفق**

په مشترکه ځمکه کې وقف صحیح دی او د امام ابویوسف رحمة الله علیه قول مفتی به دی

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوه مشترکه ځمکه ده چې په هغې لاندې لیکلې شوې افراد شریک دي، عرب دین نصف، داور شاه، احمد خان د هغوی څلور لورګانې عمرې، رحمتې، عیسی ګل، اوس عرب دین په خپل نیم جائیداد کې شپږ قدمه ځمکه او د اوبو د نالې دپاره پریښودلو سره باقي ځمکه د عیدګاه دپاره وقف کړې ده خو قوم په هغه شپږ قدمه باندې هم قبضه کولو سره غصب کړو، لهذا عرب دین د باقي

---

۱) (البحر الرائق ۵:۳۱۹ کتاب الوقف)

۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۷ مطلب في مالو خرب المسجد او غیره)

ځمکې وقف واپس واخستلو داور شاه خپله حصه مکمل وقف کړې ده د احمد خان یوې لورخپله حصه وقف کړې دې، عمر خان هم خپله حصه وقف کړې ده. خو خلقو په مشترکه ټولو زمکو کې عیدګاه جوړوه کړه او په هغې کې د اخترونو او جنازې لمونځونه کوی خلقو په عیدګاه باندې کافی خرچ کړې دې باقی حصه دارو نه وقف کړې دې او نه ئې د وقف اراده کړې ده نو آیا په هغه ځمکه کې د اختر او جنازې لمونځونه صحیح دی؟ آیا وقف واپس کیدې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالرحمن تهل کالونکی منګلا ..... ٤ مئی ۱۹۶۹ء

الجواب: ۱: کومو شریکانو چې وقف کړې دې د هغوی په حصو کې وقف صحیح دې او د هغوی په حصو کې آبادی کول او د جنازې لمونځ هم جائز دی خو په ټولو کې آبادی کول او دجنازې لمونځ جائز نه دی. فی الدرالمختار: ولایتم الوقف حتی یقبض ویفرز، قال العلامة الشامی ای بالقسمة هذا بیان شرائطه الخاصة علی قول محمد وجعله ابویوسف کالاعتاق واختلف الترجیح والاخذ بقول الثانی احوط واسهل (بحر) وفی الدرر وصدر الشریعة وبه یفتی واقره المصنف(۱). وقال الشامی ۳: ۳۷۶ مع التصریح فی کل منهما بأن الفتوی علیه لکن فی الفتح ان قول ابی یوسف اوجه عند المحققین(۲) (وفیه ۱: ۲۵۵) وفی الواقعات بنی مسجدا علی سور المدینة لا ینبغی ان یصلی فیه لانه حق العامة فلم یخلص لله تعالیٰ کالمبنی فی ارض مغصوبة(۳).

۲: چونکې وقف په قول د امام ابویوسف رحمه الله علیه صحیح او لازم شوې دې لهذا د هغې نه رجوع صحیح نه ده،

---

۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:٤۰۰ مطلب فی شروط الوقف علی قولهما)

۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:٤۰۱ مطلب التابید معنی شرط اتفاقا)

۳) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۳۸۱ مطلب الصلاة فی الارض المغصوبة)

وفی الدر المختار: ویزول ملکه عن المسجد والمصلی (قال الشامی) شمل مصلی الجنازة ومصلی العید) بالفعل وبقوله جعلته مسجدا عند الثانی، قال الشامی ۱: ۳۷۰ وفی الدر المنتقی وقدم فی التنویر والدرر والوقایة وغیرها قول ابی یوسف وعلمت ارجحیته فی الوقف والقضاء(۱)۔ وهو الموفق

په وقف او مملوک مقبره کې د تصرف مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دلته د پنځه شپږ کاله زوړ قبرستان دې چې په هغې کې نه د قبرونو پوره علامات شته او نه د مړو هډوکی خو ځینی پخواني خلك دا معلومات ورکوی چې دا قبرستان دې دا د ښهر ترمینځه واقع ده نو آیا دا قبرستان د سابقه مالکانو په ملکیت کې باقی دې یا نه، او مالکان په دې کې څه قسم تصرف کولې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: سلطان محمد دار العلوم اسلامیه لورآلائی بلوچستان... ۹ مئی ۱۹۸٤ء

الجواب: که دا قبرستان موقوف وی نو د حکومت نه اجازت ضروری دې (۲) او که مملوک وی نو ملاک ته حق د تصرف حاصل دې. (۳) وهو الموفق

د قبرستان دپاره وقف شوې ځمکه او بیا د واپسئ مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې حکومت د ځمکې یوه حصه دپاره د قبرستان، اهل اسلام مقرر او وقف کړې وه، او په

---

۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:٤۰٤،٤۰۵ مطلب فی احکام المسجد)

۲) وفی الهندیة: وان لم یکن للمسجد متول ولا للمقبرة فلیس للعامة التصرف فیها بدون اذن القاضی کذا فی الظهیریة۔

(فتاوی عالمگیریة ۲:٤۷٦ قبیل الباب الثالث عشر فی الاوقاف)

۳) نوټ: یعنی د وقف په صورت کې د ذاتی تصرف اجازت نشته او صورت د وقف وی خو مړی دفن کول په څه وجه بند کړې شوی وی نو بیا به په دې کې د مدرسې او جومات جوړولو اجازت وی. (مفتی سیف الله حقانی)

ترلی بل قبرستان کې د ګنجائش نه کیدو په وجه باندې خلقو په هغې کې مړی ښخول شروع کړل او ډیر مړی پکې ښخ کړې شوې دی اوس د انتظامیه بعض اهل کار تقاضه کوی چې په دې ځمکه کې دې نیمه حصه حکومت ته واپس کړې شی چې هغه د هاسټل د تعمیر دپاره استعمال کړې شی، آیا د قبرستان دپاره وقف شوې ځمکه یو فرد یا حکومت واپس اخستلې شی، آیا هغه د نورو مقاصدو لکه (هاسټل وغیره) دپاره استعمالیدلې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: اهالیان نوتهیه جدید وقدیم پشاور صدر ... ۲۵ اګست ۱۹۸۴ء

الجواب: که دا ځمکه د دفن کولو دپاره وقف کړې شوې وی نو ترڅو پورې چې په دې کې د دفن کولو حاجت باقی وی تر هغه وخته پورې به په دې کې نور تصرفات ناجائز دی، **ماخوذازشامی (1) وهوالموفق**

په زوړ قبرستان کې د مسجد او مدرسې جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې قبرستان زوړ شی اګر چې د قبرونو څه نخښې باقی وی او خر خچر وغیره هلته ګرځیدلو سره بول و براز کوی او خلقو هلته مړی دفن کول بند کړې وی نو آیا په داسې قبرستان کې مسجد یا مدرسه د خلقو د خواهش مطابق جوړول جائز دی؟ ما د فقه په یو کتاب خزانة الروایات کې کتلی دی: **(المسجد اذا خرب ودس والمقبرة اذا خربت ودسرت فیجوز فی موضعهما مایشاؤن)** د دې نه علاوه دا ځای اوس

---

(1) قال العلامة ابن عابدين : (قوله فلو وقفه السلطان) اى بعد ما صار لبيت المال بموت اربابه وقدمنا ان هذا ارصاد لا وقف حقيقى (قوله عاما) كالمسجد والمقبرة والسقاية ومثله ما وظفه فى مسجد ونحوه للعلماء ونحوهم ممن له حق فى بيت المال فلا يجوز لاحد ابطاله نعم للسلطان مخالفة شرط واقفه بزيادة ونقص ونحو ذلك لا بصرفه عن جهته الى غير جهته كما مر عند قوله ... لان فيه تعطيل حق بقية المسلمين.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ۳:۴۶۶ قبيل مطلب فى محاسبة المتولى وتحليفه)

په محله کې دننه راغلې دې د مسجد او مدرسې ضرورت هم دې نو آیا د ﴿الضرورات تبيح المحظورات﴾ قاعدې په بنیاد دلته مسجد او مدرسه جوړول صحیح دی؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولوی حبیب الله نیو دربند ..... ۱۱ دسمبر ۱۹۷٤ء

الجواب: په زوړ قبرستان کې مسجد وغیره جوړول جائز دی.

كما في فتح الملهم ۲: ۱۱۸ فان قلت هل يجوز ان تبنى المساجد على قبور المسلمين قلت قال ابن القاسم لوان مقبرة من مقابر المسلمين عفت فبنى قوم عليها مسجدا لم ار بذلك بأسا(۱) وفي الدر المختار على هامش ردالمحتار ۱: ۸٤۰ كما جاز زرعه والبناء عليه اذابلى وصار ترابا(۲). وهوالموفق

د وقف قبرستان د بدلون په خای په هغې کې دوباره مړی ښخول غوره دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دلته یو وقف قبرستان دې اوس خلقو دا اتفاق کړې دې چې که شریعت د دې اجازت ورکوی چې مونږ د دې قبرستان د ځمکې تبادله وکړو ځکه چې په بل ځای کې د هغې په ځای دوچند ملاویږی یا دهغې خرڅولو سره د هغې دوچند ځمکه واخستلې شی ځکه چې مونږ ته د قبرستان دپاره زیاته ځمکه پکار ده او اهل قریة د موجوده قبرستان د ډکیدو نه پس دومره وس او طاقت نه لری چې بیا نوې ځمکه واخلی او حال دا چې د شرح الوقاية ۲: ٤١٠ نه معلومیږی د امام ابویوسف رحمه الله په نزد دا استبدال جائز دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولوی محمود شاه نظام العلوم ینون بنهر ..... ۸ مئی ۱۹۸٤ء

الجواب: چونکې په صورت مسئوله کې د استبدال شرطونه متحقق نه دی، ﴿ وهي ما ذكرت في الهندية ۲: ٤٠١، والمعتمد انه يجوز للقاضي بشرط ان يخرج

۱﴾ (فتح الملهم بشرح مسلم ۲: ۱۱۶ كتاب المساجد ومواضع الصلوة)

۲﴾ (الدرلمختار على هامش ردالمحتار ۱: ٦٦۲ مطلب في دفن الميت)

عن الانتفاع بالکلية الی اخره(۱) لهذا د دې استبدال نه دا غوره ده چې د قبرستان د ړکيدو نه پس دوباره مړی ښخول شروع کړې شی. (۲) وهوالموفق

د مقبرې خپله راختلې ګيا او وابنه هر سړې استعمالولې شی

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زمونږه يو قاری صاحب دا مسئله بيان کړه چې په قبرستان کومه ګيا (وابنه) وغيره راخيژی د هغې استعمال مطلقا حرام دې او کوم څاروی چې ګيا (وابنه) وخوری د هغې شيدې خوړل حرام دی تردې چې د هغې غوښه هم حرامه ده، دا مسئله کوم حده پورې صحيح ده؟ بينواتوجروا

المستفتی: حافظ عبدالرشيد ارشد

الجواب: د مقبرې خپله راټوکيدلې ګيا (وابنه) هر سړې استعمالولې شی

لحديث: المسلمون شرکاء فی المآء والکلاء والنار، رواه ابوداؤد وابن ماجة(۳) وفی شرح المجلة ۶۸۱ لکل واحد ان يعلف حيوانه من الکلاء النابت فی المحل الذی لا صاحب له وان يأخذ منه ويحرز قدر ما يريد، الکلاء النابت فی ملك انسان بدون تسببه وان يکن مباحاً فلصاحبه المنع من الدخول ولکن

---

۱) (فتاوی عالمگيرية ۲:۴۰۱ الباب الرابع فيما يتعلق بالشرط فی الوقف)

۲) وفی الهندية: سئل القاضی الامام شمس الائمة محمود الاوزجندی... عن المقبرة فی القری اذا اندرست ولم يبق فيها اثر الموتی لا العظم ولا غيره هل يجوز زرعها واستغلالها قال لا ولها حکم المقبرة کذا فی المحيط، قوله قال لا: هذا لا ينافی ما قاله الزيلعی فی باب الجنائز من ان الميت اذا بلی وصار ترابا جاز زرعه والبناء عليه، لان المانع هنا کون المحل موقوفا علی الدفن فلا يجوز استعماله فی غيره فليتأمل واليحرر.

(فتاوی عالمگيرية ۲:۴۷۱ الباب الثانی عشر فی الرباطات والمقابر والخانات الخ)

۳) (مشکواة المصابيح ۱:۲۵۹ باب احياء الموات والشرب الفصل الثانی)

لطالب الكلاء ان يقول له ان لى فى ارضك حقا فاما ان توصلنى اليه اوتحشه وتدفعه لى(١)۔ وهوالموفق

د خپل کور د پاره په موقوفه قبرستان کښې لاره جوړول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې يو سړی خپل پټې د کورونو دپاره خرڅ کړو او د لوی سړک نه ئې خپل کور ته په پنځوس شپيته کلن زوړ قبرستان کښې لاره ويستله، آيا شرعا د دې اجازت شته؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: صوفی غلام محی الدین کیملپور........۱۹۷۳ء | ۱۱ | ۱۳

الجواب: که سړک سره متصل په موقوفه خمکه کښې د بائع حق مرور (د تیریدلو حق) ثابت نه وی نو دا لاره جوړول به ناجائز وی. (٢) لان الموقوف لا يصرف الالما وقف له(٣) وهوالموفق

---

١) (شرح المجلة لسليم رستم باز ٢:٦٨١ المادة: ١٢٥٦ احكام الاشياء المباحة)

٢) يدل عليه ما فى الهندية: ارض لاهل قرية جعلوها مقبرة واقبروا فيها ثم ان واحداً من اهل القرية بنى فيها بناء لوضع اللبن وآلات القبر واجلس فيها من يحفظ المتاع بغير رضا اهل القرية او رضا بعضهم بذلك قالوا ان كان فى المقبرة سعة بحيث لا يحتاج الى ذلك المكان فلا بأس به وبعد ما بنى لو احتاجوا الى ذلك المكان رفع البناء حتى يقبر فيه كذا فى فتاوىٰ قاضى خان.

(فتاوىٰ عالمگيرية ٢:٤٦٨ الباب الثانى عشر فى الرباطات والمقابر والخانات)

٣) قال العلامة ابن عابدين: وما خالف شرط الواقف فهو مخالف للنص وهو حكم لا دليل عليه سواء كان نصه فى الوقف نصا او ظاهراً، وهذا موافق لقول مشائخنا كغيرهم شرط الواقف كنص الشارع فيجب اتباعه كما صرح به فى شرح المجمع للمصنف.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ٣:٤٩٧ ما خالف شرط الواقف فهو مخالف للنص)

د پخوانئ جنازګاه د استبدال مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په کلی کې یوه زړه جنازګاه ده کوم چې اوس په آبادئ کې دننه راغلې دې اوس زمونږ مقصد دا دې چې دې لره خرڅولو سره د کلی نه بهر ځمکه واخلی، په هغې کې شل کاله جنازې شوې دی اوس هغې لره خرڅولو سره په هغې کې کور یا حجره جوړول څنګه دی؟ بینواتوجروا

المستفتي: عبدالرؤف تدیم ترک صوابئ ... ۹ جنوری ۱۹۷۳ء

الجواب: که دا پخوانئ جنازه ګاه موقوف وی نو بغیر د قاضی یا قائم مقام قاضی (حکمران وغیره) نه د هغې استبدال جائز نه دې (شامی) (۱) او که مملوکه شاملات وی نو ملاک یا د هغوی د وارثانو دپاره د هغې خرڅول څنګه دی. وهوالموفق

په وقف جنازګاه کې کوهې کنستلو سره وقف کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید بعض ځمکه د جنازګاه دپاره وقف کړه او بکر هم په دې جنازګاه کې یو وقف کوهې ویستلو په دې نیت چې خلق به دلته اودس کولو سره د جنازې لمونځ ادا کوی، د ضرورت په وخت به مونځ هم کوی، ورسره به د جنازې دپاره راتلونکی خلق اوبه هم څښی، نو آیا د بکر دپاره هم په دې وقف جنازګاه کې کوهې کنستل جائز وو؟ آیا بکر ته به د کوهی ثواب ملاویږی؟ که په وقف ځمکه کې دا کار ناجائز وو نو آیا حرام یا مکروه او که مباح دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: ماستر فرمان الله بیکا صوابئ .... ۲۷ جون ۱۹۷۲ء

---

(۱) قال العلامة الحصكفي: واما الاستبدال ولو للمساكين آل بدون الشرط فلا يملكه الا القاضي وشرط في البحر خروجه عن الانتفاع بالكلية الخ.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۳: ۴۲۵ مطلب في شروط الاستبدال)

الجواب: چونکې د حافرالبیر (کوهی کنستونکی) عمل اواراده دواقف د عمل اودهغه د ارادې منافی نه ده بلکې حافردواقف دپاره مکمِل (اسم فاعل من التکمیل) او معاون دې لهذا دواړه امور جائز دی. یدل علیه ما فی الهندیة ۲: ۳۷۱ البقعة الموقوفة علی جهة اذا بنی رجل فیها بناء ووقفها علی تلك الجهة یجوز بلاخلاف تبعا لها الخ (۱) قلت: وجه الدلالة واضح ولم اجده صریحاً. وهوالموفق

د پخوانی قبرستان په ځمکه باندې د عیدګاه جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په کلی کې یو زوړ قبرستان دې کوم چې د ډیر زړیدو دوجې نه دهغې قبرونه ختم شوې دی د بارانی علاقه کیدو دوجې نه پکې کندې شوی دی، خلقو ته دومره معلومه ده چې دلته قبرستان وو، خو د یو ډیر عمر والاسړی ته هم یاد نه دی چې دلته څوک دفن کړې شوې وو او حال دا چې د لوئې عمر والاسړې د شپږو شلو کالو دې او ژوندې دې، دې وخت کې دلته هیڅ قبرنشته اودکلی څاروی وغیره څریږی اوهلکان پکې لوبې کوی اوپوره کلې اهل سنت والجماعت حنفی دیوبندی مسلک لری نوآیا په دې ځمکه باندې عیدګاه جوړول صحیح دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: اهالیان ورنتیان مری ..... ۱۱ ستمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: داسې قدیم قبرستان نه عیدګاه جوړول جائز دی. یدل علیه ما فی الدرالمختار: کما جاز زرعه والبناء علیه اذا بلی وصار ترابا، هامش ردالمحتار ق ۱: ۸۴۰ (۲) وفی فتح الملهم ۲: ۱۱۸ فان قلت: هل یجوزان تبنی المساجد علی قبور المسلمین؟ قلت: قال ابن القاسم لوان مقبرة من مقابر المسلمین عفت فبنی علیها المسجد لم اربذلك بأسا (۳). وهوالموفق

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲: ۳۶۲ الباب الثانی فیما یجوز وقفه وما لا یجوز)
۲) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۶۶۲ مطلب فی دفن المیت)
۳) (فتح الملهم ۴: ۱۹ کتاب المساجد ومواضع الصلوة)

په ځمکه کې د انسانی هډوکو د راوتلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید په عمر باندې درې جریبه ځمکه خرڅه کړه په هغې کې تقریبا دوه کناله ځمکه بیکاره او غیر آباد ده او په هغې کې د یو نامعلومه شهید مزار هم دې، د شپیتو اویا کالو بوډاګان وائی چې زمونږ د یاد مطابق په دې ځمکه کې هیڅ آبادي نه وه او د پټواری په نقشه کې دا ځمکه خالي او غیر آباد لیکلې شوې ده اوس عمر د دې ځمکې هموار کول شروع کړل او د ځمکې د لاندې نه تقریبا د یو یا دوه فټو په مقدار ژور والی کې یو انسانی هډوکی راوتلو اوس عمر څه وکړی په خپل حال ئې پریږدی که هموار کولو سره ترې پټې وغیره جوړ کړی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی محمود جان نصرت زئی شبقدر چارسده

الجواب: د دې ځای هموار کول جائز دی خو د هډوکو په بل ځای کې دفن کول ضروری دی. فی الدرالمختار: کما جاز زرعه والبناء علیه (القبر) اذا بلی وصار تراباً زیلعی(۱) وبمعناه فی الهندیة ۱: ۱۷۷ (۲). وفی مجموعة الفتاوی ۳: ۴۶ اذا حفر فوجد فیه عظام الموتی لا یحرک عظام الموتی کذا فی الغرائب فقط(۳) قلت فاذا حرکت فتعامل معها معاملة الاجزاء الآدمی. وهوالموفق

په پخوانۍ وقف شوي مقبره کې د مسجد یا مدرسې د جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دلته یوه پخوانۍ

---

۱) (الدرالمختار مع ردالمحتار ۱: ۶۶۲ مطلب فی دفن المیت)

۲) وفی الهندیة: ولو بلی المیت وصار ترابا جاز دفن غیره فی قبره وزرعه والبناء علیه. (فتاوی عالمگیریة ۱: ۱۶۷ الفصل السادس فی القبر والدفن)

۳) (مجموعة الفتاوی للکهنوی ۱: ۳۴۱ کتاب الجنائز)

زړه مقبره ده د مړو ئې پته نه لګيږی چې د کومې زمانې نه دلته مدفون دی او څوک دی يعنی د دوه درې سوه کالو نه زياته زړه معلوميږی، اوس مونږ په دې مقبره کې د يو دار العلوم بنياد ايښې دې او د جامع مسجد او د عيدګاه بندوبست مو هم پکې کړې دې خو د دې ځای څه خلقو مخالفت شروع کړې دې چې دا ناجائز ده او دلته مونځ کول مکروه دی؟ بينواتوجروا

المستفتی: علی اکبر فاضل حقانيه..... ۱۸ ستمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: په زړه مقبره کې مسجد او مدرسه جوړول جائز دی كما فی فتح الملهم ۲: ۱۱۸ قال ابن القاسم لوان مقبرة من مقابر المسلمين عفت فبنى قوم عليها مسجداً لم ار بذلك بأساً، وذلك لان المقابر وقف من اوقاف المسلمين لدفن موتاهم لا يجوز لاحد ان يملكها فاذا درست واستغنى عن الدفن فيها جاز صرفها الى المسجد لان المسجد ايضاً وقف من اوقاف المسلمين لا يجوز تمليكه لاحد فمعناهما على هذا واحد، وذكر اصحابنا ان المسجد اذا خرب ودثر ولم يبق حوله جماعة، والمقبرة اذا عفت ودثرت تعود ملكا لاربابها (قلت لا يفتى به فی المسجد) (۱) فاذا عادت ملكا يجوز ان يبنى موضع المسجد داراً وموضع المقبرة مسجداً وغير ذلك فاذا لم يكن لها ارباب يكون لبيت المال قاله العينی فی شرح

---

(۱) بين القوسين عبارت د فتح الملهم نه دې بلکې دا د حضرت مفتی صاحب د طرفه د تنبيه په طور اضافه ده چه هرکله يوځل جومات جوړشی نو بيا هغه دوباره ملکيت نه شی جوړيدې او همدا مفتی به قول دې، كما قال العلامة الحصكفی: ولو خرب ما حوله واستغنى عنه يبقى مسجداً عند الامام، والثانی ابداً الى قيام الساعة وبه يفتى حاوی القدسی، وقال ابن عابدين: فلا يعود ميراثا ولا يجوز نقله ونقل ماله الى مسجد آخر سوآء كانوا يصلون فيه اولا وهو الفتوىٰ حاوی القدسی واكثر المشائخ عليه مجتبیٰ وهو الاوجح، فتح.

(الدر المختار مع ردالمحتار ۳: ۴۰۶ مطلب فيما لو خرب المسجد او غيره)

البخاری(۱) وفی الدرالمختار: جاز زرعه والبناء علیه اذا بلی وصار ترابا زیلعی، هامش الرد(۱:۶۰۲)(۲)۔

نوټ: چې کله واقفین یا ملاک معلوم نه وی نو د تصرف او جواز دپاره د حاکم عدم اعتراض ضروری دې وهوالموفق

په وقف مسجد کې د غوزانو (چارمغزو) د ونې ملکیت او د موقوف کیدو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی خپله ځمکه د مسجد د تعمیر دپاره وقف کړه او اهل محله د مسجد تعمیر وکړو اوس هغه ځای د واقف د کور سره متصل دې او په مینځ کې د مسجد یو وړوکې شان صحن دې، پس واقف په دې خالی ځای کې د خپل دیوال سره د غوزانو اونه ولګوله کومه چې ښه میوې ورکوی اهل محله په دې اونه باندې دعوی کوی چې دا وقف دې لهذا دا د اهل محله حق دې او واقف کوم چې خپله کرلې، او دې وائی چې دا اونه ما د ځان دپاره لګولې ده او هم زه د دې مالک یم اوس تپوس دې باره کې کوم چې دا ونه وقف ده او که د واقف ملکیت دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی عبدالحئ خطیب جالګل بټل مانسهره....۲۱ جنوری ۱۹۶۹ء

الجواب: که واقف د وقف د نیت سره دا ونه کرلې وی نو دا ونه وقف دې که وائی چې ما د دې ونې د وقف کیدو اراده نه وه کړې نو د هغه قول به منظور وی. لانه لایعلم الامن جهته(۳) وهوالموفق

---

۱) (فتح الملهم بشرح صحیح مسلم ۴:۱۶،۱۷ کتاب المساجد ومواضع الصلاة طبع بیروت)

۲) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:۶۶۲ مطلب فی دفن المیت)

۳) وفی الهندیة: رجل وقف ضیعته علی جهة معلومة...[بقیه حاشیه برصفحه آئنده

د متوفی امام د ځمکې د پاره د وقف علی المسجد کتبې او وظیفې د جاری ساتلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد یو امام ته د امامت د وجې نه څه ځمکه ورکړې شوې وه، کوم چې د هغه په نسل کې د یو نیم سلو کالو نه راروانه ده په موجوده نسل کې چې کله دا امام فوت شو نو په هغوی پسې یو هلک هم د امامت قابل نه وو، بلکې بچی ئې وو یو سړی چې په بل ځای کې امام وو هغه د هغه ځای امامت پرېښودلو سره دلته یې امامت اختیار کړو، د دې وجې نه چې دا ځمکه به هم زما په قبضه کې راشی، اګر چې هغه په هغه وخت کې دا ویل چې دا په ما باندې حرامه ده، نو آیا شرعا دا سړې په دې ځمکه باندې قبضه کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد خورشید هزاره

الجواب: که دا ځمکه سابقه امام ته د هبه په طور ورکړې شوې وه نو دا ځمکه د هغه د شرعی وارثانو ترکه او جائیداد دې، او که دا ځمکه د مسجد دپاره وقف وی نو دا ځمکه د چا جائیداد هم نه شی جوړېدې، بلکې دا به باقاعده په امام وغیره باندې خرچ کولې شی خو که د متوفی امام ځوی په تحصیل د علم کې مشغول وی نو د هغه دپاره به دا وظائف باقاعده جاری کولې شی.

والدلیل علی الاول ان الهبة تتم بالقبض (۱) وعلی الثانی ان الوقف لا

بقیه ازحاشیه گذشته] او علی قوم معلومین ثم ان الواقف غرس فیها شجرا، قالوا ان غرس من غلة الوقف او من مال نفسه لکن ذکر انه غرس للوقف یکون للوقف وان لم یذکر شیئاً وقد غرس من مال نفسه یکون له وورثته بعده ولا یکون وقفاً کذا فی فتاویٰ قاضی خان-
(فتاویٰ عالمگیریة ۲:۴۷۶ الباب الثانی عشر فی الرباط الخ)

۱) قال العلامة المرغینانی: والعمری جائزة للمعمر له حال حیاته ولورثته من بعده لما روینا ومعناه ان یجعل داره له مدة عمره واذا مات ترد علیه فیصح التملیک ویبطل الشرط لما روینا وقد بینا انه الهبة لا تبطل بالشروط الفاسدة-
(هدایة ۳:۲۹۴ باب ما یصح رجوعه ومالا یصح)

يملك(١) وعلى الثالث ما في ردالمحتار ٣: ٣٨٨ ونقل العلامة البيرى عن الخزانة عن مبسوط فخر الاسلام اذا مات من له وظيفة في بيت المال لحق الشرع واعزاز الاسلام كاجر الامامة والتأذين وغير ذلك مما فيه صلاح الاسلام والمسلمين وللميت ابناء يراعون ويقيمون حق الشرع واعزاز الاسلام كما يراعى ويقيم الاب فللامام ان يعطي وظيفة الاب لابناء الميت لا يضرهم لحصول مقصود الشرع وانجبار كسر قلوبهم، وقال البيرى هذا مؤيد لما هو عرف الحرمين الشريفين ومصر والروم من غير نكير من ابقاء ابناء الميت ولو كانوا صغاراً على وظائف آباءهم مطلقاً من امامة وخطابة الخ. قلت: ومقتضاه تخصيص ذلك بالذكور دون الاناث وانت خبير بان الحكم يدور مع علته فان العلة هي احياء خلف العلماء ومساعدتهم على تحصيل العلم فاذا ابتغ الابن طريقة والده في الاشتغال بالعلم فذلك ظاهر اما اذا اهمل ذلك واشتغل باللهو واللعب اوفي امور الدنيا جاهلاً غافلاً معطلاً للوظائف المذكورة اوينيب غيره من اهل العلم بشيئ قليل ويصرف باقي ذلك في شهواته فانه لا يحل لما فيه من اخذ وظائف العلماء وتركهم بلاشيئ يستفدون به على العلم كما هو الواقع في زماننا الخ. وهوالموفق

د زلزله زدګان د پاره د بيروني ممالک نه د راغلي امداد د تقسيم طريقه

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د زلزله زدګان دپاره د بهر ملکونو نه کافي امداد پاکستان ته راغلې وو چې د هغې دپاره حکومت يو طريقه او انداز مقرر کړې وو، چې په مرګ باندې پنځه زره د کور اوآبادئ د ويراني په صورت کې پنځلس سوه او د غوا او ميښې په عوض کې

---

(١) وفي الهندية: وعندهما حبس العين على حكم ملک الله تعالىٰ على وجه تعود منفعته الى العباد فيلزم ولا يباع ولا يوهب ولا يورث.
(فتاوىٰ عالمكيرية ٢: ٣٥٠ كتاب الوقف الباب الاول)

زر او د ګډ په عوض کې به پنځه سوه روپۍ ورکوو، اوس که یو سړی د نقصاناتو نه زیات مال په دروغه او دهوکې سره وصول کړی نو د دې څه حکم دی؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد جانس فاضل حقانیه بشام ....۱ جولائی ۱۹۷۵ء

الجواب: که بیرونی ممالکو پاکستان لره مختار جوړولو سره دا پیسې رالیږلې وی، نو دا رقم به د پاکستان په صوابدید باندې خرچ کړې شی، د دې رقم د حصول دپاره به حیلې جوړول مفید نه وی، او که بیرونی ملکونو د پاکستان نه وکیل او امین جوړ کړې وی چې دا رقم مصیبت زده خلقوته ورسوی نو په دې صورت کې به د مصیبت زده خلقو دپاره په توریه وغیره حیلو سره زائد رقم حاصلول جائز وی، خو د غیر مصیبت زده دپاره به دا حیله جائز نه وی، نعم لا حرج في اخذ الغير المصابين بتوكيل المصابين ورضائهم، لان اصل الحق لهم فافهم(۱) وهوالموفق

د عیدګاه په ځمکه کې مسجد جوړول، د هغې د پاره جمع شوې چنده او د دکانونو جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې څو کاله مخکې یو عالم فاضل دیوبند عوامو ته وویل چې د اختر مونځ د کلی نه بهر د سنت مطابق کول پکار دی لهذا یو نیك سړي د دې دپاره ځمکه وقف کړه په هغې کې ئې یو طرف ته دکانونه جوړول شروع کړل د ګټې دپاره، او ځمکه هم دغه شان پاتې شوه، دا ځمکه چې د عیدګاه دپاره وقف کړې شوې وه په دې کې عارضي طور مونځ یا تراویح کول څنګه دی؟ که په دې کې اذان یا باجماعت مونځ وشو نو آیا د دې نه به مسجد جوړ شی؟ او کومه چنده چې د خلقو نه د

۱) اشاره الى ان فتح هذين البابين لا امن فيه عن الوقوع فى المهالک، فالحذر فى ان يسد هذان البابان باب اى باب الحيله وباب التوكيل. (سيف)

مسجد په نوم اخستلې شوې ده آیا دا به هغوی ته واپس کولې شي او که هغه به د عارضی مصلی جوړولو دپاره خرج کړو؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: قاری سعید احمد.....۲۰ مارچ ۱۹۷٤ء

الجواب: د عیدګاه دپاره وقف کړې شوې ځمکه مسجد نه شي جوړیدې. لمخالفة الشرط المنصوص، وفی الهندیة ۲: ۳۷۱ البقعة الموقوفة علی جهة اذا بنی رجل فیها بناء ووقفها علی تلک الجهة یجوز بلا خلاف تبعا لها فان وقفها علی جهة اخری اختلفوا فی جوازه والاصح انه لایجوز کذا فی الغیاثیة (۱) خو په دې کې مونځ یا باجماعت مونځ ممنوع نه دې، کما جازت صلاة العید فی المسجد. او چنده د چنده ورکونکو په رائې او مشوره باندې هر ځای کې لګول جائز دی، لعدم خروجه عن ملکهم (۲).

نوټ: د دکانونو په چت باندې مسجد جوړول منع نه دی خو داسې مسجد مسجد عرفی دې شرعی نه دې، په دې کې اعتکاف صحیح نه دې.

قال العلامة الشامی: قال فی البحر حاصله ان شرط کونه مسجدا ان یکون سفله وعلوه مسجدا لینقطع حق العبد عنه (۳)، وللتفصیل مقام آخر. وهوالموفق

د چا غیر ملکیت له قبضه کولو سره په هغې کې د مسجد یا قبرستان جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړی حکمت عملی اختیارولو سره د بل سړی ځمکه قبضه کړي او خپل ملکیت

---

(۱) (فتاوی عالمگیریة ۲: ۳٦۲ الباب الثانی فیما یجوز وقفه ومالا یجوز)

(۲) یدل علیه ما فی الملتقط: اذا جمع دراهم لکفن میت ففضل او کفنه غیره یصرف الی المعطین فان تعذر ذلک یتصدق به.

(الملتقط فی الفقه الحنفیة ۲۷ مطلب فی جواز الامامة الصبی)

(۳) ردالمحتار هامش الدر المختار ۳: ٤۰٦ قبیل مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

جوړ کړي، اوس دې ملکیت لره د قبرستان یا مسجد دپاره وقف کول غواړي آیا په داسې ځمکه کې قبرستان یا مسجد جوړول جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: فضل داد... کوهاله براسته کوه مری...... ۱۶ نومبر ۱۹۷۲ء

الجواب: د چا په ملکیت کې بغیر د اذن نه تصرف کول حرام او ناجائز دی، قال رسول الله ﷺ: الا لا تظلموا، الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه، رواه البیهقی فی شعب الایمان والدارقطنی فی المجتبٰی(۱) وفی شرح المجلة ۶۱ لایجوز لاحد ان یتصرف فی ملك غیره بلا اذنه او وکالة منه او ولایة علیه(۲)، تردې چې په داسې مسجد کې مونځ مکروه دې او د داسې مقبرې نه د مړی د قبر نه راویستل جائز دی، فی ردالمحتار: وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة (الی ان قال) وارض مغصوبة او للغیر، هامش ردالمحتار ۱:۲۵۴،۲۵۵(۳) وفیه ایضاً ولا یخرج منه بعد اهالة التراب الالحق آدمی کان تکون الارض مغصوبة، هامش ردالمحتار ۱:۶۰۲(۴)۔ وهوالموفق

د قیام پاکستان په وخت د هندوانو نه د پاتې شوې کورونو د ملکیت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې کله پاکستان جوړ شو د هندوانو نه دلته کورونه او دکانونه پاتې شو اوس په یو دکان باندې د عبدالله نومې سړی قبضه ده او بل کرایه دار ئې په هغې کې کینولو، څه موده پس ئې ترې هغه وویستلو او بل سړی ته ئې په کرایه ورکړو، هغه دوه کاله کرائی ورکوله، چې کله ترې عبدالله د دکان مطالبه وکړه نو په جواب کې

---

۱) (مشکوٰة المصابیح ۱:۲۶۱ باب الغصب والعاریة الفصل الثانی)

۲) (شرح المجلة لرستم باز ۱:۶۱،مادة:۹۶)

۳) (الدرالمختار مع ردالمحتار ۱:۲۷۹ مطلب فی اعراب کائناً ماکان)

۴) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:۶۶۲ مطلب فی دفن المیت)

ورته هغه سړي وویل چې زما ستا په وروړ باندې قرض دي څه موده پس ترې نه هغه صفا انکار وکړو چې دکان ستا نه دې، اوس د شریعت په رڼا کې د دې مالک څوک دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: عبدالاکبر خان..... ۲ مئی ۱۹۷٤ء

الجواب: د داسې ځمکې مالک هغه سړې وی د چا نه چې حکومت مالک جوړ کړی. قال الله تبارك وتعالى: وما افاء الله على رسوله منهم فما اوجفتم عليه من خيل ولا ركاب ولكن الله يسلط رسله على من يشاء[1]، فالفيئ يكون للرسول وكذالنائبه،فافهم، ددینه پس د حکومت د اعلان نه مخکې دا دکان عبدالله سره په طور د امانت مقبوض وو او بل سړی په طور د عاریت په قبضه کې اخستلې دې لهذا هغه امین الامین شو، پس په حقیقت کې به قابض عبدالله وی او مالک به شمارلې شی. وهوالموفق

په مزارات اولیاء باندې د جمع شوې پیسو مصرف او حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د اولیاء الله په مزاراتو باندې د کیدونکې ګټې باره کې څه حکم دې؟ د دې پیسو نه په مسجد جوړولو یا د غریبو مسلمانانو په مدد کې لګولو یا په نورو نیکو مقاصد کې د لګولو څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد نذير.... اسلام آباد پنجاب

الجواب: د دې جائز او ناجائز نذرانو د مالکانو په اجازت سره په هر نیک کار کې صرف کول جائز دی،

والملاك هم المتولون ان وجد القبض والا فالمعطون، ولا يجوز لارباب الحكومة اخذها والتصرف فيها لعدم الاذن لهم لاصريحاً ولاعرفاً۔ وهوالموفق

---

[1] (سورة الحشر آیت: ٦ پاره: ۲۸ رکوع: ٤)

کوم ځای چې باقاعده وقف نه وی نو
په هغې کې هر قسم تصرف جائز دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې قوم مونږ ته ویلې دی چې تاسو په کلی کې یوه مدرسه جوړه کړئ او کوم ځای چې یې متعین کړو هغه د کلی په مینځ کې دې ما وویل چې دا ځای غیر مناسب دې بیا قوم مشوره کولو سره وویل چې فی الحال دا ځای بنه دې او د فراغت نه پس به مونږ پیسې ورکولو سره په بل ځای کې مدرسه جوړه کړو، او دا ځای به د مسجد دپاره وقف کوو یا به ئې خرڅ کړو، اوس د دې ځای حکم د موقوف دې یا د غیر موقوف؟ او د موقوف ځای د واپسۍ څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد نواب وزیرستانی کمره ۳۲/

احاطه مدنیه اکوړه خټک ... ۲۰ اگست ۱۹۸٤ء

الجواب: دا مخکې ذکر شوې ځای موقوف نه دې په دې کې هر قسم تصرف جائز دې (۱) خو کوم ځای چې باقاعده د مسجد دپاره وقف شی نو هغه د بل مقصد دپاره نه شی وقف کیدلې، للزوم الوقف الاول (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: ولو شرط ان یبیعها ویشتری بثمنها ارضا اخریٰ ولم یزد صح استحسانا وصارت الثانیة وقفاً بشرائط الاولیٰ.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:٤۲۵ قبیل مطلب فی اشتراط الادخال والاخراج)

۲) وفی الهندیة: البقعة الموقوفة علی جهة اذا بنی رجل فیها بناء ووقفها علی تلک الجهة یجوز بلا خلاف تبعا لها فان وقفها علی جهة اخریٰ اختلفوا فی جوازه والاصح انه لا یجوز کذا فی الغیاثیة.

(فتاویٰ عالمگیریة ۲:۳٦۲ الباب الثانی فیما یجوز وقفه وما لا یجوز)

د یونین د چندې نه خپله خوراک او په بل باندې د خوړلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا د مختلفو محکمو یونین او تنظیمونه جوړېږي او هر یو ممبر د خپل مفاد دپاره یونین ته د میاشتې چنده ورکوي اوس که په دې قسم یونین کې د یو یونین صدر د خپلو ممبرانو جلسه د څه خاص مقصد دپاره منعقد کړي او په هغې کې د ټولو ممبرانو د خوراک انتظام یونین د چندې نه وکړي، نو آیا دا خوراک څښاك به د یونین د هر ممبر دپاره جائز وي؟ او حال دا چې د یونین بعض ممبران غیر حاضر هم وي هم دغه شان د یونین غیر ممبر باندې دا خوراک خوړل جائز دي یا نه؟ د تقوی او فتوی په لحاظ لیکل وکړئ. **بینواتوجروا**

المستفتي: عبدالحمید ایس وی وزیرستان..... ۱۳ نومبر ۱۹۷۴ء

الجواب: د چنده ورکونکو په اجازت او رضا سره دا خوراک یعنی خپله خوړل او په بل خوړل جائز دي، هم دغه شان که صدر ته دا اختیار ورکړې شوې وي نو بیا هم جائز ده. (۱) په تقوی او فتوی کې فرق نشته. **وهوالموفق**

...

(۱) چونکې د محکمو یونینز (Unions) او تنظیمونه د خپل مینځ کې امداد په نوم باندې جوړولې شي او د ضروري کارونو د پوره کولو دپاره چنده کولې شي او ورکونکي خلق هم په دې بنیاد باندې چنده ورکوي، نو ګویا د دې یونین او تنظیم په ذمه چې کوم امور سپارلې شوي دي نو دا چنده د عام معروفو اصولو د لاندې د هغه امورو د پوره کولو دپاره خرچ کول قابل اعتراض نه دي. ونظیره في الاسلام العاقلة والقسامة وعقد الموالات والولاء وغیره. (از مرتب)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

(شپږم جلد)

باب احکام المساجد

....

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوی فریدیہ

باب احکام المساجد

قال اللہ تبارک وتعالی:

اِنَّمَا یَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰہِ

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰہِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ

(سورۃ النساء)

....

باب احکام المساجد

د مسجد کیدو بنیاد د جوړونکی په نیت باندې دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې شرعی مسجد په محراب جوړولو سره دې او که د جوړونکی د نیت په اعتبار سره؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: الحاج نیاز ولی خان... سپین وام حسن خیل وزیرستان

الجواب: د مسجد کیدو بنیاد په نیت باندې دې نه په محراب او تعمیر باندې. (۱) **وهوالموفق**

د فتنې د ختمولو دپاره د مسجد د تقسیم مسئله

سوال: مکرمی جلیل القدر مولانا صاحب الحق صاحب زروبوی مفتی دار العلوم حقانیه!

عرض دې چې زمونږ په کلی کې صرف یو مسجد دې او ټوله آبادی تقریبا په دیرشو کورونو باندې مشتمل ده اوس په عوامو کې څه خفگان او منافقت پیدا شوې دې او دا جاهل عوام اوس وائی چې مسجد دې په دوه حصو کې تقسیم کړې شی او په مینځ کې دې ورته دیوال جوړ کړې شی، آیا په شریعت کې د مسجد د تقسیم اجازت شته؟ او حال دا چې امامان د یو بل قراءت هم اوریدلې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی رحمت جلال ومولوی عبدالجلیل الزرو طوطه کان دیر

الجواب: د یو مسجد د فتنې د دفع کولو دپاره تقسیمول جائز دی.

---

۱) وفی الهندیة: واما حکمه فعندهما زوال العین عن ملکه الی الله تعالیٰ وعند ابی حنیفة حکمه صیرورة العین محبوسة علی ملکه بحیث لا تقبل النقل عن ملک الی ملک.
(فتاویٰ عالمگیریة ۲:۳۵۲ کتاب الوقف الباب الاول)

فی الهندیة: ۵:۳۵۵ اهل محلة قسموا المسجد وضربوا فیه حائطا ولکل منهم امام علی حدة ومؤذنهم واحد لابأس به والاولیٰ ان یکون لکل طائفة مؤذن، قال رکن الصباغی کما لایجوز لاهل المحلة ان یجعلوا المسجد الواحد مسجدین فلهم ان یجعلوا المسجدین الخ(۱)۔ وهوالموفق

د مسلمان جوړ کړې شوې مسجد مسجد ضرار نه شی کیدې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د مسجد دپاره ځمکه وقف کړه، چې هغې سره نزدې مسجد نشته، او خلقو ته هلته د مونځ کولو ضرورت دې آیا دا مسجد مسجد ضرار دې؟ که نه وی نو د دې څه وجه ده؟ او د مسجد ضرار اطلاق په کوم مسجد باندې کیږی؟ بینواتوجروا

المستفتی: جمیل الرحمن لوهار مقام زروبئ صوابئ..... ۲۷ دسمبر ۱۹۲۹ء

الجواب: د مسلمان جوړ کړې شوې مسجد، مسجد ضرار نه شی کیدې، اګر چې دویم مسجد نزدې وی ځکه چې په داسې مسجد کې دا قید هم معتبر دې چې د دې مسجد په تعمیر باندې باعث کفر وی او د الله پاک د دشمنانو د مشورو مرکز کیدل. قال الله تعالیٰ: والذین اتخذوا مسجداً ضراراً وکفراً وتفریقاً بین المؤمنین وارصاداً لمن حارب الله ورسوله من قبل (الآیة)(۲) او چونکې د دې ځای نه مسجد لرې دې او د مسلمانانو سره معاونت دې لهذا دامسجد ضرار نه دې، بیشکه په دې کې دامامت د وظائفو دپاره ضرر موجود دې خو ددې د وجې نه یو مسجد مسجد ضرار نه شی کیدې.(۳) وهوالموفق

---

۱) (فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۲۰ الباب الخامس فی آداب المسجد والقبلة الخ)

۲) (سورة التوبة آیت: ۱۰۶ پاره: ۱۱)

۳) وفی المدارک: وقیل کل مسجد بنی مباهاة او ریاء او لغرض سویٰ ابتغاء وجه الله او بمال غیر طیب فهو لاحق بمسجد الضرار۔
(تفسیر مدارک ۱:۶۵۱ سورة التوبة الجزء الحادی عشر)

د صحیح غرض په نیت باندې جوړ کړې شوې مسجد مسجد ضرار نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زموږ په کلي کې یو زوړ مسجد دې او تقریبا شل کاله مخکې د کورونو د لری والی د وجې نه خلقو یو بل مسجد هم جوړ کړې دې اوس بعض خلق وائی چې په دې بل مسجد کې مونځ جائز نه دې او کومو خلقو چې په هغې کې مونځ وکړو د هغوی جنازه هم صحیح نه ده، آیا په دې مسجد باندې د مسجد ضرار اطلاق کیدې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی گل احمد یرول پانړه ضلع دیر ..... ۷ دسمبر ۱۹۷۲ء

الجواب: که دا مسجد د یو فاسد غرض دپاره جوړ کړې شوې وی نو دې مسجد ته مسجد ضرار ویل صحیح او که د غرض صحیح مثلا د مسلمانانو د معاونت یا د فساد د ختمولو دپاره جوړ کړې شوې وی نو دې ته مسجد ضرار ویل غلط دی. فی التفسیرات الاحمدیة ۴۷۸ وقال صاحب المدارك وقیل كل مسجد بني مباهاة اوریاء اوسمعة اولغرض سوی ابتغاء وجه الله تعالیٰ او بمال غیرطیب فهولاحق بمسجد الضرار(۱)۔ وهوالموفق

د یو مسجد په خوا کې دویم مسجد جوړول او د مسجد ضرار مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو مسجد تقریبا د اته لسو کالو نه زیر تعمیر دې، چت دالان او انګڼ تقریبا درې کناله جوړ شوې دی چې په هغې باندې شپیته اویا زره روپۍ اهل محله وغیره صرف کړې دی، اوس بعض خلقو د دې مسجد په مقابله کې د بل مسجد تعمیر شروع کړې دې کوم چې بالکل دې ته نژدې دې آیا دا نوې مسجد تعمیر کول جائز دی؟ او د مسجد ضرار مفهوم څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حافظ عبدالمنان صاحب اوګی هزاره

---

۱) (التفسیرات الاحمدیة ۴۷۸ مبحث بناء المساجد سوی ابتغاء وجه الله تعالی)

الجواب: مسجد ضرار هغې ته وائی کوم چې د فاسد غرض دپاره تعمیر کړې شوې وی، د غرض فاسد نه مراد دا دې چې مسلمانانو ته د ضرر رسولو او د هغوی په تقسیم کولو او بې اتفاقئ دپاره جوړ کړې شوې وی، یا د مسلمانانو د دشمنانو انتظار گاه یا د پناه ځای وی. (سورة البراءة) (١) هم دغه شان چې کله د فخر او ریاء دپاره جوړ کړې شوې وی. کما فی التفسیر الاحمدی قال صاحب المدارك وقیل کل مسجد بنی مباهاة اوریاء اوسمعة اولغرض سوی ابتغاء وجه الله اوبمال غیرطیب فهولاحق به(٢). وهوالموفق

په یوه محله کې دویم مسجد جوړول او د مسجد ضرار حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې درې ورونه دی او د درې واړو یو مسجد دې څه موده پس د هغوی نه یو ورور بل مسجد جوړ کړو چې دهغې د وجې نه اول مسجد ته نقصان رسیږی مثلا په اجتماعیت کې کمې راتلل، آیا دا مسجد د مسجد ضرار په حکم کې شامل دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: علی رحمٰن مهمندی...... ٣ اپریل ١٩٧٥ء

الجواب: که د دویم مسجد جوړولو باعث اولنی مسجد ته نقصان رسول وی نو دا دویم مسجد به مسجد ضرار وی، او که باعث دا وی چې د فساد او جدال نه امن حاصل شی نو دا به مسجد ضرار نه وی، صرح به فی المدارك فی سورة البراءة بکون المسجد الذی بنی لغرض فاسد مسجد أضراراً(٣) وکذا صرح

---

١) قال الله تعالیٰ: والذین اتخذوا مسجداً ضراراً و کفرا وتفریقاً بین المؤمنین وارصاداً لمن حارب الله ورسوله من قبل، ولیحلفن ان اردنا الا الحسنیٰ، والله یشهد انهم لکذبون- (سورة التوبة آیت: ١٠٧ رکوع: ٢ پاره: ١١)

٢) (مدارک التنزیل المعروف بالتفسیر النسفی ١:٥١٩ سورة التوبة)

٣) وقیل کل مسجد بنی مباهاة او ریاء او سمعة او لغرض سوی ابتغاء وجه الله او بمال غیر طیب فهولاحق بمسجد الضرار- (التفسیر النسفی المعروف مدارک التنزیل ١:٥١٩ سورة التوبة)

في الهندية: ٥: ٣٥٥ بجعل المسجد الواحد مسجدين اى لغرض صحيح، فـأفهم(١)۔ وهوالموفق

غير موقوف. دکانونو باندې پورته جوړ کړې شوې مسجد عرفي دې

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې څو دکانونه زير تعمير دی، شريکانو فيصله کړې ده چې د قبلې طرف ته دکانونه چې د کوم سړي په قرعه کې راوختل نو هغه به پورته حصه د مسجد دپاره ورکوی، آيا په دکانونو دپاسه مسجد جوړولې شی؟ بينواتوجروا

المستفتی: محمد عبدالله تله کنگ ضلع اټک ...... ٢٨ جمادی الثانی ١٣٩٩ھ

الجواب: چونکې د دې چتونو نه لاندې خمکه موقوفه نه ده بلکې مملوکه ده، لهذا په دې چتونو باندې جوړ شوې مسجد به عرفی وی شرعی مسجد به نه وی، په دې کې به اعتکاف صحيح نه وی.

يدل عليه ما في الدر المختار ٣: ٥١١ وفي القهستاني: ولابد من افرازه اى تميزه عن ملكه من جميع الوجوه، فلو كان العلو مسجدا والسفل حوانيت اوبالعكس لا يزول ملكه لتعلق حق العبد به كما في الكافي(٢)۔ وهوالموفق

په دوه منزله عمارت کې يو منزل په طور د مسجد استعمالول شرعی مسجد نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې په پيښور فوجي چهاونۍ کې دوه منزله عمارت دې چې د هغې لاندې حصه د مسجد په طور استعمالولې شی او پنځه وخته مونځ پکې سره د جمعې ادا کولې شی او پورته حصه ئې د اوسيدو ځای دې چې په هغې کې فوجيان اوسيږی آيا دا لاندې حصه مسجد کيدو سره پورته اوسيدل جائز دی؟ بينواتوجروا

المستفتی: شفيق الرحمن کوتها c/o مولانا عبيد الرحمن پشاور چهاؤنی ٢ ربيع الثانی ١٤٠١ھ

---

١) (فتاوی عالمگيرية ٥: ٣٢٠ الباب الخامس فی آداب المسجد)

٢) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٣: ٤٠٥ مطلب فی احكام المسجد)

الجواب: چونکې لاندې حصه عرفي مسجد دې چې دا مسجد شرعي نه دې، لهذا د دې مسجد په پورته حصه کې اوسيدل ممنوع نه دی. ونظيره مساجد البيوت فافهم[1] وهوالموفق

د ذاتي کور د پاسه غير موقوف مسجد. عرفي مسجد دې شرعي نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زيد په خپل ذاتي جائيداد کې لاندې کور جوړولو سره پورته د محلې د سهولت دپاره مسجد جوړ کړو، ټول اخراجات خپله ادا کوی او اهل محله په دې کې مونځونه ادا کوی او د بجلۍ وغيره په اخراجات کې اهل محله هم کومك کوی، د زيد حق توليت برقرار دې، اوس زيد وائي چې دا مسجد ما خپله جوړ کړې دې هم زه به ئې استعمالوم عوام او د محلې خلقو ته د مونځ کولو اجازت نشته وغيره وغيره، نو آيا د زيد دپاره دا قسم رويه خپلول جائز دی؟ بينواتوجروا

المستفتي: ع.ح. قريش c/o محمد رمضان علوی ... ٢٧ جولائی ١٤٠١هـ

الجواب: دا مسجد مسجد عرفي دې مسجد شرعي نه دې، د دې اخستل او خرڅول جائز دی د دې د مونځ کونکو منع کول ناجائز نه دی.

كما يدل عليه ما في ردالمحتار ٣٥٨:٤ طبع المصطفى البابي قال في البحر وحاصله ان شرط كونه مسجدا ان يكون سفله وعلوه مسجد لينقطع حق العبد عنه لقوله تعالىٰ وان المساجد لله، انتهىٰ[2] قلت: لان المدار على الموقوفية وههنا لم يتحقق لا وقف العقار ولا وقف السقف، فافهم.

---

[1] قال العلامة ابن نجيم : ومن اتخذ وسط داره مسجداً واذن للناس بالدخول فله بيعه ويورث عنه لانه لم يخلص لله تعالى لبقاء حق العبد متعلقاً به.
(البحر الرائق ٥:٤٢١ كتاب الوقف فصل في احكام المسجد)

[2] (ردالمحتار هامش الدر المختار ٣:٤٠٦ مطلب في احكام المسجد)

نوټ: په داسې مسجد کې اعتکاف صحیح نه دی. (١) وهوالموفق

د مسجد د کمیټۍ د انتخاب طریقه کار

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دلته یو مرکزی جامع مسجد دې چې په هغې کې یو پیش امام او یو خطیب دې، د خطیب د میاشتې تنخواه دوه زره روپۍ ده خطیب د کمیټۍ نه د زیاتې تنخواه مطالبه وکړه نو کمیټۍ مسترد کړه، خطیب دا تهمت پورې کړه چې دا کمیټی خائنه ده حال دا چې هغه خپله مخلص دې، بیا هم خطیب بله کمیټی جوړول شروع کړل او صدر په دوه ډلو کې تقسیم شو، د یو صدرعالم دې او دویم عام سړې دې، آیا بغیر د تحقیق نه دا کمیټی ماتول د شریعت په رڼا کې جائز دی، آیا خطیب ددې د ماتولو اجازه لري؟ آیا ددې مسجد انتظام چلول د اهل محله حق دې اوکه د ټول ښهر دخلقو اوکه دمسجد د امام او خطیب حق دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: قاری غلام مصطفی شاه مرکزی جامع مسجد گلگت ... ٢١ رمضان ١٤٠٩ھ

الجواب: که د دې جامع مسجد او د هغې د متعلق دکانونو واقف یا د هغه ولی موجود وی نو د هغوی رائې باندې دې دارومدار کیښودل شی، که دا کسان موجود نه وی نو د حاکم رائې دې معمول جوړه کړې شی، او د هغې نه افضل دا ده چې د دې جامع مسجد د متعلقه مونځ کونکو نه د اهل حل وعقد په رائې باندې فیصله وکړې شی. **فلیراجع الی الدرالمختار فصل یراعی شرط الواقف**(٢). **وهوالموفق**

---

١) وفی المنهاج: اعلم ان المساجد التی بنیت علی الحوانیت المملوکة الغیر الموقوفة هی مساجد عرفیة لیست بمساجد شرعیة لما فی وقف البحر وحاصله ان شرط کونه مسجداً ان یکون سفله وعلوه مسجداً لینقطع حق العبد عنه لقوله تعالیٰ وان المساجد لله انتهی، فلا یصح الاعتکاف فی مثل هذه المساجد.

(منهاج السنن شرح ترمذی ٧٤:٤ باب المعتکف یخرج لحاجته ام لا)

٢) قال العلامة الحصکفی: ولایة نصب القیم الی الواقف... [بقیه حاشیه برصفحه آئنده

د مسجد د کمیټئ د ارکانو د انتخاب دپاره شرائط او ضوابط

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې (۱) یو هم مسلک او صالح سړې چې په یو سرکاری عهده باندې فائز دې د حکومت نه د یو قطعه اراضی دپاره د تعمیر حاصله کړه او د دیندار او مخیر کسانو یو مشاورتی کمیټی جوړولو سره ئې د خپل اهتمام لاندې تعمیر شروع کړو کوم چې تکمیل ته رسیدلې دې، صاحب مذکور د ریټائرډ کیدو نه پس په بله تړلې علاقه کې رهائش اختیار کړې دې، آیا د شریعت په رڼا کې دا سړې اوس د کمیټئ ممبر جوړیدې شی؟

(۲) د ذکر شوی مسجد نور بعض ارکان منتظمه کوم چې په دې علاقه کې رهائش لری خو په نورو علاقو کې تجارت او ملازمت (مزدوری) کوی، او پنځه وخته مونځونه دلته نه ادا کوی صرف د جمعې یا د سحر او ماسخوتن د مانځه دپاره راځی او د مسجد اعانت کوی آیا صرف هم په دې وجه چې هغوی پنځه وخته مونځ دلته نه کوی په دې وجه د مسجد د کمیټئ ارکان نه شی جوړیدې؟

(۳) یو دیندار مخیر اهل حدیث کوم چې د شروع نه دلته د رهائشی کمیټئ ممبر دې او بې لالچه خدمت کوی آیا صرف د غیر حنفی کیدو د وجې نه د مسجد د کمیټئ ممبر نه شی جوړیدې؟

بقیه ازحاشیه گذشته] ثم لوصیه... ثم اذا مات المشروط له بعد موت الواقف ولم یوص لاحد فولایة النصب للقاضي، قال العلامة ابن عابدین: (الی الواقف) قال فی البحر... ثم ذکر عن التتار خانیة ما حاصله ان اهل المسجد لو اتفقوا علی نصب رجل متولیا لمصالح المسجد فعند المتقدمین یصح ولکن الافضل کونه باذن القاضی ثم اتفق المتاخرون ان الافضل ان لایعلموا القاضی فی زماننا لما عرف من طمع القضاة فی اموال الاوقاف الخ۔

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۴۴۸،۴۴۹ مطلب الافضل فی زماننا نصب المتولی الخ)

(۴) آیا په شریعت کې د مسجد د تولیت حقدار صرف هغه سړی دی کوم چې پنځه وخته په هغه مسجد کې مونځ کوی اګر چې په هغوی کې هیڅ صلاحیت نه وی او نه مالی خدمت کولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی وصی الدین ... اصغر سکیم راولپنډی

الجواب: د مسجد وغیره د متولی کیدلو دپاره (د کمیټۍ د رکن یا مشیر کیدو دپاره) عقل او بلوغ او قدرت شرط دي نه مقامی کیدل شرط دی او نه حنفی کیدل، بیشکه غوره دا ده چې امین او خاوند د رائې وغیره جوړ کړې شی. قال فی الاسعاف ولا یولی الا امین قادر بنفسه اوبنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظر ولیس من النظر تولیة الخائن لانه یخل بالمقصود وکذا تولیة العاجز .... ویستوی فیه الذکر والانثی وکذا الاعمی والبصیر وکذا المحدود فی قذف اذا تاب لانه امین، قال العلامة الشامی والظاهر انها شرائط الاولویة لا شرائط الصحة ویشترط لصحته بلوغه وعقله لاحریته واسلامه (بحذف یسیر)، (ردالمحتار ۳: ۵۳۲)(۱)۔ وهوالموفق

د مسجد د توسیع دپاره په اخستل شوی کور باندې د کرایه دارو قبضه جائز نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد د صحن سره متصل یو خالي مکان دې اهل مسجد پیسې ورکولو سره مذکوره کور د مسجد د انګړ د توسیع دپاره اخستلې دې، اوس کرایه دار قابضین دا مکان مسجد ته نه حواله کوی، او مقدمه بازئ کولو سره د مسجد پیسې ضائع کوی آیا د دې کور استعمال کوم چې د مسجد یوه حصه ده جائز دې؟ داسې خلق کوم چې د مسجد په مقابله کې مقدمې کوی او صفا وائی چې مونږ دا کور نه پریږدو، نو آیا دا خلق فاسقان دی، او که منافق او کافر؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی رحمٰن ګل راولپنډی .... ۲۷ اګست ۱۹۷۵ء

۱) (ردالمحتار هامش الدر المختار ۳: ۴۲۱،۴۲۲ مطلب فی شروط المتولی)

الجواب: کوم کور چې د مسجد د توسیع دپاره واخستلې شي هغه د مسجد په حکم کې وی لهذا د قابضین دپاره ضروری ده چې هغوی کور حواله کړی او د فسق او فجور نه دې بچ شي، د حکومت په اجازت او قانون سره د الله پاک په نزد حلال والې نه ۍ اصلیږي (۱). وهوالموفق

د مشترکه ځمکې د مسجد دپاره د وقف کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې پنځه کاله مخکې ما دوه منزله کور تعمیر کړې وو وروستو راته معلومه شوه چې په ګاونډ کې د مسجد د ځمکې څه ځای په کور کې شامل شوې دې، نه ما قصدا دا کار کړې دې او نه کمیټی انتظامیه ته دا معلومات شوې وو، اوس که د کور تعمیر راغورځولو سره دا ځمکه په مسجد کې شامله کړې شی نو د پوره کور د بلډنګ راغورځیدو خطره ده او دا غلطی سهوا شوې ده، هم دغه شان دې دا هم واضحه وی چې ۱: څو ملګرو چنده جمع کولو سره د دې ځمکې قیمت حکومت ته ادا کړې وو یعنی د مسجد دپاره د جمع شوی فنډ نه ادائیګی اونه کړې شوې. ۲: تقریبا اووه یا اته کاله مخکې دا ځمکه د حکومت نه واخستلې شوه، زه ستاسو د فیصلې منتظر یم؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالحمید جناح روډ ایبټ آباد.....۲۱ اکتوبر ۱۹۸۵ء

الجواب: چې کله دې کسانو مشترکه طور د ذاتی مالونو نه دا ځمکه د مسجد دپاره اخستلې ده نو دا وقف مشاع دې کوم چې صحیح نه دې او د دې کسانو دپاره د دې ځمکې خرڅول جائز دی. **کما فی الهندیة ۲: ۳۷۳ وقف المشاع المحتمل للقسمة لا یجوز عند محمد وبه اخذ مشائخ بخاری وعلیه الفتوی کذا فی السراجیة (۲).** وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن الهمام: والمسجد خالص لله تعالیٰ ولیس لاحد فیه حق قال الله تعالیٰ وان المساجد لله. (فتح القدیر ۵: ۴۴۵ فصل فی احکام المسجد)

وقال العلامة ابن نجیم: ویجب رد عینه فی مکان غصبه لقوله علیه السلام علی الید ما اخذت حتی ترد ای علی صاحب الید. (البحر الرائق ۸: ۱۹۸ کتاب الغصب)

۲) (فتاویٰ عالمگیریة ۲: ۳۶۵ فصل فی وقف المشاع)

بغیر د اجازت نه د بل ورور حصه په مسجد کې د وقف کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې څلور وروڼه دی د هغوی مور هر یو ته حصه ورکړې ده په هغوی کې یو ورور د بل ورور حصه د مسجد دپاره وقف کړې ده او حال دا چې هغه بل ورور یې په ورکولو راضي ندی اوس که مسجد والا هغې لره زبردستی سره واخلی نو آیا په هغې کې مونځ صحیح دې یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: احسان الله مانکی صوابۍ..... ۲۶ جمادی الثانی ۱۳۹۹ھ

الجواب: که دا کور مشترک غیر تقسیم شده وی نو د ټولو شریکانو د رضا نه بغیر د هغې په مسجد کې داخلول ناجائز دی او که دا کور صرف د یو ورور حصه وی نو د هغه ورور په رضا او اجازت سره د هغې په مسجد کې داخلول جائز دی. (۱) **وهوالموفق**

د شاملات ځمکه کې د مسجد د آبادولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې دیوکلی په شاملات کې حکومت څه سرکاری عمارت یعنی هسپتال وغیره تعمیر کړی نو دهغه عمارت په انګړ کې د صلاة العیدین یا جمعه وغیره کولو څه حکم دې؟ که جائز وی نو په مسنون طریقه سره به ادا شوې وی او که د کراهت سره؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا محمد ادریس صدر ګورنمنټ (حکومت)

مدرسه عربیه چارباغ سوات... ۱۳ مئی ۱۹۷۶ء

---

۱) وفی الهندیة: ومنها الملک وقت الواقف حتی لو غصب ارضاً فوقفها ثم اشتراها من مالکها ودفع الثمن الیه او صالح علی مال دفعه الیه لا تکون وقفاً کذا فی البحر الرائق ورجل وقف ارضاً لرجل آخر فی بر سماه ثم ملک الارض لم یجز وان اجاز المالک جاز عندنا کذا فی فتاوی قاضی خان.
(فتاوی عالمگیریة ۲:۳۵۳ کتاب الوقف الباب الاول)

الجواب: که دا شاملات د لارې په شان کاغذي ملکیت ولري شرعي ملکیت نې نه وي نو په دې کې مونځ کول مکروه نه دي اګرچې بغیر د اجازت نه وي کنه نو بغیر د اذن نه مکروه دي. (۱) وهوالموفق

سابقه ګردواره لره په مسجد کې تبدیل کولو سره په هغې کې ضروري تعمیر او رد وبدل جائز دي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو ګردواره په مسجد کې بدله کړې شوې ده او د حکومت په کاغذاتو کې مسجد ښودلې شوې دې اوس په هغې کې د تعمیر او ردوبدل ضرورت دې د بعض خلقو خیال دې چې د هغې دپاره د حکومت نه اجازت اخستل ضروري دي آیا دا اجازت اخستل شرعا صحیح دي؟ که بغیر د اجازت نه ئې جوړولې شي؟ بینواتوجروا

المستفتي: قاري محمد امین جامع مسجد ورکشاپ راولپنډي

الجواب: د ضرورت په وخت کې مناره وغیره جوړول جائز دي،

كما في الهندية ۲:۴۴۸ ويجوزان يبين منارة من غلة وقف المسجد ان احتاج اليها ليكون اسمع للجيران وان كانوا يسمعون الاذان بدون المنارة فلا كذا في خزانة المفتيين (۲).

نوټ: په ذاتي مالونو سره اهل محله هر تعميري کار کولې شي. (۳) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: وعبارة الحاوى القدسي والارض المغصوبة فان اضطر بين ارض مسلم وكافر يصلى فى ارض المسلم اذا لم تكن مزروعة او لكافر يصلى فى الطريق اى لان له فى الطريق حقا كما فى مختارات النوازل وفيها تكره فى ارض الغير لو مزروعة او مكروبة الا اذا كانت بينهما صداق او رأى صاحبها لا يكره فلا بأس.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۲۸۰ مطلب تكره الصلوة فى ارض المغصوبة)

۲) (فتاوىٰ عالمگيرة ۲:۴۶۲ الباب الحادى عشر فى المسجد وما يتعلق به)

۳) وفى الهندية: رجل اعطى درهما فى عمارة المسجد او نفقة المسجد او مصالح المسجد صح. (فتاوىٰ عالمگيرية ۲:۴۶۰ الباب الحادى عشر فى المسجد وما يتعلق به)

چرچ لره په مسجد بدلول او د هدایه د عبارت وضاحت

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په اسلامی ملک کې داسې ځای چېرته چې د عیسایانو چرچ وی او بیا هلته مسلمانان آباد شی او عیسائی اقلیت هم په هغوی کې موجود وی، آیا دې چرچ لره په مسجد باندې د بدلولو څه جواز شته؟ هم دغه شان د هدایه ﴿ باب الجزية فصل فيما ينبغى لذمى ﴾ د دې عبارت څه مطلب دې؟ وان انهدمت البيع والكنائس القديمة اعادوها الخ؟ بينوا توجروا

المستفتی: فلائټ ليفټيننټ فدا محمد ايجوکيشن ډائريکټر پيښور ... ۱۳۹۰ھ

الجواب: چرچ لره په مسجد باندې بدلول اګر چې جائز دی . ﴿ لحديث النسائى : فأكسروا بيعتكم وانضحوا مكانها بهذا الماء واتخذوها مسجدا ﴾ (۱) چونکې دا عیسائیان نه مسلمانان شوې دی او نه د دې ځای نه ټول په ټول جلاوطن شوې دی لهذا د هغوی چرچ به په مسجد باندې نه شی بدلولې، قال فى فتح القدير: واعلم ان البيع والكنائس القديمة فى السواد لا تهدم على الروايات كلها، (شامى باب الجزية) (۲) او د صاحب هدایه مراد دا دې چې د دې وطن د دارالاسلام جوړېدو نه مخکې چې کوم چرچونه موجود وو نو د هغې ترمیم او اعاده ممنوع نه ده. (۳) وهوالموفق

---

۱) (سنن النسائی ۱۱۴:۱ اتخاذ البيع مساجد باب المساجد)

۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲۹۹:۳ قبيل مطلب فى تمييز اهل الذمة فى الملبس)

۳) قال العلامة ابن الهمام: وان انهدمت البيع والكنائس القديمة اعادوها قال المصنف لان الابنية لا تبقى دائماً ولما اقرهم الامام فقد عهد اليهم الاعادة ضمنا غير انهم لا يمكنون من نقلها من مكان الى آخر لانه احداث وفى ذلك المكان المنقول اليه فلا يجوز الخ. (فتح القدير ۲۹۹:۵ فصل لا يجوز احداث بيعة الخ)

د تقسیم هند په وخت د هندوانو په متروکه ځمکه کې د مسجد دپاره د حاصل کړې قطعه باره کې شرعي فیصله

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د قیام پاکستان په وخت هندو او سکه خپلې ځمکې پریښودلې او بهارت ته لاړل مسلمانان مهاجر جوړېدو سره پاکستان ته راغلل او د هندوانو او سکهانو په متروکه ځای باندې ئې استوګنه اختیار کړه، هم دغه شان د یو متروکه ځای انتخاب د اهل محله مهاجرین د مسجد دپاره او ډې سی هم د خلقو مخکې اجازت ورکړو ځکه چې د قیام پاکستان نه پس متروکه او د وقف املاک مالک ګورنمنټ (حکومت) جوړ شوې وو، لهذا د ډپټی کمشنر په اجازت باندې د مسجد تعمیر شروع کړې شو او اهل محله ټول ګواه دی چې ډپټی اجازت او د مسجد د نقشې اجازت ورکړې وو د مسجد دپاره منتخب ځای په درې حصو باندې مشتمل دې چې په هغې کې دوه حصې متروکه دی او یوه حصه وقف ده دپاره د دهرم سالې

په ۱۹۲۰ء کې حکومت د متروکه او وقف ملکیت قیمتونه وصولولو دپاره یو اداره قائم کړه خو په دې کال ۱۹۲۰ء کې د مسجد د ځای قیمت ادا کولو نه مخکې محکمه اوقاف په تحویل کې واخستله، کوم چې د اتلسو کالو پورې په حکومتی تحویل کې وو، بالآخر په ۱۹۷۸ء کې آزاد شو دې دوران د د مسجد د دکانونو توله آمدنی حکومت وصولوله اوس په دې حالاتو کې د حکومت دعوی دا ده چې د مسجد دپاره د منتخب کړی شوی ځای قیمت حکومت ته نه دې ادا کړې شوې، د زید دعوی ده چې چونکې د ځمکې قیمت نه دې ادا کړې شوې او په دې ځمکه کې یوه حصه د دهرم سالې دپاره وقف ده لهذا دا د مسجد په حکم کې نه دې بلکې د هندوانو درهم ساله ده، د بکر دعوی ده چې دا د مسجد په حکم کې دې، ځکه چې د مرکزی حکومت د نمائنده ډې سی په اجازت سره جوړ شوې دې چونکې قیمت نه دې ادا کړې شوې په دې وجه قیمت په اهل محله باندې واجب دې او د خالد خیال دا دې

چې چونکې د اتلسو کالو پورې مسجد د حکومت په تحویل کې پاتې شوې دې او د مسجد د دکانونو ګټه حکومت وصولوله په دې وجه اوس په اهل محله باندې ددې قیمت واجب نه دې، اوس سوال دا دې چې آیا دا مسجد دې او که دهرم ساله؟ او په اهل محله باندې قیمت واجب دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد اکرم ګل لانګریاتوالی ګوجرانواله ... ۱۷ ربیع الثانی ۱۴۰۱هـ

الجواب: دا مسجد شرعی مسجد دې حکومت د هغې د قیمت وصولولو اجازه نه لرې.

اما الاول: فلوجود اذن الحاکم، قال الله تبارك وتعالیٰ: وما افا الله علی رسوله منهم فما اوجفتم من خیل ولا رکاب ولکن الله یسلط رسله علی من یشاء (سورة الحشر)(۱) وجاز اتخاذ البیعة (وغیرها) مسجدا کما فی حدیث النسائی: فاکسروا بیعتکم واتخذوها مسجداً، (مشکواة شریف ۷۳)(۲) واما الثانی: فلان اتخاذ المساجد من فرائض الحکومة لما فی ردالمحتار ۳:۴۹۵ فانه یجب ان یتخذ الامام للمسلمین مسجدا من بیت المال اومن مالهم ان لم یکن لهم بیت المال کذا فی فتح القدیر(۳) قلت لاسیما اذا قبض الغلة۔ وهوالموفق

د عیدګاه د پاره باقاعده وقف شوې ځمکه باندې د مسجد جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو قطعه د ځمکې چې په درې کنالو باندې مشتمل ده د عیدګاه سره ملحقه کومه چې د مخکې نه د ښهر د کمیټۍ د طرف نه د عیدګاه دپاره وقف شوې ده هغې لره یو سړې اخستلو سره مسجد تعمیر کول غواړي آیا دا صحیح ده؟ بینواتوجروا

المستفتي: غلام نبی قریشی دفتر زراعت ایبټ آباد .... ۱۹ جنوری ۱۹۷۶ء

---

۱) (سورة الحشر پاره ۲۸ آیت:۶)

۲) (مشکواة المصابیح ۱:۶۹ باب المساجد ومواضع الصلوة الفصل الثانی)

۳) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۳۹۳ قبیل مطلب قد یثبت الوقف بالضرورة)

الجواب: که د ځمکې دا حصه شرعي وقف وي نو دا به په عيدګاه باندې خرچ کولې شي نه په مسجد باندې، كما في وقف الاشباه ۸۳ شرط الواقف يجب اتباعه لقولهم شرط الواقف كنص الشارع(۱). وهوالموفق

د ريلوې په ځای کې د مسجد جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په ښهر جهلم کې يو مسجد چې د هغې محل وقوع په بازار کې د کيدو د وجې نه د مونځ کونکو کثرت دې او د مسجد ځای وړوکی او ناکافی دې تردې چې بعض وخت د ځای د نه ملاويدو د وجې نه خلق د اول جماعت د ختميدو انتظار کوی د مسجد نه شاته مغربی طرف ته د ريلوې ځای دې د ريلوې حکامو نه د اخستلو کوشش وکړو خو د ريلوې حکام وائی چې د ريلوې د قانون مطابق د يو انچ ځمکې خرڅول هم ممنوع دی خو په کرايه باندې ملاويدې شی، تر د يو کم سلو کالو پورې به مسجد سره وی، ځای هم داسې دې چې د ريلوې په کار نه راځی او دا اعتراف د ريلوې حکام او مشران هم کوې چې اوس حال دا دې چې د مسجد کميتی په دې ځای باندې د مسجد شکل جوړ کړې دې او چنده ئې هم وصول کړې ده، د کميتۍ والاارادہ ده چې د موجوده مسجد په ځای دې په طور د صحن مسجد استعمال کړې شی، اوس به د دې حکم د مسجد وی يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: مولانا عبدالودود مدرس جامعه حنفيه مدنی مسجد جهلم ښهر ۲ جولائی ۱۹۸۶ء

الجواب: که هغه ځای کې د مسجد ضرورت وی او حکومت د جوړولو دپاره تيار نه وی نو عوام مسجد جوړولې شی. كما يدل عليه ما فی رد المحتار ۳۹۵/۳ يجب ان يتخذ الامام للمسلمين مسجدا من بيت المال اومن مالهم ان لم يكن لهم بيت مال(۲) وهوالموفق

---

۱) (الاشباه والنظائر ۱۹۴ کتاب الوقف مبحث استبدال الوقف)

۲) (ردالمحتار هامش الدر المختار ۳:۳۹۳ کتاب الوقف)

د روډ په غاړه باندې د محکمه پی ډبلیو ډی په ځمکه باندې د جوړ شوی مسجد مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د پی ډبلیو ډی شارع عام چې د هغې ټول پلنوالې تقریبا دوه سوه فټه دې او پوخ سړک چې په هغې باندې شپه او ورځ موټر ګرځي د هغې پلن والې تقریبا شپیتۀ فټه دې د پوخ سړک دواړو طرفونو ته کچه سړک دې کوم چې اوولس فټه ښی طرفته دې او اویا فټه ګس طرف ته، د سړک په څه حصه باندې ونې ولاړې دی دا لاره د دې پوخ سړک نه زیاتې ده، بعض ځایونو کې قابل استعمال او اکثر ځایونو کې قابل استعمال نه ده، د سړک په دې زیاتې حصه باندې اهل محله تقریبا ۱۵ یا شل کاله مخکې یو مسجد جوړ کړې دې چې په هغې کې باقاعده پنځه وخته مونځ او د جمعې او اخترونو مونځ کولې شی، د مسجد مذکوره د وجې نه په لاره تیریدونکو او تلونکو ته هم څه ضرر اوتکلیف نه وی بلکې موټران ښه په آسانئ سره تیریږی او په فتاوی عالمګیریه ۴۰۶/۲ مطبوعه نورانی کتب خانه پشاور باندې دا عبارت لیکلې شوې دې، **ذکر فی المنتقی عن محمد رحمه الله فی الطریق الواسع بنی فیه اهل المحلة مسجداً وذلك لا یضر بالطریق فمنعهم رجل فلا بأس ان یبنوا کذا فی الحاوی قوم بنوا مسجداً واحتاجوا الی مکان یتسع المسجد واخذوا من الطریق وادخلوه فی المسجد ان کان یضر باصحاب الطریق لا یجوز وان کان لا یضر بهم رجوت ان لا یکون به بأس کذا فی المضمرات.** لهذا بعض مفتیانو حضراتو د مسجد د جواز حکم ورکړې دې اوس د پوښتنې خبره داده چې مسجد مذکورله پی ډبلیوډی والا راغورځولې شی یا نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: محمد اسحاق سلیمی ګرهامور وهاړی

الجواب: من جانب مولانا عبدالرحمن صاحب!

مسجد مذکور شرعا مسجد دې چې د هغې ورانول او خرابول بالکل جائز نه دی لکه چې د جزئیات مذکوره فی السوال او لاندې جزئیات نه ښه واضح دې خو اهل محله لره د متعلقه محکمې نه اجازت اخستل پکار دی، او انهدام مسجد کلی طور باندې شرعی نقطه نظر سره یو ناجائز فعل دې چې په هغې

باندې فقهاء امت متفق دی، په شامی کښې دی: اما جعل کل المسجد طريقا فالظاهر انه لا يجوز قولا واحدا (۳۸۳/۳) معلومه شوه چې د انهدام مسجد په عدم جواز باندې اجماع ده او په دې کښې اختلاف نشته لهذا په محکمه والو باندې لازم ده چې هغوی د دې جومات جوړولو اجازت ورکړی. ﴿ وان بنى للمسلمين كمسجد ونحوه لا ينقض ﴾ (در مختار ۳۷۲/۵) وهكذا في تكملة البحر الرائق ۳۹۵/۸، والله اعلم بالصواب.

المجیب: عبدالرحمن عفا الله عنه.

الجواب: من جانب مفتی اعظم مولانا محمد فرید صاحب دامت برکاتهم!

دا جواب صحیح دې د دې مسجد راغورځول صحیح نه دی، خصوصا چې قوم د حکومت ډیوټۍ پوره کړې ده. کما في ردالمحتار ۴۹۵:۳ يجب ان يتخذ الامام للمسلمين مسجدا من بيت المال او من مالهم ان لم يكن بيت المال كذا في فتح القدير (۱)۔ وهوالموفق

د سابقه مسجد ځمکه د نوی مسجد د آبادۍ نه بهر کولو سره بیا هم د مسجد په حکم کښې ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې یو زوړ مسجد وو نقشه یې زمونږ سره ده چې د هغې په مغربی دیوال کښې کوړ والې وو اوس مستطیل کولو سره نوې تعمیر کړې شوې دې او تقریبا نوی فټه سره د مخکښې دیوال د قبلې طرف ته پلنوالې او شمالا او جنوبا پنځویشت فټه اوږد والی والا ځای د مسجد نه بهر پریښودلې شوې دې چې په هغې کښې سابقه محراب او اول صف د مخکښې مسجد شامل دې اوس مطلوبه خبره داده چې ایا متروکه ځمکه د مسجد نه علاوه د نورو مقاصدو دپاره استعمالیدې شی، مثلا د طالبانو کمرې یا دکانونه یا د اهل محله د ماشومانو د تعلیم دپاره برنډه وغیره؟ بینوا توجروا

المستفتی: حکیم عبدالحمید صاحب... ۲۰ مئی ۱۹۷۴ء

(۱) (ردالمحتار هامش الدر المختار ۳:۳۹۳ قبیل مطلب قد یثبت الوقف بالضرورة)

الجواب: د مفتی به قول په بناء دا مخصوص ځای همیشه دپاره د مسجد په حکم کې دې، په دې باندې دکان یا کور جوړول حرام دی،

لما فی الدرالمختار ۳: ۵۰۳ ولوخرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عندالامام والثانی الی قیام الساعة وبه یفتی(۱) وبمعناه فی جمیع کتب الفتاوی(۲) ووجه الدلالة ظاهر ـ وهوالموفق

د مسجد د ورانیدلو نه پس دوباره د آبادۍ یا په څه ځمکه باندې د کښت او کروندې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې تقریبا درې کناله ځمکه باندې مسجد آباد وو، د مسجد آبادی ورانه شوه او د مسجد ځمکه د یو سړی په نوم وه هغه په بل چا خرڅه کړه کوم سړی چې دا ځمکه واخستله هغه په نیمه ځمکه باندې مسجد تعمیر کړو او باقی نیمه ځمکه ئې د مسجد په مفاد یعنی د امام د تنخواه وغیره دپاره په کرونده یعنی اجاره باندې ورکړه، آیا د دې باقی ځمکې کرونده جائز ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: لطیف الرحمٰن اکوړه خټک ......۲ جولائی ۱۹۷۵ء

الجواب: د مفتی به قول په بناء به دا ځمکه د مسجد په حکم کې وی، په دې باندې کرونده کول جائز نه دی، کما فی الدرالمختار: ولوخرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عندالامام والثانی ابداً الی یوم القیامة، وبه یفتی، فی ردالمحتار

---

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۴۰۶ مطلب فیما لوخرب المسجد اوغیره)

۲) وفی الهندیة: واذا خرب المسجد واستغنی اهله وصار بحیث لا یصلی فیه عاد ملکا لواقفه او لورثته حتی جاز لهم ان یبیعوه او یبنوه داراً وقیل هو مسجد ابداً وهو الاصح کذا فی خزانة المفتیین.

(فتاوی عالمگیریة ۲: ۴۵۸ الباب الحادی عشر فی المسجد)

۵۱۲:۳ وكذا لو خرب وليس له ما يعمر به وقد استغنى الناس عنه لبناء مسجد آخر، فافهم(¹)۔ وهو الموفق

د پخوانی مسجد په بدلون کې د دوچند ځمکې وغیره ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ مسجد اوس تنګ شوې دې چا چې د دې دپاره ځمکه وقف کړې وه هغه وائی چې که تاسو د دې ځای نه دا مسجد منتقل کولې شئ نو زه به د دې په بدل کې دوچند ځمکه درکړم، په دې شرط چې زوړ مسجد به په خپل استعمال کې راولم د دې مسئلې شرعی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی ګل بر خان کاتب چنده اخوره کبل سوات.... ۱۹ جمادی الثانیة ۱۴۰۱هـ

الجواب: د مفتی به قول په بناء باندې به زوړ مسجد تر قیامته پورې مسجد وی د هغې نه به کښت او پټې نه شی جوړولې، لما فی شرح التنویر: ولو خرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عند الامام والثانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتی، حاوی القدسی (علی ردالمحتار ۴:۳۵۸)(²)۔ وهو الموفق

د سرکاری نهر دپاسه د مسجد جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د سرکاری نهر دپاسه که مسجد جوړ کړې شی نو آیا په هغې کې مونځ جائز دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاری عبدالحمید شریک دوره حدیث

الجواب: په دې کې لمونځ کول جائز دی. وفی الاجناس وفی نوادر هشام قال سألت محمد بن الحسن عن نهر قرية كثيرة الاهل لا يحصى عددهم وهو نهر قناة

---

۱) (الدر المختار مع ردالمحتار ۳:۴۰۶ مطلب فيما لو خرب المسجد او غيره)

۲) (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۳:۴۰۶ مطلب فيما لو خرب المسجد)

او نهر وادٍ لهم خاصة واراد قوم ان يعمروا بعض هذا النهر ويبنوا عليه مسجداً ولا يضر ذلك بالنهر ولا يتعرض لهم احد من اهل النهر قال محمد رحمه الله يسعهم ان يبنوا ذلك المسجد للعامة او المحلة كذا في المحيط، هندية ۳: ۴۴۴ (۱). وهو الموفق

په سرکاري ځمکه کې د حکومت د طرف نه د مسجد دپاره مقرر شوې ځای کې د مسجد حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د بهتو صاحب په دور حکومت کې د غریبانانو په مطالبه باندې د هغوی د کورونو جوړولو دپاره ځای ورکړې شوې وو کوم چې د پنډۍ او ټیکسلا ترمینځه دې تراوسه پورې څه مکانات جوړ شوې دی او څه نه په دې مقام باندې حکومت د مسجد دپاره هم ځای مختص کړې دې بعض سرکاری کاغذات هم موجود دی خو چا سره چې کاغذات دی هغه موجود نه دی، اوس یو سړې مسجد جوړوی خو هغه سره فکر دې چې د مسجد دپاره بنه دې یا نه او ځای هم داسې دې چې حکومت ته د دې ضرورت نشته، یعنی شک صرف په جوړولو کې دې کنه نو حکومت دا ځای: مسجد دپاره متعین کړې دې ددې څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد طیب حاجی آباد اسلام آباد.... ۱۴ شوال ۱۴۰۳ھ

الجواب: په کوم مقام چې د مسجد ضرورت وی نو په داسې ځای کې حکومت باندې لازم دی چې هغه مسجد جوړ کړی، كما في ردالمحتار ۳: ۳۳۹ طبع مصطفى البابي الحلبي، فانه يجب ان يتخذ الامام للمسلمين مسجداً من بيت المال او من مالهم ان لم يكن لهم بيت مال كذا في فتح القدير (۲).

پس که حکومت په دې ځای کې د مسجد د تیارولو دپاره تیار نه وی نو کم از کم د مداخلت او اعتراض نه دې اجتناب وکړی، او که حکومت اجازت ورکړې وی نو بیا د شک سوال نشته په هغې باندې تعمیر صحیح دې. وهو الموفق

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲: ۴۵۶ الباب الحادی عشر فی المسجد وما يتعلق الفصل الاول)

۲) (ردالمحتار هامش الدر المختار ۳: ۳۹۳ مطلب قد يثبت الوقف بالضرورة)

د چا په ځمکه کښې بغیر د اجازت نه د جوړ کړې شوی مسجد حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې یو سړی بل ته یو پلاټ د ځمکې په طور د رهائش ورکړه، دې رهائش کونکی د رهائش نه علاوه په دې کښې د مسجد تعمیر هم کړې دې او حال دا چې د ځمکې مالک پکې د مسجد اجازت نه ورکوي اوس د دې مسجد څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی رقیب خان وزیرستان... ۱۰ نومبر ۱۹۸۹ء

الجواب: د چا په ځمکه کښې بغیر د اجازت نه تعمیر شوې مسجد، شرعی مسجد نه دې، د هغې ورانول جائز دی. **لعدم صحة وقف ارض الغیر (۱) ولکراهة الصلاة فی ارض الغیر بلااذن المالك (۲) وهوالموفق**

د مسجد د چندې نه د مسجد د پاره د اخستل شوې ځمکې د بدلون یا خرڅولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې قدیمی جامع مسجد گنبد ټل کښې یوه حصه د ځمکې د مسلمانانو په چنده باندې اخستلې شوې ده چې د هغې آمدن په مسجد باندې خرچ کیږی بیا یو سړی د مسجد دپاره دوه کناله ځمکه وقف کړه، اوس د مسجد نوې تعمیر شروع شوې دې چې په هغې کښې تر اوسه پورې چنده ختم شوې ده نو آیا دا وقف شوې ځمکه د مسجد دپاره خرڅیدلې شی؟ هم دغه شان جامع مسجد لره قبلې طرف ته مخامخ کولو دپاره که د هغه وقف شوې ځمکې نه په څه ځمکه کښې بدلون وکړې شی نو آیا دا جائز ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حبیب گل ټل کوهاټ... ۲۲ جولائی ۱۴۰۱ھ

---

(۱) وفی الهندیة: رجل وقف ارضا لرجل آخر فی برسماه ثم ملك الارض لم یجز وان اجاز المالک جاز عندنا. (فتاویٰ عالمگیریة ۲:۳۵۳ کتاب الوقف الباب الاول)

(۲) قال العلامة الحصکفی: وکذا تکره فی اماکن... وارض مغصوبة او للغیر- (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:۲۸۰ مطلب فی الصلاة فی الارض المغصوبة)

الجواب: په کومو ښهرونو کې چې زنانه ته میراث نه شي ورکولې اونه د هغوی تملیک کولې شی نو د هغه ښهرونو اوقاف رواجی اوقاف دی اسلامی نه دی، دویم دا چې کوم مسجد د اهل مسجد په چندې یا د مسجد په غلو سره اخستلې شوې ده نو په هغې کې هر قسم تصرف جائز دې.

كما في الذخيرة وقيل ان كان اهل المسجد اشتروا عقاراً بغلات المسجد للمسجد، هل لهم بيعه لعمارة المسجد، قال فيه اختلاف المشائخ وينبغي ان لا يكون في هذا الفصل اختلاف المشائخ لانه لا ولاية لاهل المسجد في شراء العقار للمسجد فلم يصح شراؤهم اصلا للمسجد، ويصح بيعهم بلا خلاف بخلاف مسئلة المتولي، وفي فوائد نجم الدين النسفي رحمة الله عليه اهل مسجد اشتروا عقاراً بغلة المسجد ثم باعوا العمارة اختلف المشائخ في جوازه والصحيح انه يجوز كذا في الغياثية، فافهم (هندية ۲: ۴۶۴)(۱). وهوالموفق

په غیر مملوکه یا مشترکه ځمکه بغیر د اجازت نه مسجد جوړول صحیح نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید او عمرو دواړه ورونه دی په خاندانی جائیداد کې دواړه برابر شریک او حقدار دی په دواړو کې اختلاف پیدا شوه او اختلاف ئې د ځمکې په هره حصه باندې پیدا شوه، په متنازعه ځمکه باندې عمرو مسجد هم جوړ کړو او دا د هغه سیاسی چال وو، آیا په دې مسجد کې مونځ کیدې شی؟ او د دې متنازعه ځمکې به څه حال وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: نور عمل شاه چوا سیدان شاه پنډ داد خان جهلم ... ۲ جولائی ۱۹۸۵ء

الجواب: د داسې یکطرفه بیاناتو د وجې نه مونږ د فیصلې کولو نه معذور یو خو په طور د فتوی دا لیکلې شو چې په غیر مملوکه یا مشترکه ځمکه کې

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲: ۴۶۴ قبیل الباب الثانی عشر فی الرباطات والمقابر والخانات)

د باقاعده اجازت نه بغیر مسجد جوړول جائز نه دی. (۱) او په داسې مسجد کې مونځ کول مکروه تحریمی او ګناه ده (۲). وهوالموفق

د مسجد په نوم باندې د وقف شوې کور د پاره د مسجد د خرچ نه د مقدمې پیروی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوې کونډې زنانه خپل ځای د مسجد په نوم باندې بغیر د اکراه او جبر نه وقف کړو او وقف نامه ئې په سرکار باندې ولیکله، یونیم کال پس دهغه کونډې خپلوانو هغې کونډې ته وویل چې وقف نامه دې منسوخ کړې، خو زنانه په خپله فیصله باندې اقرار کولو، ددې نه پس دغه لواحقینو په عدالت دیوانی کې ددې کونډې په نوم باندې جعلی دعوی وکړه چې وقف نامه دې منسوخ کړې شی، دمسجد انتظامیه ته په خبر کیدو باندې هغوی د کونډې نه تپوس وکړو چې آیا تا دعوی کړې ده؟ هغه کونډۍ وویل چې ما هیڅ دعوی نه ده کړې او نه مې د دعوې اراده ده دا د خپلوانو کارنامه ده اوس سوال دا دې چې په صورت مذکوره کې دا کونډه زنانه د دې وقف نه رجوع کولې شی؟ بله دا چې آیا د مسجد انتظامیه د دې ځمکې دپاره کومه چې د مسجد دپاره وقف شوې ده په مسجد کې د دې مقدمې دفاع او د مسجد فنډ په دې خرچ کولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: حافظ عبدالستار خطیب اټک ښهر ...... ۱۵ رمضان المبارک ۱۴۰۵

الجواب: په شرط د صدق دا وقف تام او لازم دې په دې کې واپسی نه شی کیدې، کما فی ردالمحتار ۳۳۹:۴ مطبع مصطفی البابی الحلبی (قوله وعلیه

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: ومن شرائطه الملک وقت الوقف فوقفتها لا تکون وقفاً. (البحر الرائق ۵:۳۱۴ کتاب الوقف)

۲) قال العلامة الحصکفی: وکذا تکره فی اماکن... وارض مغصوبة او للغیر. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۱:۲۸۵ مطلب فی الصلاة فی الارض المغصوبة)

الفتوی) أی علی قولهما یلزمه قال فی الفتح والحق ترجیح قول العلماء بلزومه لان الاحادیث والآثار متظاهرة علی ذلك واستمر عمل الصحابة والتابعین ومن بعدهم علی ذلك فلذا ترجیح خلاف قوله اه ملخصاً(١)۔او چونکې چنده ورکونکی چنده د مسجد په مفاد او د مسجد د ضروریاتو دپاره ورکوی لهذا د دې چندې نه په دې مقدمه باندې خرج کول جائز دی. (٢) وهوالموفق

د مسجد د پاره وقف شوې ځمکه د امام ابو یوسف رحمه الله په نزد د مسجد په حکم کې ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د مسجد دپاره ځای وقف کړې دې او د هغې بنیادونه یو یو گز اوچت کړې شوې دی او اوسه پورې په هغې کې د جمعې مونځ نه دې شوې، خو هغې ته نزدې یو بل سړې په یو داسې ځای کې یو ځای وقف کول غواړی کوم چې د اول ځای نهم زیات دې، پس که اول ځای خرڅولو سره یو بل ځای اباد کړی نو آیا دا به جائز وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: رحیم شاه باچا چارسده ...٤ فروری ١٩٧٥ء

الجواب: دا ځمکه د امام ابویوسف رحمه الله په نزد د مسجد په حکم کې دې د دې اخستل او خرڅول صحیح نه دی، کما فی الدرالمختار وبقوله جعلته موقوفاً مسجداً عند الثانی، وفی ردالمحتار ٣: ٥١١ وفی الدرالمنتقی وقدمر فی التنویر والدرر والوقایة وغیرها قول ابی یوسف وعلمت ارجحیته فی الوقف والقضاء(٣)۔وهوالموفق

---

١) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٣:٣٩٢ كتاب الوقف مطلب قد يثبت الوقف)

٢) قال العلامة الحصكفی : ويبدأ من غلته بعمارته ثم ما هو اقرب لعمارته كامام مسجد ومدرس مدرسة ثم السراج والبساط كذلک الی آخر المصالح۔
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٣:٤١٣ مطلب يبدأ بعد العمارة بما هو اقرب اليها)

٣) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٣:٤٠٥ مطلب فی احكام المسجد)

د مسجد ځمکه به تر قیامته پورې مسجد وي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د علاقه مکران په کلو کې غیرآباده ځمکې پرتې دی کومې چې د چا ملکیت هم نه دې، دا د حکومت زیر تحویل از د بندوبست لاندې دی عام خلق بغیر د څه اجازت نامې نه په خپلې مرضۍ سره د ضرورت موافق کورونه جوړوی او هم دغه شان مسجدونه هم تعمیر کوی څو کاله مخکې په یو میدانی علاقه کې په یو جامع مسجد او نږدې دینی مدرسه جوړه کړې شوه، په مسجد کې جمعه قائم کړې شوه او پنځه وخته مونځ پکې کولې شی، دې کال د یو غیر مقلد په ذریعه د بهر نه فنډ جمع کړې شو، او د پخوانی مسجد سره متصل د لس دولس قدم په فاصله باندې یو پوخ مسجد تعمیر کوی ځکه چې پخوانې مسجد د کچه خښتو دې اوس مې اراده ده چې دا پوخ مسجد د مانځه دپاره استعمال کړې شی او پخوانې مسجد د شاخ په طور د مدرسه حفظ او ناظره دپاره مخصوص وی، آیا دا فیصله جائز ده او که هغه هم هغه شان مسجد دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا عبدالحلیم نظر آباد مکران ... ۱۸ شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: مسجد لره غیر مسجد منل ناجائز دی مسجد به ترقیامته پورې مسجد وی. کما یشیر الیه ما فی شرح التنویر: ولو خرب ما حوله واستغنیٰ عنه یبقی مسجداً عند الامام والثانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتیٰ حاوی القدسی، ردالمحتار ۴: ۳۵۸ مصطفی البابی الحلبی (۱). وهوالموفق

د مسجد په وقف کړې شوې ځمکه کې آبادي پرېښودل او د هغه ځمکې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په کلی کې بهر په یو بانډه (دشته) کې د پنځویشت کالو نه یو مسجد آباد دې اوس د بانډې (دشتې) اوسیدونکی په دې گمان چې یو خو مذکوره مسجد ورو کې دې دویمه خبره دا ده چې د آبادۍ نه لرې لرې دې په دې وجه د کورونو سره

---

۱) (ردالمحتار هامش الدر المختار ۳: ۴۰۶ مطلب فی ما لو خرب المسجد اوغیره)

متصل د ځمکې یوه حصه د بل مسجد د تعمیر دپاره وقف کړې شوې ده، چې د هغې په بنیادونو باندې درې څلور ورځې کار هم کړې شوې دې، وروستو هغوی ته ووئیل شو چې که تاسو دا دویم مسجد آباد کړو نو اول مسجد به وران او غیر آباد شی، پس د مجوزه مسجد تعمیر ترک کولو سره ئې د اول مسجد د توسیع اراده وکړه، اوس پوښتنه داده چې د دې دویم مجوزه مسجد دپاره چې کومه ځمکه وقف کړې شوې ده چې په هغې کې نه مسجد جوړ شوې دې او نه مونځ شوې دې په دې ځای باندې د کروندې وغیره څه حکم دې؟

المستفتی: عبدالوهاب بائز خرکی مردان...... ۲٤ مارچ ۱۹۷٦ء

الجواب: که دا ځمکه د یو سړی ملکیت وی او باقاعده د لارې انتظام وکړې شو نو دا زیات احوط کار دې چې په دې ځمکې باندې د مسجد احکام جاری کړې شی. كما فی البحر ۵:۱۹۷ فالحاصل ان الترجيح قد اختلف والاخذ بقول ابی يوسف احوط واسهل(۱) او که دا ځمکه د دوه یا ډیرو کسانو ترمینځه شریکه وی یا پرې د لارې انتظام نه وی نو دا وقف به کالعدم وی كما فی الهندية ۲:۳۷۳ وقف المشاع المحتمل للقسمة لايجوز عند محمد رحمه الله وبه اخذ مشائخ بخاری وعليه الفتوی كذا فی السراجية(۲) والباقی واضح. وهوالموفق

د وقف علی المسجد دکان بل ځای ته د بدلولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو مسجد مخې ته دوه واړۀ دکانونه دی هر یو دکان مربع څلور فټه او پوخ دې او مسجد لره شان اورېد دې او د هغې په نیمه حصه کې د چا دکان دې، اوس مونږ سره متصل د یو دکان تبادله د مسجد دپاره په وقف دکانونو سره کول غواړو چې

---

۱) وقال العلامة ابن نجيم: واكثر المشائخ على قول ابی يوسف ورجح فی فتح القدير قول ابی يوسف بانه الاوجه.
(البحر الرائق ۵:۴۲۱ فصل فی احكام المسجد)

۲) (فتاوی عالمگيرية ۲:۳٦۵ فصل فی وقف المشاع)

د صحن نه صحیح مسجد جوړ شي او د مسجد د جوړونکي هم دا خوښه ده نو آیا دا بدلون جائز دي؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولانا محمد یونس تهانه لاچي کوهاټ...... ۱۹۸۳ء | ۲ | ۱۵

الجواب: د وقف علی المسجد بدلون د هغه دکان نه جائز دي چې کله د مسجد مصلحت په هغې کې وي يدل عليه ما في الهندية ۲: ۳۹۹ وفي القنية مبادلة دارالوقف بدار اخرى انما تجوز اذا كانت في محلة واحدة وتكون المحلة المملوكة خيرامن محلة الموقوفة وعلى عكسه لايجوز(۱)۔ وهوالموفق

په مملوکه یا مقبوضه ځمکه کې د مسجد جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يوه ځمکه چې د هغې اکثر حصه مملوکه ده او بعض پکې مقبوضه هم ده په دې باندې تقریبا سل کاله تیر شوي دي په سرکاری کاغذات کې خو ټوله ځمکه مملوکه ده او اوس په مملوکه او مقبوضه ځمکه کې تمیز او فرق هم ناممکن دې په داسې ځمکه کې د مسجد د جوړولو څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: گل احمد قریشي بیګو خیل بنون..... ۱۲ ذوالقعده ۱۳۹۵ھ

الجواب: که غیر مملوکه ځمکه کومه چې اوس مقبوضه ده مغصوبه نه وي یعنی موات یا شاملات وي نو په هغې کې مسجد جوړول جائز دي لوجود شرائط الوقف لجواز بناء المسجد في الطريق العامة عند عدم الضرر بالمارة كما جاز في المملوك فليراجع الى الهندية ۲: ۴۴۴(۲)۔ وهوالموفق

---

(۱) (فتاوىٰ عالمگيرية ۲: ۴۰۰ باب ما يتعلق بالشرط في الوقف)

(۲) وفي الهندية: ذكر في المنتقىٰ عن محمد في الطريق الواسع بنى فيه اهل المحلة وذلك لا يضر بالطريق فمنعهم رجل فلا بأس ان يبنوا۔
(فتاوىٰ عالمگيرية ۱: ۴۵۶ الباب الحادي عشر في المسجد وما يتعلق به)

نوې مسجد جوړول مشروع او مخکې مسجد به برقرار وی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یوې محلې آبادی تقریبا په پنځوس شپیتو بالغ کسانو باندې مشتمل ده د دې محلې مسجد د سلو کالو نه مخکې تعمیر شوې موجود دې اوس اهل محله بل مسجد جوړول غواړی کوم چې به په محله کې دننه وی او سابقه مسجد د محلې په آخری سرحد باندې دې او د مجوزه او سابقه مسجد ترمینځه فاصله تقریبا درې سوه ګزه ده، بله دا چې په دې صورت کې به سابقه مسجد غیر آباد شی نو په دې صورت کې د نوی مسجد جوړولو څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالعزیز ېکوټی کوهاله مری..... ۱۹ ستمبر ۱۹۷۶ء

الجواب: نوې مسجد جوړول مشروع دی. لعموم حدیث من بنی لله مسجداً بنی الله له بیتاً فی الجنة اوکما قال علیه الصلاة والسلام(۱) خو پخوانې مسجد به ترقیامته پورې مسجد وی، یعنی په هغې باندې به د مسجد احکام جاری کیږی، کما فی شرح التنویر: ولو خرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عند الامام والثانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتی، حاوی القدسی، فافهم، شرح التنویر علی هامش ردالمحتار۳: ۳۸۱(۲) لنډه دا چې پخوانې مسجد به نه شی شهید کولې. وهوالموفق

د مونځ کونکو په موجودګۍ د زوړ مسجد تحویل او اختل خرڅول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په یوه علاقه کې زوړ مسجد د پلار نیکهٔ د وختو نه آباد کړې شوې دې د هغې نه شاوخوا

---

۱) وفی الهندیة: ذکر فی المنتقیٰ عن محمد فی الطریق الواسع بنی فیه اهل المحلة وذلک لا یضر بالطریق فمنعهم رجل فلا بأس ان یبنوا.

(فتاویٰ عالمگیریة ۴۵۶:۱ الباب الحادی عشر فی المسجد وما یتعلق به)

۲) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۴۰۶:۳ مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

مستقل ځو کورونه آباد دی، په ګرمئ يخنئ کې همدلته اوسيږي، خو د دې مسجد نه په دوه درې فرلانګ فاصله باندې ځو کورونه آباد شوي دی اوس هغه لرې خلق وائی چې مونږ خپل کورونو ته نزدې مسجد ابادول غواړو وجه دا ده چې يو مسجد مونږ نه لرې دې بله دا چې د مقبرې په مينځ کې آباد دې، او مونږ د شپې هلته د تلو نه ويريږو، او حال دا چې نزدې خلق د مسجد په دې انتقال کولو باندې خوشحاله نه دی، د دې اختلاف په صورت کې فيصله څنګه کولې شی، که انتقال جائز وی نو د سابقه مسجد کانې او لرګی بل مسجد ته انتقال کيدې شی يا نه؟ يا ئې خرڅولې شو يا نه؟ او کومه ځمکه چې پاتې شی نو مقبرې ته د نزدې کيدو د وجې نه په هغې کې مړی دفن کيدې شی يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: الف، ب، ت... ۱۵ دسمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: واضحه دې وی چې د اهل محله دپاره د مسجد نړول دپاره د مضبوطولو دی، کمافی ردالمحتار ج ۳ ص ۵۱۲ (۱) خو د مونږ کونکو باوجود د يو مسجد تحويل يا خرڅول جائز نه دی. کما يفهم من الشامية ۳:۵۱۲ وفی جامع الفتاوی: لهم تحويل المسجد الی مکان آخر، ان ترکوه بحيث لا يصلی فيه، ولهم بيع مسجد عتيق لم يعرف بانيه وصرف ثمنه فی مسجد آخر (۲، ۳). وهو الموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: عن الهندية مسجد مبنی اراد رجل ان ينقضه ويبنيه أحكم ليس له ذلک لانه لا ولاية له مضمرات الا ان يخاف ان ينهدم ان لم يهدم تتارخانية وتأويله ان لم يکن البانی من اهل تلک المحلة واما اهلها فلهم ان يهدموه ويجددوا بناء ه ويفرشوا الحصير ويعلقوا القناديل لکن من مالهم لا من مال المسجد الخ۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۵ مطلب فی احکام الميت)

۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۵،۴۰۶ قبيل مطلب فيما لو خرب المسجد او غيره)

۳) اقول الظاهر ان المراد بما فی جامع الفتاوی انقاض المسجد فافهم۔ (مفتی سيف الله حقانی)

د مسجد د ځمکې بدلون او د دویم مسجد د جوړولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو مسجد سره نژدې د پښوا نه څو کورونه آباد کړې شوې وو هغوی سره بعض نور خلق هم آباد شوې دی، بیا هغه وروستو راتلونکو خلقو دوه درې فرلانګ لرې استوګنه اختیار کړه، اول خلك د مسجد سره اوسیږی او لرې اوسیدونکو د هغه خلقو د رضا نه بغیر مسجد داسې ځای ته منتقل کړو چې د دواړو په مسافت کې مساوی دې، آیا د مسجد دا انتقال جائز دې؟ هم دغه د مخکې مسجد والا میدان باندې آبادې کول یا مقبره جوړول جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: مولانا فضل مولی دلبوړی مدرس حقانیه... ٤ دسمبر ۱۹۷٤ء

الجواب: دویم مسجد جوړول جائز دی، خو په اول مسجد باندې به ترقیامته پورې د مسجد احکام جاری وی، **یدل علیه ما فی الدرالمختار هامش ردالمحتار ۳: ۵۱۳: ولو خرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عند الامام، والثانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتی[۱]**.وهوالموفق

د زوړ مسجد د معطل کولو په صورت کې د نوي مسجد جوړولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې په پنډۍ کې د سول هسپتال په احاطې کې یومسجد دې اوس هسپتال راغورځولوسره نوې تعمیر شروع کړې شوې دې په موجوده تعمیر کې څه وارډونه بند شوې دی اوڅه پکې جوړیږی، د دې نوی تعمیر د نقشې مطابق دې مسجد ته د تلو راتلو تولې لارې بندې شوې دی چې د هغې د وجې نه به مسجد پخپله وران شی، اوس مسئله دا ده چې آیا د دې مسجد ځای د بل مسجد دپاره وقف کیدلې شی او د دې قدیم مسجد ملبه په دې نوی مسجد کې استعمالیدلې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: حافظ غلام محمد خطیب ډسترکټ سول هسپتال

راولپنډی... ۱۰ رمضان المبارک ۱۴۰۳ھ

---

۱) (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۴۰۶ مطلب فی ما لو خرب المسجد او غیره)

الجواب: دا زوړ مسجد دې په خپل حال باندې مسجد (معطل) برقرار وساتلې شي او مسجد جدید دې د ضرورت مطابق په بل ځای کې جوړ کړې شي. (۱) وهوالموفق

په غیر موقوف ځای کې د جوړ کړې شوي مسجد د بدلون او ملبې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو ټیکیدار پنځه جریبه بارانی ځمکه په اجاره باندې واخستله، ټیکیدار په خپلې مرضئ سره په دې ځمکه باندې مسجد جوړ کړو د ځمکې مالک نه وه وقف کړې، پنځه کاله پس مالک دا ځمکه په ټیکیدار باندې د انتقال سره خرڅه کړه او هغه مسجد ئې هم په هغه باندې خرڅ کړو اوس ټیکیدار وائی چې دا مسجد بتې سره نژدې دې او په ټرکونو وغیره سره ئې د خرابیدلو خطره ده لهذا که زه په بل ځای کې مسجد جوړ کړم او دا پخوانې مسجد شهید کړم نو د هغې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: شیر بهادر قدیم کلې پېښور ۱۰ جون ۱۹۷۶ء

الجواب: د دې مخکې مسجد ځمکه د مسجد ځمکه نه ده، په دې ځای باندې بتې وغیره جوړول جائز دی **لعدم صحة الواقف علی عقاره** (۲) خو په

---

۱) قال العلامة الحصکفی: ولو خرب ماحوله واستغنیٰ عنه یبقی مسجداً عند الامام والثانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتی حاوی القدسی۔
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۴۰۶ مطلب فی احکام المسجد)

۲) قال العلامة الحصکفی: بنی علی ارض ثم وقف البناء قصداً بدونها ان الارض مملوکة لا یصح وقیل صح وعلیه الفتویٰ، سئل قاریٔ الهدایة عن وقف البناء والغراس بلا ارض فاجاب الفتویٰ علی صحة ذلک ورجحه شارح الوهبانیة واقره المصنف معللا بانه منقول فیه تعامل فیتعین به الافتاء۔
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۴۲۷ مطلب وقف البناء بدون ارض)

دې چې کومه آبادي ده هغه وقف ده نو دا يا د دې قيمت يا خو په بل مسجد کې خرچ کول ضروري دي (۱) لصحة وقف البناء. وهو الموفق

د مسجد د ملبو په نورو ځايونو کې د استعمالولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړي مسجد جوړ کړې وو، اوس هم دا سړې بعض نور کورونه جوړول غواړي په دې وجه هغه مسجد لره د نوي تعمير او پوخ جوړولو د وجې نه شهيد کړې دې، آيا د دې مسجد ملبه په نورو مکاناتو کې استعمالول صحيح دي. بينواتوجروا

المستفتي: حاجي محمد مانکی صوابی......۲۰ فروری ۱۹۸٦ء

الجواب: که د مسجد دا ملبه د مسجد ضرورت نه وي نو د مردارو مقاماتو نه علاوه په نورو مقاماتو کې د دې استعمال جائز دې (ماخوذ از شامی) (۲) وهو الموفق

د زوړ مسجد نه لاندې دکانونه جوړولو سره پورته د مسجد د تعمير حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو مسجد لره راغورځولو سره د هغې په ځای باندې دکانونه جوړ کړې شي او په هغې دپاسه د نوي مسجد تعمير وکړې شي، دا جائز دي يا نه؟ که جائز وي نو د دکانونو نفع پورته مسجد ته ورکول جائز دي يا نه؟ حال دا چې راغورځولې شوې مسجد د پنځوس کالو نه دلته آباد وو؟ بينواتوجروا

المستفتي: مولوی محمد ادریس صدر دار العلوم گورنمنټ چارباغ سوات.. ۱۳ مئی ۱۹۷٦

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: وظاهره انه لا يجوز صرف وقف مسجد خرب الى حوض وعكسه وفي شرح الملتقى يصرف وقفها لا قرب مجانس لها.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۷ مطلب في نقل انقاض المسجد ونحوه)

۲) قال العلامة ابن عابدين: (قوله الى اقرب مسجد او رباط) وظاهره انه لا يجوز صرف وقف مسجد خرب الى حوض وعكسه وفي شرح الملتقى يصرف وقفها لا قرب مجانس لها.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۷ مطلب في ما خرب المسجد او غيره)

الجواب: دا کور به تر قیامته پورې مسجد وی، د دې کور په احاطه کې دکانونه جوړول جائز نه دی، دا ایجاد او استیجاد دواړه حرام دی.

یدل علی الاول ما فی الدرالمختار: ولو خرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عند الامام، والثانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتی، هامش ردالمحتار ۳: ۵۱۳(۱) قلت فعند محرم الاستغناء ومحرم خراب ما حوله یکون مسجداً بطریق اولیٰ، وفی الهندیة ۲: ۴۴۹ قیم المسجد لا یجوز له ان یبنی حوانیت فی حد المسجد اوفی فناءه لان المسجد اذا جعل حانوتا ومسکنا تسقط حرمته وهذا لا یجوز والفناء تبع المسجد فیکون حکمه حکم المسجد کذا فی محیط السرخسی(۲). وفی الدرالمختار ولا ان یجعل شیئا منه مستغلاً. (هامش الرد ۳: ۵۱۳)(۳) وبهذا ما فی سائر الفتاوی. وهوالموفق

د مسجد د پاره په وقف شوې ځمکه کې ډاکخانه جوړول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د مسجد دپاره ځمکه وقف کړې وه، اوس د ځمکې یعنی د مسجد په یو کنج کې د حکومت د طرفنه ډاکخانه جوړولې شی، د میاشتې کرائی به مسجد ته ملاویږی خو ملکیت به مستقل د حکومت وی، آیا د مسجد وقف شوې ځمکه د حکومت د اغراضو او مقاصدو دپاره ورکول جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حمد الله فاضل حقانیه... ۱۰ ربیع الاول ۱۴۰۲هـ

الجواب: کومه ځمکه چې د مسجد دپاره وقف کړې شوې ده په هغې کې سوا د مسجد د متعلقه امورو نه مثلاً دکان یا ډاکخانه وغیره جوړول د واقف په

---

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۴۰۶ مطلب فی احکام المسجد)

۲) (فتاویٰ عالمگیریة ۲: ۴۶۲ الباب الحادی عشر فی المسجد وما یتعلق به)

۳) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۴۰۶ مطلب فی احکام المسجد)

نیت سره مخالفت کیدو سره ناجائز دی. یدل علیه ما فی رد المحتار ۳/۳۶۷ (۱) وما فی الاشباه والنظائر ۱۸۳. (۲) وهوالموفق

د مسجد په ځمکه کې لاره جوړول او په هغې باندې قبضه کول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید د خپلو کرایه دارو دپاره او د خپل تلل راتلل دپاره د مسجد د ځمکې نه لاره جوړه کړې ده، زید د مسجد انتظامیه راطلب کړو او وې ویل چې مونږ دا لاره بندوو ځکه چې په مین روډ باندې د مسجد دروازه خلاصه شوې ده، زید وویل چې د لارې په بندولو سره به ما او زما کرایه دارو ته تکلیف وی، په دې وجه زه د دې پرېښودلو تیار نه یم، خو د ځمکې د دې ټکړې چې کوم قیمت وی زه د هغې د ورکولو دپاره تیار یم حال دا چې زید سره متبادل بله لاره هم موجود ده انتظامیه خلکو وویل چې شرعا مونږ د خرڅولو اجازه نه لرو په دې وجه د دې نه لاس واخله خو هغه دهمکیانې ورکوی او خپل سامان ئې په دې لاره باندې اېښې دې د دې شرعی حکم راولیږئ. بینواتوجروا

المستفتی: مسجد انتظامیه بازار گل برگ لاهور ... ۱۶ اپریل ۱۹۸٤ء

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت په انتظامیه باندې شرعا ضروری دی چې

---

۱) قال العلامة ابن عابدين : وما خالف شرط الواقف فهو مخالف للنص وهو حكم لا دليل عليه سواء كان نصه فى الواقف نصا او ظاهراً وهذا موافق لقول مشائخنا كغيرهم شرط الواقف كنص الشارع فيجب اتباعه كما صرح به فى شرح المجمع للمصنف.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۹۷ مطلب ما خالف شرط الواقف فهو مخالف للنص)

۲) قال العلامة ابن نجيم : شرط الواقف يجب اتباعه لقولهم : شرط الواقف كنص الشارع اى فى وجوب العمل به وفى المفهوم والدلالة كما بيناه فى شرح الكنز الافى مسائل.
(الاشباه والنظائر لابن نجيم ۱۹۴ كتاب الوقف)

په دې لاره باندې تلل راتلل بند کړي. كما في شرح الكبير ۵۲۷ ولا يتخذ طريقاً (۱)
او د اصرار په وخت په حکام وغیره باندې ضروري دي چې هغه مجبور کړي.
وهوالموفق

د مسجد حصه ځمکه په سړک کې شاملول غوره نه دي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد يوه حصه چې په هغې مسجد جوړ وي د سړک د پاره ورانول او هغه د قوم په مفاد کې وي نو دا کار شرعا څنګه دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: عباس خان املوک دره تیمره ګره تالاش..... ۲۵ اګست ۱۹۸۴ء

الجواب: د دې په نسبت چې د مسجد يوه حصه ورانه شي غوره دا ده چې د طرف مقابل دکان یا کور وغیره وران کړې شي؟ (۲) وهوالموفق

د مسجد په زیاتي ځای کې لاره جوړول

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ضياء الاسلام په خپل ملکیت سره د مسجد د پاره په محله ایوب آباد کې څه ځمکه وقف کړه، د محلې خلقو د مسجد بنیاد کیښودلو او غلطي کولو سره شارع عام هم په هغې کې شامل کړې شو، چې د هغې پلن والې دویشت فته دې اوس د مسجد مذکوره په مشرقي طرف کې يوه قطعه د ځمکې د طارق او عتيق په نامه ده هغوی د محلې د آبادو د پاره د دې مغربي ټکړې طرف ته لاره پريښودله چونکې شارع عام د دې نه مخکې نورو بعض اشخاصو د کور جوړولو په وخت په خپل کور کې د څه حده پورې ورك کړو، هم په دې وجه اهل محله په

---

۱) قال العلامة ابراهيم الحلبي: وروى ابن ماجة انه عليه السلام قال خصال لا تنبغي في المسجد لا يتخذ طريقاولايشهر فيه سلاح الخ.
(غنية المستملى المعروف بالكبيرى ۵۲۷: ۱ فصل في احكام المسجد)

۲) وفي الهندية: ان ارادوا ان يجعلوا شيئاً من المسجد طريقا للمسلمين فقد قيل ليس لهم كذلك وانه صحيح كذا في المحيط.
(فتاوى عالمگیریة ۴۵۷: ۲ الباب الحادى عشر في المسجد وما يتعلق به)

مسجد کې هم دا لاره ورکه کړه او عوامو متبادل لاره اختیار کړه، خو متبادل لاره ناکافي ده د ناکافی کیدو په وجه د مسجد مذکوره نه د مشرق طرف ته پنځه فټه اخستل دی، کوم ځای چې د مسجد نه د مفاد عامه دپاره (شارع عام) حاصلولې شی هغه ځای صرف د څپلو ویستلو او استنجاء خانو دې، یعنی په هغه ځای باندې مونځ نه شی کولې د دې نه علاوه د مسجد صحن هم فراخه دې نو آیا زمونږ دپاره دا عمل جائز دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سبز علی واهل محله ایوب آباد اکوړه خټک... ۱۷ ربیع الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: په صورت مسئوله کې د دې مخصوص ځای په لاره کې داخلول جائز دی، خصوصا چې کله دا مخصوص ځای په مسجد کې د داخلې شوې لارې بدل وي. **یدل علی اصل المسئلة ما فی الشامیة ۳: ۵۳۰ بعد ذکر القول الاول وهو عدم الجواز ثم نقل عن العتابیة عن خواهرزاده اذا کان الطریق ضیقاً والمسجد واسعاً لا یحتاجون الی بعضه تجوز الزیادة فی الطریق من المسجد لان کلها للعامة، والمتون علی الثانی وهوالمعتمد**(۱). **وهوالموفق**

د مسجد طرف ته د عامې لارې نه علاوه د خاص لارې ویستل مضر او ممنوع دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ د خلقو د مسجد لاره وه او مونږ به ډیر په آسانۍ سره مسجد ته تلو او د محلې خلقو به هم څه نه ویل بیا مونږ د مسجد سره هم په هغه ځای کې یوه کمره جوړه کړه او د هغې سره مو د مسجد طرف ته یوه کړکۍ پریښوده چې زمونږ د مسجد طرف ته لاره وی خو د محلې خلقو مونږ د دې نه منع کړو چې مسجد ته نوې لاره مه جوړوئ، آیا شرعا مونږ دا کړکۍ نه شو لګولې **بینواتوجروا**

المستفتی: شیر زمان ټالک دی آئی خان

(۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۴۲۰ مطلب فی جعل شیئ من المسجد طریقاً)

الجواب: د مسجد طرف ته د عامې لارې نه علاوه نورې خاص خاص لارې جوړول بالعاقبت مضردی اوپه ظاره کې د حدیث نه هم منع معلومیږي. ﴿لاتبغی خوخة الاخوخة ابی بکر﴾ اوکماقال (رواه البخاری وغیره) (۱) وهوالموفق

د غیر آباد مسجد لرګی او کاڼی وغیره په بل مسجد کې د لګولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ د کلی آبادی بل ځای ته منتقل کیږي او زوړ کلی لره غیر آباد پریښودلو سره په بل ځای کې نوې کلې جوړیږي، خلق پخوانی کورونه راغورځولو سره د هغې نه کاڼی او لرګی اوړی اوپه نوی کورونو کې ئې لګوی، آیا دا خلق د خپل کلی مسجد لره راغورځولو سره د هغې کاڼی او لرګی راوړلو سره په بل مسجد کې استعمالولې شی؟ ځکه چې اوس هغه وران ځای کې د مسجد پاتې کیدل بیکاره دی. بینواتوجروا

المستفتی: الف، ب، ج .. ۱۹ اګست ۱۹۷۴ء

الجواب: د مفتی به قول په بناء به مسجد تر قیامته پورې مسجد وی، د دې ورانول به جائز نه وی، خو که لرګې وغیره ضائع او خپله د ختمیدلو خطره وی نو د هغې بل مسجد ته ورکول یا یا د محلې د باأثره خلقو په مشورې سره د هغې خرڅول جائز دی او رقم دې په بل مسجد کې خرچ کړې شی اماالاول فلمافی الدرالمختار: ولوخرب ماحوله واستغنیٰ عنه یبقی مسجداً عندالامام والثانی

---

۱) عن ابن عباس قال خرج رسول الله ﷺ فی مرضه الذی مات فیه عاصباً رأسة بخرقة فقعد علی المنبر فحمد الله واثنی علیه ثم قال انه لیس من الناس احدا من علی فی نفسه وماله من ابی بکر بن ابی قحافة، ولو کنت متخذا من الناس خلیلاً لا تخذت ابابکر خلیلاً ولکن خلة الاسلام افضل سدوا کل خوخة فی هذا المسجد غیر خوخة ابی بکر-
(صحیح البخاری ۶۶:۱ باب الخوخة والممر فی المسجد)

ابداً الی قیام الساعة وبه یفتیٰ (هامش ردالمحتار ۳: ۵۱۳)(۱) وفی ردالمحتار: وفی الفتاوی النسفی سئل شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلوا وتداعی مسجدها الی الخراب وبعض المتغلبة یستولون علی خشبة وینقلونه الی دورهم هل لواحد لأهل المحلة ان یبیع الخشب بأمر القاضی ویمسك الثمن یصرفه الی بعض المساجداوالی هذا المسجد قال نعم (۳: ۵۱۴)(۲)۔ وهوالموفق

د مسجد د لرګو اخستل او خرڅول جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد لرګی او تیر وغیره خرڅولو سره حاصل شوې پیسې په مسجد خرچ کړی شی نو دا طریقه صحیح ده؟ آیا د مسجد د لرګو په بل ځای کې استعمال جائز دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی محمد یوسف اکوړه ختک رکن دار العلوم ۱۹۶۹ء

الجواب: غوره دا ده چې دا لرګی وغیره هم په دې مسجد کې خرچ کړې شی، خو د دې مسجد په داسې طرز د آبادولو اراده وی چې په هغې کې د لرګو ضرورت نه وی نو په دې صورت کې د دې خرڅول او د مشتری په خپلو ضروریاتو کې خرچ کول جائز دی.

قال العلامة الشامی: والمراد بآلات المسجد نحو القندیل والحصیر بخلاف انقاضه لما قدمنا عنه قریباً من ان الفتوی علی ان المسجد لا یعود میراثاً ولا یجوز نقله ونقل ماله الی مسجد آخر (ردالمحتار ۳: ۵۱۳)(۳) وقال وفی فتاوی النسفی سئل شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلوا وتداعی مسجدها الی الخراب وبعض

---

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۴۰۶ مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۴۰۷ مطلب فی نقل انقاض المسجد ونحوه)

۳) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۴۰۷ مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

المتغلبة يستولون على خشبه وينقلون الى دورهم هل لواحد لاهل المحلة ان بيع الخشب بأمر القاضى ويمسك الثمن ليصرفه الى بعض المساجد او الى هذا المسجد قال نعم (ردالمحتار ۳: ۵۱۴) (۱). واضحه دې وی چې که دا لرګی وغیره خرچ نه کړې شی نو د څه مودې تیریدلو نه پس به ضرور دا ضائع شی او یا به ئې غله یوسی او یا به ئې واقفین په خپلو ضروریاتو کې ولګوی. لهذا د هغې په خرچ کولو کې څۀ باک نشته. وهوالموفق

د مسجد دپاسه د رهائی کور تعمیر ممنوع دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې په مسجد دپاسه استوګنه اختیار کړی آیا په هغې کې استوګنه جائز ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: مولانا نور الحق مغلکی نوښهر

الجواب: د مسجد دپاسه د امام وغیره د اوسیدو دپاره کور جوړول منع دی. کما فی شرح التنویر: اما اذا تمت المسجدیة ثم اراد البناء منع (هامش ردالمحتار ۵۱۲/۳) (۲) **وهوالموفق**

د مسجد د پاسه د طلباء دپاره کمرې جوړول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد دپاسه د طالبانو دپاره د قیامګاه جوړولو څه حکم دې؟ د اکثریت رائې د خلاف ده که شرعا څه ګنجائش وی نو خبر مو کړئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: مفتی بدر منیر حقانی بټ خیله اماندره ملاکند.... ۹ جمادی الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: د مسجد کومه حصه چې د مانځه دپاره متعین شوې ده د هغه حصې اوچت والې نه ښکته او پورته او متعلقاتو نه علاوه په نورو ځایونو کې

---

۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۴۰۷ قبیل مطلب فی نقل انقاض المسجد ونحوه)

۲) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۴۰۶ مطلب فی احکام المسجد)

تعمير كول جائز دى يدل عليه ما فى شرح التنوير على هامش ردالمحتار ٣: ٥١٢ لوبنى فوقه بيتا للامام لا يضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدية ثم اراد البناء منع (١)۔ وهوالموفق

وقف على المسجد كور خرڅول جائز نه دى

سوال: څه فرمائى علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې چې زمونږ په مسجد کې اوس د څه مودې نه د جمعې مونځ شروع شوې دې خو ځاى تنګ دې يو صالح سړى د مسجد نه شاته بالکل متصل يو کور واخستلو او د مسجد د توسيع دپاره يې وقف کړې دې، وروستو د مسجد سره متصل شمالى طرف ته بل کور اخستلو سره وقف کړې شو شمالى کور راغورځولو سره په مسجد کې شامل کړې شو، خو مغربى ديوال لره خرڅولو سره په بل ځاى کې دکانونه د مسجد د آبادولو دپاره د مصلحت کار دى چې د هغې ګټه به په مسجد او مدرسه باندې لګولې شى، آيا دا طريقه صحيح ده؟ **بينواتوجروا**

المستفتى: حافظ بشير احمد نعمانى حافظ آباد ګجرانواله.....١١ اپريل ١٩٨٤ء

الجواب: په ظاهره کې مغربى ځاى وقف على المسجد دې د هغې خرڅول بهر حال ناجائز دى که د مسجد د ضرورياتو دپاره وى او که د مدرسې د ضرورياتو دپاره وى. (هندية ٢/ ٣٥٠)(٢) وهوالموفق

د مسجد په ديوال کې د بهر طرف نه د درسګاه د پاره د الماری جوړولو مسئله

سوال: څه فرمائى علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد د ديوال

---

١) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٣: ٤٠٦ مطلب فى احكام المسجد)

٢) وفى الهندية: وعندهما جس العين على حكم ملك الله تعالىٰ على وجه تعود منفعته الى العباد فيلزم ولا يباع ولا يوهب ولا يورث كذا فى الهداية.
(فتاوىٰ عالمگيرية ٢: ٣٥٠ كتاب الوقف الباب الاول)

بل طرف ته نژدې دینی درسګاه ده اوس د مسجد په دیوال کې بهر طرف ته په درسګاه کې قرآن کریم او سیپارو دپاره الماریٔ جوړول جائز دی یا نه؟

بینواتوجروا

المستفتی: مولانا رحیم الله باچا اضاخیل نوښهر .... ۲۳ ربیع الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: په موقوف څیزونو کې معروف تصرف نه علاوه نور تصرفات جائز نه وی، زمونږ په علاقو کې د مساجدو په داخلی حصه کې الماریٔ جوړول متعارف دی نه په خارجی حصه کې. (۱) وهوالموفق

د سل کاله پخوانی مسجد په انګړ کې دکانونه جوړول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو مسجد سل کاله شوې دی اوس د دې مسجد په انګړ کې دکانونه جوړول جائز دی یا نه؟ که دکانونه جوړ شوې وی نو په هغې کې به د میښې او غوا غوښه خرڅول جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: اهالیان خوړغاړه جلبۍ صوابۍ ...... ۲۷ مارچ ۱۹۸۵ء

الجواب: په وران شوی مسجد کې دا قسم کارونه کول تول په توله حرام دی. (۲) وران مسجد به هم ترقیامته پورې مسجد وی.

---

(۱) يدل عليه ما قال فی الشامية : ولا يوضع الجذع علی جدار المسجد وان كان من اوقافه قلت وبه علم حكم ما يصنعه بعض جيران المسجد من وضع جذوع علی جداره فانه لا يحل ولو دفع الاجرة.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۶ مطلب فی احكام المسجد)

(۲) وفی الهندية : قيم المسجد لا يجوز له ان يبنی حوانيت فی حد المسجد او فی فنائه لان المسجد اذا جعل حانوتا ومسكنا تسقط حرمته وهذا لا يجوز والفناء تبع المسجد فيكون حكمه حكم المسجد كذا فی محيط السرخسی.

(فتاوی عالمگيرية ۲:۴۶۲ الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد وتصرف القيم)

(شرح تنویر علی هامش ردالمحتار ۵۱۳/۳) (۱) وهوالموفق

په مسجد یا د هغې په حدودو کې دکانونه جوړول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو محلې د مسجد متفرق اخراجات د اهل محله د استطاعت نه خارج دی اوس دا خبره قابل غور دې چې د مسجد د ځمکې نه یوه حصه بیله کړو او په هغې باندې دکانونه آباد کړې شی، د ځمکې دا حصه اګر چې د حد بندئ لحاظ سره په دې حصه کې شامله ده چېرته چې مونځ کولې شی خو عملا دغه حصه د مانځهٔ دپاره نه ده استعمال شوې آیا د مذکوره نوعیت د ځمکې حصه د دکانونو د تعمیر دپاره استعمالول جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: پیش امام د خیرآباد هوتی مردان .... ۵ مئی ۱۹۷۳ء

الجواب: د مسجد په دې حصه کې دکانونه جوړول جائز نه دی. لما فی الهندیة ۴۴۹:۲ قیم المسجد لا یجوز له ان یبنی حوانیت فی حد المسجد او فنائه لان المسجد اذا جعل حانوتاً ومسکناً تسقط حرمته وهذا لا یجوز والفناء تبع المسجد فیکون حکمه حکم المسجد کذا فی محیط السرخسی (۲) وبمعناه فی البحر (۳) والفتح فلیراجع. وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحصکفی: ولو خرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عند الامام والثانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتی حاوی القدسی، وقال العلامة ابن عابدین: فلا یعود میراثا ولا یجوز نقله ونقل ماله الی مسجد آخر سواء کانوا یصلون فیه اولا وهو الفتوی حاوی القدسی واکثر المشائخ علیه مجتبی وهو الاوجه فتح. (الدرالمختار مع ردالمحتار ۳:۴۰۶ مطلب فیما لو خرب المسجد)

۲) (فتاوی عالمگیریة ۴۶۲:۲ الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد وتصرف القیم الخ)

۳) قال العلامة ابن نجیم: وفی المجتبی لا یجوز لقیم المسجد ان یبنی حوانیت فی حد المسجد او فنائه. (البحر الرائق ۵:۴۱۸ فصل من بنی مسجد الم یزل الخ)

د مسجد د پاره په وقف ځمکه کې د مسجد د امام د پاره د کور د آبادولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوه ځمکه د مسجد دپاره وقف کړې شوه وروستو د مسجد تعمیر وشو خو ځمکه خالی پریښودلې شوه وروستو په دې خالی ځمکه کې د امام دپاره کمره جوړه کړې شوه. د دې کمرې او د مسجد ترمینځه باقاعده دیوال موجود دې په هغې کې کله هم مونځ نه دې شوې اوس د خلقو خیال دې چې د دې کمرې په ځای کې یعنی په دې خالی ځای کې د مسجد د امام دپاره کور تعمیر کړې شی نو آیا د مذکوره کور آبادول جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: زیارت گل پیر پیائی نوښهر ... ۲٤ فروری ۱۹۷۵ء

الجواب: که دا ټوله ځمکه صرف د مانځه دپاره وقف شوې نه وی بلکې د نورو مصالحو د مسجد دپاره هم موقوف وی نو په دې خالی ځای کې د امام دپاره کور جوړول جائز دی (۱) کنه نو ناجائز دی (۲) **وهوالموفق**

د مسجد د پاسه د بیت الخلاء جوړولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد دپاسه د لاړې طرف ته پورته که په چت باندې بل وروکې ځای جوړ کړې شی او په دې چت باندې بیت الخلاء وغیره جوړه کړې شی نو آیا دا جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سردار علی حاجی ابراهیم پېښور ..... ۲۱ ربیع الاول ۱٤۰۱ھ

---

(۱) قال العلامة الحصكفی: لو بنی فوقه بیتا للامام لا یضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدیة ثم اراد البناء منع ولو قال عنیت ذلک لم یصدق تاترخانیة.
(الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار ۳:٤۰٦ مطلب فیما لو خرب المسجد)

(۲) وفی الهندیة: البقعة الموقوفة علی جهة اذا بنی رجل فیها بناء ووقفها علی تلک الجهة یجوز بلا خلاف تبعاً لها فان وقفها علی جهة اخری اختلفوا فی جوازه والاصح انه لایجوز.
(فتاوی عالمگیریة ۲:۳٦۲ الباب الثانی فیما یجوز وقفه ومالا یجوز ووقف المشاع)

الجواب: د مسجد په حدودو کې بیت الخلاء جوړول ناجائز دی اګر که په پورته حصه کې یا لاندې حصه کې وی.

قال الله تعالیٰ: طهر بیتی للطائفین والقائمین والرکع السجود (سورة الحج) (۱)

وفی حکمه سائر المساجد، وقال رسول الله ﷺ: وان تنظف وتطیب (رواه ابوداؤد) (۲) وفی شرح التنویر: وکره تحریماً الوطی فوقه والبول والتغوط لانه مسجد الی عنان السمآء وفی ردالمحتار وکذا الی تحت الثری۔ د هامش ردالمحتار ۱:۶۱۴ (۳)۔ وهوالموفق

د مسجد اضافی ځای لره د خطیب په کور کې د شاملولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د محکمه اوقاف په کنټرول کې یو مسجد دې چې په هغې کې د مقرر شوی خطیب کور هم دې خطیب صاحب لس فټه پلن او شپیتهٔ فټه اوږد د ځمکې احاطه په ځمکه کې شامل کړې دې آیا دا جائز ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی غلام قادر اسلام آباد کالج فارګرلز اسلام آباد... ۱۷ جولائی ۱۹۸۳ء

الجواب: که دا ځای د مونځ د کولو حصه نه وی او متعلقه متولین په دې باندې اعتراض نه کوی نو هیڅ باک نشته کنه نو بیا به ناجائز وی. (۴)

وهوالموفق

---

۱) (سورة الحج پاره: ۱۷ آیت: ۲۶)

۲) (سنن ابی داؤد ۱:۶۶ باب اتخاذ المساجد فی الدور)

۳) (الدرالمختار مع ردالمحتار ۱:۴۸۵ مطلب فی احکام المسجد)

۴) قال العلامة الحصکفی: لو بنی فوقه بیتاً للامام لا یضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدیة ثم اراد البناء منع۔
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۴۰۶ مطلب فی احکام المسجد)

د مسجد په غیر آباد حصه ځمکه کې د کروندې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد په احاطه کې کوم چې د پخوا نه غیر آباد پروت دې اوس د مسجد امام په دې خالی ځمکه کې یوه ګرځولو سره هغه آباده کړه، او هموارولو سره ئې ترې خس او ازغی صفا کړی دی او د کروندې قابله کړې ئې ده او په هغې کې ئې د سبزئ د کرلو اراده ظاهره کړې ده آیا په دې کې شرعا سبزی کرل او کرونده کول جائز دی؟ بینوا الحق وتوجروا عن الحق

المستفتی: عبدالله خلیفه دربار نادان شهید اکبر پوره نوښهر

الجواب: که دا ځای د مسجد د احاطې نه خارج وی یعنی د هغه حصې نه کومه چې د مسجد دپاره وقف شوې دې نو په دې کې هیڅ ممانعت نه دې راغلې او که په مسجد یا د مسجد په احاطه کې داخل وی نو ممنوع دې خصوصا چې کله د ذاتی منفعت دپاره وی، لان المساجد لم تبن لذلك (الحدث)(۱) ویدل علیه ما فی ردالمحتار ۱:۶۱۸ وان کان لنفع نفسه بورقه او ثمره یکره انتهی مختصراً(۲) وفی الهندیة: قیم المسجد لایجوزله ان یبنی حوانیت فی حد المسجد او فناءه لان المسجد اذا جعل حانوتاً او مسجداً تسقط حرمته، انتهی (۳:۲۴۱)(۳) قلت وکذلك جعله مزرعة. وهوالموفق

د مسجد د دوه هالونو ترمینځه د لارې په صورت کې د اقتداء مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو جامع

---

۱) (صحیح مسلم ۱:۲۱۰ باب النهی عن نشد الضالة فی المسجد، وابوداؤد ۱:۸۰ باب فی کراهیة انشاد الضالة)

۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۴۸۹ مطلب فی الغرس فی المسجد)

۳) (فتاوی عالمگیریة ۲:۴۶۲ الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد وتصرف القیم)

مسجد په شمالي ګاونډ کې د مسجد د توسیع دپاره زیات خای حاصل کړې شو چې په هغې کې یو هال تعمیر کولو سره په مسجد کې شامل کړې شي او په جمعه وغیره کې چې کله د مسجد هال ډک شي نو مونځ کونکي دې په شمالي هال کې ودریدلو سره جماعت سره مونځ ادا کړي خو د موجوده مسجد او مذکوره حال ترمینځه شرقا او غربا ګلۍ تیریږي اوس بعض حضرات وائي چې ذکر شوې ګلۍ به د اقتداء د جواز دپاره مانع وي؟، اوس صحیح مسئله څه ده؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولانا غلام حبیب نقشبندي دارالعلوم حنفیه چکوال جهلم ٦ ستمبر ۱۹۷۲ء

الجواب: که دا لاره تنګه وي نو په هغې کې بار اوړونکي سرې او ریړه وغیره نه شي تیریدلې نو د هغه حائل کیدل د اقتداء نه مانع نه دی او که دا لاره وسیع وي نو د هغې حائل کیدل مانع نه وي خو که په دې لاره کې د مونځ په وخت درې څلور کسان ولاړ وي نو بیا هم مانع عن الاقتداء نه دې

قال صاحب الدرالمختار: ویمنع من الاقتداء من النساء... اوطریق تجری فیه عجلة الا اذا اتصلت الصفوف الخ (بألاختصار) ردالمحتار (۱: ۵۴۵،۵۴۸)(۱)

وبمعناه فی الشرح الکبیر وغیره(۲). وهوالموفق

د مسجد لرګي اخستلو سره استعمالول جائز دي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: د مسجد خرڅ

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۴۳۲،۴۳۳: ۱ باب الامامة)

۲) قال العلامة ابراهیم الحلبی: والصحیح ان لا یمکن فیه سیر الزورق فهو صغیر لا یمنع وما یمکن فیه فهو کبیر لکن ذکر فی التاتار خانیة عن المنتقی للحاکم الشهید انه انما یمنع فی هذه الحالة اذا کان الناس یمرون فیه فان کانوا لا یمرون لا یمنع انتهی، ولا یخلو عن نظر لانه حینئذ بمنزلة الطریق الذی تمر فیه العجلة وهو مانع مطلقا فینبغی ان یمنع. (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ۴۵۲ فصل فی الامامة)

شوی لرګی وغیره کورونو ته وړولو سره سیزل جائز دی یا نه؟ ۲: که لرګي سیزلې شوې وی نو په سیزونکی باندې څه جرم عائد کیدلې شی چې د هغې کمې پوره کړې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نثار احمد خان پوتهه شریف کوه مری ... ۹ اپریل ۱۹۶۹ء

الجواب: ۱: چونکې د اخستلو نه پس دا د مشتری ملکیت جوړ شوې دې لهذا د دې احترام باقی پاتې نه شو ۲: د دې قیمت ادا کول او په مسجد کې خرچ کول ضروری دی (۱) **وهوالموفق**

د یو مسجد دپاره اخستلې شوې سیمنټ او بل مسجد ته د قرض ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو مسجد د آبادولو دپاره پنځوس بورئ سیمنټ پراته دی او د نورو مسجدونو والاکه لس بورئ سیمنټ په طور د قرض واخلی، نو د دې شرعی حیثیت څه دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حافظ محمد قاسم حقانی میکانکی روډ کوئټه ... ٤ جمادی الاول ۱٤۰۲ھ

الجواب: محلې د اهل حق وعقد یا متولی د هغوی د مالونو نه قرض ورکولې شی خصوصا چې کله په دې قرض ورکولو کې په هلاک او بربادیدو سره حفاظت موجود دې. یدل علیه ما فی الهندیة: ۲: ۴۵۰ اما المال الموقوف علی المسجد الجامع ان لم تکن للمسجد حاجة للمال فللقاضی ان یصرف فی ذلك (النائبة والحادثة) لکن علی وجه القرض، فافهم (۲). **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: وفی فتاوی النسفی سئل شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلوا او تداعی مسجدها الی الخراب وبعض المتغلبة یستولون علی خشبه وینقلونه الی دورهم هل لواحد لاهل المحلة ان یبیع الخشب بامر القاضی ویمسک الثمن لیصرفه الی بعض المساجد او الی هذا المسجد قال نعم. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۴۰۷ مطلب فی انقاض المسجد او نحوه)

۲) (فتاوی عالمگیریة ۲: ۴۶۴ قبیل الباب الثانی عشر فی الرباطات والمقابر الخ)

په جومات باندې د فدیه، عشر او زکوٰة نه علاوه باقي تبرع او خیرات خرچ کولې شي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په مړ کیدونکی پسې په طور د خیرات او صدقې رقم د مسجد په فنډ کې ورکړې کیدې شي؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: عزیز الرحمٰن کټوزئ چارسده

الجواب: په مسجد باندې فدیه، عشر او زکاة نه شي خرچ کیدلې.(۱) تبرع او خیرات خرچ کیدلې شي. **وهوالموفق**

د مسجد په نوم باندې جبری چنده اخستل جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دلته یو بدمعاش سړې دې اکثر خلق د مجبورئ د وجې نه د هغوی نه ویریږی او په خپل کلی کې د مسجد په بهانه باندې چنده راټولوی او هم د دې مسجد په نوم باندې په چندو سره هغه د ځان دپاره یو بلډنګ او کور هم جوړ کړې دې نو آیا د مسجد دپاره زبردستی چنده راټولول جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: عاشق حسین شاهور سرویکی، وزیرستان ... ۲۵ اپریل ۱۹۷۲ء

الجواب: جبری چنده اخستل اګرچې دمعطی د ذات حوالې سره وی، ناجائزدی، (قال رسول الله ﷺ: لایحل مال امرء الابطیب نفس منه)(۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الحصکفی: تملیکاً لا اباحة کما مر لا یصرف الی بناء نحو مسجد ولا الی کفن میت وقضاء دینه ... لعدم التملیک وهو الرکن.
(الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲:۶۹ باب المصرف)

۲) (مشکواة المصابیح ۱:۲۵۵ باب الغصب والعادیة الفصل الثانی)

د مسجد د تعمیر د پاره د عوامو نه د چندي حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا د مسجدونو د تعمیر دپاره په مختلفو طریقو سره چنده جمع کولې شی آیا د دې شرعا جواز دې؟ آیا د مساجدو تعمیر د اسلامی حکومت فریضه ده او که د عام مسلمانانو؟ بینواتوجروا.

المستفتی: معراج شبقدر فورټ چارسده ..... ۱۱ جولائی ۱۹۸۴ء

الجواب: چونکې تر اوسه پورې موجوده حکومت د انگریزانو په نقش قدم باندې ولاړ دې، لهٰذا د انقلاب نه مخکې د عوامو نه چنده دپاره د مسجد تعمیر جائز ده. (۱) عوام بغیر د مطالبې نه د مړی په تجهیز او تکفین کې هم حصه نه اخلی. وهوالموفق

په مسجد کې د چنده کولو او ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په مسجد کې د جمعې په ورځ باندې چې کومه چنده بیلولې شی د هغې په باره کې دوه رائې دی یو طرف ته علماء کرام وائی چې دا په سوال کې داخل ده چې د هغې په باره کې منع راغلې ده چې په مسجد کې سوال کول او ورکول جائز نه دی، د دویم طرف علماء کرام وائی چې په دې سره د دین تقویت راځی او په دې سره اصلاح المسلمین مطلوب دې، دې باره کې ستاسو څه فتوی ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی عبدالعزیز کوهستانی ...۲۱ جولائی ۱۹۷۹ء

---

۱) قال العلامة ابن عابدین : فانه یجب ان یتخذ الامام للمسلمین مسجداً من بیت المال او من مالهم ان لم یکن لهم بیت مال کذا فی فتح القدیر۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۳۹۳ قبیل مطلب قد یثبت الوقف بالضرورة)
وایضاً یدل علیه حدیث جریر : تصدق رجل من دیناره من درهمه من ثوبه من صاع تمرة حتی قال ولو بشق تمرة الی آخر الحدیث۔ (مشکواة المصابیح ۱:۳۳ کتاب العلم)

الجواب: چنده د استعانت نوم دې چنده ارباب اقتدار هم کوی په دې کې ذلت نه وی (۱) په خلاف د سوال کې فقهاء کرامو په مسجد کې سوال کول او سائل ته ورکول په بعض وختونو کې ممنوع گرځولي (۲) د دې نه د اعانت او استعانت د عدم جواز تخریج کول صحیح نه دی. وهوالموفق

د مسجد د تعمیر د پاره په مسجد کې چنده غوښتل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد د تعمیر د پاره په مسجد کې چنده جائز ده یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: ډاکټر هدایت الله چار باغ سوات.. ۲۵ ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

---

۱) یدل علیه ما فی الشامیة: فانه یجب ان یتخذ الامام للمسلمین مسجدا من بیت المال ومن مالهم ان لم یکن لهم بیت مال کذا فی فتح القدیر.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۳۹۳ مطلب قد یثبت الوقف بالضرورة)

وایضاً یدل علیه حدیث جریر: قال کنا فی صدر النهار عند رسول الله ﷺ فجاء قوم عراة محتابی النمار اوالعباء متقلدی السیوف... لما رای بهم من الفاقة فدخل ثم خرج فامر بلالا فاذن واقام فصلی ثم خطب... تصدق رجل من دیناره من درهمه من ثوبه من صاع بره من صاع تمرة حتی قال ولو بشق تمرة الی آخر الحدیث. (مشکواة المصابیح ۱: ۳۳ کتاب العلم)

وفی المسلم: عن جریر رضی الله تعالیٰ عنه قال خطب رسول الله ﷺ فحث علی الصدقة بمعنی حدیث جریر. (صحیح مسلم ۱: ۳۴۱ باب من سن سنة حسنة)

۲) وفی الهندیة: فاما تخطی السوال فمکروه بالاجماع فی جمیع الاحوال کذا فی البحر الرائق، المختار ان السائل اذا کان لا یمر بین یدی المصلی ولا یتخطی رقاب الناس ولا یسأل الناس الحافا ویسأل لامر لابد منه لا بأس بالسوال والاعطاء ولا یحل اعطاء سوال المسجد اذا لم یکونوا علی تلک الصفة المذکورة کذا فی وجیز الکردری.
(فتاوی عالمگیریة ۱: ۱۴۸ الباب السادس عشر فی صلاة الجمعة)

الجواب: په مسجد کې چنده کول منع نه دي چې کله د خطبې دوران کې نه وي او د مونځ کونکو مخې ته د تیریدلو خطره هم نه وي

يدل عليه ما رواه مسلم عن جرير مرفوعاً، تصدق رجل من ديناره ومن درهمه، الحديث (مشكواة ۱: ۳۴ كتاب العلم)(۱) وما روى ان النبي ﷺ امر بالتصدق على سليك الغطفاني عند الخطبة فمنسوخ محمول على قبل حرمة الكلام في الخطبة(۲). وهوالموفق

د صاحب استطاعت خلقو د مسجد دپاره د چندې ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د يو کلی د خلقو استطاعت مسجد لره د کچه جوړولو دې خو هغوی د دې دپاره د يو بل نه چنده غواړی چې پوخ مسجد جوړ کړی آيا دا جائز ده؟ که د پوخ مسجد د جوړولو استطاعت ئې هم وی خو بیا هم چنده غواړی د دې څه حکم دې؟

بينواتوجروا

المستفتی: عبدالله فاضل حقانيه ...... ۱۷ مئی ۱۹۸۳

الجواب: چونکې د موجوده دور خلق که صاحب استطاعت هم وی یا غیر اهل استطاعت، په مساجد جوړولو او نورو انتظاماتو کې په رضا او رغبت سره حصه نه اخلی، لهذا د دې کارونو دپاره چنده غوښتل قابل اعتراض نه

---

۱) (مشكواة المصابيح ۱: ۳۳ كتاب العلم الفصل الاول)

۲) قال فی منهاج السنن: والرابع انه منسوخ بما ذكرنا كما جنح اليه العينى تبعا للطحاوى. (منهاج السنن شرح الترمذى ۳: ۶۰ باب فى الركعتين اذا جاء الرجل والامام يخطب) وقال الشيخ البنورى: ولشيخنا العثمانى فى فتح الملهم بسط شاف فى هذه المسألة وجنح البدر العينى تبعاً للطحاوى الى القول بالنسخ بان الصلاة والكلام كان عند اباحة الافعال فى الخطبة وزاد شيخنا العثمانى القول بتعارض ادلة الحظر والاباحة وترجيح ادلة الحظر. (معارف السنن ۴: ۳۸۱ قبيل باب ماجاء فى كراهية الكلام والامام يخطب)

دي، کنه نو د مانځه د ترک یا د جماعت د ترک دپاره به عذرونه کوی (۱)
وهوالموفق
د تربیلا ډیم د متاثره مساجدو د حکومتی رقم حکم
سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د متاثرین تربیله ډیم د مسجدونو قیمتونه د هم هغه مسجدونو د متاثره آبادئ والا خلقو ته ورکولې شی د دې صورت دا وی چې د متاثر اوسیدونکو په اتفاق سره څو رکنی کمیټی تشکیل کیدو سره د محکمې د طرف نه د دې کمیټئ د چوکیانو په صورت کې هغه رقم ورکولې شی چې هغوی ئې په متاثره آبادئ کې تقسیم کړی، آیا په دې صورت کې رقم په ذاتی تصرفات کې استعمالول صحیح دی؟ په دې سره صرف د مساجدو تعمیر وکړې شی او که په بل مسجد کې خرچ کړې شی؟ او که په متاثر آبادئ کې خرچ کړې شی؟ **بینواتوجروا**
المستفتی: محمد وارث الوره هری پور هزاره.... ۲۲ مئی ۱۹۷۲
---
۱) قال العلامة ابن عابدين: فانه يجب ان يتخذ الامام للمسلمين مسجداً من بيت المال او من مالهم ان لم يكن لهم بيت مال كذا فى فتح القدير.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۳۹۳ قبيل مطلب قد يثبت الوقف بالضرورة)
ويدل ايضا عليه ما فى الحديث: عن جرير قال كنا فى صدر النهار عند رسول الله ﷺ فجاء قوم عراة مجتابى النمار اوالعباء متقلدى السيوف عامتهم من مضر بل كلهم من مضر فتحمر وجه رسول الله ﷺ لما رأى بهم من الفاقة فدخل ثم خرج فامر بلالاً فاذن واقام فصلى ثم خطب فقال... تصدق رجل من ديناره من درهمه من ثوبه من صاع بره من صاع تمرة حتى قال ولو بشق تمرة الى آخر الحديث.
(مشكواة المصابيح ۱:۳۳ كتاب العلم)
وفى رواية مسلم فحث على الصدقة بمعنى حديث جرير.
(صحيح مسلم ۲:۳٤۱ كتاب العلم باب من سن سنة حسنة)

الجواب: اگر چې د مفتی به قول په بناء باندې به مسجد د همیشه دپاره د مسجد په حکم کې وی، **كمافی الهندية** ۴۴۵/۲(۱) **والدرالمختارعلى هامش ردالمحتار**(۵۱۳/۳)(۲) خو د ضرورت د وجې نه په غیر اصح قول باندې فتوی ورکول هم جائز دی، **كمافی ردالمحتار** ۶۹/۱(۳) او د حکومت حکم په ضرورت کې داخل دې پس د امام محمد رحمه الله په قول باندې به عمل کولې شی او د دې مسجد قیمت به باقاعده تقسیم کولې شی یعنی د ځمکې قیمت به وقف کننده یا د هغوی شرعی وارثانو ته ورکولې شی. **وهوالموفق**

په تربیلا ډیم کې د ډوبو شوو ماجدو په بدله کې د حکومتی رقم مصرف

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په تربیلا ډیم کې چې کومې ځمکې او کورونه ډوب شوې دی حکومت د هغې رقم خلقو ته

---

۱) وفی الهندية: فی فتاوی الحجة لو صار احد المسجدین قدیما او تداعی الی الخراب فاراد اهل السكة بیع القدیم وصرفه فی المسجد الجدید فانه لا یجوز اما علی قول ابی یوسف فلان المسجد وان خرب واستغنی عنه اهله لا یعود الی ملک البانی واما علی قول محمد رحمه الله وان عاد بعد الاستغناء ولكن الی ملک البانی وورثته فلا یکون لاهل المسجد علی كلا القولین ولاية البیع والفتوی علی قول ابی یوسف انه لا یعود الی ملک مالک ابداً كذا فی المضمرات.
(فتاوی عالمگیرية ۲:۴۵۸ الباب الحادی عشر فی المسجد وما يتعلق به)

۲) قال العلامة الحصكفی: ولو خرب ماحوله واستغنی عنه يبقی مسجدا عند الامام والثانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتی حاوی القدسی وعاد الی الملک ای ملک البانی او ورثته. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۴۰۶ مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

۳) قال العلامة ابن عابدین: وفی المعراج عن فخر الائمة لو افتی مفت بشیی من هذه الاقوال فی مواضع الضرورة طلبا للتیسیر كان حسنا...وذلک من مواضع الضرورة.
(ردالمحتار ۱:۵۵ مطلب لا یجوز العمل بالضعیف حتی لنفسه)

ورکوی په هغه کورونو کې مساجد هم دی چې د هغې پیسې هم ملاویږی اوس د مساجدو په بدله کې چې کومې پیسې ملاویږی هغه دې قوم په خپل مینځ کې تقسیم کړی یا په دې سره نور نوی مساجد آباد کړی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالهادی متاثرین تربیله ډیم

الجواب: په دې رقم سره به مسجد آبادولې شی، دا پیسې به نه شی تقسیمولې، **لعدم صحة بیع المسجد علی قول ابی یوسف رحمه الله وهوالمفتی به کما فی جمیع الفتاوی(۱) فیؤخذ هذا المال تعاونا لا تبادلا فافهم وتدبر.(۲)**

وهوالموفق

د عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه په نوم سالانه خیرات په مسجد کې خرچ کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې مونږ هر کال د شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه په نوم باندې خیرات کوو او دغې ورځې ته مونږ یوولسمه وایو، په هغې باندې زمونږ تقریبا دولس سوه روپۍ خرچ کیږی تیر کال مونږ دا کار ونکړې شو په دې وجه په دې کال یوځائې خیرات کول غواړو، یعنی سل روپۍ به خیرات کوو، اوس مسئله دا ده چې زمونږ مسجد تعمیر

---

۱) قال العلامة الحصکفی: ولو خرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عند الامام والثانی ابدا الی قیام الساعة وبه یفتی حاوی القدسی، قال ابن عابدین: فلا یعود میراثا ولا یجوز نقله ونقل ماله الی مسجد آخر سواء کانوا یصلون فیه او لا وهو الفتوی حاوی القدسی واکثر المشائخ علیه مجتبی وهو الاوجه فتح.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۳:۴۰۶ مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

۲) یدل علیه ما فی الشامیة: وفی جامع الفتاوی لهم تحویل المسجد الی مکان آخر ان ترکوه بحیث لا یصلی فیه ولهم بیع مسجد عتیق لم یعرف بانیه وصرف ثمنه فی مسجد آخر. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۵ مطلب فی احکام المسجد)

غواړي نو آیا مونږ دا پیسې د مسجد په تعمیر باندې خرچ کولې شو؟ آیا د دې ثواب به د حضرت روح ته ملاؤ شي؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: حمید الله آرمز ډیلرز خیبر بازار پشاور.... ۱۹۸۲ء | ۹ | ۲

الجواب: ایصال ثواب اګر چې د طعام په صورت کې هم کیدې شي خو د مسجد د آبادولو په شکل کې غوره دې ځکه چې د مسجد آبدول صدقه جاریه دې (۱) **قال رسول الله ﷺ: اذامات الانسان انقطع عنه عمله الامن ثلاثة الا من صدقة جارية (رواه مسلم) (۲)**.

نوټ: نذر لغیر الله حرام دې (۳) او ایصال ثواب جائز دې او هغې لره د زمانې او وقت سره خاص کول د حرمت سبب دې (۴) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة التفتازاني: وفى دعاء الاحياء للاموات وصدقتهم اى صدقة الاحياء عنهم اى عن الاموات نفع لهم خلافاً للمعتزلة... وقد توارثه السلف... وعن سعد بن عبادة انه قال يا رسول الله ان ام سعد ماتت فأى الصدقة افضل قال الماء فحفر بئراً وقال هذا لام سعد... والاحاديث والآثار فى هذا الباب اكثر من ان تحصىٰ. (شرح العقائد النسفية ۱۷۲ دعاء الاحياء للاموات وصدقتهم)

۲) (الصحيح لمسلم ۲:۴۱ باب ما يلحق الانسان من الثواب بعد وفاته)

۳) قال العلامة الحصكفى: واعلم ان النذر الذى يقع للاموات من اكثر العوام... تقربا اليهم فهو بالاجماع باطل وحرام، قال ابن عابدين: (باطل وحرام) لوجوه منها انه نذر لمخلوق والنذر للمخلوق لا يجوز لانه عبادة والعبادة لا تكون لمخلوق الخ- (الدرالمختار مع ردالمحتار ۲:۱۳۹ مطلب فى النذر الذى يقع للاموات)

۴) قال العلامة ابن البزاز الكردرى: ويكره اتخاذ الطعام فى اليوم الاول والثالث وبعد الاسبوع والاعياد- (فتاوى البزازية على هامش الهندية ۴:۸۱ كتاب الصلوة الفصل الخامس)

د مسجد د فنډ نه د مړ شوی امام د بښځې د امداد وغیره حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې زمونږ په مسجد کښې د ډیر وخت نه میاشتنی چنده دپاره د مسجد د اخراجاتو چې د هغې نه د مسجد د امام تنخواه هم ورکولې شی، دوه کاله مخکښې امام صاحب د الله پاک په قضاء سره وفات شوې دې د هغوی یو رشته دار خپل ځان پیش کړو او تنخواه ئې وصولوله او دا تنخواه به ئې کونډې او د هغوی بچو ته ورکوله، هغوی دوه درې میاشتې مخکښې په تنخواه کښې اضافه هم کړې وه، چونکې د مسجد رجسټر هم د حافظ صاحب سره دې لهذا د خپلې تنخواه په ځای په هغې کښې د وفات شوی امام ښځې لیکله، د خلقو دپاره دا خبره قابل اعتراض وه او هغوی ته ووئیل شو چې تاسو د بیا دپاره تنخواه په خپل نوم باندې وصولوئ بیا تاسو ته اختیار دې چې چاته ئې حواله کوئ چې جواز قائم شی، خو حافظ صاحب وائی چې زه خو مفت تعلیم ورکوم تاسو چې کوم رقم ورکوئ کونډې او د هغې بچو ته ورکوئ اوس د دې په باره کښې څو سوالات دی!

۱: آیا د مسجد د امام په وفات کیدو باندې د مسجد د فنډ نه د هغه وارثانو ته د میاشتې پیسې ورکول جائز دی؟

۲: که جائز نه وی نو آیا اهل محله په خپله چنده د هغوی امداد کولې شی؟

۳: که اهل محله خپله ووائی چې که امام تنخواه اخلی یا نه اخلی مونږ د هغوی تخواه لره فرض کولو سره د مسجد د فنډ نه کونډې او د هغې بچو ته ورکولو په حق کښې یو آیا دا به جائز وی؟

۴: که منتظم د فنډ په دې ناجائز فیصله کښې لیت ولعل کوی نو آیا هغه حق په جانب دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: ماسټر عبدالله ډیره اسماعیل خان... ۹ ستمبر ۱۹۷۴ء

الجواب: محترم! د دې ټولو امورو د جواز او عدم جواز دارومدار په چنده ورکونکی یا د هغوی د طرف نه کوم چې متولی مقرر کړې شوې دې په مرضئ

باندې ده، ﴿لان هذا المال لم يخرج عن ملكهم﴾ (۱) فافهم. وهوالموفق

د مسجد د فنډ نه د غسل خانو وغیره د تعمیر مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد په احاطه کې درې غسل خانې او درې د استنجا ځایونه او یو سبیل اودس په اتو نلکو باندې مشتمل نژدې جوړ شوې دې د پخوا زمانې نه د شرعی مسجد د حطیم نه دا مقامات خارج وو اوس د مسجد نوې تعمیر شوې دې خو مذکوره غسل خانې وغیره تر اوسه پورې هم په هغه زوړ طرز باندې قائم دی، لهذا د مسجد کمیټۍ دا رائې پیش کړه چې چونکې د مسجد په څلورو دیوالونو کې ماشومان په پاک او ناپاکو لاسونو سره دلته اوبه څښي چې د هغې قوی امکان دې چې د غسل په وخت د پاکۍ او ناپاکۍ فرق نه شي کیدې، دویم دا چې د کوهی بوقې لره د اوبو د سبیل طرف ته د اوبو اچولو دپاره استعمالولې شي او د غسل کولو والاد غسل خانو طرف ته، هم دغه شان ډیر کسان شاته د اودس کولو دپاره ولاړ وی څکه چې اته نلکې کافی نه دی او مونږ کونکې زیات دی په دې وجه د مسجد غسل خانې د مسجد د احاطې نه بهر د مسجد د مصالح دپاره منتقل کړې شي.

---

۱) چونکې د چندې رقم د خرچ کولو نه مخکې د عطیه کوونکو ملك وی. یدل علیه ما فی الملتقط: اذا جمع دراهم لکفن میت ففضل او کفنه غیره یصرف الی المعطین فان لم یوجدوا یصرف الی کفن مثله فان تعذر ذلک یتصدق به.
(الملتقط فی الفقه الحنفية ۲۷ مطلب فی جواز امامة الصبی)
لهذا دا دهغوی په اجازت یا د متولی په رضا باندې موقوف دې. یدل علیه ما فی الهندية: ویبدأ من غلاته بما فیه من عمارتها واجور القوام علیها واداء مؤنها فما فضل من ذلک یصرف الی عمارة المسجد ودهنه وحصیره وما فیه مصلحة المسجد علی ان للقیم ان یتصرف فی ذلک علی ما یری واذا استغنیٰ هذا المسجد یصرف الی فقراء المسلمین فیجوز ذلک کذا فی الظهیریة.
(فتاویٰ عالمگیریة ۲:۴۶۰ الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد وتصرف القیم)

استنجا خانو او سبیل لره د اوبو د مشین په ذریعه د پائپ یا نلکې په ذریعه دوارو طرفونو ته نکلې لګولو سره اورد کړې شی، د دې دپاره اتفاق وشو چې چونکې د مسجد دپاره وقف شوی ځمکه کې (بازارونو کښې) دولس دکانونه درې ګیراجونه او یو کور جوړ شوې دي چې د هغې نه د میاشتې یو سل شپیتهٔ روپۍ ګټه حاصلیږی په دې درې وارو ګیراجونو کې یو ګیراج کوم چې بالکل د مسجد نه بیرونی دروازې طرف ته واقع دې او هغې سره متصل د قوم پخوانۍ وقف شوې کوهې هم موجود دې په دې وجه قوم او کمیټۍ دوارو دا ګیراج د غسل خانو دپاره منتخب کړې دي (چه د هغې امدن اووهٔ روپۍ د میاشتې دي) چې یو خو غسل خانې بهر منتقل شی او دویم دا چې بهر کوهې کوم چې وقف دې هم پوره طریقې سره په استعمال کې راوستلې شی. او د مسجد په پاکوالی کې به اضافه کولې شی، خو په دې تیوله معامله کې ټول قوم سوا د سوا د درې ځلورو کسانو نه متفق دی دې درې ځلور کسانو ویلې دی چې د مسجد ګټه په بیرونی غسل خانو باندې نه شی خرچ کیدلې حال دا چې موجوده غسل خانې هم د پخوا زمانې نه د مسجد د وقف شوې ګټې د اخراجاتو د لاندې وې او د قوم اکثریت دا وویل چې مونږ دا کار د مسجد د پاکوالی او د مونځ کونکو د سهولت، په جماعت کې د اضافې او د مسجدونو د اصلاح دپاره کوو

د جناب عالی په خدمت عرض دې چې آیا د مساجدو د اصلاح دپاره دا غسل خانې بهر تعمیر کیدلې شی یا نه، حال دا چې قدیم غسل خانې هم د پخوا زمانې نه د مسجد په احاطه کې د شرعی مسجد نه بهر جوړې شوې دی او صرف د مسجد ګټه په هغې باندې خرچ کیدله. که دا بهر منتقل کیدې شی او د مصالح د وجې نه په هغې باندې خرچ کیدې شی نو د لویو کتابونو په حوالې سره جواب ولیکئ او که نه شی آبادیدلای نو آیا قوم د دې دپاره چنده ورکړی او که نه؟ **بینوا وتوجروا**

المستفتی: محمود الحسن اختر لچه غلام پشاور ..... ۲ رمضان المبارک ۱۳۸۹ھ

الجواب: که د دې غسل خانو وغیره سره بل څه اهم تعمیر متعلقه مسجد نه وی نو بیشکه د دې غسل خانو وغیره تعمیر د دې فنډ نه جائز دې

في الدرالمختار: ويبدأ من غلته بعمارته ثم ما هو اقرب لعمارته كامام مسجد ومدرس مدرسة يعطون بقدر كفايتهم ثم السراج والبساط كذلك الى آخر المصالح انتهى(۱)۔ اودا بېشکه د وخت په مصلحاتو کې داخل دی. وهوالموفق

د یو مسجد چنده په بل مسجد کې لګول او د مسجد فنډ په مسجد کې جمع کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: زمونږ په کلی کې ډېر مساجد دی چې په هغې کې یو لوی جامع مسجد دې د اخترونو مونځ په هغې کې کولې شی د مسجد امام هم یو دې اوس د مسجد چنده په بیلو بیلو دکانونو بندې جمع کیدلې شی نو آیا د یو مسجد چنده په بل مسجد باندې خرچ کیدلې شی؟ مشرانو فیصله کړې ده چې د مسجدونو سابقه جمع شوې پیسې د دکاندارانو نه اخستلو سره په نیشنل بینک کې جمع کړې شی چې د هغې نه منافع یا سود وصولولو سره په مسجد باندې خرچ کړې شی، آیا دا طریقه جائز ده؟ بینواوتوجروا

المستفتی: عبدالرشید جهلم ... ۱۹۷۲ء\۱۱\۲۳

الجواب: ۱: که دا رقم د چندې وی نو د چنده ورکونکو یا د هغوی د وکیل په اجازت سره په بل مسجد باندې خرچ کول صحیح دی. لعدم خروجه عن ملكهم بخلاف الموقوف على المختار(۲)

---

۱) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۳:۴۱۲،۴۱۳ مطلب يبدأ من غلة الوقف بعمارته)

۲) قال العلامة ابن عابدين: قال الزيلعي وعلى هذا حصير المسجد وحشيشه اذا استغنى عنهما يرجع الى مالكه عند محمد وعند ابى يوسف ينقل الى مسجد آخر وعلى هذا الخلاف الرباط والبئر اذا لم ينتفع بهما، وصرح فى الخانية بان الفتوىٰ على قول محمد قال فى البحر وبه علم ان الفتوىٰ على قول محمد فى آلات المسجد وعلى قول ابى يوسف فى تابيد المسجد، والمراد بالآت المسجد نحو القنديل والحصير بخلاف انقاضه لما قدمنا عنه قريباً من ان الفتوىٰ على ان المسجد لا يعود ميراثا ولا يجوز نقله ونقل ماله الى مسجد آخر۔ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۷ مطلب فى ما لو خرب المسجد او غيره)

۲: چې کله ئې په نورو طریقو سره حفاظت ممکن وی نو په بینک کې ساتل به حرام وی اګر چې بغیر د سود نه وی، **لکونه تعاوناً علی المعصیة** (۱) او ربا یعنی سود ساتل بهر حال حرام دی

نوټ: په موجوده بینکونو کې منافع او سود یو څیز دې. **وهوالموفق**

د یو مسجد چنده په بل مسجد کې د خرچ کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو مسجد دپاره چنده جمع شوې ده کومه چې د مسجد د ضروریاتو نه زیاته ده او د دې محلې خلق هم ټول مالدار دی نو آیا د دې مسجدونو چنده په نورو مسجدونو کې خرچ کول جائز دی؟ **بینواوتوجروا**

المستفتی: حافظ فصیح اللسان ابو ظهبی یو اے ای ... ۲ ذوالقعده۱۴۰۲ھ

الجواب: د چنده ورکونکو په اجازت سره او هم دغه شان د هغوی د وکیلانو په اجازې سره په بل مسجد باندې صرف کیدلې شی، **لبقاء ملکهم علی عطیاتهم الآن کما کان** (۲) **وهوالموفق**

د مسجد د ګاونډیانو دپاره تنګه کوڅه د مسجد نه وضع کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو مسجد د ګاونډیانو د کورونو ضروریاتو لاره ډیره تنګه ده د بار او د خرګاډی د بوتلو قابله نه ده، یعنی د مسجد دې ګاونډیانو ته ډیر زیات تکلیف دې که د

---

۱) قال الله تعالیٰ: ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان- (سورة المائدة آیت: ۲پاره: ۶)

۲) یدل علیه ما فی الدر: وعن الثانی ینقل الی مسجد آخر باذن القاضی ومثله فی الخلاف المذکور حشیش المسجد وحصره مع الاستغناء عنهما وکذا الرباط والبئر اذا لم ینتفع بهما فیصرف وقف المسجد والرباط والبئر والحوض الی اقرب مسجد او رباط او بئر او حوض- (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۳:۴۰۷ مطلب فی ما لو خرب المسجد او غیره

مسجد نه لږه شان حصه په دې لاره کې شامله کړې شی نو د ګاونډیانو به ډیر کار جوړ شی او مسجد هم وسیع دې نو د دې څه حکم دې؟ بینواوتوجروا

المستفتی: خلیفه عبدالله نادان شهید اکبر پوره نوښهر ..... ۱۱ اکتوبر ۱۹۷۲ء

الجواب: لاره په مسجد کې داخلول جائز دی خو د مسجد نه لاره جوړول چې کله عامه لاره وی نو د راجح قول په بناء باندې ناجائز دی، او د مسجد نه خاص لاره جوړول د چا په نزد هم جائز نه دی. فی ردالمحتار ۳: ۳۸۳ وان اراد اهل المحلة ان یجعلوا شیئا من المسجد طریقا للمسلمین فقد قیل لیس لهم ذلك وانه صحیح ثم نقل عن خواهرزاده اذا کان الطریق ضیقا والمسجد واسعا لا یحتاجون الی بعضه تجوز الزیادة فی الطریق من المسجد لان کلها للعامة انتهی والمتون علی الثانی فکان هو المعتمد، انتهی ما فی ردالمحتار (۱). وهوالموفق

د مسجد د دیوال سره متصل په خپل کور کې غسل خانه جوړول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په خپل کور کې د مسجد د دیوال سره متصل غسل خانه جوړول څنګه دی؟ د غسل خانې شکل به داسې وی، چې یو دیوال به په مسجد کې وی او باقی درې دیوالونه به مونږ خپله جوړوو؟ بینواوتوجروا

المستفتی: مریش خان مهمند ایجنسی ... یکم شوال ۱۴۰۲ھ

الجواب: که دا غسل خانه د مسجد د متعلقات نه نهٔ وی نو د دې مسجد د دیوال نه صرد پردې د حاصلولو په صورت کې دا کار قابل اعتراض نه دې (۲) وهوالموفق

---

۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۴۲۰ مطلب فی جعل شیئ من المسجد طریقاً)

۲) چونکې په دې صورت کې د مسجد په دیوال باندې نه تیر کینبودلې شی او نه د دې نه څه انتفاع حقیقی اخستلې شی بلکې صرف... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده]

د مسجد په څمکه کې د مردارو اوبو ناله جوړول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په مسجد کې دننه د صف نه لاندې یوه پلیته ناله چې په هغې هر قسم مردارې اوبه او متیازې وغیره د ټول کلی راځی جوړول جائز دی یا نه؟ **بینواوتوجروا**

المستفتی: محمد زرین اوچ ضلع دیر

الجواب: که دا ناله زړه نه وی نو د مسجد د لاندې د هغې مطلقاجوړول جائز نه دی، که پاکې اوبه وی او که ناپاکې،

لان الفقهاء صرحوا بعدم جواز التصرف فی علو المسجد وسفله بما لایکون راجعاً الی مصالح المسجد فلیراجع الی ردالمحتار ۳:۵۱۲(۱)۔ وهوالموفق

بقیه ازحاشیه گذشته] په طور د پردې د دې دیوال استعمالول جائزدی او په عرف کې دا قسم انتفاع استیفاء حق نه شی شمار کولې او نه په مستقبل کې په دې دیوال باندې د ملکیت د دعوې څه خطره موجود ده لهذا دا قسم انتفاع (پرده حاصلول) مباح دی په دې شرط چې د مسجد دیوال ته په اوبو سره یا بل څه څیز سره نقصان ونه رسیږی. هم دغه شان دا پرده حاصلول هم یو قسم د ذاتی استعمال د راوړلو په صورت کې دی، په دې وجه حتی الامکان د دې نه ځان ساتل غوره دی. وفی الشامیة: ونقل فی البحر قبله ولا یوضع الجذع علی جدار المسجد وان کان من اوقافه قلت وبه علم حکم ما یصنعه بعض جیران المسجد من وضع جذوع علی جداره فانه لا یحل ولو دفع الاجرة۔ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۶ مطلب فی ما لو خرب المسجد او غیره)

(۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله او جعل فوقه بیتا الخ) ظاهره انه لا فرق بین ان یکون البیت للمسجد اولا الا انه یؤخذ من التعلیل ان محل عدم کونه مسجدا فیما اذا لم یکن وقفاً علی مصالح المسجد وبه صرح فی الاسعاف فقال واذا کان السرداب او العلو لمصالح المسجد او کانا وقفا علیه صار مسجداً... وحاصله ان شرط کونه مسجداً ان یکون سفله وعلوه مسجداً لینقطع حق العبد عنه لقوله تعالیٰ... وان المساجد لله بخلاف ما اذا کان السرداب والعلو موقوفا لمصالح المسجد فهو کسرداب بیت المقدس هذا هو ظاهر الروایة۔ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۶ مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

د مسجد پکې یا بل څیز په کور کې د استعمالولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد د امام په کمره کې دوه د بجلۍ یا د عام استعمال نور څیزونه د دوه نه زیات موجود وی په مسجد کې یو پکې یا د عام استعمال په څیز باندې گزاره ممکن ده. په دې کې اضافی پکې یا بل څه اضافی څیز د مسجد امام په خپل کور کې د استعمال دپاره اوړی آیا دا جائز ده؟ آیا د مسجد د امام دا تاویل د شریعت په نزد مسموع دې یعنی شرعا جواز لری چې بل پکی په حجره کې لگیدلې وی نو لازما به چلیږی، او هم دغه شان به په مسجد باندې زیاته خرچه راځی یا به ئې غل وغیره غلا کولو سره یوسی. الی غیرذلك من التاویلات. بینوا وتوجروا

المستفتی: میان خلیل گل فاضل خیر المدارس زیارت کاکا صاحب ... ۲٤ جولائی ۱۹۷۳ء

الجواب: که چنده ورکونکی او د محلې د مشرانو اجازت نه وی نو د امام دا کار ناجائز دې، لعدم اذن الملاك ومن قاموا مقامهم ... که دا څیزونه موقوف شرعی وی نو دا کار به بهر حال ناجائز وی، ونظیره ما فی الهندیة ۱۱۶:۱ ولا یحمل الرجل سراج المسجد الی بیته ویحمل من بیته الی المسجد کذا فی الخلاصة(۱). وهو الموفق

د مسجد د توسیع د پاره د اخستلې شوې ځمکې د بدلولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مسجد انتظامیه د مسجد د فنډ نه د مسجد د توسیع په غرض سره د جنوب طرف ته د ځمکې یوه حصه واخستله او د مبیعه ځای سره نیمه مرله بائع د مسجد دپاره وقف کړه، هم دغه شان په مسجد کې ټوله څلور نیمې مرلې ځمکه شامل کړې شوه، خو تر اوسه پورې په دې کې فرض مونځ د جماعت سره نه

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۱۱۰:۱ فصل کره غلق باب المسجد)

دې ادا کړې شوې، اوس د مسجد په عمارت کې د برنډې ذکر شوې حصه د خمکې سره نژدې لګیدلې ده او د کمرې حصه د مسجد د امام د ذاتی رهائشی کور سره نژدې ده، په کمره کې د جنوب طرف برنډې سره سره د فراخولو دپاره د هغه کور څه حصه پکاره ده چې امام صاحب د مسجد د نوې اخستلې شوې ځمکې په عوض ورکولو باندې تیار کړی، آیا انتظامیه د مسجد د مفاد په خاطر د مسجد د نوې اخستلې شوې ځمکې څه حصه بدلولې شی؟ بینواوتوجروا

المستفتی: حفیظ الله مسجد پارا خیل کوتها صوابی.......٦ جمادی الثانی ١٤٠٢ھ

الجواب: که اخستلې شوې حصه ځمکه زبانی طور نه وی وقف کړې شوې نو په دې حصه کې دا مسئوله بدلون جائز دې. لعدم تحقق ما یزول به الملک وما تتم به الوقف، فلیراجع الی الشامیة ٣/٥١١، ٥١٣.(١) وهوالموفق

د جوماتونه د پخوانئ زمانې نه کورونو ته جاری د اوبو نلکې (پائپونه) په نیشت حساب دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ د جومات نه اته نلکې (پائپونه) کورونو ته تلې دی خو د هغی بعضې نلکې (پائپونه) خرابی شوې دی او د هغې نه اوبه بهیږی د دې خرابتیا د وجې نه د جومات عمارت هم خرابیږی لهذا مونږ هغه نلکې (پائپونه) ختمې کړو، اوس هغه

---

١) قال العلامة الحصکفی: وشرعاً حبس العین علی حکم ملک الواقف... عنده... وعندهما هو حبسها علی حکم ملک الله تعالی... ورکنه الالفاظ الخاصة کارضی هذه صدقة موقوفة... والملک یزول عن الموقوف باربعة بقضاء القاضی... او بالموت اذا علق به او بقوله وقفتها فی حیاتی وبعد وفاتی موبداً الخ.

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ٣٩٩، ٣٩١:٣ کتاب الوقف)

خلق دوباره د نلکو (پائپونو) د لګولو مطالبه کوی آیا هغه خلق په دې نلکو (پائپونه) لګولو کې په حقه دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: سید نذیر اضاخیل نوښهر ... ۱۷ ربیع الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: جومات د الله پاک کور دې په دې کې د جومات د حقونو نه علاوه د چا حق هم نشته، د بې علمۍ د وجې نه چې د اوبو وغیره حق د مخکې نه راروان وو هغه به د ناجائز کیدو د وجې نه باطل او کالعدم وی.

لما في شرح المجلة ۲۲ الضرر لا يكون قديماً ولهذا قالوا لا عبرة للقديم المخالف للشرع القويم فلو كان لدار مسيل ماء على الطريق العام ويحصل منه للمارين ضرر فاحش فلا يعتبر قدمه ويؤمر صاحبه برفعه([1]). وهو الموفق

د جومات د ټينکۍ نه د اوبو پائپ په کور کې د لګولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په صدر بازار نوښار کې یو جومات واقع دې په دې جومات کې کوهې دې او د کوهی د پاسه ټینکۍ جوړه شوې ده چې په هغې کې د بجلۍ د موټر په ذریعه اوبه جمع کولې شی (یعنی د مونځ کونکو د استعمال د پاره) یو سړې چې د هغه جائیداد د جومات سره نژدې دې خواهش لری چې د جومات د ټینکۍ نه د کور د استعمال د پاره پائپ ولګولې شی او ورسره به د اوبو معاوضه هم ورکوی، آیا شرعا دې سړی ته د جومات د ټینکۍ نه پائپ تلې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: کمیټی مسجد رضوان نوښار ... ۳۰ ذی قعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا معامله ناجائز ده د موقوف کوهی نه د موقوف پائپ په ذریعه وتلې شوې اوبه کومې چې په موقوف ټینکۍ کې جمع شوې وی هغه

---

[1] (شرح المجلة لسليم رستم باز ۲۲: ۱ المادة: ۷)

موقوف دی.(۱) دغه شان دا بیع یا اجاره بذات خود هم منع ده. لعدم یقین المبیع اوالماء الخارج(۲) وهوالموفق

د جومات پکې کور ته د وړلو، د جومات په دیوال باندې د چهت اچولو او د زړو پوزکو د استعمالولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: یو سړی د جومات دپاره یو پکې ورکړو د هغه پکی د جومات د امام دپاره په کور کې استعمالول څنګه دی؟

۲: د جومات د ملکیت په یو کور کې یوه کمره جوړول دی چې د هغې دیوال د جومات د انګڼې د چاردیوارئ دیوال دې نو د ذکر شوې کمرې هم د دې جومات په دیوال باندې دیوال اچول صحیح دی؟

۳: د جومات د زړو پوزکو استعمال په دې کور کې څنګه دې چې د کمرو په چهتونو باندې واچولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: شبیر احمد غزنی خیل بنوں..... ۹ شوال ۱۴۰۲ھ

---

۱) وفی الهندیة: واذا جعل السقایة للشرب فاراد ان یتوضأ منها اختلف المشائخ فیه واذا وقف للوضوء لا یجوز الشرب منه وکل ما اعد للشرب حتی الحیاض لا یجوز منها التوضو کذافی خزانة المفتیین (فتاویٰ عالمگیریة ۴۶۵: ۲ الباب الثانی عشر فی الرباطات والمقابر)

۲) په شرح مجله کې دی، واعلم ان اکثر ما ورد علی خلاف القیاس من الاحکام الشرعیة مبنی علی الحاجة کالبیع بالوفاء... وکذا دخول الحمام لما کان زمان المکث فیه ومقدار ما یصب من الماء غیر معلوم فالقیاس یقتضی عدم الجواز وقد جوز لحاجة الناس، (شرح المجله للآتاسی ماده: ۳۲) ددې نه معلومه شوه چه د حاجت او ضرورت په وخت اګرچې د اوبو مقدار وغیره معلوم نه وی دا بیع یا اجاره جائز ده، لیکن په تپوس کړې شوی صورت کې هیڅ حاجت او ضرورت نشته. لما فی شرح المجلة: الضرورات تقدر بقدرها یعنی کل فعل او ترک جوز للضرورة فالتجویز علی قدرها ولا یتجاوز عنها. (ماده: ۲۲) په دې وجه به دا مسئله په خپل اصل یعنی په (نامعلوم مبیع) باندې به مبنی وی. (ازمرتب)

الجواب: ١: که دا پکې موقوف (وقف شوې) وی نو په دې کور کې به ئې استعمال ناجائز وی، ونظیره مافی الهندیة۲/۳۲۹ متولی المسجد لیس له ان یحمل سراج المسجد الی بیته وله ان یحمله من البیت الی المسجد(۱)
۲: چې هر کله دا کمره د جومات د متعلقات نه ده نو په دې کار کې هیڅ باك نشته
۳: په دې کې هیڅ باك نشته چې کله د دې پوزکو په اخستلو کې څوك شوق نه لری. یدل علیه مافی الهندیة۲/۴۴۶. (۲) فلیراجع...وهوالموفق

د جومات د چهت وغيره په ليو کولو کې د سوتو استعمال

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جومات د چت وغیره په لیو کولو کې د سوتې استعمال جائز دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی رحیم گل بتکرام.....۷ اګست ۱۹۸۴ء

الجواب: د ضرورت د وجې نه جائز ده.

کما فی ردالمحتار ۱: ۶۱۴ عن الهندیة یکره ان یطین المسجد بطین قد بل بماء نجس بخلاف السرقین اذا جعل فیه الطین لان فی ذلک ضرورة وهو تحصیل غرض لایحصل الابه کذافی السراجیة(۳)۔وهوالموفق

---

۱) (فتاوىٰ عالمگیریة ۲: ۴۶۲ الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد وتصرف القیم)
۲) وفی الهندیة: وفی المنتقی بواری المسجد اذا خلقت فصارت لا ینتفع بها فاراد الذی بسطها ان یأخذها ویتصدق بها او یشتری مکانها اخری فله ذلک وان کان هو غائبا فاراد اهل المحلة ان یأخذوا البواری ویتصدقوا بها بعد ما خلقت لم یکن لهم ذلک اذا کانت لها قیمة وان لم تکن لها قیمة لا بأس بذلک کذا فی الذخیرة۔
(فتاوىٰ عالمگیریة ۲: ۴۵۸ الباب الحادی عشر فی المسجد وما یتعلق به الفصل الاول)
۳) (فتاوىٰ عالمگیریة ۵: ۳۱۹ الباب الخامس فی آداب المسجد والقبلة والمصحف)

د جوماتونو په ملکیت کې ونې لګولو سره د هغې د ملکیت وغیره مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جومات امام د جومات په انګڼ کې یوه اونه وکرله، دوه درې کاله ئې د هغې خیال ساتلو، اوبه وغیره ئې ورکولې، بیا پخپله لویه اونه شوه، څه موده پس د جومات امام د امامت نه معزول شو اوس دا اونه په قیمتی لرګی باندې مشتمل ده ایا د دې معزول امام په دې اونه کې څۀ حصه شته یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد معصوم کړتوپه سرخیل

الجواب: که دې سابقه امام د کرلو په وخت دا صراحت نه وی کړې چې دا اونه ما د ذاتی مفاد دپاره کرلې ده نو دا اونه یا د هغې قیمت به په جومات کې خرچ کیږی. **یدل علیه مافی الهندیة ۲:۴۸۸ سئل نجم الدین عن رجل غرس تالة فی مسجد فکبرت بعد سنین فاراد متولی المسجد ان یصرف هذه الشجرة الی عمارة بئر فی هذه السکة والغارس یقول هی لی، فانی ما وقفتها علی المسجد قال الظاهر ان الغارس جعلها للمسجد فلا یجوز صرفها الی البئر، ولا یجوز للغارس صرفها الی حاجة نفسه(۱)۔ وهوالموفق**

په جومات کې کرلې شوې ونې به په جومات باندې خرچ کولې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په جومات کې دننه یوه لویه اونه ده، آیا د جومات د ضروریات او عمارت د جوړولو دپاره د هغې خرڅول جائز دی؟ دا اونه د جوماتیو امام کرلې وه او دا امام د دې جومات د محلې والو نه نۀ دې، او اوس وفات شوې دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا پیر غلام ...۱۳ مئی ۱۹۷۵

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲:۴۷۷ الباب الثانی عشر فی الرباطات والمقابر والحانات الخ)

الجواب: دا اونه یا قیمت به په دې جومات کې خرچ کولې شي.

كمافي الهندية ۲: ۴۵۵ واذاغرس شجرا في المسجد فالشجر للمسجد(۱) وفيها ايضاً ۴۵۶ سئل نجم الدين عن رجل غرس تالة في مسجد فكبرت بعد سنين فاراد متولي المسجد ان يصرف هذه الشجرة الى عمارة بئر في هذ السكة والغارس يقول هي لي فاني ما وقفتها على المسجد قال الظاهر ان الغارس جعلها للمسجد(۲). وهوالموفق

په سرکاري مسجد کې سابقه قابض امام او د حکومت د طرف نه په مقرر شوی امام کې کوم یو افضل دې؟

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې د جمرود هائی سکول په احاطه کې د حکومت منظور کړې شوې جومات دې چې هغې سره نزدې د بازار او ګاډو یوه اډه ده د جومات په تعمیر کې د حکومت او د بازار د خلقو حصه ده لاتر اوسه پورې د حکومت د طرف نه څه تنخواه او امام مقرر نه دې په دې وجه د سکول د عربئ معلم د امامت فرائض پوره کول. اوس حکومت د دې جومات د پاره باقاعده تنخواه دار امام مقرر کولو سره رالیږلې دې خو سابق قابض امام چې د عربئ معلم دې مصلې پرېښودلو ته تیار نه دې او عام خلق هم د هغه حمایت کوی اوس شرعا دا امامت د چا حق دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: الداز گل ... جمرود

الجواب: چونکې دا معلم اجیر خاص دې په دې وجه د هغه د پاره د ډیوټئ دوران بل مزدوری جائز نه دې. كمافي الدرالمختار: ۵/۵۹، وليس للخاص ان يعمل لغيره ولوعمل نقص من اجرته بقدر ماعمل، فتاوى النوازل(۳)

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۲: ۴۷۴ والمسائل التی تعود الی الاشجار التی فی المقبرة)

۲) (فتاوی عالمگیریة ۲: ۴۷۷ قبیل الباب الثالث عشر فی الاوقاف التی یستغنی عنها الخ)

۳) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۵: ۴۸ باب ضمان الاجیر)

خو د تعطیلات او تفریح په وخت غیر سرکاري مزدوري منع نه دې لعدم اضاعة حق الحبس، پس که دا امام د مخکې نه د تمام یا اکثر قوم غوره کړې شوې یا تر اوسه پورې ټول یا اکثر اهل حل وعقد په دې باندې راضي وي نو دا به نه شي لرې کولې، خو د سرکاري تنخواه حقدار به نه وي. کما في الدر المختار على هامش ردالمحتار ۱: ۵۲۲ اوالخيار الى القوم فان اختلفوا اعتبر اكثرهم فافهم(۱) وفي شرح الاشباه ۲: ۴۰۲ ان الامام ليس له ان يخرج شيئاً من يد احد الا بحق ثابت معروف(۲)۔ وهو الموفق

د جوماتونو د پاره د وقف شوې ځمکو (سیرۍ) حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې زمیندارو د مالکانو ځمکې جبرا قبضه کړې دي اوس د جوماتونو دپاره د وقف شوې ځمکو څه مسئله ده؟ ځکه چې په دې علاقه کې د مساجد دپاره سیرۍ وقف شوې دي چې د هغې ګټه او حاصلات د جوماتونو امامان حاصلوي د جومات امامان چې زاړه دي او هم دغه شان وروستو راغلي امامان په دې سیرۍ باندې د خپل ملکیت دعوی کوي او وائي چې سیرۍ د مساجد نه وي د امامانو وي، اوس د جومات داسې امامان چاته چې جومات د امامت په عوض کې ورکړې شوې دي او اوس دعوی کوي چې دا سیرۍ زمونږ ملکیت کې دي که قوم دا امامان د امامت نه لرې کړي لکه چې اوس اوس شوې دي او حکومت د سیرۍ دا ځمکې د هغوی ملکیت تسلیم کړي نو آیا دا به د جومات سره زیادت نه وي؟ او آیا په دې دروغ ویلو، منافقت او ناجائز حیلو د وجې نه به په هغوی پسې مونځ جائز وي؟ بینوا توجروا

المستفتي: ا، ب، ت، ۳ مئ ۱۹۷۵ء

الجواب: محترم المقام دامت برکاتهم! السلام علیکم نه پس دې واضح

---

۱) (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۴۱۳: ۱ باب الامامة)

۲) (الحموی على الاشباه ۲۵۲: ۳ فوائد وقواعد شتی)

وی چې کومه سیرئ د جومات په نوم وی نو امام وغیره یو سړی هم د هغې مالك کیدې نه شی، لکونه وقفاً علی المسجد(۱) او کومه سیرئ چې امام ته ورکړې شوې وی نو امام به د هغې مالك وی، او په هغې کې به د میراث حصې جاری کیږی، ونظیره العمرٰی(۲) الا اذا ثبتت کونها عاریة(۳)

وهوالموفق

د مسجد امام ته بعضې ځمکه د امامت او خدمت په بدل کې د ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړې یا قبیله د خپلو علماء کرامو او د دین د مشرانو دپاره د ځمکې یوه حصه د امامت په بدل کې یا د دین د خدمت په بدل کې ورکړی چې دا خلق د معاش د فکر نه لرِ آزاد وی نو دا ځمکه په کوم شمیر کې داخله ده یعنی هبه ده او که وقف؟ او که دواړه نه وی نو آیا بیا څلویښت پنځوس کاله یا د دې نه زیاته

---

۱) وفی الهندیة: وعندهما حبس العین علی حکم ملک الله تعالیٰ علی وجه تعود منفعته الی العباد فیلزم ولا یباع ولا یوهب ولا یورث کذا فی الهدایة وفی العیون والیتیمة ان الفتویٰ علی قولهما.
(فتاویٰ عالمگیریة ۲:۳۵۰ کتاب الوقف الباب الاول)

۲) قال العلامة المرغینانی: والعمری جائزة للمعمرله حال حیاته ولورثته من بعده لما رویناه معناه ان یجعل داره له مدة عمره واذا مات ترد علیه فیصح التملیک ویبطل الشرط وقد بینا ان الهبة لا تبطل بالشروط الفاسدة.
(هدایة ۳:۲۹۴ باب الرجوع فی الهبة)

۳) قال العلامة الموصلی: العاریة هی هبة المنافع ولا تکون الا فیما ینتفع به مع بقاء عینه وهی امانة.
(الاختیار لتعلیل المختار ۲:۷۴ کتاب العاریة)

موده د امامت فرائض پوره کولو سره د دې ځمکې د حصې قیمت نه ادا کیږی، ځکه چې دا یوه اوږده زمانه خدمت دې چې د هغې د وجې نه تقریبا د هغې قیمت او معاوضه ادا کیږی لکه د سیدنا شعیب علیه السلام خپلې لور لره په نکاح باندې ورکول د اتو یا لسو کالو په عمر کې شوې وو، شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: صاحبزاده محمد عارف باغیچه دهیرئ تحصیل وضلع مردان ۲۷ محرم ۱٤۰۳ھ

الجواب: کومه ملکانه (سیرئ) چې امام ته په دې اعتماد ورکړې شوې وی چې دا به نسل در نسل زمونږ د امامانو وی، نو د عرف سابق په بناء به دا مثل عمری وی پس د دې ملکانې مالك د امام جوړ شوې دې، دا هبه کوونکو ته نه شی واپس کیدې په دې کې به د میراث برخې جاری کیږی. (۱) وهوالموفق

د مسجد او امام په نوم د سیرئ (زمکی ورکولو) حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې وفات شو، هغه بعضې سیرئ (ځمکه) د جومات په نوم ولیکله یعنی وقف کړې ئې ده او بعض ئې د جومات د امام په نوم اوس وارثان هغې لره اخستل غواړی نو آیا دا واپسی جائز ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: تاج محمد ... هنزه گلگت

الجواب: کومه سیرئ (ځمکه) چې د جومات په نوم لیکلې شوې ده هغه د

---

(۱) قال العلامة المرغینانی: والعمریٰ جائزة للمعمر له حال حیاته ولورثته من بعده لما رویناه، معناه ان یجعل داره له مدة عمره واذا مات ترد علیه فیصح التملیک ویبطل الشرط ،وقدبینا ان الهبة لا تبطل بالشروط الفاسدة- (هدایة ۳:۲۹٤ باب الرجوع فی الهبة)

وقال العلامة الموصلی: العمری جائزة للمعمر حال حیاته ولورثته من بعد مماته ویبطل الشرط وهی ان یجعل داره له عمره فاذا مات ترد علیه لما تقدم من الحدیث ولما روی انه علیه الصلاة والسلام: اجاز العمری وابطل شرط المعمر.

(الاختیار لتعلیل المختار ۲:۷۱ فصل فی العمری والرقبی)

وقف على المساجد کیدو د وجې نه د چا ملکیت نه دې په هغې کې به د میراث حصې نه جاری کیږی. لخروجها عن ملك الواقف على القول الاصح والاقوى.(١) او کومه سیرئ (ځمکه) چې د امام په نوم باندې مندرج ده نو هغه په هبه اوعاریت کې متردد ده، په ظاهره کې په هبه کې لیکلې شوې معلومیږی په هغې کې به د میراث حصې جاری کیږی. لانها كالعمرى في الرجوع (عند العزل) فيفسد الشرط وتصح الهبة(٢) بهرحال په کاغذاتو کې چې کوم کیفیت لیکلې شوې وی د هغې نه دا تردد زائل کیدې شی. فليراجع وهوالموفق

د مسجد د پاره د وقف شوې ځمکې (سیرئ) حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې چې کوم جومات دې د هغې دپاره وقف ځمکې دی کوم سړې چې دلته امامت کوی او د دې وقف ځمکې حاصلات وصولوی او تقریبا اووهٔ اته علماء کرامو په دې طریقه باندې امامت کړې دې، تقریبا دوه کالې مخکې مولوی محمد رحیم وفات شو د هغې نه پس د هغوی ورور مولوی عبدالحلیم وفات شو، د هغوی په اولاد کې د امامت قابل څوك نشته او نه ترې د بیا دپاره د دې امید کیدې شی، اوس دا موقوفه ځمکه څوك استعمالولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: اهالیان کالابن ایبټ آباد ... ۱۵ جنوری ۱۹۷۵ء

---

١) وفى الهندية: وعندهما حبس العين على حكم ملك الله تعالىٰ على وجه تعود منفعته الى العباد فيلزم ولا يباع ولا يوهب ولا يورث كذا فى الهداية وفى العيون واليتيمة ان الفتوىٰ على قولهما كذا فى شرح الشيخ ابى المكارم للنقاية.
(فتاوىٰ عالمگيرية ٢:٣٥٠ كتاب الوقف الباب الاول)

٢) قال العلامة المرغينانى: والعمرىٰ جائزة للمعمرله حال حياته ولورثته من بعده لما روينا ومعناه ان يجعل داره له مدة عمره واذا مات ترد عليه فيصح التمليك ويبطل الشرط لما روينا وقد بينا انه الهبة لا تبطل بالشروط الفاسدة- (هداية ٣:٢٩٤ باب ما يصح رجوعه ومالا يصح رجوعه)

الجواب: که دا ځمکه جومات ته وقف شوې وی نو د جوماتد امام نه علاوه بل څوك دا نه شی استعمالولې. (۱) او که یو امام ته په طور د هبه دا سیری (ځمکه) ورکړې شوې وی نو په دې کې به باقاعده د میراث حصې جاری کولې شی. (۲) **وهوالموفق**

د مسجد دننه دروازه کومه چې لږه شان اوچته ده د امام وردیدل او د مقتدیانو په انګڼ کې وردیدل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جومات په مینځنۍ حصه کې درې دروازې دی چې د هغې مخې ته د جومات انګڼ دې، دا درې دروازې د انګڼ نه درې ګوتې اوچت دې اوس که د امام مصلی په دریو دروازو کې دننه کیښودلې شی او مقتدی حضرات په صحن کې نزدې صف بندی وکړی نو دا درې ګوتې اوچت والې د دروازو د مونځ دپاره نقصانی دې یا نه یعنی په مانځه کې به څه کراهت وی یا نه؟ آیا دا انګڼ او درې دروازې یو محل کیدې شی یا دا به جدا جدا محل ګڼلې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالکریم پیښور

الجواب: د فقهاء کرامو په نزد دا اوچت والې غیر معتبر دې په دې سره کراهیت نه پیدا کیږی دغه شان دا ځای نه بیل مکان دې او نه محراب دې او

---

۱) قال العلامة الحصکفی: وعندهما هو حبسها علی ملك الله تعالی وصرف منفعتها علی من احب ولو غنیا فیلزم فلا یجوز له ابطاله ولا یورث عنه وعلیه الفتوی.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۳۹۲ کتاب الوقف)

۲) قال العلامة المودود الموصلی: العمری جائزة للمعمر حال حیاته ولورثته من بعد مماته ویبطل الشرط وهی ان یجعل داره له عمره فاذا مات ترد علیه لما تقدم من الحدیث ولما روی انه علیه السلام اجاز العمری وابطل شرط المعمر.
(الاختیار لتعلیل المختار ۲:۷۱ فصل فی العمری والرقبی)

نه د اشتباه باعث دي لهذا په دې کې د امام قیام مکروه نه دې. فی الدر المختار: وانفراد الامام علی الدکان وقد الارتفاع بذراع ولاباس بما دونه وقیل مایقع به الامتیاز الاوجه ذکر الکمال وغیره انتهی (۱) او په موجوده صورت کې دا اوچت والې نه د شان امتیاز پیدا کوی او نه د یو گز مقدار ته رسیږی هم دغه شان چونکې د امام په مینځنی ور کې قیام کول په ظاهر کې د محراب د قیام سره مشابه دی لهذا احتیاط په بچ کیدو کې دې.

یدل علیه تعلیل الوالوالجیة وغیرها بحیث قالوا اذالم یضیق المسجد بمن خلف الامام لاینبغی له ذلك لانه یشبه تباین المکانین (۲). وهوالموفق

په مسجد باندې د رشوت د رقم خرچ کول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې د سرکاری قانون مطابق د څاروو په منډئ او د لارئ په اډه باندې بولی وشوه. د څاروو منډئ کومه چې د ډیرې مودې نه د یو سړی په نوم باندې ده په دې کال د څلور پنځو نوې اخستونکو سره مخامخ شو څو متعلقه کسانو د مفاهمت صورت پیدا کړو او په څو شرطونو باندې ئې فیصله وکړه چې د څاروو منډئ به د سابقه اخستونکی سره وی، او هغه به د قیمت د ورکولو نه علاوه د پولیس سټیشن سره ملحقه بازار والاجامع جومات د مرمت او تعمیر نه علاوه درې زره روپئ په طور د قیمت ورکوی. منډئ خو په دې طریقه هغه سره پاتې شوه خو د جومات دپاره د رقم ورکول د هغه مجبوری وی د نه غوښتلو باوجود ئې هغه رقم ورکړو او څو خله ئې د دې ناراضتیا اظهار هم وکړو خو هغه د معاهدې پابند وو، اوس په دې جومات کې د داسې قسم رقم لگولو څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: صوفی گل اختر بریلوی

---

۱) الدرالمختار علی هامش ردالمختار ۱: ۴۷۸ باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها)

۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۴۷۷ باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها)

الجواب: دا درې زره روپۍ رشوت دي د دې پیسو د جومات په مرمت کې صرف کول معصیت دي لانّ الاصل ان اخذ العوض علی الحقوق المجردة حرام کما صرح به فی بیوع شرح التنویر مثل حق الشفعة(۱) قلت: والحق المسئول هوالحق المجرد مثل حق الشفعة فیکون حکمه کحکمه، فافهم. وهوالموفق

په سرکاري مساجد کې بجلي او سوئي ګیس د مسجد امام استعمالولې شي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يو جومات کوم چې په حکومتي تحويل کې دي په هغې کې د لګيدلې بجلۍ او سوئي ګيس وغيره بل حکومت ادا کوي آيا د دې جومات امام په خپله حجره کې کومه چې په جومات کې دننه د لوئي هال سره ملحقه دي او د هغې دروازه هم د جومات د لوئي هال طرف ته کهلاوېږي، آيا د جومات امام په دې حجره کې بجلي او سوئي ګيس استعمالولې شي؟ بینوا توجروا

المستفتي: حاجي محمد انور مدني مسجد کنټونمنټ مسجد نوښهر ... ۱۷ نومبر ۱۹۸۶ء

الجواب: چونکې د ښهرونو د قومي جوماتونو د کميټيانو عرف او معمول دا دې چې کوم سهوليات د مونځ کونکو دپاره برابرولې شي نو هغه سهوليات د امام دپاره په داخلي رهائش ګاه کې هم برابرولې شي، لهذا په سرکاري مساجدو کې هم داسې سهوليات د جومات د امام دپاره برابرول جائز دي (۲)

وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة الحصکفی: وفی الاشباه لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة کحق الشفعة. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۴:۱۵ مطلب لا یجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة)

(۲) قال العلامة ابن عابدین: یجوز صرف شیئ من وجوه مصالح المسجد للامام اذا کان یتعطل لولم یصرف الیه یجوز صرف الفاضل عن المصالح للامام الفقیر باذن القاضی ولو زاد القاضی فی مرسومه من مصالح المسجد والامام مستغن وغیره یؤم بالمرسوم المعهود تطیب له الزیادة لو عالماً تقیاً.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۵۸ مطلب لیس للقاضی ان یقرر وظیفتها فی الوقف)

د فرقه سلفیه نجدیه په مقابل کې د بل مسجد د تعمیر حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو جومات چې په هغې کې سلفیه او نجدیه قسم خلق دی د هغوی په مقابله کې د بل جومات د تعمیر په شریعت کې اجازت شته یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: نیاز محمد قریشي فورټ سنډیمن..... ۲۳ مارچ ۱۹۷۶ء

الجواب: چونکې سلفیه نجدیه ډله متشددین بې ادبه بایمان دی. لهذا د هغوی جومات به جومات ضرار نه وی چې کله د نجدیت د اشاعت نه علاوه د نور اغراض فاسده نه خالي وی. فقهاء کرام (مثلا علامه شامي، هندیه وغیره) د مصلحت په وخت د یو جومات تقسیم ته جائز ویلې دې نو انفصال به په درجه اولی جائز وی. په دې کې هیڅ تحدید نه مصرح دې او نه پرې دلیل شته (۱) وهوالموفق

د مسجد د امام د اجازت نه بغیر د نوی راغلی د پاره د امامت یا وعظ یا تقریر کولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې اهل محله یو سړې د جومات امام جوړ کړو، اوس که یو مفتي یا لوئې عالم راشي نو آیا د جومات د امام د اجازت نه بغیر امامتی کولې شي؟ وعظ یا تقریر کولې شي؟ که په دې صورت کې د فتنې ویره وی نو کومه ډله به په حق ګڼلې شي؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: حافظ محمد طفیل مدني مسجد ګوندل منډی اټک... ۲۲ شعبان ۱۴۰۱ھ

---

(۱) قال العلامة ابن نجیم المصری: واذا قسم اهل المحلة المسجد وضربوا فیه حائطاً ولکل منهم امام علی حدة مؤذنهم واحد لا بأس به والاولیٰ ان یکون لکل طائفة مؤذن کما یجوز لاهل المحلة ان یجعلوا المسجد الواحد مسجدین فلهم ان یجعلوا المسجدین واحداً لاقامة الجماعات اما للتدریس او للتذکیر فلا.
(البحر الرائق ۲: ۶۲ باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها)

الجواب: د جومات د امام د اجازت نه بغیر امام جوړیدل مکروه او ممنوع دی. (۱) خو افضل دا ده چې کله یو غوره سړی راشی نو د جومات د امام دپاره مستحب ده چې هغه غوره ته اذن ورکړی (۲) **وهكذا في الوعظ والتذكير. وهوالموفق**

جماعت اسلامی والو لره په مساجدو کې د تقریر وغیره نه د منع کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د تبلیغی جماعت والو یو جومات او ورسره یو درسگاه ده چې په هغې کې د تبلیغ کار کیږی د جماعت اسلامی کسانو هم په دې کې کار شروع کړې دې او وائی چې د دین د کار نه مونږ څوک نه شی منع کولې، چې کله هغوی هلته د بیان وغیره دپاره اجتماع وکړه نو مونږ هغوی منع کړل نو هغوی په تهانه کې رپورټ وکړو او وېې ویل چې دې باره کې مونږ سره شریعت وکړئ، او حال دا چې جومات او د جومات امام ټول د تبلیغی جماعت والو دې او ټول انتظام ئې تبلیغی جماعت والا کوی او په تبلیغی جماعت کې ئې یو قسم منافرت او اختلاف اچولې دې نو آیا هغوی لره دلته په جومات کې د کار کولو نه منع کول جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی محمد حسن واړئ بازار ضلع دیر ...... ۲۷ رجب ۱۴۰۱ھ

الجواب: د جماعت اسلامی سره متعلقه علماء باندې نور علماء (اهل سنت)

---

۱) قال رسول الله ﷺ لا يؤمن الرجل في سلطانه.
(مشكواة المصابيح ۱۰۰ : ۱ باب الامامة الفصل الاول)

۲) قال العلامة ابن عابدين : وفي التتارخانية جماعة اضياف في دار يريد ان يتقدم احدهم ينبغي ان يتقدم المالک فان قدم واحدا منهم لعلمه وكبره فهو افضل، واذا تقدم احدهم جاز لان الظاهر ان المالک يأذن لضيفه اكراماً له.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴۱۳ : ۱ باب الامامة)

بدظن دی دا علماء نه خپله د مولانا مودودي په تفردات باندې رد کوی او نه د نورو علماء کرامو رد برداشت کوی، پس داسې مداهنين علماء لره په داسې مساجدو کې چېرته چې د هغوی د مخالفين تسلط وی د درس او بيان موقع ورکول فساد ته دعوت ورکول دی ولا يبعد ان يهيج بقول علی اخرجوا هذا المبتدع(۱) ويمنعهم كل موذعن المسجد على وجه الدلالة.(۲) وهوالموفق

د محراب ملهی نقش ونګار مکروه دي

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې په عصر حاضر کې د اکثر مساجدو د محرابونو د ډول او زينت دپاره رنګدار او د آئينې شيشې لګولې شی چې په هغې کې د مونځ کونکو عکس په نظر راځی آيا دا په مانځه کې مخل دی؟ بينواتوجروا

المستفتی: حافظ هدايت الرحمن مانکی صوابئ ... ۹ محرم ۱٤۰۳ھ

الجواب: فقهاء کرامو په محراب کې نقش ونګار ته ممنوع ويلې دې چې ملهی واقع نه شی، او دا اقدام چونکې واضح طور ملهی دې لهذا دا کار مکروه دې. (۳) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن نجيم: حكاه النووى فى شرح المهذب لما روى ان عليا رأى مؤذنا يثوب فى العشاء فقال: اخرجوا هذا المبتدع من المسجد۔
(البحر الرائق ۱:۴۵۳ باب الاذان مبحث ويثوب)

۲) قال العلامة الحصكفى: ويمنع منه وكذا كل موذ ولو بلسانه۔
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۱:۴۸۹ قبيل مطلب فى الغرس فى المسجد)

۳) قال العلامة ابن عابدين: ولذا قال فى الهندية وكره بعض مشائخنا النقش على المحراب وحائط القبلة لانه يشغل قلب المصلى ومثله يقال فى حائط الميمنة او الميسرة لانه يلهى القريب منه۔
(ردالمحتار هامش الدر المختار ۱:۴۸۷ مطلب فى احكام المسجد)

د مسجد په دیوال باندې کیناستل نه ممنوع دی او نه مطلوب

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ د جومات چار دیواری د جومات د صحن نه دوه نیم فټه اوچت دې خلق چې کله د مانځه دپاره راځی نو د مانځه په انتظار کې په چار دیواریٔ باندې کینی آیا دا کیناستل جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: شیر ولی خان ...... تخت نصرتی کرک

الجواب: په دې چار دیواریٔ باندې کیناستل نه ممنوع دی او نه مطلوب، خو جومات نه د تماشې ځای دې او نه د ګپ شپ. (۱) **وهوالموفق**

مسجد ته د بت خانې ویلو او د توهین کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې جومات ته د بت خانې ویلو څه حکم دې؟ هم دغه شان د جومات د بې عزتیٔ او توهین کولو څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: محمد فضل خالق لاټولي کوهستان

الجواب: ۱: په جومات کې چې ترڅو پورې شرکیات او قبر پرستی نه وی نو هغې ته بت خانه ویل حرام او د کفر سبب دې (۲)

---

۱) قال العلامة ابراهیم الحلبی: فالحاصل ان المساجد بنیت لاعمال الآخرة مما لیس فیه توهم اهانتها وتلویثها مما ینبغی التنظیف منه ولم تبن لاعمال الدنیا ولو لم یکن فیه توهم تلویث واهانة علی ما اشاره الیه قوله علیه السلام فان المساجد لم تبن لهذا فما کان فیه نوع عبادة ولیس فیه اهانة ولا تلویث لا یکره والا کره.
(غنیة المستملی المعروف بالکبیری ۵۲۷ فصل فی احکام المسجد)

۲) قال الملا علی قاری: من استخف بالقرآن او بالمسجد او نحوه مما یعظم فی الشرع کفر. (شرح فقه الاکبر للقاری ۱۶۷ فصل فی القرأة والصلاة)

۲: د یو جومات توهین او بې عزتي ناجائز ده خو د جومات ضرار توهین جائز بلکې واجب دی (۱) خو د جومات ضرار تعین د هرچا کار نه دی (۲) وهوالموفق

په مسجد کې د اوده کیدو او رهائش اختیارولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱ په جومات کې اوده کیدل جائز دی؟

۲: آیا په جومات کې مستقل رهائش ساتل جائز دی؟

۳: په جومات کې د رهائش د ناجائز کیدو په صورت کې یو داسې سړې په جومات کې د رهائش نه منع کول کوم چې په جومات کې مستقل رهائش کوی جائز ده یا نه؟ که هغه سړې په جومات کې په وسیدو باندې ضد کوی نو د هغه دپاره یا زمونږ دپاره څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: الحاج عمر حیات میلاد پارک بنون

الجواب: ۱ په جومات کې د معتکف او مسافر نه علاوه د نورو خلقو اوده کیدل غوره نه دی چې کله قصدا و ارادة وی. **کما فی الاشباه والنظائر ۳۸۲ والاکل والنوم لغیر غریب ومعتکف.** (۳)

---

۱) قال العلامة ملا جیون : فلما قفل (رسول الله ﷺ) من غزوة تبوک سالوه اتیان المسجد فنزلت علیه فقال علیه السلام لوحشی قاتل حمزة ومعن بن عدی وغیرهما انطلقوا الی هذا المسجد الظالم اهله فاهدموه واحرقوه ففعل وامر ان یتخذ مکانه کناسة یلقیٰ فیه الجیف والقمامة- (التفسیرات الاحمدیة ۴۷۷:۱ سورة التوبة)

۲) قال الشیخ مولانا مفتی محمد شفیع رحمه الله : دغسې د ریا او نبودنې دپاره یا د ضد او عناد د وجې نه یو مسلمان جمات جوړ کړی اګرچې جوړونکی ته به د جومات ثواب نه ملاویږی بلکه ګنهګار به وی، خو هغې ته به د قرآن د اصطلاح والامسجد ضرار نه وئیلې کیږی. بعضې خلق چه داسې قسم جوماتونو ته مسجد ضرار وائی دا صحیح نه ده۔ (معارف القرآن ۴۶۳:۴ سورة التوبة)

۳) (الاشباه والنظائر ۳۶۰ القول فی احکام المسجد)

۲ په جوماتو کې رهائش اختیارول مکروه دي (۱)

۳ د دې متعلق سوال په تفصیل سره راولیږئ چې مونږ په جواب ورکولو باندې قادر شو وهوالموفق

په وقف مسجد کې څوک د مانځه یا درود شریف لوستلو نه منع کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دلته وقف عام جومات دې او یو سړې هم په هغه محله کې آباد دې او هم د دې محلې په جومات کې مونځ کوی اوس د محلې د جومات د کمیټئ صدر او نور خلق هغه لره جومات ته د راتلو نه منع کوی او د درود شریف لوستلو نه ئې هم منع کوی او دا منع کول صرف د ضد د وجې نه دی د دې منع کولو څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد صفدر... گهړئ افغانان راولپنډی.... ۲۰ مارچ ۱۹۹۰ء

الجواب: د درود او ذکر نه منع کول ظلم دې خو د اهل بدع د شعار نه منع کول عدل دې (قرآن) (۲) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين: (قوله واكل ونوم... الخ) واذا اراد ذلک ينبغي ان ينوى الاعتكاف فيدخل ويذكر الله تعالىٰ بقدر مانوى او يصلى ثم يفعل ما شاء (فتاوىٰ هنديه). (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۴۸۹ مطلب فى الغرس فى المسجد)

وفى الهندية: ولا بأس للغريب ولصاحب الدار أن ينام فى المسجد فى الصحيح من المذهب والاحسن ان يتورع فلا ينام كذا فى خزانة الفتاوىٰ. (عالمگیریه ۵:۳۲۱ الباب الخامس فى آداب المسجد والقبلة)

(۲) قال الله تعالىٰ: ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان يذكر فيها اسمه وسعى فى خرابها. (سورة البقرة آيت: ۱۱۵ پاره: ۱)

وقال الله تعالىٰ: وان المساجد لله فلا تدعوا مع الله احداً. (سورة الجن آيت: ۱۸ پاره: ۲۹)

په مساجدو کې دنیوی خبرې کول ممنوع دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په جومات کې د عوامو د یو بل سره کیناستل او خبرې کول څنګه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: علی اکبر آزادکشمیر......۱۹ اکتوبر ۱۹۷۸ء

الجواب: د قرآن (۱) او حدیث (۲) په رڼا کې په جوماتونو کې د معتکف نه علاوه د نورو خلقو دپاره دنیوی کلام ممنوع دې (۳) **وهوالموفق**

په مسجد کې د جهنډې اوچتولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دلته یو چشتی عامل دې او په جومات کې خپله نخښه یعنی جهنډا خوزول غواړی او د جومات امام هغه د جهنډې خوزولو نه منع کوی. چشتی عامل وائی چې ماته د خپل مرشد د طرف نه د دې اجازت ملاؤ شوې دې چې زه په جومات کې جهنډا اوخوزوم اوس د چشتی عامل او امام ترمینځه په دې خبره باندې اختلاف دې او حال دا چې چشتی عامل د جهنډې د خوزولو په وخت داسې څه حرکت هم نه کوی کوم چې د شریعت خلاف وی نه په جومات کې او نه د جومات نه بهر، په دې باره کې د شریعت څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی محمد جان... سپین کوټ چارسده....۱۹ جنوری ۱۹۶۹ء

---

۱) قال الله تعالیٰ: وان المساجد لله فلا تدعوا مع الله احداً. (سورة الجن پاره:۲۹ آیت:۱۸)

۲) عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال نهی رسول الله ﷺ عن تناشد الاشعار فی المسجد وعن البیع والاشتراء فیه وان یتحلق الناس یوم الجمعة قبل الصلاة فی المسجد. (مشکواة المصابیح ۱:۷۰ باب المساجد ومواضع الصلاة)

۳) وفی الهندیة: ولا بأس للمعتکف ان یبیع ویشتری الطعام ومالا بد منه. (فتاویٰ عالمگیریة ۱:۲۱۳ الباب السابع فی الاعتکاف)

الجواب: چونکې په جهنډه خوزولو کې نه د جومات دپاره څه مصلحت دې او نه د مونځ کونکو دپاره څه منفعت دې لهذا دا کار خلاف اولی دې. ولم اجد التصریح به لکنه مدلول حدیث: ان المساجد ما بنیت لذلك (۱) وهوالموفق

په مسجد کې ذکر بالجهر او ټوپونه وهلو سره د ذکر کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په جومات کې د هر زیارت په شپه باندې څه خلق راجمع کیدو سره په عجیب طرز باندې ذکر کوی د دې سلسلې څو لوئې عام مبتدی کسان او خلقو ته په دوارو لاسونو سره اشاره کولو سره د هو هو په اواز سره توجه کوی چې په هغې سره مخامخ سړی باندې عجیبه کیفیات راځی او عجیبه عجیبه آوازونه راویستل شروع کړی او ټوپونه وهلو سره عجیب قسم شور او غوغا پیدا کیږی چې په هغې سره باقی مونځ کونکی هم تنګیږی او د مانځه د غلطیدلو شکایت کوی.

۱: آیا د ذکر دا طریقه صحیح ده چې په هغې کې جومات کې ټوپونه وهی؟

۲: د دې سلسلې څه کسان په مانځه کې هم آوازونه او چغې وهی آیا دا مونځ صحیح کیدې شی؟

۳: د دې سلسلې والو په توجه سره خلق ولې بې حاله کیږی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: یو سائل... ۱۹۸٤ء

الجواب: دا خلق د جومات په بې ادبئ کې اخته دی او ناخبره خلقو لره د طریقت او بیعت نه متنفر کونکی دی په کومه طریقه سره چې مانځه ته نقصان رسیږی د هغې نه ځان ساتل ضروری دی. (۲) او مخامخ کیناستونکی دا خلق

---

۱) ان المساجد لم تبن لهذا.

(صحیح مسلم ۱:۲۱۰ باب نشد الضالة فی المسجد)

۲) قال العلامة ابن عابدین: وفی الملتقی وعن النبی ﷺ ... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

که (لاحول ولا قوة الا بالله) او (حسبنا الله ونعم الوکیل) لولی نو د دې شیطانی اثر نه به خلاص شی (۱) وهوالموفق

د دینی طالبانو وظیفه غوښتل جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د دین طالب علم په مساجد یا مدارس کې وسیدو سره چې کومه چائې یا ډوډۍ غواړی دا جائز ده یا ناجائز؟ هم دغه شان د طالب علم دپاره د مدرسې نه طعام مقرر دې نو د هغې څه حکم دې؟ که د یو طالب العلم سره دومره رقم موجود دې کوم چې د یوې میاشتې پورې دهغه دپاره کافی کیږی خوصرف د ډوډۍ دپاره او د چائې بندوبست په هغې سره نه کیږی نو آیا چائې غوښتل جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: غلام حیدر ډیروی متعلم حقانیه..... ۱۰ ستمبر ۱۹۷٤ء

الجواب: د طالبانو دپاره وظیفه جمع کول که ډوډۍ وی یا چائې جائز ده په دې کې توهین نشته. هم دغه شان د طالب علم دپاره سوال جائز دې اگر چې

بقیه ازحاشیه گذشته] انه کره رفع الصوت عند قراء ة القرآن والجنازة فما ظنک به عند الغناء الذی یسمونه وجدا ومحبة فانه مکروه لا اصل له فی الدین وزاد فی الجوهرة وما یفعله متصوفة فی زماننا حرام لا یجوز القصد والجلوس الیه.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۵:۲٤٦ قبیل فصل فی اللبس)

وفی الهندیة :السماع والقول والرقص الذی یفعله المتصوفة فی زماننا حرام لا یجوز القصد الیه والجلوس علیه. (فتاوی عالمگیریة ۵:۳۵۲ الباب السابع عشر فی الغناء)

۱) بعضې تش په نوم متصوفین داسې قسمه اثرات توجه، سحر او د عملیاتو په ذریعه اچوی او د حضرت مفتی صاحب نه ما څو خله اوریدلی دی چې دچا شیطانی اثرات او جادو ټوټکې ختمولو دپاره معوذتین منصوص دی، او لاحول ولا قوة الا بالله او حسبنا الله ونعم الوکیل کشفی دی د داسې قسمه جعلی صوفیاؤ په مجلسونو زما هم دا تجربه ده چه ددې کلماتو ورد کولو سره هیڅ یوڅیز په ما اثر نه کوی، حالانکه نور خلق چې مخې ته شی په ټوپونو وهلو شروع شی (ازمرتب)

غنی وی يعني يكون عنده قدر ما يغديه ويعشيه اويكون قادراً على الكسب كما يدل عليه ما في ردالمحتار ۲: ۸۱ ويكون طلب العلم مرخصاً لجواز سؤاله من الزكواة وغيرها وان كان قادراً على الكسب(۱)۔ وهوالموفق

په مسجد کې د خوراک څښاک کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په جومات کې خوراك څښاك کول جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حزب الرحیم ډاك بي سود پېو

الجواب: په جومات کې خوراك څښاك کول مشروع دی چې کله د ایذاء او تلویث نه خالی وی، بدليل اكل الصحابة رضى الله عنهم.(۲) خو د اعتكاف نیت کول احوط دی (۳) وهوالموفق

په مسجد کې د ټیپ ریکارډ په ذریعه د تقریر او تلاوت اورولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې جومات ته ټیپ ریکارډ راوړل او په ممبر باندې کېښودلو سره د قرآن او حدیث او نعت خوانۍ اوریدلو څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حسن خان افغانی الحقانی ..... ۱۷ فروری ۱۹۸۷ء

---

۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۶۵:۲ باب المصرف)

۲) عن عبد الله بن حارث بن جزء قال اتى رسول الله ﷺ بخبز ولحم وهو فى المسجد فاكل واكلنا معه ثم قام فصلى وصلينا معه ولم نزد على ان مسحنا ايدينا بالحصباء، رواه ابن ماجة- (مشكواة المصابيح ۳۶۶:۲ كتاب الاطعمة الفصل الثانى)

۳) قال العلامة ابن عابدين: (قوله واكل ونوم) واذا اراد ذلك ينبغي ان ينوى الاعتكاف فيدخل ويذكر الله تعالىٰ بقدر ما نوى ويصلى ثم يفعل ما شاء.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴۸۹:۱ قبيل مطلب فى الغرس فى المسجد)

الجواب: که د ټیپ ریکارډ داخلول څه فساد لره مفضی نه وی نو صحیح ده.

(۱) کما ان التلاوة فی مسجد ذی جنابذ غیر منکرة مع تحقق الصدی فافهم. وهوالموفق

په مسجد کې ټیپ ریکارډ راوړل او په مسجد کې رحیل کې سر کیښودلو سره د اوده کیدو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: په جومات کې ریډیو یا ټیپ ریکارډ باندې کیښودلو سره جائز دی یا نه؟ که د تقریر دپاره وی او که د ممانعت وی؟

۲: په جومات کې د قرآن پاك دپاره جوړ شوی رحیل کې سر کیښودلو سره د اوده کیدو څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: ظاهر شاه باچا......۱ستمبر ۱۹۷۵ء

الجواب: واضحه دې وی چې که دا آلات په جائز امور کې استعمال کړې شی نو جائز ده کنه نو ناجائز ده. د دې مثال د ټوپك یا تورې په شان دې (۲)

۲: په جومات کې اوده کیدل جائز دی(۳) خو بدبوئی خارج کول مکروه

---

۱) قال العلامة ابراهیم الحلبی: ان المساجد بنیت لاعمال الآخرة مما لیس فیه توهم اهانتها وتلویثها مما ینبغی التنظیف منه ولم تبن لاعمال الدنیا ولو لم یکن فیه توهم تلویث واهانة علی ما اشار الیه قوله علیه السلام فان المساجد لم تبن لهذا فما کان فیه نوع عبادة ولیس فیه اهانة ولا تلویث لایکره والاکره.

(غنیة المستملی المعروف بالکبیری ۵۲۷ فصل فی احکام المسجد)

۲) قال العلامة ابراهیم الحلبی: فان المساجد لم تبن لهذا فما کان فیه نوع عبادة ولیس فیه اهانة ولا تلویث لا یکره والاکره ولهذا نثر علیه السلام مالاً اتاه من البحرین فی المسجد.

(غنیة المستملی المعروف بالکبیری ۵۲۷احکام المساجد)

۳) وفی الهندیة: ولا بأس للغریب ولصاحب الدار ان ینام فی المسجد فی الصحیح من المذهب. (فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۲۱ الباب الخامس فی آداب المسجد والقبلة الخ)

تحریمی دی (۱) په رحیل باندې سر کیښودلو سره اوده کیدلو کې د قران کریم هیڅ بې ادبی نشته. وهوالموفق

په مسجد کې خلقو ته د سلام کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې جومات کې خلق راتلو سره سلام کوی زید وائی چې دا صحیح نه ده ځکه چې خلق په ذکر اذکار کې مصروف وی او خپل وظایف کوی آیا دا قول صحیح دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی محمد یونس خطیب تهانه لاچی کوهاټ..... ۱۲ اگست ۱۹۸۴ء

الجواب: د داسې شغل په وخت کې د سلام کولو نه نۀ کول افضل دی (مأخوذازشرح التنویر) (۲) وهوالموفق

د مسجد نه د مرغو جالې بهر غورځولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په یو جومات کې جالې وی په هغې کې خاپیرکان انډې او بچی ورکوی او په جومات کې ګندګی خوروی نو هغه جالې او بچی بهر غورځول شرعا څنګه دی؟ آیا دا ظلم نه دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: خیر الدین..... ۱۴ اکتوبر ۱۹۸۹ء

الجواب: دا بهر غورځول جائز دی فی الهندیة ۵: ۳۵۵ لوکان فی المسجد عش

---

۱) وفی الهندیة: قالوا لا یفسم ویخرج اذا احتاج الیه وهو الاصح کذا فی التمرتاشی۔ (فتاویٰ عالمگیریة ۵: ۳۲۱ الباب الخامس فی آداب المسجد والقبلة الخ)

۲) قال العلامة الحصکفی: صرح الفقهاء بعدم وجوب الرد فی بعض المواضع... والجالسین فی المسجد لتسبیح او قراءة او ذکر حال التذکیر۔ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۱: ۴۵۷ مطلب المواضع التی لا یجب فیها ردالسلام)

خطاف او خفاش يقذر المسجد لابأس برميه بما فيه من الفراخ كذا في الملتقط(١)۔ وهوالموفق

د مسجد عدم ملکیت او په مسجد کې وړو ماشومانو ته د دیني تعلیم حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د جومات دپاره ځمکه وقف کړه او ضروری تعمیر ئې پکې وکړو اوس پکې بل سړې مزید تعمیر کول غواړی خو واقف ئې منع کوی نو آیا جومات د چا په ملك کې راتلې شی؟ آیا په جومات کې وړو ماشومانو ته تعلیم ورکول جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: غلام الرحمن مظفر آباد... ۱۸ فروری ۱۹۷۶ء

الجواب: شرعی جومات د چا هم مملوك نه شی کیدې كما في الدر المختار: والملك يزول عن الموقوف بأربعة بأفراز مسجد الخ (هامش ردالمختار ۳/۳۹۹)(٢) او تعمیر ئې د بانی حق دې. كما في الدرالمختار ۳/۵۷۳ واما في العمارة فنقل في انفع الوسائل ان الباني اولى (٣) (من غيرهم) خو که بانی ئې د تعمیر کولو دپاره تیار نه وی نو بل سړې ئې هم تعمیر کولې شی، (كما يدل عليه صيغة افعل) او په جومات کې د ماشومانو د تعلیم ورکولو نه اجتناب ضروری دې، كما في شرح الاشباه للحموی ۳۸۱ وفي شرح الجامع الصغير للتمرتاشي ولا يجوز تعليم الصبيان القرآن في المسجد للمروي جنبوا مجانيكم وصبيانكم مساجدكم انتهٰى، وهوصريح في عدم الجواز سواء كان بأجر اولا، انتهٰى ما في الحموی (٤)۔ وهوالموفق

---

١) (فتاوی عالمگیریة ۵:۳۲۱ الباب الخامس في آداب المسجد)
٢) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۳:۳۹۵ كتاب الوقف)
٣) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۵۴ مطلب باع عقاراً ثم ادعى انه وقف)
٤) (شرح الحموی على الاشباه ۳:۱۸۷ القول في احكام المسجد)

په مسجد کې د ماشومانو د تعلیم په باره مکې

د مفتی محمد شفیع رحمه الله فتوی او د بنوری ټاؤن عمل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمه الله په خپل تالیف آداب المساجد ک ی لیکلې دی چې ماشومانو ته قرآن مجید وغیره مزدوری اخستلو سره ښودل بالاتفاق ناجائز دی الخ، اوس صورت حال دا دې چې د دار العلوم بنوری ټاؤن کراچی د جامع جومات په برنډه او د جومات د صحن په برنډه کې کوم چې په جومات کې داخل دی د اووه کالو نه کم عمره ماشومانو ته مزدوری اخستلو سره قرآن کریم ښودلې شی او د هغوی د دې فعل نه دلیل نیولو سره په نورو جوماتونو کې چېرته چې ماشومانو ته د قرآن کریم د تعلیم دپاره کمرې موجود دی خو بیا هم د هغه ځای منتظمینو په مزدوری باندې حفاظ ساتلې دی او عین په جومات کې هغه ماشومانو ته سبق ښائی حال دا چې د هغوی عمرونه د اووه کالو نه کم وی مهربانئ وکړئ بیان کړئ چې صحیح مسئله څه ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: ضیاء الرحمٰن کراچی...... ۱۵ ستمبر ۱۹۹۰ء

الجواب: ان مدار هذه الکراهة علی مظنة تلویث المسجد، فالصبی العاقل الممیز لا ضیر فی دخوله المسجد لعدم هذه العلة کدخوله للصلوٰة(۱) واذا لم یوجد خارج المسجد مکاناً مناسب للتعلیم(۱) فتحمل هذه البلیة اولیٰ من بلیة بقائه

---

۱) قال العلامة الحموی: وفی شرح الجامع الصغیر للتمرتاشی: ولا یجوز تعلیم الصبیان القرآن فی المسجد للمروی: جنبوا مجانینکم وصبیانکم مساجدکم انتهیٰ وهو صریح فی عدم الجواز سواء کان باجر او لا۔
(شرح الحموی علی الاشباه ۱۸۷: ۳ القول فی احکام المسجد)

جاهلاً(۲). وهوالموفق

په مسجد کې د اشتهارات لګولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په جومات کې د اشتهارات لګولو څه حکم دې؟ یو بدعتی د شیخ عبدالقادر جیلانی رحمه الله په نوم سره اشتهارات په جومات کې لګول شروع کړل ما منع کړو خو هغه او نه منله او ویې ویل چې زه عبدالقادر جیلانی رحمه الله د جومات نه غوره ګڼم او په اشتهارات لګولو باندې ضد کوی د دې مسئلې څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حافظ محمد نسیم اوکاره چهاؤنی ... ۲۰ جولائی ۱۹۷۹ء

الجواب: جومات د عبادت ځای دې د اعلان ځای نه دې، ﴿قال رسول الله صلی الله علیه وسلم فان المساجد لم تبن لذلك﴾ (رواه ابوداؤد) (۳) خصوصا چې کله په اعلان کې موهم د شرك (**یا غوث الاعظم**) کلمات موجود وی نو د داسې اعلاناتو نه د جومات پاکول ضروری دی، د غوث الاعظم لفظ نه خو د جومات نه غوره دې او نه د یو مسلمان نه غوره دې، **نعم ما قیل:** **حبك الشئ یعمی ویصم، اعاذنا الله من ذلك.** (۴) **وهوالموفق**

---

۱) وفی الهندیة: واما المعلم الذی یعلم الصبیان باجر اذا جلس فی المسجد یعلم الصبیان لضرورة الحرا وغیره لا یکره. (فتاویٰ عالمگیریة ۱۱۰:۱ فصل کره غلق باب المسجد)

۲) وفی المجله: الضرر الاشد یزال بالاخف، هذه القاعدة قید للمادة یعنی ان الضرر انما یزال اذا لم یتأت من ازالته ضرر مثله او اشد، والا فاذا دار الامر بین ضررین فیتحمل الاخف لازالة الاشد... وهی من قبیل القاعدة: اذا تعارض مفسدتان روعی اعظمهما ضرراً بارتکاب اخفهما، والاصل فی ذلک ان من ابتلیٰ ببلیتین وهما متساویتان یاخذ بایهما شاء وان اختلفا اختار اهونهما. (شرح المجلة ۶۸:۱ مادة:۲۷)

۳) عن ابی هریرة رضی الله عنه یقول: سمعت رسول الله ﷺ یقول: من سمع رجلاً ینشد ضالة فی المسجد فلیقل لا ردها الله الیک فان المساجد لم تبن لهذا. (سنن ابی داؤد ۸۰:۱ باب فی کراهیة انشاد الضالة، ومثله فی صحیح مسلم ۲۱۰:۱)

۴) (مشکواة المصابیح ۴۱۸:۱ باب البر والصلة الفصل الثانی)

په مسجد کې د جنازې د مانځه نه علاوه د اعلاناتو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د جومات په لاؤډ سپيکر باندې د اعلاناتو کولو څه حکم دې؟ مثلا چينې راغلې دې فلانې حج ته روان دې يا راروان دې وغيره؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: خليل الرحمٰن

الجواب: چونکې جومات عبادت ګاه ده او د اعلانونو ځای نه دې، لهذا په دې کې به د دنيوی امورو اعلان نه شي کولې. **لعموم الحديث: ان المساجد لم تبن لذلك**(١) خو د جنازې د مانځهٔ دپاره اعلان جائز دې **وهوالموفق**

په مسجد کې د اعلاناتو نه ځان ساتل ضروری دی

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې په جومات کې د لاؤډ سپيکر په ذريعه په دنيوی امور مثلا فلان ځاروې، رقم وغيره ورک شوې دې دا قسم اعلانات د جومات په لاؤډ سپيکر کې جائز دې؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: عبدالقادر شوه مسجد تور ډهير صوابئ ... ١٩ ربيع الثاني ... ١٣٨٩هـ

الجواب: چونکې جومات د دې امورو دپاره نه دې جوړ کړې شوې لهذا د دې قسم اعلاناتو نه احتراز ضروری دې، **يدل عليه ما رواه مسلم مرفوعاً من سمع رجلاً ينشد ضالة في المسجد فليقل لا ردها الله عليك فان المساجد لم تبن لهذا**.(٢) (ووجه الدلالة ظاهر لعموم الحديث). **وهوالموفق**

---

(١) عن ابی هريرة رضی الله تعالىٰ عنه يقول: قال رسول الله ﷺ من سمع رجلاً ينشد ضالة فی المسجد فليقل لا ردها الله عليک فان المساجد لم تبن لهذا.
(صحيح مسلم ١: ٢١٠ باب النهی عن نشد الضالة فی المسجد)
وهکذا فی سنن ابی داؤد ١: ٨٠ باب فی کراهية انشاد الضالة

(٢) (صحيح مسلم ١: ٢١٠ باب النهی عن نشد الضالة فی المسجد الخ)

په مسجد کې د ورک شوی څیز، د جنازې یا ناګهانی آفت وغیره اعلان کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په جوماتو کې لاؤډ سپیکر لګیدلې دې په هغې کې د وفات اعلان چې جنازه به په فلانی ځای کې وی یا فلانې ماشوم ورک شوې دې یا په فلانی کور کې اور لګیدلې دې یا سیلاب راروان دې د دې قسم اعلاناتو په جوماتو کې څه حکم دې؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: عبدالرحمن شهاب خیل بنون... ۱۷ جولائی ۱۹۷۹ء

الجواب: په جوماتو کې لګیدلی لاؤډ سپیکر باندې د ورک شوی څیز اعلان ممنوع دې، **صرح به الفقهاء لحدیث ورد بذلك**(۱) او د جنازې د مانځه دپاره نه ممنوع دې او نه مطلوب، او هم دغه شان ناګهانی آفت اور، سیلاب وغیره اعلان کول نه ممنوع دی او نه مطلوب **وهوالموفق**

د اوړی او ژمی د مغرب ترمینځه قبله ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو جومات رخ خاص د کعبې نه منحرف دې یعنی د عام مساجد په اعتبار سره ئې قبله کې څه فرق دې یعنی د کعبې نه بنی یا ګس طرف ته لږ شان ستون دې نو په دې جوماتو کې د مونځ کولو څه حکم دې؟ او خاص د کعبې د طرف نه څومره مقدار حد انحراف پورې قبله جائز کیدې شی؟ **بینواتوجروا**


المستفتی: فتح محمد هزاروی چوهر هرپال راولپنډی.... ۱۸ اکتوبر ۱۹۸۶ء

الجواب: د مساجد متعلق داسې کلام کول چې د کعبې نه منحرف دې ګمراه

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله وانشاد ضالة) هی الشیئ الضائع وانشادها السؤال عنها وفی الحدیث: اذا رأیتم من ینشد ضالة فی المسجد فقولوا لا ردها الله علیک- (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱: ۴۸۸ قبیل مطلب فی انشاد الشعر)

کوونکی او عوامو لره په پریشانئ کې اچول دی. (۱) د استقبال قبله متعلق په شریعت کې ډیر وسعت دې ترديې چې فقهاء کرام فرمائی چې د مشرقی ممالك والاچې د اوړی او ژمی د مغرب ترمینځه کوم طرف ته متوجه شی د هغوی مونځ صحیح دې، دد ائرې ۱/۵ یعنی ۷۲ درجې د کعبې جهت دې (۲) وهو الموفق



د کعبې د جهت دپاره د قطب نما یا د عمود سوری استعمال

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د کعبې د تعین څه طریقه ده؟ مونږ خلق صرف د مغرب طرف ته مخ کولو سره مساجد جوړوو نو د کعبې د صحیح رخ معلومولو څه طریقه ده؟ هم دغه شان د نزدې نورو

---

۱ ﴾ وفی الهندیة : ومَن كان خارجاً عن مكة فقبلته جهة الكعبة وهو قول عامة المشائخ هو الصحيح هكذا فی التبيين وجهة الكعبة تعرف بالدليل والدليل فی الامصار والقرى المحاريب التی نصبها الصحابة والتابعون فعلينا اتباعهم۔

(فتاوی عالمگیریة ۱:۶۳ الفصل الثالث فی استقبال القبلة)

۲ ﴾ قال العلامة ابن عابدين : وفی المنية المصلی عن امالی الفتاوی حد القبلة فی بلادنا يعنی سمرقند مابين المغربين مغرب الشتاء ومغرب الصيف فان صلی الی جهة خرجت من المغربين فسدت صلاته۔

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۳۱۴ مبحث فی استقبال القبلة)

مساجدو رخ که غلط وي نو هغوی لره څه کول پکار دي؟ بینواتوجروا

المستفتي: میان محمد اکرم ... اټك ښهر .... ۲۲ مئ ۱۹۸۴ء

الجواب: د خانه کعبې نه په غائبین باندې دا ضروری نه ده چې عین کعبې ته متوجه شي د هغوی دپاره دا کافی ده چې د کعبې جهت ته متوجه شي، بهر حال د اوړي او د ژمي د مغرب ټوله درمیانی حصه د کعبې جهت دې خو که تاسو د نورو مساجدو د تغلیط نه په امن شئ نو قطب نما یا عمود سورې د ۲۲ مئ په تاریخ یا ۱۵ جولائی باندې کار وکړئ.(۱) وهوالموفق

د مسجد د کوهی اوبه کور ته د وړلو او په ذاتی استعمال کې د راوستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جومات په کوهی کې واټر پمپ لګولې شوې دې او رسۍ او بوقه هم ده، عموما خلق د برقې او رسۍ په ذریعه اوبه راویستلو سره خپله د څښلو او څاروو باندې د څکولو دپاره اوړي، اوس جومات ته نزدې یو سړې کور جوړوی هغه سړې وائی چې د ذکر شوې جومات نه د تعمیری ضرورت دپاره د موټر پمپ په ذریعه اوبه حاصلې کړی او د بجلۍ بل خپله ادا کړی، او د جومات نه په څه فاصله باندې نور کوهیان هم موجود دی خو د هغې نه په اوبو حاصلولو کې لږ

---

(۱) وفی الهندیة: ومن کان خارجاً عن مکة فقبلته جهة الکعبة وهو قول عامة المشائخ هو الصحیح هکذا فی التبیین ، وجهة الکعبة تعرف بالدلیل، والدلیل فی الامصار والقری المحاریب التی نصبها الصحابة والتابعون فعلینا اتباعهم فان لم تکن فالسوال من اهل ذلک الموضع واما فی البحار والمفاوز فدلیل القبلیة النجوم هکذا فی فتاوی قاضی خان۔

(فتاوی عالمگیریة ۱:۶۳ الباب الثالث الفصل الثالث فی استقبال القبلة)

وقال العلامة ابن عابدین: وفی منیة المصلی عن أمالی الفتاوی حد القبلة فی بلادنا یعنی سمر قند ما بین المغربین مغرب الشتاء ومغرب الصیف فان صلی الی جهة خرجت من المغربین فسدت صلاته۔

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۳۱۶ مبحث فی استقبال القبلة)

وخت لګی، اوس په دې صورت کې داسې ددې موټر پمپ په ذریعه او به شرعا حاصلولې شی او که رسی؛ او بوقفه استعمال کړی شرعی حکم څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: نذیر احمد

الجواب: دمتولی یا دمحلې د مشرانو په اجازت سره د هر دواړو طرفونو نه او به استعمالولې شی لان الظاهر انه لیس بوقف شرعی بل هو باق علی الشرکة ان کان الثمن من المال المشترك اوعلی الملك الخاص ان کان دفع الثمن من واحد فیکون الاعتبار لاذن الملاك اووکیلهم. وهوالموفق

که یو ځای کې د مسجد د جوړولو اراده وی نو صرف په خیال او ارادې سره هغه ځای مسجد نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په یو ځای کې مو د جومات د جوړولو خیال وو چونکې دا ځای د غرۀ په لمن کې دې جومات هم نه دې جوړ شوې، مونځ وغیره هم پکې نه دی شروع شوې چې د غرۀ نه کانې وریدل شروع شو او دا ځای خطرناك ثابت شو، اوس سوال دا دې چې آیا دا ځای د جومات په حکم کې دې یا نه؟ یعنی دا په بل استعمال کې راوستل جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی عبدالله حقانی خطیب مسجد حسن ابدال

الجواب: صرف خیال د یوځای د جومات کیدو دپاره ناکافی دې، جومات په داسې ځای کې وی کوم چې غیر مشاع وی او لازه متعین وی او په هغې کې باقاعده د جماعت مونځ شوې وی. فلیراجع الی وقف رد المختار: ۳۳۸/۴(۱)

وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله بالفعل) ای بالصلاة فیه ففی شرح الملتقی انه یصیر مسجد بلا خلاف ثم قال عند قول الملتقی ... [بقیه حاشیه برصفحه آئنده

په مسجد کې ورکړې شوې چنده که باقي وي نو د ورکونکي ملک دې

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې په جومات کې ورکړې شوې چنده واپس غوښتل څنګه دي؟ آيا هغه واپس ورکولې کيدې شي؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: ګل خان دکاندار

الجواب: که دا رقم بعينه باقي وي نو واپس ني اخستلې شي لبقاءه في ملك المعطى.(١) فافهم. وهوالموفق

بقيه ازحاشيه گذشته] وعند ابي يوسف يزول بمجرد القول ولم يرد انه لا يزول بدونه لما عرفت انه يزول بالفعل ايضاً... ويصح ان يراد بالفعل الافراز ويكون بيانا للشرط المتفق عليه عند الكل كما قدمناه من ان المسجد لو كان مشاعا لا يصح اجماعاً... لكن عنده لا بد من افرازه بطريقه الخ- (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۴ مطلب في احكام المسجد)

١) په امداد الفتاوىٰ جلد دوم كتاب الوقف سوال(۷۲۲) كې په لاندې حاشيه كې د تصحيح الاغلاط په عنوان سره ليكلى شوى دى چې: دا مسئله هم منقح نه شوه د جوماتونو او مدرسو وغيره چنده د معطى د ملك نه خارجه شوه او كه نه، علم لرونكى دې غور اوكړي،،

بهرحال په دې مسئله كې د فقهاؤ اختلاف دې

(١) ځينې فقهاء فرمائي چه په جومات وغيره كې وركړې شوې چنده د معطى د ملك نه اوځي او د فتاوىٰ عالمگيريه ددې جزئيې نه دليل نيسي وفي الهندية: رجل اعطى درهما في عمارة المسجد او نفقة المسجد او مصالح المسجد صح لانه وان كان لا يمكن تصحيحه تمليكا بالهبة للمسجد فاثبات الملك للمسجد على هذا الوجه صحيح فيتم بالقبض كذا في الواقعات الحسامية ... كما لو قال وقفت هذه المأة للمسجد يصح بطريق التمليك اذا سلمه للقيم كذا في الفتاوىٰ العتابية- (فتاوىٰ عالمگيرية ۲:۴۶۰ الفصل الثانى في الوقف على المسجد وتصرف القيم)

ددې نه علاوه په جوماتونو يا ديني مدرسو كې...[بقيه حاشيه برصفحه آئنده

بقیه ازحاشیه گذشته] چې کومه چنده ورکولې شی هغه صدقه وی اویه صدقه کې رجوع جائز نه دی، حیث قال العلامة المرغینانی: الصدقة کالهبة لا تصح الا بالقبض ولا رجوع فی الصدقة لان المقصود هو الثواب وقد حصل۔ (هدایة ۳:۲۹۳ فصل فی الصدقة)

وهکذا قال العلامة ابوبکر الحداد الیمنی: الصدقة کالهبة لا تصح الا بالقبض لانها تبرع کالهبة... ولا تصح الرجوع فی الصدقة بعد القبض لانه قد کمل فیها الثواب من الله تعالیٰ۔ (الجوهرة النیرة ۲:۱۹ کتاب الهبة)

وقال الشیخ ظفر احمد العثمانی: التملیک للمسجد صحیح قلت فی الحدیث دلیل لما قال علماؤنا من ان التملیک للمسجد صحیح فی الهندیة الخ (علاء السنن ۳:۱۹۸ باب الوقف علی المصالح المسجد وحکم ما یهدی الیه من الاموال)

(۲) او بعضې نورو ډیر فقهاء فرمائی چه چنده ترڅو پورې باقاعده خرچ نه شی هغه د ورکونکی ملکیت وی ځکه چې د چندې منقوله اموال وقف عرفی دې وقف شرعی نه دې. کما فی الهندیة: لو وقف دراهم او مکیلا او ثیابا لم یجز وقیل فی موضع تعارفوا ذلک یفتی بالجواز۔ (عالمگیریة ۲:۳٦۲ الباب الثانی فیما یجوز وقفه الخ) اود وقف په باره کې فقهاء کرام فرمائی: قال العلامة الحصکفی: حبس العین علی حکم ملک الواقف والتصدق بالمنفعة ولو فی الجملة والاصح انه عنده جائز غیر لازم کالعاریة وعندهما هو حبسها علی حکم ملک الله تعالیٰ وصرف منفعتها علی من احب۔ (الدرالمختار ۳:۳۵۷ کتاب الوقف)

شاه اشرف علی التهانوی فرمائی: چنده د چندې ورکونکو د ملکیت نه خارج نه شوه، په دې وجه ددغه خلقو نه اجازت اخستل ضروری دی البته کوم ورکونکی چې مجهول یا مفقود وی دهغوی د حصې برابر په بل جمات کې خرچ کول جائزدی۔ (امداد الفتاویٰ ۲:۵۸۰ کتاب الوقف)... (بقیه حاشیه اگلے صفحه پر)

د وقف شوی دراهمو او دنانیرو حکم دادې چې دهغې سرمایه (راس المال) باقی اوساتی او دهغې منافع د نیکئ په کارونو کې خرچ کړی مثلاً په مضاربت کې ئې اولګوی او اصل سرمایه باقی اوساتی او نفع ئې خرچ کړی، قال العلامة ابن عابدین: وعن الانصاری وکان من اصحاب زفر فیمن وقف الدراهم او ما یکال او ما یوزن ایجوز ذلک

د اهل حدیث خیل خان لره بیل مسجد جوړول مشروع او د هغې انهدام موجب ضمان دي

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې په سخا کوټ کې درې مساجد د مخکې نه موجود وو په دې کلی کې بعض اهل حدیث غیر مقلدین هم دی هغوی به آمین بالجهر او رفع اليدين کول او جګړې به هم پيدا کیدې لهذا بعض حنفي علماء کرامو او محلې والا مشوره وکړه چې ځانله ورو کې شان جومات جوړ کړئ، هغوی جومات تعمیر کولو سره په شان و شوکت د هغې افتتاح وکړه او باقاعده په هغې کښ مونځ شروع شو څه ورځې پس څو شرپسندو هغه جومات راوغورځولو چې مذهبی منافرت پيدا شی او ویې ویل چې دا جومات ضرار دې، اوس سوال دا دې چې آیا د دې جومات جوړول صحيح وو؟ دې جومات ته جومات ضرار ویل صحیح دی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: سرور شاه واهالیان سخاکوټ

قال: نعم وقيل كيف قال: يدفع الدراهم مضاربة ثم يتصرف بها فى الوجه الذى وقف عليه وما يكال او يوزن يباع ويدفع ثمنه مضاربة او بضاعة۔ (ردالمحتار ۲:۳۶۴)

او په احسن الفتاویٰ کې دی: د دراهمو او دنانیرو وقف صحیح دې خو چونکې په وقف کې انتفاع بالمنافع سره د بقاء العين وی، په دې وجه د دراهمو په وقف کې دا شرط دې چه اصل دراهم خرج نه کړی بلکه دهغې منافع خرج کړی، یا په هغې څه څیز واخلی او دهغې منافع په فقیرانو باندې خرج کړی۔ (احسن الفتاویٰ ۶:۴۱۶) پس د شامی او احسن الفتاویٰ نه هم دا معلومیږی چې د وقف او چندې په مال کې فرق دې ځکه چه د چندې مال بعینه خرج کولې شی۔

ددې نه علاوه د الملتقط فی الفتاویٰ الحنفية د یوې جزئیې نه صراحت سره معلومیږی چه د چندې مال د معطی د ملک نه خارجیږی چې ترڅو پورې باقاعده خرج شوې نه وی، حيث قال اذا جمع دراهم لكفن ميت ففضل او كفنه غيره يصرف الى المعطين فان لم يوجدوا يصرف الى كفن مثله فان تعذر ذلك يتصدق به۔ (الملتقط ۲۷ مطلب فی جواز امامة الصبى فى التراویح)

پس دلائلو ته په کتلو سره دا دویم قول راجح دې، وقد افتیٰ به الشيخ التهانوی رحمه الله از مرتب

الجواب: د اهل حدیث جدا جومات جوړول نه د شریعت خلاف دی او نه د مصلحت، او د هغوی د جومات راغورځول خلاف اسلام او موجب ضمان دې، خو تقلید شخصی ته شرك ویل او ائمه دین ته احبار او رهبان ویل او د ائمه دین او بزرگان دین نه خلقو لره بدظن کول وغیره د بې ادبۍ طوفان ناقابل تحمل دې **وهوالموفق**

د یخنۍ په موسم کې په مسجدونو کې اور بلول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په مساجدو کې په سخته یخنۍ کې اور بلولې شی د هغې یو فائده دا ده چې د دې سختې یخنۍ په موسم کې جومات گرم شی خو د هغې سره نقصانات هم ډیر دی، مثلا د مانځه نه پس د اور نه چاپیره کیناستل او گپ شپ لگول د مانځۀ په وخت په سترگو کې لوږی ننوتلو سره د هغې بندول. د بعض صحیح پنځه وخته مونځ کونکو د خشاك د نه ورکولو د وجې نه جومات نه نه راتلل، د بعض مونځ کونکو نه د رواج مطابق په زبردستۍ خشاك وصولول وغیره. نو آیا دا اور د مخکې په شان اوسوزولې شی او که بند کړې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سرفراز وسیف الله مدین سوات

الجواب: واضحه دې وی چې د جومات د بنیاد کیښودلو په وخت په جومات کې د اور بلولو ځای قابل اعتراض نه دې. خو مونځ کونکو ته تکلیف او د مونځ نه کونکو اجتماع قابل اعتراض ده، پس د محلې مشران که د دې عوارض د وجې نه اور بلولول بند کړی نو ماجور به وی خو که په بندولو کې زیات مفاسد مثلا د مونځ کونکو قلت وغیره موجود وی نو نۀ بندول غوره دی، په داسې مسائلو کې کلکه فیصله کول ناممکن دی (۱) **وهوالموفق**

---

(۱) یدل علیه ما فی خلاصة الفتاوی: ویکره التوضی والمضمضمة فی المسجد الا ان یکون فیه موضع اتخذ للوضوء ولا یصلی فیه والخیاط اذا کان یخیط فی المسجد یکره الا اذا جلس لدفع الصبیان وصیانة المسجد فحینئذ لا بأس به... فی کتاب الوقف عن محمد فی دکان اتخذ للمسجد بین المسجد وبینه طریق وهو باد عن المسجد یصلی فیه فی الحر والبرد یضاعف الاجر کالمسجد والجلوس فی المسجد لغیر الصلوة جائز. (خلاصة الفتاوی ۱:۲۲۹ قبیل کتاب الحیض)

په جنازګاه کې مونځ جائز خو د مسجد ثواب نه ملاویږي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې یو جنازګاه ده چې په هغې کې د جنازې د مانځه نه علاوه پنځه وخت مونځ سره د جمعې د مانځه لوستلې شی وړاندې ئې قبرونه وغیره نشته. آیا په دې کې عام مونځونه او د جمعې مونځ جائز دې؟ که جائز وی نو غیر اولی خو نه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: فضل امین حقانی احاطه مدنیه دار العلوم حقانیه... ۱۹۸۸ء\۶\۸

الجواب: که دا جنازګاه صرف د جنازې دپاره وقف شوې وی نو په دې کې د جمعې مونځ وغیره لوستل یا په دې کې تدریس وغیره کول ممنوع نه دی (۱) خو په دې کې د جومات شرعی په شان ثواب نه ملاویږی. **لعدم کونه مسجدا شرعیاً. وهو الموفق**

په مسجدونو کې د نکاح د محفل منعقد کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په مساجد کې محل نکاح منعقد کول که جائز وی نو د قرآن او سنت په رڼا کې د هغې ثبوت څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: جی ایم خلیل الرحمن فیډرل ایریا کراچی... ۱۸ جون ۱۹۸۹ء

الجواب: په مساجد کې نکاح کول بذات خود افضل دی. (**لحدیث الترمذی: واجعلوه فی المساجد واضربوا علیه بالدفوف**) (۲) خو په موجوده دور کې عقد

---

۱) قال العلامة ابراهیم الحلبی: مصلی العید والجنازة له حکم المسجد عند الفقیه ابی اللیث والاصح عدمه عند السرخسی ووفق قاضی خان فقال له حکم المسجد عند اداء الصلوٰة حتی یصح الاقتداء وان لم تکن الصفوف متصلة ولیس له حکمه فی حق المرور وحرمة الدخول للجنب والحائض (غنیة المستملی المعروف بالکبیری ۵۶۶ فصل فی احکام المسجد)

۲) (سنن الترمذی ۱:۳۳۴ باب ماجاء فی اعلان النکاح)

نکاح د ډیرو رسمونو او رواجونو سره ګډه شوې ده چې د هغې په جوماتونو کې ارتکاب د جومات د عظمت منافي دې، پس د عوامو دپاره افضل دی چې مساجد د داسې رسوم فاسده نه بچ کولو سره په نورو ځایونو کې نکاح اوتړي (١) وهوالموفق

د مسجد د کوهی نه په نلکو (پائپونو) کې اهل محله ته اوبه ورکول وغیره

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جومات په کوهی باندې مشین لګیدلې دې او اهل محله د دې کوهی نه په خپل خپل خرچ باندې خپلو کورونو ته اوبه بوتلې دی او هر یو مقرره د میاشتې فیس ادا کوی، صرف پیش امام ته د کلونو نه رڼا او اوبه مفت ورکولې شی کوم چې اوس وفات شوې دې اوس د جومات څو کسانو دا اوبه او رڼا بنده کړې ده د دې بندولو څه حکم دې؟ دا د بندولو کار د جومات کمیټۍ کړې دې آیا دا کمیټی ختمیدلې شی؟ آیا د جومات دا امام په اجازت یا بغیر د اجازت نه دا بجلی وغیره استعمالولې شی؟

نوټ : د کومو خلقو نه چې اوبه وغیره بندې کړې شوې دی د هغوی بزرګانو په دې جومات کې کوهې کنستلې وو او تر اوسه پورې د هغوی اولاد په دې کې امامت کوی او متولی هم دا امام دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا رحیم الله باچا... اضاخیل بالا پشاور ١٨ ربیع الثانی ١٤٠٢ھ

الجواب: الف : د جومات په حقوق کې د چا شراکت او استحقاق صحیح نه دې خو د محلې مشران په داسې امور کې د تبرع وغیره نه منع نه دی په اوقاف شرعیه کې ممنوع دی.

---

١ ﴾ قال فی الهندیة : ان کان الاصل الاباحة ینظر الی العارض فان غلب علی الظن وجود المحرم فالکراهة للتحریم.

(فتاویٰ عالمگیریة ٥:٣٠٨ کتاب الکراهیة)

وفی المنهاج : کم من مباح یصیر ممنوعا لعوارض خارجیة.

(منهاج السنن شرح للترمذی ٢٤٨:٤ باب ماجاء فی اعلان النکاح)

ب: د کمیټۍ د قیام او عدم قیام دارومدار د اهل محله د مشرانو په اکثریت باندې دې.

ج: که د دې اوبو او بجلۍ انتظام د قوم په چندې سره وی نو د قوم په اجازت سره دا امداد وغیره ممنوع نه دې او که په اوقاف شرعیه سره وی نو هغه د امداد وغیره په طور او د جومات د امور نه علاوه په نورو امور باندې صرف کول ناجائز دی. وهوالموفق

په مسجد کې چنده کې مرزائی عیسائی وغیره غیر مسلم د چنده ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې د جومات په تعمیر کې د غیرمسلم مثلا مرزائی عیسائی وغیره دچندې څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سمیع الله اسلام آباد

الجواب: مرتد د چندې ورکولو اهل نه دې، یعنی د هغه ورکړه نافذ نه وی بلکې موقوف وی، (ماخوذازدرمختاربابالمرتد)[۱] خو د نورو کفارو نه چنده اخستل جائز دی. [۲] په دې شرط چې دا احتمال نه وی چې اهل اسلام به د هغوی ممنون کیدو سره د هغوی په مذهبی شعائر کې شرکت یا د هغوی د

---

۱) قال العلامة التمرتاشي: ویزول ملک المرتد عن ماله زوالاً موقوفاً.
(تنویر الابصار علی هامش ردالمحتار ۳:۳۲۸ باب المرتد)

۲) قال العلامة ابن عابدین: (قوله بدلیل صحته من الکافر... لانه مباح) یعنی قد یکون مباحاً کما عبر فی البحر، والمراد انه لیس موضوعاً للتعبد به کالصلوٰة والحج بحیث لا یصح من الکافر اصلا بل التقرب به موقوف علی نیة القربة فهو بدونها مباح حتی یصح من الکافر کالعتق والنکاح لکن العتق انفذ منه حتی صح مع کونه حراماً کالعتق للصنم، بخلاف الوقف فانه لابد فیه ان یکون فیه صورة القربة وهو معنی ما یأتی فی قوله ویشترط ان یکون قربة فی ذاته اذ لو اشترط کونه قربة حقیقة لم یصح من الکافر هذا ما ظهر لی.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۳۹۲ کتاب الوقف)

خاطره په خپل شعائر کې مداهنت شروع کړي. لان المداهنة والشركة من المحرمات وكذا كل ما يفضى الى المحرمات.(١) وهوالموفق

د مسجد د پاره د وقف شوې تیلو یا بدلولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې څو کسانو د جومات دپاره د خاورو د تیلو تیم اخستلو سره وقف کړو اوس تیم کمزورې شو او د تیلو د ضائع کیدلو خطره ده. اوس په اهل محله کې اختلاف پیدا شو بعض وائی چې یو دکاندار ته ورکولو سره چې هغه دا تیل خرڅ کړي او د هغې په بدل کې دې د موقع مطابق د هغه نه اهل محله تیل راوړي او په جومات کې دې استعمالوی، زید وائی چې د موقوف څیز بدل کول بغیر د ضرورت نه یا قرض ورکول صحیح نه دی، ترڅو پورې چې هغه قابل انتفاع وی او په دلیل کې د شرح وقایه قول پیش کوی: ﴿ونقضه يصرف الى عمارته اويدخر لوقت الحاجة اليها وان تعذر صرفه اليها بيع الخ﴾(شرح وقايه ٤١٢/٢) بکر وائی چې دا تیل په پورته بیان کړې شوې طریقه باندې قرض ورکول پکار دی او په بدلولو کې څه باك نشته او په دلیل کې د خلاصة الفتاوی د کتاب الوقوف قول پیش کوی. اما اقراض ما فضل من الوقف قال فى وصايا النوازل رجوت ان يكون ذلك واسعاً اذا كان ذلك احرز للغلة من امساكه فان فضل من غلته فصرف الفضل الى حوائجه على ان يرده اذا احتاج الى العمارة قال لا يفعل ويتنزه غاية تنزه فان فعل مع ذلك ثم انفق فيه رجوت ان يكون ذلك يبرئه عما وجب عليه.

---

١) وفى تفسير المراغى: وللمسلمين ان يقبلوا من الكافر مسجداً بناه كافر او اوصى ببنائه او ترميمه اذا لم يكن فى ذلك ضرر دينى ولا سياسى كما لو عرض اليهود الآن على المسلمين ان يعمروا المسجد الاقصى بترميم ماكان قد تداعى من بنائه او بذلوا لذلك مالا لم يقبل منهم لانهم يطمعون فى الاستيلاء على هذا المسجد فربما جعلوا ذلك ذريعة لادعاء حق لهم فيه.(تفسير مراغى ٧٤:٤ سورة توبة آيت:١٧)

اوس په زيد او بكر كې څوك په حقه دى؟ او د ذكر شوې طريقې مطابق قرض يا بدلول يا محفوظ ساتل كومه طريقه جائز ده؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: مولوى محمد يوسف وانډه سيمو لكى مروت

الجواب: د عرف نه معلوميږي چې د جومات دپاره د خاورو-تيل د وقف په طور نه شي وركولې لهذا د هغه تيم اخستل او خرڅول چې كله د مالك او متولي د طرف نه وي، جائز وي. (١) **وهوالموفق**

د مسجد دپاره سرائې اخستلو سره به په بل ځاى كې د بدلولو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره كې چې مونږ يو ځاى (سرائې) په دې غرض باندې اخستلې وه چې په دې كې به جومات جوړوو چونكې دا ځاى د جامع جومات سره نزدې دې په دې وجه خلق وائي چې دلته بل جومات جوړول مناسب نه دى نو آيا مونږ دا ځاى په بل ځاى سره بدلولې شو؟ چېرته چې د جومات جوړولو ضرورت وي يعنى هغې له خرڅولو سره بل ځاى اخستلې شو؟ هم دغه شان په ذكر شوى ځاى كې د سابقه سرائې څو كمرې دى كومې چې ئې په كرايه باندې وركړې دى چونكې دا وقف دې نو آيا دا سرائې په كرايه باندې وركول جائز دى؟ په دې هر دواړو صورتونو كې د دې سرائې د كرايه نه حاصل شوې رقم مونږ چېرته خرچ كولې شو؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: گل محمد لنډى كوتل ..... ٢٨ جون ١٩٧٥ء

---

(١) يدل عليه مافى الهندية: مسجد له مستغلا واوقاف اراد المتولى ان يشترى من غلة الوقف للمسجد دهنا او حصيراً او حشيشاً او آجرا او جصا لفرش المسجد او حصى قالوا ان وسع الواقف ذلک للقيم وقال تفعل ما ترى من مصلحة لمسجد كان له ان يشترى للمسجد ما شاء وان لم يوسع ولكنه وقف لبناء المسجد ليس للقيم ان يشترى ما ذكرنا وان لم يعرف شرط الوقف فى ذلک ينظر هذا القيم الى من كان قبله الخ-
(فتاوىٰ عالمگيرية ٢:٤٦١ الفصل الثانى فى الوقف على المسجد)

الجواب: چونکې هغه خای تاسو د وقف کولو په اراده اخستلې دې هغه تر اوسه پورې موقوف نه دې لهذا په دې کې هر قسم تصرف یعنی استبدال، په کرایه باندې ورکول وغیره جائز دی. **والدلیل علی عدم کونه موقوفا عدم وجود الشرط وهو اداء الصلاة وقوله جعلته موقوفا، فلیراجع الی رد المختار ۳/۵۱۱**(۱)

وهو الموفق

مسجد لره بل خای ته منتقل کول یا مخکنې لرګی وغیره په بل مسجد کې د لګولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو خای نه بل خای ته د جومات منتقل کول جائز دی یا نه؟ هم دغه شان د دې زوړ جومات لرګی وغیره په دې نوی جومات کې لګولې کیدې شی یا نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: ناظم محمد حنیف جلاله...... ۲۳ جون ۱۹۷۵ء

الجواب: دویم جومات جوړول ممنوع نه دی خو اول جومات به په خپل حال باندې جومات پریښودلې شی، **یدل علیه ما فی الدر المختار: ولو خرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عند الامام والثانی ابدا الی قیام الساعة وبه یفتی. (هامش ردالمحتار ۳: ۵۱۳)**(۲) **قلت فعند عدم الخراب یکون مسجداً بطریق اولی؛** خو که د اول جومات د لرګو وغیره د خرابیدلو ظن غالب وی نو د هغې نقل (په دې دویم جومات کې خرچ کولو دپاره) جائز **کما فی ردالمحتار ۳: ۵۱۴ وفی فتاوی النسفی سئل شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلوا وتداعی مسجدها الی**

---

۱) قال العلامة الحصکفی: ویزول ملکه عن المسجد والمصلی بالفعل وبقوله جعلته مسجدا عند الثانی وشرط محمد والامام الصلاة فیه بجماعة وقیل یکفی واحد وجعله فی الخانیة ظاهر الروایة-

(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۴۰۴ مطلب فی احکام المسجد)

۲) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۴۰۶ مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

الخراب وبعض المتغلبة يستولون على خشبه وينقلونه الى دورهم هل لواحد لاهل المحلة ان يبيع الخشب بأمر القاضي ويمسك الثمن ليصرفه الى بعض المساجد او الى هذا المسجد قال نعم، انتهى(۱) قلت: فالمناط هو الاستيلاء واهل الحل والعقد من اهل المحلة قائمون مقام القاضي وكذا لما جاز صرف الثمن فيكون صرف الخشب وغيرها اولىٰ بالجواز فافهم۔ وهوالموفق

د مسجد د پاره وقف شوې ځمکه کې مسافر خانه جوړول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د کلی خلقو دا فیصله وکړه چې په دې مخصوص ځای کې به جومات جوړوو بیا یو مربع ځای جوړ کړې شو، د جوړیدو نه پس په نیمه حصه کې مونځ وکړې شو او په نیمه حصه کې د شروع نه لرګی کیښودلې شو یعنی په نیم کې مونځ شروع شو او نیم د لرګو دپاره هم داسې پریښودلې شو، اوس د لرګو والا حصه کې مسافر خانه جوړول جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد خلیل الله حقانی.....۲۳ مارچ ۱۹۷۵ء

الجواب: که دا ټوله ځمکه د جومات او د جومات د ضروریاتو دپاره وقف کړې شوې وی نو په دې کې مسافر خانه جوړول جائز نه دی.(۲) او که باقاعده نه وی وقف کړې شوې صرف اراده کړې شوې وی نو په باقی نیم کې به مسافر خانه جوړول جائز وی، ځکه چې په دې صورت کې د واقف مخالفت موجود نه دې (۳) وهوالموفق

---

۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۷ مطلب فی نقل انقاض المسجد ونحوه)

۲) وفی الهندية: قيم المسجد لا يجوز له ان يبنی حوانيت فی المسجد او فی فنائه لان المسجد اذا جعل حانوتا ومسکنا تسقط حرمته وهذا لا يجوز والفناء تبع المسجد فيکون حکمه حکم المسجد. (فتاویٰ عالمگيرية ۲:۴۶۲ الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد)

۳) قال العلامة ابن عابدين: وما خالف شرط الواقف فهو مخالف للنص وهو حکم لا دليل عليه سواء کان نصه فی الوقف نصا او ظاهرا، وهذا موافق...[بقيه حاشيه برصفحه آئنده

د مسجد نه په واړه ماشومان او لیونی لرې ساتلې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوه وړه ماشومه د څلورو کالو په ژړا کور ته راغله او مور پلار ته ئې اوئیل چې زه فلانی ملا صاحب یا طالب علم دیکه کړلوسره په څمکه راګزار کړم، پس د دې ماشومې مور پلار بغیر د څه تحقیق نه په سخته غصه کې جومات ته راغلل او هغه طالب علم ته ئې ډیرې بدې ردې وویل او په کاڼو ئې ویشتلو، د ګریوان نه ئې ونیولو او دوه درې سپیړې ئې اووهلو چې زمونږ لور دې ولې وهلې ده؟ طالب العلم وویل چې د جومات بې ادبی او بې حرمتی ئې کوله ما منع کړه خو هغه نه تله، لهذا ما دیکه ورکړه چې په هغې سره هغه په څمکه راولویده خپل اولاد ته خپله نصیحت کوئ چې د جومات بې حرمتی نه کوی، سوال دا دې چې په دې مسئله کې طالب العلم په حق دې کې د محلې خلق؟ بله دا چې د طالب العلم په بې حرمتئ کولو سره کافر شو که نه؟ او د هغوی دپاره څه تعزیر دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: دربار مسجد نادان شهید اکبر پوره نوښهر ..... ۲ رمضان المبارک ۱۳۸۹ھ

الجواب: د بې عقله ماشومانو نه د جومات حفاظت ضروری دې. لما روی عبدالرزاق مرفوعا: جنبوا المساجد عن صبیانکم ومجانینکم (الحدیث) (۱)

بقیه ازحاشیه گذشته] لقول مشائخنا کغیرهم شرط الواقف کنص الشارع فیجب اتباعه کما صرح به فی شرح المجمع.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۹۷ مطلب ما خالف شرط الواقف)

(۱) عن مکحول عن معاذ بن جبل قال رسول الله ﷺ جنبوا مساجدکم مجانینکم وصبیانکم ورفع اصواتکم وسل سیوفکم وبیعکم وشرائکم واقامة حدودکم وخصومتکم وجمروها یوم جمعکم واجعلوا مطاهرکم علی ابوابها.

وقال رسول الله ﷺ جنبوا مساجدکم الصبیان والمجانین، وعن ابی هریرة یقول: قال رسول الله ﷺ جنبوا مساجدکم الصبیان والمجانین. (مصنف عبد الرزاق ۱:۴۴۲)

پس دا طالب علم په حقه دي او په اهانت کونکو باندې توبه کول یعنې معافي غوښتل ضروري دي، او طالب له هم پکار دي چې نهی عن المنکر په ژبې سره کوي نو په وهلو او دیکه کولو سره.... **وهوالموفق**

د مسجد د امام او خطیب د اجازت نه بغیر په مسجد کې د بیان او درس ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جومات د امام او خطیب د اجازت نه بغیر څوك بیان وغیره کولې شي یا نه؟ خاص کر چې کله د جګړې وغیره خطره وي؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: مولوی محمد... حسن بازار راوړی دیر.... ۲۷ رجب ۱۴۰۹ھ

الجواب: د امام او خطبې نه علاوه نور امور مثلا درس او بیان نه اهل لره منع کول، د اشاعت دین نه منع کول دی خو غیر اهل مثلا بریلوی، مرزائی، شیعه، غیر مقلد وغیره لره منع کول د دین حفاظت دې، دغه شان د مقرره مدرس وغیره د درس وختونه به د دې جواز نه مستثنی ساتلې شي چې بد نظمي او فساد واقع نه شي. **وهوالموفق**

په مسجد کې د تبلیغی جماعت والو د مانځه سره نزدې د تعلیم او بیان مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په جومات کې څو طالبان دارالعلوم حقانیه پس د ماسخوتن د مانځه نه فورا او په صف کې شاتې پاتې کیدونکی په مانځه کې وي یا نوافل لولي، په داسې حالت کې کتاب (فضائل اعمال) اخستلو سره د چا د مانځه د پرواه کولو نه بغیر د هغوی په قول "تعلیم" شروع کړي او حال دا چې د خلقو په مانځه کې خلل راولي، څو خله د هغوی د پوهه کولو کوشش وکړې شو خو ارزان شهرت لرونکی څو نمائشی عبادت ګزار تبلیغیان هغوی سره شاملیدو باندې بیا په زور زور سره لوستل شروع کړي آیا په شریعت کې د داسې کولو ګنجائش شته؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: ماستر کمال اکوړه ختك... ۱۵ ستمبر ۱۹۹۰ء

الجواب: تبلیغی جماعت نیك او باثر جماعت دې د هغوی بیان او د تعلیم اهتمام کول په خپل مقام باندې صحیح دی، خو د هغوی دپاره ضروری ده چې د مونځ کونکو د مانځه خیال وساتی، ځکه چې مساجد د مانځه دپاره جوړ شوې دی نه د تعلیم وغیره دپاره. (۱) **وهوالموفق**

د مسجد په انګڼ کې د شنې ګیا یا اوچې ګیا کینودلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جومات په انګڼ کې د ګیا (د کبلو قسم) راخیژی، یوه ډله د هغې د برقرار ساتلو او غټیدلو دپاره باقاعده اوبه خور کوی، او دویمه ډله وائی چې په داسې قسم ګیا کې د زهریله او ضرری کیږرو د موجودګئ احتمال وی لهذا هغې له د بیخ نه ویستلو په ځای اوچه ګیا اچولو سره مونځ ادا کول فائده مند دی، د قرآن او سنت په رڼا کې مناسب کوم یو عمل دې؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: عطاء محمد سینئر کلرك درګئ ملاکنډ ایجنسی... ۱۵ جون ۱۹۷۰ء

الجواب: دواړه صورتونه جائز دی خو په شنه ګیا کې د زهریله ښناور او د نجاست خطره وی لهذا مصلحت په دویم شق کې دې. **قال العلامة الشامی:** لكن الافضل عندنا السجود على الارض او على ما تنبته كما فى نور الايضاح ومنية المصلى، (ردالمحتار ۱: ۵۶۹، ۵۷۰)(۲) **وقال رسول الله ﷺ دع ما يريبك الى ما لا يريبك(۳). وهوالموفق**

---

۱) يدل عليه ما فى البحر : فلهم ان يجعلوا المسجدين واحدا لاقامة الجماعة اما للتذكير او للتدريس فلا لانه ما بنى له وان جاز فيه.
(البحر الرائق ۵:۴۱۹ فصل فى احكام المسجد)

۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۳۷۱ بعید مطلب فى اطالة الركوع للجائى)

۳) رواه احمد والترمذى والنسائى وروى الدارمى الفصل الاول.
(مشكواة المصابيح ۱:۲۴۲ باب الكسب وطلب الحلال الفصل الثانى)

په مسجد کې خوراک څښاک او د خیرات وغیره خوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په مساجد کې ختم القرآن کولو نه پس نور طالبان او نورو شریکانو باندې خیرات خوړل جائز دی یا نه؟ یعنی د نور خایونو نه دیګونه راوړل او په مستحقینو باندې د خوړلو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: حافظ اسحاق ډیره اسماعیل خان ... ۲۵ رمضان المبارک ۱۴۰۵ھ

الجواب: په جومات کې خوراك څښاك کول بذات خود مباح دی او د روایات حدیثیه نه ثابت دی خو د جومات نه د خیراتونو ځای او هوټل جوړول ناجائز دی. (۱) لان المساجد لم تبن لهذا (۲) پس که دا مباح کار د عوامو د دې منکر کار ذریعه جوړیږي نو د دې نه ځان ساتل ضروری دی، والا فلا بأس به ومأخذه لا تقولوا راعنا وقولوا انظرنا (۳) وهو الموفق

د مسجد دپاره د چنده کونکو د چندې نه د خپل ځان د پاره د څه اخستلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په یوه غریبه علاقه کې د جومات کار شروع دې د دې ځای عوام ډیر زیات غریبانان دی او

---

۱) وفی الهندیة: ویکره النوم والاکل لغیر المعتکف واذا اراد ان یفعل ذلک ینبغی ان ینوی الاعتکاف فیدخل فیه ویذکر الله تعالیٰ بقدر ما نوی او یصلی ما شاء کذا فی السراجیة۔ (فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۲۱ الباب الخامس فی آداب المسجد)

۲) (ابوهریرة) رفعه فان المساجد لم تبن لهذا المسلم وابی داؤد والترمذی۔ (جمع الفوائد من مجمع الزوائد ۱:۱۱۸ رقم: ۱۲۱۹)

۳) قال الشیخ مفتی محمد شفیع: ددې آیت نه دا خبره معلومه شوه چې که چېرته چاته دخپل یو جائزه کار په وجه نورو خلقو ته د ناجائزه کارونو ګنجائش معلوم شی نو دا جائز کار هم دهغه دپاره جائز نه پاتې کیږی۔ (تفسیر معارف القرآن ۱:۲۸۰ آیت: ۱۰۴)

هغوی زه مجبور کړم چې ته چنده کوه نو زه هم غریب یم آیا زما دپاره د دې نه څه اخستل حلال دي؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: غلام ص دهوك زمان میانوالی ... ٢ ربیع الاول ١٤٠٢هـ

الجواب: د نیکانو خلقو په مشورې سره که هلته نزدې د یو لوئې مذهبی اداري یا لوئې جومات د قوانین په رڼا کې یو سړی لره مقرر کولو سره د هغه قانون مطابق څه مزدوری ورکړې شی نو ښه به وی، خو د دې کار نه دې د کتې ذریعه نه جوړوی (١) **وهوالموفق**

په مسجد کې د تیلو د پاره ورکړې شوې چنده د مسجد د خادم په تنخواه کې د ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې په جوماتِ کې خالص دڼا دپاره دتیلوپه صورت کې یا دنقدوپه صورت کې چې کومه هدیه ورکولې شی آیا هغه د جومات امام یا خادم ته د تنخواه په صورت کې ورکړې کیدې شی، د جومات خادم د اوبو برابرولو دپاره مقرر کړې شوې دې. **بینواتوجروا**

المستفتي: نظر احمد ... ١٨ مئی ١٩٧٥

---

١) د جومات وغیره دپاره چنده کونکې چې د ځان دپاره کوم کمیشن وغیره مقرر کوی په بعض صورتونو کښې دا اجاره باطل او په بعض کښې فاسد وی، په دې وجه د دې قسم سفیر او چنده کونکی دپاره غوره طریقه داده چې ددې کار دپاره په معروف او رائج طریقه باندې تنخواه مقرر کړې شی کوم چې په دې طرفونو کښې په مذهبی ادارو یعنی مدارس او مساجد کښې رائج وی، بیا که د تنخواه زیادت وی او د چندې وصولی کمه وی نو د هغې دپاره دې دا طریقه کار خپل کړې شی چې کومه علاقې ته لیږل وی نو هغوی ته دې د یو خاص مقدار مطابق دا اوئیلې شی چې که ستاسو وصولی د دې مقدار نه زیاته نه شی نو تاسو ته به انعام نه ملاویږی او که د مقرر مقدار نه زیات وصولی وی نو انعام به درته داسې ملاویږی چې تاسو خپله ټوله وصولی مدرسې یا جومات ته رالیږئ او مدرسه به هغې لره د خپلې مدرسې یا جومات په خزانه کښې ږدی بیا چې کله تاسو کار ختمولو سره راشئ او د حساب وصولی کوئ نو هغه وخت به د مقرر مقدار نه په زائد کښې دومره فیصده تاسو ته انعام ملاویږی، په دې طریقه کار سره به د سفیر همت زیاتیږی او جومات او مدرسې ته به هم فائده رسیږی او څه شرعی قباحت اجاره به هم نه لازمیږی (ملخص از نظام الفتاوی ١/٣٢٦)

الجواب: د چنده ورکونکو په اجازت او د عدم اعتراض په صورت کې دا عمل جائز دي. لبقاء الملك لهم الآن كما كان فيكون المدار على اذنهم صريحا كان اودلالة، فافهم(۱) وهوالموفق

د مسجد د چهت لرګی وغیره سامان خرڅول جائز دی

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو جومات د دوباره آبادولو دپاره راوغورځولې شي او لرګي او چت وغیره د هغه جومات دوباره استعمال نه کړې شي چې په هغې کې ځینې خراب شوې هم دی او نزدې ورته څه جومات هم نشته چې هغې ته ورکړې شي نو اوس به د دې سامان سره څه کولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالرحيم ارمړپايان پيښور...... ۷ ربيع الاول ۱٤۰۱ھ

الجواب: د دې لرګو خرڅول او د حاصل شوې قیمتونو مصالح په جومات کې خرچ کول ضروری دی. لما في ردالمحتار ۲: ۵۱٤ وفي فتاوى النسفي: سئل شيخ الاسلام عن اهل القرية رحلوا وتداعى مسجدها الى الخراب وبعض المتغلبة يستولون على خشبه وينقلونه الى دورهم هل لواحد لاهل المحلة ان يبيع الخشب بامر القاضي ويمسك الثمن ليصرفه الى بعض المساجد او الى هذا المسجد قال نعم، انتهى(۲) فافهم وراجع الى ۵٦٦(۳) حتى يتبين لك عدم الاحتياج الى امر القاضي۔ وهوالموفق

---

۱) چونکه په دې زمانه کښې عموما د جومات دپاره چې کومه چنده ورکولې شي یا یو څیز ورکولې شی عام طور د هغې مصرف د اهل جومات او د جومات د متولی په رائې باندې پرېښودلې شي، په دې وجه دلالة په دې کښې اجازت وی چې چېرته مناسب وی خرچ کولې شي. (از مرتب)

۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ٤۰۷ قبيل مطلب في نقل انقاض المسجد ونحوه)

۳) قال العلامة ابن عابدين: حاصله ان اهل المسجد ... [بقيه حاشيه برصفحه آئنده

د قبائلی مساجدو حکم او انګڼ لره په حجره کې د شاملولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په قبائلی علاقو کې د حجرې څه حصه د جومات دپاره مختص وی چې په هغې کې د وسیدو ځائې، د اور بلولو او د تهوکلو دپاره بیل بیل ځای وی او کټ هم په جومات کې وی، په دې طریقه زمونږ یو جومات دې چې په هغې کې برنډه او صحن هم موجود دې د دې نه علاوه د تالاب په ځای حجره جوړه کړې شوې ده، جومات ښه اوږد او پلن دې او مونږ کونکی د درې څلور نه زیات نه دی، اوس که دا جومات وړوکې کړې شی یعنی انګڼ بیلولو سره په حجره کې شمار کړې شی نو آیا د دې جومات انګڼ په حجره کې شاملول جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: گل شیر حقانی.....جمرود خیبر ایجنسی... ۲۲ مئی ۱۹۸۴ء

الجواب: بذات خود دا اقدام ممنوع نه دې. **لعدم کون هذه المساجد مساجد شرعية، لعدم افرازها بالطرق كما فى رد المختار ٤/٣٥٦** (۱) خو

بقیه ازحاشیه گذشته] لو اتفقوا على نصب رجل متوليا لمصالح المسجد فعند المتقدمين يصح ولكن الافضل كونه باذن القاضى ثم اتفق المتأخرون ان الافضل ان لا يعلموا القاضى فى زماننا لما عرف من طمع القضاة فى اموال الاوقاف۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۴۹ مطلب الافضل فى زماننا نصب المتولى بلا اعلام القاضى)

۱) قال العلامة ابن عابدين : لكن عنده لا بد من افرازه بطريقه ففى النهر عن القنية جعل وسط داره مسجداً واذن للناس بالدخول والصلاة فيه ان شرط معه الطريق صار مسجداً فى قولهم جميعاً والا فلا عند ابى حنيفة... وفى القهستانى ولا بد من افرازه اى تمييزه عن ملكه من جميع الوجوه۔
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۵ مطلب فى احكام المسجد)

چونکې په دې اقدام کې ډیره خطرات موجود دی، منها جعل صحن المسجد مکتبا وملعبا للصبیان، لهٰذا په دې باندې به فتوی نه شی ورکولې (۱) وهوالموفق

د مسجد رقم په بینک کې کیښودل او د امام د تصرف وغیره مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې آیا د جومات رقم امام په خپل نوم باندې په بینک کې جمع کولې شی؟ هم دغه شان د جومات دپاره جمع شوې چنده په خپل ذاتی کار باندې راوستلې شی؟ یو سړی د څه اختلاف د وجې نه د جومات د امام خدمت بند کړو آیا امام هغه سړی لره د مانځه نه بندولې شی؟ آیا وخت په وخت د ذاتی مفاداتو دپاره دروغ ویونکی امامت کولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: سمیع الله پیبنور ... ۶ نومبر ۱۹۷۵ء

الجواب: چنده به په جومات کې د چنده ورکونکو د رائې مطابق تصرف کولې شی، لهذا هغوی ته یا د هغوی معتمد علیه ته دې مراجعت وکړې شی. (۲) خو بغیر د اضطرار نه په بینک کې رقم کیښودل حرام دی اګر چې بغیر د سود نه وی. (۳) او امام شرعی طور د دې اجازه نه لري چې څوك د اقتداء نه

---

۱) وفی المنهاج: وفیما رواه عبد الرزاق عن معاذ بن جبل ان رسول الله ﷺ قال جنبوا مساجدکم عن صبیانکم ومجانینکم وشراء کم وبیعکم وخصوماتکم ورفع اصواتکم واقامة حدودکم وسل سیوفکم واتخذوا علی ابوابها المطاهر وجمروها فی الجمع، دلیل علی کراهة تعلیم الصبیان فی المساجد سواء کان باجر او کان حسبة لله، قال ابن الهمام انه یکره التعلیم ان لم تکن ضرورة لان نفس التعلیم ومراجعة الاطفال لا یخلو عما یکره فی المسجد.
(منهاج السنن شرح الترمذی ۲:۲۰۸ باب ماجاء فی کراهیة البیع والشراء فی المسجد)

۲) یدل علیه مافی الهندیة: القیم اذا اشتریٰ من غلة المسجد حانوتاً او دارا ان یستغل ویباع عند الحاجة جاز ان کان له ولایة الشراء واذاً جاز له ان یبیعه کذا فی السراجیة.
(فتاویٰ عالمګیریة ۲:۴۶۲ الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد وتصرف القیم)

۳) وفی المجلة: الضرورات تبیح المحظورات، هذه ... [بقیه حاشیه برصفحه آئنده

منع کړی (۱) بلکې سره د منع کولو نه هغه سړې بغیر د کراهت نه اقتداء کولې شی. (۲) په دروغژن امام پسې اقتداء مکروه ده چې کله په قوم کې د هغه نه غوره فرد موجود وی کنه نو په ړندو کې یوې سترګې والا بادشاه وی

صرح به فی البحر...۳۴۰/۱(۳) وهوالموفق

په امام ساتلو کښې د اختلاف د وجې نه د مسجد دپاره د وقف د واپس مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې لس کاله مخکې زید د جومات دپاره لس مرلې ځمکه وقف کړې وه، اوس د محلې والو په دې ځمکه کې د جومات د ابادوولو اراده کړې ده خو په خلقو کې اختلاف دې بعض دیوبندیان دی او بعض بریلیان، زید خپله دیوبندی او موحد دې او وائی چې زه به په دې کې خلاف العقیده امام نه ساتم، خو مخالفین وائی چې مونږ به په دې کې د خپلې مرضۍ مطابق امام ساتو نو آیا دا واقف د دې اختلاف د وجې نه دا ځمکه واپس اخستلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرحیم درګئ... ۱۹ مارچ ۱۹۸۶ء

بقیه ازحاشیه گذشته] قاعدة اصولية مأخوذه من النص وهو قوله تعالیٰ (الا ما اضطررتم اليه)... والاضطرار الحاجة الشديدة والمحظور المنهی عن فعله يعنی ان الممنوع شرعا يباح عند الضرورة- (شرح المجلة للآتاسی ۱:۵۵ المادة: ۲۱)

۱) قال الله تبارک وتعالیٰ: ارئيت الذی ينهی عبداً اذا صلی-

(سورة العلق پاره: ۳۰ آيت: ۹،۱۰ رکوع: ۲۱)

۲) وفی الهندية: والامام ينوی ما ينوی المنفرد ولا يحتاج الی نية الامامة حتی لو نوی ان لايؤم فلانا فجاء فلان واقتدیٰ به جاز هكذا فی فتاویٰ قاضی خان-

(فتاویٰ عالمگیرية ۱:۶۶ الفصل الرابع فی النية)

۳) قال العلامة ابن نجيم: وينبغی ان يكون محل كراهة الاقتداء بهم عند وجود غيرهم والا فلا كراهة كما لا يخفی-

(البحر الرائق ۱:۳۴۰ باب الامامة)

الجواب: زه دا وقف صحیح او باقاعده وی نو زید د واپسئ اجازه نه لري (۱) خو نجدی او سلفی امام ساتل محلي او کلی لره د اختلاف په لعنت کي اخته کول دی، هم دا حال د بریلوی امام هم وی (۲) وهوالموفق

د مسجد د تعمير د وجې نه بعض متاثرين ته

د مسجد د فنډ نه د معاوضه ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو جومات چې د هغې نه بهر د محراب په شا باندې په سرکاری اراضی کې د کیبین په شان څه دکانونه دی، د جومات د نوی تعمیر دپاره د جومات د شهادت نه پس دا دکانونه هم ختم شو د دې دکانونو تعلق د جومات د وقف سره نه و، د دکاندارانو په درخواست باندې ورته حکومت متبادل ځای ورکړو؛
اوس دکاندارانو حکومت ته درخواست کړې دې چې څومره موده د هغوی دکانونه ختم شوې دی د هغې په جبیره او کمی پوره کولو کې دې هغوی ته د هر دکان په بدل کې پنځه زره روپئ معاوضه ورکړې شی، د جومات په تعمیر فنډ کې ګورنر پنځه لاکه روپئ سرکاری چنده ورکړې ده اوس صورت مسئوله دا دې:
۱: آیا د جومات د تعمیری فنډ نه دا معاوضه څلېرشت زره روپئ جوړېږی شرعا ورکول جائز دی؟

---

۱) وفی الهندية: واما حکمه فعندهما زوال العين عن ملکه الی الله تعالیٰ وعند ابی حنيفة حکمه صيرورة العين محبوسة علی ملکه بحيث لا تقبل النقل عن ملک الی ملک.
(فتاویٰ عالمگيرية ۲:۳۵۲ کتاب الوقف الباب الاول)

۲) يدل عليه ما فی البحر: حکاه النووی فی شرح المهذب لما روی ان عليا رأی موذنا يثوب فی العشاء فقال: اخرجوا هذا المبتدع من المسجد. (البحر الرائق ۱:۴۵۳ باب الاذان مبحث ويثوب) وقال العلامة الحصکفی: ويمنع منه وکذا کل موذ ولو بلسانه.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۱:۴۸۹ قبيل مطلب فی الغرس فی المسجد)

۲: آیا دا ورکړه د چندې د سرکاري حصې نه کیدې شی او حال دا چې هغه د تعمیر دپاره ورکړې شوې ده؟
۳: ډی سی کوم چې د تعمیراتی کمیټۍ چیئرمین دې د حکومت د طرف نه دې رقم لره د چندې نه د ادا کولو شرعا اجازه شته؟
۴: آیا د دکاندارانو دپاره شرعا دا معاوضه د تعمیراتی چندې نه وصولول جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد زبیر ..... پېښور کینټ ..... ۲۵ جمادی الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: چونکې د جومات دا فنډ شرعی وقف نه دې، د خرچ کولو نه مخکې د چندې ورکونکو د ملك نه نۀ دی خارج شوې، لهذا دا چنده ورکونکی یا د هغوی مختار معتمد علیه د دې فنډ نه د څه معاوضه ورکولو په وجه مجرم نه جوړیږی، خو د داسې دکانونو معاوضه اخستل په ظاهر کې یو غیر شرعی امر دې. **وهوالموفق**

د تقسم هند نه پس قدیم اوقاف په نوی مساجد باندې د خرچ کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې مثلا د بعض مساجدو دپاره خلقو اوقاف وکړل اوس هغه اوقاف مثلا په هندوستان کې پاتې شو، آیا دا اوقاف اوس هغه واقفین په پاکستان کې جوړ شوې مساجد باندې لګولې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: چوهدری لیاقت علی ډیره شاه جمال گوجرانواله

الجواب: د تقسیم نه مخکې چې په کومو جوماتونو باندې وقف شوې وو نو د تقسیم او استبدال نه پس د دې سابقه مساجد (کوم چې په هندوستان کې وو) اهالیان دا اوقاف په خپلو مساجدو باندې که قدیم وی یا اوس جوړیږی خرچ کولې شی. (۱) **کما لا یخفی علی من راجع ما هو المعروف عند الواقفین. وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: (قوله عند الامام والثانی) فلا یعود میراثا ولا یجوز نقله ونقل ماله الی مسجد آخر سواء کانوا یصلون فیه اولا وهو الفتوی ... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده]

د مسجد او کلی د اوبو د پاره د مشترک پائپ مرمت باندې د مسجد د فنډ نه خرچه کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په کلی کې د ښنلو دپاره د اوبو یو پائپ د بهر نه راغلې دې کوم چې د جومات دپاره هم دې او د کلی د وسیدونکو دپاره هم، که دا پائپ یا نلکا (پائپ) خراب شی نو آیا مونږ ئې د جومات د دې فنډ نه مرمت کولې شو؟ بینواتوجروا

المستفتی: میر بهادر پیش امام مندوخیل خیر آباد نوښهر.....۱۰ اپریل ۱۹۸۴ء

الجواب: که دا فنډ د چندې وی نو د چنده ورکونکو په اجازت سره د دې نلکې (پائپ) په مرمت باندې دا فنډ خرچ کیدې شی، **لعدم کونه وقفا شرعیا (۱) هوالموفق**

زمونږ په علاقو کې قبله د مغرب په طرف کې جنوب ته مائل ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ مساجد تقریبا پنځوس کاله مخکې جوړ شوې دی چې د هغې رخ د قطبی ستوری په انداز او کمپاس تقریبا شل ډګری د جنوب په طرف دې اوس مونږ جومات شهید کولو سره د هغې توسیع کول غواړو په داسې صورت کې د جومات رخ د قطبی ستوری او کمپاس په حساب سره صحیح کړې شی او که د سابقه رخ مطابق بنیاد کیښودلې شی، د جغرافیه ماهرین او په نقشه باندې پوهیدونکی وائی چې قطبی ستورې او کمپاس سره رخ د سورت بندرګاه طرف ته کومه

بقیه ازحاشیه گذشته] حاوی القدسی واکثر المشائخ علیه مجتبی وهو الاوجه فتح... (قوله وعاد الی الملک عند محمد) ذکر فی الفتح ما معناه انه یتفرع علی الخلاف المذکور ما اذا انهدم الوقف ولیس له من الغلة ما یعمر به فیرجع الی البانی او ورثته عند محمد خلافا لابی یوسف... (قوله وعن الثانی الخ) جزم به فی الاسعاف حیث قال ولو خرب المسجد وماحوله وتفرق الناس عنه لا یعود الی ملک الواقف عند ابی یوسف فیباع نقضه باذن القاضی ویصرف ثمنه الی بعض المساجد.

(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۶،۴۰۷ مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

۱) (امداد الفتاوی ۲:۵۶۰ کتاب الوقف)

چې په هند کې واقع ده د قبلې طرف په مغرب کې صحیح دې او زمونږ ښهر کیملپور د سورت بندرگاه نه تقریبا دوه نیم زره میله د شمال په طرف دې په دې وجه زمونږ د جومات رخ شل ډگری د جنوب په طرف ته دې، دا د عین قبلې تقریبا مطابق دې د ښهر عام مساجد د قطبی ستوری او کمپاس په لحاظ سره د قبلې طرف مغرب دې او د څو مساجد رخ په شل ډگری جنوب کې دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حکیم سید اختر صدر انجمن غازی مسجد کیملپور ... ۵ اپریل ۱۹۷۰ء

الجواب: چونکې زمونږ د ښهرونو نه قبله بعینه د مغرب طرف ته نه ده بلکې د جنوب طرف ته مائل ده لهذا هم د دغه سابقه بنیاد مطابق آبادی کول پکار دی، واضحه دې وی چې د سورت ښهر طرف ته د قبلې او مکې معظمې کیدل په اندازې سره معلوم دی نه په مشاهدې یا وحی سره لهذا باقی مساجد کوم چې جنوب ته مائل نه دی په هغې کې مونځ کول او د هغې صحیح کیدل د شریعت خلاف نه دی. (۱) وهوالموفق

د چاردیوارئ نه بغیر په فراخه ځای کې د عیدگاه حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې یوځای ۴۰×۸۰ دپاره عیدگاه دپاره مختص کړې شوې دې چې دهغې بنیادونه کیښودلې شوې دی خو په فنډ کې فی الحال د رقم د کمی د وجې نه چار دیواری جوړیدل باقی دی د اختر د مانځه نه یوه ورځ مخکې د هغې صفائی کولې شی او په زیات مقدار کې درئ او پوزکی خورولې شی، اوس بعض خلق وائی چې ترڅو پورې د ذکر شوې عیدگاه نه چار دیواری نه وی تاؤ کړې شوې او دروازې ئې مکمل نه وی په دې کې د اختر مونځ نه شی کیدې؟ بینواتوجروا

المستفتی: میجر خان بادشاه خټک کانی تحصیل جنډ ... ۱۰ جولائی ۱۹۸۶ء

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: (قوله محاريب الصحابة والتابعين) فلا يجوز التحرى معها زيلعى بل علينا اتباعهم خانية ولا يعتمد على قول الفلكى العالم البصير الثقة ان فيها انحرافا الخ. (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:۳۱۷ مبحث فی استقبال القبلة)

الجواب: د رسول الله ﷺ په زمانه کې به په صحرا (میدان) کې د اختر مونځ کیدلو (۱) نه په هغې کې دروازه وغیره وې او نه ئې چار دیواری وه، بهر حال دا اعتراض کونکی په غلطۍ باندې دی. **وهوالموفق**

په مسجد کې د ورکړې شوې چندې واپس اخستل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی خوئی جومات ته چنده ورکړه بیا هغه مړ شو د هغه پلار مطالبه کوی چې چنده واپس کړئ، آیا دا پلار چنده واپس اخستلې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: شاه دوران پیښور... ۱۷ فروری ۱۹۸۶ء

الجواب: که چنده د جومات په ضروریات یا د جومات په قرضه جات کې خرچ شوې وی نو د دې چنده ورکونکی وارثان د واپسۍ مطالبه نه شی کولې، هلاکها باذنها، او که دا چنده نه وی خرچ شوې نو هغه واپس اخستلې شی لعدم خروجها عن ملکه بخلاف الموقوف اذا قبضه المتولی، فافهم. **وهوالموفق**

د فوج په غیر آباد میدانونو کې د جوړ کړې شوې عارض مسجدونو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې فوج چېرته هم ځی، هلته په غیر اباد میدانونو کې د مساجد دپاره یو ځای مختص کولو سره مونځ کوی، بیا چې کله لاړ شی یا هغوی ته د هغه ځای ضرورت راشی نو هغوی هغې لره ختم کړی آیا د داسې عارضی جوماتونو راغورځول شرعا صحیح دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا نسیم میان صاحب.... چولیان چهاؤنی لاهور... ۲٤ مئی ۱۹۹۰ء

---

۱) (عن ابی سعید الخدری قال: کان النبی ﷺ یخرج یوم الفطر والاضحی الی المصلی) ای مصلی العید بالمدینة خارج البلد وهو الآن موضع معروف وبالتبر ک موصوف فی شرح السنة: السنة ان یخرج الامام لصلاة العیدین الا من عذر فیصلی فی المسجد ای مسجد داخل البلد، قال ابن الهمام: والسنة ان یخرج الامام الی الجبانة الخ۔
(مرقاة المفاتیح فی شرح المشکوٰة ۳:۵۲۹ باب صلاة العیدین)

الجواب: دا جومات عرفی دې لهذا د دې انهدام صحیح دې، په خلاف د شرعی جومات.(١) **وهوالموفق**

د امام نه د ذاتی عداوت په وجه باندې مسجد ته مندر او د کفر ځای ویلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جومات د امام او د اهل محله د یو سړي ترمینځه ذاتی خفگان او دشمنی ده، او په زړه کې دومره دشمنی ساتی چې د جومات د امام په ځای د جومات په باره کې دا الفاظ وائی چې دا جومات نه دې د کفر ځای دې مندر دې، درهم سال دې، د دې سړي په باره کې د شریعت مطهره څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: طاؤس خان سرحد ټیکسټائل ملز نوښهر .. ۲۷ ستمبر ۱۹۶۹ء

الجواب: د شعائر الله د بې حرمتۍ د وجې نه په دې سړي باندې د کفر سخته خطره موجود ده. (٢) په دې شرط چې د عوارض خارجیه د وجې نه ئې دا الفاظ نه وی ویلې. (٣) **وهوالموفق**

---

١) وفی المنهاج: اعلم ان المساجد اللتی بنیت علی الحوانیت المملوکة الغیر الموقوفة هی مساجد عرفیة لیست بمساجد شرعیة لما فی وقف البحر وحاصله ان شرط کونه مسجداً ان یکون سفله وعلوه مسجداً لینقطع حق العبد عنه لقوله تعالی وان المساجد لله، انتهی.

(منهاج السنن شرح الترمذی ۴:۷۴ باب المعتکف یخرج لحاجته ام لا)

٢) قال الملا علی قاری: من استخف بالقرآن او بالمسجد او بنحوه مما یعظم فی الشرع کفر- (شرح فقه الاکبر ۱۶۷ فصل فیما یتعلق بالقرآن والصلاة)

٣) قال العلامة ابن البزاز الکردری وشتم العالم والعلوی لا مر غیر صالح فی ذاته وعداوته لخلافه الشرع لا یکون کفراً ولا خطأ.

(فتاوی بزازیة علی هامش الهندیة ۶:۳۳۷ الثامن فی الاستخفاف بالعلم)

مسجد د پاره د چنده ورکولو په شرط باندې په نیلام کې بولی نه کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د ځاروو د یوې میلې تهیکه حکومت نیلام کوی د ښهر په مالدارو خلقو کې یو کس وویل چې د میلې د تهیکیدارئ د نیلام په دفتر کې دې څوک هم بولی نه کوی، چې ماته زما د مرضئ مطابق تهیکه ملاؤ شی، او زه به د جومات دپاره زر روپئ چنده پیش کوم، پس خلقو د دې زر روپئ چندې دپاره په نیلام کې مقابله پرېښودله، اوس د زید وینا ده چې په ذکر شوې طریقې سره چنده اخستل حرام دی. لانه لایجوز الاعتیاض عن الحقوق المجردة کحق الشفعة للشفیع وحق القسم للزوجة وکذا حق الخیار فی المخیرة، په جواب کې د بکر وینا ده چې ذکر شوې پیسې اخستل جائز دی، لانه یجوز اخذ العوض علی وجه الاسقاط الحاقا له بحق القصاص والصلح عن الالف علی خمس مائة ... مهربانی وکړئ شرعی مسئله بیان کړئ؟ بینواتوجروا

المستفتی: اشرف علی بنون......۱۰ رجب ۱۳۹۵ھ

الجواب: قلت هذه حیلة الاحسان لا انه عوض عن الحق لعدم الحق الخاص ولا انه عوض عن النزول لعدم الحق الخاص کالشراء والاستیجار. وهوالموفق

د مسجد د بجلئ نه بالمعاوضه تار اخستل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جامع جومات ابوبکر نوښهر نه بهر د کابل سیند په غاړه باندې یو سړې د مازیګر نه تر ماسخوتن پورې د تفریح دپاره کیناستل غواړی او خواهش ئې دا دې چې د دې نږدې جومات د بجلئ نه تار اخستلو سره هلته بجلی استعمال کړی، او د هغې بل جومات ته ادا کړی، نو آیا د جومات بجلی په ذکر شوې غرض سره هغه استعمالولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد ایوب ومتعلقین مسجد ابوبکر نوښهر صدر

الجواب: که د بجلۍ خرچه د وقف مال نه نه وی بلکې په چنده وغیره سره وې نو دې چنده ورکونکو وغیره یا د هغوی قائم مقام (متولی) په اجازت سره دا تار ورکول جائز دی، خو د تیلی ویژن وغیره دپاره د استعمال اجازت واجب الاجتناب دې. **وهوالموفق**

د مساجد په دیوالونو باندې د ``یا الله ... یا محمد" لیکلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جوماتونو په دیوالونو او محراب باندې شرعا "الله، محمد" لیکل جائز دی یا ضروری دی؟ او که بغیر د حرف نداء نه ولیکلې شی نو آیا دا ناجائز او ګناه ده؟ او بغیر د حرف نداء نه په لیکلو باندې د ګستاخ رسول ﷺ، وهابی او په هغه پسې د مونځ د نه کیدو فتوی لګول څنګه دی؟

الجواب: نه الله او محمد لیکل ممنوع دی، او نه یا الله او یا محمد لیکل ممنوع دی. خو د حاضر او ناظر عقیده ساتل د شریعت خلاف ده. (۱) هم دغه شان د اهل بدع د شعار نه اجتناب ضروری دې. (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن البزاز الکردری: وعن هذا قال علماء نا من قال ارواح المشائخ حاضرة تعلم یکفر. (فتاوی بزازیة علی هامش الهندیة ۳۲۶:۶الثانی فیما یتعلق بالله)

وقال الملا علی قاری: وذکر الحنفیة تصریحا بالتکفیر باعتقاده ان النبی ﷺ یعلم الغیب لمعارضة قوله تعالیٰ: قل لا یعلم من فی السمٰوٰت والارض الغیب الا الله. (شرح الفقه الاکبر ۱۵۱ حکم تصدیق الکاهن)

۲) قال العلامة الطیبی: (قوله من تشبه بقوم)هذا عام فی الخلق والخلق والشعار واذا کان الشعار اظهر فی التشبیه ذکر فی هذا الباب. (شرح طیبی ۲۱۹:۸ الفصل الثانی کتاب اللباس)

(وهکذا فی مرقاة المفاتیح ۸ :۲۵۵ کتاب اللباس الفصل الثانی)

په مسجد کې د لیټرین جوړولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو جومات په احاطه کې فلش یعنی لیټرین جوړیږي او اکثریت ئې د جوړولو په حق کې نه دی، او حال دا چې د لیټرین په جوړولو باندې څه کار شوې دې، شرعی حکم څه دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی محمد سراج نعمانی لال کرتی نوښهر ... ۱۳ ستمبر ۱۹۹۰ء

الجواب: د جومات په احاطه کې چې کوم ځای د مانځه دپاره متعین نه وی بلکې د اودس استنجاء او پیزار دپاره متعین وی نو په هغې کې لیټرین جوړول جائز دی. (۱) **وهوالموفق**

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په جومات کې د لیټرین جوړولو په باره کې قوم کې اختلاف دې اکثریت ئې مخالف دی د دې شرعی حل څه دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالصبور نورانی مسجد نوښهر

الجواب: د دې اختلاف د تصفیه بنیاد دې د دې جومات د محلې د دیندارو مشرانو په کثرت باندې کیښودلې شی. (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الحصكفی: واذا جعل تحته سردا بالمصالحه ای المسجد جاز كمسجد القدس. (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۴:۳۵۷ کتاب الوقف کراچی)

وقال العلامة الحصكفی: وكره تحريما الوطء فوقه والبول والتغوط لانه مسجد الی عنان السماء وكذا الی تحت الثری. (الدرالمختار ۱:۶۵۶ مطلب فی احكام المسجد كتاب الصلاة)

۲) قال العلامة ابن نجيم: تنازع اهل المحلة والبانی فی عمارته او نصب الموذن او الامام فالاصح ان البانی اولیٰ به الا ان يريد القوم ما هو اصلح منه (الی قوله) وفی المجرد عن ابی حنيفة ان البانی اولیٰ بجميع مصالح المسجد ونصب الامام والمؤذن اذا تأهل للامامة. (البحر الرائق ۵:۲۴۹ فصل فی احكام المسجد كتاب الوقف كوئته)

د مسجد د پاره د لاؤډ سپيکر راوړلو والا د دخل داندازۍ وغيره حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی لاؤډ سپيکر اخستلو سره د جومات دپاره وقف کړو هغه سړې په کلی کې نشته خو د هغه سړی ورور د دې لاؤډ سپيکر مالك جوړ شوې دې او هغه په الماريئ کې بند پروت دې ځکه چې هغه چابيانې خپل ځان سره ساتی نو آيا د جومات د دننه ځيزونو داسې مالك پاتې کيدې شی؟ او آيا يو سړې د الله پاك په کور کې د خپل شان وشوکت د استعمالولو او پيدا کولو حقدار دې؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: صوفی بنارس... راولپنډی... ۲۰ رمضان المبارك ۱۴۰۲ھ

الجواب: که دې سړی دا لاؤډ سپيکر نه وی وقف کړې او يا ئې وقف کړې وی خو خپله ئې متولی جوړ شوې وی او يا ئې وروڼه متولی کړې وی نو د هغه دا اقدام او منع کول قابل اعتراض نه دې کنه نو قابل اعتراض دې. بله دا چې بغير د علم نه د دين په مسائلو کې دخل اندازی د زنديق کيدو سبب دې اعاذناالله منه... **وهوالموفق**

د مړی تابوت (صندوق) د مسجد په کار راوستل

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زمونږه يو فوجی حوالدار وفات شوې وو د هغوی د يونټ والو د هغه بدن په يو تابوت کې راليږلې وو مړی لره د دفن کولو نه پس تابوت مالکانو جومات ته راوليږلو چې دا د جومات په کار کې استعمال کړئ او حال دا چې د مړی درې ماشومان بچی او يوه کونډه او يو ورور دې نو آيا د هغه وارثانو د اجازت نه بغير مونږ دا تابوت د جومات په کار کې استعمالولې شو، هم دغه شان د جومات په کار کې د دې تابوت د استعمال څه حکم دې؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: عبدالغفار صوبيدار ميجر کليان کهوټه راولپنډی.. ۷ جمادی الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: که د تابوت ورکونکی په دې کار (جومات ته په ورکړه) باندې معترض نه وی نو شرعا دا کار جائز دې، ځکه چې دا تابوت د وارثانو ملکيت نه دې جوړ شوې **وهوالموفق**

د مسجد د تعمیر نه په اضافي چنده باندې د کتابونو اخستلو

او د مدرسې د کتب ذاتي په استعمال کې د راوستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: د جومات د تعمیر چنده د تعمیر نه زیاتی شوه، آیا په هغې باندې دینی کتابونه اخستل جائز دی؟

۲: یو مدرسه قائم شوې وه بیا ختم کړې شوه د هغې کتابونه کوم چې د امانت په طور وو په ذاتی استعمال کې راوستل جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد اسماعیل حقانی سکنه الوچ پورن سوات ۲۵ جمادی الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: ۱: د چنده ورکونکو په اجازت سره جائز ده.

۲: په اذن او اجازت سره گناه نه ده. **وهوالموفق**

د مسجد د بلډنګ متعلق مختلف سوالات

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې:

۱: د جومات یو طرف کوم چې د غسل خانې سره نزدې دې هلته د جومات سامان ښختې کانړی وغیره پراته وو د هغه غسل خانو سره یو ځای کولو بانډ یوه وړه شان باورچی خانه د تبلیغی جماعت والو دپاره جوړه کړې شوې ده یو سړې وائی چې دا ځای د انګڼ سره لګی په دې وجه دا کار ناجائز دې، آیا دا قول صحیح دې؟

۲: د جومات د برنډې د دیوال سره یوه دروازه جوړه کړې شوې ده چې ددې ځای نه جومات ته داخلیدل نزدې وی، د هغې د وجې نه دوه درې پاوړئ او د پیزار ویستلو په ځای کې هم په برنډۀ کې جوړ کړې شوې دې چېرته چې به اول مونځ ادا کیدلو نو آیا دا دروازه به په خپل ځای باندې وی او که دا بنده کړې شی او حال دا چې پخوانۍ دروازه بل طرف ته ده؟

۳: د جومات نه لاندې غسل خانې وغیره جوړلو څنګه دی؟

المستفتي: عبدالرقیب مری

الجواب: ۱: که د واقف اراده نا معلوم وی نو د کمیټئ په اجازت سره دا تصرف جائز دې. لان تنصیص الواقف کتنصیص الشارع.(۱)

۲: دروازه جوړول جائز دی خو په جومات کې د پیزار ځای جوړول بې ادبی ده، کما هو المعروف فی هذه القرون.

۳: د جومات د بنیاد کیښودلو په وخت دا امور جائز دی او وروستو (د جومات جوړیدو نه پس) ناجائز دی په دې شرط چې د جومات په احاطه کې داخل وی او د جومات نه بهر لاندې پورته هر دواړه قسم جائز دی. قال العلامة الشامی فی ردالمحتار ۵۱۳:۳ وبهذا علم ایضاً حرمة احداث الخلوات فی المساجد کالتی فی رواق المسجد الاموی ولا سیما ما یترتب علی ذلک من تقذیر المسجد بسبب الطبخ والغسل ونحوه(۲). وهو الموفق

د مسجد د پاره کړې شوې جبری چنده واپس کول پکار دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ خواته یو جومات جوړیږی، د جومات خلقو پولیټیکل ته د چنده ورکولو دپاره درخواست وزکړو، پولیټیکل ایکسین ته ولیکل چې درې زره روپئ د چندې دپاره راکړئ، ایکسین د سټاف نه دوه زره روپئ چنده وکړه، اوس په سټاف کې بعض کسان داسې دی چې وائی چې مونږ چنده د ایکسین د ویرې نه

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: وما خالف شرط الواقف فهو مخالف للنص وهو حکم لا دلیل علیه سواء کان نصه فی الوقف نصا او ظاهراً، وهذا موافق لقول مشائخنا کغیرهم شرط الواقف کنص الشارع فیجب اتباعه کما صرح به فی شرح المجمع للمصنف.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴۹۷:۳ ما خالف شرط الواقف فهو مخالف للنص)

۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴۰۶:۳ مطلب فیما لو خرب المسجد)

ورکړي ده که دا خوف نه وي نو مونږ به دومره پیسي نه ورکولې، آیا دا چنده په جومات کي ورکول جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانا عبدالحنان حقانی میران شاه شمالی وزیرستان ... ۲۵ مارچ ۱۹۸۵ء

الجواب: کومه چنده چي د زړه په خوشحالۍ سره نه وي ورکړي شوي نو دا چنده ورکونکی ته واپس کول ضروری دی. پولیتیکل یا ایکسین ته ورکول د دي مرض دوائی نه ده. والاصل فیه حدیث لایحل مال امرء مسلم الا عن طیب قلب اوکما قال (۱) وهوالموفق

کوم مسجد چي زیات محتاج وي په هغي کي رقم خرچ کول مقدم دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دي مسئلي په باره کي چي زید او بکر وغیره په یو کلی کي وسیدل بکر د زید د خاندان نه یوه ښځه وتختوله، په دي وجه زید د د کلی نه لرې بیل خپل جومات تعمیر کړو، د دي جومات په تعمیر کي بل چا هم اعانت نه دي کړې، قدیم جومات کوم چي د سلو کالو نه قائم دي او باقاعده پکي امام او مؤذن او خادم موجود دی، اوس پخولې شی، رشید او عمرو وغیره کوم چي د آبادۍ د زیاتیدلو د وجي نه نوی جومات ته نژدي آباد شوي دی د هغوی متعلق شرعی حکم څه دي چي دوی به په سابقه جومات کي خرچه کوی کوم چي د هغوی د پلار نیکه جوړ کړي شوي دي او اوس پخولې شی او که په نوی جومات کي کوم چي زید تعمیر کړي وو، که زوړ جومات پریښودلو سره په نوی جومات کي خرچه کوی نو آیا دا د اول جومات حق ضائع کول نه دی؟ او آیا هغوی صرف په دي نوی جومات کي په خرچ کولو باندي د سزا او جزا مستحق کیدي شی یا نه. بینواتوجروا

المستفتی: غلام مصطفی تورډهیر صوابی ... ۸ اپریل ۱۹۶۹ء

(۱) (مشکوٰۃ المصابیح ۲۵۵:۱ باب الغصب)

الجواب: د جومات تعمیر کول چونکې د خیر کار دې لهذا په یو کې خرچ کول ناجائز نه دی، بیشکه کوم چې زیات محتاج وی یا چېرته چې مونځ کوی د هغې معاونت مقدم دې. (۱) **وهوالموفق**

د مسجد په وقف شوې ځمکه مکې د مسجد کمیټئ د تصرف حیثیت

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ایا د جومات کیمټی شرعی حیثیت سره د جومات دپاره وقف شوې ځمکه خرڅولې شی یا نه؟ یا ئې په اجاره باندې ورکولې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مسجد کمیټی تور دهیر صوابئ.....۱۱ جمادی الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: که د دې قوف متولین (د واقف د طرف نه) په خیانت سره متهم وی (۲) نو د دې متولین د معزول کیدو نه پس (د حکومت په وساطت وغیرها) د محلې مشران په دې موقوف ځمکه کې (سوا د خرڅ نه) (۳) ټول تصرفات کولې شی (۴) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الحلبی: وفی المحیط سئل ابوالقاسمؒ عمن اشتری الدهن او الحصیر للمسجد ایهما افضل قال هما سواء قال ابوالليث ان كان المسجد محتاجا الى احدهما فهو افضل وان كان سواء فی الحاجة كان سواء فی الثواب.
(غنية المستملی المعروف بالكبیری ۵۶۷ باب احكام المسجد)

۲) وفی العالمكیریة: ولو ان الواقف شرط الولاية لنفسه وكان الواقف غیر مامون علی الوقف فللقاضی ان ینزعها من یده كذا فی الهداية. (فتاویٰ عالمكیرية ۳:۴۰۹ كتاب الوقف)

۳) وفی الهندية: وعندهما حبس العین علی حكم ملك الله تعالیٰ علی وجه تعود منفعته الی العباد فیلزم ولا يباع ولا يوهب ولا يورث كذا فی الهداية. (فتاویٰ عالمكیرية ۲:۳۵۰ اول كتاب الوقف)

۴) قال العلامة ابن نجيم المصری: ارادوا نقض المسجد وبناؤه أحكم من الاول ان لم يكن البانی من اهل المحلة ليس لهم ذلك وان كان من اهل المحلة لهم ذلك.
(البحر الرائق ۵:۲۵۱ فصل فی احكام المسجد)

په مسجد کې د لارې وغیره جوړلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د محلې خلقو د قدیم جومات په هال کې دننه د استنجاء او اودس ځایونه راغورځولو سره نوې تعمیر وکړو، او پورته ئې دوه گیلرئ او د خطیب صاحب کور هم جوړ کړو، د جومات په شمال مغربی گټ کې پورته په یو بل کور کې د خطیب صاحب ځوی بیل وسیږی، د خطیب صاحب دپاره اول نمبر پوړئ جوړه کړې شوې ده او د خطیب د ځوئی کور ته د تلو دپاره دویم نمبر پاوړئ موجود ده، د خطیب وینا ده چې د گیلری نمبر ۱ نه یو یو هوائی لاره کیدل پکار دی چې په هغې باندې تیریدلو سره مونږ د یو بل کور ته تلې راتلې شو، او د مونځ کونکو خیال دې چې د جومات چت دې د ماشومانو او زنانو چې په هغوی کې حائضې ښځې هم کیدې شی د تیریدلو لاره جوړه نه کړې شی، او حال دا چې په متبادل لاره یعنې اول نمبر پاوړئ نه تیریدلو سره دویم نمبر پاوړئ باندې د ځوئی کور ته تلې راتلې شی، د دې نه علاوه د جومات د اوبو ټینکئ پورته جوړول ضروری دی، اهل محله ئې د خطیب صاحب د کور په یو گټ باندې جوړول غواړی چې د ضرورت په وخت پیزار په خپو کولو سره کار کول آسان وی، خو د خطیب صاحب وینا ده چې ټینکئ دې په گیلرئ پاوړئ نمبر ۱ باندې جوړه کړې شی چې د مرمت په وخت مونږ ته د پردې کولو ضرورت نه راځی، او حال دا چې په گیلرئ باندې ټینکئ جوړولو سره به د جومات دپاره رڼا او هوا هم متاثر کیږی، په دې صورت کې به شرعی حکم څه وی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: محمد رمضان علوی گلشن آباد... راولپنډی... ۲۹ شوال ۱۳۹۹ھ

الجواب: د دې ځمکې چې کومه حصه د مانځه دپاره موقوف ده هغه د فرش نه تر عرش پورې ترقیامته پورې جومات دې، **وهو قول الطرفین وبه یفتی کمافی شرح التنویر علی هامش ردالمختار ۳/۵۱۳** (۱)

(۱) قال العلامة الحصکفی: ولو خرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عند الامام والثانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتی حاوی القدسی۔
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۴۰۶ مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

په نوی تعمیر کې به دا د جومات د حکم نه خارج کول د شریعت خلاف وی، په دې کې به لاره جوړول او د امام وغیره دپاره کور جوړول جائز نه دی. کما فی الدر المختار ۵۱۲/۳. فلیراجع(۱) پس د دې قواعدو په بناء د خطیب صاحب رائې صحیح نه ده په دې کې ډیر مفاسد دی. منها اتخاذ المسجد طریقا ومنها مرور الجنب والحائض.(۲) وهو الموفق

مسجد سره نزدې د میلمنو دپاره خای جوړول او په هغې باندې د مسجد د فنډ نه د صرف کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې د جومات په حدود کې دننه د مونځ والاخای نه لرې لرې د کیناستلو دپاره یو خالی خای پروت وو چې په هغې کې به مونځ کونکو ډیر خله په فارغ وختونو کې د معمولی چت نه لاندې د دمه کیدو دپاره کیناستلو، د ذکر شوی خای د مفید جوړولو او بالخصوص د میلمنو د خای د جومات صورت ورکولو په غرض سره مونږ چنده وکړه، هم دغه شان مو د جومات د فنډ نه هم کافی رقم خرچ کړو، او حال دا چې بعض خلق وائی چې د جومات د فنډ رقم په دې خای کې خرچ کول جائز نه دی، اوس سوال دا دې چې د دې رقم څه حکم دې؟ بله دا چې په دغه ذکر شوې خای باندې د میلمنو دپاره د خای جوړولو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد شعیب تهائی لینډ... ۷ جمادی الثانی ۱٤۰۱ھ

---

(۱) قال العلامة الحصكفی: لو بنی فوقه بیتا للامام لا یضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدیة ثم اراد البناء منع ولو قال عنیت ذلک لم یصدق تاتر خانیة.
(الدر المختار علی هامش رد المحتار ۳: ٤۰٦ مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

(۲) قال العلامة الحلبی: وروی ابن ماجه انه علیه السلام: قال: خصال لا تنبغی فی المسجد لا یتخذ طریقا ولا یشهر فیه سلاح الخ.
(کبیری شرح المنیة ۵٦۳ فصل فی احکام المسجد)

الجواب: که دا خالي ځای واقف يا د محلې مشرانو د مانځه دپاره نه وي خاص کړې نو په دې ځای کې د ميلمنو دپاره ځای جوړول ممنوع نه دی، دا د ميلمنو ځای هم د اودس او غسل د ځايونو په شان د جومات د متعلقه امورو نه شمار دې، فليس فيه الخلاف من غرض الواقف.(١) خو په دې تعيمر باندې د جومات چنده خرج کول د چنده ورکونکو يا د هغوی د معتمد عليه سړي د اذن او اجازت نه بغير ناجائز ده، لعدم خروج هذا المال عن ملك المعطين،وهوالموفق

د مسجد په انګڼ کې د زړو قبرونو د لرې کولو او په مسجد کې د شاملولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د يو جومات په انګڼ کې تقريبا د سلو کالو زاړه يو يا دوه قبرونه دی. اوس د جومات د نوی تعمير د وجې نه د هغه قبرونو طرف ته برنډه راروانه ده آيا د دې دواړو قبرونو ختمول او په دې باندې مونځ کول صحيح دی؟ بينواتوجروا

المستفتي: ضياء الدين وزيرستانی متعلم حقانيه... ٥ فروری ١٩٨٧ء

الجواب: ترڅو پورې چې د هغه قبرونو هيئت کذائی باقی وی نو د فتنې د وجې نه د هغې ختمول او هموار کول غير مشروع دی. (٢) وهوالموفق

په مسجد کې د اذان کولو او د بجلۍ پکی لګولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې په جومات کې

---

(١) قال العلامة الحصكفی: لوبنى فوقه بيتا للامام لا يضر لانه من المصالح اما لو تمت المسجدية ثم اراد البناء منع ولو قال عنيت ذلک لم يصدق تاتر خانية.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ٣:٤٠٦ مطلب فيما لو خرب المسجد الخ)

(٢) وفی الهندية : لو بلى الميت وصار ترابا جاز دفن غيره فی قبره والبناء عليه.
(فتاویٰ عالمگيرية ١:١٦٧ الباب الحادی والعشرون الفصل السادس)

دننه اذان ورکول په لاوډ سپیکر کې یا بغیر د لاوډ سپیکر نه او د بجلۍ د پکی نه هوا اخستل او د کهړۍ نصب کولو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد اصل خان کرک.... ۵ جولائی ۱۹۷۹ء

الجواب: په جومات کې سوا د خطبې د آذان نه بل اذان ورکول د استحباب خلاف دی، **هندية** ۵۷/۱ (۱) په مساجد کې پکی لګول جائز دی لحديث تعليق القنوان فيها (۲) وفيه دلالة على مشروعية وضع الغلال وتعليق المرواح والساعات كما لا يخفى. وهو الموفق

د مسجد د فنډ نه مناسب معاوضه اخستلو سره او په قرض کې د مُجری کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید چنده کولو سره په اتیا زره روپۍ باندې جومات جوړ کړو، او بغیر د تنخواه نه امامت هم کوی خو د مجبورۍ د وجې نه ئې د جومات د چندې نه درې زره روپۍ په خپل ذاتی کار کې لګولې دی آیا اوس دا سړې په دې باندې امامت کولې شی په

---

(۱) وفی الهندية: ينبغي ان يؤذن على المأذنة او خارج المسجد ولا يؤذن في المسجد، والسنة ان يؤذن في موضع عال يكون اسمع لجيرانه ويرفع صوته ولا يجهد نفسه كذا في البحر الرائق.

(فتاوىٰ عالمگيرية ۱:۵۵ الفصل الثاني في كلمات الاذان والاقامة وكيفيتها)

(۲) عن البراء بن عازب في قوله سبحانه ومما اخرجنا لكم من الارض ولا تيمموا الخبيث منه تنفقون قال نزلت في الانصار كانت الانصار تخرج اذا كان جداد النخل من حيطانها اقناء البسر فيعلقونه على حبل بين اسطوانتين في مسجد رسول الله ﷺ فيأكل منه فقراء المهاجرين الخ.

(سنن ابن ماجه ۱:۱۳۱ باب النهي ان يخرج في الصدقة شر ماله)

(وهكذا في البخاري باب القسمة وتعليق القنو في المسجد رقم حديث ۴۲، ۱:۱۲۳)

دي طريقه چې کې په خپل زره کې د يوې مياشتې دپاره دوه سوه روپۍ معاوضه مقرر کړي او د جومات خدمت يعنې صفائي کوي، چې کله قرضه پوره شي بيا مفت امامت او صفائي وغيره کوي، آيا ددې صورت څه جواز شته؟ بينواتوجروا

المستفتي: مظهر الدين متعلم حقانيه...... ۲۲ صفر ۱۴۰۱هـ

الجواب: د توليت او امامت مناسب معاوضه اخستلو کې هيڅ باك نشته او دا معاوضه په فنډ کې قرض سره مجرى کول امر غير مشروع نه دي. **ونظيره** اخذ السلطان من بيت المال على وجه المعاوضة او المقارضة. (۱) **وهو الموفق**

په موقوف مسجد کې حصه داري وغيره نه شي کيدي

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ د محلې په جومات کې نه امام شته او نه پکې مونځ کونکي وي، او زه د خپلې محلې نه لرې په خپله حجره کې وسيږم چېرته چې ارت هم دي او په کار کسب کې هلته مشغول يم، او د مانځه دپاره دلته حجرې ته نژدې جومات ته ورځم چېرته چې په جماعت کې کافي خلق وي او د قرآن کريم درس هم وي، او د توفيق موافق چنده هم په دې جومات کې ورکوم، دې ځل چې چنده کيده نو نو ما ديرش روپۍ چنده في سبيل الله دې جومات ته ورکړه، خو هغه ذکر شوې چنده ماته واپس کړې شوه چې بيا به ته په دې جومات کې حصه غواړې، بله دا چې ته د

(۱) وفى الهندية : فان لم يكن فى بعضها شيئ فللامام ان يستقرض عليه مما فيه مال فان استقرض من بيت مال الصدقة على بيت مال الخراج فاذا اخذ الخراج يقضى المستقرض من الخراج الا ان يكون المقاتلة فقراء... ولا يحل للامام واعوانه من هذه الاموال الاما يكفيهم وعائلتهم.
(فتاوى عالمگيرية ۱:۱۹۱ فصل ما يوضع فى بيت المال اربعة انواع)

دې جومات نه خارج ئي او خپل جومات آباد کړه، نو آيا په جومات کې حصه داري کيدې شي؟ آيا بل سړې ما په خپله حصه کې شاملولې شي؟ که يو سړې د دنياوي دشمنۍ د وجې نه چنده واپس کړي چې زه متولي يم او ماته د واپس کولو اختيار دې نو آيا د جومات متولي چالره في سبيل الله چنده ورکولو نه منع کولې شي؟ او د محلې په خلقو کې اکثريت والا قوم اقليت والو ته د چندې ورکولو يا د نورو حقوق نه محروم کولو دهمکي ورکولو سره منع کولې شي؟ بينواتوجروا

المستفتي: گل مان شاه....... ۱۷ فروري ۱۹۷٤ء

الجواب: په جومات کې د موقوف کيدو د وجې نه حصه داري نه شي کيدې (۱) د محلې خلق هم پکې حصه دار نه دي خو حقدار دي، او د محلې په خلقو دا هم ضروري نه ده چې د چا چنده ضرور وصول کړي هغوي مختار دي (۲) خو چنده ورکونکي ته به ثواب د ارادې مطابق ملاويږي، او د اقليت دپاره د اکثريت منل ضروري نه دي. وهوالموفق

د ګرمۍ او يخنۍ په مسجدونو کې يو مسجد لره په مخالف موسم کې د بندولو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په محله کې دوه مساجد دي، يو د يخنۍ د موسم دپاره او دويم د ګرمۍ د موسم دپاره،

۱) قال العلامة الحصكفي: فلا يقسم الوقف بين مستحقيه اجماعاً.
(الدرالمختار ۳:۴۰۴ مطلب قاسم وجمع حصة الوقف)

۲) قال العلامة ابن عابدين: وفى ط عن الهندية مسجد مبنى اراد رجل ان ينقضه ويبنيه احكم ليس له ذلک لانه لا ولاية له مضمرات الا ان يخاف ان ينهدم ان لم يهدم تتارخانية وتأويله ان لم يكن البانى من اهل تلک المحلة واما اهلها فلهم ان يهدموه ويجددوا بناءه الخ.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۴۰۵ مطلب فى احكام المسجد)

د ګرمۍ په موسم کې د یخنۍ والا جومات بند پروت وی او د یخنۍ په موسم کې د ګرمۍ والا بند پروت وی، نو آیا د جومات دا بندول جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: شیر محمد کرم ایجنسی..... ۲٤ شعبان ۱٤۰۹ھ

الجواب: دا جائز ده لکه چې په ګرمۍ یخنۍ کې د نقل و حرکت په وخت دا بندول جائز دی (۱) وهوالموفق

...

۱) قال العلامة ابن عابدين: (قوله الا لخوف على متاعه) هذا اولى من التقييد بزماننا لان المدار على خوف الضرر فان ثبت فی زماننا فی جمیع الاوقات ثبت کذلک... والتدبير فی الغلق لاهل المحلة الخ.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۱:٤۸٥ مطلب فی احکام المسجد)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

(شپږم جلد)

باب ما یتعلق بالمدارس

....

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوٰی فریدیہ

باب ما یتعلق بالمدارس

قال رسول اللہ ﷺ:

ان الناس لکم تبع وان رجالا یاتونکم
من اقطار الارض یتفقھون فی الدین
فاذا اتوکم فاستوصوا بھم خیراً.

(رواہ الترمذی)

....

باب مايتعلق بالمدارس

د وقف ديني مدرسې نه سکول جوړول ناجائز او ګناه ده

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې په يو علاقه کې بعض حضراتو د ديني او اسلامي مدرسې دپاره ځمکه وقف کړې وه او تر اوسه پورې اسلامي تعليم جاري ساتل غواړي او س بعض خلق دا په حکومت سکول کې بدلول غواړي آيا دا تصرف د شريعت په لحاظ صحيح دې؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: محمد يعقوب سير باړيان بازار ... ۲۵ جمادی الثانی ۱۳۹۹ھ

الجواب: د باقاعده وقف نه پس موقوفه ځمکه د متعين شوی وقف نه علاوه په بل جهت کې صرف کول ناجائز او ګناه ده،

كما في الاشباه والنظائر ۱۸۴ شرط الواقف يجب اتباعه لقولهم شرط الواقف كنص الشارع اى فى وجوب العمل به(۱) وهكذا فى ردالمحتار ۳: ۶۲۷(۲).

وهوالموفق

د ديني مدرسې ځمکه د خپل نابالغ ماشوم په نوم د رجسټري کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زيد د يوې ديني مدرسې د جوړولو دپاره چنده جمع کوی خو ځمکه د خپل نابالغ ماشوم ځوني

---

۱) (الاشباه والنظائر ۱۹۴ طبع قديمی کتب خانه)

۲) قال العلامة ابن عابدين: وما خالف شرط الواقف فهو مخالف للنص وهو حكم لا دليل عليه سواء كان نصه فى الوقف نصا او ظاهراً وهذا موافق لقول مشائخنا كغيرهم شرط الواقف كنص الشارع فيجب اتباعه كما صرح به فى شرح المجمع للمصنف.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۴۹۷ مطلب ما خالف شرط الواقف فهو مخالف للنص)

په نوم باندې رجسټر کوی د هغه دا فعل د شریعت په رڼا کې جائز دې؟

بینواتوجروا

المستفتی: چوهدری عبدالرحمٰن چینوټ جهنگ

الجواب: که دا قانونی رجسټری د خطرې د وجې نه شوې وی نو په دې کې هیڅ باك نشته، په دې شرط چې په رجسټرئ کې دا تصریح کړې شوې وی چې دا ځمکه د فلانئ ادارې دپاره دې او په دې شرط چې د چنده ورکونکو د طرف نه اجازت موجود وی. (۱) وهوالموفق

د مدارس د پاره د چندې غوښتلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مدارس او دارالعلوم دپاره د چندې غوښتلو څه حکم دې، آیا دا شرعا جائز دی؟

بینواتوجروا

المستفتی: شوکت اوکوره ختك ... ۲۹ ربیع الثانی ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا چنده بذات خود نه خپله ممنوع ده او نه مطلوب. (۲) خو د عوارض د وجې نه کله مطلوب شی او کله ممنوع. (۳) وهوالموفق

---

۱) وفی الاشباه: البانی اولیٰ بنصب الامام والموذن، وولد البانی وعشیرته اولیٰ من غیرهم. (الاشباه والنظائر ۱۹۵ کتاب الوقف)

۲) قال العلامة ابن عابدین: فانه یجب ان یتخذ الامام للمسلمین مسجدا من بیت المال او من مالهم ان لم یکن لهم بیت مال کذا فی فتح القدیر.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۳۹۳ مطلب قد یثبت الوقف بالضرورة)

۳) وفی الهندیة: ان کان الاصل الاباحة ینظر الی العارض فان غلب علی الظن وجود المحرم فالکراهة للتحریم الخ. (فتاوی عالمگیریة ۵:۳۰۸ کتاب الکراهیة)

د مسجد یا مدرسې د پاره په چنده کولو کښې د نعت خوانئ او د ماشومانو د نوم اخستلو وغیره حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مساجد او دارالعلوم دپاره کوم حضرات چنده جمع کوی هغه د لاندې لیکلې شوې وجوهاتو په وجه باندې ناجائز دی، یو دا چې هغوی په لاؤډ سپیکر باندې نعت خوانی کوی او واړهٔ واړهٔ ماشومان د توفیق مطابق یوه دوه روپۍ د خپلو کورونو نه راوړی او بیا هغه حضرات د دې مخصوص ماشوم نوم اخستلو د هغوی دپاره د خیر او برکت دعاګانې کوی، اوس سوال دا دې چې په دې طریقې سره چنده کول ناجائز کیدل پکار دی ځکه چې په جومات کې په لاؤډ سپیکر باندې نعت خوانی نه دی کیدل پکار بله دا چې د مخصوص ماشوم په نوم اخستلو سره ریاکاری کیږی او په ریاکارۍ سره صدقه کول نه قبلیږی، بله دا چې د ماشومانو د طرف نه نفلی صدقه جائز نه ده ځکه چې په هغوی کې د ملکیت اهلیت نه وی وغیره، آیا د دې وجوهاتو په موجودګۍ کې په دې طریقه باندې چنده ورکول جائز دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: قاضی حبیب الاسلام ... پیر سباق نوښار ... ۱۴ جون ۱۹۹۰ء

الجواب: چې کله دا جهر د اودهٔ یا مصلی دپاره تکلیف ورکونکې نه وی نو جائز ده (۱) اودا ریاکاری نه ده بلکې دا د دین د اعانت دپاره غافل مسلمانان

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین : وفی حاشیة الحموی عن الامام الشعرانی اجمع العلماء سلفا وخلفاً علی استحباب ذکر الجماعة فی المساجد وغیرها الا ان یشوش جهرهم علی نائم او مصل او قارئ الخ.

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۱:۴۸۸ مطلب فی رفع الصوت بالذکر)

د غفلت نه بیدارول دی په اهل اسلام باندې ضروری ده چې په خپله اعانت کوی (۱) هم دغه شان عاقل غیربالغ لره وکیل جوړول جائزدی (۲) وهوالموفق

د مدرسې د پاره د زكاة رقم جمع كولو سره بغير د تميز نه مجموعي طور په هغې كې د حيلې كولو حكم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یوې دینی مدرسې مهتمم کوم چې صاحب نصاب او غنی دې په بازارونو وغیره کې د خلقو نه د زکاة مال جمع کوی بیا په مدرسه کې په یو مسکین مدرس یا طالب العلم باندې حیله کوی چې په هغې کې د ډیرو خلقو زکاة بغیر د امتیاز نه یو مسکین ته په یو ځل یو ځای ورکوی نو آیا دا طریقه جائز ده؟ یا د هر چا زکاة بیلولو سره بیلې بیلې طریقې سره قبض کړې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: محمد انور دوسلی مدرسه حیات العلوم شمالی وزیرستان ... ۲۷ اګست ۱۹۸۴ء

الجواب: په عرف باندې نظر ساتلو سره معلومیږی چې د چنده ورکونکو د طرف نه د اختلاط اجازت وی لهذا دا خطره ذکر شوې ساقط دې، **کما فی ردالمحتار ۲:۱۰۷ قبیل کتاب الصوم دفع رجلان لرجل دراهم یتصدق بها عن زکواتهما فخلطها ثم دفعها ضمن الا اذا جدد الاذن او اجاز المالکان او وجد دلالة الاذن بالخلط کما جرت العادة بالاذن الخ (۳)۔ وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين : فانه يجب ان يتخذ الامام للمسلمين مسجداً من بيت المال ومن مالهم ان لم يكن لهم بيت مال كذا فى فتح القدير-
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۳۹۳ كتاب الوقف)

۲) وفى الهندية : فلا يصح التوكيل من المجنون والصبى الذى لا يعقل اصلا وكذا من الصبى العاقل بما لا يملكه بنفسه كالطلاق والعتاق والهبة والصدقة ونحوها من التصرفات الضارة المحضة ويصح بالتصرفات النافعة كقبول الهبة والصدقة من غير اذن الولى واما التصرفات الدائرة بين الضرر والنفع كالبيع والاجارة فان كان مأذونا فى التجارة يصح منه التوكيل الخ- (فتاوى عالمگيرية ۳:۵۶۱ كتاب الوكالة الباب الاول)

۳) ردالمحتار هامش الدرالمختار ۲:۸۶ قبيل كتاب الصوم

د مسجد گټه په مدرسې باندې خرچ کول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په چنده سره يو جومات تعمير کړې شو د دې نه پس څو دکانونه وغيره هم د جومات د گټې دپاره آباد کړې شوې دی چې په هغې سره د جومات ضروريات مثلا د امام تنخواه د بجلئ بل وغيره د وضع کيدو نه پس په فاضل آمدن سره معلم دينيات ملحقه مدرسه جومات ته تنخواه هم ورکولې شی آيا دا شرعا جائز ده؟ آيا د تعمير نه بچ شوې رقم معطی (چنده ورکونکو) حضراتو په اجازت سره د دې مدرسه دينيه په اخراجاتو کې صرف کول جائز دی؟ بينواتوجروا

المستفتي: ملك رحمت دين شنكيارى مانسهره... ١٢ اكتوبر ١٩٧٥ء

الجواب: که دا جائيداد (کورونه او دکانونه وغيره) باقاعده وقف على الجومات وی عوامی وقف نه وی نو د فاضل گټې به د دې مدرسې په مدرسين باندې خرچ کول جائز نه وی، خو د جومات د تعمير نه بچ شوې چنده به معطين يا د هغوی د معتمد عليه په اجازت سره په دې کار کې خرچ کول جائز وی، بل په دې رقم سره د بې ضائع صرف شوی رقم وضع هم جائز ده. اما الاول فلما فى ردالمحتار ٣: ٣٧١ وظاهره انه لا يجوز صرف وقف مسجد خرب الى حوض وعكسه، وفى شرح الملتقى يصرف وقفها لاقرب مجانس لها(١) يقول العبد الضعيف فغير الخرب اولى به واما الثانى فلانه لم يخرج عن ملك المعطين فيكون الاذن اليهم فافهم. وهو الموفق

د فلمی هيرو وغيره نه د مسجد يا دارالعلوم وغيره د پاره د چندې اخستلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د يو جومات يا دارالعلوم دپاره فلمی هيرو مثلا بدر منير وغيره نه چنده اخستلو څه حکم دې؟ بينواتوجروا

المستفتي: امير رحمن... گيراړی سوړې سوات... ٢٩ رمضان المبارك ١٤١٠هـ

---

١) (ردالمحتار هامش الدر المختار ٣: ٤٠٧ قبيل مطلب فى نقل انقاض المسجد ونحوه)

الجواب: واضحه دې وي چې د کفارو نه هم د مقدس مقاماتو دپاره چنده اخستل جائز دي چې کله د اسلام د توهين خطره نه وي. (١) **وهوالموفق**

د طلباء علم د پاره به د مدرسې طعام د مدرسې د قانون يا په عرف بناء وي

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو طالب العلم په يومدرسه کې د داخلې فارم اخستلوسره داخله واخلي وروستو چې کله سبقونه شروع شي نو د سبقونو نه د عدم اطمينان په وجه باندې هفته دوه هفتې بلې مدرسې ته تلم او په خپله مدرسه کې هم د يو کتاب نه علاوه په نورو کتابونو کې شامليدم خو د خپلې مدرسې شرط دا دې چې زمونږ طالب العلم په بله مدرسه کې تعليم نه شي حاصلولوی، چې کله د څو ورځې تلو راتلو نه پس ئې سبقونه خوښ شو نو په بله مدرسه کې ئې داخله واخستله، آيا د دې طالب العلم دپاره به د دې هفتې دوه هفتو ډوډۍ اخستل حلال وي يا حرام؟ که حرام وي نو دې طالب العلم لره د دې د تدارك دپاره څه کول پکار دي؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: امتياز احمد مدرسه عربيه اشرف العلوم گوجرانواله... ٢٦ اپريل ١٩٦٩ء

الجواب: د زيات احتياط دپاره دې د چنده ورکونکو يا مهتمم نه تپوس وکړې شي چې په دې قسم معامله کې د هغوی قانون څه دې؟ يعنی چې کله د داخله ورکولو نه بغير په بله مدرسه کې سماع وکړې شي نو د داسې طالب العلم متعلق قانون څه دې چې هغه د خوراك مستحق دې يا نه دې؟ او که څه قانون معلوم نه وي نو د چنده ورکونکو (**بناءعلى العرف**) په نزد دا هيڅ جرم نه دې لهذا دا خوراك به حلال وي. (٢) **وهوالموفق**

---

١) قال العلامة ابن عابدين: يعني قد يكون مباحاً كما عبر في البحر والمراد انه ليس موضوعاً للتعبدية كالصلاة والحج بحيث لا يصح من الكافر اصلا بل التقرب به موقوف على نية القربة فهو بدونها مباح حتى يصح من الكافر- (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٣:٣٩٢ كتاب الوقف)

٢) قال الشيخ محمد خالد الآتاسي: المعروف عرفا... [بقيه حاشيه برصفحه آئنده

په مسجد کې د مدرسې جوړولو او د چا جبرا د مهتمم جوړیدلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: مدرسه صوت الاسلام چې د هغې د رجسټریشن په کاغذاتو باندې کافی خرچ شوې دې او فنډ هم موجود دې اوس د مدرسې په جومات کې شروع کیدونکې دې، خو د جومات د امام اصرار دې چې په دې شرط باندې به دلته مدرسه شروع کیږی چې اول دا کاغذات او د مدرسې نوم منسوخ کړی، بله دا چې اهتمام به زما په نوم وی، د امام په دې شرط باندې خرچه هم ضائع کیږی او فنډ ورته هم نه ملاویږی آیا دا شرط صحیح دې؟ مونږ د رفع د نزاع دپاره د قرآن کریم د حفظ نه کیدو تحریر ولیکلو ۲: آیا یو سړې جبرا مهتمم کیدې شی چې کله د مدرسې په بانی کې څه شرعی عذر مانع نه وی؟

۳: آیا د محلې یو سړې د جومات د امام د اجازت نه بغیر د اشاعت اسلام دپاره مدرسه قائم کولې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا تاج محمود صاحب شمس آباد اټک

الجواب: ۱: په مدرسه کې د قرآن درس جائز دې.(۱) مګر جومات له د جوماتیت نه ویستلو سره په مدرسه کې بدلول جائز نه دی. (۲) خو صرف په نوم کینبودلو کې هیڅ شرعی نقصان نشته.

بقیه ازحاشیه گذشته] کالمشروط شرطاً ای المعروف المعتاد بین الناس وان لم یذکر صریحاً فهو بمنزلة الصریح لدلالة العرف علیه... والحاصل ان المعروف عرفا کالمشروط ذکراً عند عدم التصریح بخلافه والا فالعبرة لما صرح به لا للعرف۔ (شرح المجلة للآتاسی ۱۰۰:۱ ماده:۴۳)

۱) قال العلامة ابن عابدین: ومن هنا یعلم جهل بعض مدرسی زماننا من منعهم من یدرس فی مسجد تقرر فی تدریسه وتمامه فی البحر۔ (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴۸۵:۱ بعید مطلب فی احکام المسجد)

۲) قال العلامة الحصکفی: ولو خرب ما حوله واستغنی عنه یبقی مسجدا عند الامام والثانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتی حاوی القدسی۔ (الدرالمختار ۴۰۶:۳ مطلب فیما لو خرب المسجد او غیره)

۲ په تغلب سره غیر بادشاه، بادشاه جوړیدې شی. (۱) اهتمام خو ادنی څیز دې ۳: د وقف تحویل ممنوع دې په غیر د اوقات الصلاة کې درس ورکول مشروع دی. وهوالموفق

د مسجد او مدرسې په موجودګئ د بل مسجد او مدرسې قیام نه ممنوع دې او نه مطلوب

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د کهپر او بنهر عیدګاه ایویکټویو پلاټ باندې واقع دې په ابتداء کې دا عیدګاه په یو وړوکی پلاټ باندې واقع وو وروستو د هغې احاطه وسیع کړې شوه، او ایویکټیو پلاټ نمبر ۴۳ تا ۵۲ او ۲۵ تا ۲۸ هم د هغې په احاطه کې شمار کیدل شروع شی، په دې پلاټونو کې پلاټ ۴۴ تا ۵۱ او ۲۲ تا ۲۸ پورې هم د دې په احاطې کې شمیرلې کیږی، په دې پلاټونو کې ۴۴ تا ۵۱ او ۲۲ تا ۲۸ د ادا کولو دپاره د محکمې د طرف نه په ۱۹۷۴ء کې نوټس موصول شوې وو او د عیدګاه متولی د بنهرونو نه چنده او د ورکړې په صورت کې رقم وصولولو سره په ۱۹۷۵ء کې جمع کړې وو په متذکره پلاټونو کې د پلاټ ۴۴، ۵۲ او ۲۵ الاټیمنټ او ادا کول هم لا باقی دی، اوس څو میاشتې مخکې پلاټ ۴۳ محکمه سیټلمنټ په خپل حکم ۱۲۸۵ تاریخ ۷ مارچ ۱۹۸۳ء د لاندې د جومات او مدرسې په نوم باندې الاټ کړې وو او د هغې قیمت یو اهل خیر جمع کړې وو چا چې دا پلاټ د جومات او مدرسې دپاره وقف کړې وو.

په ذکر شوی پلاټونو (څمکو) کې پلاټ ۵۲ او ۲۵ الاټیمنټ آرډر لاجاری کړې شوې نه وو او دا پلاټ هم د عیدګاه په حدود کې شامل دې د دې عیدګاه په یوه حصه کې یو جومات او د هغې سره تړلې دینی مدرسه څو کاله مخکې

---

۱) قال العلامة الحصکفی: (قوله وتصح سلطنة متغلب) ای من تولی بالقهر والغلبة بلا مبایعه اهل الحل والعقد وان استوفی الشروط المارة۔

(ردالمحتار هامش الدر المختار ۱:۴۰۵ باب الامامة)

قائم کړې شوې وه، کومه چې قائم او جاري ده اګر چې د څه خلقو په دې باندې اعتراض دې چې د دې جومات او مدرسې د قیام په سلسله کې باقاعده طور عیدګاه کمیتی یا د بل څه ادارې نه باقاعده منظوری نه وه حاصل کړې شوې چونکې متذکره جومات او مدرسه د عیدګاه دپاره حاصل کړې شوې پلاټ کې تعمیر کړې شوې وو.

پلاټ ۴۳ کوم چې څه خلقو د جومات او مدرسې دپاره حاصل کړې وو په هغې باندې د تعمیر د شروع کولو په غرض سره چار دیواری کول غواړی خو د بعض خلق په دې باندې اعتراض دې چې دا پلاټ د عیدګاه حصه پاتې شوې ده په دې وجه دې دا صرف عیدګاه اوګڼلې شی او ورسره دا چې چونکې یو جومات او مدرسه په عیدګاه کې د اول نه موجود ده په دې وجه دې بل جومات او مدرسه په هغې کې تعمیر نه کړې شی.

چه کله دا خبره د مقامی انتظامیه په نوټس کې راوستلې شوه نو مقامی حکامو یو هنګامی اجلاس منعقد کړو چې په هغې کې مقامی حکام، د عیدګاه متولی، د عیدګاه د کمیټۍ ممبران، مقامی کونسلر حضرات، د ښهر معززین او نور دلچسپی ساتونکی کسانو شرکت وکړو د اجلاس دوران شرکاء حضرات ښکاره د خپل خیالاتو اظهار وکړو چې زمونږ مخې ته چې کومه نکته زیر بحث راغله هغه دا وه چې آیا د موجود جومات او مدرسې په موجودګۍ کې کومه چې د عیدګاه په پلاټ باندې قائم ده د یو بل جومات او مدرسې د تعمیر کولو شرعی حکم څه دې؟ د بحث او مباحثې په نتیجه کې ټول شریکان حضرات په دې خبره باندې متفق شو چې دا یو مذهبی او دینی مسئله ده په دې وجه دې سلسله کې علماء حضرات او مفتیان کرام ته رجوع کول پکار دی، هغوی چې کومه رائې هم قائمه کړی هغه به قابل قبول وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: مختارکار... تحصیل دار کهپره ضلع سانګهر سنده... ٤ فروری ١٩٨٤ء

الجواب: یو جومات یا مدرسې ته نزدې جومات یا مدرسه جوړول نه ممنوع شرعی دې او نه مطلوب شرعی، د ضرورت او مصلحت لحاظ دې وساتلې شی. وهوالموفق

د مسلمه قانون په رڼا کې د مدرس معزول کول او مدرس ته د ورکړې شوې کتاب مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: که د یوې دینی مدرسې مهتمم خپله دوه کاله پخوانی مدرس ته د سابقه معمول او دستور خلاف د شوال په شروع کې د تحریری حاضرۍ رپورټ پیش کولو حکم ورکړی او مدرس د هغې تعمیل ونکړی خو د مخکې په شان مدرسې ته راځی او تدریس کوی تردې چې د نیمې ذی قعده د تیریدلو نه پس مهتمم په صراحت سره مدرس لره د مدرسې نه لرې کړی او د شوال او د نصف ذی قعده تنخواه مدرس ته نه ورکوی، او استدلال ئې دا دې چې د شوال د شروع نه د هغې تحریری حاضری رپورټ نه دې لهذا د معزول کولې شی آیا داسې مدرس لره لرې کول او تنخواه نه ورکول صحیح دی؟

۲: که یو مدرس هم د دې مدرسې دپاره د زکاة په صورت کې د چا نه څه کتاب وصول کړی خو معطی ته د مدرسې رسید ورنکړی او نه مهتمم خبر کړی بلکې کتاب ته جلد ولګوی او په خپل تصرف کې ئې راولی بیا چې کله د معزولۍ مطالبه کوی چې په هغې باندې مدرس د مدرسې د کتاب په ځای معطی ته رجوع وکړی او دا لیکل ترې واخلی چې ذکر شوې کتاب ما مدرس ته ورکړې دې هغه مختار دې چې چېرته غواړی استعمالولې ئې شی پس د تحریر نه مدرس د دې کتاب تملیک کولو سره په یوه بله مدرسه کې وقف کړی، آیا د هغه دپاره دا وقف جائز دې او که پخوانۍ مدرسې ته واپس کړې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد یوسف سلطانپوره راولپنډی... ۲۲ جولائی ۱۹۷٤ء

الجواب: ۱: که د دې مهتمم په مطبوعه قوانین کې دا قانون هم وی چې د دې مخصوص عادت د وجې نه مدرس معزول کړې شی، او د دې تقررۍ په وخت مدرس په دې باندې دستخط هم کړې وی نو دا موجود عزل صحیح دې کنه نو ظلم دې، او چونکې مدرس باقاعده تدریس کړې دې لهذا د هغه نه تنخواه وضع کول حرام دی. والکل بناء علی الاصل المشهور ای ان العادة محکمة کما فی الاشباه والنظائر.(۱)

---

۱) (الاشباه والنظائر لابن نجیم ۹۳ القاعدة السادسة)

۲: که دا مدرس د واقف وکیل وي یا د مهتمم سفیر وي او دا کتاب د مدرسې دپاره وقف کړې شوې وي نو په دې صورت کې د مزکي ذمه نه ده فارغ شوې او که مدرس ته تملیك کړې شوې وي چې هغه ئې په مدرسه کې داخل کړي نو په دې صورت کې دا مدرس د دې کتاب واحد مالك او مختار دې، لتمام الملك له. (۱) وهوالموفق

د وقف مدرسې په چنده سره د يو بوډا مدرس يا کارکن دپاره پنشن مقرر کول

سوال: په خدمت کې د جناب مفتی صاحب دار العلوم حقانیه اکوړه خټك؛

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! يو سړې کوم چې د دیني اداري خدمت کوي چې د هغې د ګټې ذرائع زیات تر زکاة وصدقات خیرات او عشر او څه عطیات وغیره سره پوره کولې شي د مدرسې څه مستقل آمدن نشته، د میاشتې مقرره چنده انتهائي لږه ده بعض وخت مصارف پوره کیږي او بعض وخت کم هم شي قرض وغیره اخستلو سره هغه پوره کولې شي بیا چې کله آمدن وشي نو هغه ادا کولې شي، د صدقه ورکونکو نیت دا وي چې په طالبانو باندې خرچ کړې شي او کوم خلق چې په دې کې نور خدمتونه کوي اوس که يو داسې سړې د اداري خدمت کولو کولو سره بوډا شي او د بوډاتوب د وجې نه هغه د خدمت قابل پاتې نه شي نو آیا داسې سړې د دې اداري نه د وظیفه اخستلو حق لري او حال دا چې نادار او غریب وي، آیا د مدرسې مهتمم یا ارکان عامله د دې اجازه لري چې د دې سړي دپاره پنشن (وظیفه) مقرر کړي یا په قدر د ګزارې وظیفه متعین کړي او حال دا چې د اداري په قواعد او ضوابط کې د دې قسم څه تصریح موجود نه ده بله دا چې ستاسو د اداري دې باره کې څه دستور دې؟ د وظیفې قانون او دستور هر چې مونږ ته معلوم دې په موجوده زمانه کې د بااختیار حکومتونو کار دې او دا هم واضح

---

۱) چونکه د زکاة په مال کښې تملیک شرط دې او دلته دا مدرس صرف وکیل، مزکي یا د مدرسې سفیر دې په دې وجه د مدرسې د طرف نه د باقاعده تملیک نه کیدو په وجه په صورت مسئوله کښې د زکاة ورکونکي ذمه نه ده فارغ شوې، او که دا مدرس زکاة لره خپله تملیک کړي نو بیا هغه ته اختیار دې چې په خپل استعمال کښې ئې راولي یا يو مدرسې یا يو سړي ته هبه یا صدقه کوي. وهوالموفق

کړئ چې د خلفاء راشدینو په وخت کې به هم داسې کیدل یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: دار الافتاء مدرسه نصرة العلوم گوجرانواله .... ۱۹ مئی ۱۹۷۵ء

الجواب: د چنده ورکونکی یا دهغوی معتمد علیه کس یا د کمیټي په اجازت سره دا پنشن، وغیره امداد مقرر کول جائز دی. لان الملاك هم المعطون دون القيم، نعم هو ملك فيكون الاذن اليهم لا اليه الا منهم فافهم. وهو الموفق

د مدرسې د فنډ نه یو مدرس ته قرض ورکول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په یو دینی مدرسه کې یو مدرس د مدرسې د فنډ نه په طور د قرض څه پیسې غواړی آیا د مدرسې د فنډ نه هغه ته قرض ورکول جائز دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولانا رحیم الله باچا......اضاخیل نوښهر ..... ۲۵ اګست ۱۹۸۴ء

الجواب: چنده ورکونکو یا د هغوی معتمد علیه (مهتمم) ته دا اختیار حاصل دې چې هغوی د دې فنډ نه قرضه ورکړی. (۱) وهو الموفق

د مدرسې چنده په طور د قرض اخستل او ورکول یا په مضاربت باندې د ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مدرسې د مهتمم دپاره د چندې نه قرض اخستل یا ورکول یا په مضاربت باندې ورکول (د مدرسې دپاره) څه حکم لری؟ بینوا توجروا

المستفتي: حافظ محمد حسن ... لاچی کوهاټ ... ۲۵ صفر المظفر ۱۴۰۴ھ

الجواب: چونکې چنده مخکې د خرچ نه د چنده ورکونکو د ملکیت نه نه خارج کیږی، لکون القيم ملكا وامينا لا ملكا ولا متولى الوقف، لهذا په دې چنده کې د اذن صریحی یا عرفی نه بغیر دا تصرفات جائزنه دی. والظاهر من عرف بلا دنا الاذن والتوكيل (۲) وهو الموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین: ان للمتولی اقراض مال المسجد بامر القاضی الخ۔ (رد المحتار هامش الدر المختار ۴: ۳۷۹ مطلب للقاضی اقراض مال الیتیم ونحوه)

(۲) یدل علیه ما فی الهندیة: القیم اذا اشتریٰ من ... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

بغیر د طلب نه د غیر مسلم نه د مدارس دپاره د چندې غوښتلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د دینی مدارس دپاره د غیر مسلم نه امداد او چنده وغیره طلب کول څنګه دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولانارحیم الله باچا..... اضاخیل.... ۱۳ نومبر ۱۹۸۵

الجواب: که امداد او استمداد د اسلام د ذلت نه خالی وی نو مشروع دې که نو غیر مشروع دې، والدلیل علیه حدیث البخاری هبة امر بیعاً (۱) وهوالموفق

د مدرسې د چندې نه د یو اهل خیر د پاره طعام یا د بیمار پرسن دپاره د تلو د خرچې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مدرسې د مفاد دپاره یو اهل خیر ته دعوت ورکولې شی بیا د مدرسې د فنډ نه د هغوی د خوارك بندوبست کولې شی، آیا دا جائز ده؟ هم دغه شان د مدرسې سرپرست چا چې د مدرسې دپاره ډیره قربانی کړې وی او کله هم چې د هغوی نه تعاون طلب کړې شوې دې بې دریغه مالی او قولی تعاون فرمائیلې دې، اتفاقی طور هغه بیماریدلو سره په هسپتال کې داخلیږی د هغوی د عیادت دپاره د منتظمه کیمیټئ مدرس سره د مهتمم نه د مدرسې د فنډ نه خرچ کولو سره د

بقیه ازحاشیه گذشته] غلة المسجد حانوتا او داراً ان یستغل ویباع عند الحاجة جاز ان کان له ولایة الشراء واذا جاز له ان یبیعه کذا فی السراجیة۔

(فتاویٰ عالمگیریة ۲:۴۶۲ الفصل الثانی فی الوقف علی المسجد وتصرف القیم)

(۱) عن عبد الرحمن بن ابی بکر رضی الله عنه قال کنا مع النبی ﷺ ثلثین ومأة فقال النبی ﷺ هل مع احد منکم طعام فاذا مع رجل صاع من طعام او نحوه فعجن ثم جاء رجل مشرک مشعان طویل بغنم یسوقها، فقال النبی ﷺ بیعاً ام عطیة او قال ام هبة، قال لا بل بیع فاشتریٰ منه شاة الخ۔

(صحیح البخاری ۱:۳۵۶ کتاب الهبة باب قبول الهدیة من المشرکین)

عبادت دپاره تلې شی؟ بینواتوجروا

المستفتي: شبیر احمد نوآبادی ... حیدر آباد ... ۱۷ مارچ ۱۹۷۵ء

الجواب: د چنده ورکونکو یا د هغوی د معتمد علیه (کمیټی) په اجازت سره دا دواړه کارونه جائز دی. لان هذا المال مملوك للمعطين الآن كما كان فيكون الاذن اذنهم. وهوالموفق

په مساجد په مکتب سکول جوړول ناجائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې آیا په جومات کې مکتب سکول جوړول جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتي: شمس الاسلام پیر غالب بابا شادی آباد

الجواب: په جومات کې مکتب سکول جوړول ناجائز دی، اول د تنخواه د وجې نه (حموی) (۱) دویم د جومات توهین او د هغې د ګنده کولو د وجې نه. (کنز العمال) (۲) او د صفایئ دلیل پیش کول صحیح نه دی، ځکه چې زخمی کول ناجائز دی اګر چې هغه اسپتال ته رسولې شی، دریم د کلو لوئي لوئي حجرې خالي پرتې دی خو د سترګو ازغې صرف مساجد دی. وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحموی: اقول الذی فی نسختی من منیة المفتی یکره کتابة العلم والقرآن فی المسجد باجرة... وفی الفتح معلم الصبیان کالکاتب ان باجر لایجوز وحسبت لا بأس به، وفی شرح الجامع الصغیر للتمرتاشی: ولایجوز تعلیم الصبیان القرآن فی المسجد للمروی جنبوا مجانینکم وصبیانکم مساجدکم انتهیٰ وهو صریح فی عدم الجواز سواء کان باجر او لا.

(شرح الحموی علی الاشباه والنظائر ۱۸۷:۳ القول فی احکام المسجد)

۲) حم م عن انس... ان هذه المساجد لا تصلح لشیئ من هذا القذر والبول والخلا وانما هی لذکر الله عزوجل والصلوٰة ولقراءة القرآن (کنزالعمال ۲۷:۷ رقم: ۲۰۷۸۹)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

(شپږم جلد)

کتاب الجهاد

بسم الله الرحمن الرحيم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوٰی فریدیه

كتاب الجهاد

عن انس قال رسول الله ﷺ:

جاهدوا المشركين باموالكم وانفسكم والسنتكم.

(رواه ابوداؤد)

....

کتاب الجهاد

باب شرائط الجهاد وغیره

جهاد فرض عین دې یا فرض کفایه؟

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې جهاد فرض عین دې یا فرض کفایه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مدرسین ضیاء العلوم دته خیل وزیرستان... ۱۸ شعبان ۱۴۰۱ھ

الجواب: جهاد کله فرض عین وی او کله فرض کفایه. (۱) وهوالموفق

د لفظ فی سبیل الله مصداق

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې لفظ د (فی سبیل الله) صرف په جهاد بالسیف پورې منحصر دې؟ او حال دا چې تبلیغی جماعت والا (فی سبیل الله) صرف په تبلیغ کې منحصر کنی، لهذا د (فی سبیل الله) صحیح مصداق څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالوکیل.... لنډی کوتل

الجواب: لفظ فی سبیل الله یو وسیع لفظ دې د دین اسلام او د الله پاک د رضا دپاره چې کوم محنت او مشقت کولې شی هغه ټولو ته دا لفظ شامل دې، مجاهد، حاجی، طالب علم وغیره ټول د دې مصداق دی، ه دین د یوې

---

۱) قال العلامة الموصلی: الجهاد فرض عین عند النفیر العام وکفایة عند عدمه. (الاختیار لتعلیل المختار ۱۴۲:۴ کتاب السیر)

خاص شعبې سره د دې تخصیص او نورې شعبې د دې نه بهر کول غلط فهمی یا بدفهمی ده وفی ردالمحتار ۳: ۶۷ وقد قال فی البدائع فی سبیل الله جمیع القرب فیدخل فیه کل من سعیٰ فی طاعة الله تعالیٰ وسبیل الخیرات اذا کان محتاجاً انتهی (۱)۔ وهوالموفق

د باطل خلاف د دفاعی او اقدامی جهاد مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په لویه مجمع کې وویل چې که مونږ جهاد لره مدافعانه جنګ تصور نه کړو نو اسلام به ډیر بدنام شی او د مغربی قومونو پیغورونه به مونږ ته راځی چې اسلام یو وینه تویونکې مذهب دې وغیره، نو آیا په اسلام کې د دفاعی جهاد نه علاوه د اقدامی جهاد تصور موجود دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: صاحب زاده صفی الله... ضلع دیر

الجواب: د باطل په مقابله کې جهاد کول مدافعانه او غیر مدافعانه دواړه جائز دی. (۲) په دې باندې د ټولو عقلاء اتفاق دې، که مسلمانان وی یا کافر،

---

۱) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۶۷ کتاب الجهاد)

۲) قال العلامة الحصکفی رحمه الله: هو فرض کفایة ابتداء وان لم یبدؤنا۔ وقال العلامة الشامی رحمة الله علیه: ثم اعلم ان الامر بالقتال نزل مرتبا فقد کان ﷺ مأمورا اولا بالتبلیغ والاعراض ثم المجادلة بالاحسن ثم اذن لهم بالقتال ثم امروا بالقتال ان قاتلوهم ثم امروا به بشرط انسلاخ الاشهر الحرم ثم امروا به مطلقا واستقر الامر علی هذا سرخسی ملخصا یعنی فی جمیع الازمان والاماکن۔

(الدرالمختار مع ردالمحتار ۳: ۲۳۹ کتاب الجهاد، مطلب فی الفرق بین فرض عین الخ)

وفی المرقاة: قتال الکفار الذین لم یسلموا وهم من مشرکی العرب اولم یسلموا ولم یعطوا الجزیة من غیرهم واجب وان لم یبدؤنا لان الادلة الموجبة لم تقید الوجوب ببدئهم۔

(مرقاة المفاتیح ۷: ۲۸۸ کتاب الجهاد، الجهاد الاقدامی حق)

بله دا چې د کوم مفسد فساد او د مریض مرض د عام او متعدی کیدو خطره لرى د هغې فساد انسداد کول معقول او مسلم دى او په دې کې شك نشته چې د کفارو عقیده باطل ده او فاسد ده او د هغې د تعدیه خطره هم موجود دې، لهذا د هغوى خلاف جنګ خصوصا چې کله د خیرخواهئ په ارادې سره وى په دې کې هیڅ قابل اعتراض څیز نشته. (۱) په دې شرط چې د هغې ذهن د غیر قوم تهذیب (تعذیب) باندې نه وى ګنده شوې فقط. **وهوالموفق**

د نفیر عام مطلب او حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې د نفیرعام څه معنی او تعریف دې؟ او په کومو حالاتو کې د نفیرعام حکم جارى کیږى؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حاجی فضل اکبر ضلع صوابی... ۲۶ ربیع الاول ۱۴۰۱هـ

---

(۱) قال الامام ولى الله الدهلوى: اعلم ان اتم الشرائع واکمل النوامیس هوالشرع الذى یؤمر فیه بالجهاد وذلک لان تکلیف الله عباده بما امر ونهى مثله کمثل رجل مرض عبیده فامر رجلا من خاصته ان یسقیهم دواء، فلو انه قهرهم على شرب الدواء واوجره فى افواهم لکان حقا لکن الرحمة اقتضت ان یبین لهم فوائد الدواء لیشربوه على رغبة فیه، وان یخلط معه العسل لیتعاضد فیه الرغبة الطبیعیة والعقلیة، ثم ان کثیرا من الناس یغلب علیهم الشهوات الدنیة والاخلاق السبعیة ووساوس الشیطان فى حب الریاسات ویلصق بقلوبهم رسوم آبائهم فلا یسمعون تلک الفوائد ولا یذعنون لما یأمر به النبى ﷺ ولا یتأملون فى حسنه فلیست الرحمة فى حق اولئک ان یقتصر على اثبات الحجة علیهم بل الرحمة فى حقهم ان یقهروا لیدخل الایمان علیهم على رغم انفهم بمنزلة ایجاد الدواء المر ولا قهر الا بقتل من له منهم نکایة شدیدة وتمنع قوى او تفریق منعتهم وسلب اموالهم حتى یصیروا لا یقدرون على شیئ فعند ذلک یدخل اتباعهم وذراریهم فى الایمان برغبة وطوع. (حجة الله البالغة ۲:۱۷۰ الجهاد)

الجواب: چې کله د کفارو فوجونه د مسلمانانو په وطن کې داخل شي نو دا نفیر عام دې. (شامی) (۱) وهوالموفق.

د دوه مسلمان ملکونو ترمينځه د جنګ په صورت کې د خاموش وسيدو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يو سړې د پاکستان په سرحد باندې وسيږي او د سرحد نه پورې غاړه د کابل علاقه ده په دواړو ملکونو کې د مسلمانانو حکومت دې که ناڅاپه د دواړو ملکونو ترمينځه هنګامی حالات پيدا کيږي نو په مونږ باندې د چا حمايت لازم دې او که خاموشی اختيارول پکار دی؟ بينواتوجروا

المستفتی: مولوی سید ولی ...۶ جمادی الثانی ..۱۳۹۵ھ

الجواب: که په هغوی کې يو سړې د دين حمايت نه کوی نو خاموش او غير جانبدار دې کيني. (۲)

كما حكم النبي ﷺ عند الفتنة والفساد بين المسلمين حيث قال فان تمت يا حذيفة وانت عاض على جذل خيرلك من ان تتبع احدا منهم (رواه ابوداؤد) (۳). وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الشامی: (قوله ان هجم العدو) ای دخل بلدة بغتةوهذه الحالة تسمی النفیر العام ، قال فی الاختیار والنفیر العام ان یحتاج الی جمیع المسلمین فیخرج الکل. (ردالمحتار ۳:۲۴۲ کتاب الجهاد)

۲) قال العلامة ابن عابدین: والمروی عن ابی حنیفة من قول الفتنة اذا وقعت بین المسلمین فالواجب علی کل مسلم ان یعتزل الفتنة ویقعد فی بیته.
(ردالمحتار هامش الدر المختار ۳:۳۴۰ باب البغاة، مطلب فی وجوب طاعة الامام)

۳) (سنن ابی داؤد ۲:۵۸۲ کتاب الفتن)

د مجاهد د پاره د تنخواه اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يو سړې په دې شرط باندې د جهاد دپاره ځی چې د جهاد امير هغه ته متعين رقم يا تنخواه ورکوی مثلا مجاهد د جهاد امير ته اوائی چې ماته زر درهم د اهل وعيال د نفقې خرچې دپاره راکړه نو بيا به تاسره د جهاد دپاره ځم کنه نو نه ځم، پس که امير هغه ته دغه متعين رقم ورکړی او د جهاد دپاره لاړ شی نو آيا د مزدوری اخستلو په وجه به د هغه د فرضيت ذمه ساقط شی؟ او دې که قتل شی نو آيا هغه ته به د شهادت مرتبه ملاويږی؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: محمد نبی استاذ... مانکئ صوابی.... ۲۶ جمادی الاولی ۱۴۰۱ھ

الجواب: دا اعانت دې اجاره نه ده. (۱) **وهکذا سائر الامراء ايضا، لانهم ان يعطوا فيجاهدون ولا فلا يجاهدون بل لايستطيعون. وهوالموفق**

د جهاد دوران کې د امير د مقرر کولو او اطاعت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې آيا د جهاد دوران د مجاهدين دپاره د خپل مينځ نه د امير تقرر لازمی دې؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: گل محمد افغانی.... پيښور کيمپ

---

(۱) قال الشيخ ظفر احمد العثمانی: ان رسول الله ﷺ قال: للغازی اجره وللجاعل اجره واجر الغازی، قلت: ودلالته علی جواز اخذ الجعل واعطاء ه ظاهرة من حيث ان النبی ﷺ مدح الجاعل ورغبه فيه وذلک لا يکون الا فيما کان جائزاً لکن الجواز مقيد بالضرورة کأن يکون الغازی معسرا محتاجاً الی نفقة اهله يخاف عليهم الضياع بخروجه الی العزو... فياخذ من کان محتاجاً اليه لنفقة اهله من بعده او للزاد والراحلة فلا بأس... کراهة اخذ الجعل علی الغزو اذا کان علی وجه البيع والشراء واما ان کان علی وجه الاعانة والاستعانة فلا کراهة. (اعلاء السنن ۱۳: ۱۲ باب جواز الجعل عند الضرورة)

الجواب: د جهاد دوران د انتظام د برابرولو او د ترتیب دپاره د جنګ ماهر او د هغې نه خبر یو نیك متبع سنت امیر مقرر کول او د هغه اطاعت ضروری او بنه اقدام دې چې انتشار پیدا نه شی او نظم او ترتیب صحیح کړې شی. وفی ردالمحتار ۳:۲۳۴ قال فی الملتقی وینبغی الامام ان یعرض الجیش عند دخول دارالحرب لیعلم الفارس من الراجل قال فی شرحه وان یکتب اسماء هم وان یؤمر علیهم من کان بصیراً بامور الحرب وتدبیرها ولو من الموالی وعلیهم طاعته لان مخالفة الامیر حرام الا اذا اتفق الاکثر انه ضرر فیتبعهم(١). وهوالموفق

چه د جهاد د امیر په حکم کې ضرر او نقصان ښکاره وی نو تعمیل ضروری نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جهاد دوران د حملې په صورت کې د مغلوب کیدو یقین وی او کمانډر د حملې حکم وکړی نو آیا د دې ضرر او نقصان باوجود کمانډر یعنی د امیر حکم منل ضروری دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالاکبر صادق... مقیم حال چارسده

الجواب: که د ضرر او نقصان ویره وی او د کمانډر د حکم په تعمیل کې څه فائده په ظاهر کې نه وی، بله دا چې د دې حملې کفارو ته د نقصان او ضرر احتمال هم نه وی نو په دې صورت کې د کمانډر (امیر) د حکم تعمیل ضروری نه دې. لما فی الهندیة ۱۹۲/۲ وان علموا انهم لا ینتفعون به بیقین بل یتضررون لایطیعونه فی ذلك(٢) وکذافی ردالمختار ۱۲٤/٤ (٣) وهوالموفق

---

١) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳:۲۳۴ فصل فی کیفیة القسمة کتاب الجهاد)

٢) (فتاوی عالمگیریة ۲:۱۹۲ کتاب السیر الباب الاول)

٣) قال العلامة ابن عابدین: فاما اذا علم ان لا ینکی فیهم فانه لا یحل له ان یحمل علیهم لانه لا یحصل بحملته شیئ من اعزاز الدین.
(ردالمحتار هامش الدرالمختار ۴:۱۲۷ کتاب الجهاد مطلب اذا علم انه یقتل یجوز له الخ)

اهل زیغ سره د جنګ کولو حکم

سوال: چې میفر مائد علماء کرام درین مسئله که محاربه اهل زیغ راحکم چیست؟ بینواتوجروا

المستفتي: نامعلوم ..... ٣ شعبان ١٤٠١هـ

الجواب: محاربه اهل زیغ مشروع است (١) ولیکن درحالت محاربت ومرابطت درین اقدام شهد زهر الوده است. وهوالموفق

د مجاهد دپاره بریتونه غټول جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې آیا د مجاهدینو دپاره د جهاد دوران کې بریتونه غټول جائز دی چې په کفارو باندې رعب راشی؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد ولی مجاهد جنوبی وزیرستان وانا

الجواب: په دشمن باندې د رعب اچولو او د هغوی د لادې کولو دپاره د مجاهد دپاره د جهاد دوران بریت غټول جائز دی، وفی الهندیة٣٥٦/٥ قالوالاباس عن طول الشارب للغزاة لیکون اهیب فی عین العدوکذافی الغیاثیة انتهی(٢) وکذافی البحر٧٦/٥ فلیراجع(٣) وهوالموفق

---

١) وفی الهندیة: اهل البغی کل فرقة لهم منعة یتغلبون ویجتمعون ویقاتلون اهل العدل بتأویل ویقولون الحق معنا ویدّعون الولایة... یحل للامام العدل ان یقاتلهم وان لم یبدؤا بقتاله وهذا مذهبنا. (فتاوی عالمګیریة ٢٨٣:٢ الباب العاشر فی البغاة)

٢) (فتاوی عالمګیریة ٣٥٨:٥ کتاب الکراهیة)

٣) قال العلامة ابن نجیم: ویندب للمجاهد فی دارالحرب توفیر الاظفار وان کان قصها من الفطرة لانه اذا سقط السلاح من یده ودنامنه العدو ربما یتمکن من دفعه باظافیره وهو نظیر قصر الشوارب فانه سنة ثم الغازی فی دارالحرب... [بقیه حاشیه برصفحه آئنده

د جنګی حکمت عملئ په صورت کښې د ګیرې لرې کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې آیا د مسلمان فوجی یا غازی دپاره د جنګی حکمت عملئ د لاندې د ګیرې لرې کولو اجازت دې یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: د ګیرې لرې کولو اجازت نه غازی ته ورکړې شوې دې او نه غیر غازی ته (۱) خو د غازی دپاره د ګیرې تورولو اجازت او د بریتو لویولو او اوږدولو اجازت دې. لما فی الهندیة ۵:۲۶۴ واما الخضاب بالسواد فمن فعل ذلك من الغزاة لیکون اهیب فی اعین العدو فهو محمود منه اتفق علیه المشائخ رحمهم الله تعالیٰ(۲) وفیها ایضاً قالوا لا بد عن طول الشارب للغزاة لیکون اهیب فی عین العدو وکذا فی الغیاثیة(۳)۔ وهو الموفق

په جنګ کښې د (الحرب خدعة) تصور

سوال: مایقول العلماء الکرام فی المسئلة الأتیة: هل یجوز الخدع مع الکفار فی الحرب ام لا؟ کیف ماکانت الخدیعة؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم ... ۱۸ جمادی الاول ۱۴۰۲ هـ

بقیه ازحاشیه گذشته] مندوب الی توقیرها وتطویلها لیکون اهیب فی عین من یبارزه والحاصل ان ما یعین المرء علی الجهاد فهو مندوب الی اکتسابه لما فیه من اعزاز المسلمین وقهر المشرکین۔ (البحر الرائق ۵:۷۶ کتاب السیر)

۱) عن ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما قال: قال رسول الله ﷺ: خالفوا المشرکین احفوا الشوارب واوفوا اللحی۔ (الصحیح لمسلم ۱:۱۲۸ باب خصال الفطرة)

۲) (فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۵۹ کتاب الکراهیة، الباب العشرون فی الزینة)

۳) (فتاویٰ عالمگیریة ۵:۳۵۸ کتاب الکرایة، الباب التاسع عشر فی الختان)

الجواب: قال رسول الله ﷺ الحرب خدعة۔ رواه البخاری وغیره) قال النووی واتفقوا علی جواز خداع الکفار فی الحرب کیفما امکن الا ان یکون فیه نقض عهد اوامان، وفی شرح السیر الکبیر للسرخسی ١: ٨٣ بعد ذکر الحدیث ما نصه، وفیه دلیل علی انه لا بأس للمجاهد ان یخادع قرنه فی حالة القتال، (اعلاء السنن ١٢: ٤٥)۔

وفیه ایضا ما ملخصه ان المذهب انه لیس المراد (من جواز الکذب فی الحرب) الکذب المحض وانما المراد استعمال المعاریض، والحق جواز الکذب الصریح اذا لم یقدر علی التعریض، وکلام السرخسی محمول علی الاحتیاط(١) وفی البحر ٥: ١٢٣ ویکفر بوضع قلنسوة المجوسی علی رأسه علی الصحیح الا لضرورة دفع الحر والبرد وبشد الزنار فی وسطه الا اذا فعل ذلك خدیعة فی حرب وطلیعة للمسلمین (٢)، وفی الخلاصة لوشد الزنار قال ابوجعفر الاستروشنی ان فعله لتخلیص الاساری لا یکفروالا کفر ٤: ٣٨٧ (٣)۔ وهوالموفق

د نفیر عام نه کیدو په صورت کې د عوامو د جهاد د پاره تلل د مواخذې سبب نه دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړي کوېژدن شوې ده او لاتې واده نه دې شوې او د افغانستان د جهاد دپاره تلل

١) (اعلاء السنن ٦٠،٥٩: ١٢ کتاب السیر، باب الحرب خدعة وجواز الکذب فی الحرب)

٢) (البحر الرائق ٥: ١٢٣ کتاب السیر، باب احکام المرتدین)

٣) (خلاصة الفتاوی ٤: ٣٨٧ کتاب الفاظ الکفر، الفصل الثانی، الجنس السادس)

غواړي، د مور پلار د طرف نه ورته د تلو اجازت ملاؤ شوې دې لهذا که دا سړې د جهاد دپاره لاړ شي نو څه مواخذه خو به نه وي؟ بينواتوجروا

المستفتي: بشير احمد مروت بنون... ٢٥ جمادى الثانى... ١٤٠٢ هجرى

الجواب: دا جهاد په عوام باندې فرض عين نه دې د هغوى دپاره د دې ترک رخصت دې، پس په صورت مسئوله کې د دې سړي د جهاد دپاره نه تلل د مواخذې سبب نه دې، (مأخوذازشامى) (١) وهندية(٢) وهوالموفق

اشتراکیت د قرآن او حدیث خلاف او د دې خلاف جهاد مشروع دې

سوال: چې ميفرمايد علماء دين درين مسئله که در صورتيکه ببرک کارمل واعضائى اومدعيان اسلام وكلمه او را برزبان ميرا انديشان منافقين، هست يا مجاهدين؟ در صورة منافقين بودن بهر ايشان جهاد لسانى هست؟ بينواتوجروا

المستفتي: عبدالغفور مهاجر فاضل حقانيه... ١٣ ربيع الاول

---

١) قال العلامة الحصكفى: ولا بد لفرضيته من قيد آخر وهو الاستطاعة وفى السراج وشرط لوجوبه القدرة على السلاح لا امن الطريق فان علم انه اذا حارب قتل ولم يحارب اسر لم يلزمه القتال ويقبل خبر المستنفر ومنادى السلطان ولو كان كل منهما فاسقا (درمختار).

وقال العلامة ابن عابدين: يجب على الامام ان يبعث سرية الى دار الحرب كل سنة مرة او مرتين وعلى الرعية اعانته فان لم يبعث كان كل الاثم عليه.

(ردالمحتار مع الدر المختار ٣:٢٣٩،٢٤٢ كتاب الجهاد)

٢) وفى الهندية: واما شرط اباحته... والثانى ان يرجو الشوكة لاهل الاسلام باجتهاده او باجتهاد من يعتقد فى اجتهاده ورأيه وان كان لا يرجو القوة والشوكة للمسلمين فى القتال فانه لا يحل له القتال لما فيه من القاء نفسه فى التهلكة... ثم يستوى ان يكون المستنفر عدلا او فاسقاً يقبل خبره فى ذلک وكذا منادى السلطان.

(فتاوىٰ هندية ٢:١٨٨ كتاب السير الباب الاول)

الجواب: چونکي ببرک کارمل ومعاونین او ایمان به اشتراکیت دارد واشتراکیت از تصادم با قرآن وحدیث کفر جلی است (۱) لهذا ببرک کارمل وغیره هر نوع جهاد مشروع ومطلوب است. (۲) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة المفتي محمود حسن : الجواب حامدا ومصليا : د کمیونزم بنیاد هم په دې باندې دې چې انسان د مذهب سره په جنګ کړې شي، پس "واټ کمیونزم ازدیب" کښې دی چې : د کمیونزم ممبر د هغه سرې نه علاوه بل څوک جوړیدې نه شي چې صفا صفا د دې خبرې اعلان اونکړي چې هغه دهریه دې یعنی د الله پاک منکر دې، اینجلز لیکی چې : زمونږ پارټی طبقه دار شعور لری، او د مزدورانو د آزادۍ دپاره کوشش کوی، داسې پارټی د مذهبی اعتقاداتو نه پیدا کړی جهالت نه غفلت نه شی کولې، زمونږ بنیادی مقصد دادې چې د مذهبی دهوکې خوړلونه خلق ویستلې شی. مارکس د مذهب په انفرادی معامله باندې تبصره کولو سره ویلې دی چې : مونږ لره قدم وړاندې کولو سره انسانیت لره د مذهب د اقتدار نه آزادول دی، په مذهب باندې تنقید د علم تنقید بنیاد دې. (مارکس سوشلزم ۱۹۲) مذهب د عوامو په حق کښ د افیون په شان اثر لری. (حواله سابقه) مذهب د غلامۍ د نظام د پخوانۍ چغې راتبیدلې آواز دې. (کمیونسټ مینو فیستو کی تشریح دفعه ۵۵) په کمیونزم باندې بحث کولو سره د حکم الاسلام في الاشتراکیة مصنف لیکی: ان العقیدة الاساسیة للنظام الاشتراکی هی العقیدة المادیة التی تقول: ان المادة هی اصل الاشیاء: ولا شیئ لغیر المادة وهذا یعنی انکار وجود الخالق العظیم سبحانه وتعالیٰ، وبالتالی انکار کل دین سماوی واعتبارها الایمان بذلک افیونا یخدر الشعوب کما یعتقد بذلک المارکسیون والتیتویون وامثالهم. (حکم الاسلام فی الاشتراکیة ۱۱۹) او کیمونزم هم یو تحریک نه دې بلکه یو نوې مذهب دې، دا د کمیونزم اجمالی خاکه ده چې د هغې نه هم ښه واضحه شوه چې د اعتقاد په اعتبار هم هغه صراحة د اسلام خلاف دې.

۲) قال العلامة المرغینانی : وقتال الکفار واجب وان لم یبدوا للعمومات. (الهدایة ۲:۵۵۹ کتاب السیر)

که د جنګ دوران کې کافر کلمه ولولي نو د هغه قتلول جائز نه دي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که د جنګ دوران یو کافر او د الله پاك منکر د غازیانو مخکې کلمه توحید ولولي او اسلام قبول کړي نو آیا د اسلام د قبلولو نه پس د هغه قتلول جائز دي؟ اګر چې په دروغه د اقرار احتمال هم وي؟ بینواتوجروا

المستفتي: انور سادات... طالب علم زرګري

الجواب: د جنګ په حالت کې که یو غیر مسلم د ایمان اظهار وکړي او کلمه توحید لوستلو سره د الله پاك د وحدانیت اقرار وکړي نو هغه به نه شي قتلولې، د ایمان په اقرار باندې به اکتفاء کولې شي. **وفي الهندیة ٢: ١٩٥ قال القدوري في كتابه الكفار على نوعين فهم من يجحد البارى عزوجل ومنهم من يقربه الا انه ينكر وحدانيته كعبدة الاوثان فمن انكره اذا اقربه يحكم بأسلامه ومن اقر ويجحد وحدانيته اذا اقر بوحدانيته بأن قال لا اله الا الله يحكم بالاسلام(١).** وهوالموفق

د جهاد دوران کې د کفارو د ماشومانو او زنانو د قتل کیدو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د هغه خلقو د اولاد د قتل کیدو څه حکم دې کوم چې د دهریانو او روسیانو نه وسله اخلي او د مجاهدینو خلاف جنګ کوي، ځکه چې دا خلق په خپلو کورونو کې دننه وي چې په هغې کې د هغوی سره د هغوی ماشومان او ښځې هم وي، او په کورنو کې دننه جنګیږي نو په دې دور کې د نوې وسلې مثلا راکټ لانچر په استعمال سره د هغوی ماشومان وغیره هم مري نو د دې څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولوی کمال محمد کرم ایجنسي... ١٥ شوال ١٤٠١ھ

(١) (فتاوی عالمګیریة ٢: ١٩٥ کتاب السیر الباب الثاني في کیفیة القتال)

الجواب: جاز قتلم لا عن قصد(۱) کما فی ردالمحتار ۲: ۳۰۸ لکن جواز التحریق والتغریق مقید کما فی شرح السیر بما اذا لم یتمکنوا من الظفر بهم بدون ذلك بلا مشقة عظیمة فان تمکنوا بدونها فلا یجوز لان فیه اهلاك اطفالهم ونساءهم ومن عندهم من المسلمین (۲)۔ وهوالموفق

د دهریانو او د هغوی د معاونینو خلاف د جنګیدلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې کوم خلق د دهری حکومت نه وسله اخستلو سره د مجاهدینو خلاف جنګیږی هغوی لره د قتلولو او هغوی سره د جهاد کولو څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی کمال محمد کرم ایجنسی صده ... ۱۵ شوال ۱۴۰۱ھ

الجواب: د دهریانو خلاف د هغوی د کفر د وجې نه جنګ کول مشروع دی (۳) او هم دغه شان د هغوی د معاونینو او مدافعینو خلاف هم (۴) قال الله

---

۱) قال الشیخ ظفر احمد العثمانی: عن الصعب بن جثامة ان رسول الله ﷺ سئل عن اهل الدار من المشرکین یبیتون فیصاب من نسائهم وذراریهم ثم قال هم منهم، (قوله عن الصعب) دلالته علی ان لا بأس بقتل النساء والذریة تبعاً من غیر عمد حیث لا مفر عن قتلهم ظاهرة۔ (اعلاء السنن ۲۶: ۱۲ کتاب السیر باب من لا یجوز قتله)

۲) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ۳: ۲۴۴ قبیل مطلب فی ان الکفار مخاطبون ندباً)

۳) قال العلامة المرغینانی: قتال الکفار واجب وان لم یبدوا للعمومات۔ (هدایة ۲: ۵۵۹ کتاب السیر)

۴) قال الشیخ الطرابلسی: سئلت عن بلدة استولی علیها الکفار وتمکنوا منها فانضم الیهم بعض القبائل والعشائر وصاروا یقاتلون معهم المسلمین وینهبون مالهم وینصحون الکفار ویعینوهم علی اذی المسلمین ... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

تبارك وتعالى: ومن يتولهم منكم فانه منهم (١) وهوالموفق

د جهادی فلمونو او تصویرانو جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د افغانستان د جهاد دپاره په خلقو کې د جذبې پیدا کولو دپاره جهادی فلمونه جوړول او عکاسی یعنی تصویران ویستل جائز دی یا ناجائز؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی محمد یونس خالص امیر حزب اسلامی افغانستان... ٢٤ نومبر ١٩٨٥ء

الجواب: واضح باد که تصویر کشی حیوان ونکریسین بدنهائے زنان وتصویرات ایشان وشنیدن سرود ها یا عکس ایشان ناجائز امور اند، لورود اللعنة وغیرها على المصور (٢) ولحدیث کانه ینظر الیها (٣) البته در وقت

بقیه ازحاشیه گذشته] فکانوا اشد ضرراً على المسلمین من الکفار فما الحکم فیهم وهذا حالهم؟ فالجواب انی لم اقف على حکم هؤلاء فی کتب مذهبنا معاشر الحنفیة ولکن وقفت عن حکمهم فی کتب بعض السادة المالکیة والظاهر ان حکم هؤلاء حکم اهل الحرب فی قتلهم واخذ مالهم... لکونهم رداً لعدو الحرب ومعینون له بانفسهم وحکم الردء اذا لم یقاتل مع العد وحکم المقاتل فاحرى اذا قاتل۔ (الفتاویٰ الکاملیة ٢٥٠ کتاب الجنایات)

١) (سورة المائدة: ٥١)

٢) قال الله تعالیٰ: ان الذین یؤذون الله ورسوله لعنهم الله فی الدنیا والآخرة واعد لهم عذابا مهینا، وقال عکرمة معناه بالتصویر والتعرض لفعل مالا یفعله الا الله بنحت الصور وغیرها وقد قال رسول الله ﷺ لعن الله المصورون۔
(الجامع لاحکام القرآن للقرطبی ١٦:٢١٢ سورة الاحزاب آیت: ٥٧)

٣) عن ابن مسعود قال قال رسول الله ﷺ لا تباشر المرأة المرأة فتنعتها لزوجها کانه ینظر الیها متفق علیه۔ (مشکواة المصابیح ٢٦٨ کتاب النکاح، باب النظر الى المخطوبة الخ)

تعارض بضرورت مختار کردن، اهون البلیتین فعلا واقل المفسدتین در قواعد مسلمه اند، کما فی شرح المجلة (١) وشرح التنویر (٢) والاشباه والنظائر (٣) چون قتل مسلم تاجر یا اسیر وغیره یا سماعت مزامیر از مجاهدین که فساق باشند، وغیرذلك کما فی الهندیة (٤) پس این فلمها از دیگر فلمها ندارند. وهوالموفق

د کفارو د پاره د جاسوسی کونکی مسلمان حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې د مسلمان جاسوس کوم چې د کفارو دپاره جاسوسی کوی هغه به قتلولې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم...... ١٨ جمادی الاول ١٤٠٢ھ

الجواب: زمونږ په نزد به مسلمان جاسوس نه شی قتلولې کما فی اعلاء السنن ١٢: ٤٢ فی شرح السیر الکبیر قال اذا وجد المسلمون رجلاً ممن یدعی الاسلام معیناً للمشرکین علی المسلمین یکتب الیهم بعوراتهم فاقر بذلك طوعاً

---

١) فی شرح المجلة یختار اهون الشرین (شرح المجلة ٧٥: ١ المادة: ٢٩)

٢) فی شرح التنویر: والضابط ان من ابتلی ببلیتین فان تساویا خیر وان اختلفا اختار الاخف. (الدرالمختار ٣٠٣: ١ کتاب الصلوٰة، باب شروط الصلوٰة)

٣) وفی الاشباه والنظائر: وهی ما اذا تعارض مفسدتان روعی اعظمها ضررا بارتکاب اخفهما. (الاشباه والنظائر ٨٩ القاعدة الخامسة الضرر یزال)

٤) وفی الهندیة: ولا بأس برمیهم وان کان فیهم مسلم اسیر اوتاجر وان تترسوا بصبیان المسلمین او بالاساری لم یکفوا عن رمیهم ویقصدون بالرمی الکفار... قوم من الصلحاء یریدون الغزو ومعهم قوم من اهل الفساد یخرجون الی الغزو ومعهم مزامیر فان امکن للصلحاء الخروج بدونهم لا یخرجون معهم وان لم یمکن الخروج الا معهم یخرون معهم. (فتاویٰ عالمگیریة ١٩٤: ٢ الباب الثانی فی کیفیة القتال)

فانه لا يقتل ولكن الامام يوجعه عقوبة[1] وكذا صرح به النووى ونسبه الى الشافعي والاوزاعي وابى حنيفة وبعض المالكية[2]۔ وهوالموفق

د كفارو دپاره جاسوسى كونكى مسلمان لره په طور د تعزير قتلول

سوال: څه فرمائى علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې کله يو مسلمان د كفارو دپاره جاسوسى وکړی چې د هغې په نتيجه کې ډير مسلمان قتل شی، آيا د دې قسم جاسوس قتلول جائز دى يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتى: نامعلوم ... ۲۸ جمادى الثانى ... ۱۴۰۴ھ

الجواب: دا قسم جاسوس تعزيرا قتلول جائز دى. (كما فى الهندية ۱۸۸/۲)[3] وهوالموفق

د جاسوسئ په شک چا لره قتلول جرم دې

سوال: څه فرمائى علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې په افغانستان کې مجاهدينو يو سړی د يوې ډلې امير جوړ کړې دې دا امير د حکومت دفترونو ته هم ځی او د هغه افرادو کله هم جهاد نه دې کړې، اوس د دې امير دپاره څه حکم دې؟ هغه لره د حکومت سړې ګڼلو سره سزا ورکړې شی حال دا

---

[1] (اعلاء السنن ۱۲:۵٦ باب الجاسوس)

[2] قال العلامة النواوى: ومذهب الشافعى وطائفة ان الجاسوس المسلم يعزر ولا يجوز قتله وقال بعض المالكية يقتل الا ان يتوب وبعضهم يقتل وان تاب وقال مالك يجتهد فيه الامام۔ (حاشية النووى على صحيح مسلم ۲:۳۰۲ باب من فضائل حاطب بن ابى بلتعة)

[3] وفى الهندية: المكابر بالظلم وقطاع الطريق وصاحب المكس وجميع الظلمة والاعوان والسعادة يباح قتل الكل ويثاب قاتلهم كذا فى النهر الفائق۔ (فتاوى عالمگيرية ۲:۱٦۷ فصل فى التعزير)

چې حکومت د مجاهدینو سره په معمولي تعاون سره چې یو سړی باندې خبردار شي نو هغه وژني، لهذا شرعي حکم څۀ دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالمجید حقاني فاضل حقانیه .... ١٢ ربیع الثاني ١٤٠٢ھ

الجواب: صرف په دې شك سره قتل کونکې مجرم دې (١) داسې شبهات خو په مجاهدین او مهاجرین باندې هم کیدې شي په دوی کې د روس کسان ضرور موجود دی. **والله اعلم**

د وطن او اسلامي سرحد حفاظت د حقوق الله نه دی

سوال: څۀ فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې کوم خلق په فوج کې بهرتي شوې دی د هغوی ذهن دا جوړیږی چې مونږ جهاد کوو د ملك د سرحدونو حفاظت کوو د عوامو د نفس او مال محافظ یو لهذا مونږ چونکې حقوق العباد پوره کوو، د الله پاك مخلوق ته فائده رسوو که مونځ وغیره مونږ ادا نه کړو نو هیڅ فرق نه راځی الله پاك خپل حقوق معاف کوی خو د بندګانو حقوق نه معاف کوی، نو چونکې مونږ نه په حقوق العباد پوره کیدلو سره مونځ پاتې شوې دې په دې وجه هیڅ باك نشته نو د دې څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم ....٥ ستمبر ١٩٨٩ء

الجواب: ومنه الصدق والصواب: عموما دا مزدوری د تنخواه دپاره کولې شی، که تنخواه ملاویږی نو په مسلمان باندې هم حمله کول جائز ګڼی او که نه ملاویږی نو هندو او یهودی هم معاف وی او بهر حال دا د وطن حفاظت د

---

(١) فی شرح المجلة: الیقین لا یزول بالشک... یعنی ان الامر المتیقن ثبوته لا یرتفع الا بدلیل قاطع ولا یحکم بزواله بمجرد الشک کذلک التیقن عدم ثبوته لا یحکم بثبوته بمجرد الشک لان الشک اضعف من الیقین فلا یعارضه ثبوتا وعدماً. (شرح المجلة ١٨:١ المادة: ٤)

حقوق عامة نه دی کوم ته چې حقوق الله ویلې شي دا د شخصي فائدې دپاره نه دی کوم ته چې حق العبد ویلې شي. (١) والله اعلم بالصواب

په قتال کې د زنانو او ماشومانو قصدا قتلول منع دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د کمیونستو کورونه تباه کول یا ماشومان او ښځې وژل څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتی: قاری انور مدرسه عربیه تل ... ٢٣ جون ١٤٠١هـ

الجواب: د ماشومانو او زنانو قصدا ارادة قتلول ممنوع دی (حدیث) (٢) وهوالموفق

---

١) قال الامام ولی الله الدهلوی: ثم مست الحاجة الی الترغیب فی مقدمات الجهاد التی لا یأتی الجهاد فی العادة الا بها کالرباط والرعی وغیرهما لان الله تعالیٰ اذا امر بشیئ ورضی به وعلم انه لا یتم الا بتلک المقدمات کان من موجبه الامربها والرضا عنها، ورد فی الرباط انه خیر من الدنیا وما فیها وانه خیر من صیام شهر وقیامه وان مات اجری علیه عمله الذی کان عمله واجری علیه رزقه وامن الفتان.

(حجة الله البالغة ٢:١٧٢ باب الجهاد)

٢) عن انس بن مالک رضی الله تعالیٰ عنه ان رسول الله ﷺ قال انطلقوا بسم الله وبالله وعلی ملة رسول الله ولا تقتلوا شیخا فانیا ولا طفلا ولا صغیراً ولا امرأة.

(سنن ابی داؤد ٢:٣٥٢ باب فی دعاء المشرکین)

وفی اعلاء السنن: عن الصعب بن جثامة ان رسول الله ﷺ سئل عن اهل الدار من المشرکین یبیتون فیصاب من نسائهم وذراریهم؟ ثم قال: هم منهم، قوله: عن الصعب الخ دلالته علی ان لا بأس بقتل النساء والذریة تبعاً من غیر عمد حیث لا مفرّ عن قتلهم ظاهرة. (اعلاء السنن ١٢:٢٦ کتاب السیر باب من لا یجوز قتله فی الجهاد)

مرتدین قتلول او د هغوی د مالونو نه د غنیمت جوړولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مرزائیانو سره چې څو ورځې مخکې د سوشل بائیکاټ حکم شوې وو هم دې دوران کې مرزائیانو څو ملحد او بې دینه کسان د رشوت په ذریعه خپل معاونین جوړ کړل کوم چې په بازارونو کې ګرځیدل او آوازونه ئې کول چې شته څوك مولا چې د مرزائی د دکان نه څوك د سوا اخستلو نه منع کړی؟ هم دې دوران کې څو جذباتی ځوانانو د هغوی سره مقابله وکړه او د هغوی دکانونه ئې وران کړل او بعض اسباب وغیره ئې لوټ کړل، اوس چې کله دا بائیکاټ ختم شو نو دا مال کوم چې یو مسلمان اوچتولو سره استعمال کړو هغې لره واپس مرزائیانو ته ورکول ضروری دی یا نه؟ او د مسلمانانو دپاره د دې مال استعمال حلال دې یا حرام؟

۲: مرتدین چې کله د اسلام په ختمولو کې مصروف شی او د حربی کافر د زړه نه حمایت کوی نو د هغه مال به په حالت د ارتداد کې مباح وی یا نه؟

۳: یو عالم د مرتد ذکر شوې مال ته په حالت د ارتداد کې مباح ویلې دې په دې سره په دې عالم باندې شرعا څه نیول شته یا نه او هغه غلط ویلې دی یا صحیح؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مختار احمد ... ۲۷ شوال ۱۳۷٤ھ

الجواب: اهل ارتداد چې کله طاقت کې کیږی نو هغوی سره د بنو حنیفه په شان معامله کول یعنی د هغوی قتلول او د هغوی مالونه غنیمت جوړول سنت صدیقی دې. (۱) او د هغوی په مسلمانانو معاونین باندې به د باغیانو په

---

۱) قال الامام محمد رحمه الله تعالیٰ: ولو ان اهل بلدة ارتد واحتی صارت دارهم دارحرب ثم وقع الظهور علیهم فانه یقتل رجالهم ویسبی نساؤهم وذراریهم کما فعله الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه ببنی حنیفة حین ارتدوا۔
(شرح السیر الکبیر ۱۹٤۱:۵ باب من ارتد من المسلمین)

شان د جنازې مونځ نه شي کولې. كما في رد المختار ۱/۸۴۳، وجعل مشائخنا المقتولين في العصبة في حكم اهل البغي. (۱) وهو الموفق

د ایران او عراق په جنګ کې توقف دې

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د ایران او عراق ترمینځه جنګ کې که یو فریق خپل ځان ته د مجاهدین اسلام نوم ورکړی او مقابل دویم فریق ته د کفارو لښکر اوائي او دې جنګ ته د کفر او اسلام جنګ اوائي نو آیا یو فریق ته داسې ویل په شریعت محمدی ﷺ کې صحیح دی یا نه؟ او آیا د دې جنګ د کفر او اسلام سره څه تعلق شته یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: سید حبیب الله اسعد ناظم مرکز علوم اسلامیه راحت آباد پېښور ۲۶ مارچ ۱۹۸۵ء

الجواب: دا فیصله ګرانه ده، ایراني حکومت شیعه او غیر اسلامي حکومت دې او عراقي حکومت په باره کې معلومه نه ده چې هغه اسلامي حکومت دې یا اشتراکي حکومت. والله اعلم

په اراکان (برما) کې د ظالمانو خلاف جهاد فرض عین دې

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د اراکان په ځمکه (برما) کې مسلمانان د ډېرې مودې نه آباد دی او په دې حصه کې د مسلمانانو اکثریت دې اوس په دې ځمکه باندې د غیر مسلمو حکومت دې مخکې په ۱۹۴۲ء کې د یو منظم سازش د لاندې د دې حصې نه د مسلمانانو د بهر کولو دپاره دومره د تشدد او بربریت ثبوت ورکړې شو چې د هغې مثال د دنیا په تاریخ کې نشته، دا د ظلم سلسله تر اوسه پورې راروانه ده، د تپوس کولو امر دا دې چې دا د شپږو څلویښتو کالو مسلسل ظلم ته کتلو سره شرعا د برما د مسلمانانو په حق کې نفیر عام دې یا نه؟ که وې نو شرعا په هغوی باندې جهاد في سبیل الله فرض دې یا نه؟ که طاقت نه لري نو بیا څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتي: جناب میر احمد صاحب ۱۶۸۳ عجمان یو اے ای... ۲۷ صفر المظفر ۱۴۰۹ھ

(۱) (ردالمحتار هامش الدر المختار ۱:۶۴۲ باب صلوٰة الجنازة)

الجواب: د دې فرعونیانو او ظالمانو خلاف جهاد فرض عین دې (۱) او چونکې دا مظلومین خپله د مخالفین په مقابله کې طاقت نه لرې، لهذا الاقرب فالاقرب باندې باقاعده فرض دې. (۲) وهوالموفق

د مسلمان فاسق حکومت خلاف مسلح جهاد جائز نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې پاکستان چې یو اسلامی ملك دې او په دې کې ډېر قوانین غیر اسلامی دی او اکثر حکمران طبقه په دې کوشش کې وی چې د آئین نه اسلامی شقونه ختم کړی نو ایا د دې مسلمان فاسق حکمرانانو خلاف جهاد بالسیف یعنی مسلح جهاد ضروری نه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: رحیم علی متعلم اشرفیه پیښور ....۱۱ اگست ۱۹۷۳ء

الجواب: د مسلمان فاسق حکمران خلاف مسلح جهاد یعنی جهاد بالسیف بالاجماع جائز نه دی، خو بغیر د قتل او مقاتله د هغوی خلاف آواز اوچتول او د منکراتو نه منع کول (د جلسې جلوس په ذریعه) بیشکه جهاد دې. (۳) لکه

---

۱) قال العلامة الموصلی: الجهاد فرض عین عند النفیر العام لقوله تعالیٰ: انفروا خفافا وثقالا، الآیة: والنفیر العام ان یحتاج الی جمیع المسلمین فلا یحصل المقصود وهو اعزاز الدین وقهر المشرکین الا بالجمیع فیصیر علیهم فرض عین کالصلوٰة ... واذا هجم العدو وجب علی جمیع الناس الدفع. (الاختیار لتعلیل المختار ۴:۱۴۲ کتاب السیر)

۲) قال العلامة الحصکفی: یفرض علی الاقرب فالاقرب من العدو الی ان تقع الکفایة فلو لم تقع الا بکل الناس فرض عینا کصلوٰة وصوم. (الدرالمختار ۳:۲۴۰ کتاب الجهاد)

۳) قال الملا علی قاری: والمراد بالکفر هنا المعاصی والمعنی لا تنازعوا ولاة الامور فی ولایتهم ولا تعترضوا علیهم الا ان تروا منهم منکرا محققا تعلمونه من قواعد الاسلام فاذا رأیتم ذلک فانکروه علیهم وقوموا بالحق حیثما کنتم واما الخروج علیهم وقتالهم فمحرم باجماع المسلمین وان کانوا فسقة الظالمین ... واجمع اهل السنة علی ان السلطان لا ینعزل بالفسق لتهیج الفتن فی عزله واراقة الدماء وتفریق ...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

چې اهل حق علماء دا کوي. لما رواه مسلم: عن ام سلمة ان رسول الله ﷺ قال ستكون امراء فتعرفون وتنكرون فمن عرف برئ ومن انكر سلم ولكن من رضي وتابع قالوا افلا نقاتلهم قال لا ما صلوا(١). وهوالموفق

په پاکستان او افغانستان کې د جهاد حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې آیا افغانستان دار الحرب دې؟ او د دې د جهاد متعلق او پاکستان کې د جهاد متعلق څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد حلیم دار العلوم حقانیه ... ۲۲ صفر المظفر ۱۴۰۵ھ

الجواب: په افغانستان او پاکستان دواړو کې اسلامی نظام نافذ نه دې او په دواړو کې د اسلام په نفاذ کې (روس وغیره) بندیز راولی خو د افغانستان نه د دې بندیز ختمولو دپاره جهاد بالسنان شروع دې او د پاکستان نه د دې د ختمولو دپاره جهاد باللسان جاری دې وهوالموفق

د افغانستان نه د هجرت او جهاد مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا په افغانستان کې جنګ جاری دې بعض خلق وائی چې دا اسلامی جهاد نه دې، ځکه چې روس خپل فوج واپس کړې دې اوس مجاهدین خپل مینځ کې جنګیږی، دغه شان دا د امریکې په وسله باندې جنګیږی او نجیب د روس نه وسله اخستلو سره جنګیږی، آیا په دې هجرت او جهاد به ثواب ملاویږی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: نامعلوم

بقیه ازحاشیه گذشته] ذات البین فتکون المفسدة فی عزله اکثر منها فی بقائه۔
(مرقاة المفاتیح شرح مشکواة ۷:۲۰۱ کتاب الامارة والقضاء الفصل الاول)

١) (صحیح مسلم ۲:۱۲۸ کتاب الامارة باب وجوب الانکار الخ)

الجواب: روس او روسیانو خلقو سره جنګیدل جهاد دي (١) او خپل مینځ کې جنګ کول فساد دې، د هجرت فرضیت د مکې د فتح نه پس منسوخ دې (٢) او تر کوم وخته پورې چې په کومو ښهرونو کې د دین دپاره خطره وی نو هجرت به واجب وی کنه نو مستحب به وی. (٣) بهر حال دا موجوده هجرت د مصلحت تقاضه ده نه د دې نه پورته. **فافهم وهوالموفق**

افغان جهاد بیشکه بې شبهې جهاد دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په ګاونډ کې چې د مسلمان ملك افغانستان کوم صورتحال دې چې روس په دې قبضه کړې ده او کمیونزم او دهری نظام ئې نافذ کړې دې، اوس سوال دا دې چې ١: د افغانستان نه علاوه د یو بل ملك مثلا پاکستان وغیره یو فرد د جهاد د جذبې د لاندې هلته تلو سره شریکیږی نو هغه ته به د جهاد ثواب ملاویږی یا نه؟ او که په دې جنګ کې قتل کړې شی نو هغه ته به شهید ویلې شی یا نه؟
٢: بله دا چې دغه مجاهدینو سره د مالی تعاون شرعی حیثیت څه دې؟ کوم

---

١) قال العلامة ابن نجیم: والجهاد هو الدعاء الی دین الحق والقتال مع من امتنع عن القبول بالنفس والمال. (البحر الرائق ٥:٧٠ کتاب السیر)

٢) عن ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه عن النبی ﷺ قال یوم الفتح لا هجرة بعد الفتح ولکن جهاد ونیة واذا ستنفرتم فانفروا، متفق علیه.
(مشکواة المصابیح ٣٣١ کتاب الجهاد)

٣) قال العلامة العینی: فقوله "لاهجرة" یعنی من مکة واما الهجرة عن المواضع التی لا یتأتی فیها امر الدین فهی واجبة ... بقی من الهجرة ثلاثة انواع وهی هجرة من کان مقیماً ببلاد الکفر ولا یقدر علی اظهار الدین فتجب علیه الهجرة.
(عمدة القاری ١٤:٨٠ کتاب الجهاد باب فضل الجهاد)

خلق چې د دې مجاهدینو دپاره په وسله او نقد وغیره سره امداد کوي هغوی ته به په دې باندې اجر او ثواب ملاویږي یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: حمید الرحمن عباسي مدرس مدرسه قاسم العلوم

شیرانوالا... لاهور... ۱۷ جمادی الثاني ۱٤۰۱ھ

الجواب: دا رد عمل بیشکه بې شبهې جهاد دی، دا د اسلام او دارالاسلام نه مدافعت دی (۱) د بخارا حالت په چا هم پټ نه دی، په دې رد عمل کې کوشش کونکي مجاهد دي، او په دې کې قتل شوي شهید دي (۲) او هغوی سره هر قسم تعاون د اجر او ثواب باعث دی. **وهوالموفق**

جهاد افغانستان صحیح او اهل اقتدار باندې فرض عین دی

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: په افغانستان کې چې کوم جنګ د مسلمانانو او روسیانو یا د هغوی د ملګرو ترمینځه شروع دی آیا اسلامي نقطه نظر سره دا جهاد دی یا نه؟

۲: آیا دا جنګ زمونږ د ملك پاکستان دپاره جهاد کیدې شي او د دې جهاد څه حکم دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: نثار احمد... اسسټنټ ډسټرکټ ایجوکیشن افیسر

ملاکنډ ایجنسۍ..... ۱۷ محرم ۱٤۰۳ھ

الجواب: چونکې حقیقت دا دی چې روس د خپلو نظریاتو د کامیابۍ دپاره هر تدبیر او هره حربه استعمالوي، لهذا د افغانستان خلقو ته د دین او دنیا

---

۱) قال العلامة الموصلي: واذا هجم العدو وجب على جميع الناس الدفع لانه يصير فرض عين. (الاختيار لتعليل المختار ۴:۱۴۲ كتاب السير)

۲) قال العلامة النسفي: الشهيد هو من قتله اهل الحرب او البغي او قطاع الطريق او وجد في معركة وبه اثر او قتله مسلم ظلما ولم تجب به دية.
(كنز الدقائق على هامش البحر الرائق ۲:۱۹۶ باب الشهيد)

متعلق خطرې پېښې دی، پس کوم اهل اسلام چې هجرت اختیار کړې دی او یا ئې دننه، بهر جنګ جاری کړې دې، نو هغه به بچ شی (۱) او منونکی به ختم شی او چونکې صرف د اهل اسلام د روس سره مقابله ګرانه ده لهذا ټول ارباب اقتدار (اهل اسلام) باندې فرض عین دی چې هغوی میدان ته راشی (۲) دا مجاهدین په عزیمت باندې عمل کوی (۳) ګیتې ترک د هغوی دپاره مرخص دې. وهوالموفق

د اهل اقتدار په خاموش کیناستلو سره په رعیت باندې جهاد نه فرض کیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې روسی کمیونسټ په افغان مسلمانانو باندې ډیر زیات ظلم کوی او هغوی د وطن عزیز نه په هجرت کولو باندې مجبوروی نو آیا په مسلمانانو ګاونډیانو باندې څه ذمه داری راځی؟ که څوک د جهاد دپاره لاړ شی نو هغوی ته به د جهاد ثواب ملاوېږی؟ او آیا د مسلمانانو د طرف نه چې څوک قتل شی هغه به شهید وی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: فضل الرحمن جامع مسجد میان سلطان میان والی شهر ۱۴ جمادی الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: د قواعدو په رڼا کې دا جهاد په اسلامی حکومتونو باندې فرض

---

۱) قال العلامة العینی: قوله لا هجرة یعنی من مکة واما الهجرة عن المواضع التی لا یتاتی فیها امر الدین فهی واجبة.
(عمدة القاری ۱۴:۸۰ کتاب الجهاد باب فضل الجهاد)

۲) وفی اعلاء السنن: لا یکون فرض عین الا علی من استنفرهم الامام... ان الجهاد لیس بواجب عینا علی جمیع المسلمین ظاهرة بل انما یکون کذلک اذا جاء النفیر من الامام. (اعلاء السنن ۱۲:۱۰ باب وجوب الجهاد)

۳) قال العلامة حسام الدین: العزیمة وهی فی احکام الشرع اسم لما هو اصل منها غیر متعلق بالعوارض. (الحسامی ۵۷ فصل فی العزیمة والرخصة)

عین دې، د هغوی په خاموش کیناستلو باندې په دینداره خلقو باندې فریض نه عائد کیږی. (١) خو دې ته عزیمت ویل صحیح دی (٢) او دې ته حرام ویل حرام دی خکه چې په تجربې سره معلومه شوې ده چې د مخالفینو په مدافعت کې دا لږ خلق هم کامیاب دی او هغوی ته به د جهاد ثواب ضرور ملاویږی او د شهادت مرتبه به ضرور مومی. (٣) **وهوالموفق**

د ارباب اقتدار دپاره په جهاد افغنستان کې حصه اخستل فرض دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په افغانستان کې موجوده جنگ جهاد دې یا نه؟ او آیا په پاکستانی خلقو باندې جهاد فرض عین دې یا نه؟ او آیا د دې جهاد په باره کې لیکل او تقرر کول پکار دی یا نه؟ او د منع کونکی څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی عبدالرحمن پارهوتی مردان... ١٢ رجب ١٤٠٣هـ

الجواب: د افغانستان دا موجوده معرکه بیشکه جهاد دې د دې نصب العین د روس او د روس د ملګرو د اهل اسلام نه تسلط لرې کول دی او د اسلامی نظام راوړلو کوشش دې په ټولو اسلامی ممالکو باندې فرض ده چې

---

١) وفی الفقه الاسلامی وادلته: امر الجهاد موکول الی الامام واجتهاده ویلزم الرعیة طاعته فیما یراه من ذلک.
(الفقه الاسلامی وادلته ٨:٥٨٥٢ کتاب الجهاد، مایجب قبل القتال)

٢) قال العلامة حسام الدین: العزیمة وهی فی احکام الشرع اسم لما هو اصل منها غیر متعلق بالعوارض.
(الحسامی ٥٧ فصل فی العزیمة والرخصة)

٣) قال العلامة الحصکفی: وکذا یکون شهیداً لو قتله باغ او حربی او قاطع طریق ولو بغیر آلة جارحة فان مقتولهم شهید بأی آلة قتلوه او وجد جریحا میتا فی معرکتهم.
(الدرالمختار ١:٦٧٠ باب الشهید)

هغوی په دې جهاد کې حصه واخلي (١) کنه نو ارباب اقتدار به ګناهګار وي نه رعایا (٢) په هر مسلمان باندې ضروری ده چې هغه د دې جهاد په حق کې هر قسم حصه واخلي (٣) او د څه قسم مخالفت نه احتراز وکړي. وهوالموفق

د افغانستان جهاد لره د نه منونکي حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې د موجوده جهاد افغانستان متعلق د چا په اشاره باندې د عدم جهاد اشاعت کوی چې په هغې باندې هغه ته کافی پیسې ملاوېږی چې په عوامو باندې واضح کړی چې دا جهاد نه دې، د دې سړی متعلق څه حکم دې او موجوده جهاد افغانستان جهاد دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد رفیق متعلم حقانیه... یکم ذی الحجة ١٤٠٩هـ

الجواب: چونکې دا موجوده جنګ د اسلام د حفاظت او د دهریت د تزلزل

---

(١) قال العلامة الحصکفی: وفرض عین ان هجم العدو فیخرج الکل وفی ردالمحتار (قوله فرض عین) ای علی من یقرب من العدو فان عجزوا او تکاسلوا فعلیٰ من یلیهم حتی یفترض علی هذا التدریج علی کل المسلمین شرقاً غرباً.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ٣:٢٤٢ کتاب الجهاد)

(٢) وفی اعلاء السنن: لا یکون فرض عین الا علی من استنفرهم الامام... ان الجهاد لیس بواجب عیناً علی جمیع المسلمین ظاهرة بل انما یکون کذلک اذا جاء النفیر من الامام.
(اعلاء السنن ١٠:١٢ باب وجوب الجهاد)

(٣) عن انس رضی الله تعالیٰ عنه عن النبی ﷺ قال جاهدواالمشر کین باموالکم وانفسکم والسنتکم رواه ابوداؤد والنسائی والدارمی.
(مشکواة المصابیح ٣٣٢ کتاب الجهاد)

دپاره کیږي، لهذا دا جنګ جهاد شرعي دي. (۱) کوم سړي چې دا جهاد شرعي نه مني هغه د کفر او فسق ترمینځه دي. (۲) وهوالموفق

په افغان جهاد کې د عوامو شرکت او د کفارو د معاونینو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین د انقلاب افغانستان په باره کې چې هلته د کمیونسټ نظریاتو خلق حکمران دی، د روسی لټریچر او دهری نظریاتو پرچار کوی او ورسره ډیر علماء کرام یا خو قتل کوی یا ئې جیلونو کې اچوی، چې د هغې د وجې نه اکثر دیندار طبقه او اهل علم حضرات په هجرت باندې مجبور شو، نو ایا د دې دهری حکومت خلاف جهاد د شریعت په رڼا کې جائز دې یا نه؟ او کوم خلق چې د دې نه مدافعت کوی یا د هغوی معاونت کوی د هغوی څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: (شیخ القرآن) مولانا محمد الله جان ډاګوی المظاهری.. ۲۲ نومبر ۱۹۷۰ء

الجواب: د قرائن نه معلومیږي چې د افغانستان د نوی حکومت د اقتدار خاوندان دهریه او کمیونسټ خلق دی دا خلق د هر مذهب او خصوصا د اسلام بدترین دشمنان دی دا خلق په ظاهر کې د اسلام نعره هم لګوی خو د مضبوط کیدو نه پس په شعائر اسلام باندې پابندی لګوی، د بخارا حکومت د دې مثال دې پس د دې امور په بناء په ټولو اسلامی حکومتونو باندې فرض ده چې د دې نوی حکومت مقابله وکړی او د هغوی سره جهاد وکړی. (۳) هم دغه

---

۱) قال العلامة ابن نجيم: (وفرض عين ان هجم العدو) لان المقصود عند ذلك لا يحصل الا باقامة الكل فيفترض على الكل فرض عين.- (البحر الرائق ۵:۷۲ كتاب السير)

۲) قال العلامة ابن عابدين: وفي التتارخانية لا يكفر بالمحتمل لان الكفر نهاية في العقوبة فيستدعى نهاية في الجناية ومع الاحتمال لا نهاية انتهى.
(ردالمحتار ۳:۳۱۲ مطلب ما يشك في انه ردة لايحكم بها)

۳) قال العلامة الحصكفي: وفرض عين ان هجم العدو فيخرج الكل، قال ابن عابدين: اى على من يقرب من العدو فان عجزوا اوتكاسلوا فعلى من يليهم حتى يفرض على هذا التدريج على كل المسلمين شرقا وغرباً- (الدر المختار مع ردالمحتار ۳:۲۴۲ كتاب الجهاد)

شان په عوامو باندې هم په قدر د استطاعت فرض ده (١) او کوم خلق چې د
دې مخالفین اسلام طرفداری کوی د هغوی هم دا حکم دې. (٢) وهوالموفق

د جهاد افغانستان او د جهاد د امیر مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په موجوده وخت کې د افغانستان په جهاد کې د حصه اخستلو څه حکم دې، او په جهاد کې د امارت څه مسئله ده؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: معراج ضلع سوات .. ٤ ربیع الاول ١٤٠١هـ

الجواب: موجوده افغان جهاد کوم چې د اهل حق او د افغان کمیونسټ حکومت ترمینځه جاری دی جهاد شرعی دې (٣) په دې کې حصه اخستونکې به په غنیمت او شهادت باندې فائز کیږی، چې د جهاد دوران ضرورت راتلو

---

١) قال العلامة وهبة الزحيلي: يفترض الجهاد على القادر عليه فمن لا قدرة له لا جهاد عليه. (الفقه الاسلامي وادلته ٨:٥٨٥١ الباب الرابع الجهاد)

٢) وفي الكاملية: سئلت عن بلدة استولى عليها الكفار وتمكنوا منها فانضم اليهم بعض القبائل والعشائر وصاروا يقاتلون معهم المسلمين وينهبون مالهم وينصحون الكفار ويعينوهم على اذى المسلمين... والظاهر ان حكم هؤلاء حكم اهل دارالحرب في قتلهم واخذ مالهم لكونهم ردالعد والحرب ومعينون له بانفسهم.
(فتاویٰ کاملیه ٢٥١ کتاب الجنايات)

٣) قال العلامة ابن نجيم: (قوله فرض عين ان هجم العدو) لان المقصود عند ذلك لا يحصل الا باقامة الكل فيفترض على الكل... والمراد هجومه على بلدة معينة من بلاد المسلمين فيجب على جميع اهل تلك البلدة وكذا من يقرب منهم ان لم يكن باهلها كفاية وكذا من يقرب ممن يقرب ان لم يكن ممن يقرب كفاية او تكاسلوا وعصوا وهكذا الى ان يجب على جميع اهل الاسلام شرقاً وغرباً.
(البحر الرائق ٥:٧٢ كتاب السير)

سره مجاهدین یو کس لره امیر جوړولو سره محاربه کوی نو هم دا به کافی وی. (١) هم دغه شان د علماء کرامو فتوی په دې دور کې د سلاطین او امیرانو د حکم نه مستغنی کونکې ده. وهوالموفق

په افغان جهاد کې مالی تعاون سره د ذمې د فراغت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د افغانستان د جهاد د فرض عین کیدو په صورت کې چې کوم خلق په سعودیه وغیره کې مزدوری کوی او د مجاهدینو مالی امداد کوی نو آیا په دې امداد سره د هغوی ذمه فارغیږی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مفتی محمد سرور دار العلوم عربیه تل.... ٢٧ جمادی الاولی ١٤٠٨هـ

الجواب: نه د هغوی په ذمه د جهاد فریضه شته، او نه په مالی تعاون کولو سره په هغوی څه گناه شته. (٢) وهوالموفق

د مسلمانانو خلاف د کفارو د معاونین حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې بعض قبائلی پښتانهٔ په دنیاوی لالچ یا د عقیدې د فساد د وجې نه د روس او کارمل حکومت سره د جوړ او معامله کولو په فکر کې دی.

---

١) قال الشیخ ظفر احمد العثمانی : وفی الحدیث دلالة علی اشتراط الامیر للجهاد وانه لا یصح بدونه لقوله علیه الصلوٰة والسلام الجهاد واجب علیکم مع کل امیر الخ فاذا لم یکن للمسلمین امام فلا جهاد نعم یجب علی المسلمین ان یلتمسوا لهم امیراً.
(اعلاء السنن ١٢:٢،٣ کتاب السیر باب فرضیة الجهاد)

٢) وفی اعلاء السنن : لا یکون فرض عین الا علی من استنفرتم الامام وان استنفر جمیع اهل الاسلام وجب علی جمیعهم شرقاً وغرباً... ان الجهاد لیس بواجب عیناً علی جمیع المسلمین ظاهرة بل انما یکون کذلک اذا جاء النفیر من الامام.
(اعلاء السنن ١٢:٩،١٠ کتاب السیر باب وجوب الجهاد عینا الخ)

۱: چې مونږ قبائلي به په افغانستان کې د دهریت، د روس د راتلو، قبضه او څه چې په افغانستان کې روس او د کارمل حکومت کوی، په هغې باندې مونږ راضي یو او د دې رضامندئ به مونږ ښکاره په ریډیو باندې اعلان کوو.
۲: دا چې مونږ به د موجوده روسی غلبې کوم چې په افغانستان باندې قائم ده دا حکومت او د دې د نظریات او دوام او حفاظت دپاره لاس په تلی کې او کفن په سر ګرځوو.
۳: دا چې مونږ مونږ د افغان مجاهدین دپاره د جهاد افغانستان دپاره د تلو راتلو ټولې لارې بندوو.
۴: دا خلق ښکاره د افغانستان جهاد ته جهاد نه وائی، بلکې دې ته د ظلم عظیم نوم ورکوی، او په مسلمانانو کې پرچار کوی چې د دې جنګ نه په اړخ شئ، او دې ته د امریکې او روس جنګ وائی، اوس دې مونږ علماء کرام د داسې ډلې د شرعی حکم نه خبر کړی، آیا د **رضا بالکفر کفر** د لاندې دا خلق نه راځی؟ آیا د ﴿**من کثر سواد قوم فهو منهم**﴾ په بنیاد باندې ذکر شوې قول او فعل تکثیر سواد او دهریت نه دې؟ آیا د افغانستان د جهاد اسلامی نه په ظلم سره تعبیر کول او داسې عقیده ساتل کفر نه دې؟ آیا په داسې مردار خلقو باندې به د زندیق یا مرتد حکم لګول صحیح نه وی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: علماء کرام وانا وزیرستان ... ۲۲ شعبان ۱۴۰۵ھ

الجواب: بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله وسلام علی عباده الذین اصطفی اما بعد! پس واضحه دې وی چې د افغانستان موجوده جنګ یقینا جهاد دې (۱) د یو طرف نه روسیان او د روس مسلح ملګری جنګیږی، او بل طرف ته اهل اسلام او اهل علم په معمولی امداد خارجی سره جانبازی کوی،

---

۱) وفی الاختیار: الجهاد فرض عین عند النفیر العام... واذا هجم العدو وجب علی جمیع الناس الدفع لانه یصیر فرض عین- (الاختیار لتعلیل المختار ۱۴۲: ۴ کتاب السیر)

که دې بل طرف ته امریکې جنګ کولو نو دې دویم طرف سره به هم د اول طرف په شان د جنګ سامان وي.

او دا دې هم واضح وی چې په اول طرف کې څلور قسم خلق حصه اخلی اول هغه خلق دی کوم دهریان دی او د خالق حقیقی منکر دی، دا خلق بیشکه کافر (۱) مباح الدم او مباح الاموال دی. (۲)

دویم هغه خلق دی کوم چې د روس نظام ته حق نظام او د ترقئ نظام وائی، او د الله پاك نظام ته او د وحی نظام ته د تنزل او زوړ نظام وائی، نو دا خلق د توهین وحی او توهین شریعت د وجې نه مباح الدم دی (۳) او د محاربه د وجې نه مباح الاموال هم دی.

دریم هغه خلق کوم چې په جهری او علانیه طریقې سره د دې مخکې خلقو معاونت او امداد کوی او د مجاهدینو مقابله کوی د هغوی لارې بندوی، هغوی ته ظالم او قطاع الطریق وائی نو دا خلق سره د مسلمانئ مباح الدم او مباح الاموال دی. کما فی الکاملیة ۲۵۰ سئلت عن بلدة استولی علیها الکفار فانضم الیهم بعض القبائل وصاروا یقاتلون معهم المسلمین وینهبون ماهم وینصحون الکفار ویعینوهم علی اذی المسلمین فما الحکم فیهم وهذا حالهم؟ فالجواب: انی لم اقف علی حکم هؤلاء فی کتب مذهبنا معاشر الحنفیة ولکن

---

۱) وفی مجموعة قواعد الفقه: والکفر علی اربعة انحاء الاول کفر الانکار وهو ان یکفر بقلبه ولسانه ولا یعتقد الحق ولا یقربه. (مجموعة قواعد الفقه ۴۴۵)

۲) قال العلامة الحصکفی: لان الکفر مبیح للدم... لان الکفار اصناف خمسة: من ینکر الصانع کالدهریة. (الدرالمختار ۳:۳۱۳ باب المرتد) وفی مجمع الانهر (الجهاد) فی الشریعة قتل الکفار ونحوه من ضربهم ونهب اموالهم وهدم معابدهم وکسر اصنامهم وغیرهم (بدأ منا فرض کفایة). (مجمع الانهر ۲:۴۰۷ کتاب السیر)

۳) وفی الهندیة: یکفر اذا وصف الله تعالیٰ بما لا یلیق به او سخر باسم من اسمائه او بامر من اوامره او انکر وعده ووعیده. (فتاوی هندیة ۲:۲۵۸ الباب التاسع فی احکام المرتدین)

وقفت علی حکمهم فی کتب بعض السادة المالکیة، والظاهران حکم هؤلاء حکم اهل الحرب فی قتلهم واخذ اموالهم، واما اولادهم فلا یقتلون ولا یکونون فیئا وانما ابیح قتل البالغین منهم لکونهم ردء لعدو الحرب ومعینون له بانفسهم وحکم الردء اذا لم یقاتل مع العدو حکم المقاتل فاحری اذا قاتل وکذلك ردء اللصوص والمحاربین عند مالك رحمه الله تعالیٰ والکوفین یقتل بقتلهم ویجب علیه ما یجب علیهم وان کانوا لم یحضروا الفعل وقواعد مذهبنا لا تاباه(۱) انتهی بحذف.

او څلورم هغه خلق دی کوم چې د کفارو سره هم جنګ کوی او پټې طریقې سره د هغه کفارو معاونت هم کوی د هغوی جاسوسی هم کوی او د اهل اسلام د شکست او مغلوبیت په انتظار کې ناست دی نو دا خلق د جومات ضرار د اهل په شان زنادقه دی. کما فی الکاملیة ۲۵۱ ومنهم من لجأ للمسلمین وصار یقاتل العدو معهم وهو مع ذلك یعین العدو خفیة ویعلمه بأحوال عساکر المسلمین ویطلعه علی عوراتهم ویتربص بهم الدوائر... وحکم اولئك حکم الزنادقة ان اطلع علیهم قتلوا، وقال صاحب الکاملیة وقواعد مذهبنا لا تاباه(۲) انتهی ما فی الکاملیة بحذف ما لا تعلق له بالمرام، قلت الجاسوس المسلم لا یقتل عند معاشر الحنفیة(۳) بخلاف ما اذا صار مقاتلا وردء للکفار.

---

۱) (فتاویٰ کاملیه ۲۵۱ کتاب الجنایات)

۲) (فتاویٰ کاملیه ۲۵۱ کتاب الجنایات)

۳) قال الامام محمد رحمه الله تعالیٰ: واذا وجد المسلمون رجلا ممن یدعی الاسلام عینا للمشرکین علی المسلمین یکتب الیهم بعوراتهم فاقر بذلک طوعا فانه لا یقتل ولکن الامام یوجعه عقوبة (شرح السیر الکبیر ۵:۲۰۵۰ باب العین یصیبه المسلمون)

نوټ: د مجاهدینو دپاره ضروري ده چې د پوره تحقیق نه بغیر په چا باندې د معاون او د مرتد کیدو حکم جاري نه کړي چې بل محاذ قائم نه شي، او د قومیت جنګ شروع نه شي، کنه نو اصل مقصد او اصل محاربه ته به سخت نقصان ورسیږي. والله اعلم

د افغان کمیونسټ حکومت د مسلمان معاونین حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: هغه خلق کوم چې د افغانستان د موجوده حکومت نه وسله او پیسې راوړي او د هغې نه خلقو له ورکوي او خپله ئې هم خوري چې د خلقو زړونه د کمیونسټ حکومت طرف ته مائل شي د دې څه حکم دې؟

۲: هغه خلق کوم چې د افغان موجوده اشتراکي حکومت ته مسلمان وائي او د هغوی داسې تعریفونه کوي چې ساده مسلمانان په هغې باندې دهوکه کوي، د دې څه حکم دې؟

۳: هغه خلق کوم چې د موجود افغان حکومت په کامیابۍ باندې فخر کوي او د خوشحالۍ اظهار کوي او د اسلامي مجاهدین په کامیابۍ باندې د غم اظهار کوي او په دې باندې خفه وي د دې سرې متعلق څه حکم دې؟

۴: کومو خلقو چې د افغان حکومت نه وسله او پیسې راوړې او هغوی سره د ژبې یا جسماني معاونت وکړي شرعا د دې څه حکم دې؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: جمعیة طلباء حرکت حقاني بیرمل وزیرستان ... ۲ مارچ ۱۹۸۷ء

الجواب: رویه این مردمان حرام است از جهت تعاون کفار وزنادقه وبر اهل اسلام واجب است که باین مرد مان ورغم وشادی بائیکاټ کند (۱) ودر

---

(۱) قال الملا علی القاری: قال ابن عبد البر اجمع العلماء علی ان من خاف من مکالمة احد وصلته ما یفسد علیه دینه او یدخل مفسدة فی دنیاه یجوز له مجانبته وبعده... فان هجرة اهل الاهواء والبدع واجبة علی مر الاوقات مالم یظهر منه التوبة والرجوع الی الحق. (مرقاة المفاتیح ۹:۲۶۲ باب ماینهی عنه من التهاجر والتقاطع)

وقت تیقن قتل ایشان نیز جائز است. کما یدل علیه فی الفتاوی الکاملیة ۲۵۱ ومنهم من لجأ للمسلمین وصار یقاتل العدو معهم وهو مع ذلك یعین العدو خفیة ویعلمه بأحوال عساکر المسلمین ویطلعه علی عوراتهم ویتربص بهم الدوائر وقد اطلع لهم علی کتب کتبها فی ذلك الوقت کثیر من مشائخهم المعروفین عندهم بالاجواد یذکرون العدو وعهده ویعلمونه ببقائهم علیه وانتظارهم الفرج مع تضعیفهم لجیوش المسلمین وتوهینهم ایاهم وحکم اولئك حکم الزنادقة ان اطلع علیهم قتلوا والا فأمرهم الی الله تعالیٰ(۱). وهو الموفق

د کمیونسټ افغان حکومت حمایت کونکو

او مخالفت کونکو مسلمانانو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: په افغانستان کې موجوده مسلمان کوم چې د موجود کمیونسټ حکومت دفاع کوی مسلمانان دی یا نه؟

۲: کوم خلق چې نه د موجوده کمیونسټ حکومت افغانستان سره تعاون کوی او نه د مجاهدین سره، بلکې خپل کاروبار کوی د هغوی حکم څه دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد سردار... دار العلوم عربیه تل... ۲۸ جمادی الاولی ۱٤۰۸ء

الجواب: ۱: دا باغی مسلمانان دی. (۲)

---

۱) (فتاویٰ کاملیة ۲۵۱ کتاب الجنایات)

۲) وفی الهندیة: اهل البغی کل فرقة لهم منعة یتغلبون ویجتمعون ویقاتلون اهل العدل بتأویل ویقولون الحق معنا ویدعون الولایة... یحل للامام العدل ان یقاتلهم وان لم یبدؤا بقتاله وهذا مذهبنا... ولا تسبی نساء هم وذراریهم ولا یملک علیهم اموالهم. (فتاویٰ هندیة ۲۸۳:۲ الباب العاشر فی البغاة)

۲: دا د پاکستانی مسلمانانو په شان دی (۱) وهوالموفق

د جهاد د پاره استطاعت او قدرت شرط دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې بعض خلق وائی چې تبلیغی جماعت والا د حد نه زيات شوي دی او يو لويه مجمع او طاقت جوړ شوي دې، لهذا اوس په هغوی باندې د مروجه تبليغ په ځای مسلح جهاد فرض شوي دې، آيا د هغوی د تبليغی جماعت والو متعلق داسې خبره کول ښکه دی؟ بينواتوجروا

المستفتی: عبدالعزيز .... لوتهيه پېښور

الجواب: دجهاد د فرضيت دپاره چې کوم شرطونه دی (۲) هغه مسلمانان اهل اقتدار او حکومت کې موندلې شی، په عوام الناس کې هغه شرائط موجود نه دی، او د تبليغی جماعت والو اکثريت بيشکه عوام الناس دی لهذا په هغوی باندې دا فريضه نه عائد کيږی لما فی الهندية: واما شرائطه فشيئان احدهما امتناع العدو عن قبول ما دعی اليه من الدين الحق وعدم الامان والعهد بيننا وبينهم والثانی ان يرجوا الشوکة واهل المسلمين فی القتال فانه لا يحل له القتال لما فيه من القاء نفسه فی التهلکة (عالمکيرية ۲: ۱۸۸) (۳) وهوالموفق

---

۱) قال الشيخ محمد كامل الطرابلسی: ومنه تعلم ان من يدخل تحت جوارهم وامانهم من غير اعانة لهم بنفسه ولا بماله ولا يكون لهم عينا ولا ردءا دونهم لا يباح قتله. (فتاوى كاملية ۲۵۱ كتاب الجنايات)

۲) قال العلامة التمرتاشی: ولا بد لفرضيته من قيد آخر وهو الاستطاعة، وقال العلامة الحصكفی: وفی السراج وشرط لوجوبه القدرة على السلاح لا امن الطريق فان علم انه اذا حارب قتل وان لم يحارب اسر لم يلزمه القتال.
(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۳: ۲۲۱ مطلب طاعة الوالدين كتاب الجهاد)

۳) (فتاوى عالمگيرية ۲: ۱۸۸ كتاب السير الباب الاول فی تفسيره الخ)

د فقهاء او علماء د پاره په جهاد کې د شرکت حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې علماء وفقهاء او دینی مدرسین حضراتو دپاره جهادته د تلو او شرکت څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: فضل قادر کوڼ دره افغانستان

الجواب: چونکې په جهاد سره اعلاء کلمة الله مقصود دې او دینی تعلیم او تعلم او په درس او تدریس سره ثبات دین او قیام دین مقصود دې په دې وجه د فقیه او عالم دپاره فرض عین نه کیدو په صورت کې جهاد ته تلو سره د دین د ضائع کیدو خطره ده، لهذا د علماء فقهاء دپاره د جهاد کې تلل مناسب نه دی، **وفی الدرالمختار ۳:۲۲۱ وعالم لیس فی البلدة افقه منه فلیس له الغزو خوف ضیاعهم سراجیه ولا یخفی ان المقید یفید غیره بالاولیٰ وفرض عین ان هجم العدو فیخرج الکل ولوبلا اذن انتهی(۱) وکذا فی الهندیة ۲:۱۹۱ فلیراجع(۲).**

وهوالموفق

جهاد افغانستان او په هغې کې د قاضیانو او مفتیانو دپاره د حصې اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په افغانستان باندې یو کال مخکې روسی فوج مداخلت کولو سره کمیونستو قبضه کړې ده، د دې په مقابله کې د افغانستان مجاهدینو جهاد شروع کړو، جنګی وسله په هر مقدار کې د موجودیدو باوجود د دشمن په مقابله کې کمه ده نو آیا

---

۱) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳:۲۲۱ کتاب الجهاد، مطلب طاعة الوالدین فرض عین)

۲) وفی الهندیة: عالم لیس فی البلدة احد افقه منه لیس له ان یغزو لما یدخل علیهم من الضیاعة کذافی السراجیة.
(فتاوی عالمگیریة ۲:۱۹۰ کتاب السیر الباب الاول فی تفسیره)

جهاد د دنیا د هرې حصې په مسلمانانو باندې فرض عین دې یانه؟ او آیا په اهل پاکستان باندې فرض عین دې یا فرض کفایه؟

د فرض عین کیدو په صورت کې به علماء خپل مخصوص مشاغل افتاء او تدریس وغیره پریږدی؟ او حال دا چې د بعض علماء کرامو دا خیال دې په علماء کرامو باندې په یو وخت کې هم جهاد نه فرض عین کیږی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: ارشاد محمد مدرسه جامعه قاسمیة فیصل آباد ۸ ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: په صورة مسئوله کې نفیر عام متحقق شوې دې او جهاد فرض عین دې، چونکې د افغانستان مسلمانان د مدافعت نه عاجز دی، لهذا نزدې اهل اسلام (پاکستان، ایران وغیره) باندې دا مدافعه فرض ده، خو په دې شرط چې د غالب کیدو امید وی.

پس اول په اهل اسلام باندې ضروری ده چې ټریننګ وکړی او د جنګ آلات برابر کړی چې خپل نفس لره په هلاکت کې د اچولو نه بچ شی.

ثانیاً د مقابلې دپاره دې میدان جنګ ته لاړ شی او چونکې د جهاد نه مقصود اعلاء دین او تقویت دین دې، لهذا د قاضیانو، مفتیانو وغیرهم متعلقه خدمت پریښودلو سره د جنګ میدان ته تلل په حقیقت کې دین ته نقصان رسول دی (**مـاخوذازهندیة ۲/۲۱۱ تا ۲۱۷**)(۱) **وهوالموفق**

---

۱) وفی الهندیة: الجهاد فرض علی کل حال غیر انه قبل النفیر فرض کفایة وبعد النفیر فرض عین وهو الصحیح... ثم بعد مجئ النفیر العام لا یفترض الجهاد علی جمیع اهل الاسلام شرقاً وغرباً فرض عین وان بلغهم النفیر وانما یفرض فرض عین علی من کان یقرب من العدو... فاذا احتیج الیهم بان عجز من کان یقرب من العدو عن المقاومة مع العدو او تکاسلوا ولم یجاهدوا فانه یفترض علی من یلیهم فرض عین ثم وثم الی ان یفرض علی جمیع اهل الارض شرقاً وغرباً علی هذا الترتیب... واما شرط اباحته... ان یرجوا الشوکة والقوة لاهل الاسلام باجتهاده او باجتهاد من یعتقد فی اجتهاده ورأیه وان کان لا یرجوا القوة والشوکة للمسلمین فی القتال فانه لا یحل له...[بقیه حاشیه برصفحه آئنده

د طلباء کرامو د افغانستان جهاد ته د تلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې نن صبا د افغانستان جهاد په زور او شور سره جاری دې، آیا د پاکستان په طلباء کرامو باندې دا جهاد فرض عین دې یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نور محمد کربوغه شریف... ۲۷ صفر المظفر ۱٤۰۵ھ

الجواب: دا جهاد په اهل اقتدار باندې فرض دې نه په اهل علم باندې (۱) د اهل علم جهاد ته تلل په ظاهر کې اعلاء کلمة الله دې خو په حقیقت کې افناء کلمة الله دې. (۲) او نتائج د فتح د ظهور پاکستان په شان ښکاره کیږی

وهوالموفق

پاکستانی طالبانو لره په جهاد افغانستان کې د حصه اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې افغان جهاد په پاکستانی طالبانو باندې فرض دې یا نه؟ او علم دین حاصلول غوره دی که

... بقیه ازحاشیه گذشته] القتال لما فیه من القاء نفسه فی التهلکة... عالم لیس فی البلدة احد افقه منه لیس له ان یغزو لما یدخل علیهم من الضیاعة۔

(فتاویٰ عالمگیریة ۱۹۰،۱۸۸:۲ کتاب السیر، الباب الاول)

۱) وفی الفقه الاسلام وادلته: امر الجهاد موکول الی الامام واجتهاده ویلزم الرعیة طاعته فیما یراه من ذلک۔ (الفقه الاسلامی وادلته ۵۸۵۲:۸ الباب الرابع الجهاد وتوابعه، الفصل الاول حکم الجهاد وقواعده)

۲) وفی تفسیر قرطبی: عن علی الازدی قال اردت الجهاد فقال لی ابن عباس الا ادلک علی ما هو خیر لک من الجهاد تاتی مسجداً فتقرأ فیه القرآن وتعلم فیه الفقه۔

(الجامع لاحکام القرآن للقرطبی ۲٦۹:۸ سورة التوبة آیت: ۱۲۲)

وقال العلامة الحصکفی: وعالم لیس فی البلدة افقه منه فلیس له الغزو خوف ضیاعهم۔ (الدرالمختار ۲٤۲:۳ کتاب الجهاد قبیل مطلب اذا علم انه یقتل یجوز له الخ)

جهاد کول؟ او د مور پلار نه د اجازت اخستلو او نه اخستلو حکم څه دي؟ بینواتوجروا

المستفتي: عبدالعزیز بلوچستانی... ١٩ جمادی الثانی ١٤٠٤ھ

الجواب: د طلباء دین دپاره د علم دین حصول اهم دي په نسبت د هغه مفروض جهاد څکه چې اعلاء د کلمة الله په هغې کې اتم ده په نسبت د افغانستان د اسلامی ستیټ جوړیدو. (١)

نوټ: موجوده جهاد په اهل اقتدار باندې فرض عین دي. (٢) نه په غیر مسلح اهل علم باندې. (٣) والله اعلم

پاکستانی عوام لره په جهاد افغانستان کې د حصه اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې پاکستانی حضرات د افغانستان د مجاهدین سره یو ځای کیدو باندې جهاد کولې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: امام مسجد شیخ الحدیث صاحب... ٢٥ جمادی الاول ١٤٠١ھ

---

١) قال العلامة القرطبی: عن علی الازدی قال اردت الجهاد فقال لی ابن عباس الا ادلک علی ماهو خیرلک من الجهاد تاتی مسجداً فتقرأ فیه القرآن وتعلم فیه الفقه. (الجامع لاحکام القرآن للقرطبی ٨:٢٦٩ سورة التوبة آیت: ١٢٢)

٢) وفی الفقه الاسلامی وادلته: امر الجهاد موکول الی الامام واجتهاده ویلزم الرعیة طاعته فیما یراه من ذلک. (الفقه الاسلامی وادلته ٨:٥٨٥٢ الباب الرابع الجهاد وتوابعه، الفصل الاول حکم الجهاد وقواعده)

٣) وفی الهندیة: واما شرط اباحته... ان یرجو الشوکة والقوة والشوکة للمسلمین فی القتال فانه لا یحل له القتال لما فیه من القاء نفسه فی التهلکة... عالم لیس فی البلدة احد افقه منه لیس له ان یغزو لما یدخل علیهم من الضیاعة. (فتاوی عالمگیریة ٢:١٩٠ کتاب السیر الباب الاول)

الجواب: جهاد عبادت دې (۱) او ټول اهل اسلام په شان د يو بدن دی او ټول بنهرونه په شان د يو بنهر دی (۲) پس په دې موجوده جهاد کې د يو مسلمان دپاره (د استطاعت مطابق) دحصه نه اخستلو هيڅ عذر نشته. (۳) وهوالموفق

طالب علم په چهتيانو کې د جهاد دپاره تلې شي

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې طالب علم په چهتيانو کې د جهاد دپاره تلې شي؟ بينواتوجروا

المستفتي: امام مسجد شيخ الحديث صاحب ... ۲۵ جمادی الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: طالب علم په چهتيانو کې د جهاد دپاره تلې شي. (۴) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن نجيم: واما الجهاد فمن اعظم العبادات-
(الاشباه والنظائر ۲۳ القاعدة الاولى لا ثواب الا بالنية)

۲) عن النعمان قال سمعت رسول الله ﷺ يقول مثل المؤمنين فى توادهم وتراحمهم كمثل جسد واحد اذا اشتكى الرأس تداعى له سائره بالسهر والحمى-
(مسند الامام الاعظم ۲۱۵ كتاب الادب)

۳) قال العلامة ظفر احمد العثماني: لا يكون فرض عين الا على من استنفرهم الامام، وان استنفر جميع اهل الاسلام وجب على جميعهم شرقاً وغرباً-
(اعلاء السنن ۹:۲ كتاب السير باب وجوب الجهاد)

۴) قال العلامة الحصكفي: وعالم ليس فى البلدة افقه منه فليس له الغز وخوف ضياعهم-

قال العلامة ابن عابدين: (قوله فليس له الغزو الخ) لما كان المتن صادقا بجواز خروجه زاد قوله فليس الخ ليفيد انه لا يخرج، قلت وظاهر التعليل بخوف ضياعهم جواز خروجه لو كان فى البلدة من يساويه- (ردالمحتار مع الدرالمختار ۲۴۲:۳ كتاب الجهاد)

افغان جهاد او طالب علم لره په هغې کې د حصه اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جهاد افغانستان د فرضیت او عدم فرضیت څه حکم دې؟ او آیا دا د روس او امریکې جنګ دې؟ که یو سړې جهاد ترک کړی یعنی افغانستان ته نهٔ ځی بلکې د دین علم حاصلوی نو ګناهګار به وی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد امین عرف دوست مولوی صاحب متعلم حقانیه.. ٤ ربیع الاول ١٤٠٥ھ

الجواب: دا معهود جهادی معرکه ده، د کمیونستیو او مسلمانانو ترمینځه جنګ دې.(١) یو طرف ته د کمیونستیو وسله د مسلمانانو خلاف استعمالیږی او بل طرف ته د کفار وغیر کفار نه حاصل شوې وسله د کمیونستیو خلاف استعمالیږی، د دې دپاره د علم دین تعلیم پرینبودل په ظاهر کې اعلاء الدین دې خو په حقیقت کې اهدام الدین دې فافهم(٢) **وهوالموفق**

بغیر د مور پلار د اجازت نه د جهاد او علمی سفر د پاره د وتلو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ١: د یو سړی مور پلار، ورونه او خپلوان موجود دی آیا د دې سړی دپاره بغیر د مور پلار د اجازت نه د علم حدیث او تفسیر دپاره تلل پکار دی؟

٢: یو سړې د جهاد دپاره بغیر د مور پلار د اجازت نه تلې شی. **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد یار بلوچستانی متعلم حقانیه ... ٢٣ ذی القعده ١٤٠٢ھ

---

(١) فی مجمع الانهر: (فان هجم) ای غلب (العدو علی بلد من بلد الاسلام او ناحیة من نواحیها ففرض عین. (مجمع الانهر ٢:٤٠٨ کتاب السیر والجهاد)

(٢) وفی الفقه الاسلامی وادلته: امر الجهاد موکول الی الامام واجتهاده ویلزم الرعیة طاعته فیما یراه من ذلک. (الفقه الاسلامی وادلته ٨:٥٨٥٢ الباب الرابع الجهاد وتوابعه، الفصل الاول حکم الجهاد وقواعده)

الجواب: که د دې سړي مور پلار خدمت ته محتاج نه وي نو د دې سړي دپاره د حصول علم سفر کول جائز دی. (١) او که جهاد فرض عین نه وي نو بیا د جهاد دپاره تلل (خدمت ته د محتاجئ په صورت کې به) ناجائز وي (٢) کما فی الهندية ٥: ٤٠١ وقال محمد فی السير الكبير اذا اراد الرجل ان يسافر الى غير الجهاد لتجارة اوحج او عمرة وكره ذلك ابواه فان كان يخاف الضيعة عليهما بان كانا معسرين ونفقتهما عليه وماله لايفى بالزاد والراحلة ونفقتهما فانه لايخرج بغير اذنهما... وان كان لايخاف الضيعة عليهما وان كان سفرالا يخاف على الولد الهلاك فيه كان له ان يخرج بغير اذنهما... الى ان قال وكذلك الجواب فيما اذا خرج للنفقة الى بلدة اخرى (٣).وهوالموفق

رونو سره د مشورې کولو نه بغیر د جهاد دپاره د تلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې مور پلار د جهاد دپاره اجازت راکوی خو هغوی وائی چې د ورونو سره مشوره وکړه، نو په دې صورت کې د ورونو سره د مشورې کولو نه بغیر د جهاد دپاره تلل جائز دی یا ناجائز؟ بینوا توجروا

المستفتی: امام مسجد شیخ الحدیث صاحب ... ٢٥ مئی ١٤٠١هـ

---

(١) قال العلامة الحصكفى: وله الخروج لطلب العلم بلا اذن والدين (درمختار) وقال العلامة ابن عابدين: (قوله وله الخروج الخ) اى ان لم يخف على والديه الضيعة ان كانا موسرين ولم تكن نفقتهما عليه. (ردالمحتار مع الدرالمختار ٥:٢٨٩ كتاب الحظر والاباحة، فصل فى البيع)

(٢) قال الامام محمد رحمه الله تعالى: فاذا اراد الخروج الى الجهاد وله ابوان فليس ينبغى له ان يخرج حتى يستأذنهما اذا لم يقع النفير عاما.
(شرح السير الكبير ١٩١:١ الجهاد ما يسع منه ومالا يسع)

(٣) (فتاوىٰ عالمگيرية ٥:٣٦٥ الباب السادس والعشرون فى الرجل يخرج الى السفر)

الجواب: د فرض عین نه کیدو په صورت کښې مشوره ضروري ده. (۱)

وهوالموفق

د مور پلار د اجازت او د مشر ورور یا استاذ

د عدم اجازت په صورت کښې د جهاد دپاره تلل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې یو سړی ته مور پلار د جهاد اجازت ورکړې. خو مشر ورور یا استاذ ورته اجازت نه ورکوی نو آیا د جهاد دپاره تلې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: امام مسجد شیخ الحدیث صاحب... ۲۵ مئی ۱٤۰۱ھ

الجواب: که دا سړې عالم، مدرس او متعلم نه وی نو د جهاد دپاره تلې شی. (۲) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن نجیم: وفی الذخیرة ان من سوی الاصول اذا کرهوا خروجه للجهاد فان کان یخاف علیهم الضیاع فانه لا یخرج بغیر اذنهم والا یخرج وکذا امرأته.

(البحر الرائق ۵:۷۲ کتاب السیر)

۲) قال العلامة ابن نجیم: وفی الذخیرة ان من سوی الاصول اذا کرهوا خروجه للجهاد فان کان یخاف علیهم الضیاع فانه لا یخرج بغیر اذنهم والا یخرج... والعالم الذی لیس فی البلدة احد افقه منه لیس له ان یغزو لما یدخل علیهم من الضیاع.

(البحر الرائق ۵:۷۲ کتاب السیر)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

(ششم جلد)

باب الغنائم وقسمتها

....

بسم الله الرحمن الرحیم

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوی فریدیه

باب الغنائم وقسمتها

عن ابی اسامة عن النبی صلی الله علیه وسلم:

انه نهی ان تباع السهام

حتی تقسم.

(رواه الدارمی)

....

باب الغنائم وقسمتها

مال غنیمت د ټولو مجاهدینو حق دي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د جهاد امیر د جهاد دپاره مجاهدین ولیږل او په مختلفو ګروپونو کې تقسیم کولو سره د هر یو په ذمه جدا جدا کار اوسپارلو، اوس سوال دا دې چې آیا صرف هغه ډله کوم چې د جهاد دپاره د جهاد امیر منتخب کړې دې هغه به په مال غنیمت کې شریکیږي او که هغه ډله هم کوم چې امیر د جنګ سره متعلقه په نورو امورو باندې فائز کړې وو
بله دا چې آیا مال غنیمت به د جهاد د امیر په رائې باندې تقسیمیږي کوم چې امیر کبیر دې او په افغانستان کې دې او که دلته به د پاکستان د امیر جهاد په مرضۍ سره تقسیمیږي؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي غلام احمد پلوسۍ پیښور

الجواب: اصولی طور دا د غنیمت مالونه د ټولو هغه خلقو حق دې کوم چې دار الحرب (افغانستان) لره د جنګ سره متعلقه امور پوره کولو دپاره متجاوز شوې وی، که هغوی د ایران د طرف نه افغانستان ته داخل شوې وی یا د پاکستان وغیره د طرفونو نه. یدل علیه مافی الهدایة ٢:٥٦٧ والردء والمقاتل فی العسکر سواء لاستواءهم فی السبب وهو المجاورة او شهود الوقعة علی ما عرف وکذلك اذا لم یقاتل لمرض اولغیره لما ذکرنا واذا لحقهم العدو فی دار الحرب قبل ان یخرجوا الغنیمة الی دار الاسلام شارکوهم فیها (١). وهو الموفق

---

(١) (الهدایة ٢:٥٦٨ کتاب السیر باب الغنائم وقسمتها)

مال غنیمت د ټولو مجاهدینو ترمینځه مشترک وی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو عسکر د دار الحرب نه مجاهدین لره فناء ته راوستل او دې مجاهدینو سره د بل لښکر یو مجاهد موجود وو، او د دې عسکر سره مشین هم وو، نو آیا د دې اول حزب د مجاهدینو سره (کوم چې په دې ځای موجود وو) حصه جوړیږي یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: بسم الله حقانی ... متعلم حقانیه هذا ..... ۱۰ فروری ۱۹۸۸ء

الجواب: اگر این مشین کن غنیمت باشد، پس در مابین تمام مجاهدین داخلی و خارجی مشترکه باشد (۱) البته مصالحت امیران بر فرقه خاص مجاهدین ممنوع نیست. (۲) وهوالموفق

---

۱) وفی الهندیة: الردء والمقاتل فی العسکر سواء کذا فی الهدایة... والاصل ان من دخل للقتال استحق السهم قاتل اولم یقاتل.
(فتاویٰ هندیة ۲۰۸:۲ الباب الرابع فی الغنائم، الفصل الاول)

۲) *...وفی الهندیة: قال محمد رحمه الله تعالیٰ: ولا یستحق القاتل سلب المقتول بنفس القتل مالم ینفل الامام قبل القتل فیقول من قتل قتیلا فله سلبه وهذا مذهب علماء نا رحمهم الله.
(فتاویٰ هندیة ۲۱۷:۲ کتاب السیر، الفصل الثالث فی التنفیل)

*...وفی اعلاء السنن: وقال ابن عباس ایضا فی روایة اخری عنه هی محکمة وللامام ان ینفل من الغنائم ماشاء لبلاء ابلاه وان یرضح لمن یقاتل اذا کان فیه صلاح للمسلمین. (اعلاء السنن ۲۶۳:۱۲ کتاب السیر باب التنفیل)

*...وقال العلامة الدکتور وهبة الزحیلی: فتخصیص بعض المجاهدین به موکول الی اجهتاد الامام.
(الفقه الاسلامی وادلته ۵۸۹۳:۸ حکم الانفال والغنیمة)

مال غنیمت د مصلحت مطابق په یو خاص ګروپ باندې د تقسیمولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید د لښکر امیر خپل لښکر په څلورو ډلو (الف، ب، ج، د) کې تقسیم کړو، هغوی ټولو د قلعه محاصره وکړه، څلور واړه ډلې په څلورو واړو طرفونو کې ناست وو او جنګ ئې کولو، په هغوی کې الف ګروپ قلعه ته نژدې وو په دې وجه هغه مال غنیمت واخستلو، باقی چونکې لرې لرې وو په دې وجه هغوی راو نه رسیدل، اوس سوال دا دې چې آیا د ج، ب او د ګروپونو په دې کې حصه جوړیږی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی میر عالم وزیرستان... ۲۴ مارچ ۱۹۸۴ء

الجواب: مال غنیمت د ټولو مجاهدینو ترمینځه مشترك وی، که د هر یو ګروپ نه وی. (۱) خو د مصالحت مطابق او په اتفاق د امیرانو په یو خاص ګروپ باندې تقسیمول جائز دی (۲) وهوالموفق

د جهاد مالونه د مجاهدینو د امیر په رائې باندې په هر کار کې خرچ کیدلې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې کومه وسله د

---

۱) قال العلامة ابن الهمام: (قوله الردء) ای العون (والمقاتل سواء) فی الغنیمة لا یتمیز واحد منهم علی آخر بشیٔ وهذا بلا خلاف لاستواء الکل فی سبب الاستحقاق. (فتح القدیر ۵:۲۲۵ باب الغنائم وقسمتها)

۲) وفی الاختیار لتعلیل المختار: (ویجوز التنفیل قبل احراز الغنیمة)... ولا ینبغی للامام ان ینفل بجمیع المأخوذ لان الغنیمة حق العسکر... فان فعله مع سریة جاز لجواز ان تکون المصلحة فی ذلک. (الاختیار لتعلیل المختار ۴:۱۶۲ کتاب السیر، فصل احکام اخماس الغنائم)

وقال الدکتور وهبة الزحیلی: فتخصیص بعض المجاهدین به موکول الی اجتهاد الامام. (الفقه الاسلامی وادلته ۸:۵۸۹۳ حکم الانفال والغنیمة)

حکومت د طرف نه د مجاهدینو تنظیمونو ته ورکولې شي. آیا د هغې خرخول او په هغې سره نور قسم ضروریات پوره کول جائز دي یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: سیف الرحمٰن میران شاه شمالی وزیرستان ... ۲۷ دسمبر ۱۹۸۷ء

الجواب: این اسلحه وغیرها زیر اختیار امیران اند که حسب صوابدید ایشان بر ضروریات مهاجرین صرف کرده شوند مثل خورد ونوش لباس معالجه تعلیم وغیره، پس بوقت حاجت صرف از مد اسلحه بر نفقه واز مد نفقه بر اسلحه حسب صوابدید امیران جائز است. (۱) وهوالموفق

د فتح نه مخکې د مال غنیمت د تقسیمولو مسئله

سوال: چې میفرمایند علماء دین درین مسئله که افغانستان در صورت دار حرب بودن غنائمی که بدست مجاهدین مے آید تقسیم در آن جا در نیست، پس درباره آن چې معامله کرده شود؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالغفور مهاجر فاضل حقانیه ... ۳ ربیع الاول

الجواب: تقسیم غنائم ضروری است (۲) البته قبل از فتح اهل اسلام

---

۱) یدل علیه ما فی الصحیح البخاری: وقال طاؤس ومجاهد اذا دفع الیک شیئ تخرج به فی سبیل الله فاصنع به ماشئت وضعه عند اهلک ... قال عمر رضی الله تعالیٰ عنه حملت علی فرس فی سبیل الله فرأیته یباع فسألت النبی ﷺ آشتریه؟ فقال لا تشتره، وقال الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالیٰ: وجه دخول قصة فرس عمر من جهة ان النبی ﷺ اقر المحمول علیه علی التصرف فیه بالبیع وغیره فدل علی تقویة ما ذهب الیه طاؤس من ان للآخذ التصرف فی المأخوذ. (فتح الباری: ۶:۱۲۴ کتاب الجهاد: باب الجعائل والحملان فی السبیل)

۲) قال العلامة الکاسانی: اذا دخل جماعة لهم منعة دار الحرب فاخذوا اموالاً منهم فانها تقسم قسمة الغنائم بالاجماع. (بدائع الصنائع ۶:۹۰ کتاب السیر، بیان حکم الغنائم)

وشکست شوعین تقسیم کردن یا خواستن مخالف از مذهب است.([1]) وضرر رسان با محاربه است. وهوالموفق

مال غنیمت به د حکومت وی که د فوج؟

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په موجوده دور کې که اسلامی فوج په کفارو باندې غالب شی او مال غنیمت د هغوی په لاس راشی نو هغه به د حکومت وی او که په فوجیانو کې به تقسیم کولې شی د سهم له وسهمین لفرسه مطابق؟ حال دا چې فوجیانو ته سورلی، اسلحه وغیره حکومت ورکوی؟ بینواتوجروا

المستفتی: حوالدار مرجان ټل سکاؤټس... یکم رمضان المبارک

الجواب: دا فوجی قوانین هم د نورو قوانین په شان غیر اسلامی دی.([2]) وهوالموفق

---

[1] قال العلامة ابن نجیم: حرم قسمة الغنائم فی دارالحرب لغیر ایداع لنهیه ﷺ عن بیع الغنائم فی دارالحرب والقسمة بیع معنیً فتدخل تحته... والاصل عندنا انه لا ملک قبل الاحراز بدار الاسلام فتحرم القسمة والبیع قبله.
(البحر الرائق ٥:٨٣،٨٤ باب الغنائم وقسمتها)

[2] شرعاً د مال غنیمت تقسیمولو طریقه داده چې دا پنځه حصې کړی، پنځمه حصه په بیت المال کې داخله کړی او باقی څلور حصې په هغه فوج تقسیم کړی چاچې د جنګ په دوران کې په دې مال غنیمت باندې قبضه کړې ده. او دا طریقه چې د غنیمت ټول مال به د حکومت وی یا به ئې په بیت المال کې داخلوی د مصلحت نه بغیر دا طریقه غیرشرعی او غیراسلامی ده، اود سنت نبوی ﷺ خلاف ده. علامه کاسانی فرمائی. اذا دخل جماعة لهم منفعة دارالحرب فاخذوا اموالاً منهم فانها تقسم قسمة الغنائم بالاجماع سواء دخلوا باذن الامام او بغیر اذنه. (بدائع الصنائع ٤:٩٠ کتاب السیر بیان حکم الغنائم) او صاحب د هدایې په دې باندې تصریح کړې ده: قال العلامة المرغینانی: ویقسم الامام الغنیمة فیخرج خمسها لقوله تعالیٰ: فان لله خمسه ولرسوله، استثنی الخمس ویقسم اربعة اخماس بین الغانمین لان النبی ﷺ قسمها بین الغانمین (الهدایة ٢:٢٦٧ باب الغنائم وقسمتها)

...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د مجاهدینو د پاره جمع شوې چنده د هغوی په اهل و عیال باندې د خرچ کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی سره د مجاهدینو دپاره څه پیسې د خلقو نه راجمع کړې شوې آیا دا سړې دا رقم د مجاهدین په اهل وعیال باندې خرچ کولې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: طالب علم ... ۸ جمادی الثانی ۱٤۰۱هـ

الجواب: د مجاهدینو په اهل وعیال باندې خرچ او په مجاهدین باندې د جنګ په میدان کې خرچ یو شان دې یدل علیه ماقال طاؤس ومجاهد اذا دفع الیك شیئ تخرج به فی سبیل الله فاصنع ما شئت وضعه عند اهلك (بخاری شریف ۱:٤۱۷)(۱) ولحدیث من خلف غازیاً فی سبیل الله بخیر فقد غزا، (بخاری ۱:۳۹۹)(۲). وهوالموفق

د خائنه یو مجاهد حربی لره قتلولو سره د هغه نه وسله اخستل د هغه حق دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو مجاهد روسی

... بقیه ازحاشیه گذشته] البته د مصلحت په خینې صورتونو کې په دې کې کمې زیاتې یا په خاص قسم مجاهدینو کې تقسیمول چه دا په مصلحت سره او په اتفاق د حاکمانو وی دا ددې نه مستثنی دی. قال الشیخ ظفر احمد التهانوی: وقال ابن عباس ایضاً فی روایة اخری عنه هی محکمة وللامام ان ینفل من الغنائم ماشاء لبلاء ابلاه وان یوضع لمن یقاتل اذا کان فیه صلاح للمسلمین.

(اعلاء السنن ۱۲:۲٦۳ کتاب السیر باب التنفیل) ... ازمرتب

۱) (الصحیح البخاری ۲:٤۱۷ باب الجعائل والحملان فی السبیل، کتاب الجهاد)

۲) عن زید بن خالد ان رسول الله ﷺ قال من جهز غازیا فی سبیل الله فقد غزا ومن خلف غازیا فی سبیل الله بخیر فقد غزا.

(الصحیح البخاری ۱:۳۹۸،۳۹۹ باب فضل من جهز غازیا او خلفه بخیر ، کتاب الجهاد)

حربی قتل کړو او د هغه نه ئې مشین اخستلې دې او پاکستان ته راغلې دې، اوس بعض مجاهدینو په دې مجاهد باندې دعوی کړې ده چې تاسو زمونږ سره وعده کړې وه چې تاسو ته کوم مال غنیمت حاصل شی په هغې کې به زمونږ حصه وی او مدعی علیه انکار کوی او هغه خلق دې وخت کې د مجاهد سره نه وو؟ بینوا توجروا

المستفتی: گل دار افغانی اضاخیل کیمپ پشاور... ۱۲ جون ۱۴۰۱ھ

الجواب: د حدیث په بنا ﴿من قتل قتیلا فله سلبه﴾ رواه الترمذی (۱) وابوداؤد (۲) وغیرهما. دا مشین صرف د هغه قاتل حق دې، په دې کې د غیر قاتلین حق نشته که د مقاتلې نه مخکې هغه د شرکت فیصله کړې وی او که نه وی، دا اسلامی او کتابی شرکت نه دې. (۳) وهوالموفق

په دار الحرب کې د مسلمان سوداگر د مال تجارت حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې بعض مسلمان سوداگر په دار الحرب کې سامان تجارت وغیره راوړی او هلته اخستل خرڅول کولو سره کافی فائده او نفع حاصلوی، که مجاهدین په دې سامان تجارت باندې قبضه وکړی نو آیا دا سامان تجارت کوم چې د مسلمان نه په

---

۱) عن ابی قتادة قال قال رسول الله ﷺ من قتل قتیلا له علیه بینة فله سلبه.
(جامع الترمذی ۱: ۴۱۸ کتاب السیر، باب ماجاء فی من قتل قتیلا فله سلبه)

۲) (ابوداؤد ۲: ۳۷۶ باب فی النفل)

۳) وفی الاختیار: اعلم ان الداخل دار لا یخلو اما ان کان لهم منعة اولا... وان لم یکن لهم منعة فان کان بغیر اذن الامام لا یخمس لانه لیس بغنیمة... واذا لم یکن غنیمة فما اخذه کل واحد فهو له خاصة لانه مأخوذ علی اصل الاباحة کالحشیش والصید لما مر فی الشرکة (الاختیار لتعلیل المختار ۴: ۱۶۱ فصل احکام اخماس الغنائم)

دار الحرب کې اخلي دا به غنيمت شمارلې شي يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: محمد نعيم اضاخيل كيمپ پيښور

الجواب: د مسلمان سره نه ښائي چې دار الحرب ته د تجارت سامان برابر کړي په دې سره به اهل حرب ته تقويت حاصليږي کوم چې يو قسم اعانت دې، خو دا مال او سامان تجارت مال غنيمت نه شمارلې کيږي، مال غنيمت هغه وی کوم چې د کفارو نه د طاقت په زور واخستلې شي. **وفي رد المختار ٣/٣٣٦ الغنيمة اسم لما يؤخذ من اموال الكفرة بقوة الغزاة وقهر الكفرة (١) ومثله في البدائع ٧/١١٧ (٢) وهوالموفق**

په دار الحرب کې د مسلمان سوداګرو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو کافر په اسلامي ملك باندې حمله وکړي او مسلمان د هغوی خلاف جهاد شروع کړي، بيا د جنګ دوران دا کافر ملك د نورو ملکونو نه مختلف مالونه او څيزونه راوغواړي، دا مالونه په دوه قسمه وی يو قسم د دې کافر حکومت ملك وی او دويم قسم د عام مسلمان سوداګرو وی کوم چې په دې کافر حکومت کې دننه په مسلمانانو او کافرو باندې خرڅوی نو آيا د مجاهدينو دپاره دا جائز ده چې د مسلمانانو د دې مالونو نه مال غنيمت جوړ کړي **بينواتوجروا**

المستفتي: شير اكبر صادق جامعه اسلاميه مدينة المنورة

كلية الدعوة واصول الدين ... ١٢ اگست ١٩٨٤ء

الجواب: د دې څيزونو په کفارو باندې خرڅول چې په هغې سره اهل حرب ته

---

١) (ردالمحتار هامش الدرالمختار ٤:١٣٧ كتاب الجهاد والمغنم)

٢) قال العلامة الكاساني: فالغنيمة عندنا اسم للماخوذ من اهل الحرب على سبيل القهر والغلبة. (بدائع الصنائع ٧:١١٧ كتاب السير)

تقویت ملاویږي مکروه تحریمی دی کما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ۳۱۳:۳ قبیل باب المغنم وقسمته لم یبع ای یحرم ان یبیع منهم ما فیه تقویتهم علی الحرب... ولا نحمله الیهم ولو بعد صلح لانه علیه الصلوٰة والسلام نهی عن ذلك وامر بالمیرة وهی الطعام والقماش فجاز استحسانا انتهٰی(۱) او د مسلمانانو نه د دې په زوره اخستل مال غنیمت نه دي لان الغنیمة ما نیل عن الکفار کما فی المغرب(۲) وما یؤخذ من اموال الکفرة بقوة الغزاة وقهر الکفرة کما فی الهندیة(۳) نعم جاز تعزیر مثل هذا العاصی علی وجه. وهو الموفق

د هندوانو متروکه ځیزونه د مال فئ په حکم کښې دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د هندوانو د پرېښودلې شوې مالونو څه حکم دې؟ او د هغې مالکان به کوم خلق متصور کولې شی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی محمد انور نوښار ۸ جنوری ۱۹۹۰ء

الجواب: ومنه الصدق والصواب: د هندوانو متروکه اموال د فیئ په حکم کې دی (۴) د دې مالکان به هغه کسان وی د چا نه چې حکومت مالکان جوړ

---

۱) الدر المختار علی هامش ردالمحتار ۲۴۸:۳ کتاب الجهاد قبیل باب المغنم وقسمته)

۲) وفی مجمع بحار الانوار: الغنیمة وهو ما اصیب من اموال اهل الحرب بایجاف خیل ور کاب. (مجمع بحار الانوار ۷۲:۴ باب الغین مع النون)

۳) وفی الهندیة: الغنیمة اسم لمال ماخوذ من الکفرة بالقهر والغلبة والحرب قائمة قبل الاحراز بدار الاسلام (فتاویٰ عالمگیریة ۲۰۴:۲ کتاب السیر الباب الرابع فی الغنائم)

٤) قال العلامة الشامی: وما اخذ منهم بلا حرب ولا قهر کالهدیة والصلح فهو لا غنیمة ولا فیٔ وحکمه حکم الفیٔ لا یخمس ویوضع فی بیت المال.
(ردالمحتار ۲۵۰:۳ باب المغنم وقسمته، مطلب بیان معنی الغنیمة)

کړي. قال الله تبارك وتعالیٰ: وما افاء الله علی رسوله منهم فما اوجفتم علیه من خیل ولارکاب ولکن الله یسلط رسله علی من یشاء (سورة الحشر)(١)۔ والله اعلم بالصواب

په جهاد کې د کفار او د هغوی د معاونین باغونه پرې کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې کفارو سره په جنګ کې د هغوی باغونه یا د هغوی د معاونین د باغونو پرې کولو څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتي: قاري محمد انور مدرسه عربیه تل... ٢٣ اپریل ١٤٠١ھ

الجواب: کفار او د هغوی د معاونین باغونه پرې کول مشروع دی (قرآن) (٢) (حدیث) (٣) وهوالموفق

د مجاهدینو د پاره د کابل نه غوا، چیلئ وغیره غصب کولو سره راوستل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د مجاهدینو دپاره د کابل نه د عام خلقو د غوا او بیزې وغیره غصب کولو سره راوستل جائز دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتي: محمد حلیم متعلم حقانیه... ٢٢ صفر ١٤٠٥ھ

---

١) (سورة الحشر آیت: ٦)

٢) قال الله تعالیٰ: ما قطعتم من لینة او ترکتموها قآئمة علی اصولها فباذن الله ولیخزی الفاسقین۔ (سورة الحشر آیت: ٥)

٣) عن ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما قال حرق رسول الله ﷺ بعث نخل بنی النضیر وقطع وهی البویرة۔
(اعلاء السنن ١٢:٢١ کتاب السیر باب تحریق اشجار دارالحرب وقطعها الخ)

الجواب: قصدا عمدا دا اقدام حرام دي (۱) **وهوالموفق**

د کمیونسټو د معاونینونښځې نیول او د هغوی نه وینزې جوړول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د کمیونسټو ښځې نیول او د هغوی نه وینزې جوړول څنګه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: مولوی میر عالم خان وزیرستانی ... ۲۴ مارچ ۱۹۸۴ء

الجواب: چې هر کله د هغه معاونین مرتد کیدل ثابت نه وی نو دا نیول او وینزه جوړول جائز نه دی (۲) **والله اعلم**

د جهادی مرکز نه ټوپکې غلا کیدو په صورت کې په مستعیر باندې د ضمان مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې مجاهد منظر خیل د جهاد دپاره د مجاهدین د جماعت نه ټوپکې واخستلې او په وزیرستانی مجاهدینو ئې تقسیم کړې لکه چې د مجاهدینو قانون دې، عملی جهاد کولو سره یو سړی سره د خپلو ملګرو ټوپکې غلا کړې او د مرکز نه وتښتیدل، اوس د جماعت د مرکز امیر دعوی په مجاهد منظر خیل باندې

---

۱) قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي: ثبت تحريم الغصب في القرآن والسنة والاجماع، اما القرآن فقول الله تعالىٰ يأيها الذين آمنوا لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل... اما السنة فقوله ﷺ ان دماء كم واموالكم حرام عليكم كحرمة يومكم هذا، في شهر كم هذا، في بلدكم هذا... واجمع المسلمون على تحريم الغصب وهو معصية كبيرة.

(الفقه الاسلامي وادلته ۶:۴۷۸۶ الفصل السابع الغصب)

۲) وفي الهندية: ولا تسبى نساء هم وذراريهم ولا يملك عليهم اموالهم.
(فتاوى هندية ۲:۲۸۳ الباب العاشر في البغاة)

کوی چې یا خو د هغه غلو نه ټوپکې واپس راوړه یا ترې قیمت واخله څکه چې ضمانت تا کړې وو.

مجاهد منظر خان په جواب کې وائی چې دا کسانو جهاد کولو او د هغوی نه تول مجاهدین راضی وو او موږ تولو ته دهوکه راکولو سره تبنتیدلي دی دا معلومات هم شوي دی چې دا ټوپکې د جهاد دپاره امانت دی ما نه خرڅ کړې دی او نه په دې کار کې شریك یم، لهذا دا هلاك دې استهلاك نه دې، اوس سوال دا دې چې د دې ضمان په چا باندې راځی؟ او دا هلاك دې یا استهلاك؟ بینواتوجروا

المستفتی: نیك بهادر نقشبندی بویا محمد خیل..۲۲ ستمبر ۱۹۸۷ء

الجواب: علامه شامی وغیره په کتاب العارية کې لیکلي دی چې مستعیر اعاره کولې شی. (۱) پس که مجاهدین د شمالی وزیرستان په شهادت شرعیه سره ثابت کړی چې دا مستعیر بین خائن وو نو دا استهلاك دې او موجب ضمان دې کنه نو موجب ضمان نه دې. (۲) واضحه دې وی که د دغه مجاهدینو جماعت دې مستعیر ته د ضمان ورکولو وعده کړې وی نو دا نامنظور او کالعدم ده. کمافی شرح المجلة ۴۵۰ العارية امانة فی يد المستعير ...فلاضمان ايضا ولوشرطه المعيرلان اشتراط الضمان فی الامانات باطل (۳) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحصكفی: وله ان يعير ما اختلف استعماله او لا ان لم يعين المعير منتفعاً ويعير مالايختلف ان عين وان اختلف لا للتفاوت. (الدرالمختار ۴:۵۶۲ كتاب العارية)

۲) قال الشيخ ظفر احمد العثمانی: عن شريح انه قال ليس على المستودع غير المغل ضمان ولا على المستعير غير المغل ضمان وبالاجماع لايضمن المستودع مالم يتعد فكذلك المستعير.
(اعلاء السنن ۱۶:۵۷ كتاب العارية)

۳) (شرح المجلة لسليم رستم باز ۴۵۰ الباب الثالث فی العارية)

بسم الله الرحمٰن الرّحيم

فتاوٰي ديوبند پاكستان

المعروف به

فتاوٰي فريديه

(شپږم جلد)

باب الاستيمان واحكام دارالحرب

....

بسم اللہ الرحمن الرحیم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوٰی فریدیہ

باب الاستیمان

واحکام دار الحرب

قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم:

من اٰمن رجلاً علی نفسه فقتله

اعطی لواء الغدر یوم القیٰمة

(رواہ فی شرح السنة)

....

باب الاستیمان واحکام دار الحرب

د دار الحرب او دار الاسلام تعریف

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د دار الحرب او دار الاسلام تعریف څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حضرت جمال تور ډهیر ... ۲۵ جمادی الاول ۱۳۹۵ھ

الجواب: دارالحرب عبارت است از دارے که درو ولایت (حکومت وتسلط) کفار باشد ودر آن حکمی از احکام اسلام جاری نه شود، کفار از اجرائے احکام شرع باز مے شوند بلکه احکام کفر راسبیل اشتهار جاری سازند، وکسی از اهل اسلام بلا اجازت وامان کفار درآنجا اقامت کردن نه تواند، کذا یفهم من تقریر الامام محمد فی الزیادات (مجموعة الفتاوی ۲۲)(۱)

قلت ان دارالحرب قسمان اصلیة وهی مافیه تسلط الکفار ولاتمکن فیه اظهار الشرائع الا باذنهم فتامل فی شان مکة قبل الفتح، وطاریة وهی مافیه ظهور احکام الکفر عند ابی یوسف ومحمد کما فی البدائع ۷: ۱۳۰ وقال ابوحنیفة انها (دارالاسلام) لا تصیر دارالحرب الا بثلث شرائط احدهما ظهور احکام الکفر فیها، والثانی ان تکون متاخمة (متصلة) لدار الکفر والثالث ان لا یبقی فیها مسلم ولا ذمی آمنا بالامان الاول وهوامان المسلمین (بدائع ۷: ۱۳۰)(۲)۔

فاقلیم الهند کانت دارالاسلام فی عهد المغل وبعد تسلط النصاری فصارت دارالحرب عندهما لا عنده لبقاء بعض الشرائع والشعائر کالجمعة والاذان وغیره واما بعد ذهاب تسلط النصاری ومجئ تسلط المسلمین مثله هی باقیة علی ما کانت علیه بل لافرق بین الباکستان ویورب فی منع الشرائع وعدم المنع الا

---

۱) (مجموعة الفتاوی ۲: ۱۷۳ کتاب الحظر والاباحة)

۲) (بدائع الصنائع ۶: ۱۱۲، کتاب السیر، بیان الاحکام التی تختلف باختلاف الدارین)

قدراً يسيراً فبالجملة ان الباكستان دارالمسلمين حتماً ودارالاسلام عنده لا عندهما فافهم.وهوالموفق

د دارالحرب تعریف او تعین

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې (چه خان عالم ګڼی) په لویه مجمع کې وویل چې دې وخت په دنیا کې یو ځای کې هم دار الحرب نشته چې کله مونږ د هغه نه وضاحت طلب کړو آیا روس، چین او امریکه وغیره دار الحرب نه دی؟ نو هغه وویل چې هر ګز نه دی؟ په دې باندې مونږ د هغه نه د دار الحرب تعریف اوپوښتنې نو هغه وویل چې یو غیر مسلم حکومت تر هغه وخته پورې دار الحرب نه جوړیږی تر څو چې هغه په مسلمانانو باندې جنګ مسلط نه کړی. مهربانی وکړئ بیان کړئ چې د دې عالم دا خبره صحیح ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: صاحب زاده صفی الله ضلع دیر

الجواب: په کومو ملکونو باندې چې د مسلمانانو تسلط نه وی راغلې او د پخوا زمانې نه هلته د کفارو حکومت جاری وی لکه روس، چین او امریکه نو دا ملکونه بیشکه دار الحرب دی. قال العلامة الكهنوی فی فتاواه ۲: ۲۲ دارالحرب عبارت ازدارے است که در وولایت کفار باشد ودران حکمے از احکام اسلام جاری نشود وکفار از اجراء احکام شرع مانع شوند بلکه احکام کفر راعلی سبیل الاشتهار جاری سازند وکسی از اهل اسلام بلا اجازت وامان کفار درانجا اقامت کردن نتواند، كذا يفهم من تقرير الامام محمد رحمه الله فی الزيادات انتهى(۱).واضح باد که اجازت امریکه برائے نماز وصوم مثل اجازت اهل ذمه ست در دارالاسلام فقط.وهوالموفق

---

۱) (مجوعمة الفتاوی ۲: ۱۷۳ کتاب الحظر والاباحة)

وقال العلامة الكاسانی: واختلفوا فی دارالاسلام انها بماذا تصير دارالكفر؟ قال ابوحنيفة انها لا تصير دارالكفر الا بثلاث شرائط،...[بقيه حاشيه بر صفحه آئنده

د سمندری حدودو په دار الحرب کې داخلیدل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په جغرافیائی تقسیم کې د سمندر څه حصه هغې ته د نږدې ملکونو په قبضه کې وی، چې په هغې کې د نورو ملکونو بغیر د اجازت نه د سمندری حدود خلاف ورزی ګڼلې شی، آیا په دې صورت کې د کافر ملکونو سمندری حدود به هم د دار الحرب په حکم کې وی؟ یعنی سمندر په دار الحرب کې داخلیدلې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: انور حیات چکوال پنجاب

الجواب: کوم ملك چې دار الحرب شی نو د هغې د قبضې نه لاندې ټول حدود حکما په دار الحرب کې شامل دی په دې شرط چې د اسلامی ملکونو سره د هغه علاقې تعلق ختم شی **وفی ردالمحتار۳: ۲۱۱ قوله: واحرزوها دارهم ویلحق بها البحر الملح ونحوه کمفازة لیس ورائها بلاد الاسلام نقله بعضهم عن الحموی وفی حاشیة ابی السعود عن شرح النظم انها علی سطح البحر له حکم دارالحرب(۱)۔وهوالموفق**

آیا افغانستان دار الحرب دې یا دار الاسلام

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په دې زمانه کې د افغانستان څۀ حکم دې؟ هغه دار الحرب دې یا دار الاسلام؟ او د تقدین په

بقیه ازحاشیه گذشته] احدها: ظهور احکام الکفر فیها، والثانی: ان تکون متاخمة لدار الکفر والثالث :ان لایبقی فیها مسلم ولاذمی آمنا بالامان الاول وهوامان المسلمین، وقال ابویوسف ومحمد رحمهم الله انها تصیر دارالکفر بظور احکام الکفر فیها۔

(بدائع الصنائع ۱۱۲: ۶ بیان الاحکام التی تختلف باختلاف الدارین)

۱) (ردالمحتار هامش الدر المختار ۲۶۶: ۳ باب استیلاء الکفار کتاب الجهاد)

صورت کې د هغه مالونو څه حکم دی کوم چې مجاهدین او غازیان د افغان حکومت نه جبرا اخلی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد متعلم حقانیه .... ۱۷ جمادی الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: افغانستان په ظاهره کې دار الاسلام دی او په حقیقت کې دار الحرب دی. اما الاول فلعدم ظهور احکام الکفر فیه، قال العلامة الشامی قوله باجراء احکام اهل الشرك ای علی الاشتهار وان لایحکم فیها بحکم اهل الاسلام هندیه وظاهره .انه لو اجریت احکام المسلمین واحکام اهل الشرك لا تکون دارحرب، (ردالمحتار ۳: ۳۵۰)(۱) واما الثانی فلما فی البدائع وجه قول ابی حنیفة ان المقصود من اضافة الدار الی الاسلام والکفر لیس هو عین الاسلام والکفر وانما المقصود هو الامن والخوف ومعناه ان الامان ان کان للمسلمین فیها علی الاطلاق والخوف للکفرة فیها علی الاطلاق فهی دار الاسلام الخ(۲)،

قلت والخوف فی بلد افغانستان لاهل الاسلام الا لمن کتم او استلم او داهن اظهر من الشمس، ثم ایمانهم ایاهم لایلافهم الدهریة مثل ایمانهم اهل بخاری. وهوالموفق

د کینیا د دار الحرب کیدو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په کینیا کې هر سړی ته مذهبی او شهری آزادی حاصل ده آیا په هغې باندې د دار الحرب احکام جاری کیدې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد اشفاق راولپنډی... ۱۵ اگست ۱۹۷۹ء

۱) (ردالمحتار هامش الدر المختار ۳: ۲۷۷ قبیل باب العشر والخراج والجزیة)

۲) (بدائع الصنائع ۶: ۱۱۲ کتاب السیر)

الجواب: چې کله مذهبی آزادی د اجازت محتاج دی نو دا آزادی آزادی نه ده بلکې پابندی ده، بهر حال امریکه یقینی طور دار الحرب دې خصوصا د امام ابویوسف او امام محمد رحمهما الله په نزد، د هغوی په نزد دار ومدار په احکاماتو باندې دې، یعنی چې کله غیر اسلامی احکام او قوانین علانیه نافذ او جاری وی نو دا وطن به دار الحرب وی **کما فی الهندیة ٣/٢٣٢**(١)

وهوالموفق

آیا تهانی لینړ دار الحرب دې؟

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د دار الحرب تعریف څه دې؟ آیا تهانی لینړ دار الحرب دې یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم.....٢٠ جون ١٩٧٦ء

الجواب: دار الحرب هغه وطن دې چې په هغې کې د شروع نه د کفارو تسلط راروان وی، او یا ټول شعائر اسلام په هغې کې ممنوع وی او حال دا چې د مسلمانانو نه قبضه اخستلې شوې وی، او په ظاهره تهانی لینړ په اول قسم کې داخل دې، **والتفصیل فی ردالمختار ٣/٢٤٩، ٢٥٠**(٢) **وهوالموفق**

---

١) وفی الهندیة: قال محمد رحمه الله تعالیٰ فی الزیادات انما تصیر دارالاسلام دارالحرب عند ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ بشروط ثلاثة احدها اجراء احکام الکفار علی سبیل الاشتهار وان لا یحکم فیها بحکم الاسلام والثانی ان تکون متصلة بدار الحرب لا یتحلل بینهما بلد من بلاد الاسلام والثالث ان لا یبقی فیها مؤمن ولا ذمی آمنا بامانه... وقال ابویوسف ومحمد رحمهما الله تعالی بشرط واحد لاغیر وهو اظهار احکام الکفر وهو القیاس. (فتاوی هندیة ٢:٢٣٢ کتاب السیر، الباب الخامس فی استیلاء الکفار)

٢) قال العلامة الحصکفی: (لاتصیر دارالاسلام دارحرب الا) بامور ثلاثة: باجراء احکام اهل الشرک وباتصال بدارالحرب وبان لا یبقی فیها مسلم ولا ذمی آمنا بالامان الاول، وقال الشامی (قوله لا تصیر دارالاسلام دارحرب الخ)...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د کمیونزم د وجې نه افغانستان دار الحرب او دار بغاوت دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې آیا د کمیونزم د وجې نه افغانستان دار الحرب دې یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: کل قدم میرا علی ناظم اعلی میر علی وزیرستان ... ۲۱ جمادی الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب: افغانستان د امام ابویوسف او امام محمد رحمهما الله په نزد دار الحرب دې، او د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد دار البغاة دې (۱) **وهوالموفق**

د دار الحرب طرف ته تلونکی د خوراک څښاک د څیزونو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې حالیه جهاد افغانستان کوم چې د روس خلاف جاري دې، څۀ مجاهدین په خوست کې د جهاد کولو دپاره روان شو، د شپې په لاره کې یو ټریکټر او بس چې په هغې باندې د خوراک څښاک سامان خوست ته وړلې شو لره قبضه کولو سره ټریکټر

... بقیه ازحاشیه گذشته] ای بان یغلب اهل الحرب علی دار من دورنا او ارتد اهل مصر وغلبوا واجروا احکام الکفر او نقض اهل الذمة العهد وتغلبوا علی دارهم ففی کل من هذه الصور لا تصیر دارحرب الا بهذه الشروط الثلاثة وقالا بشرط واحد لا غیر وهو اظهار حکم الکفر وهو القیاس- (ردالمحتار ۳:۲۷۷ کتاب الجهاد، مطلب فیما تصیر به دارالاسلام دارحرب)

۱) قال العلامة الکاسانی: واختلفوا فی دارالاسلام انها بما ذا تصیر دارالکفر قال ابوحنیفة: انها لاتصیر دارالکفر الا بثلاث شرائط: احدها ظهور احکام الکفر فیها والثانی ان تکون متاخمة لدار الکفر والثالث ان لایبقی فیها مسلم ولا ذمی آمنا بالامان الاول وهو امان المسلمین وقال ابویوسف ومحمد رحمهما الله انها تصیر دارالکفر بظهور احکام الکفر فیها. (بدائع الصنائع ۶:۱۱۲ کتاب السیر، فصل واما بیان الاحکام التی تختلف باختلاف الدارین)

اوسوزولې شو او بس لره په میرانشاه بازړ باندې راوستلې شو، د بس د مالك متعلق لاتر اوسه پورې نه ده معلومه چې کوم قسم سړې دې، بلكه دا چې هلته د علاقې عام مسلمانانو وسیدونكو ناكه لګولې ده چې مونږ به د پاكستان نه د خوست بازار دپاره د یو څیز سمګلنګ ته هم نه پرېږدو ځكه چې د خوست او كابل لاره بنده ده او هیڅ سامان د هغه طرف نه نۀ راځي. اوس مونږ د مجاهدینو نه تپوس كوو چې دا بس غنیمت شمار كړې شي او كه د تعزیر بالمال په طور وسیزلې شي او كه بغیر د څه شرط نه مالك ته واپس كړې شي؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: مولانا غلام حقاني زرګري هنګو .... ٤ ربیع الاول ١٤٠٢هـ

الجواب: صرف په افواه ګانو باندې د مسلمانانو مال هلاكول یا د تعزیر بالمال دفعه لګول بې احتیاطي او بدنامي ده. (١) چې كله د حكومت پاكستان د طرف نه د دې اجازت موجود دې نو د مجاهدینو امیر به په كوم قانون باندې د دې تباهۍ اجازه وی. **وهوالموفق**

په دار الحرب كې وسیدونكي مسلمان محقون الدم او معصوم المال دی

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره كې چې آیا د افغانستان حالا مسلمانان مباح الدم دی؟ او د هغوی مالونه به غنیمت شمارلې شي؟ حال دا چې هغوی د افغانستان حكومت خلاف جنګ هم كوی او مخالف هم دی صرف هجرت نه كوی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: نامعلوم فاضل حقانیه ...٦ شعبان ١٤٠١هـ

---

(١) قال في عقد الفرائد :لایجوز لاحد ان یاخذ مال احد بلا سبب شرعي، ای لا یحل في كل الاحوال عمداً او خطأ ونسیانا جدا او لعباً ان یاخذ مال احد بوجه لم یشرعه الله تعالی ولم یبحه... واما قید بلا سبب شرعي احتراز عن وجود سبب شرعي للاخذ.
(عقد الفرائد البهیة في جمع القواعد الفقهیة ١١٤ رقم مادة: ١١٩)

الجواب: کمیونسټ او د هغوی کومکیان او مدافعینو نه علاوه نور د اسلام دعوه لرونکی محقون الدم او معصوم المال دی (١) وهوالموفق

کمیونسټ عقیده ساتونکی او د هغوی معاونین او مالونو حکم

سوال: چې میفرمایند علماء کرام درین مسئله که در افغانستان چند فرقه ها موجود اند، یك فرقه پرچم و خلق اند که در وقت ظاهر شاه و داؤد تعلیم و مدرسه روس حاصل کردند عقیده ایشان مخالف از قرآن و حدیث باشد، ودیگر فرقه یمین اند که تعلق به روسها بودند، حکم این فرق چیست؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالرؤف... کربوغه شریف کوهاټ... ٢٢ ربیع الثانی ١٤٠١هـ

الجواب: کمیونسټ و معاونین ایشان مباح الدم اند البته از معاونین ایشان اموال بطورتملك گرفته نمی شوندمثل اهل البغي بخلاف کمیونسټ که اموال ایشان مباح و غنیمت انداء (ماخوذازشامی،باب البغاة) (٢) وهوالموفق

---

١) قال الشیخ محمد کامل الطرابلسی: سئلت عن بلدة استولی علیها الکفار وتمکنوا منها فانضم الیهم بعض القبائل والعشائر وصار وایقاتلون معهم المسلمین وینهبون مالهم وینصحون الکفار ویعینوهم علی اذی المسلمین فکانوا اشد ضرراً علی المسلمین من الکفار فما الحکم فیهم وهذا حالهم؟ فالجواب انی لم اقف علی حکم هؤلاء فی کتب مذهبنا معاشر الحنفیة ولکن وقفت عن حکمهم فی کتب بعض السادات المالکیة والظاهر ان حکم هؤلاء حکم اهل دارالحرب فی قتلهم واخذ مالهم لکونهم رداً لعدو الحرب ومعینون له بانفسهم ... ومنه تعلم ان من یدخل تحت جوارهم وامانهم من غیر اعانة لهم بنفسه ولا بماله ولایکون لهم عینا ولا رداً دونهم لا یباح قتله۔ (فتاوی کاملیة ٢٥١ کتاب الجنایات)

٢) قال العلامة الحصکفی: فاذا خرج جماعة مسلمون عن طاعته ای طاعة الامام وغلبوا علی بلد دعاهم الیه ای الی طاعته و کشف شبهتهم ... [بقیه حاشیه برصفحه آئنده

د افغان غیر مهاجرین نفسونو او مالونو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د افغانستان بعض خلقو هجرت نه دې کړې او هلته په خپلو کورونو کې وسیږي او د مجاهدینو امداد هم نه کوی، دې خلقو ته نقصان رسول څنګه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: قاری انور مدرسه عربیه تل.... ۲۳ جون ۱۴۰۱ھ

الجواب: د هغوی نفسونو او مالونو سره به کار نه شي لرلې. لعدم المبیح (لعدم کونها کفارا ولا بغاة ولا معاونیهم) (۱) وهوالموفق

د کمیونسټو معاونین ته د امن ورکولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې بعض ناخبره مسلمانان په افغانستان کې د کمیونسټو معاونت کوی او د مسلمانانو سره په جنګ کې هم حصه اخلی او بعض وخت هغوی د مسلمانانو نه امن طلب کوی، نو آیا د مسلمانانو دپاره هغوی ته امن ورکول جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نواز افضل ننګرهاری متعلم حقانیه... ۵ ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: جاز ایمانهم الا ان یکون خلاف المصلحة فیفسخه الامام والامیر

... بقیه ازحاشیه گذشته] فان تحیزوا مجتمعین حل لنا قتالهم بدأ حتی نفرق جمعهم... وتحبس اموالهم الی ظهور توبتهم فترد علیهم۔
(الدارالمختار ۳:۳۴۰ باب البغاة)

(۱) قال الشیخ محمد کامل الطرابلسی: ومنه تعلم ان من یدخل تحت جوارهم وامانهم من غیر اعانة لهم بنفسه ولا بماله ولا یکون لهم عینا ولا ردأ دونهم لا یباح قتله۔
(فتاوی کاملیة ۲۵۱ کتاب الجنایات)

كمافي الشامية.٢٢٣/٣(١) وهوالموفق

په اسلامی ملک کې بغیر د امان نه د داخلیدونکی حربی کافر حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې آیا حربی اسلامی ملک ته بغیر د پاسپورټ نه راتلې شی یا نه؟ که راتلې شی نو د څومره مودې پورې په اسلامی ملک کې بغیر د ټیکس ادا کولو نه وسیدې شی؟ او څومره موده پس به اسلامی ملک په هغه باندې جزیه لګوی؟ بینواتوجروا

المستفتی: (مفتی) سیف الله حقانی (رئیس حال دار الافتاء) دار العلوم حقانیه اکوړه خټک... ١٣٨٩هـ

الجواب: داسې کافر کوم چې بغیر د امان نه داخل شوې دې د هغه نه به عبد جوړولې شی هغه نه به جزیه نه شی اخستلې. قال فی الفتح ومن یوجد فی دارنا بلا امان فهو وما معه فیءٌ٣٥٤/٣(٢) وبمعناه فی رد المختار٢٢٣/٣(٣) فقط... وهوالموفق

---

(١) قال العلامة الحصكفي: ولا نقتل من امنه حر او حرة ولو فاسقاً بأى لغة كان الامان... وينقض الامام الامان لو بقاء ه شراً-
(الدرالمختار ٣: ٢٤٨،٢٤٩ كتاب الجهاد، بحث الامان)

وفى الهندية: اذا امن رجل حر او امرأة كافرا او جماعة او اهل حصن او مدينة صح امانهم ولم يكن لاحد من المسلمين قتالهم الا ان يكون فى ذلك مفسدة فينبذ اليهم كما اذا امن الامام بنفسه ثم رأى المصلحة فى النبذ-
(فتاوىٰ هندية ١٩٨:٢ ابواب السير ،فصل الامان)

(٢) (فتح القدير ٥:٢٧١ باب المستأمن)

(٣) قال العلامة ابن عابدين: (قوله ولا يمكن حربى مستأمن الخ) قيد بالمستأمن لانه لو دخل دارنا بلا امان كان وما معه فيئا-
(ردالمحتار ٣:٢٧٢ فصل فى الاستئمان الكافر)

د کفري حکومتونو د بیعت او شناختي کارډ جوړولو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې آیا د موجود افغاني دهري حکومت بیعت جائز دې یا نه؟ د دې حکومت شناختي کارډ جوړول خاص کر د حج دپاره څنګه دي؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: عبدالمنان متعلم خیر المدارس مردان ... ۱۵ نومبر ۱۹۸۶ء

الجواب: درین عصرلگام هرسربراه مملکت اهل اسلام دردست روس یا امریکه است،انا لله وانا الیه راجعون،نه در دست الله تعالیٰ ورسول وے، البته سربراه مملکت افغانستان متجاوزبه قتل وقتال اهل حق نیز شده است پس تسلیم کنندگان این حکومت ویا هجرت نه کنندگان ازین حکومت مثل تسلیم کنندگان حکومت روسی وباشندگان روس اند، ومثال ایشان مثال باشندگان دارالحرب است، ویا مثال ایشان مثال آن اهل اسلام است که بطور امن در دارالحرب رفته باشد(۱) این هر دو مانع از گرفتن شناختی کارډ یا پاسپورټ نه هستند، البته بیعت کردن حرام بلکه مورث کفر است(۲) - **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة شیخی زاده :المستأمن هو من یدخل دار غیره بأمان فشمل مسلما دخل دارهم بأمان وکافراً دخل دارنا بامان وتقدیم استیمان المسلم علی الکافر ظاهر اذا دخل تاجرنا الیهم بامان لا یحل له ان یتعرض لشیئ من مالهم ودمائهم- (مجمع الانهر ۴۴۸:۲باب المستأمن)

۲) فی حاشیة شرح العقائد : الامام الحق هو الذی استجمع شرائطه الخمسة للامامة من الاسلام والحریة والعقل والبلوغ والعدالة وصار اماما ببیعة جماعة من المسلمین ومن لیس کذلک فهو لیس بامام حق فلا یجب اعانته بل یجب القتال معه والخروج علیه-
(شرح العقائد ۱۱۰ حاشیة :۴)

قال العلامة النواوی : قال القاضی عیاض ...[بقیه حاشیه برصفحه آئنده

مستامن د یو کال نه کم اسلامی ملک کې بغیر د جزیه نه وسیدلې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په یو اسلامی ملك کې د امن په صورت کې حربی د څومره مودې پورې بغیر د جزیه نه وسیدې شی؟ او د څومره مودې نه پس به اسلامی حکومت په هغې باندې جزیه لګوی، د مدت تعین فرمائیلو سره جواب راکړئ. بینواتوجروا

المستفتی: سیف الله بنوی ... (حال رئیس دار الافتاء دار العلوم حقانیه) ۱۳۸۹ھ

الجواب: د یو کال نه به کم وسیږی او د مکمل کال نه پس به په دې باندې جزیه مقرر کولې شی. (الدرالمختار)(۱) وهوالموفق

د کفار او کمیونستو د معاونین حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په افغانستان کې چې د کمیونست کفارو خلاف کوم جهاد شروع دې د دې کمیونستو د معاونین او حمایت کونکو مسلمانانو څه حکم دې، آیا د هغوی قتل جائز دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: غلام محمد شمالی وزیرستان

... بقیه ازحاشیه گذشته] اجمع العلماء علی ان الامامة لا تنعقد لکافر فلو طرأ علیه کفر او تغیر للشرع او بدعة خرج عن حکم الولایة وسقطت طاعته ووجب علی المسلمین القیام علیه وخلعه ونصب امام عادل ان امکنهم... فان تحققوا العجز لم یجب القیام ولیها جر المسلم عن ارضه الی غیرها ویفر بدینه۔

(حاشیة النواوی علی الصحیح المسلم ۲:۱۲۵ باب وجوب طاعة الامراء فی غیر معصیة)

(۱) قال العلامة الحصکفی: لا یمکن حربی مستأمن فینا سنة لئلا یصیر عینا لهم وعونا علینا وقیل له من قبل الامام ان اقمت سنة... وضعنا علیک الجزیة فان مکث سنة بعد قوله فهو ذمی... ولا جزیة علیه فی حول المکث الا بشرط اخذها منه فیه۔

(الدرالمختار ۳:۲۷۲ کتاب الجهاد، فصل فی استئمان الکافر)

الجواب: کمیونسټ د خپلو عقائدو او نظریاتو په بناء اهل حرب دی لهذا واقعتا چې کوم خلق د هغوی سره وی او د مسلمانانو په مقابله کې د هغوی معاون او امداد کونکی وی نو هغوی هم د هغه خلقو په حکم کې دی لهذا د تحقیق نه پس د هغوی قتل جائز دي وفی الفتاوی الکاملیة ۲۵۰ والظاهران حکم هؤلاء حکم اهل الحرب فی قتلهم واخذ اموالهم واما اولادهم فلا یقتلون ولا یکون فیأ وانما ابیح قتل البالغین منهم لکونهم ردئا لعدو الحرب ومعینون له بانفسهم وحکم الردء اذا لم یقاتل مع العدو حکم المقاتل فاحری اذا قاتل(۱) انتهی۔ وهوالموفق

...

۱) (فتاوی کاملیة للطرابلسی ۲۵۰ کتاب الجنایات)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

(ششم جلد)

باب الاستعانۃ من الکفار وغیرہ

بسم الله الرحمن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

باب الاستعانة من الکفار وغیره

....

انّ رسول الله ﷺ:

استعان بیهود بنی قینقاع علی بنی قریظة.

(شرح السیر الکبیر)

....

باب الاستعانة من الكفار وغيره

د افغانستان جهاد او ددې دپاره د کافرانو نه د مدد اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په افغانستان کې د روس او د هغوی د معاونین خلاف جنګ شرعی جهاد دې یا نه؟ که وی نو د مسلمانانو دپاره څه حکم دې؟ او د دې د تعاون څه حکم دې؟ او د هغوی دپاره د امریکې نه د امداد اخستلو څه حکم دې؟ او د هغوی د مخالفین څه حکم دې؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: احمد خان توچی وزیرستان ... ۱۷ ذی قعده ۱٤۰۳ھ

الجواب: این جنگ بلا شک وشبه جهاد است(۱) این جنگ برائے دفع دهریین وبرائے حفظ اسلام واهل اسلام است، پس برتمام اهل اسلام فرض است که هر قسم تعاؤن این مجاهدین کند، خواه این اعانت جانی باشد یا مالی(۲)، ومخالفین این شان مباح الدم اند وبرباطل هستند، واضح باد که مجاهدین راامداد حاصل کردن از کفار چین وامریکه ممنوع شرعی نیست، کما صرح به فی الروایات الحدیثیة وغیرها(۳)۔ وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحصكفی: (وفرض عين ان هجم العدو فيخرج الكل، وقال العلامة ابن عابدين: (وفرض عين) ای علی من يقرب من العدو فان عجزوا او تكاسلوا فعلی من يليهم حتی يفترض علی هذا التدريج علی كل المسلمين شرقاً وغرباً۔
(ردالمحتار مع الدرالمختار ۳:۲٤۲ كتاب الجهاد)

۲) عن انس عن النبی ﷺ جاهدوا المشركين باموالكم وانفسكم والسنتكم۔
(مشكواة المصابيح ۳۳۲ كتاب الجهاد)

۳) قال الامام محمد رحمه الله تعالیٰ: ولا بأس بان يستعين المسلمون باهل الشرك علی اهل الشرك لان رسول الله ﷺ استعان بيهود بنی قينقاع ...[بقيه حاشيه برصفحه آئنده

د کفارو سره موالات، مواسات، مدارات، مصالحت او دهغوی نه د هدیه او وسلې اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د کفارو سره، موالات، مواساة او مدارات کولو څه حکم دې؟ او هغوی سره مصالحت او اتحاد جائز دې یا نه؟ او د هغوی نه د عاریة په طور وسله اخستل جائز دی یا نه؟ او د هغوی هدایا قبلول جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا گلزار جان وزیرستانی ... ۲۱ صفر ۱۴۰۸ھ

الجواب: د کفارو سره مولاة (رازدار جوړول) حرام دی. لقوله تعالیٰ ﴿لایتخذ المومنون الکافرین اولیاء من دون المومنین﴾ (۱) و د هغوی سره مواساة (همدردی) جائز ده. مثل العیادة والاطعام والمداواة وهدایة السبیل وغیر ذلك لقوله تعالیٰ: لا ینهاکم الله عن الذین لم یقاتلوکم فی الدین ولم یخرجوکم من دیارکم ان تبروهم (۲) والاحادیث وردت فی هذا الباب (۳)،

... بقیه ازحاشیه گذشته] علی بنی قریظه، ولان من لم یسلم من اهل مکة کانوا خرجوا مع رسول الله ﷺ رکبانا ومشاة الی خیبر ... وخرج صفوان وهومشر ک ومعه امرأة مسلمة ولم یفرق بینهما النبی ﷺ حتی شهد مع النبی ﷺ حُنیناً والطائف وهو مشر ک۔ (شرح السیر الکبیر ۱۴۱: ۴ باب الاستعانة باهل الشر کة)

۱) (سورة آل عمران : آیت :۲۸)

۲) (سورة الممتحنة آیت :۸)

۳) عن انس رضی الله تعالیٰ عنه ان غلاما لیهود کان یخدم النبی ﷺ فمرض فاتاه النبی ﷺ یعوده فقال اسلم فاسلم وقال سعید بن المسیب .[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

او د هغوی سره (ظاهری خوش اخلاقی) په دري وختونو کې جائز ده. اذا کان حاکماً، لقوله تعالیٰ: الا ان تتقوا منهم تقاة(١) واذا کان یرجی منه الاسلام لقوله تعالیٰ: عبس وتولیٰ الخ (٢) حیث انکر علی تقدیم الکفار علی المخلص دون اکرام الکفار، اذا کان ضیفاً۔

او هغوی سره مصالحت جائز دي. لقوله تعالیٰ: وان جنحوا للسلم فاجنح لها (٣) ولان النبی صلی الله علیه وسلم صالح اهل مکة وغیرهم (٤)

او د هغوی نه د وسلې وغیره استعار جائز دي، لما رواه ابوداؤد: ان النبی صلی الله علیه وسلم استعار من صفوان ادراعه یوم حنین (٥)

... بقیه ازحاشیه گذشته] عن ابیه لما حضر ابوطالب جاء ه النبی ﷺ۔
(الصحیح البخاری ٢:٨٤٤ کتاب المرض، باب عیادة المشرک)

عن اسماء بنت ابی بکرؓ قالت اتتنی امی راغبة فی عهد النبی ﷺ فسالت النبی ﷺ اَصلها قال نعم قال ابن عیینه فانزل الله فیها لا ینهاکم الله عن الذین لم یقاتلوکم فی الدین۔ (الصحیح البخاری ٢:٨٨٤ کتاب الادب، باب صله الوالد المشرک)

١) (سورة آل عمران، آیت: ٢٨)

٢) (سورة عبس، آیت: ١)

٣) (سورة الانفال، آیت: ٦١)

٤) عن البراء بن عازب، قال صالح النبی ﷺ المشرکین یوم الحدیبیة علی ثلثة اشیآء علی ان من اتاه من المشرکین رده الیهم الخ۔
(الصحیح البخاری ١:٣٧٢ کتاب الصلح، باب الصلح مع المشرکین)

٥) عن امیة بن صفوان ان رسول الله ﷺ استعار منه ادرعا یوم حنین فقال اغصب یا محمد فقال لا بل عاریة مضمونة۔
(سنن ابی داؤد ٢:٥٠١ کتاب البیوع، باب تضمین العاریة)

او هغوی سره اتحاد جائز دي. لما رواه ابوداؤد وستصالحون الروم صلحا امنا فتغزون انتم وهم عدوا من وراءکم فتنصرون.(۱)

او د کفارو عطیه قبلول هم جائز دی لما رواه البخاری وغیره، انه علیه الصلوٰة والسلام قبل هدایاهم، واما الامتناع منه فلعوارض خارجیة کما اذا کان موهما للذلة او المداهنة(۲)۔ وهو الموفق

د حکومت افغانستان دپاره د فورسز پیدا کولو او هلته د ترقیاتی کارونو زیاتولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې د افغانستان د کمیونسټ حکومت دپاره فورسز پیدا کوی او ترقیاتی کارونه زیاتوی او د هغه سړي دفع کول بغیر د قتل نه ناممکن وی نو د هغه سړي قتل به جائز وی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی سیف الرحمن شبقدر پیښور ... ۲۲ ذی الحجة ۱۴۰۲ھ

---

۱) (سنن ابی داؤد ۲:۵۹۰ کتاب الملاحم، بابُ مایذکر من ملاحم الروم)

۲) باب قبول الهدیة من المشرکین ... اهدیت للنبی ﷺ شاة فیها سم وقال ابوحمید اهدیٰ ملک آیلة للنبی ﷺ بغلة بیضآء فکساه بُردا وکتب له بجرهم ... عن انس قال اهدی للنبی ﷺ جبة سندس۔

قال العلامة العینی: انما رد هدیته لیغیظه بردها فیحمله ذلک علی الاسلام وقیل ردها لان للهدیة موضعا من القلب ولا یجوز ان یمیل بقلبه الی مشرک فردها قطعا لسبب المیل۔

(الصحیح البخاری مع عمدة القاری ۱۳:۱۶۷ باب قبول الهدیة من المشرکین)

الجواب: د ثبوت شرعی نه پس د امراء په مشورې سره هر اقدام جائز دی.

(۱) خو صرف په الزام سره دا اقدام ناجائز دې **وهوالموفق**

د مسلمانانو په مقابله کې د کفارو نه استعانت ناجائز دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې عراق او سعودی عرب یعنی د اتحادیانو جنگ شروع دې، مونږ د عراق دپاره دعاګانې کوو خو بعض خلق وائی چې هغوی خو ظالم او غاصب دی، که تاسو مونږ د خپلې رائې نه خبر کړئ ډیره مهربانی به وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حبیب الرحمن بټګرام مانسهره... ۲۳ فروری ۱۹۹۱ء

الجواب: د پوهه خلقو خیال دې چې دا د اهل اسلام او یهودو او نصاری ترمینځه جنګ دې او د کفارو نه د کفارو د مقابلې دپاره استعانت جائز دې، خو د اهل اسلام د مقابلې دپاره ناجائز دې، **فافهم**(۲) **وهوالموفق**

د کمیونستو نه د مجاهدین د مقابلې د پاره وسله وغیره اخستل جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې موجوده ببرک

---

۱) قال العلامة محمد کامل الطبرابلسی: وحکم الردء فی جمیع احوال الاسلام حکم المقاتل ففیه کفایة فی تبیین مایجب علی الحصن الذی صار رده للکفرة... فیجب علی المسلمین قتال الحصن الردء المذکور وقتلهم واخذمالهم ان ثبت ردئیتهم وکونهم عیوناًلهم. (فتاوی کاملیة ۲۵۱ کتاب الجنایات)

۲) قال العلامة الطحطاوی: (قوله ومفاده جواز الاستعانة بالکافر) قال فی الفتح ولابأس ان یستعان بالمشرکین علی قتال المشرکین اذا خرجوا طوعا ویرضخ لهم ولا یسهم ولا تکون لهم رأیة تخصهم... وقد استعان علیه الصلوة والسلام بالیهود علی الیهود. (الطحطاوی علی الدرالمختار ۲:۴۵۱ فصل فی کیفیة القسمة)

کارمل کمیونسټ حکومت او د مجاهدین ترمینځه چې کوم جنګ شروع دې دا جهاد دې یا نه؟ او بعض خلق د ببرک کارمل حکومت نه وسله او پیسې راوړلو سره په مسلمانانو تقسیموی او په دې شرط چې کله وطن ته لاړ شی نو په وطن کې به د ببرک کارمل او د روس حمایت کونکی او د مجاهدینو دشمنان جوړ شی او په جهاد کې به بندیز جوړ شی، او مجاهدین به د وطن نه راوباسی، چې د هغې په وجه باندې مجاهدین کمزوری کیږی، اوس د ذکر شوې خلقو څه حکم دې؟ او دا خلق دا هم وائی مجاهدین وسله د امریکې نه راوړی مونږ ئې د روس نه راوړو، په دې کې څه فرق دې؟ که مجاهدین دا ذکر شوې خلق په لارو یا کورونو کې قتل کړی یا ئې ونیسی نو د دې څه حکم دې؟ او مجاهدینو لره هغوی سره څه عمل کول پکار دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نیاز محمد قریشی متعلم دار العلوم حقانیه .... ۱۳ نومبر ۱۹۸۵ء

الجواب: دا جنګ جهاد دې، دا د کمیونزم او اسلام مقابله او محاربه ده (۱) او د کارمل حکومت نه مالونه او وسله اخستل حرام دی دا د مجاهدین او جهاد دپاره خلل جوړوی، بلکې د مجاهدین او حاصلونکو ترمینځه د جنګ اینختلو ذریعه ده (۲)

د داسې خلقو سره ترک موالات جائز بلکې ضروری دې (۳) خو مقاتله خلاف

---

۱) فی مجمع الانهر: (فان هجم) ای غلب (العدو علی بلد من بلد الاسلام او ناحیة من نواحیها ففرض عین- (مجمع الانهر ۴۰۸:۲ کتاب السیر والجهاد)

۲) قال الامام محمد رحمه الله تعالی: وروی ان النبی ﷺ رده (مشرک) حین عرض علیه ان یخرج فیقاتل معه، فقال: لا انا لا نستعین بمشرک... وعندنا اذا رأی الامام الصواب فی الایستعین بالمشرکین لخوف الفتنة فله ان یردهم-
(شرح السیر الکبیر ۱۴۲۳:۴ باب الاستعانة باهل الشرک)

۳) وفی المرقاة: قال الخطابی رخص للمسلم ان یغضب علی اخیه ثلاث لیال لقلته ولایجوز فوقها الا اذا کان الهجران فی حق من حقوق الله... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

مصلحت ده، د کفارو نه د کمیونزم د مقابلې دپاره د وسلې حاصلولو نه دا جواز نه لازمیږی چې کمیونسټ نه د مجاهدینو د مقابلې دپاره وسله وغیره حاصله کړې شی. **وهوالموفق**

د ببرک کارمل نه د وسلې اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړې دا اوائی چې د ببرک کارمل نه وسله اخستل جائز دی د دې سړی متعلق څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد اسماعیل وزیرستانی.... ۱۱ محرم ۱۴۰۵ھ

الجواب: دا سړې شرعا او عرفا په غلطۍ باندې دې په هغه باندې ضروری ده چې د دې خبرې نه واپس شی ځکه چې په اعانت کولو سره د ببرک خیرخواه او معاونین زیاتیږی او په دې رویه سره د قوم ترمینځه د اختلاف او فساد خطره وی. (۱) **وهوالموفق**

... بقیه ازحاشیه گذشته] فیجوز فوق ذلک... واجمع العلماء علی ان من خاف من مکالمة احدو صلته ما یفسد علیه دینه او یدخل مضرة فی دنیاه یجوز له مجانبته فان هجرة اهل الاهواء واجبة علی مر الاوقات مالم یظهر منه التوبة والرجوع الی الحق- (مرقاة المفاتیح ۹:۲۶۲ باب ماینهی عن التهاجر والتقاطع)

۱) قال الامام محمد رحمه الله تعالیٰ: وروی ان النبی ﷺ رده (مشرک) حین عرض علیه ان یخرج فیقاتل معه، فقال: لا، انا لانستعین بمشرک، وانما کره ذلک لانه کان معه سبعمائة من یهود بنی قینقاع من حلفائه، فخشی ان یکونوا علی المسلمین ان احسوا بهم زلة قدم، فلهذا ردهم، وعندنا اذا رأی الامام الصواب فی الایستعین بالمشرکین لخوف الفتنة فله ان یردهم-
(شرح السیر الکبیر ۴:۱۴۲۳ باب الاستعانة باهل الشرک)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

(شپږم جلد)

کتاب الحدود والتعزیرات

باب التعزیر

....

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

باب التعزیر

قال رسول اللہ ﷺ:

اِدرؤا الحدود

عن المسلمین ما استطعتم۔

(رواہ الترمذی)

....

كتاب الحدود والتعزيرات

باب التعزير

....

مبتدع ته تعزیر ورکول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په مبتدع باندې به شرعا کوم حد جاری کیږی، او هغه ته به څه سزا ملاویږی، امید چې په اولنی فرصت کې به راته جواب راکړئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد یعقوب..آزاد کشمیر ۱۱ نومبر ۱۹۸۴ء

الجواب: مبتدع ته به د وخت حکومت تعزیر ورکوی، که په کور کې د پابند کولو په شکل کې وی یا ضلع خارج او د قید کولو په شکل کې وی یا د وهلو په شکل کې وی، فلیراجع الی معین الحکام ۱۹۵ (۱) والله اعلم بالصواب.

زندیق ته د تعزیر ورکولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د وزیرستان په

---

(۱) قال العلامة الامام علاؤ الدين : والتعزير لا يختص بفعل معين ولا قول معين فقد عزر رسول الله ﷺ بالهجر وذلک فی حق الثلاثة الذين ذكرهم الله تعالیٰ فی القرآن العظیم... وعزر رسول الله ﷺ بالنفی فامر باخراج المخنثين من المدينة ونفاهم۔
(معين الحكام ١٩٥ فصل فی عقوبة العائن)

علاقه کې یو ملعون سړې دې هغه د ډیر فسق او فجور ارتکاب کړې دې.

۱: ډیر خلق ئې بربنډ کړې دی

۲: یو د ډول ډال محل ئې جوړ کړې دې او دا وائي او وائي چې زمونږ ملاقات دپاره دې محل ته انبیاء ﷺ او اولیاء کرام رحمهم الله راځي.

۳: دا هم وائي چې کوم کار زه کوم مونږ ته د الله پاك د طرف نه خبر راځي

۴: په خپل متبعین کې ئې دوه کسان د منکر او نکیر په نوم باندې د سزا ورکولو دپاره مقرر کړې دی، او هم دغه شان ئې عزرائیل علیه السلام هم مقرر کړې دې او خلقو ته سزا ورکوی تردې چې بعض خلق وژنی.

۵: چې کله د دې سړی مقرر کړې شوې منکر، نکیر او عزرائیل یو سړې اووهی نو د هغې نه وروستو دا سړې مضروب ته مبارکی ورکوی چې ستا گناهونه معاف شوې دی، د دې ذکر شوې سړی حکم څه دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: اصل میر بنون...۳۰ ربیع الاول ۱۳۹۵هـ

الجواب: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته اما بعد! پس واضحه دې وی چې داسې زندیق لره مسلمان حاکم یا د هغه قائم مقام سزاء موت یا حبس یا تعزیر ورکولې شی.(۱) او چېرته چې مسلمان حاکم نه وی نو نهٔ مونږ فتوی ورکولې شو او نه د مقامی باثر علماء او مشرانو په تعزیر باندې اعتراض کولې شو. **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن نجیم: الثالثة لا تقبل توبة الزندیق فی ظاهر المذهب وهو من لایتدین بدین... وفی الخانیة قالوا ان جاء الزندیق قبل ان یؤخذ فاقر انه زندیق فتاب عن ذلک تقبل توبته وان اخذ ثم تاب لم تقبل توبته ویقتل اه وهو تفصیل حسن موافق لما بحثه فی فتح القدیر.

(البحر الرائق ۵:۱۲۶ باب احکام المرتدین)

تعزیر مالی د ضرورت په وخت جائز دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې تعزیر باخذ المال جائز دي یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالله متعلم ... دارالعلوم حقانیه ۸ نومبر ۱۹۸۵ء

الجواب: تعزیر بالمال د ضرورت په وخت صحیح دي. کما اشیر الیه فی معین الاحکام وکذا روی قسمته علی اهل الجرائم والمسلمین سواهم(۱) فلیراجع. وهو الموفق

د تعزیر باخذ المال او تعزیر باهلاک المال تفصیل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زجر بالمال جائز دي یا نه؟ او چې کوم قائلین بالجواز دی نو د هغوی څه رائې ده چې په دې صورت کې به مال ماخوذه په کوم مصرف کې خرچ کولې شی؟ مهربانی وکړئ په دې مسئله باندې سره د حوالې لیکل وکړئ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی عبدالمالک چارسده شبقدر ډهیرئ ... ۱۰ جون ۱۹۸۵ء

الجواب: (الف) تعزیر باخذ المال منسوخ دي (یعنی ظاهر المذهب کښې) او چا چې په جواز باندې قول کړې دې نو د هغه په نزد د دې طریقه دا ده چې د

---

(۱) قال الامام علاؤ الدین: ومنها مصادرة عمر عماله بأخذ شطر اموالهم فقسمها بینهم وبین المسلمین... یجوز التعزیر بأخذ المال وهو مذهب ابی یوسف وبه قال مالک ومن قال ان العقوبة المالیة منسوخة فقد غلط علی مذاهب الائمة نقلا واستدلالا ولیس بسهل دعوی نسخها. وفعل الخلفاء الراشدین واکابر الصحابة لها بعد موته ﷺ مبطل لدعوی نسخها والمدعون للنسخ لیس معهم سنة ولااجماع یصحح دعواهم الا ان یقول احدهم مذهب اصحابنا لا یجوز. (معین الحکام ۱۹۵ فصل عقوبة الخائن)

مجرم نه مال واخستلې شی او محفوظ وساتلې شی د دې نه پس که دا مجرم د خپل جرم نه واپس شی نو واپس به ورکولې شی، کنه نو حاکم به ئې په خپله رائې باندې خرچ کوی فی الدر المختار: لاباخذ المال فی المذهب بحر وفيه عن البزازية وقيل يجوز ومعناه ان يمسكه مدة لينزجر ثم يعيده له فان ايس من توبته صرفه الى ما يرى قال العلامة الشامي ۳:۲۴۷ والحاصل ان المذهب عدم التعزير باخذ المال (۱) ويؤيده ما روى مرفوعا لا يحل مال امرئ مسلم الا عن طيب قلبه (۲).

(ب) او باقی پاتې شو تعزیر باهلاك المال نو په بعض مقاماتو کې جائز دې. فی الهندية ۵:۳۸۰ وعن عمر رضی الله تعالىٰ عنه انه احرق بيت الخمار وعن الامام الزاهد الصفار انه امر بتخريب دار الفاسق بسبب الفسق هكذا فى الخلاصة، وفى الفتاوى النسفى انه يكسر دنان الخمر وان كان قد القى فيها الملح ولا ضمان على الكاسر فى شئ من ذلك كذا فى المحيط (۳) وفيها ۳۹۰ المحتسب اذا نهى قطان عن وضع القطن على طريق العامة فلم يمتنع فاوقد المحتسب النار فى قطنه واحرقه يضمن الا اذا علم فسادا فى ذلك ورأى المصلحة فى احراقه فلا يضمن كذا فى الخلاصة (۴). وهو الموفق

په قبائلی علاقو کې د جرمونو او تعزیر مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په قبائلی

---

۱) (الدر المختار مع ردالمختار ۱۹۶،۱۹۵:۳ باب التعزير)

۲) عن ابی حرة الرقاشی عن عمه رضی الله تعالىٰ عنه الا لا تظلموا الا لايحل مال امرئ الا بطيب نفس منه. (مشكواة المصابيح ۲۵۵ باب الغصب والعارية)

۳) (فتاوى هندية ۵:۳۵۳ كتاب الكراهية الباب السابع عشر فى الغناء واللهو الخ)

۴) (فتاوى هندية ۵:۳۵۴ كتاب الكراهية الباب السابع عشر فى الغناء واللهو الخ)

علاقو کې نه باقاعده حکومت دې او نه پولیټکل په شرعی امور کې دلچسپي اخلی د علاقې علماء کرامو دلته په غیر شرعی امورو باندې پابندۍ لګولې ده، په مونځ پریښودونکی او جماعت پریښودونکی باندې، په واده کې هیجړه ګان راوستونکی باندې، په اوږده ویښته پریښودونکی او دغه شان په نورو غیر شرعی امورو باندې ئې جرمانې مقرر کړې دی، د هریو څيز بیله بیله جرمانه ده، که په دشمن باندې وسله استعمال کړی نو جرمانه څلور لاکه ده وغیره وغیره، که دا جرمانه بیا واپس کړې شی نو مجرم نور هم زړور شی چې زه د څو میاشتو دپاره مو پیسې بندې شوې، د دې په باره کې شرعی څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: علماء کرام... کرم ایجنسی پاره چنار... ۱۳ اکتوبر ۱۹۹۵ء

الجواب: چې کله د جرمونو بندول بغیر د تعزیر باخذ المال نه ګران وی نو په معین الحکام کې د دې د جواز طرف ته اشاره کړې شوې ده. (۱) لحدیث ابی داؤد(۲) ولاثر عمر رضی الله عنه(۳) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الامام علاؤالدین: یجوز التعزیر باخذ المال وهو مذهب ابی یوسف وبه قال مالک، ومن قال ان العقوبة المالیة منسوخة فقد غلط علی مذاهب الائمة نقلا واستدلالاً ولیس بسهل دعویٰ نسخها، وفعل الخلفاء الراشدین واکابر الصحابة لها بعد موته ﷺ مبطل لدعوی نسخها والمدعون للنسخ لیس معهم سنة ولا اجماع یصحح دعواهم الا ان یقول احدهم مذهب اصحابنا لایجوز- (معین الحکام ۱۹۵ فصل فی عقوبة الخائن)

۲) عن عمروبن العاص عن رسول الله ﷺ انه سئل عن الثمر المعلق فقال من اصاب بفیه من ذی حاجة غیر متخذ خبنة فلا شیئ علیه ومن خرج بشیئ منه فعلیه غرامة مثلیه والعقوبة- (سنن ابی داؤد ۲:۶۰۳ کتاب الحدود، باب مالاقطع فیه)

۳) قال الامام علاؤالدین: ومنها تحریق عمر المکان الذی یباع فیه الخمر ومنها تحریق عمر قصر سعد بن ابی وقاص لما احتجب فیه عن الرعیة وصار یحکم فی داره ومنها مصادرة عمر عماله باخذ شطر اموالهم فقسمها بینهم وبین المسلمین.
(معین الحکام ۱۹۵ فصل فی عقوبة الخائن)

د جرمونو د بندولو د ضرورت د وجې نه تعزير بالمال جائز دي

سوال: نستفتيكم في هذه المسئلة صورته هكذا ان اشراف القوم ان اخذوا المال من احد على وجه الجريمة انسدادًا لباب المعصية، هل عليهم رد هذا المال الى مالكه ام لا؟ وان لم ينسد باب المعصية في رد المال اليه فهل يجوز ان يصرفوا المال؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم... ۲۷ جمادي الثاني ۱٤۰٤هـ

الجواب: اگر انسداد جرائم بغير از تعزير باخذ المال (بطريق مذكور دراستفتاء) مشكل بود، جائز است، كما في خلاصة الفتاى ۴:۴۴۴ وسمعت من ثقة ان التعزير باخذ المال ان رأى القاضي اوالوالي جاز(۱) وذكر في تعزير معين الحكام ۲۳۱ الآثار اللتي تدل على جوازه(۲)۔ وهوالموفق

په بعض جرمونو کې مالي جرمانه کالعدم او نامنظور ده

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې مسماة فلانة کومه چې د يو ماشوم مور ده د نن نه څه موده مخکې د يو بل سړي سره وتښتيدله د دې نه پس په خبريدلو باندې د هغې خاوند او پلار په هغې پسې لاړل، نو جرګې فيصله وکړه چې جينۍ دې واپس کړې شي او د هغې سره دې پنځه زره روپۍ د بې عزتۍ په طور وارثانو ته ورکړې شي، که د جينۍ نکاح وشوه نو دا روپۍ به د جينۍ د وارثانو نه واپس مسميان وغيره ته ورکولې شي

---

۱) (خلاصة الفتاوى ۴۴۴:۴ كتاب الحدود الفصل الاول)

۲) قال العلامة الامام علاؤالدين: ومنها تحريق عمر المكان الذى يباع فيه الخمر ومنها تحريق عمر قصر سعد بن ابى وقاص لما احتجب فيه عن الرعية وصار يحكم في داره ومنها، مصادرة عمر عماله باخذ شطر اموالهم فقسمها بينهم وبين المسلمين۔ (معين الحكام ۱۹۵ فصل في عقوبة الخائن)

اوس هغه جینۍ د خاوند سره وسیږي لهذا د دې خبرې شرعی حکم ولیکئ

بینواتوجروا

المستفتي: شاهین مری... ۲۹ نومبر ۱۴۰۲ه

الجواب: په داسې جرمونو کې مالی جرمانې مقرر کول نامنظور او کالعدم دی (۱) لحدیث رد الاشاء علی الزانی (رواه البخاری وغیره) (۲) وهوالموفق

تعزیر باخذ المال منسوخ دې په بې بنیاده دلائلو باندې نه جائز کیږي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو خاندان د سندرو او سرودونو د بندولو دپاره معاهده وکړه، چې که چا په مونږ کې د خپل خوئی یا ورور وغیره په وادهٔ کې د سندرو او سرودونو پروګرام جوړ کړو نو د هغه نه به پنځه سوه روپۍ نقدي او دوه ګډان جرمانه اخستلې شی، پس بیا یو سړی د وادهٔ په موقع باندې د سندرونو او سرودونو پروګرام وکړو نو قوم د هغه نه پنځه سوه روپۍ او دوه ګډان جرمانه واخستله، او بیا ئې په دې جرمانه باندې خپل مینځ کې ډوډۍ پخولو سره وخوړله، اوس په دې جرمانې سره دا خوراك كول جائز دی یا نه؟ خوړونکو ددې مال د حلت دپاره دا دلیل

(۱) وفی الهندیة: رجل زنی بامرأة رجل فعلم الزوج واراد حدهما فصالحاه معا او احدهما علی دراهم معلومة او شیئ آخر علی ان یعفو عنهما کان باطلا لا یجب المال وعفوه باطل .... ولکل واحد منهما ان یرجع بماله الذی دفع.
(فتاوی هندیة ۴:۲۸۳ کتاب الصلح الباب الحادی والعشرون فی المتفرقات)

(۲) عن ابی هریرة وزید بن خالد الجهنی : قالا جآء اعرابی فقال یا رسول الله اقض بیننا بکتاب الله... فقال الاعرابی ان بنی کان عسیفا علی هذا فزنی بامرأته فقالوا علی ابنک الرجم ففدیت ابنی بمائة من الغنم وولیدة ثم سالت اهل العلم فقالوا انما علی ابنک جلد مائة وتغریب عام فقال النبی ﷺ لا قضین بینکما بکتاب الله اما الولیدة والغنم فرد علیک وعلی ابنک جلد مائة وتغریب عام.
(الصحیح البخاری ۱:۳۷۱ کتاب الصلح باب اذا اصطلحوا علی صلح جور فهو مردود)

بیان کړي دي چې قوم ماته ویلې دي چې که تا دا جرمانه خپل مالك ته واپس کړه نو موږ به ستا په دینی مدرسه کې د سندرو پروګرام کوو، پس دا فتوی ورکونکې او د دې مال اخستونکې یو جاهل مولوی دې او وائي چې شامی دا ویلې دی چې ﴿ الرجل اذا ابتلی ببلیتین فلیختر اهونهما ﴾،لهذا که زما دا مال او نه خورم او خپل مالك ته ئې ورکړم نو قوم به زما په مدرسه کې د سندرو وغیره پروګرام وکړي، آیا د دې دپاره په دې استدلال باندې اعماد کیدلې شي یا نه؟ اګر چې استحلال حرام هم لویه ګناه ده او هغه مال اوس قوم خوړلې دې او دې مولوی ئې د جواز فتوی ورکړې ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد علی شاه حقانی بیرون لکی ګیټ بنون ... ۲۲ لومبر ۱۹۶۹ء

الجواب: چونکې تعزیر بالمال یعنی باخذ المال منسوخ دې لهذا د دې جرمانې وصولی او خوراك ټول ناجائز دی، قال رسول الله ﷺ صلی الله علیه وسلم لایحل مال امرء مسلم الاعن طیب قلبه اوکما قال (۱) وفی الدر المختار ولا باخذ مال فی المذهب (۲) لهذا په مولوی صاحب وغیره باندې ضروری ده چې دا مال واپس کړي او د اهون البلیتین په صورت کې د چا مال حلال نه وی، د هغې واپس کول ضروری وی، صرف د هغې خوراك په بعض صورتونو کې جائز وی وليس هناك ماهوالمبيح (۳) وهوالموفق

---

۱) عن ابی حرة الرقاشی عن عمه رضی الله تعالیٰ عنه الا لا تظلموا الا لا یحل مال امرئ الا بطیب نفس منه۔ (مشکوٰة المصابیح ۲۵۵ باب الغصب والعاریة)

۲) (الدرالمختار ۱۹۵: ۳ باب التعزیر مطلب فی التعزیر باخذالمال)

۳) قال العلامة الشامی: وفی المجتبی لم یذکر کیفیة الاخذ واری ان یاخذها فیمسکها فان ایس من توبته یصرفها الی مایری۔ (ردالمحتار ۱۹۴: ۳ باب التعزیر، مطلب فی التعزیر باخذالمال)

د جرمونو د بندولو دپاره د ضرورت په وخت تعزیر بالمال جائز دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په نزد په قبائل کې بعض وخت د انسداد معصیت دپاره تعزیر باخذ المال کوی آیا د احنافو په نزد تعزیر باخذ المال په څه صورت کې جواز لری؟ بینواتوجروا

المستفتی: دیدان گل علاقه میدان تیره... ۲۶ جون ۱۹۸۵ء

الجواب: که د دې نه بغیر د جرمونو بندول گران وی نو په دې صورت کې تعزیر بالمال جائز دي، مافی خلاصة الفتاوی ۴/۴۴۴ سمعت من ثقة ان التعزیر باخذ المال ان رای القاضی اوالوالی جائز(۱) وهوالموفق

د بعض اصلاحاتو د خلاف ورزئ په صورت کې د مالي جرمانې حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو قوم د اصلاح دپاره په څه اهم خبرو باندې اتفاق وکړو چې د هغې به یو سړې هم خلاف ورزی نه کوی، که چا وکړه نو په هغوی باندې به معلوم المقدار جرمانه وی، آیا د خلاف ورزئ په صورت کې به د هغه نه جرمانه اخستل جائز وی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد سردار وزیرستانی متعلم حقانیه... ۲۳ ذی قعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: جاز التعزیر باخذ المال عند الضرورة کما فی معین الحکام(۲) وهوالموفق

---

۱) (خلاصة الفتاوی ۴۴۴:۴ کتاب الحدود، الفصل الاول)

۲) قال العلامة الامام علاؤالدین: یجوز التعزیر باخذ المال وهو مذهب ابی یوسف وبه قال مالک ومن قال ان العقوبة المالیة منسوخة فقط غلط علی مذاهب الائمة نقلاً واستدلالاً ولیس بسهل دعوی نسخها وفعل الخلفاء الراشدین واکابر الصحابة لها بعد موته ﷺ مبطل لدعوی نسخها والمدعون للنسخ لیس معهم سنة ولا اجماع یصحح دعواهم الاان یقول احدهم مذهب اصحابنا لایجوز [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د ارباب اقتدار بعض تعزیرات قابل احتجاج او د شریعت سره متصادم دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: یو عالم دین د موجود حکومت په غیر اسامی کارونو باندې تنقید وکړو او مطالبه ئې وکړه چې د اسلام په باره کې دې قوم ته دهوکه ورنکړې شی نو د دې تقریر په جواب کې یو مرزائی وزیر د هغه عالم دین ټول سامان د دوه کمرو نه بهر وغورځولو او کمرې ئې بندې کړې، آیا داسې کول جائز دی؟

۲: زمونږ امام کوم چې ممتاز عالم دین دې امام صاحب د روسی وزیراعظم برژنیف په مرداریدلو باندې د پاکستان د جهنډې ښکته کولو کارروایئ ته د یو تقریر دوران کې خلاف اسلام وویل او ویې ویل چې چا دا کار وکړو هغه دې د الله پاك نه معافی وغواړی چې هغوی د کافر په مرګ باندې د جهنډې د ښکته کولو ارتکاب کړې دې، یو وزیر د دې امام د جومات د امامت نه د لرې کولو سرکاری حکم جاری کړو د جومات سل فیصده مقتدیانو د دې حکم د منلو نه انکار وکړو، او ویې ویل چې مونږ بل امام نه پریږدو آیا په دې تقریر باندې د پنځوس کالو متفق علیه امام یو وزیر لرې کولې شی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد الیاس جنرل سکیرٹری

منتظم کمیټی مسجد مهابت خان پیښور ... ۱۰ ستمبر ۱۴۰۳هـ

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط د ارباب اقتدار دا تعزیرات قابل احتجاج دی.(۱) د خیرخواهانه تنقید په ځای د یو کس ټوله قومی اداره معطل کول او

... بقیه از حاشیه گذشته] (معین الحکام ۱۹۵ فصل فی عقوبة العائن)

۱) قال العلامة الحصکفی: امر السلطان انما ینفذ اذا وافق الشرع والا فلا اشباه. (الدرالمختار ۴:۳۸۲ کتاب القضاء، مطلب طاعة الامام واجبة)

د عدم تملق د وجې نه د اهل منصب قدیمه نه معزول کول د اصول شریعت سره متصادم اقدامات دی (١) وهوالموفق

د راضی نامې نه پس بغیر د سبب شرعی نه مالی جرمانه حرام او ظلم دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو حاکم د شریعت د حکم خلاف کوی او وائی چې اګر چې په شریعت کې د عفو تسامح اجازت دې او فریقین اګر چې راضی شوې دی او مظلوم اګر چې معاف کړې دې خو بیا هم د خپل قانون مطابق ظالم ته زر روپۍ جرمانه ادا کوم، آیا دا جائز ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد صادق مدرس مدرسه قاسمیه شعبه بازار پیښور ... ۱۲ ستمبر ۱۳۹۶ھ

الجواب: این جرمانه حرام وظلم صریح است(٢) ومستحل او کافر وظالم ست،لان استحلال المعصیة کفرصرح به فی الفقه(٣)والکلام(٤)وهوالموفق

---

١) قال العلامة الحصکفی : لیس للقاضی عزل الناظر بمجرد شکایة المستحقین حتی یثبتوا علیه خیانة (الدرالمختار)

قال العلامة ابن عابدین : فی جامع الفصولین قال: لا یملک القاضی عزله مطلقاً الا لموجب وتقدم تمامه وانه فی البحر اخذ منه عدم العزل لصاحب وظیفة الا بجنحة او عدم اهلیة ۔ (ردالمحتار ٣:٤٥٩ کتاب الوقف مطلب لیس للقاضی عزل الناظر)

٢) قال العلامة ابن نجیم :الا ان یاخذه الحاکم لنفسه او لبیت المال کما یتوهمه الظلمة اذ لایجوز لاحد من المسلمین اخذ مال احد بغیر سبب شرعی۔ (البحر الرائق ٥:٤١ فصل فی التعزیر)

٣) فی التاتار خانیة : قال الخمر لیست بحرام فهو کافر ... لانه استحل الحرام قطعاً. (فتاوی تاتار خانیة ٥:٣٤٣ فصل فیما یتعلق بالحلال والحرام)

٤) وفی شرح العقائد : ویجوز العفو عن الکبیرة اذا لم تکن عن استحلال والاستحلال کفر لما فیه من التکذیب المنافی للتصدیق۔ (شرح العقائد ٨٧)

مجرم لره د مصلحت مطابق جلا وطن کول جائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د قومی فیصلې مطابق مجرم د ملك نه شړل جائز دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد طیب مدرس قاسم العلوم باغ آزاد کشمیر ... ۵ جنوری ۱۹۸۱ء

الجواب: د دې فیصلې نه نۀ معلومیږی چې دې ملزم د څه جرم اعتراف کړې دې، بهر حال یو مجرم لره د مصلحت د وجې نه د جلا وطن کول جائز دی (۱) کماعقدله الامام البخاری الترجمة(۲) وهوالموفق

صرف په الزام او تهمت سره تعزیر مالی صحیح نه دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د افغانستان د حکومت نه وسله وغیره راوړنکو او د هغوی دپاره جاسوسی کونکو باندې د مالی جرمانې لګولو څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: عبدالله متعلم دار العلوم حقانیه ... ۸ نومبر ۱۹۸۵ء

الجواب: د کوم قوم چې شرعی امیر نه وی د هغوی دپاره داسې اقدامات کول رسوا کونکی دی صرف په الزام او اتهام سره داسې تعزیرات نافذ کولو د وجې نه به د لوټ مار کونکو نوم بدنامیږی **والله اعلم بالصّواب**

---

۱) قال العلامة محمد احسن : ولو نفى الامام العادل بمدة يرى مصلحة صح النفى سياسة وهذا لا يختص بالزنا بل فى كل جناية راىٰ الامام مصلحة فى النفى فله ذلك۔ (حاشية كنز الدقائق ۲۱۱ حاشية ۳ كتاب الحدود)

۲) قال الامام البخارى : باب نفى اهل المعاصى والمخنثين ... عن ابن عباس لعن النبى ﷺ المخنثين من الرجال والمترجلات من النساء وقال اخرجوهم من بيوتكم واخرج فلانا واخرج فلانا۔ (الصحيح البخارى ۲:۱۰۱۰ كتاب المحاربين من اهل الكفر والردة)

د افغان کمیونستو سره د تعلق ساتونکو نه د جرمانې اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې کوم خلق د افغانستان د بې دینه حکومت سره تعلق ساتی، قومی لحاظ سره د هغوی نه جرمانه اخستلې شی آیا د دې جرمانې د علماء کرامو او طلباء دپاره خوړل جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: تنظیم طلباء قوم ممیت خیل...١٩٨٦ء | ٣ | ٢٩

الجواب: که ددې جرم بندیز (مخ نیوې) د مالی جرمانې نه بغیر نه کامیابیږی نو ددې اخستل او خوړل جائز دی. (مأخوذ از خلاصة([1]) ومعین الحکام)([2]). وهوالموفق

په چا باندې معافی غوښتلو سره سره د مالی جرمانې اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علمائې دین ددې مسئلې باره کې چه دلته یو پیر قبرپرست دې او سخت شرکی عقائد لری هغه دوه سړو ته وویل چه تاسو زما وژلو پسې لګیدلی یئ او دا خبره پیرصاحب ته یو مرید ویلی وو، په دې باندې پیرصاحب وویل چه تاسو مانه معافی وغواړئ هغوی د خلقو په مخکې معافی وغوښتله بیا د اووه کلو خلق راجمع شو اوهغه ته ئې وویل چه تاسو بیا پیرصاحب ته ورشئ اوهغه ته ووایئ چه معاف مو کړه، اود جرمانې په طور

---

[1] قال العلامة طاهر بن عبد الرشید: سمعت من ثقة ان التعزیر باخذ المال ان رأى القاضی او الوالی جاز. (خلاصة الفتاوی ۴۴۴: ۴ کتاب الحدود، الفصل الاول)

[2] قال العلامة علاؤ الدین: یجوز التعزیر باخذ المال وهو مذهب ابی یوسف وبه قال مالک، ومن قال ان العقوبة المالیة منسوخة فقد غلط علی مذاهب الائمة نقلاً واستدلالاً ولیس بسهل دعوی نسخها، وفعل الخلفاء الراشدین واکابر الصحابة لها بعد موته ﷺ مبطل لدعوی نسخها والمدعون للنسخ لیس معهم سنة ولا اجماع یصحح دعواهم الا ان یقول احدهم مذهب اصحابنا لا یجوز. (معین الحکام ١٩٥ فصل فی عقوبة العائن)

خان سره یوه غوا هم بوځئ چې دهغې قیمت دوه زره روپۍ وو، دا هرڅه د پیرصاحب په اشاره باندې وشول. نو آیا په شریعت کې دا جائز دی؟ بینواتوجروا

المستفتی: قیصر خان ضلع پیښور... ۲۹ صفر المظفر ۱۴۰۲ھ

الجواب: د تعزیر حکم زمونږ په مسلک کې نشته (شامی) (۱) لهذا دا جرمانه د شریعت مخالفت دې او که دا دواړه افراد بغیر د څه وجې نه تنګوی نو دا هم ناجائز ده، لحدیث المسلم ﴿من سلم المسلمون من لسانه ویده﴾ (الحدیث) (۲) والله اعلم بالصواب.

متفقه دینی خدمات کې ورانی پیدا کونکی نه مالی جرمانه اخستل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی چې د هغه عادت ضلال او اضلال دې او د قوم خپل مینځ کې متفقه دینی مسائل چې څنګه هم وی انتشار پیدا کوی نو دې سړی ته به تعزیر مالی ورکول جائز وی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد سردار وزیرستانی... ۲۳ ذی قعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: جاز التعزیر باخذ المال عند الضرورة کما فی معین الحکام (۳) وهو الموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدین: وفی شرح الآثار التعزیر بالمال کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ اه والحاصل ان المذهب عدم التعزیر باخذ المال.
(ردالمحتار ۳:۱۹۶ باب التعزیر مطلب فی التعزیر باخذ المال)

۲) (مشکوٰة المصابیح ۱۲ کتاب الایمان)

۳) قال العلامة علاؤ الدین: یجوز التعزیر باخذ المال وهو مذهب ابی یوسف وبه قال مالک ومن قال ان العقوبة المالیة منسوخة فقد غلط علی مذاهب الائمة نقلا واستدلالاً ولیس بسهل دعویٰ نسخها وفعل الخلفاء الراشدین واکابر الصحابة لهابعد موته ﷺ مبطل لدعویٰ نسخها والمدعون للنسخ لیس معهم سنة ولا اجماع.. [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

بغیر د شرعی وجې نه د حجرې مشران او جرګې والا بدناموکی د تعزیر لائق دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په دوه ډلو کې د جائیداد اختلاف وو، هر دواړو ډلو دکلی د جرګې په خپل مینځ کې رضامندئ سره درخواست وکړو چې زمونږ امام او خطیب په سربراهئ کې زمونږ فیصله شرعی طریقې سره مقرر کړئ. لهذا مولانا صاحب سره د حجرې د مشرانو په اهتمام د حقانیه اکوړه ختک او د علاقې د پټواری د رپورټ مطابق فیصله وکړه، د فیصلې د کیدو نه پس یو ډلې نه صرف د حجرې د فیصلې منلو نه انکار وکړو بلکې د فیصلې په مشر مولانا صاحب باندې ئې د لالچی، فراډی او غدار الزام ولګولو، او په اشتهاراتو کې شائع کولو سره د ذکر شوې امام شهرت ته نقصان ورسولو، بدنام ئې کړو، لهذا د داسې فریق دپاره د شریعت محمدی څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: اصلاحی کمیټی سربلند پوره پېښور... ۲۸ ذی الحجة ۱٤۰۲هـ

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت دا الزام لګونکې د تعزیر لائق دې. (۱) خصوصا چې کله په دې الزام لګولو باندې باعث شرعی فیصله باندې رضامند نه دې لکه دا عام طور د بیلات کونکو عادت دې.

نوټ: دتعزیرنه مراد په غم ښادئ کې بائیکاټ دې، چې پښیمانه شی. (۲) **وهو الموفق**

... بقیه ازحاشیه گذشته] یصحح دعواهم الا ان یقول احدهم مذهب اصحابنا لا یجوز- (معین الحکام ۱۹۵ فی عقوبة الخائن)

۱) وفی التاتار خانیه: واذا قال لغیره یا فاجر یا خبیث یا فاسق یا خائن، یا لص فعلیه التعزیر- (الفتاوی التاتارخانیة ۵:۱۰۲ الفصل الثامن فی التعزیر)

۲) قال العلامة العینی: ولا یحل لمسلم الی آخره فیه تصریح بحرمة الهجران فوق ثلاثة ایام وهذا فیمن لم یجن علی الدین جنایة فاما من جنی علیه ..[بقیه حاشیه برصفحه آئنده

د صحیح فیصلې نه انکار کولو باندې مشروط د مالي جرمانې فیصله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې مدعی او مدعی علیه قاضی لره منصف کړی او جانبین ته اختیار ورکړی او قاضی د هغوی ترمینځه صلح او فیصله وکړی چې په تاسو کې چا هم د فیصلې د منلو تعمیل نه دې کړې نو هغه به ماته دوه زره روپۍ جرمانه راکوی او مدعی ته به ۱۰۰۰ روپۍ ادا کوی وروستو مدعی د قاضی د فیصلې نه انکاری شو آیا اوس هغه د قاضی شرائط کوم ئې چې دصلح په وخت کړې وو ادا کوی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی فضل الرحمن صاحب...۱۰ ربیع الاول ۱۳۹۲ھ

الجواب: که هغه سړی د مجلس نه بهرانکار وکړونودا انکارصحیح نه دې خو سره دهغې د هغه نه جرمانه اخستل ناجائز دې، فی الدرالمختار وحکمه وقوع البراءة عن الدعوی الخ (۱) وفیه ایضاً لاباخذ مال فی المذاهب (۲) وهو الموفق

د چا د راضی کولو د پاره خاروې ورکول او ذبح کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د زید د عمر نه نسبی رشته وه او بکر د زید اوښې دې، زید د خپل ځوئی په وادهٔ باندې دواړو ته دعوت ورکړو د عمر او بکر دواړو خپل مینځ کې په دنیاوی معاملاتو باندې اختلافات دی، عمر د زید نه خفه شو او ویې ویل چې تاسو زمونږ مخالف فریق ته ولې دعوت ورکړو ځکه چې زمونږ رشته تاسو سره نسبی وه

... بقیه ازحاشیه گذشته] وعصیٰ ربه فجائت الرخصة فی عقوبته بالهجران کالثلاثة المتخلفین عن غزوة تبوک فامر الشارع بهجرانهم-
(عمدة القاری ۲۲:۱۳۷ کتاب الادب باب ماینهیٰ من التحاسد والتدابر الخ)

۱) (الدرالمختار ۴:۵۲۷ کتاب الصلح)

۲) (الدرالمختار ۳:۱۹۵ باب التعزیر مطلب فی التعزیر باخذ المال)

او هغې سره صرف د ښځې د طرف نه تاسو به زمونږ خیال ساتلو سره هغوی نه رابللې په دې وجه مونږ تاسو نه خفه کیدو سره راغلو لهذا زمونږ تاسو سره د رشته نسبی بائیکاټ دې، څه موده پس په راضی نامه کې عمر په زید باندې دا شرط ولګولو چې تاسو یو ګډ ورکولو سره زمونږ ناراضګی لرې کړئ او دا تعزیربه دمال په صورت کې وی. ګډ اخستلو سره هغوی په خپل خاندان کې ذبح کړو، آیادا تعزیرمالی اوبیا دهغې خوراك د اتقیاء دپاره په شریعت کې جائز دی یا نه؟ دقرآن و سنت او دفقه د تصریحات نه مو مستفید کړئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: خطیب محمد عزیز جامع مسجد خیل خانه

چوك ناصر خان پیښور ښهر ... ۱۵ مارچ ۱۹۷۲ء

الجواب: چونکې زید په دې ګډ ورکولو باندې مجبور نه وو بلکې زید دا ګډ بغیر د جبر او اکراه نه ورکړې وه لهذا دې ته به تعزیر بالمال نه شی ویلې (۱)

وهوالموفق

په امتحان کې د نقل د وجې نه نیولې شوې کتاب لره ضبط کول ناجائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی امتحان ورکولو په غلطئ سره د دې سړی نه کتاب برآمد شو ممتحن نیولو سره کتاب ضبط کړو، او حال دا چې هغه سړې د کتاب په ضبط کولو باندې خوشحاله نه دې، نو آیا دا جائز ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم ...... ۱۰ رمضان المبارك ۱۴۰۳ھ

---

(۱) قال العلامة الحصكفی: التعزیر شرعاً تأدیب دون الحد (درمختار) وقال العلامة ابن عابدین: والتعزیر یسمیٰ عقوبة لان التعزیر شرع للتطهیر ... ان معنی التعزیر بأخذ المال علی القول به امساك شیئ من ماله عنه مدة لینزجر ثم یعیده الحاكم الیه.

(الدرالمختار ۱۹۵، ۱۹۴: ۳ كتاب التعزیر مطلب فی التعزیر باخذالمال)

الجواب: دا تعذیر باخذ المال دی، کوم چې د حدیث په بناء ﴿ الا لایحل مال امرء الا بطیب نفس منه ﴾ رواه البیهقی (۱) منسوخ کړې شوې دې، باخذ المال فی المذهب بحر، وفیه عن البزازیة وقیل یجوز ومعناه ان یمسکه مدة لینزجر ثم یعیده له فان ایس من توبته صرفه الی مایری، وفی المجتبی انه کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ انتهی (۲) قلت وبعض الاحادیث (۳) والآثار تدل علی الجواز (۴) ولکن الافتاء علیه اعانة للکلاب فافهم وتدبر. وهو الموفق

د مونځ نه کونکی نه د مالی جرمانې اخستلو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې مونځ نه کوی او په دې وجه قوم د هغه نه مالی جرمانه اخلی نو دا به جائز وی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد سعید استاذ هنګو.... ۱۹ ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: تعزیر په اخستلو د مال منسوخ دې، خو تعزیر په اهلاك د مال محکم دې لما فی شرح التنویر: لاباخذ مال فی المذهب (بحر) وفیه عن البزازیة:

---

۱) (مشکوة المصابیح 255 باب الغصب والعاریة)

۲) (الدرالمختار ۱۹۵: ۳ باب التعزیر)

۳) عن عمرو بن العاص رضی الله تعالیٰ عنه عن رسول الله ﷺ انه سئل عن الثمر المعلق فقال من اصاب بفیه من ذی حاجة غیر متخذ خبنة فلا شیئ علیه ومن خرج بشیئ منه فعلیه غرامة مثلیه والعقوبة۔
(سنن ابی داؤد ۶۰۳: ۲ کتاب الحدود ، باب مالاقطع فیه)

۴) قال الامام علاؤ الدین: ومنها تحریق عمر المکان الذی یباع فیه الخمر ومنها تحریق عمر قصر سعد بن ابی وقاص لما احتجب فیه عن الرعیة وصار یحکم فی داره۔ ومنها مصادرة عمر عماله باخذ شطر اموالهم فقسمها بینهم وبین المسلمین۔
(معین الحکام ۱۹۵ فصل فی عقوبة الخائن)

وقیل یجوز الخ (هامش ردالمحتار ۳: ۲۴۶)(۱) وفی الخلاصة ۴: ۴۴۴ ومن جملة ذلك رجل لا یحضر الجماعة یجوز تعزیره باخذ المال(۲) انتهی، قلت لا یریدون منه الاخذ للاكل بل یریدون مافی البزازیة علی هامش الهندیة ۶: ۴۲۶ ان نأخذ ماله ونودعه فاذا تاب نرده علیه كما عرف فی خیول البغاة انتهی(۳) قلت ایضاً وجاز صرفه وأكله عند الایاس عن الاصلاح كما فی ردالمحتار ۳: ۲۴۶ عن المجتبیٰ فان ایس من توبته یصرفها الی مایری(۴).

وهوالموفق

ګیرې ته د کنځلې کونکی د سزا او تعزیر مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی کوم چې لیونې او پاګل نه دې، هغه قصدا ګیرې ته کنځل کوی، لهذا که هغه په بیابان کې د موقع موندلو نه پس قتل کړې شی نو آیا دا جائز ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سید محمد ملا ګوری پیښور

الجواب: عوامو ته د جرم په وخت تعزیر ورکول جائز دی نه مخکې روستو (هندیة) (۵) اوپه عوامو باندې لازمی ده چې د دې سړی سره سوشل بائیکاټ

---

۱) (الدرالمختار ۳: ۱۹۵ باب التعزیر، مطلب فی التعزیر باخذ المال)

۲) (خلاصة الفتاوی ۴: ۴۴۴ كتاب الحدود الفصل الاول)

۳) (البزازیة علی هامش الهندیة ۶: ۴۲۷ كتاب الحدود، الاول فی القذف)

۴) (ردالمحتار ۳: ۱۹۶ باب التعزیر مطلب فی التعزیر باخذ المال)

۵) وفی الهندیة: قالوا لكل مسلم اقامة التعزیر حال مباشرة المعصیة واما بعد المباشرة فلیس ذلك لغیر الحاكم.
(فتاوی هندیة ۲: ۱۶۷ فصل فی التعزیر)

وکړي. (۱) او په حکومت باندې لازمي ده چې د دې سړي خلاف تادیبي کارروائي وکړي. وهوالموفق

د غل ګیره خرول جرم او د تعزیر لائق دي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د غل ګیر خرولې شوې ده آیا په شریعت کې د غل دپاره دا سزا جائز ده؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولوي سیف الرحمن دره آدم خیل... ۱۳ اپریل ۱۳۹۷هـ

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت دا غل هم مجرم دې (۲) او ګیره خرونکې هم مجرم او واجب التعزیر دې (۳) خو د ګیرې خرونکي ګیره به نه شي

---

۱) وفي المرقاة: قال الخطابي رخص للمسلم ان يغضب على اخيه ثلاث ليال لقلته ولايجوز فوقها الا اذا كان الهجران في حق من حقوق الله تعالىٰ فيجوز فوق ذلک وفي حاشية السيوطي على الموطا قال ابن عبد البر... واجمع العلماء على ان من خاف من مكالمة احد وصلته ما يفسد عليه دينه او يدخل مضرة في دنياه يجوز له مجانبته وبعده ورب صرم جميل خيرمن مخالطة تؤذيه... فان هجرة اهل الاهواء والبدع واجبة على مر الاوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع الى الحق.

(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲ كتاب الادب باب ماينهى من التهاجر والتقاطع الخ)

۲) قال الامام الحافظ الذهبي: الكبيرة الثالثة والعشرون السرقة ، قال الله تعالىٰ: والسارق والسارقة فاقطعوا ايديهما جزاء بما كسبا نكالا من الله والله عزيز حكيم (المائدة:۳۸). (الكبائر الامام الذهبي ۱۱۰ الكبيرة الثالثة والعشرون)

۳) وفي الهندية: واذا حلق لحية رجل ولم ينبت مكانها اخرى ففيها كمال الدية كذا في الذخيرة... فان نبت حتى استوى كما كان لا يجب فيه شيئ ولكنه يؤدب على ذلک كذا في المبسوط.

(فتاویٰ هندية ۶:۲۴ الباب الثامن في الديات)

خرولې، لکه چې د غل لاس به نه شي پرې کولې خکه چې لاس پرې کول د مسلمان حاکم منصب دې (١) وهوالموفق

په سود خور او جواری کونکی باندې د جرماني لګولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په یوه علاقه کې د چا بادشاهی نه وی او په هغې کې یو مقرر کړې شوې قاضی دا فیصله وکړی چې که چا جواری یا سود وکړو نو په هغه باندې به دوه زره روپۍ جرمانه وی د دې جرمانو نه بغیر خلق د بدو نه منع کول مشکل دی، دغه شان تعزیر بالمال جائز دې یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حاجی فضل الرحمن ... ١١ جون ٧٢ء

الجواب: دا تعزیر باخذ المال دې کوم چې منسوخ دې بیشکه تعزیر باهلاك المال منسوخ نه دې. فی الدرالمختار: لا بأخذ مال فی المذهب وفی المجتبی انه كان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ. (هامش ردالمحتار ٣: ٢٤٦) (٢) وعن عمر رضی الله تعالیٰ عنه انه احرق بیت الخمار وعن الامام الزاهد الصفار انه امر بتخریب دار الفاسق بسبب الفسق (هندیة ٥: ٣٨٩) (٣) المحتسب اذا نهی قطانا عن وضع القطن علی طریق العامة فلم یمتنع فاوقد المحتسب النار فی قطنه واحرقه یضمن الا اذا علم فساداً فی ذلك ورأی المصلحة فی احراقه فلا یضمن.

---

١) قال العلامة علی القاری: عن ابن عباس وابن الزبیر موقوفا ومرفوعاً اربع الی الولاة الحدود الخ. (مرقاة المفاتیح ١٣٨: ٧ کتاب الحدود)

٢) (الدرالمختار ١٩٥: ٣ باب التعزیر، مطلب فی التعزیر باخذ المال)

٣) (فتاویٰ هندیة ٣٥٣: ٥ الباب السابع عشر فی الغناء واللهو وسائر المعاصی)

(هندیة ٥: ٣٩٠)(١)۔ وهوالموفق

مړی راویستلوسره په هغې کې د نشې والا څیزونو سمګل کولو د پاره تعذیر

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په بلوچستان کې تقریبا د دوه کالو نه دا کار شروع شو چې بعض خلق تازه مړو لره د قبرونو نه راویستلو سره په دې کې هیروئن، چرس او د نشې والاڅیزونه سمګلنګ کوی او تر اوسه پورې پنځلس شل مړی تقریبا راویستلې شوې دی په دې وجه د مړی وارثان د قبرونو د دوه درې ورځو پورې حفاظت کوی. آیا د داسې غلو قتلول جائز دی یا ناجائز؟ که جائز وی نو صرف د حکومت دپاره که د عوامو دپاره هم؟ او که د هغوی لاس به پرې کولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی شمس الحق ضلع ژوب بلوچستان... ٧ محرم الحرام ١٤٠٨هـ

الجواب: د قواعدو په رڼا کې داسې مفسدینو ته حکومت هر قسم سزا ورکولې شی.(٢) او عوامو ته به د قتل اجازت نه شی ورکولې ځکه چې په مخالفینو باندې به تهمت لګولو سره د قتل په جرم کې اخته وی. وهوالموفق

د مور پلار بې ادبی عقوق او د تعزیر سبب دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې همیشه د خپل پلار سره بد اخلاقی کوی، تردې چې بعض وخت ورته کنځلې هم کوی بعض وخت ئې دومره په بې رحمئ سره وهی چې هغه سخت زخمی شی. په شریعت کې د داسې بې ادبه اولاد څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم..... ٣٠ مارچ ١٩٨٥ء

---

١) (فتاوی هندیة ٥: ٣٥٤ الباب السابع عشر فی الغناء واللهو)

٢) قال العلامة الحصكفی: والتعزیر لیس فیه تقدیر بل هو مفوض الی رأی القاضی وعلیه مشائخنا، زیلعی، لان المقصود منه الزجر، واحوال الناس فیه مختلفة، بحر، ویکون التعزیر بالقتل. (الدرالمختار ١٩٦:٣ باب التعزیر، مطلب یکون التعزیر بالقتل)

الجواب: دا ځوی د نافرمانۍ په جرم کې اخته دې کوم چې د کبائرو نه دې د هغوی دپاره توبه لازمی کول پکار دی. (۱) او د نه منع کیدو په صورت کې به قاضی او حاکم هغه ته په شرط د صدق او ثبوت سزا او تعزیر تجویز کولې شی، چې دهغې سزا هم ورکولې شی. في الدرالمختار ۳/۱۸۸، ومن يتهم بالقتل والسرقة وضرب الناس احبسه واخلده في السجن حتى يتوب. (۲) وهوالموفق

په ظالم او میرنه مور باندې د بد نظر ساتونکی حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زما یو ځوی دې هغه زما په بل ځوئی باندې ظلم کوی او په میرنۍ مور باندې بد نظر ساتی شرعی حکم ئې څه دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالله... ۲٦ ذوالحجة ۱۳۹٦هـ

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت مجرم دې، باأثر اهل اسلام دې هغه سره بائیکاټ کوی. (۳) وهوالموفق

---

۱) عن عبد الله ابن عمرو قال قال رسول الله ﷺ الكبائر الاشراك بالله وعقوق الوالدين- (مشكوة المصابيح ۱۷:۱ باب الكبائر وعلامات النفاق)

۲) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۳:۲۰٦ بعيد مطلب فى تعزير المتهم)

۳) وفى المرقاة: قال الخطابى رخص للمسلم ان يغضب على اخيه ثلاث ليال لقلته ولا يجوز فوقها الا اذا كان الهجران فى حق من حقوق الله تعالىٰ فيجوز فوق ذلك... واجمع العلماء على ان من خاف من مكالمة احد وصلته ما يفسد عليه دينه او يدخل مضرة فى دنياه يجوز له مجانبته وبعده... فان هجرة اهل الاهواء والبدع واجبة على مر الاوقات مالم يظهر من التوبة والرجوع الى الحق-
(مرقاة المفاتيح ۹:۲٦۲ كتاب الادب، باب ماينهى من التهاجر والتقاطع الخ)

د منکوحة الغیر ساتونکی سره د معاملاتو وغیره مسائل

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې مسمی زید سره د نوې مسلمانۍ يو نکاح کړې ښځه اغوا کولو سره په يو نږدې کلی کې د ښځې په طور استعمالوی چې د هغې نه ئې اولاد هم پيدا شوې دې، او اصل خاوند ئې لاتر اوسه پورې ژوندې دې هغه سره څه سلوك وکړې شی. آيا نور مسلمانان هغه سره د شريعت د وجې نه تعلق ساتلې شی؟

۲: آيا زيد د جماعت په مانځه کې شريکېدلې شی؟

۳: که زيد يا اغوا کړې شوې ښځه مړه شی د هغوی جنازه ادا کول جائز دی يا نه؟

۴: که د هغه اولاد کوم چې د دې اغوا کړې شوې ښځې نه پيدا شوې دې او که نابالغ فوت شی نو د نابالغ جنازه ادا کيدې شی چې نه؟ يعنی د شريعت د وجې نه جائز دی يا نه؟ چونکې دلته د علماء کرامو په دې کې اختلاف دې، د پورته ليکلې شوې سوالاتو جوابات وليکئ؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم

الجواب: ۱: د دې سړی سره ترك موالات ضروری دې. (۱) باقی ضرروری معاملات بيع او شراء وغيره د هغه سره منع نه ده.

---

(۱) وفی المرقاة: قال الخطابی رخص للمسلم ان يغضب علی اخيه ثلاث ليال لقلته ولا يجوز فوقها الا اذا كان الهجران فی حق من حقوق الله تعالی فيجوز فوق ذلک... واجمع العلماء علی ان من خاف من مكالمة احد وصلته مايفسد عليه دينه او يدخل مضرة فی دنياه يجوز له مجانبته وبعده... فان هجرة اهل الاهواء والبدع واجبة علی مرالاوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع الی الحق-
(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲ كتاب الادب، باب ماينهی من التهاجر والتقاطع الخ)

۲: د مانځه نه منع کول منع دی چې مونځ پرې نه ږدی. (۱)

۳: که مستحل نه وی نو عوام دې پرې وکړی او خواص دې نه کوی. (۲)

۴: د ولد الزنا جنازه کول جائز دی. (۳) وهوالموفق

د جادوګر او ساحر حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې ساحر او جادوګر وی او د هغه دا فعل شرعی د ګواهانو نه ثابت شی چې د جادو په ذریعه په خلقو باندې جنات مسلط کوی او حتی چې د جادو په ذریعه خلقو له بیمارولو سره وژنی، د هغه څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: ناصر محمود... تونبهر

---

۱) قال الله تبارک وتعالیٰ: ارأیت الذی ینهیٰ عبدا اذا صلی.
(سورة العلق آیت: ۹،۱۰ پاره: ۳۰)

۲) قال العلامة خلیل احمد سهارنفوری: قال الخطابی وترک النبی ﷺ الصلوٰة علیه معناه العقوبة له والردع لغیره عن مثل فعله... وقال اکثر الفقهاء یصلی علیه قلت انما ترک الصلوٰة علیه رسول الله ﷺ بنفسه الشریفة ولم ینه الناس عنها فهذا ینبغی ان لایصلی علیه کبائر الائمة والمقتدون من الناس واما غیرهم فیصلون علیه لئلا یضیع الفرض الکفائی ویؤید ذلک ماعند النسائی بلفظ اما انا فلا اصلی علیه وبدل علی الصلوٰة علی الفاسق حدیث صلوا علی من قال لا اله الا الله.
(بذل المجهود ۴:۲۰۲ کتاب الجنائز، باب الامام یصلی علی من قتل نفسه)

۳) عن عمرو بن یحی رضی الله تعالیٰ عنه: قال صلّی رسول الله ﷺ علی ولد الزنا وامه ماتت فی نفاسها.
(مصنف عبد الرزاق ۳:۵۳۴ کتاب الجنائز، باب الصلاة علی ولد الزنا والمرجوم)

الجواب: وبالله التوفيق...جادوگر او ساحر په ځمکه کې فساد کونکې دي، که په دې عمل کې ونیولې شي او اقرار هم وکړي او د ګواهانو په ذریعه دا د جادو عمل ثابت شي و حاکم او قاضي به هغه لره قتل کوي، وفي معين الحكام ٢٢٩ قال في النوازل الخناق والساحر يقتلان اذا اخذا لانهما ساعيان في الارض بالفساد فان تابا ان كان قبل الظفر بهما قبلت توبتهما وبعد ما اخذا لا يقتلان كما في قطاع الطريق (١) انتهٰى.-وهو الموفق

په مسلمانانو باندې د وسلې اوچتولو حکم

سوال: ما يقول العلماء الكرام في المسئلة الآتية: من شهر السلاح على واحد في جماعة معه او على عامة الجماعة هل يجوز قتل المشاهر لهذا الواحد او لاعوانه او لهذه الجماعة قد شهر عليهم، افتوني ايها العلماء مع التفصيل والحوالة من الكتب سريعاً توجروا ان شاء الله تعالىٰ لان فيه دفع الفساد العام وان لم يسع على هذه الورقة ضموا الورقة الثانية؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيد جلال الدين مدير دار العلوم الاسلاميه زرګرى
ضلع هنګو ... ٧ صفر ١٤٠٥هـ

الجواب: الشاهر مباح الدم لا شيئ في قتله كما في الهندية ٦ : ٧ ومن شهر على المسلمين سيفاً وجب قتله ولا شيئ بقتله وكذلك اذا شهر على رجل سلاحاً فقتله او قتله غيره دفعاً عنه فلا يجب بقتله شيئ ولا يختلف بين ان يكون بالليل او بالنهار في المصر او خارج المصر كذا في التبيين (٢).-والله اعلم

---

١) (معين الحكام للطرابلسى ١٩٣ فصل فى عقوبة الساحر والخناق والزنديق)
٢) (فتاوىٰ هندية ٧ : ٦ الباب الثانى فى من يقتل قصاصاً ومن لا يقتل)
وقال العلامة الحصكفي : ولا بقتل ...[بقيه حاشيه بر صفحه آئنده

واده کړي لره اغوا کولو سره د قتلولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې الف: که یو سړې یوه منکوحه اغوا کړی نو خاوند دپاره د اغوا کونکی قتل هغه وخته پورې جائز دې یا نه ترڅو پورې چې هغه اغوا کړې شوې نه وی پرېښودلې؟
ب: د خاوند په شان د ښځې رشته دارو لره دا قتل جائز دې یا نه؟
ج: چې کله اغوا کونکې اغوا کړې شوې لره پرېږدی د دې نه پس خاوند لره د هغه قتلول تعزیرا جائز دی یا نه؟ د در مختار د دې عبارت ﴿ویقیمه کل مسلم حال مباشرة المعصیة واما بعده فلیس ذلك لغیر الحاکم والزوج والمولی﴾ نه آخری صورت ثابتیږی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محمد سردار خادم دار الافتاء دار العلوم عربیه

تل... یکم اگست ۱۹۸۹ء

الجواب: قال فی الکاملیة ۴۶ یوجع بالضرب الشدید(۱) (خیر الدین الرملی) واما عند مباشرة الزنا فجاز قتلهما ان کانا مطاوعین کما فی شرح التنویر فی باب التعزیر(۲) لیس مرادهم اباحة القتل فلیراجع الی ردالمحتار ۳: ۲۶۴ باب التعزیر وقبیل باب السرقة(۳)۔ والله اعلم بالصواب

... بقیه ازحاشیه گذشته] (معطوف علی قوله ولا شیئ بقتله) من شهر سلاحاً علی رجل لیلاً او نهاراً فی مصر او فی غیره۔ (الدر المختار ۵: ۳۸۷ فصل فیما یوجب القود مالایوجبه)

۱﴾ (فتاوی کاملیة ۴۶ باب التعزیر، مطلب فیمن فر بزوجة الغیر الخ)

۲﴾ قال العلامة الحصکفی: لوکان مع امرأته وهو یزنی بها او مع محرمه وهما مطاوعان قتلهما جمیعا۔ (الدرالمختار ۳: ۱۹۷ باب التعزیر مطلب یکون التعزیر بالقتل)

۳﴾ قال العلامة الحصکفی: من حد او عزر فهلک فدمه هدر الا امرأة عذرها زوجها بمثل ما مر فماتت لان تادیبه مباح فیتقید بشرط السلامة۔ قال العلامة الشامی: قوله فدمه هدر ای عندنا ومالک لان الامام مأمور بالحد والتعزیر وفعل... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د بد فعلئ د بندولو د پاره حسب استطاعت کوشش کول ضروري دي

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې زمونږ دکلی اکثرې جینکئ په زناکارئ کې اخته کیدو سره حاملې شوې، چې د هغوی حمل وضع کړې شو او د دې بدئ علم د کلی ټولو خلقو او د کلی امام ته هم دې، خو مصلحتا د بندیز څه کارروائی نه ده کړې شوې، په دې وجه دا ضروری شوې ده چې د قانون محمدی ﷺ فتوی ورکړئ چې د کلی په خلقو او امام باندې څه فرائض عائد کیږی او په دې جرمونو باندې څه تعزیر راځی. **بینواتوجروا**

المستفتی: خالق داد بمعرفت مولوی عزیز الرحمن ... ۲۴ مئی ۱۹۷۰ء

الجواب: ﴿ قال رسول الله ﷺ من رای منکم منکرا فلیغیره بیده الحدیث﴾ د دې په وجه باندې په ټولو مسلمانانو باندې د استطاعت مطابق د دې بد فعلئ بندول ضروری دی، کنه نو د الله پاك په نزد د سخت عذاب خطره موجود ده. (۱) فقط

... بقیه ازحاشیه گذشته] المامور لا یتقید بشرط السلامة قلت ومقتضی التعلیل بالامر ان ذلک غیر خاص بالامام فقد مر ان لکل مسلم اقامة التعزیر حال مباشرة المعصیة لانه مأمور بازالة المنکر الا ان یفرق بانه یمکنه الرفع الی الامام فلم تتعین الاقامة علیه بخلاف الامام فتأمل۔ (الدرالمختار مع ردالمحتار ۳:۲۰۸ باب التعزیر، قبیل باب السرقة)

(۱) قال العلامة الملا علی القاری: عن ابی سعید الخدری ان رسول الله ﷺ قال من رأی ای علم منکم منکرا ای فی غیره من المؤمنین والخطاب للصحابة اصالة ولغیرهم من الامة تبعاً... وخلاصة الکلام من ابصر ما انکره الشرع فلیغیره بیده ای بان یمنعه بالفعل بان یکسر الا لات... فان لم یستطع ای التغیر بالید وازالته بالفعل لکون فاعله اقوی منه فبلسانه ای فلیغیره بالقول وتلاوة ما انزل الله من الوعید علیه... فان لم یستطع ای التغیر باللسان ایضا فبقلبه بان لا یرضی به۔

(مرقاة المفاتیح ۹:۳۲۸ باب الامر بالمعروف، الفصل الاول)

د ځاروی سره په بد فعلی باندې اقرار او د شهادت نه بغیر د تعذیر حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو هلك چې د هغه عمر تقریبا یولس کاله دې هغه د یوې غوا سره بد فعلی وکړه کوم چې یو سړی امین الله لیدلې دې، لیدلې ئې صحیح دې خو ګواه صرف یو دې، په دې وجه د تپوس کولو امر دا دې چې دا هلك د تعزیر قابل دې یا نه؟ او په دې مقام باندې د یو ګواه شهادت منظور دې یا نه، او د دې ځاروی سره به څه معامله کولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی فضل ربی سکنه ډاګ ... ٤ جمادی الاولی ١٣٩٠ھ

الجواب: چونکې دا جرم د حقوق العباد نه نۀ دې، او سره د دې نه اقرار موجود دې او نه مکمل شهادت موجود دې، لهذا په دې صورت کې د رعیت دپاره تعزیری کاروائی کول بې قاعدې امر دې، خصوصا چې د جرم کولو وخت هم تیر شوې دې وفی الهندیة ٢: ١٨٧ وينقسم (التعزير) الى ماهو حق الله وحق العبد والاول يجب على الامام ولا يحل له تركه الا فيما اذا علم انه انزجر الفاعل قبل ذلك ويتفرع عليه انه يجوز اثباته بمدع شهد به فيكون مدعيا شاهدا اذا كان معه آخر كذا فى النهر الفائق قالوا الكل مسلم اقامة التعزير حال مباشرة المعصية واما بعد المباشرة فليس ذلك لغير الحاكم(١)۔ وهوالموفق

ځاروی سره بد فعلی کونکی ته به د ثبوت نه پس حکومت سزا ورکوی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو واده کړی سړی ښځه تقریبا د یو کال نه موجود نه دد هغه د خرې سره بد فعلی وکړه نو د دې څۀ حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: حبیب ګل هنګو ... ٢٠ رمضان المبارك ١٤٠٨ھ

---

(١) (فتاوی هندية ٢: ١٦٧ فصل فى التعزير)

الجواب: تاسو په استفتاء کې دا نه دی ذکر کړې چې دا سړې اقرار کونکې دې یا انکاری دې او په دې باندې دوه معتمد ګواهان موجود دی یا نه. بهر حال د باقاعده ثبوت نه پس به حکومت هغه ته مناسب سزا ورکوی او دا خره به وژنی، او سیزی به ئې، په دې کې د عوامو مداخلت د وخت نه پس دې او نامنظور دې (شامی ۲۶/۴)(۱) وهندیة(۲) وهوالموفق

د موطوء څاروی او هغې سره د بدفعلئ کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی د حلال څاروی سره بدکارئ کولو چې د هغې شرعی ثبوت موجود نه دې، د دې څاروی څه حکم دې؟ آیا هغه حلال دې یا حرام؟ او د هغې د پیو څه حکم دې؟ او د بدفعلئ کولو والا څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولانا محمد یعقوب بلند کوٹ آزاد کشمیر ... ۱۹ مئی ۱۹۶۹ء

الجواب: مستحب دا ده چې دا څاروې د مالك نه واخستلې شی او د ذبح کولو نه پس وسیزلې شی، خوراك د دې صحیح دې خو غوره نه دې او په دې مجرم باندې حد نشته، خو مسلمان حاکم باندې ضروری ده چې هغه ته تعزیر او سزا ورکړی. (۳) فی الدرالمختار ولا یحد بوطی بهیمة بل یعزر وتذبح ثم تحرق،

---

۱) قال العلامة الحصکفی: ولا یحد بوطء بهیمة بل یعزر وتذبح ثم تحرق.
(الدرالمختار ۳:۱۷۰ کتاب الحدود، مطلب فی وطء الدابة)

۲) وفی الهندیة: قالوا لکل مسلم اقامة التعزیر حال مباشرة المعصیة واما بعد المباشرة فلیس ذلک لغیر الحاکم. (فتاوی عالمگیریة ۲:۱۶۷ فصل فی التعزیر)

۳) قال العلامة ابن نجیم: لا یحد بوطء بهیمة... الا انه یعزر لما بینا والذی یروی انها تذبح البهیة وتحرق فذلک لقطع التحدث به ولیس بواجب قالو ان کانت الدابة مما لا یؤکل لحمها تذبح وتحرق لما ذکرنا وان کانت مما تؤکل تذبح وتوکل عند ابی حنیفة وقالا تحرق هذه ایضا هذا ان کانت البهیمة للفاعل فان کانت لغیره...[بقیه حاشیه برصفحه آئنده

قال العلامة الشامی فی ردالمحتار ٣: ٢١٣ وهذا اذاکانت مما لایوکل فان کانت مما توکل جاز اکلها عنده وقالا تحرق ایضاً(١).

او که دا څاروې ذبحه کړې شی او دده پۀ استعمال کړې شی نو حرام نه دی بلکې مکروه دی. فی الدرالمختار: ویکره الانتفاع بها حیة ومیتة فقط(٢). وهوالموفق

بیزې (چیلۍ) سره د بد فعلۍ کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې کوم سړې د بیزې سره بد فعلی وکړی د داسې سړی دپاره څه حکم دې؟ د بدفعلۍ کولو صرف یو گواه دې کوم چې عاقل او بالغ دې، او فاعل د قسم خوړلو نه منحرف دې باقی د کوم څاروی سره چې دا ناجائز معامله کړې شوې ده، د هغې د غوښې او څرمنې نه فائده اخستل د شریعت په نزد جائز دی یا نه؟ په شریعت محمدی کې د فاعل او مفعول دپاره څۀ حکم دې، هغه چیلۍ که خرڅه کړې شی نو د هغې څه حکم دې؟

المستفتی: علی زمان مقام کری کوټ... ١٧ ستمبر ١٩٧٤ء

الجواب: په دې سړی باندې چا چې بد کار کړې دې ضروری ده چې د الله پاك نه معافی وغواړی او د حاکم دپاره جائز ده چې هغه ته څه تعزیر ورکړی کما فی الهندیة ١/١٨٧ قالوا لکل مسلم اقامة التعزیر حال مباشرة المعصیة واما بعد المباشرة فلیس ذلك لغیر الحاکم.(٣) او چیلۍ که د دې واطی خپله

... بقیه ازحاشیه گذشته] ففی الخانیة کان لصاحبها ان یدفعها الیه بالقیمة.
(البحر الرائق ٥: ١٧ کتاب الحدود، باب الوطء الذی یوجب الحدوالذی لا یوجبه)

١) (الدرالمختار مع ردالمحتار ٣: ١٧٠ کتاب الحدود، مطلب فی وطء الدابة)

٢) (الدرالمختار مع ردالمحتار ٣: ١٧٠ کتاب الحدود، مطلب فی وطء الدابة)

٣) (فتاویٰ هندیة ٢: ١٦٧ فصل فی التعزیر)

وی نو غوره دا ده چې هغه ذبح کړی او غوښه او څرمن ئې وسیزی، او دا هم جائز ده چې هغه وخوری، او په واطی باندې دا ضروری او واجب نه دی چې هغه ذبح کړی، او که دا چیلئ د دې واطی خپله نه وی نو د هغه مالك دپاره مستحب دی چې په هغه واطی باندې خرڅه کړی او هغه ذبح کړی. **مأخوذازرد المختار ۱۵۵/۳ (۱) وهوالموفق**

...

۱) قال العلامة الحصكفی: ولا يحد بوطء بهيمة بل يعزر وتذبح ثم تحرق ويكره الانتفاع بها حية وميتة مجتبى (الدرالمختار)،
وقال العلامة ابن عابدين: (قوله وتذبح ثم تحرق) ای لقطع امتداد التحدث به كلما رؤيت وليس بواجب كما فی الهداية وغيرها، وهذا اذا كانت مما لا يؤكل فان كانت تؤكل جاز اكلها عنده وقالا تحرق ايضاً، فان كانت الدابة لغير الواطی يطالب صاحبها ان يدفعها اليه بالقيمة ثم تذبح.
(ردالمحتار مع الدرالمختار ۱۷۰:۳ كتاب الحدود، مطلب فی وطء الدابة)

بسم اللہ الرحمٰن الرّحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاویٰ فریدیه

(شپږم جلد)

باب حد الزنا

بسم الله الرحمن الرحیم

فتاوٰی دیوبند پاکستان

المعروف به

فتاوٰی فریدیه

باب حد الزنا

قال الله تبارک وتعالیٰ:

اَلزَّانِیَةُ وَالزَّانِیْ فَاجْلِدُوْا

كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ ص ۔

(سورۃ النور......۲)

....

باب حد الزنا

د قاضي او حاکم نه علاوه بل څوک د زنا حد نه شي جاري کولی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې آیا د زنا د حد جاری کول بغیر د قاضی او حاکم نه صحیح دی یا نه؟ د فقه حنفی په رڼا کې وضاحت وفرمایئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد وارث هری پور هزاره... ٢٥ ربیع الاول ١٣٩٠ھ

الجواب: حدود سوا د قاضی او حاکم نه بل څوک نه شي جاری کولی

لما روی ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه وابن عباس وابن الزبیر موقوفاً ومرفوعاً اربع الی الولاة، الحدود والصدقات والجمعات والفئ (مرقاة)(١) وفی الهندیة: ورکنه (الحد) اقامة الامام او نائبه فی الاقامة(٢: ١٦٠)(٢). فقط وهوالموفق

د حدود او دیت فیصله محکم نه ده د شرعی قاضی منصب دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دوه کسان د یو دشمن په قتل پسې روان شو، د قتلولو په وخت دواړو بیلې بیلې ټوپکې استعمال کړې یو مخکې او بل وروستو خو په اول ډز کونکی سره ګولۍ باندې یوه جینۍ ولګیده، اوس د اول ډز کونکې منکر دې، ګواه هم څوک نشته،

---

١) (مرقاة المفاتیح ١٣٨:٧ کتاب الحدود)

٢) (فتاویٰ هندیة ١٤٣: ٢ کتاب الحدود، الباب الاول)

وقال العلامة ابن عابدین: بخلاف الحدود فانه لم یثبت تولیتها الا للولاة (ردالمحتار ١٩٨:٣ کتاب التعزیر، مطلب یکون التعزیر بالقتل)

تاسو څه فیصله وکړئ چې جرګه یوې فیصلې ته ورسیږي او د دیت وغیره حکم بیان کړي؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: شاد محمد جامعة علوم القرآن والسنة

نمک منډۍ پېښور... ۲۶ مارچ ۱۹۸۹ء

الجواب: د حد، قصاص او دیت فیصله محکم منصب نه دې په دې کې حاکم شرعی ته مرافعه ضروري وي، چې هغه باقاعده فیصله کولو سره حکم بیان کړي، کما في شرح المجلة مادة:۱۸۴۱(۱) وهوالموفق

د حدود اجراء د شرعی قاضی او حکام حق دي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې بعض جرمونه داسې دي چې د هغې سزاګانې په شریعت کې کوړې ورکول او قصاص اخستل دي، خو دلته د جرګو په ذریعه هغه خلقو ته نورې سزاګانې ورکولې شي، او شرعی حدود نه شي جاري کولې. بله دا چې دلته قاضی شرعی او باقاعده حکومتی نظام نشته، نو آیا عوامی جرګه حدود نه شي جاري کولې. **بینواتوجروا**

المستفتی: رستم حیات... لنډۍ کوتل بازار

الجواب: د حدود جاري کول د حکام او د هغوی د طرف نه د مقرر شوي قاضیانو وغیره حق دې، مشرانو او عوامی جرګو ته د حدود جاري کولو اختیار نشته. وفي الهندية ۳/۱۴۳ ورکنه (ای الحد) اقامة الامام او نائبه في الاقامة(۲) وکذافي البدائع(۳). وهوالموفق

---

۱) قال الشیخ محمد خالد الآتاسی: ومن جهة المحکوم به ان لا یکون فی حد ولا قود ولادية. (شرح المجلة ۶:۱۷۲ مادة: ۱۸۴۱)

۲) (فتاویٰ عالمگیریة ۳:۱۴۳ کتاب الحدود)

۳) قال العلامة الکاساني: واما شرائط جواز اقامتها فمنها... [بقیه حاشیه برصفحه آئ

د زنا او لواطت جرم په اعتراف یا شهادت شرعی سره ثابتیږی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زید په بکر باندې د عمل قوم لوط علیه السلام الزام لګوی او وائی چې د نن نه تقریبا څلور کاله مخکې ما بکر د دې جرم په کولو باندې لیدلې دې، د دې خپل الزام په ثبوت کې خالد او بصیر د ګواه په طور پیش کوی. خالد د دې پارټئ یو ممبر دې چې په هغې کې زید او بکر دواړه شامل دی، چې کله د خالد نه د دې په باره کې معلومات کولې شی نو د ټولو ممبرانو او صدر مخکې خالد مکمل طور د لاعلمئ اظهار کوی، بصیر کوم چې د زید ګواه دې هغه دوه کاله مخکې د دې جماعت صدر او نور ممبرانو د هغه د بعض خبرو د وجې نه منافق بللې وو، د هغه د منافقت اعلان ئې هم کړې وو، په دې قبیح فعل کې د زید ذات هم ملوث دې د دې څلورو کالو په موده کې نه صرف دا چې زید په بکر پسې مونځونه کول بلکې د دې نظم د لاندې ئې کار هم کولو بلکې زید د بکر نه ډیر خله د دې اصرار وکړو چې هغه د دې د سکه خور سره وادهٔ وکړی، د جماعت امیر ته ئې هم ددې خواهش اظهار وکړو چې بکر دې د زید د خور سره وادهٔ وکړی خو د دې نه مخکې هیڅ قسم الزام نه دې لګولې شوې، بکر هم په دې الزام سره د خپل براءت اظهار کوی، د بکر سره د جرم د ارتکاب دپاره چې د کوم نوم اخستلې شی هغه د دې جرم نه د براءت اظهار کوی، د کتاب او سنت په رڼا کې د مسئلې وضاحت وکړئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سائنس ماسټر هائی سکول کراچی ۲ ... ۲۶ فروری ۱۹۷۵ء

... بقیه ازحاشیه گذشته] ما یعم الحدود کلها ومنها ما یخص البعض دون البعض واما الذی یعم الحدود کلها فهو الامامة وهو ان یکون المقیم للحد هو الامام او من ولاه الامام وهذا عندنا۔

(بدائع الصنائع ۷:۵۷ کتاب الحدود)

الجواب: د خالق په نزد کوم چې عالم الغیب والشهادة دې هغه سړې مجرم او فاسق دې کوم چې د دې امر قبیح مرتکب شوې وی او توبه ئې نه وی کړې (۱) او د مخلوق په نزد یعنی قانونی مجرم دا دې چې په هغه باندې د اعتراف یاد شهادت د وجې نه ثابت شی. (۲) او په دې صورت مسئوله کې د یوې ډلې سره دوه ګواهان معتمدنه دی. لهٰذا په دې کې به یوهم مجرم نه وی (۳) وهوالموفق

د کوړې تعریف او ساخت

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په شرعی طریقه باندې د کوړې تشریح څه ده؟ کوړه د کوم څیز جوړه پکار ده؟ او د دې ساخت څنګه کیدل پکار دی؟ او د دې څومره اوږد والې او څومره پلن والې کیدل پکار دی؟

۲: آیا بید، چابك او لخته د کوړې شرعی مفهوم لره پوره کوی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مبلغ الاسلام بالا ماڼئ پیښور... ۱۹ ربیع الاول ۱۴۰۲ھ

الجواب: کوړه، څرمن، چابك، د کهجورې څانګې او پیزار ته وائی، د دې

---

۱) قال الامام شمس الدین الذهبی: واجمع المسلمون علی ان التلوط من الکبائر التی حرم الله تعالیٰ: اتاتون الذکران من العالمین وتذرون ما خلق لکم ربکم من ازواجکم بل انتم قوم عادون (سورة الشعراء) ای مجاوزون من الحلال الی الحرام... قال ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه ان اللوطی اذا مات من غیر توبة فانه یمسخ فی قبره خنزیراً.
(الکبائر للامام الذهبی ۶۷، ۶۶ الکبیرة الحاویة عشرة اللواطة)

۲) وفی الاختیار لتعلیل المختار: ویثبت بالبینة والاقرار لانهما حجج الشرع وبهما تثبت الاحکام. (الاختیار لتعلیل المختار ۴: ۹۴ کتاب الحدود)

۳) قال العلامة الشامی: یکفی فی الشهادة علیها (اللواطة) عدلان لا اربعة خلافا لها. (ردالمحتار ۳: ۱۷۲ کتاب الحدود، مطلب لا تکون اللواط فی الجنة)

دپاره هيڅ خاص ماده نشته او نه د دې دپاره څه خاص اوږدوالې او پلن والې مقرر دې. (١)

٢: دا څيزونه د کوړې په مفهوم کې داخل دی. (٢) وهوالموفق

مروجه کوړې ورکول د شريعت خلاف دی

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې مجرم ته کوړې څوک ورکولې شی؟ هم دغه شان د مروجه کوړو څه حکم دې؟ بينواتوجروا

المستفتی: مبلغ الاسلام بالا مانئ پيښور ... ١٩ ربيع الاول ١٤٠٢ﻫ

---

(١) وعن يحيیٰ بن ابی كثير ان رجلا اتی النبی ﷺ فقال يا رسول الله ! انی اصبت حداً فاقمه علی، فدعا رسول الله ﷺ بسوط فاتی بسوط شديد له ثمرة، فقال سوط دون هذا، فاتی بسوط مكسور لين، فقال سوط فوق هذا فاتی بسوط بين سوطين، فقال هذا، فامر به فجلد. (اعلاء السنن ١١:٥٦٤ باب صفة السوط فی الجلد)

(٢) په حدود اوتعزيراتو کې استعماليدونکې کوړه چابك، دُرې ساخت او جوړښت متوسط کيدل ضروری دی که دا د هر يو څيزنه جوړ وی، اوکه د لرګی وی نو بيا نرمه شان لښته (چوکه) پکارده، په همسا باندې کوړه نه صادقيږی.

قال العلامة الزيلعی: بسوط لا ثمرة له متوسطا ان يضرب بسوط لا عقدة له ضربا متوسطاً... وعن علی رضی الله تعالیٰ عنه انه كسر ثمرته ولو لم يكسر الثمرة بعد كل ضربة بضربتين ... والضرب المتوسط هو المؤيد غير الجارح لان الجارح يفضی الی التلف او يبقی فی جسده اثر يشينه ولهذا يكسر عقدته وغير المؤيد لا يفيد والواجب التاديب دون الهلاک. (تبيين الحقائق شرح الكنز ٣:١٧٠ كتاب الحدود)

وقال العلامة ابن نجيم المصری: (بسوط لاثمرة له متوسطا) ای لا عقدة له لان عليا رضی الله تعالیٰ عنه لما اراد ان يقيم الحد كسر ثمرته والمتوسط بين المبرح وهو الجارح وغير المولم لا فضاء الاول الی الهلاک وخلو الثانی عن المقصود وهو الانزجار كذا فی الهداية وحاصله انه المولم غير الجارح. (البحر الرائق ٥:٩ كتاب الحدود)

الجواب: د حکومت د طرف نه به متعین سړي کوړې ورکوی (۱) د کتب فقه نه معلومیږی چې دامروجه کوړې ورکول دشریعت خلاف دی. (۲) **وهوالموفق**

د زنا په شک کې چاړه قتلول جائز نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په علاقه کې بعض وخت داسې وشی چې خاوند یا وروړ وغیره خپله ښځه یا خور صرف په دې وجه باندې قتلوی چې هغه ته د هغې چا سره د بدکارئ کولو شک وی، مسئله حل طلب دا ده چې آیا دا ښځه او سړې کوم چې صرف د شک د وجې نه قتلولې شی، شهید دی یا نه او قاتل به په دې گناهگار وی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد دراز خان متعلم دار العلوم اسلامیه لکی مروت... ۲۸ جنوری ۱۹۸٦ء

الجواب: دا قاتل ظالم او جاهل دې (۳) او مقتول او مقتوله مظلومین دی.

---

۱) قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي: هناك شرائط لاقامة الحد... اما مايعم الحدود كلها فهو الامامة، واما ما يخص حد الرجم فهو شرط البداية من الشهود فى الرجم... فاذا كان الحد جلداً فهو الذى يقيمه او ينيب عنه احداً.
(الفقه الاسلامى وادلته ۷:۵۳۸۳ المبحث الخامس، اقامة الحد على الزانى)

۲) قال العلامة ابن نجيم: (قوله ويضرب الرجل قائما فى الحدود وغير ممدود)... ثم قيل غير ممدود فقد قيل المدأن يلقى على الارض ويمد كما يفعل فى زماننا وقيل ان يمد السوط فيرفعه الضارب فوق رأسه وقيل ان يمد بعد الضرب وذلک كله لا يفعل لانه زيادة على المستحق- (البحر الرائق ۵:۹،۱۰ كتاب الحدود)

۳) قال العلامة الذهبى: الكبيرة الثانية قتل النفس، قال تعالىٰ: ومن يقتل مؤمنا متعمداً فجزاؤه جهنم خالداً فيها وغضب الله عليه ولعنه واعد له عذابا عظيماً.
(الكبائر للامام الذهبى ۲۵ الكبيرة الثانية)

بغیر د مشاهدې او شهادت نه قتلول د کفارو په قانون کې هم ناجائز دی (١)

والله اعلم بالصواب

بغیر د اقرار او شهادت شرعی نه د زنا په تک کې قتلول ظلم او ناجائز دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د وادهٔ کړې ښځې سره نکاح وکړه، حمل ئې هم راغلو بیا د هغه سړی شك راغلو چې دا ښځه د فلانی سړی نه حامله شوې ده، دا خاوند زانیه او مزنیه لره په ګولۍ سره اولی، د هغه څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی ظفر الحق تیراوی متعلم حقانیه

خادم خاص شیخ الحدیث صاحب ... ٢٧ نومبر ١٩٨٦ء

الجواب: په صورة مسئوله کې نه باقاعده اقرار موجود دې او نه شهادت شرعیه قائم شوې دې (٢) پس دا قاتل ظالم او فاسق دې (٣) والله الموفق

---

١) قال العلامة المرغینانی: ومنها الشهادة ببقیة الحدود والقصاص یقبل فیها شهادة رجلین لقوله تعالیٰ واستشهدوا شهیدین من رجالکم.
(الهدایة ٣:١٥٤ کتاب الشهادة)

وفی شرح المجلة: کذلک المتیقن عدم ثبوته لا یحکم بثبوته بمجرد الشک لان الشک اضعف من الیقین فلا یعارضه ثبوتا وعدماً... لان ما لیس ثابتا بیقین لا یثبت بالشک.

(شرح المجلة ١:١٨ المادة: ٤ الیقین لا یزول بالشک)

٢) وفی الاختیار لتعلیل المختار: ویثبت بالبینة والاقرار لانهما حجج الشرع وبهما تثبت الاحکام. (الاختیار لتعلیل المختار ٤:٩٤ کتاب الحدود)

٣) قال العلامة الذهبی: الکبیرة الثانیة قتل النفس قال تعالیٰ: ومن یقتل مؤمنا متعمداً فجزآئه جهنم خالداً فیها وغضب الله علیه ولعنه اعد له عذاباً عظیما.
(الکبائر للامام الذهبی ٢٠ الکبیرة الثانیة)

د محارم سره په نکاح کښ د عقد د شبه د وجې نه حد ساقط دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښ چې د علم خاوند يو سړې وائی چې که چا نعوذ بالله د مور سره زنا وکړه نو په هغه باندې د زنا حد ثابت نه دې، چې کله هغه ته اوئیلې شی چې ﴿الزانية والزانی فاجلدوا کل واحد منهما﴾ څه مطلب دې نو هغه د محارم او د نکاح مسائل بیانول شروع کړی د دې مسئلې څه حقیقت دې؟ **بينوا توجروا**

المستفتی: حاجی گل محمد سکندر آباد کالونی، حیدر آباد... ٨ مئی ١٩٧٧ء

الجواب: چې کله د محارم سره څوك نکاح وکړی نو د عقد د شبهې د وجې نه ترې حد ساقط شی هکذا فی الدر المختار(١) وغیره(٢) باب الحدود. وهو الموفق

د زنا د پاره کوشش کونکې فاسق او قابل تعزیر هجران دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښ چې يو سړې خپلې خورزې لره نیولو سره د زنا بالجبر کوشش کوی خو خلقو ترې خلاص کړو، د دې سړی څه حکم دې؟ **بينوا توجروا**

المستفتی: محمد سردار ضلع هزاره... ٢ شعبان ١٩٨٧ء

الجواب: دا سړې فاسق دې که توبه ئې نه وی کړې او د اصرار په تقدير باندې

---

١) قال العلامة الحصكفی: وفی المجتبیٰ: تزوج بمحرمه او منكوحة الغير او معتدته ووطئها ظاناً الحل لا يحد ويعزر وان ظانا الحرمة فكذلك عنده خلافا لهما.
(الدر المختار ٣:١٦٩ كتاب الحدود، مطلب اذا استحل المحرم على وجه الظن الخ)

٢) قال العلامة ابن نجيم: (قوله بمحرم نكحها) ای لا يجب الحد بوطء امرأة محرم له عقد عليها عند ابی حنيفة وقالا عليه الحد.
(البحر الرائق ٥:١٥ كتاب الحدود، باب الوطء الذی يوجب الحد الخ)

هغه سره په غم ښادئ کې باقاعده بائیکاټ ضروری دی. (۱) وهوالموفق

د اغوا په معامله کې راضی نامه ممنوع شرعی نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يو سړې د يو معزز خاندان د منکوحه جینئ سره چې د هغې تر اوسه پورې رخصتی نه ده شوې، په زبردستئ سره وتختوی، او هغې سره يوه هفته زنا وکړې شی، که د ستر گو ليدلې گواهان نه وی خو د جینئ د بیان مطابق زنا شوې ده، د جینئ د ترۀ په درخواست باندې د شریعیت د حد نمبر ۱۱ د لاندې د اغوا کونکی ضمانت په حیثیت د زانی مسترد شو، او هغه حوالات ته ولیږلې شو. او اوس د هغه قوم يو خای کیدو سره راضی نامه کوی نو آيا دا راضی نامه کیدې شی یا نه؟ ځکه چې زانی د الله مجرم دې، که راضی نامه جائز وی نو د اغوا کونکی، مغویه او د راضی نامه کونکی افراد کوم چې د خپلې مرضئ مطابق راضی نامه وکړی د هغه څه حکم دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: خلیل الرحمن ... ۲۶ جون ۱۴۰۱هـ

الجواب: په صورت مسئوله کې شهادت شرعی او اعتراف د مفقود کیدو د وجې نه حد شرعی نه شی جاری کیدلې. (۲) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة على بن سلطان القارى : قال الخطابى رخص للمسلم ان يغضب على اخيه ثلاث ليال لقلته ولا يجوز فوقها الا اذا كان الهجران فى حق من حقوق الله تعالىٰ فيجوز فوق ذلك... واجمع العلماء على ان من خاف من مكالمة احد وصلته ما يفسد عليه دينه او يدخل مضرة فى دنياه يجوز له مجانبته وبعده... فان هجرة اهل الاهواء والبدع واجبة على مر الاوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع الى الحق.
(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲ باب ماينهى عنه من التهاجر والتقاطع الخ)

(۲) قال العلامة المودود الموصلى : ويثبت بالبينة والاقرار [بقيه حاشيه بر صفحه آئنده

البته تعزیرجاری کیدې شی (١) چې دا دحکومت په اختیار کې دې اوچونکې په دې معامله کې د جینۍ او دهغې د خاندان ښه په ښکاره بې عزتی هم شوې ده لهذا په دې کې راضی نامه کول شرعی ممنوع نه دی (٢). وهوالموفق

په چا باندې د بهتان لګونکی حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې چه یو سړې د زنانو بې بنیاد او شری خبرې اوریدلو سره د نیك شریف او بې ګناه سړی خلاف بهتان جوړوی چې هغه سړې بدنام شی نو د دې بهتان لګونکی څه حکم دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نذیر احمد.....مئ ٢١... ١٩٧٣ء

الجواب: په شرط د صدق دا سړې د دروغو ویلو او بهتان لګولو د وجې نه فاسق دې او مردود الشهادة دې (٣) لحدیث مسلم: **واذاقلت مالیس فیه فقد بهته** (٤) په دې باندې توبه کول او د هغه شریف انسان نه معافی غوښتل

...بقیه ازحاشیه گذشته] لانهما حجج الشرع وبهما تثبت الاحکام۔
(الاختیار لتعلیل المختار ٤:٩٤ کتاب الحدود)

١) قال العلامة الحصکفی: وعزر کل مرتکب منکر او مؤذی مسلم بغیر حق بقول او فعل... وکل مرتکب معصیة لاحد فیها، فیها التعزیر۔ (الدرالمختار ٣:١٩٩ باب التعزیر)

٢) وفی الهندیة: لان الصلح عن حقوق الله تعالی باطل ویجب علیه رد ما اخذ ویجوز الصلح عن التعزیر۔ (فتاوی هندیة ٢:٢٣٠ کتاب الصلح الباب الاول)
وفی البدائع: ویجوز الصلح عن التعزیر لانه حق العبد۔ (بدائع الصنائع ٥:٦٠ کتاب الصلح، فصل واما الذی یرجع الی المصالح)

٣) قال العلامة السغدی: واما التی ترد لاجل التهمة فهی علی ستة عشر وجهاً... والثانی معلن الفسق والفجور۔ (النتف فی الفتاوی ٤٩٠ کتاب الشهادة: ردالشهادة بالتهمة)

٤) (مشکوٰة المصابیح ٤١٢ باب حفظ اللسان والغیبة) ...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

ضروري دی (١)

نوټ : چونکې په پاکستان کې شرعي حدود نافذ نه دي په دې وجه حد قذف په هغه باندې نافذ کول گران کار دې. **وهوالموفق**

د زنا نه پس د زاني خاندان د وطن نه شړل، په خلاف ورزئ باندې مالي جرمانه او خپل مینځ کې د نکاح شرط لګول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يوه رنده ښځه په زنا سره حامله شوه هغې يو هلك وزيرولو بيا د هغوی خپل مينځ کې نکاح په دې لاندې شرطونو باندې منعقد کړې شوه،

واضحه دې وی چې د جينئ د خاندان دوه سوه کورونه دی او د جينئ خاندان په درې کورونو باندې مشتمله دې

... بقيه ازحاشيه گذشته] وفی المرقاة : (وفی رواية اذا قلت لاخيک مافيه فقد اغتبته واذا قلت ماليس فيه فقد بهته) المتبادر منه انها رواية لمسلم وليس كذلک بلک رواية للبغوی فی شرح السنة علی ما بينه السيد، قال ميرک هذه الرواية ليست فی واحد من الصحيحن وانما رواه صاحب المصابيح فی شرح السنة باسناده عن ابی هريرة رضی الله تعالیٰ عنه۔

(مرقاة المفاتيح ٩:١٤٣ باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)

١) قال العلامة وهبة الزحيلي : اشترط العلماء لصحة التوبة شروط معينة... احدها، الاقلاع عن المعصية فی الحال ثانيها، الندم علی المعصية والمخالفة، ثالثها: العزم علی الايعود الی مثل تلک المعصية ابداً فی المستقبل...وان كانت المعصية تتعلق بحق شخصی لانسان فشرطها اربعة وهی الثلاثة السابقة... وان كان الفعل قذفا ونحوه مكن المقذوف منه او طلب عفوه۔

(الفقه الاسلامی وادلته ٧:٥٥٤١ كتاب الحدود، نظام التوبة واثره فی العقوبات)

۱: دا واقعه عدالت ته رسول د کلي په خلقو باندې لازم دی یا نکاح لره منعقد کولو سره د معافئ جواز پیدا کول صحیح دی؟

۲: هلك مجبور کړې شو او په هغه باندې دا جرم ومنل شو او اقرار پرې وکړې شو او اقرار حد ته ورسیدلو.

۳: دیرش زره روپئ مهر کیښودل شو، د دې حیثیت هم بیان کړئ؟

۴: په بل وادهٔ باندې ئې پابندی ولګول شوه چې هلك به دویم وادهٔ نه کوی.

۵: د هلك د ورونو خویندو او د مور او پلار د ټولو جائیدادی حقوق به د زانی هلك او زانیه په ملکیت کې وی.

۶: د هلك خاندان بې ګناه کسان د دوه کالو دپاره جلا وطن کړې شو، صرف یوه جینئ د جائیداد د حفاظت دپاره پاتې کیدې شی خو هغه هم د مور او پلار کور ته نه شی تلې، که خلاف ورزی ئې وکړه نو د خاندان هر یو کس به پنځه پنځه سوه روپئ جرمانه وی، د دې حل بیان کړئ چې مونږ خپله محاسبه وکړو او معامله صحیح کړو؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد رفیق کوټلی تحصیل مری

الجواب: علی ترتیب السوالات: ۱: عدالت ته رسول ئې نه ضروری دی او نه افضل (۱) خو صورت ثانیه لره په عمل کې راوستل ډیر مناسب دی.

۲: د دې اقرار نه رجوع صحیح ده. (۲)

---

۱) قال العلامة المودود الموصلی: ان الشهود اذا عاینوا الفاحشة فهم بالخیار ان شاؤوا شهدوا به حسبة لاقامة الحد وان شاؤوا ستروا علی المسلم حسبة ایضاً.
(الاختیار لتعلیل المختار ۴:۹۶ کتاب الحدود)

۲) قال العلامة ابن نجیم: قوله فان رجع عن اقراره قبل الحد اوفی وسطه خلی سبیله لان الرجوع خبر محتمل للصدق کالاقرار ولیس احد یکذبه فیه فتحقق الشبهة بالاقرار... قال فی الخانیة رجل اقر ... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

۳: د طرفین په مرضئ سره جائز ده. (۱)

۴: د شریعت د آزادئ ورکولو باوجود پابندی لګول بې فائدې کار دې (۲)

۵: دا تعزیر بالمال دې چې حرام دې او ناقابل تنفیذ دې. (۳)

۶: دا د یهودیت او جاهلیت باطل رسم دې. (۴) مختصره دا چې د دوارو نکاح او نور تعزیرات ختمول پکار دی.

... بقیه ازحاشیه گذشته] عند القاضی بالزنا اربع مرات فامر القاضی برجمة فقال والله ما اقررت بشیئ یدرأ عنه الحد.

(البحر الرائق ۷:۵ کتاب الحدود)

۱) وفی الاختیار لتعلیل المختار: والواجب الاصلی مهر المثل لانه اعدل فیصار الیه عند عدم التسمیة بخلاف حالة التسمیة لانهم رضوا به فان کان اقل من مهر المثل فقد رضیت بالنقصان وان کان اکثر فقد رضی بالزیادة، قال علیه الصلوٰةوالسلام المهر ما تراضی علیه الاهلون.

(الاختیار لتعلیل المختار ۳:۱۲۸ کتاب النکاح، فصل فی احکام المهر)

۲) قال الله تبارک وتعالیٰ: فانکحوا ما طاب لکم من النساء مثنیٰ وثلٰث وربٰع فان خفتم الا تعدلوا فواحدة. (سورة النساء آیت: ۳)

۳) قال العلامة الحصکفی: لاباخذ مال فی المذهب... وفی المجتبیٰ انه کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ.

(الدرالمختار ۳:۱۹۵ کتاب التعزیر، مطلب فی التعزیر باخذ المال)

٤) قال العلامة السهارنفوری: باب لا یؤخذ بجریمة ای بجنایة ابیه واخیه وکان فی الجاهلیة ان الرجل اذا جنیٰ جنایة یأخذون بهما اباه او اخاه او من کان من قبیلته فابطله الشرع... قال رسول الله ﷺ اما ان لا یجنی علیک ولا تجنی علیه ای لا یؤخذ بجنایتک ولا تؤخذ بجنایته وقرأ رسول الله ﷺ ولا تزر وازرة اخری.

(بذل المجهود فی حل ابی داؤد ۵:۱۶۱ کتاب الدیات، باب لایؤخذ الرجل بجریمة ابیه واخیه)

د مسلمانې ښځې سره د کافر نکاح او د نه جدا کیدو په صورت کې د قتل مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یوې مسلمانې زنانه د کافر سره نکاح وکړه، اوس دواړه نه جدا کیږی نو آیا د هغوی قتلول جائز دی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: نامعلوم....... محرم الحرام ۲۹ ..... ۱۴۰۱ھ

الجواب: که دا مسلمه او کافر دواړه مطاوعین وی او هغوی دا اقدام په رضا او رغبت سره کړې وی نو که د هغوی د جدایئ بغیر د قتل نه بل څه ذریعه نه وی نو په هغوی کې د اصرار کونکی قتل جائز دې. (**ماخوذازهندیه ۵: ۳۴۷**)

وهوالموفق

د نوی مسلمان شوی سړی د پخوانئ مسلمانې سره د اولیاء د اجازت نه بغیر نکاح او د نه جدا کیدو په صورت کې د تعزیر مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو نوی مسلمان د پخوانئ مسلمانې سره د اولیاء د اجازت نه بغیر نکاح وکړه، اولیاء په دې باندې راضی نه دی، که اولیاء په هغوی کې یو تن لره قتل کړی نو آیا دا به جائز وی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: نامعلوم... محرم الحرام ۲۹ .... ۱۴۰۱ھ

الجواب: د نوی مسلمان سره د زړې مسلمانې نکاح بغیر د اولیاء د اجازت نه کالعدم وی، پس که د مسلمانې د واپسئ او آزادئ بل څه حل نه وی نو د قتل اقدام جائز دې. (**ماخوذازهندیة باب الکفاءت**) (۱)

---

۱) وفی الهندیة: وروی الحسن عن ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ ان النکاح لا ینعقد وبه اخذ کثیر من مشایخنا رحمهم الله تعالیٰ کذا فی المحیط والمختار فی زماننا للفتویٰ روایة الحسن۔

(فتاویٰ هندیة ۱:۲۹۲ کتاب النکاح، الباب الخامس فی الاکفاء)

وباب التعزیر (۱) وهوالموفق

په دار الاسلام کې د کافر په شاهدی ثابت شوې لوطی ته به تعزیر ورکولې شی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په عدالت کې د ګواهانو سره مدعی په یو سړی دعوه وکړه چې هغه ما سره لواطت کړې دې حال داچې ګواهان او مدعی دواړه کرسچن (نصاری) دی، او مدعی علیه منکر دې، او دا واقعه په سعودی عدالت کې وړاندې کړې شوه، نو د احنافو په نزد که مدعی علیه لوطی ثابت شی نو دهغه دپاره به حد شرعی څه وی؟ بینواتوجروا

المستفتی: حافظ محمد ایوب..... اکتوبر ۲ ..... ۱۹۸۹ء

الجواب: په صورة مسئوله کې که دا مدعلی علیه (ملزم) مسلم وی یا غیر مسلم، په هغه باندې به حد شرعی نه شی جاری کولې، بلکه تعزیر به ورکولې شی، ځکه چې اول به دا ګورو چې سعودی عرب دار الاسلام دې یا دار المسلمین دې او که دار الامان دې. امام ابوحنیفه او صاحبین ﷺ چې د یو وطن د دار الاسلام یا دار الحرب کیدو دپاره چې کوم شرطونه مقرر کړې دی هغه په دې وطن کې د څه حده پورې موجود دی. (۲) ورجحوا التسمیة بالاول، او

---

۱) وفی الهندیة: سئل الهندوانی رحمه الله تعالیٰ عن رجل وجد مع امرأته رجل ایحل له قتله قال ان کان یعلم انه ینزجر عن الزنا بالصیاح والضرب بما دون السلاح لا یحل وان علم انه لا ینزجر الا بالقتل حل له القتل وان طاوعته المرأة حل له قتلها ایضا.
(فتاویٰ هندیة ۲:۱٦۷ فصل فی التعزیر)

۲) قال العلامة الحصکفی: لا تصیر دارالاسلام دارحرب الا بامور ثلاثة باجراء احکام اهل الشرک وباتصالها بدارالحرب وبان لایبقی فیها مسلم او ذمی آمنا بالامان الاول علی نفسه ودارالحرب تصیر دارالاسلام باجراء احکام اهل الاسلام فیها کجمعة وعید وان بقی فیها کافر اصلی وان لم تتصل بدارالاسلام. (الدرالمختار ۳:۲۷۷ باب المستأمن، مطلب فیما تصیر به دارالاسلام دارحرب او بالعکس)

ثانیا که لواطت په زنا کې داخل کړې شي (کما هومذهب ابي يوسف ومحمد) (۱) نو کم از کم د څلورو مسلمانانو گواهانو ضرورت دی (۲) او هم دغه شان د کافر په مسلمان باندې شهادت هم مردود دی (۳) پس په صورة مسئوله کې صرف تعزیر واجب النفاذ دی. وهوالموفق

د خپلې ښځې سره يو محرم لره په زنا کولو باندې ليدلو سره قتلول

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی د خپلې ښځې سره په خپلو محارمو کې يو کس په زنا کولو باندې وليدو نو آيا دا سړې دواړه قتلولې شي؟ بينواتوجروا

المستفتي: حاجي صالح محمد ... رجب ۱۵ ... ۱۳۹۵هـ

الجواب: (جازقتلهما ان کانامطاوعين وهذافي الديانة دون القضاء کمافي شرح التنوير) (۴) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الشامي: (قوله او بوطء دبر حد) فهو عندهما کالزنا في الحکم فيجلد جلدا ان لم يکن احصن ورجما ان احصن.
(ردالمحتار ۳:۱۷۰ کتاب الحدود، مطلب في وطء الدبر)

۲) قال العلامة الشامي: يکفي في الشهادة عليها (اى على اللواطة) عدلان لا اربعة خلافا لهما. (ردالمحتار ۳:۱۷۲ کتاب الحدود، مطلب لا تکون اللواطة في الجنة)

۳) وفي الهندية: لا تقبل شهادة الکافر على المسلم کذا في محيط السرخسي.
(فتاوىٰ هندية ۳:۵۱۷ کتاب الشهادة، الباب العاشر في شهادة اهل الکفر)

۴) قال العلامة الحصکفي: لوکان مع امرأته وهو يزني او مع محرمه وهما مطاوعان قتلهما جميعا... وانما يمتنع خوفا من ان لا يصدق انه زنى- وقال العلامة ابن عابدين الشامي: وحاصله انه يحل ديانة لاقضاء فلا يصدقه القاضي الا ببينة.
(الدرالمختار مع ردالمحتار ۳:۱۹۷ باب التعزير مطلب يکون التعزير بالقتل)

ښځې لره د زنا په وخت قتلول شرعاً جرم نه دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی په خپله ښځه باندې دا یقین وی چې هغه بدکاره ده او هغه خپله ښځه قتل کړه نو آیا هغه به عند الله مجرم وی؟ بینوا توجروا

الجواب: که دې سړی خپله ښځه د زنا کولو په وخت قتل کړې وی نو مجرم به نه وی. کنه نو مجرم به وی. یدل علیه ما فی الهندیة ۲: ۱۸۷ وان طاوعته المرأة حل له قتلهما ایضاً وفیها ایضاً، قالوا لکل مسلم اقامة التعزیر حال مباشرة المعصیة واما بعد المباشرة فلیس ذلک لغیر الحاکم فقط (۱)۔ وهوالموفق

د زنا په دوران کې او پس د زنا نه د قتلولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په زور او زیاتی سره د ښځې سره بدکاری وکړه د دې قصې خلقو ته معلومات هم وشو خو ښځې خپل خاوند خبر کړو او ویې ویل چې زانی قتل کړه چې زما سترګې په هغه باندې نه لګی او که صرف د هغه قتل درته ګران وی نو ورسره ما هم قتل کړه چې د بې حیا ژوند خاتمه ئې وشی، آیا شرعاً به دا قتل جائز وی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: واچ میکر مردان..... محرم ۶ ... ۱۴۰۳ھ

الجواب: د دې زانی د زنا دوران کې قتلول جائز وو، خو د جرم د پوره کیدو نه پس د هغه د سزا او عدم سزا تعلق د حکومت سره دې. (هندیة)(۲) وهوالموفق

---

۱) (فتاوی عالمگیریة ۱۶۷: ۲ فصل فی التعزیر)

۲) وفی الهندیة: قالوا لکل مسلم اقامة التعزیر حال مباشرة المعصیة واما بعد المباشرة فلیس ذلک لغیر الحاکم... سئل الهندوانی رحمه الله تعالیٰ عن رجل وجد مع امرأته رجل ایحل له قتله قال ان کان یعلم انه ینزجر عن الزنا بالصیاح... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

د پردی د خلوت د وجې نه د قومی غیرت په وجه باندې قتلول

سوال: چے میفرماید علماء کرام دریں مسئله که در علاقه وزیرستان دریک مسئله مجادله واقع است که یک مرد ویک زن مشوره کردن بود که هر دو باهم نکاح کنیم ونکاح درعلاقه افغانستان می کنیم بوقت شب روانه شدند در راه ذوی الارحام زن نشست بودند، هر دو راکشته کردند، نکاح راهنوز بسته نه بود، ماالحکم وماالجواب؟

(۲) اگر بطور نکاح کردن روانه باشند ودریں شب دخول ووطی کرده باشند دریں شب کشته کردند ما الحکم فیه؟ بینواتوجروا

المستفتی: کمال رزمک وزیرستان ... ۲۳/شعبان ۱۴۰۳ھ

الجواب: چونکه ایں قتل در وقت جریمه زنا نه شده ست بلکه از وجه غیرت قومی صادر شده است لهٰذا قتل ایشان قتل ناحق است(۱) وموت ایشان مثل موت حامله از زنا از وجه، ؤلادت ست زیرانچه محض خلوت موجب تعزیر قتل نیست(۲)۔ وهوالموفق

... بقیه ازحاشیه گذشته] والضرب بما دون السلاح لا یحل انه ینزجر الا بالقتل حل له القتل وان طاوعته المرأة حل له قتلها ایضا کذا فی النهایة۔
(فتاویٰ هندیة ۲:۱۶۷ فصل فی التعزیر)

۱) قال العلامة ابن نجیم: لکل مسلم اقامته حال مباشرة المعصیة واما بعد الفراغ منها فلیس ذلک لغیر الحاکم. (البحر الرائق ۵:۴۲ باب التعزیر)

۲) قال العلامة ابن عابدین: ولو رأی رجلا مع امرأته فی مفازة خالیة او رأه مع محارمه هکذا ولم یر منه الزنا ودواعیه قال بعض المشائخ حل قتلهما وقال بعضهم لا یحل حتی یری منه العمل ای الزنا ودواعیه۔
(ردالمحتار ۳:۱۹۷ مطلب یکون التعزیر بالقتل)

بد کاره زنانه عین د جرم په وخت کې قتلول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که یوه زنا کاره ښځه په ټوپک وغیره قتل کړې شی نو قاتل به مجرم وی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: گل بادشاه ختك مقام سنجهورو ... اکست ۱۵ ... ۷۲ء

الجواب: عین د جرم په وخت په قتلولو سره د آخرت د مواخذې خطره نشته. خو په دنیا کې د قصاص نه بچ کیدل گران دی. (۱) **وهوالموفق**

په زانی باندې حد قائمول د حکومت کار دې د علماء یا عوامو نه

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د خپلې خینې سره زنا وکړه، او دهغې نه یو ماشوم پیدا شو، کیس عدالت ته راوړل شو، نو هغه سړی د جرم اعتراف وکړو په دې باندې هغه ته یو کال او د یوه میاشتې دپاره جیل ته ولیږل شو. بیا په ضمانت باندې راخلاص شو چې د هغې خلاف په شریعت کې تر اوسه پورې هیڅ کارروائی نه ده شوې، لهذا د دې سړی خلاف د قرآن او سنت په رڼا کې حکم وکړئ چې شرعا څه حکم لرې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حبیب الرحمٰن راولپنډی .... فروری ۱۷ ... ۱۹۹۱ء

---

۱) قال العلامة الحصكفی : وفی المجتبیٰ: الاصل ان كل شخص رأی مسلماً یزنی یحل له ان یقتله (الدرالمختار)- وقال العلامة ابن عابدین : وحاصله انه یحل دیانة لا قضاءً فلا یصدقه القاضی الا ببینة-
(ردالمحتار مع الدرالمختار ۳:۱۹۷ باب التعزیر)

وفی البزازیة : وعلی هذ الورأی مسلما یزنی یحل له قتله ونما یمتنع لانه لا یصدق فی ذلک لانه زنا-
(فتاویٰ بزازیة علی هامش الهندیة ۶:۴۳۰ قبیل كتاب السرقة)

الجواب: هر کله چې په پاکستان کې اسلامی نظام نشته نه د قوم اکثریت دا نظام غواړی او نه د اقتدار خاوندان نو علماء څه کولې شی، د حدود جاری کول د حکامو منصب دې. (۱) وهوالموفق

خوځزې سره په زنا کونکی باندې به حکومت باقاعده حد جاری کوی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو بالغ او هوش والاسړې د خپلې سکه خوځزې سره زنا وکړې چې د هغې واضح ګواهان دی او جینئ هم په دې باندې قسم کولو ته تیاره ده د داسې انسان شرعی سزا څه ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد خالد تحصیل میر پور ضلع ایبټ آباد.... جون ۶ ..... ۱۹۸۹ء

الجواب: ومنه الصدق والصواب: په داسې سړی باندې به حکومت باقاعده حد جاری کوی (۲) حد جاری کول د حکومت فرض منصبی دې نه د علماء کرامو او عوامو. (۳) وهوالموفق

---

۱) وفی المرقاة: ویدل علیه اتفاق اصحابنا فی کتبهم نقلا عن الصحابة ومرفوعا ان ولایة الحد الی الولاة- (مرقاة المفاتیح ۷:۱۴۵ کتاب الحدود)

وقال العلامة ابن عابدین: بخلاف الحدود فانه لم یثبت تولیتها الا للولاة- (ردالمحتار ۳:۱۹۸ کتاب التعزیر مطلب یکون التعزیر بالقتل)

۲) قال العلامة ابن عابدین: والزنا الموجب للحد هو وطء الرجل المرأة فی القبل فی غیر الملک وشبهته-

(ردالمحتار ۳:۱۵۴ کتاب الحدود)

۳) قال العلامة وهبة الزحیلی: لا یقیم الحدود الا الامام او من فوض الیه الامام باتفاق الفقهاء لانه لم یقم حد علی عهد رسول الله ﷺ بلا اذنه ولا فی ایام الخلفاء الا باذنهم ولان الحد حق الله تعالیٰ یفتقر الی الاجتهاد ولا یؤمن فیه الحیف فلم یجر بغیر اذن الامام- (الفقه الاسلامی وادلته ۷:۵۳۸۵ الفصل الاول حدالزنا، المبحث الخامس اقامة الحد علی الزانی)

محصن زاني، په خوی باندې حد جاري کول د حاکم منصب دې د پلار نه!

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زما يو خوی وادۀ کړې دې، هغه زنا کړې ده په قانوني کارروايئ سره خو هيڅ نه شي کيدې، زه د شريعت په رڼا کې هغه قتلولې شم؟ **بينواتوجروا**

المستفتی: عارف چنګل ضلع هزاره

الجواب: واضحه دې وی چې په زاني باندې رجم يا دورې (حد) جاري کول د مسلمان حاکم کار او منصب دې. (١) د پلار وغيره دا منصب نه دې، خو داسې وادۀ کړې زاني د زنا په حالت کې قتلول قانوني جرم دې، اسلامي جرم نه دې (٢) دې قاتل ته به قانون د مرګ سزا ورکوی او اسلام به ئې برى کوی وهوالموفق

ښځې لره په لواطت باندې د مجبوره کونکی حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د يوې ښځې بيان دې چې زما خاوند ما د وطی فی الدبر دپاره مجبوروی د بار بار منع کولو باوجود هغه نه منع کيږی او هغه د دې لوئې ګناه ارتکاب کوی، شرع د دې سړی څه حکم دې، بله دا چې د دې ښځې مور او پلار هغې لره کور ته بوتلو حقدار دی يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتی· الف،با،تا....مندری

---

١) قال الملا علی القاری: عن ابن عباس وابن الزبير موقوفاً ومرفوعاً اربع الی الولاة الحدود الخ- (مرقاة المفاتيح ١٣٨:٧ كتاب الحدود)

٢) قال العلامة الحصكفی: وفی المجتبی ان كل شخص رأی مسلماً يزنی يحل له ان يقتله (الدر المختار)-وقال العلامة ابن عابدين: وحاصله انه يحل ديانة لاقضاء- (الدرالمختار مع ردالمحتار ١٩٧:٣ كتاب التعزير مطلب يكون التعزير بالقتل)

الجواب: د دې ښځې او د هغې د اولياء دپاره ضروري ده چې دا خاوند ورله د دې قبيح فعل باندې قدرت ورنکړي او د دې نه ئې منع کړي، د نه منع کيدو او عادي کيدو په صورت کې حاکم هغه لره قتلولې هم شي، عوامو له پکار دي چې دې سړي سره مړې ژوندې پريږدي. فی الدرالمختار: او بوطأ دبر وقال ان فعل فی الاجانب حدوان فی عبده اوامته اوزوجته فلا حد اجماعاً بل يعزروقال فی الدرر بنحوالاحراق بالنار۳: ۱۵۵(۱)۔ وهوالموفق

په دوام او تسلسل سره د زاني حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړې او ښځه مسلسل په زنا کې اخته دي او د دې قبيح عمل په باره کې د هغوی په زړه کې پرواه هم نشته، اوس د زاني حکم خو معلوم دې خو چې کله په دوام او تسلسل سره دا کار کوي د هغوی څۀ حکم دې؟ بينواتوجروا

المستفتي: مولانا جلال الدين مجاهد

الجواب: دا مسائل د قضاء سره تعلق ساتي (۲) د فتوې سره د دې تعلق نشته، خو د فتوی په رڼا کې ګنجائش شته چې ټولو د فتوې خاوندانو ليکلي دي چې د ګناه دوران کې عوام هم تعزير جاري کولې شي، پس که د زنا دوران هغوی قتل کړې شي نو د شريعت خلاف به نه وي. (۳) وهوالموفق

---

۱) (الدر المختار على هامش ردالمحتار ۳: ۱۷۰ مطلب فی وطء الدبر)

۲) قال العلامة الحصكفي: وفی المجتبى: الاصل ان كل شخص رأى مسلما يزنی يحل له ان يقتله (درمختار) وقال ابن عابدين: وحاصله انه يحل ديانة لا قضاءً. (الدرالمختار ۳: ۱۹۷ باب التعزير)

۳) وفی الهندية: قالوا لكل مسلم اقامة التعزير حال مباشرة المعصية واما بعد المباشرة فليس ذلک لغير الحاكم. (فتاوی هندية ۲: ۱۶۷ فصل فی التعزير)

بدکار پلار لره د قتلولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د قریشي خاندان یو سړې کوم چې وادهٔ کړې دې او د څلور ځامنو او یوې لور پلار دې، او عمر ئې هم د شپیتهٔ کالو نه اوښتې دې، د دې باوجود د اتلسو کالو هلك سره زنا کوی د دې واقعې د هغه ښځې او ځامنو ته هم علم دې او د کلی خلقو ته هم، هلکانو پلار پوهه کړو چې د دې نه منع شه خو هغه نه منع کیږی، دا سړې مونځ او قرآن نه لولی د هغه ځامنو د هغه د قتل اراده کړې ده، اوس تپوس دا کول دی چې آیا دا هلکان پلار قتلولې شی یا نه؟ او حال دا چې پولیس والائې بیا پریږدی؟

المستفتی: مولوی دوست محمد مدرسه قاضی حسام الدین کوهاټ ښهرا اکتوبر ۱۷ /۳/ ۱۹۸۴ء

الجواب: حکومت دوارو ته د مرګ سزا ورکولې شی. (۱) خو نورو خلقو ته به د دنیوی مواخذاتو او تعزیراتو خطرات پیښیږی کوم چې د رخصت سبب دې. (۲) وهوالموفق

بدکاره ښځه د بدکارئ دوران کې قتلول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی ښځه بدکاره ده هغه ډیر خله ښځه د دې بدکارئ نه منع کړه خو هغه منع نه شوه، شراب خانو ته تلل او د پردو خلقو سره ګرځیدل او زنا کول وغیره، خاوند په یوه موقع باندې په شراب خانه کې یو ځای ناسته او بوسې اخستلو وغیره

---

۱) قال العلامة الحصكفي: ولو اعتاد اللواطة قتله الامام سياسة۔
(الدرالمختار ۳:۱۷۱ كتاب الحدود مطلب فى وطء الدبر)

۲) قال العلامة الحصكفي: الاصل ان كل شخص رأى مسلما يزني يحل له ان يقتله وانما يمتنع خوفا من ان لا يصدق انه زنى- قال العلامة الشامي: وحاصله انه يحل ديانة لا قضاء فلا يصدقه القاضى الا ببينة- (الدرالمختار مع ردالمحتار ۳:۱۹۷ باب التعزير)

باندې ولیده، او په غیرت کې راتلو سره ئې هغه په چاقو باندې وهلو سره قتل کړه، آیا داسې ښځه تعزیری طور قتلول صحیح دی. او حال دا چې هغه د طلاق نه پس هم کور نه پرېږدی او خاوند داسې بدحالی کله هم نه شی برداشت کولې، مجبور کیدو سره ئې د ایمانی غیرت د وجې نه هغه قتل کړو، شرعا د دې خاوند څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: نامعلوم

الجواب: د خاوند دپاره د داسې ښځې قتلول جائز دی خو چې په موقع باندې په رضا او شوق سره د بې حیایئ په حالت کې ونیولې شی كما في الهندية فان رآه مع امرأته ومع محرم له وهي تطاوعه على ذلك قتل الرجل والمرأة جميعا ٥:٣٤٧ الباب الثاني في العمل بغالب الرأي(١)۔ وهوالموفق

هغه زنانه چې په زنا مجبوره کړې شی د هغې د حد او د ولد الزنا د قتل د وجې نه د دیت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د زید ښځې دا دعوی کړې ده چې ما سره یو سړی جبرا بدکاری کړې ده چې د هغې د وجې نه یوه ماشومه پیدا شوې ده، او د عیب د پټولو د خاطره د زید ښځې ماشومه تقریبا یو ساعت د ژوندئ ساتلو نه پس د هغې په مرئ زور کړو او قتل ئې کړه، اوس د دې زید په ښځه باندې څه سزا ده ایا د حلالی او حرامی په قتل کې سزا واجب ده او که فرق شته، او د زانی جابر څه سزا ده او د زید په ښځه باندې به حد راځی او که نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: خلیل الرحمن..... جون ٥... ١٩٧٥ء

الجواب: واضحه دې وی چې په دې مجبوره کړې شوې زانیه باندې به د

١) (فتاوی عالمگیریة ٥:٣١٤ كتاب الكراهية ، الباب الثاني في العمل بغالب الرأي)

عذر د وجې نه هیڅ حد نه وی (ردالمحتار) (۱) او د ماشومې د قتل بالخنق د وجې نه دیت واجب شو. (۲) د دې ماشومې وارثان مختار دی که اخلی او که نه اخلی. (۳) وهوالموفق

نابالغه سره د زنا بالجبر په صورت کې د حد مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو بالغ عاقل پوخ ځوان د یوې نابالغې جینۍ سره په زبردستۍ زنا وکړه نو چې جرم ثابت شی نو په دواړو باندې به شرعا حد جاری کیږی او که صرف په هلك باندې؟ بینواتوجروا

المستفتی: عمر علی پیښور.... مارچ ۱۷ ... ۱۹۷۹ء

---

۱) قال العلامة الحصکفی: ولو اکره علی الزنا لا یرخص له وفی جانب المرأة یرخص لها الزنا بالاکراه الملجیٔ لا بغیره لکنه یسقط الحد فی زناها لا زناه.
(الدرالمختار ۹۵،۹۴:۵ کتاب الاکراه)

۲) قال العلامة ابن عابدین: من تکرر الخنق منه فی المصر قتل به... ثم هذا غیر خاص بالخنق لما قدمه فی شبه العمد انه لا قود فیه الا ان یتکرر منه فللامام قتله سیاسة. (ردالمحتار ۳۸٦:۵ فصل فیما یوجب القود مالایوجبه)

وقال العلامة الحصکفی: والثانی شبهه وهو ان یقصد ضربه بغیر ماذکر ای بما لا یفرق الاجزاء ولو بحجر وخشب کبیرین عنده خلافا لغیره وموجبه الاثم والکفارة ودیة مغلظة علی العاقلة لا القود الا ان یتکرر منه فللامام قتله سیاسة.
(الدرالمختار ۳۷٦:۵ کتاب الجنایات)

۳) قال العلامة القرطبی: قوله تعالیٰ (الا ان یصدقوا) یعنی الا ان یبریٔ الاولیاء ورثة المقتول (القاتلین) مما اوجب الله لهم من الدیة علیهم... تسقط الدیة التی هی حق لهم.
(تفسیر القرطبی ۳۰۷:۵ آیت ۹۲ سورة النساء)

الجواب: د ثبوت شرعی نه پس به قاضی په دې هلك باندې حد جاری کوی او په جینۍ باندې به د عدم بلوغ د وجې نه حد نه وی. (١) فی الدرالمختار ۳: ۱۵۶ اولا حد بزنی غیر مکلف بمکلفة مطلقاً لا علیه ولا علیها وفی عکسه حد.(٢) وهوالموفق

د حقیقی لور سره د زنا کولو سزا

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو ظالم او بدکار قبیح انسان نه خپله لور حامله شوه، د وضع حمل نه پس بغیر د جبر او اکراه نه هغه جینۍ دا بچې خپل حقیقی او سکه پلار ته منسوب کړو، وروستو پلار هم زنا تسلیم کړه، اوس په شریعت کې د دې ظالم دپاره څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: اکبر اعظم مری.... مارچ ۲۷ ... ۱۹۷۶

الجواب: زنا قطعا حرامه ده او د لور او نورو محرماتو سره خو بیا نور هم سخت ظلم دې، عوام او کلیوال خلق دې د دې ظالم سره معاشرتی مقاطعه وکړی اود محرماتو نه دې جدا کړی، اسلامی حکومت دې په هغه باندې حد جاری کړی. فالی الله المشتکیٰ (٣) وهوالموفق

---

١) قال العلامة الزیلعی: لا یجب الحد اذا زنی الصبی اوالمجنون بامرأة مکلفة وهی البالغة العاقلة بخلاف العکس وهو ما اذا زنی البالغ العاقل بصبیة او مجنونة حیث یجب الحد علی الرجل.
(تبیین الحقائق شرح کنز ۳: ۱۸۳ باب الوطء الذی یوجب الحد الخ).

٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۱۵۶،۱۵۷ الباب الوطء الذی یوجب الحد.

٣) قال العلامة الحصکفی: ویقیمه کل مسلم حال مباشرة المعصیة واما بعده فلیس ذلک لغیر الحاکم.
(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ۳: ۱۹۸ بعید مطلب یکون التعزیر بالقتل)

د مړې ښځې سره زنا کول موجب تعزیر دي

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړی د مړې ښځې سره زنا وکړي نو په شریعت کې د هغه دپاره څه سزا ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: عبدالقدیر باره کهو اسلام آباد

الجواب: دې فاسق ته به تعزیر ورکولې شي، او د زنا حد به په هغه باندې نه جاري کیږي، وفي خلاصة الفتاوی ۴:۴۴۵ (فصل في الزنا) وفي الفتاوی رجل زنی بامرأة میتة لا حد علیه ولکن یعزر(۱) وکذا في الهندیة ۲:۱۵۰ یعزر ولا یحد(۲)۔ وهوالموفق

۱) (خلاصة الفتاوی ۴:۴۴۵ الفصل الثاني في الزنا کتاب الحدود)

۲) وفي الهندیة: رجل زنی بامرأة میتة اختلفوا فیه قال اهل المدینة حد وقال اهل البصرة یعزر ولا یحد وقال ابواللیث وبه نأخذ۔

(فتاوی عالمگیریة ۲:۱۵۰ الباب الرابع في الوطء الذي یوجب الحد)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

فتاویٰ دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاویٰ فریدیہ

(ششم جلد)

باب السرقة

....

باب حد السرقة

د زکاة او صدقې په صورت کې مسروقه مال مالک ته د واپس کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې چا سره په دکان کې یو مزدور وو، د مزدورۍ وخت کې هغه د دکان نه په پټه څه خوړلې وو، اوس هغه سړی د مالك نه دکان واخستلو، او دې غواړی چې په څه طریقه هغه ته مال ورسوم او هغه ته معلومه هم نه شی که هغه ته د زکاة او صدقې په نوم باندې صدقه ورکړی نو آیا په دې طریقې سره به هغه ته صدقه ورسیږی یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالودود دار العلوم حقانیه ... ذی الحجة ۱۱ ... ۱۳۹۷هـ

الجواب: که دا سړې د خیرات وغیره ورکولو په وخت د حق ادا کولو نیت وکړی نو د هغه ذمه به فارغه شی (۱) لان المعتبر فیه نیة الدافع کما صرح به فی التکملة ۱: ۳۵۹ (۲) وهو الموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین: لو مات الرجل وکسبه من بیع الباذق او الظلم او اخذ الرشوة یتورع الورثة ولا یأخذونه منه شیئاً وهو اولیٰ بهم ویردونها علی اربابها ان عرفوهم والا تصدقوا بها لان سبیل الکسب الخبیث التصدق اذا تعذر الرد علی صاحبه.

(ردالمحتار ۵:۲۷۳ فصل فی البیع، کتاب الحظر والاباحة)

(۲) فی تکملة ردالمحتار القول للدافع لانه اعلم بجهة الدفع.

(تکملة ردالمحتار ۱:۳۹۱ فروع، مطلب واقعة الفتوی)

په غیر صریحی اجازت سره غلا کړې مال وارثانو ته واپس کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې عمر بې اولاده وو هغه د خپل خورئی پالنه وکړه، تعلیم ئې ورته م ورکړو د تعلیم دوران به دې خو هغه به هیڅ هم نه ویل، عمر وفات شو د وصیت مطابق عمر د هغه وارث جوړ شو، د عمر ښځه هم د هغه د خورئی سره ده، اوس د هغه خورئي غواړي چې غلا کړې پیسې دې کونډې ته واپس ورکړي نو دغه شان به د هغه ذمه فارغه شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: ایم نثار محمد پړانګ چارسده... صفر ۱۷ ... ۱۳۸۹هـ

الجواب: په خورئی باندې ضروری نه دی چې دا مال کونډې ته ورکړی ځکه چې اجازت غیر صریحی موجود وو. (۱) او که احتیاطا ئې ورکول غواړی نو د میراث د حصو مطابق دې ورکړی. (۲) **وهوالموفق**

د غرونو نه لرګی غلا کول او د هغې اخستل او خرڅول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې غرونه حکومت په خپله قبضه کې اخستلې دی هغې ته نژدې خلق د حکومت نه په غلا د هغه ځای نه لرګی راوړی او په بازار کې ئې خرڅوی نو د داسې لرګو وهل جائز دی یا نا جائز؟ سره د دې چې د بازار خلك پدې خبر وی چې دا د غلا لرګې دې؟

بینواتوجروا

المستفتی: ضیاء الدین خادم کیملپور... مارچ ۱۲ ... ۱۹۷۴ء

---

(۱) قال العلامة المرغینانی: ثم الاذن کما یثبت بالصریح یثبت بالدلالة.
(الهدایة ۳:۳٦۲ کتاب المأذون)

(۲) قال العلامة ابن عابدین: (قوله الا اذا علم ربه) ای رب المال فیجب علی الوارث رده علی صاحبه ... فان علموا اربابه ردوه علیهم والا تصدقوا به.
(ردالمحتار ۵:۲۷۳ کتاب الحظر والاباحة، فصل فی البیع)

الجواب: تر څو پورې چې اسلامی قانون نافذ نه وی نو د حکمرانانو منل به واجب شرعی نه وی (١) لهذا دا مذکوره غلا به قانونی غلا وی، شرعی غلا به نه وی. **وهوالموفق**

د قطاع الطریق د قتلولو حکم

سوال: ماذا یفتی علماء دین الاسلام فی قتل قطاع الطریق هل هذا حق الامام او یجوز قتله لعامة المسلمین لدفع الفساد ولبناء الامن العام لعامة المسلمین وخاصتهم وکذلک قتل کل مفسد یکون فساده ظاهراً عاماً، شرعاً او تعزیراً اوسیاسة؟ بینواتوجروا

المستفتی: سید جلال الدین مدیر دار العلوم الاسلامیة

زرگری ضلع هنگو... صفر ٨ ... ١٤٠٥هـ

الجواب: قتل قطاع الطریق واجب علی الامام وجائز للعامة، کما فی شرح التنویر علی هامش ردالمحتار ٣: ٢٤٩ باب التعزیر، وعلی هذا لقیاس المکابر بالظلم وقطاع الطریق... وافتی الناصحی بوجوب قتل کل موذ، وفی ردالمحتار، لعل الوجوب بالنظر للامام ونوابه والاباحة بالنظر لغیرهم، طحطاوی (٢).

وهوالموفق

---

١) قال الدکتور وهبة الزحیلی: وبذل الطاعة مشروط بقیام الحاکم بواجباته التی ذکرت سابقاً مضمونها التزام او امر الشریعة.

(الفقه الاسلامی وادلته ٦١٩٠:٨ حقوق الامام الحاکم)

٢) (الدر المختار مع ردالمحتار ١٩٨، ١٩٧: ٣ باب التعزیر)

وفی الهندیة: المکابر بالظلم وقطاع الطریق وصاحب المکس وجمیع الظلمة والاعوان والسعاة یباح قتل الکل ویثاب قاتلهم کذا فی النهر الفائق.

(فتاوی هندیة ١٦٧: ٢ فصل فی التعزیر)

د اولیاء کرامو د مزاراتو نه د قیمتی څیزونو پټولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د خینو اولیاء کرامو په مزاراتو باندې قیمتی غلاف نه علاوه نور هم ډیر قیمتی څیزونه او خصوصا د شکرانې بکس کې پیسې پرتې وی که یو غل دا څیزونه غلا کړی او ونیول شی نو د ثبوت نه پس به په هغه باندې حد سرقه جاری کولې شی یا نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: عبد الهادی اکبر پوره نوشهره

الجواب: دې غل ته د ثبوت نه پس تعزیر ورکول جائز دی، د مصلحت مطابق، په هغه باندې به د غلا حد نه شی جاری کولې **وفی الهندیة ۲:۱۸۸ ولو سرق من القبر دراهم او دنانیر او شیئاً غیر الکفن لم یقطع بالاجماع اختلف مشائخنا فیما اذا کان القبر فی بیت مقفل الاصح انه لا یقطع سواء نبش الکفن او سرق مالا آخر من ذلك البیت وکذا اذا سرق الکفن من تابوت فی القافلة لا یقطع فی الاصح کذا فی الکافی انتهٰی(۱). وهو الموفق**

د ځنګل نه په غلا شوی څاروی کې د لاس د پرې کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ کلی ته نژدې د بیلې په نوم یو ځنګل دې، خلق خپل څاروی په هغې کې د څرولو دپاره د کال دوه کالو دپاره پریږدی او حال دا چې هغه ځای غیر محفوظ دې. اوس که یو غل د دې بیلې نه یو څاروې بوځی نو آیا د هغه لاس به پرې کولې شی؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: سید عمر مرغز

الجواب: په قطع د ید کې دا ضروری ده چې غلا د داسې ځای نه شوې وی

(۱) (فتاوی عالمگیریة ۲:۱۷۸ الباب الثانی فیما یقطع فیه ومالا یقطع فیه)

چې هغه محفوظ وي. د غیر محفوظ ځای نه د غلا کولو په صورت کې د دې غل نه حد ساقط دې خو د تعزیر نه نه شي بچ کیدلې وفي الهندية ۲: ۱۸۰، وهي في الشرع اخذ العاقل البالغ نصاباً محرزا (الى ان قال) على وجه الخفية(۱) وهوالموفق

د حفاظت په نیت سره یو څیز اوچتول غلا نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی په بل سړی باندې د غلا دعوی وکړه، خو مدعی علیه د غلا نه انکار کولو سره په جوابی بیان کې وویل چې ما مال د غلا په نیت سره نه بلکه د حفاظت په نیت سره اوچت کړې دې او ما دا سړې خبر کړې هم وو آیا په دې صورت کې په دې سړی باندې حد سرقه جاری کیدلې شي؟ بینواتوجروا

المستفتی: بصیر خان ایډوکیټ ... پېښور

الجواب: په ظاهره کې داسې معلومیږی چې مدعی علیه دا مال د یو غیر محفوظ مقام (لارې وغیره) نه اوچت کړې دې، او بله دا چې دا سړې دا مال د امانت په طور هم د سنبالولو مدعی دې پس په دې سړی باندې به حد سرقه نه شي جاری کولې، او که مدعی په شهادت شرعیه سره ثابته کړی چې دا مال په محفوظ مقام کې وو او قرائن هم د غلا مؤید وی نو بیا د ثبوت نه پس د حد جاری کول د حاکم منصب دې فافهم، وفي الدرالمختار: ويقطع لو سرق من السطح نصاباً لانه حرز شرح وهبانية اومن المسجد اراد به كل مكان ليس بحرز فعمم الطريق والصحراء ورب المتاع عنده اى بحيث يراه ولو الحافظ نائماً في الاصح)(۲)۔وهوالموفق

---

۱) (فتاوی عالمگیرية ۲: ۱۷ كتاب السرقة)

۲) (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۳: ۲۲۲ كتاب السرقة)

کتاب القصاص

بې ګناه قتلولو سره قاتل نه کافر کيږی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د بې ګناه قتل کونکی سړی څه حکم دې، په دې سره هغه کافر کيږی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: پیر عبدالقدوس راولپنډی... جون ۲۶ ... ۷۶ء

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت دا سړې لوی مجرم دې، خو کافر نه دې. (۱) وهوالموفق

د دعوې او شهادت نه بغیر د مشتبه انسان قتلول حرام دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې قتل شوې دې، د مقتول اولیاء د قاتل په خاندان کې اووهٔ کسان د شبه په طریقې سره متعین کړې دی او په هغوی کې ئې یو په خپل ګمان باندې متعین کړې دې،

---

۱) قال الله تعالیٰ: وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا. (سورة النساء:۹۳)
و قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لزوال الدنیا أهون علی الله من قتل رجل مسلم ...وعن ابی الدرداء رضی الله عنه عن رسول الله ﷺ: کل ذنب عسی الله ان یغفره الا من مات مشرکا أو من یقتل مؤمنا متعمدا۔
و فی حاشیة المشکوٰة :قوله من یقتل مؤمنا متعمدا تشدید و تغلیظ، وله تاویل مشهور و قد ذهب بعض المحدثین الی أن جزاء قاتل المؤمن متعمدا الخلود فی النار و إن لم یصر کافرا نظرا الی ظاهر الآیة۔
(مشکوٰة المصابیح ص ۳۰۱ کتاب القصاص)

نو آيا دامتعين سړې دمقتول په بدله کې شرعی لحاظ سره قتل کيدې شی؟

دويم دا چې د مقتول يو عاقل بالغ ځوی دې، هغه بې زړه دې، خپله بدله نه شی اخستلې نو آيا ترونه هغه سره په قتل کې معاون کيدې شی يا نه؟

او آيا صرف ترونه دا بدله اخستلې شی؟ بينوا توجروا

المستفتی: تامعلوم متعلم بلوچستانی.... جمادی اولالی ۲۷ ... ۱۴۰۳ھ

الجواب: په صورت مسئوله کې چونکې نه دعوی د قاضی په نزد موجوده ده نه اقرار يا شهادت شرعيه موجود دې، لهذا دې مشتبه سړی لره قتلول يا د هغه په قتل کې تعاون کول تول په تبوله حرام دی. **كما فی شرح التنوير علی هامش الشامية ۴۸۴/۵: والسابع لا بد فی القصاص من الدعوى بخلاف الحد سوى حد القذف.**(۱) **وهو الموفق**

قاتل لره کافر گڼل عقيده د اهل سنة والجماعة نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د مسلمان په قتل سره قاتل د اسلام نه خارج کيږی يا نه؟ او کوم سړې چې د مسلمان قاتل لره د اسلام نه بهر گڼی د هغه متعلق شرعا څه حکم دې؟ **بينوا توجروا**

المستفتی: نعمان شاه...... پيښور... جمادی الاولی ۲۲ ... ۹۶ھ

الجواب: چې کله ناحقه قتل گناه گڼی نو دا قاتل کافر نه دې، ...

---

۱) (الدر المختار ۵/۳۹۰ کتاب الجنايات ،فصل فيما يوجب القود وما لا يوجبه)

وقال الدكتور وهبة الزحيلی :يجب على القاضی أن يقضی بما ثبت عنده بطرق الإثبات الشرعية وهی البينة والإقرا ر واليمين والنكول ...اشير هنا الى أن البينة تظهر الحق بالاتفاق ...والاقرار حجة مطلقة لأن الإنسان غير متهم بالإقرار على نفسه كاذبا.

(الفقه الإسلامی وأدلته ۸/۵۹۴۶ الباب الخامس القضاء وطرق إثبات الحق)

ګنهګار دي (۱) هغه لره کافر ګڼل د اهل سنت والجماعت د عقیدې خلاف دی (۲) وهوالموفق

د مهاجر تنظیمونو د قاضیانو په پاکستان کې د حدودو او قصاص جاري کولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې افغان مهاجرینو دلته په پاکستان کې مختلف احزاب (ډلې) جوړ کړې دی او د هر حزب مستقل تنظیم وی چې په هغې کې د قاضی او مفتی پورې خلق وی نو آیا د دې قاضیانو او مفتیانو فتوی دلته په پاکستان کې د هجرت په حالت کې نافذ کیدې شی یا نه؟ یعنی هغوی حدود او قصاص نافذ کولې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد ملا جان مهاجر افغان کالونی پیښور جمادی الاولی ۲۶...۲ ۱۴۰۲ھ

الجواب: دا خلق یعنی د احزاب امراء صرف نمائندګان دی خیرات او اعانت د ملکونو د تقسیم امراء دی هغوی ته د حدودو او قصاص د اجراء حق حاصل

---

۱) وعن عبدالله بن عمرو رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ :الکبائر الاشراک بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس واليمين الغموس۔
(مشکوة المصابيح ۱۷باب الکبائر وعلامات النفاق)

۲) وفی شرح العقائد :(والکبيرة)وقد اختلفت الروايات فيها، فروی ابن عمر رضی الله تعالی عنهما انها تسعة: الشرک بالله وقتل النفس بغير حق (لاتخرج العبد المومن من الايمان)...وهو مذهب أهل السنة والجماعة۔(شرح العقائد ۸۲)

عن أبی الزبير قال قلت لجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه:ماكنتم تعدون الذنوب شركا ؟قال لا ،قال أبو سعيد قلت يا رسول الله ﷺ: هل فی هذه الأمة ذنب يبلغ الكفر ؟قال لا إلا الشرک بالله تعالی۔
(مسند الإمام الأعظم ۱۰)

نه دي لحديث اربع الى الوفاة الخ (ابن ماجة) (۱) وهوالموفق

د قاتل نه د ولي پخپله قصاص اخستل د قاعدي خلاف دي

سوال: څه فرمائی علماء دين د دي مسئلي په باره کي چي د زيد ورور عمرو قتل کړو، دوه شاهدان په دي وخت باندي موجود وو، عمرو پنځه لاکه روپۍ رشوت ورکولو سره خپل ځان راخلاص کړو خالد پلار هم دي عمرو قتل کړو، بيا رشوت ورکولو سره راخلاص شو. اوس زيد او خالد يو ځای کيدو سره عمرو قتل کړو نو آيا دوی به د الله پاك په نزد مجرمان وی يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتی: جاوید اقبال جامعة العلوم الاسلامية

نيو ټاؤن کراچي ... رمضان المبارك ۲۹ ... ۱۴۱۰ هـ

الجواب: دا قصاص د قاعدي خلاف دي، لعدم وجود الدعوی او په دي کي د فائدي په ځای سراسر نقصان دي. فليراجع الى رد المحتار ۶: ۶۶۰ (۲) مطبع حلبی. وهوالموفق.

---

(۱) وفى الدراية :حديث أربعة إلى الولاة وذكر منها الحدود، لم أجده وذكره ابن أبى شيبة عن الحسن أربعة إلى السلطان الصلوٰة والزكوٰة والحدود والقضاء - (الدراية فى تخريج أحاديث الهداية ۲/۵۱۱ كتاب الحدود، فصل فى كيفية الحد وإقامته)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه اللّٰه تعالىٰ: بخلاف الحد ود فإنه لم يثبت توليتها إلا للولاة-

(ردالمحتار ۳/۱۹۸ كتاب التعزير ،مطلب بكون التعزير بالقتل)

(۲) وقال العلامة الحصكفى رحمه اللّٰه تعالىٰ :لابد فى القصاص من الدعوى بخلاف الحد.

(الدر المختار ۶/۳۹۰ كتاب الجنايات،قبيل باب القود فيما دون النفس)

وقال الدكتور وهبة الزحيلى رحمه اللّٰه تعالىٰ : لابد فى القصاص من رفع الدعوى الى القضاء من ولى الدم ...استيفاء الحدود يكون بواسطة الإمام الحاكم وأما القصاص فيجوز لولى الدم استيفاؤه بشرط وجود الحاكم .

(الفقه الاسلامى وأدلته ۷/۵۶۶۴،الفرق بين القصاص والحدود الأخرى)

د مقتول د ولی په معاف کولو باندې د حکومت قاتل لره قتلول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی چې کله نوشاد خان قتل کړو، دارالقضاء هغه ته د پهانسئ سزا واوروله. د سپریم کورټ د تائید یا تردید نه مخکښ د مقتول وارثانو د جرګې په سفارش باندې د الله پاك د رضا دپاره قاتل لره معاف کولو سره صلح وکړه، اوس د پاکستان صدر د ملزم درخواست رد کړې دې آیا د فریقینو د صلح په صورت کې قاتل لره په قصاص کې قتلول جائز دی یا نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: عبدالوارث مقام شاه منصور ضلع مردان \ رجب المرجب ۱۵ ... ۱۳۹۹ھ

الجواب: تعزیر د حکومت حق شرعی دې (۱) او قصاص د مقتول د وارثانو حق شرعی دې، پس د ټولو یا بعض وارثانو په معافی کولو باندې حکومت د قصاص اخستلو مجاز شرعی نه دې.

قال الله تعالیٰ: فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاءٌ إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ،(۲) وقال النبی ﷺ: من قتل له قتیل فهو بخیر النظرین، إما أن یعفو وإما أن یقتل (رواه الترمذی).(۳) وهو الموفق

---

۱) وقال الدکتور وهبة الزحیلی رحمه الله تعالی: إذا عفا ولی القتیل مطلقاً عن القاتل عمدا صح العفو، وبقی عند الحنفیة والمالکیة حق السلطان فی عقوبته تعزیراً لأن القصاص فیه حقان حق الله (أو حق المجتمع أو حق العام) وحق المجنی علیه.
(الفقه الإسلامی وأدلته ۷/۵۶۹۴ هل یبقی حق للسلطان بعد عفو ولی الدم)

۲) (سورة البقرة ۱۷۸)

۳) (سنن ترمذی ۱/۳۹۲ باب ماجاء فی حکم ولی القتیل فی القصاص والعفو)

په قصاص او دیت اخستلو سره د شهید په ثواب کښې کمې نه راځی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې که د مقتول وارثان په صلح کښې څه زیاتې روپۍ وغیره واخلی نو آیا د مقتول په شهادت کښې کمې راځی یا نه؟ او که قصاص واخلی نو بیا کمې راځې یا نه؟

المستفتی: عبدالهادی ټانک ضلع ډیره اسماعیل خان... ۱۸ صفر المظفر ۱۴۰۱ھ

الجواب: د شهادت د اخروی احکاماتو دپاره قصاص یا دیت ضرری نه دی (۱) وهوالموفق

په حدودو او قصاص سره د ټولو ګناهونو د معاف کولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې یو سړی بل سړې قتل کړو او بیا هغه قصاصا قتل کړې شو، نو زید وائی چې هغه د قصاص نه بالکل پاك شو، په آخرت کښې د هغه هیڅ سزا نشته، نو آیا د دې قاتل دپاره اخروی سزا شته یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حبیب انور... ۳۰ مارچ ۱۹۷۴ء

الجواب: د احنافو په نزد په حدودو او قصاص سره ټول ګناهونه نه معاف کیږی، په توبې سره ګناهونه معاف کیږی. کما صرح به فی البحر(۱: ۳۱۲) (۲) وللتفصیل مقام اخر. وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی :وقال في مختار الفتاوی :القصاص مخلص من حق الأولیاء وأما المقتول فیخاصمه یوم القیامة فان بالقصاص ما حصل فائدة للمقتول وحقه باق علیه.(رد المحتار ۵ /۳۸۹ قبیل باب القود فیما دون النفس)

(۲) قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی :واختلف العلماء رحمهم الله تعالی فی أن الطهرة من الذنب من أحکامه من غیر توبة فذهب کثیر من العلماء إلی ذلک وذهب أصحابنا إلی أنها لیست من أحکامه فإذا أقیم علیه الحد ولم یتب لم یسقط عنه إثم تلک المعصیة عندنا عملاً بآیة قطاع الطریق فانه قال تعالی : ذٰلِکَ لَهُم خِزیٌ فِی الدُّنیَا وَلَهُم فِی الاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِیمٌ اِلَّا الَّذِینَ تَابُوا.

(البحر الرائق ۳، ۵/۲ کتاب الحدود)

...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

قاتل ته په دنیا کې ورکړې شوې سزا د اخروی عذاب د پاره حاجب نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې قاتل ته چې کله په دنیا کې سزا ورکړې شی نو آیا هغه به په آخرت کې جواب ورکوی یا نه؟ بينواتوجروا

المستفتی: محمد هارون، فقیر محمد... ۲۹ ستمبر ۱۹۷۵ء

الجواب: واضحه دې وی چې د مسلمان قتلول، چې کله قصدا عمدا وی، کبیره ګناه ده. (۱) کفر نه دې، (۲) او اصل په کبائرو کې توبه ده، پس که دې قاتل د قتل نه پس (د قصاص نه مخکښ) توبه کړې وی نو د آخرت د عذاب نه به بچ وی او که توبه ئې نه وی کړې او پښیمانه شوې نه وی نو په آخرت کې به هم سزا خوری. (۳) وهوالموفق

... بقیه ازحاشیه گذشته] وقال العلامة بن عابدين رحمه الله تعالى: إن الحدودلا يكون طهرة من الذنب ولا يعمل فى سقوط الإثم بل لابد من التوبة، فإن تاب كان الحد طهرة له وسقطت عنه العقوبة الأخروية بالإجماع وإلا فلا۔
(ردالمحتار ۲/۲۱۷ كتاب الحج، باب الجنايات)

۱) قال الله تعالى: وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّلَهُ عَذَابًا عَظِيمًا۔(سورة النساء: ۹۳)
وقال رسول الله ﷺ: اكبر الكبائر الاشراك بالله وقتل النفس وعقوق الوالدين الخ۔
(الكبائر للامام الحافظ شمس الدين الذهبى ص ۲۱، الكبيرة الثانية قتل النفس)

۲) وفى التفسير المظهرى: قال الله تعالى: فمن عفى له من اخيه شيئ ...فيه دليل على أن القاتل لا يصير كافرابالقتل حيث ذكر الإخوة الإسلامية بين القاتل والمقتول وأيضاً خاطب بقوله يايها الذين آمنوا۔(التفسير المظهرى ۱/۱۸۴ آيت نمبر ۱۷۰)

۳) وقال العلامة الشامى رحمه الله تعالى: واعلم ان قتل النفس من أكبر الكبائر بعد الكفر بالله تعالى وتقبل التوبة منه فان قتل مسلماً ثم مات قبل التوبة منه لايتحتم دخوله النار بل هو فى مشيئة الله تعالى كسائر أصحاب الكبائر فإن دخلها لم يخلد فيها۔
(ردالمحتار ۶/۳۷۶ كتاب الجنايات)

په نابالغ باندې د قصاص حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو نابالغ هلك يو سړې قتل کړی نو په هغه باندې قصاص شته يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: چيف جسټس عبدالحکيم خان صوبه سرحد پيښور ... ۱۷ ستمبر ۱۹۶۶

الجواب: د نابالغ قاتل نه به قصاص نه شي اخستلې اګر که هغه نابالغ قتل کړې وی يا بالغ لحديث رفع القلم عن ثلثة عن الصبي حتى يحتلم الحديث؛(رواه النسائي (۱) وأبوداؤد (۲) وابن ماجه (۳) وصححه الحاكم، ولعموم ما رواه عبدالرزاق في المصنف:عن علي بن أبي طالب عمد الصبي والمجنون خطاء (۴) ورواه عن الزهري وقتادة أيضاكما في ص ۷۰/۱۰ ولما في البدائع ۲۳۴/۷ (۵) أما الذي يرجع إلى القاتل فخمسة أحدها أن يكون عاقلًا، والثاني أن يكون بالغا فان كان مجنونا أوصبيا لا يجب لأن القصاص عقوبة وهما ليسا من أهل العقوبة لأنها لاتجب إلابالجناية وفعلهما لا يوصف بالجناية .وفي العالمكيرية ۴/۶ (۶) وعمد الصبي وخطؤه سواء عندنا حتى تجب الدية في الحالين،وفي الكاملية ۲۵۳ (۷) سئلت عن الصغير إذا قتل نفسا معصومة عمدًا ما ذا يلزمه؟ الجواب أنه يلزم بقتله الدية على عاقلته قال في النتف: واذا قتل

---

۱) (سنن النسائي ۲/۱۰۳ باب من لايقع طلاقه من الأزواج)

۲) (سنن ابي داود ۲/۶۰۲ باب في المجنون يسرق أو يصيب حدا)

۳) (سنن ابن ماجه ۱۴۸ باب طلاق المعتوه والصغير والنائم)

۴) (سنن الكبرى للبيهقي ۸/۶۱ باب ما روى في عمد الصبي)

۵) (بدائع الصنائع ۶/۲۷۳ كتاب الجنايات)

۶) (فتاوى هندية ۶/۴۶ كتاب الجنايات،الباب الثاني)

۷) (فتاوى كاملية ۲۵۳ كتاب الجنايات)

الصبی أحدا فلا قصاص، وفی الهندية ۶/۴ (۱) ولا قصاص فيما بين الصبيان (عالمکیری أردو ۲۹۶) وهوالموفق

د دنيوي دشمنۍ په وجه باندې شهادت او په چپه تبرونو باندې د قتل د قصاص حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د قوم دته خیل څه کسانو د ملی خیل قوم په پټو کې ګډې بیزې اوځرولې، د ملی خیل والو دا کسان ووهل او بیزې ئې ترې بندې کړې، دته خیل والو وروستو سرکاری ناغه ادا کولو سره بیزې آزادې کړې او ځان سره ئې بوتلې.

د مجسټریټ صاحب د تفتیش دوران کې د ملی خیل څه کسان هم راغلل، د حالات معلومولو په وخت د دوارو قومونو ترمینځه یو بل ته بدې ردې ویل شروع شو، کنځلې، جنګ جګړې او فساد ته پکښې خبره ورسیده له د جانبین نه کانی، ډانګونه، تبرونه تردې چې د تمانچو او ټوپکو ډزې هم شروع شوې، فریقین زخمی شو خو د ملی خیل یو کس وفات شو، د ملی خیل والو څلور کسان په موقع حاضر ګواهان ګواهی ورکوی چې د دته خیل فلانی سړی مقتول په تبر باندې نیغ ووهلو چې په هغې سره هغه پریوتلو او فلان فلان درې کسانو هغه لره پرلپسې په چپه تبر باندې وهل شروع کړل. بیا قاتلان وتښتیدل. قاتلانو د دې خبرې نه انکار وکړو او ویې ویل چې مونږ نه مقتول وهلې دې او نه مو پیژندلې دې، په صورت مذکوره کې د قصاص یا دیت په باره کې د شریعت مطهره څه حکم دې؟ **بينوا توجروا**

المستفتی: نامعلوم

الجواب: په صورت مسئوله کې د قصاص حکم غیر صحیح دې ځکه چې قاتلین (مدعی علیهم) انکاری دی او په شهادت شرعیه سره دعوی نه شی ښکاره کیدې (۲) او د فریقینو په یو بل باندې شهادت د دنیوی دشمنۍ د

---

۱) (فتاوی هندية ۶/۳ کتاب الجنایات، الباب الثانی)

۲) وقال العلامة ابن عابدين: وإنما كان القتل بعد تحققه ربما يجحد فيحتاج من له القصاص إلى إثباته بالبينة. (ردالمحتار ۵/۴۰۲ کتاب الجنایات، باب الشهادة فی القتل)

وجې نه مردود دي صرح به في جميع معتبرات المذاهب، قال في الدر المختار: وتقبل من عدو بسبب الدين لأنها من التدين بخلاف الدنيوية فإنها لا يأمن من التقوّل عليه، (٥٨/٣)(١)

او که بالفرض شهادت يا اقرار په دې صورت کې متحقق هم شي نو بيا هم د قصاص حکم غير صحيح دې ځکه چې څينو په نيغ تبر باندې حمله کړې ده او څينو په چېه. لهذا د دې شبهې د وجې نه به قصاص ساقط وی في ردالمحتار ٤٧٢/٥: قال في الجوهرة ولو اشترك رجلان في قتل انسان، أحدهما يجب عليه القصاص لو انفرد والآخر لا يجب عليه القصاص كالأجنبي والأب والخاطئ والعامد او احدهما بالسيف والآخر بالعصا فأنه لايجب عليهما القصاص وتجب الدية، والذى لايجب عليه القصاص لو انفرد تجب الدية على عاقلته كالخاطئ والذى يجب عليه القصاص لو انفرد تجب الدية في ماله (٢) انتهى وقال العلامة الشامي رحمه الله تعالى ٤٦٨/٥: والحاصل ان شبه العمد كالخطأ الا في حق الاثم وصفة التغليظ في الدية، زيلعي (٣) وفي الهندية ٤/٦: ولا يقتل شريك من لا قصاص عليه كالاب والاجنبي والعامد والخاطئ والصغير والكبير، وفيها ايضاً: اذا اشترك الرجلان في قتل رجل، أحدهما بعصا والآخر بحديدة فلا قصاص على واحد منهما ويجب المال عليهما نصفان، ثم كل واحد منهما فيما لزمه من نصف الدية يجعل كالمنفرد به فنصف الدية على صاحب الحديدة في ماله ونصفها على صاحب العصا على عاقلته، كذا في شرح المبسوط (٤) انتهى۔

پس د دې عبارتونو په وجه قصاص په يو کس باندې نه دې بلکه د شهادت يا د اقرار نه پس به ٤/١ ديت د هغه سړي په مال کې واجب وی چا چې په نيغ تبر

---

١) (الدر المختار ٤/٤١٩ كتاب الشهادات، باب القبول وعدمه)

٢) (ردالمحتار ٥/٣٨٠ فصل فيما يوجب القود وما لا يوجبه)

٣) (ردالمحتار ٥/٣٧٧ كتاب الجنايات)

٤) (فتاوى هندية ٦/٤ كتاب الجنايات، الباب الأول)

سره وار کړې دي او بعض د دیت ۴/۳ دیت به د هغه سړي په عاقله باندې واجب وي کوم چې په چپه تیرونو حمله کړې ده. وهوالموفق

په قتل باندې د ګواه نه کیدو په صورت کې قاتل ته قسم ورکول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې د شپې قتل شو. د مقتول وارثانو په یو معین سړي باندې دعوی وکړه، دې باره کې د شریعت حکم بیان کړئ. **بینواتوجروا**

المستفتي: نامعلوم

الجواب: په صورت مسئوله کې چونکې ګواهان موجود نه دي لهذا مدعی علیه ته به قسم ورکولې شي که قسم ئې وکړو نو صحیح ده کنه نو هغه به قید کولې شي تردې چې قسم وکړي یا اقرار وکړي **في الهندية ۷/۴: ومن ادعى قصاصا على غيره فجحد استحلف بالاجماع كذا في الهداية فان حلف فانه يبرأ كذا في السراج الوهاج، ثمّ ان نكل عن اليمين فيما دون النفس يلزمه القصاص وان نكل في النفس حبس حتى يقرأو يحلف وهذا عند ابي حنيفة رحمه الله تعالى وقال ابويوسف رحمه الله تعالى يلزم الارش فيهما، كذا في الهداية(۱) انتهى. وهوالموفق**

قصاص سره د عفو نه پس دوباره مطالبه کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو مقتول وارث وویل چې زما د مورث مقتول په شهادت کې نقصان راځی نو زه به ئې معاف کړم او دا ئې هم وویل چې که زما د مقتول کور او باغ مونږ ته راکړې شي نو زه

(۱) (فتاوی هندية ۴/۱۶ الباب الثالث فی اليمين)
وفی شرح الوقايه: وكذا منكر القود ای يحلف اجماعا لانه حق العباد فان نكل فی النفس حبس حتى يقرأو يحلف... وهذا عند ابی حنيفة رحمه الله تعالی وعندهما يلزم الارش فی النفس وما دونها. (شرح الوقايه ۳/۲۰۷ كتاب الدعوی)

په نې معاف کړم، وروستو د دې اقوالو نه انکاری شی او وائی چې زه قصاص غواړم اوس دا دواړه قولونه د عفو قابل دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: مولوی گل ولی خان... ۲۶ شوال ۱۳۸۸ء

الجواب: چونکې د قصاص نه عفو یو ځل شوې ده لهذا د دې حق دوباره مطالبه کول بې ځایه دی (لانه اسقاط محض) (۱) وهوالموفق

په غابښ ماتولو باندې د دیت او قصاص حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که یو سړې بل ووهی او د هغه غابښونه مات کړی نو په دې ضارب باندې د قصاص او دیت څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: محبت خان ایبټ اباد... ۲۲ جمادی الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب: په صورت مسئوله کې په دې ضارب باندې قصاص واجب نه دې (۲) خو د مصالحت په طور د رقم لین دین هم جائز دې که د هر غابښ په مقابله

---

۱) وفی الهندیة :ومن عفا من ورثة المقتول عن القصاص فلا سبیل الی القصاص۔ (فتاوی هندیة ۶/۲۰ کتاب الجنایات ،الباب السادس فی الصلح والعفو الخ)

وفی الدر المنتقی :وموجبه الاثم والقصاص عینا الا ان یعفی عن القاتل ولو احدهم فیسقط مجانا ولا یصیر مالا الا بالتراضی ۔(الدر المنتقی علی هامش مجمع الانهر ۴/۳۱۰ کتاب الجنایات)

۲) قال اللّٰه تبارک وتعالی :وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ۔

وقال العلامة القرطبی رحمه اللّٰه تعالی :قوله تعالی وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ قال ابن المنذر وثبت عن رسول اللّٰه ﷺ انه أقاد من سنّ وقال کتاب اللّٰه القصاص۔ (تفسیر القرطبی ۶/۱۸۶ سورة المائدة ایت ۴۵)

کې ۵۰۰ روپۍ شرعی (تقریبا ۹۰۰۰ پاکستانۍ) وی یا کمې زیاتی وی.
(هندیه)(۱) وهوالموفق

د قاتل په معاف کولو سره قصاص ساقط کیدو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې سعید ولی د خپل خوی خوشدل د قتل دعوی په شیر الله باندې وکړه، د ګواهانو د شهادت نه مخکښې مدعی علیه شیر الله په دې الفاظو باندې ورکړه چې د خوشدل (مقتول) د مرګ نه پس د پلار نه (سعید ولی خان) نه د قاتل ورور حسین الله تپوس وکړو چې زما د ورور شیر الله متعلق ستا څه خیال دې سعید ولی وویل چې شیر الله زما خوی نه دې قتل کړې او که قتل کړې ئې هم وی نو ما معاف کړو، آیا دا معافی شرعی نقطه نظر سره قابل قبول ده یا نه؟ او حال دا چې تر اوسه پورې دا نه ده معلومه صرف په شیر الله باندې دعوی شوې ده، او هغه انکار کړې دې اقرارئې نه دې کړې. **بینواتوجروا**

المستفتی: ماسټر غلام مصطفی چترال... یکم محرم ۱۳۸۹ھ

الجواب: په شرط د ثبوت دا معافی په شرعی نقطه نظر سره منظوره ده او د دې نه رجوع او واپسی کول نامنظور ده. **فی الهندیة ۲۲/۶: ومن عفا عن ورثة المقتول فلا سبیل الی القصاص،**(۲) که چېرته په قاتل باندې ثبوت نه وی شوې نو دا الفاظ د دعوی دفع کولو دپاره کافی دی. **فقط وهوالموفق**

---

(۱) وفی الهندیة: واذا اصطلح القاتل واولیاء القتیل علی مال سقط القصاص ووجب المال قلیلا کان او کثیرا وان لم یذکروا حالا ولا مؤجلا فهو حال.
(فتاوی هندیة ۶/۲۰ کتاب الجنایات، الباب السادس فی الصلح والعفو والشهادة)

(۲) (فتاوی هندیة ۶/۲۰ الباب السادس فی الصلح والعفو والشهادة فیه)
وفی در المنتقی: وموجبه الاثم والقصاص عینا الا ان یعفی عن القاتل ولو احدهم فیسقط مجانا ولا یصیر مالا الا بالتراضی.
(الدر المنتقی علی هامش مجمع الانهر ۴/۳۱۰ کتاب الجنایات)

د حکومت نابالغ لره تعزیرا قتلول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې آیا حکومت نابالغ قاتل لره تعزیرا قتلولې شی؟ بینواتوجروا

المستفتی: چیف جستس عبدالحکیم خان پیښور ... ۱۷ ستبر ۱۳۶۶ھ

الجواب: په کومو لونې جرمونو کې چې حد او قصاص د عوارض خارجیه د وجې نه ساقط شی نو په هغې کې تعزیر ورکول د مصلحت مطابق جائز دی اګر چې دا تعزیر د مرګ سزا وی او اګر چې دا مرتکب نابالغ وی کما روی ابوداؤد ۲/۶۲۲: وغیره عن انس رضی الله تعالی عنه ان جاریة وجدت قد رض رأسها بین حجرین فقیل لها من فعل بك هذا أفلان، أفلان حتی سمی الیهود فأومت برأسها فأخذ الیهودی فاعترف فامر النبی ﷺ ان یرض رأسه بالحجارة (۱) وروی ابو داؤد ۶۰۴: عن جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه اتی به (بالسارق) الخامسة فقال اقتلوه قال جابر فانطلقنا به فقتلناه، (۲)، وفی ردالمحتار ۲۴۷/۳: رأیت فی الصارم المسلول للحافظ ابن تیمیه ان من اصول الحنفیة ان لا قتل فیه عندهم مثل القتل بالمثقل والجماع فی غیر القبل اذا تکرر فللامام ان یقتل فاعله... ویسمونه القتل سیاسة وذکر فیه فی ۲۴۷/۳: قتل السارق والخانق اذا تکرر منهما السرقة والخنق فلیراجع، (۳)

---

۱) (سنن ابی داود ۲/۶۲۲ باب ایقاد من القاتل بحجر او بمثل ما قتل)

۲) (سنن ابی داود ۲/۶۰۵ باب السارق یسرق مراراً)

۳) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: ان للامام قتل السارق سیاسة ای ان تکرر منه ...أن من تکرر الخنق منه فی المصر قتل به سیاسة لسعیه بالفساد۔ (رد المحتار ۳/۱۹۶ باب التعزیر)

وفیه ایضاً ۳/ ۲۴۷: ان الحد لایجب علی الصبی والتعزیر شرع علیه(۱).

نوټ: د شرعی فیصلې مطابق شرعی عدالت ته اپیل کول مثلاً نابالغ قاتل باندې تعزیر جاری کول جائز دی خو د شرعی فیصلې مطابق غیر شرعی عدالت ته درخواست کول او د دې اجازت ورکول د شریعت سپکاوی او زندیق توب (بې دینی) ده.

قاتل معاف کول د وارثانو حق دې نه د حکومت

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې حکومت قاتل معاف کولې شی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: چیف جسټس عبدالحکیم خان پیښور... ۱۷ سمتبر ۱۳۶۶ھ

الجواب: قاتل معاف کول د وارثانو حق دې نه د حکومت. قال رسول الله ﷺ: من أصيب بدم أو خبل فهو بالخيار بين إحدى ثلاث فإن أراد الرابعة فخذوا على يديه بين ان يقتص أو يعفو أو يأخذ العقل (رواه الدارمی بحواله مشکوٰة ۲/ ۳۰۲)(۲) وفی مصنف عبدالرزاق ۱۰/ ۱۴: عن عمر بن عبدالعزیز عن عمر بن الخطاب قال: ولا يمنع سلطان ولى الدم ان يعفو ان شاء او يأخذ العقل اذا اصطلحوا(۳) وفی الهداية ۲/ ۵۰۰ كل شيئ صنعه الامام الذى ليس فوقه امام فلا حد عليه الا القصاص فانه يؤخذ به وبالاموال لان الحدود حق الله تعالى واقامتها اليه بخلاف حقوق العباد لانه يستوفيه ولى الحق الخ(۴). وهو الموفق

---

۱) (رد المحتار ۳/ ۱۹۴ باب التعزیر ،مطلب یکون التعزیر بالقتل)

۲) (مشکوة المصابیح ۳۰۳ کتاب القصاص)

۳) (تهذیب الاثار للطبری ۵/۵۵ رقم حدیث ۱۷۶ لایمنع سلطان ولی الدم)

۴) (الهدایة ۲/۵۲۰ قبیل باب الشهادة علی الزناء)

وقال العلامة وهبة الزحیلی: یشترط شرطان فی العفو... [بقیه حاشیه برصفحه آئنده

په ټوپک باندې قتلول د قصاص واجبونکې دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې يو سړې په تيرۀ ټوپك سره قتل کړې شو، مقتول بې ګناه وو، دا شهيد دې يا نه؟ او آيا دا آلد جارحه ده يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتي: حافظ سيد احمد شاه تحت بهائی مردان

الجواب: واضحه دې وی چې اوسپنه اګر چې تيرۀ نه وی مثلا وسله وی، د اله جارحه په حکم کې ده لهذا په دې سره قتل قصاص واجبونکې او د شهادت سبب دې او ښکاره شوې څاروې به حلال نه وی **لعدم التحديد فافهم...مأخوذ ازجنايات هداية(١) وردالمحتار(٢) وشهادة ردالمحتار(٣) وهوالموفق**

... بقيه ازحاشيه گذشته] ان يصدر العفو من صاحب الحق فيه و صاحب الحق هو الورثة رجالاً ونساءً ... عند الجمهور ومن لا حق له فى العفو هو الاجنبى غير الوارث ...وكذا الاب والجد فى قصاص وجب للصغير ...فلا يملكه احد سوى الصغير بعد البلوغ حتى الحاكم لايملكه -(الفقه الاسلامى وادلته ٧/٥٦٩١ شروط العفو،الباب الثالث،الجنايات)

١) قال العلامة المرغينانى :فالعمدما تعمد ضربه بسلاح أو ما أجرى مجرى السلاح كالمحدد من الخشب وليطة القصب والمروة المحددة والنار لأن العمد هو القصد ولايوقف عليه الا بدليله وهو استعمال الآلة القاتلة-(الهداية ٤/٥٥٩ كتاب الجنايات)

٢) وقال العلامة ابن عابدين : العمد ما تعمد قتله بالحديد كالسيف والسكين والرمح والخنجر والنشابة والإبرة والإشفى وجميع ماكان من الحديد ...قلت وعلى كل فالقتل بالبندقة الرصاص عمد لانها من جنس الحديد وتجرح فيقتص-(ردالمحتار ٥/٣٧٥ كتاب الجنايات)

٣) وقال العلامة الحصكفى :وان شهد انه ضربه بشيئ جارح فلم يزل صاحب فراش حتى مات يقتص-

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :(قوله يقتص)...لما شهدوا بالضرب بالسلاح ثبت العمد...لأن العمد هو القصد بالقلب وهو أمر باطن لايوقف عليه ،ولكن يعرف بدليله وهو الضرب بآلة قاتلة-(ردالمحتار ٥/٤٠٤ باب الشهادة فى القتل)

د خوی د قتل د ويرې نه د پلار هغه لره قتلول

سوال: مايقول العلماء الكرام فى المسئلة الآتية: رجل قصد قتل أبيه وقد أخذ بعض ماله إكراها والأب يقول إن ابنى أخذ مالى قهرًا والأن قصد قتلى لأجل خوف منى لأن الظالم إذا أخذ مال المظلوم يخاف منه بعد فالآن يقول الأب أءقتل ابنى أو أتركه ليقتلنى أو يفعل بى مايشاء؟ بينوا توجروا

المستفتى: صفت الله كاريگر دره بازار كوهاټ ۲۸ شعبان ۱۳۹۸ھ

الجواب: الرجل إذا قتل الظالم (مدافعة عن نفسه أو ماله) يكون جائزًا ومشروعًا كما فى الهندية ۱۸۷/۲: المكابر بالظلم وقطاع الطريق وصاحب المكس وجميع الظلمة والأعوان والسعاة يباح قتل الكل ويثاب قاتلهم، كذا فى النهر الفائق (۱) لكن لاندرى الظالم من المظلوم بمجرد الخط فكيف يفتى بجواز قتل الأب ابنه ـ وهو الموفق

قصدا د بل ګاډى سره جنګونکى مقتول وينه ضائع ده

سوال: څه فرمائى علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړى قصدا خپل ګاډې د بل سړى ګاډى سره ووهلو چې په هغې سره دا سړې هلاك شو،

---

۱) (فتاوى هندية ۲ /۱۶۷ فصل فى التعزير)

وقال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى :المكابر بالظلم وقطاع الطريق وصاحب المكس وجميع الظلمة بأدنى شيئ له قيمة وجميع الكبائر والأعونة والسعاة يباح قتل الكل ويثاب قاتلهم وأفتى الناصحى بوجوب قتل كل موذ.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :لعل الوجوب بالنظر للإمام ونوابه والإباحة بالنظر لغيرهم-

(ردالمحتار ۳/۱۹۷ باب التعزير ،مطلب يكون التعزير بالقتل)

اوس عرض دا دې چې د دې بل ګاډي په ډرائیور باندې شرعا څه څیز واجب دي مهرباني وکړئ جواب تفصیلي راکړئ؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: قریش احمد شاه لکی مروت ضلع بنون ۲ جولائی ۱۹۸۶ء

الجواب: که دا قصد منلې شوې یا په شهادت شرعیه سره ثابت وی نو د مقتول وینه ضائع ده، دا د هغه خپل فعل دې کوم چې د هلاکت سبب جوړ شوې دې.

كما في الهندية ۶/۹۶: ولو اصطدمت السفينتان إن كان بفعل الراكب والملاح ضمن ولا ضمان في الأنفس (۱) انتهى فافهم. والله أعلم بالصواب.

د کافر شوروی، مرتد خلقی پرچمی او د هغوی د عسکر د قتل او اموال غنیمت جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې جهاد افغانستان کې د مجاهدینو خلاف دریم قسم خلق جنګ کوی. ۱: کافر شوروی، ۲: مرتد خلقی او پرچمیان دی. ۳: عسکر یا ملیشه کوم چې کمیونسټ حکومت په فوج کې په زوره داخلوی او د هغوی په ذهنونو کې ئې دا خبره کینولې ده چې دا مجاهدین انګریزان دی کوم چې زمونږ د ملک دشمنان دی

اوس د جنګ په دوران دا درې واړه قسم خلق د مجاهدینو په لاس راشی سره د وسلې، دا مسئله خو ښکاره ده چې کافر خو غلام جوړ شی او وسله مال غنیمت، خو دا مرتد او عسکر زمونږ دپاره څه جوړیږی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: فتح محمد مهاجر چمن بلوچستان...... ۶ جولائی ۱۹۸۵ء

الجواب: د دې درې واړه قسم خلقو قتل جائز دې. أما الأولان فظاهران،

۱) (فتاوی هندیة ۶/۸۸ کتاب الجنایات، باب المتفرقات)

وأما الثالث فلكونهم معاونين لأهل الزندقة والإلحاد كما في الكاملية،(۱) او د دې درې واړه قسمه خلقو وسله وغيره مال غنيمت دي۔ اما الأول والثانی فلا خفاء فيهما(۲) وأما الثالث فلكونها وديعة عنده من الزنادقة والدهريين (۳) فافهم۔ وهوالموفق

د بې ځايه حمله کونکی قتل د قصاص او ديت سبب نه دی

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې دوه ځايونو کې مشترکه ځمکه ده او د ځمکې د هرې ټکړې اوبه خور په بيله بيله چينه سره کولې شی، يوه ټکړه خرابه ده او د هغې اوبه مشترکه طور د آبادې ځمکې د استعمال دپاره وی وروستو خرابه حصه آباده کړې شوه د باقی شريکانو نه اوبه بندې کړې شوې. نورو شريکانو جواب ورکړو چې د اوبو حصه متيقن ده. د استعمالولو زمونږ حق دی. دوه کسانو په دې خرابه ځمکه د اوبو د

---

۱) وفی الكاملية :سئلت عن بلدة استولى عليها الكفار وتمكنوا منها وفانضم اليهم بعض القبائل والعشائر وصاروا يقاتلون معهم المسلمين وينهبون مالهم وينصحون الكفار ويعينونهم على أذى المسلمين فما الحكم فيهم وهذاحالهم؟

فالجواب ...والظاهر أن حكم هؤلاء حكم دار الحرب فی قتلهم وأخذ مالهم وإنما أبيح قتل البالغين منهم لكونهم رداً لعدوالحرب ومعينون له بأنفسهم وحكم الردأ إذا لم يقاتل مع العدو حكم المقاتل فأحرٰى إذا قاتل۔

(فتاویٰ كاملية ۲۵۰ كتاب الجنايات)

۲) قال العلامة ابن عابدين :قال فی الهندية :الغنيمة إسم لمايؤخذ من أموال الكفرة بقوة الغزاة وقهر الكفرة۔(ردالمحتارهامش الدرالمختار ۳/۲۵۰ باب المغنم)

۳) قال ابن الهمام :وما أودع حربياً ففی ظاهر الرواية فيئ وجه الظاهر أنها ليست يداً صحيحة حتى لا تدفع اغتنام المسلمين عن أمواله۔

(فتح القدير ۵/۲۳۰ باب الغنائم وقسمتها)

راوستلو دپاره نالۍ جوړول شروع کړل کوم سړي چې اوبه منع کړې وې د هغه خامنو او د هغه خامنو سره د مخالفې ډلې په یو بل باندې ډزې وکړې، د یو خورئې زخمي شو اود یوډلې نه یوسړې قتل شو آیا د هغوی دپاره دا قتل مباح وو؟ که د مقتول دیت وی نو دا قتل عمد دې، آیا د دې دیت به په عاقله باندې وی؟ په نالۍ او اوبو کې اگر چې ټول شریك وو خو آیا په دې صورت کې به د اوبو شریکان په تاوان کې مشترك وی؟ کومې ډلې چې قتل کړې دې که هغه سره په تاوان کې شریکیږی نو آیا صرف په تاوان کې به شریکیږی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی محمد خان ژوب ښهر صوبه بلوچستان ... ۹ ربیع الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب: الف: د یوې خمکې اوبه بلې له ورکول جائز دی. **کمافی شرح التنویر: اویسوق نصیبه الی ارض له اخری لیس له منه ای من النهر شرب** (رد المحتار ۶:۴۴۴) (۱)

ب: د بې خایه حمله کونکی قتل هدر دې. **لکونه باغیا وشاهرا** (۲)

ج: قتل عمد مذکوره نه د قصاص سبب دې او نه د دیت سبب، نو په دې کې په چا باندې د تاوان فیصله رواجي ده اسلامي فیصله نه ده، په دې شرط چې نوعیت هم دا مذکوره شرط وی. (۳)

د: دا ډله په اوبو راوړلو کې په حقه نه ده. (۴) **هوالموفق**

---

۱) (الدر المختار ۵/۳۱۵ فصل فی الشرب)

۲) قال العلامة الزیلعی: من شهر علی المسلمین سیفا فقد أبطل دمه لأن دفع الضرر واجب فوجب علیهم قتله إذا لم یکن دفعه إلّا به ولا یجب علی القاتل شیئی لأنه صار باغیاً بذلک. (تبیین الحقائق ۶/۱۱۰ کتاب الجنایات، باب ما یوجب القود ومالایوجبه)

۳) وفی الهندیة: ومن شهر علی المسلمین سیفا وجب قتله ولا شیئ بقتله.
(فتاوی هندیة ۶/۷ کتاب الجنایات، الباب الثانی فیمن یقتل قصاصا ومن لا یقتل)

۴) وفی الهندیة: ولیس له أن یسقی أرضه ونخله وشجره من نهر هذا الرجل وبیره وقناته إلّا بإذنه نصاً وله أن یمنع من ذلک. (هندیة ۴/۴۸۷ فصول فی مسائل الشرب)

د مریض په دوایئ باندې فوت کیدو سره په ډاکټر باندې د تاوان حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د ډاکټرۍ کورس نه دې کړې او نه ورسره سند شته او وړوکې کمپوډر دې نو که د هغه په انجکشن یا دوایئ سره مریض مړ شو یا ئې مرض سخت شو نو آیا دا ډاکټر به شرعا مجرم وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: صالح شاه سکنه مرتضی تحصیل ټانک ډیره وزیرستان .... ۵ رجب ۱۴۰۱ هـ

الجواب: که دا علاج د مریض په اجازت سره شوې وی او دا دوائی هم د هغه مرض وی او باقاعده په استعمال کې راوستلې شوې وی نو په دې معالج باندې به ضمان نه لازمیږی. (جامع الفصولین ۲: ۸۶)(۱) **وهوالموفق**

د قتل شهادت پټونکی امام حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په کلی کې د شپې په تیارۀ کې د قتل واردات وشو، د مسجد امام د واردات ځای ته د ټولو نه اول راورسیدلو او د مقتول روح د هغه په غیږ کې اووتلو چې د هغې ګواهی د مسجد امام د D.S.P مخکښ په انکوائرۍ کې هم ورکړو او دا ئې هم ورته ووېل چې مقتول ماته ویلې وو چې زه فلانی سړی وژلې یم په دې الزام کې دوه کسان ګرفتار شو یو هم هغه او بل یو سړې، چې کله کیس د سیشن جج عدالت ته لاړو نو هلته د مسجد امام داسې ګواهی ورکړه چې زه کله د واردات ځای ته لاړم نو ډیر خلق جمع وو او مقتول مړ شوې وو ماته هغه هیڅ نه دی ویلی او نه ما سره د هغه څه خبرې شوې دی او حال دا چې امام

---

(۱) وفی جامع الفصولین :لیس علی فصّاد وبزّاغ وحجّام ضمان السرایة لولمّ یقطعوا زیادة علیٰ قدر معهود ماذون فیه، فلو شرط علیهم العمل السلیم عن السرایة بطل الشرط إذ لیس فی وسعهم ذلک. (جامع الفصولین ۲/۱۳۳ الفصل الثالث والثلاثون فی أنواع الضمانات الواجبة، ضمان الفصّاد)

صاحب په ډیرو ځایونو کې د اولې خبرې اقرار کړې وو اوس د دې امام څه حکم دې؟ د هغه په اقتدا کې به مونځ جائز وي یا نه؟ د مسجد امام وائی چې که ما د هغه سړی نوم واخستلو کوم چې ماته مقتول اخستلې دې نو سړې به پانسی شوې وي په دې وجه ما شاهدی ورنکړه لهذا تاسو صاحبان مونږ ته فتوی راکړئ.

المستفتی: نامعلوم

الجواب: موجوده حکومت د نظام شرعی نه محروم دې د دې حکومت په قانون کې قصاص نشته د قاتل مقتول وارثان نه شی حواله کولې چې هغوی په خپله مرضئ سره قاتل قتل کړی یا هغه معاف کړی (۱) د دې حکومت په قانون کې قاتل ته د مرگ سزا د تعزیر په طور ورکولې شی کوم چې د حکومت حق دې نو بهر حال دا امام د شهادت د پټولو په وجه گنهگار دې (۲) خو هغه د حکومت حق وهلې دې، د اولیاء مقتول حق حکومت وهی. حکومت د دې امام نه زیات گنهگار دې او بهر حال په داسې امام پسې د دینداره خلقو اقتداء مکروه تحریمی ده او د نورو دپاره د هغوی اقتداء جائز ده سره د کراهت نه. کمافی امامة البحر (۳) وهوالموفق

په قیامت کې د مقتول دپاره د حق تشفی حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې وسیم لره اکرم

---

۱) عن أبی هریرة رضی الله تعالی عنه عن النبی ﷺ قال: من قتل له قتیل فهو بخیر النظرین إما أن یعفو وإما أن یقتل. (جامع الترمذی ۱/۳۹۲، أبواب الدیات، باب ما جاء فی حکم ولی القتیل فی القصاص والعفو)

۲) قال الله تبارک وتعالی: وَلَا تَكْتُمُوا الشَّهَادَةَ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُ آثِمٌ قَلْبُهُ. (سورة البقرة ۲۸۳)

۳) قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی: وینبغی أن یکون محل کراهة الاقتداء بهم عند وجود غیرهم وإلا فلا کراهة کما لا یخفی. (البحر الرائق ۱/۳۴۹ باب الإمامة)

قتل کړو، د وسیم وارثانو اکرم معاف کړو چې د هغې د وجې نه هغه د دنیوی معاملاتو نه آزاد شو خو په قیامت کې به د هغه معامله الله پاک ته پیش کیږی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مدرس خان کمر کله بنون.... ۲۵ رمضان ۱۳۹۸ھ

الجواب: د قواعدو په رڼا کې قاتل بری شو[۱] اوخینو علماء کرامو لیکلې دی چې د قیامت په ورځ باندې به مقتول ته حق تشفی حاصل وی[۲] **وهوالموفق**

په جنګ کې د دشمن د ګاډی د سیزلو او د ډرائیور په قتل باندې د ضمان او قصاص مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د دوه ډلو ترمینځه شخړه شوې وه، په هغې کې د یوې ډلې ګاډې بلې ډلې اوسیزلو او ډرائیور ئې قتل کړو، اولې ډلې په بلې ډلې باندې د ګاډی د سیزلو او د ډرائیور د قتلولو دعوی وکړه، اوس په پورته صورت کې د قصاص یا دیت د شرعی فیصلې نه مونږ خبر کړی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: اهلیان سری کوټ...... ۸ شعبان ۱۴۰۱ھ

الجواب: که دا قتل او ټریکټر، ویګن وغیره سیزل د طرفین نه علاوه د ثالث اشخاصو په شهادت سره ثابت شو نو د دې سوزونکو نه به ضمان او تاوان اخستل کیږی. [۳] او د قتل کونکی سړی نه به قصاص اخستل کیږی.

---

۱) وفی الهندیة: ومن عفا من ورثة المقتول عن القصاص فلا سبیل إلی القصاص.
(فتاوی هندیة ۶/۲۱ کتاب الجنایات، الباب السادس فی الصلح والعفو)

۲) قال العلامة العینی: وحکی عن القاضی إسماعیل وغیره أن قتل القاتل حد واردع لغیره وأما فی الآخرة فالطلب للمقتول قائم لأنه لم یصل إلیه حق وقیل یبقی له حق التشفی.
(عمدة القاری ۱/۱۵۷ کتاب الأیمان، باب علامة الإیمان حب الانصار)

۳) وفی شرح المجلة: إذا اتلف واحد مال غیره الذی فی یده أوفی ید أمینه قصداً أو من غیر قصد یضمن.(شرح المجلة لسلیم رستم باز رحمه الله تعالی ۵۰۸، المادة نمبر ۹۱۲)

(۱) او د قتل عمد په تقدير باندې په مال باندې مصالحت هم صحيح دې که هغه مقدر ديت وی يا د هغې نه کم او زيات وی. (۲) د مقدار تعيين د طرفين په رضامندۍ باندې موقوف دې او د باقاعده شهادت نه کيدو په تقدير باندې به منکر ته د قسم ورکولو فيصله ورکولې شی يعنی د وژلو او سيزلو نه منکر ته به قسم ورکولې شی. (۳) (مأخوذ از شرح المجلة وهنية)

نوټ: د مجرمانو نه علاوه د نورو کسانو نه تاوان اخستل د دې آيت ﴿ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرٰى ﴾ مخالف دی.

د دوه ډلو ترمينځه په شخړه کې د صلح نه پس د جوړ مړی د قصاص او ديت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې په دوه ډلو ترمينځ جنګ وشو او وروستو پکښې صلح هم وشوه خو يو سړی په مرض الموت کې دا وويل چې زه په دې جنګ کې زخمی شوې او که زه مړ شوم نو زما وفات به هم د دې د وجې نه واقع کيږی اګر چې په هغه باندې د زخم وغيره نخښه نشته نه چا زخمی ليدلې دې اوس هغه مړ شوې دې نو شرعی حکم څه دې؟

المستفتی: شير غنی مدرسه دار الارشاد چمن کوئټه.... ۱۴ ربيع الاول... ۱۹۷۴ء

الجواب: په صورت مسئوله کې نه د قصاص جواز شته او نه ده ديت وغيره،

---

۱) وفی الهندية :أما العمد فما تعمد ضربه بسلاح أو مايجرى مجرى السلاح فی تفريق الأجزاء ...وموجب ذلک المأثم والقود.
(فتاوی عالمگيرية ۶/۲ کتاب الجنايات،الباب الأول)

۲) وفی الهندية :واذا اصطلح القاتل وأولياء القتيل على مال سقط القصاص ووجب المال قليلاً كان أو كثيراً.(فتاوی عالمگيرية ۶/۲۰ الباب السادس فی الصلح والعفو)

۳) وفی شرح المجلة :فإذا أظهر المدعی العجز عن إثبات دعواه حلف المدعى عليه بطلبه.(شرح المجلة ۱۰۹۳: المادة نمبر ۱۷۴۲)

لعدم الجرح ولوجود الصلح كما فى الدر المختار: ومن جرح رجلا عمدًا فصار ذات فراش ومات يقتص ....وقدمنا أنه لو عفا المجروح أو الأولياء قبل موته صح(١) فافهم.وهو الموفق

تادیبا او د مور د لاندې د مړ کیدونکی د قتل ترمینځه فرق

سوال: څه فرمائی علماء دین ددې مسئلې په باره کې چې زینب دخپل وړوکی خوی سره په بستره باندې ناسته وه، سحر څه ګوری چې خوی ئې مړ شوې وو نو آیا په زینب باندې به د شریعت له مخې دیت یا کفاره لازمیږی یا نه؟

الجواب: په صورت مذکوره کې شرعا په زینب باندې کفاره واجب نه ده. كما فى فتاوٰى أنقروية ص ١٨٠: رجل ضرب ولده الصغير فى أدب فمات، قال أبوحنيفة رحمه الله تعالى يضمن الدية وعليه الكفارة وقال أبويوسف رحمه الله تعالى لاكفارة عليه ولو ضربه المؤدب بإذن والده لاضمان على المؤدب وعليه الكفارة وقال محمد رحمه الله تعالى لاكفارة عليه وكذلك قال أبويوسف رحمه الله تعالى فى القتل الذى يوجب الدية من جنايات الخانية،(٢) وذكر فى أواخر فصل فى البقار والراعى من إجارة الخانية مفصلًا: والمعلم إذا ضرب صبيًا أو الأستاذ المحترف إذا ضرب التلميذ فمات من ضربه ذلك قال الإمام الفضلى إن ضربه بأمر أبيه أو وصيه ضربًا معتادًا فى الموضع المعتاد لايضمن وإن ضربه ضربا غير معتاد ضمن. الخ(٣)

مجيب: مولوی فضل ودود دواړی جندول ... يكم شعبان ١٤٠٣هـ

د پورته مسائلو په اړه کې ستاسو څه رایه ده؟ **بینواتوجرو**

المستفتی: نامعلوم

---

١) (الدرالمختار ٥/٣٨٦ فصل فيما يوجب القود وما لايوجبه)
٢) (فتاوى خانية على هامش الهندية ٣/٤٤٤ فصل فى القتل الذى يوجب الدية)
٣) (فتاوى خانية على هامش هندية ٢/٣٣٧ فصل فى البقار والراعى)

الجواب: دا مسائل ټولې صحیح دی خو د دې نه دا نه لازمیږی چې د اوده مور په ډډه اوښتلو سره دې په هغې باندې کفاره نه وی

لکونه قتلاً غیر حق (۱) وعلی وجه المباشرة، بخلاف القتل بالتأدیب فإنه قتل بحق، وبخلاف سقوط الصبی من البیت ونحوه لکونه قتلاً لا علی وجه المباشرة. ولو سلم کونه قتلاً بسبب فموجبه وجوب الدیة دون الکفارة (۲) فافهم. وهو الموفق

د کمیونسټو د کېښودل شوې بم د وجې نه د مقتول د شهادت حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د روسیانو جوړ کړې کمیونسټ افغان حکومت په ځمکه کې بم ږدی څوک چې په هغې باندې راشی او د خپو لاندې ئې شی نو انسان هلاکوی او اکثر سر یا لاس الوځوی داسې انسان ته به غسل ورکولې شی او که بغیر د غسل نه به ښخولې شی؟ دلته په محاذونو باندې د مجاهدینو سره داسې پیښې کیږی؟ بینوا توجروا

المستفتی: حاجی محمد دار العلوم نظامیه شمالی وزیرستان ... ۶ صفر ۱۴۰۵ھ

الجواب: چونکې دا قتل، قتل سببی دې په دې وجه به مقتول ته غسل نه شی ورکولې کما فی الهندیة ۱/۱۷۹ قبیل باب السجدات: والأصل أن کل من صار مقتولاً فی قتال ثلاث، أهل الحرب أو البغاة أو قطاع الطریق بمعنی مضاف إلی العدو سواء کان بالمباشرة أو التسبیب کان شهیدًا وکل من صار مقتولاً بمعنی غیر مضاف إلی العدو لا یکون شهیدًا کذا فی المحیط (۳)

نوټ: که مجاهدین هم پټ بمونه ږدی نو د اشتباه د وجې نه به دا حکم نه جاری کیږی. والله اعلم

---

۱) قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی: والخطاء ...وما جری بمجراه والنائم إذا انقلب علی رجل فقتله، الکفارة والدیة علی العاقلة.(البحر الرائق ۸/۲۹۲ کتاب الجنایات)

۲) قال الحصکفی رحمه الله تعالی: والخامس قتل بسبب ...وموجبة الدیة علی العاقلة لا الکفارة.(الدر المختار ۵/۳۷۷ کتاب الجنایات)

۳) (فتاوی هندیة ۱/۱۷۹ قبیل باب السجدات)

په معافئ سره د قصاص د ساقط كيدو مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو قيدي کوم ته چې د مرګ سزا اوروولې شوې وی. او وروستو معلومه شی چې هغه د دې سزا يعنی قصاص قابل نه دی په داسې طريقه چې د مقتول د پلار مير اکبر بيان دې چې زما د خوی قتل سحر وختی شوې دې. د تفتيش دوران کې زما نه تپوس نه دې کړې شوې بهر حال که زما د خوی محمد اقبال قاتل زما ورور شاه ولی الله وی نو بيا هم ما هغه ته دا قتل وبخښلو. د مقتول د مور بيان دې چې زه مسماة شيربانو د خپل خوی محمد اقبال قتل د الله پاک دپاره شاه ولی الله ته بخښم لهذا ملزم دې آزاد کړې شی. د دې نه علاوه د مقتول ورور شير نواز د خپلې مور په بيان باندې دستخط کړې دې لهذا اوس زه غواړم چې په قانون شرعی سره متعلقه حکام خبر کړم چې اوس زما د مجرم کيدلو يا بې ګناه کيدلو مسئله باقی پاتې نه شوه، تاسو په خپل لاس مبارک باندې دستخط کولو سره مهر ولګوئ چې د دې مصيبت نه راته خلاصې ملاؤ شی.

المستفتی: شاه ولی الله ضلع کيملپور ... ۱۳ جنوری ۱۹۷۵ء

الجواب: واضحه دې وی چې قصاص د اولياء مقتول حق دې، هغوی د قصاص اخستلو او معاف کولو مجاز دی، د هغوی په معاف کولو او معافی ورکولو سره مجرم خلاصيږی. دا حکم الله پاک په قرآن کريم کې ذکر کړې. ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِّبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ﴾ (سورة البقرة ۲۲) (۱) وكذا صرح به فى الحديث، رواه الدارمي كما فى المشكوة ۲/۲ ۳۰۲ (۲). وهو الموفق

---

۱) (سورة البقرة ۱۷۸)

۲) وفى المشكوة: عن أبى شريح الخزاعى قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: من أصيب بدم أو خبل فهو بالخيار بين إحدى ثلث بين أن يقتص أو يعفو أو ياخذ العقل.
(مشكوة المصابيح ۲/۳۰۱ کتاب القصاص، الفصل الثانی)

د دواینې په طور ماشوم ته افیون ورکولو سره

د هغه په مړ کیدو باندې د ضمان حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې افیون د دوایئ په طور ورکړې شی او هغه مریض مړشی نو آیا د هغه په ورکونکی باندې به دیت یا ضمان واجب وي یا نه؟ جواب راکړئ. **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا حبیب الله قندهاری حالا ساکن کوئټه .....۱۸ ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: که دا افیون ورکول د ماهرینو د خبرو یا تجربې نه ثابت وی چې په دې سره ماشوم ته صحت ملاویږی نو په داسې حادثه کې ضمان نه واجبیږی خو په دې شرط چې د خوراك په مقدار کې د حد نه تجاوز نه وی کړې شوې، کنه نو دیت او کفاره به واجب وی یدل علیه مافی الهندیة ۶: ۳۷ (۱) وابی داؤد ۲: ۶۳ (۲) والله اعلم

د اعتراف او شهادت نه بغیر قاتل قتلول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې دوه وروڼه دی، د هغوی د ماشوم والی نه خپل مینځ کې تکرار او شخړې راغی، چې کله ځوانان

---

(۱) وفی الهندیة :البزّاع أو الفصّاد أوالحجّام إذا بزغ أو فصد أو حجم وكان بإذن المولی فی العبد أو بإذن الولی فی الصبی وسری إلی النفس فمات فلا ضمان علیهم، وكذلک الختان فی هذا، فهؤلاء لایضمنون السرایة بلا خلاف.

(فتاوی هندیة ۱۶/۳۴،الباب التاسع فی الأمر بالجنایة ومسائل الصبیان)

(۲) وقال الإمام أبوداود رحمه الله تعالی :عن عمرو بن شعیب عن أبیه عن جده أن رسول الله ﷺ قال :من تطبب ولا یعلم منه طب فهو ضامن...قال رسول الله ﷺ أیما طبیب تطبب علی قوم لایعرف له تطبب قبل ذلک فأعنت فهو ضامن.

(سنن أبی داود ۲/۶۳ باب فیمن تطبب ولا یعلم منه طب فأعنت)

شو او د هغوی بچي پيدا شو نو يو د خپل ځوی دپاره کور جوړول غواړي او بل هم د خپل ځوی دپاره، لهذا په دې باندې د دواړو وروڼو ترمينځه شخړه وشوه او په دې سره يو ورور زخمي هم شو ددې نه پس جرګې کيدلې، څو ځله فيصله وکړې شوه خو شخړه کيدله، آخر د شپې يو ورور ووژل شو، وارثانو په هغه باندې دعوی وکړه يعنی د مقتول ورور ځامنو په خپل تره باندې دعوی وکړه خو تره ئې صفا انکار وکړو او د قسم دپاره هم تيار دې اوس مونږ پريشانه يو چې څه وکړو، اوس زمونږ دپاره خپل تره وژل څنګه دي؟ بينواتوجروا

المستفتي: عزيز الرحمان پيښور

الجواب: چونکې دا ملوث سړې نه اعتراف کوی او نه په دې باندې شاهدان شته لهذا دهغه وژل ناجائز او بې قاعدې کار دې (۱) ممکنه ده چې چا د دواړو خاندانونو ترمينځه د دشمنئ د تيزولو دپاره دا اقدام کړې وی. بهر حال په قسم باندې انکار کول اصولی رد دې. وهوالموفق

د قتل د اقرار نه په انکار باندې په دروغه قسم کول

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو هلك د شپې ووژل شو. چې د هغه بدن سحر ملاؤ شو، قاتل مالدار او بااثر وو. چې د هغې د وجې نه پوليسو صحيح تفتيش اونکړې شو. دقاتل ډله د مقتول ورور او پلار له لاړل او ويې منله چې مونږ قتل کړې دې لهذا مونږ دې معاف کړې شو خو مسئله حل نه شوه، او تفتيش کرائمز برانچ ته اوسپارل شو، د مقتول پارټئ د قاتل د قوم نه دوه سپين ږيري منتخب کړل چې که دوی په قرآن کريم

---

۱) وفي الهداية: وإذا صحت الدعوى سأل القاضي المدعى عليه عنها فإن اعترف قضى عليه بها لان الإقرار موجب بنفسه فيأمره بالخروج عنه وإن انكر سأل المدعى البينة لقوله عليه السلام: ألك بينة؟ فقال لا، فقال... و إن أحضرها قضى بها لانتفاء التهمة عنها.
(هداية ۳/۲۰۲ كتاب الدعوى)

باندې قسم خوړلو سره ووائي چې ملزم بې قصور دې نو مونږ به مقدمه واپس واخلو لهذا دوه کسانو په قرآن کریم باندې لاس کېښودلو سره قسم وکړو چې قاتل بې قصور دې حال دا چې قاتل مخکښې منلې وه، د دې نه وروستو ئې هم د ډېرو خلقو مخکښې ویلې دی چې مونږ خپل حج او ایمان ضائع کړو، آیا په دې خلقو باندې جنازه جائز ده، په جماعت کې د دوی پرېښودل او هغوی سره تعلق ساتل څنګه دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: احمد حسین واپډاکالونی اسلام آباد ... ۱۷ اکتوبر ۱۹۸۷ء

الجواب: که واقعی دې کسانو په دروغه باندې قسم کړې وی نو دوی د فساق او فجّارو په ډله کې راغلل. توبه کول په هغوی باندې لازم او ضروری دی (۱) او چونکې په دې دور کې صالحین ډېر کم دی، په زرو کې یو سړې هم صالح نه ملاوېږی، لهذا د دې تعزیری احکاماتو جاری کول نه شی کامیابیدې **وهوالموفق**

د بل قوم مال، بچی او څاروی په انتقام کې هلاکول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ د کلی خلقو د بل کلی په خلقو باندې حمله وکړه او زنانه، ماشومان او څاروو پورې ئې هرڅه هلاک کړل. نو اوس که دا د بل کلی خلق په دې لومړي کلی باندې د بدلې اخستلو دپاره حمله وکړی او د هغوی زنانه او ماشومان قتل کړی نو د دې به څه حکم وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولاناګلاب خان وزیرستانی ... ۱۷ اکتوبر ۱۹۸۷ء

الجواب: بدله به باقاعده په قصاص او خون بها سره اخستلې شی نه په ظلم

---

۱) قال العلامة الحصکفی رحمه الله: وهی غموس تغمسه فی الإثم ثمّ النار وهی کبیره مطلقا لکن إثم الکبائر متفاوت إن حلف علی کاذب عمداً ولوغیر فعل-ویأثم بها فتلزمه التوبة (الدرالمختار ۳/۵۱ کتاب الأیمان، مطلب فی حکم الحلف بغیره تعالی)

او بغاوت سره. (۱) وهوالموفق

ځېل مېنځ کښې د قتل کېدونکي د قصاص او دیت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کښې چې د دوه کسانو د اوبو په نمبر باندې شخړه وه، دواړو يو بل په چاړهٔ باندې وهل شروع کړل خو د يو د لاس نه بیلچه او چاړهٔ و نه چلیدل او د بل د لاس نه چاړه وچلیده او هغه ئې قتل کړو، نو دا قتل عمد دې که خطاء؟ او د دې جرم سزا څه ده؟ بینواتوجروا

المستفتي: فضل احد سکنه سید آباد مردان .... ۱۷ جولائی ۱۴۰۱ھ

الجواب: که دا قاتل مدافعت کونکي وو نو د هغه مقتول وينه ضائع ده، نه په دې کښې ديت واجب دې او نه قصاص (هندية: ۶: ۷) (۲) او که د دې مقتول د دوباره وار کولو اراده نه وه نو د هغه په قاتل باندې قصاص واجب دې او په هر حال کښې دا قتل قتل عمد دې (هندية: ۶: ۷)(۳) فليراجع. وهوالموفق

---

۱) قال العلامةالقرطبى رحمه الله :وإن الولىّ فرض عليه الوقوف عند قاتل وليّه وترک التعدّى على غيره كما كانت العرب تتعدى فتقتل غيرالقاتل وهو معنى قوله عليه السلام إن من أعتى الناس على الله يوم القيامة ثلاثة رجل قتل غير قاتله الخ.
(الجامع لأحكام القرآن ۲/۲۴۰)

۲) وفى الهندية :ومن شهر على المسلمين سيفًا وجب قتله ولاشيئ بقتله وكذلک إذا شهر على رجل سلاحًا فقتله أوقتله غيره دفعًا عنه فلا يجب بقتله شيئ.
(فتاوى هندية ۶/۷،الباب الثانى فيمن يقتل قصاصًا)

۳) وفى الهندية :ومن شهر على رجل سلاحا فضربه وانصرف ثم إن المضروب ضرب الضارب ضربة وقتله فعلى القاتل القصاص وهذا إذا ضربه الأوّل وكف عن الضرب على وجه لايريد ضربه ثانيا كذا فى الكافى.
(فتاوى هندية ۶/۷،الباب الثانى فيمن يقتل قصاصا)

د زنا په حالت کې مور او خور قتلول

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړې کور ته داخل شو او هغه د مور يا خور سره پردې سړې په غير حالت کې وليدو نو که هغه دا سړې يا خور، مور هم دې وخت کې قتل کړل نو آيا په آخرت کې به پرې مواخذه وي يا نه؟ **بينواتوجروا**

الجواب: دا قتل غير شرعي قتل دې، په دې به مواخذه وي. (١) **وهوالموفق**

١: زه قصاص نه اخلم او معافي هم نه ئم کولې په شان الفاظو کې د قصاص ساقط کيدل

٢: د يو سړي په بدل کې د ډيرو کسانو نه او غير شرعي طريقې سره قصاص اخستل

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د مقتول وارثين وائي موږ قصاص هم نه اخلو او معافي هم نه کوو. او وائي چې د قرآن او سنت په رڼا کې فيصله کوو خو د شرعي فيصلې حکم په فديه کې څه دې؟

د قاتل دپاره په ډز کولو سره د قتلولو فيصله، په اوبو کې د ډوبولو فيصله، په لرګي باندې د وهلو فيصله او په مرئ کې د رسئ اچولو سره قتلولو فيصله څنګه ده؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: دهکو باباتحت بهائی...... ۱۰ محرم الحرام ۱۴۰۶هـ

الجواب: د قاتل په قتل عمد سره سزا قصاص دې که دا قتل يو سړې وي يا

---

(١) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: وفي المجتبى الأصل أن كل شخص رأى مسلما يزني يحل له أن يقتله وإنما يمتنع خوفا من أن لا يصدق أنه زنى.

وقال العلامة الشامي رحمه الله: وحاصله أنه يحل ديانة لاقضاء فلا يصدقه القاضي إلا ببينة.

(الدرالمختار مع ردالمحتار ٣/١٩٧ باب التعزير، مطلب يكون التعزير بالقتل)

ډیر کسان وی (شامی)(۱) وغیره(۲) چې کله ولی دا ووائی چې زه قصاص نه اخلم نو قصاص ساقط شو. (۳) او خون بها د طرفین په مرضیٔ سره ثابتیږی او د دې مصالحت په صورت کې د هغه دپاره خاص مقدار نشته. (۴) ۴: بهر حال د قاتل متعلق قصاص او خون بها نه علاوه دا نورې فیصلې غیر اسلامی فیصلې دی. (۵) لحدیث لاقود الا بالسیف (ابن ماجة)(۶) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحصکفی رحمه الله :ویقتل جمع بمفرد إن جرح کل واحد جرحًا مهلکًا...ویقتل فرد بجمع اکتفاء به للباقین.
(الدرالمختار ۳۹۵،۳۹۴/۵باب القود فی ما دون النفس)

۲) فی الهندیة :القصاص واجب بقتل کل محقون الدم علی التابید إذا قتل عمداً ...ولو قتل واحد جماعة محضر أولیاء المقتولین قتل بجماعتهم ولا شیئی لهم غیر ذلک وإذا قتل جماعة واحداً عمدا تقتل الجماعة بالواحد.(فتاوی هندیة ۶/۴،۵،الباب الثانی فیمن یقتل قصاصًا)

۳) فی الولوالجیة :عفا أحدا لورثة تحوّل نصیب البقیة مالاً،لأن الواجب قصاص واحد فإذاعفا أحدا لورثة تعذر علی الباقی استیفاء البعض.
(فتاوی الولوالجیة ۵/۲۹۴کتاب الدیات)

۴) وقال العلامة ابن عابدین :وإذا وجب لرجل علی رجل قصاص فی نفس أوفیما دونه فصالحه علی مال جازقلیلا کان أو کثیراً.
(ردالمحتار ۵/۳۸۲فصل فیما یوجب القود وما لا یوجبه)

۵) وقال العلامة ابن نجیم :وإنما یقتص بالسیف.....لنا ما رواه سفیان من قوله علیه الصلاة والسلام :لا قود إلّا بالسیف وهو نص علی نفی استیفاء القود بغیرالسیف...و المراد بالسیف السلاح هکذا فهمت الصحابة رضی الله عنهم.
(البحر الرائق ۸/۲۹۷باب ما یوجب القصاص وما لایوجبه)

۶) (سنن ابن ماجه ۱۹۶باب لا قود إلّا بالسیف)

د قتل عمد په صورت کې بدل صلح په قاتل باندې واجب دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړي پلار چا مړ کړو، اوس هغه صلح کول غواړي نو آیا وارثان ئې دیت ادا کولې شي؟ بینواتوجروا

المستفتی: محمد شاه پنوی متعلم حقانیه اکوړه خټک... ۱۱۱ اکتوبر ۱۹۸۴ء

الجواب: د مصالحت په صورت کې بدل صلح صرف په قاتل باندې واجب ده او نور رشته دار ورسره کومک کولې شي. هندیة (۶: ۲۵) (۱) وهوالموفق

قاتلینو لره خپله د قتلولو او هغوی ته د روپو ورکولو والا حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو خای کې نامعلوم قتل وشو. په څلورمه ورځ باندې د قاتلانو ترۀ راغلو او وې ویل چې دا قتل مونږ کړې دې بیا مونږ جرګه یعنی دوه زره قبائل راجمع کړل درې وارو قاتلانو د هغوی مخکښ د جرم اقرار وکړو او ویې ویل چې فلانی سړي مونږ ته د دې قتل په بدل کې یو لاکهه روپۍ راکړې وې. د بیان په وخت هم هغه سړې او د هغه ورور موجود وو. مونږ د خلقو مخکښ درې واړه په ډزو باندې قتل کړل. مهربانی وکړئ د اسلامی قانون موافق د هغه دوه کسانو سزا څه ده؟ بینواتوجروا

المستفتی: عبدالقادر دا کخانه بل ټنګ ضلع کوهاټ... ۱۵ جولائی ۱۴۰۱هـ

الجواب: دا فیصله په قومی رواج باندې شوې ده، په اسلامی اصولو باندې

---

(۱) وفی الهندیة :وکل عمد سقط القصاص فیه بشبهة فالدیة فی مال القاتل وکل إرش وجب بالصلح فهو فی مال القاتل (فتاوی هندیة ۶/۲۴،الباب الثامن فی الدیات)

وقال العلامه الحصکفی :واعلم أنه لاتعقل عاقلة جنایة عبد ولاعمد ولامالزم بصلح أی عن دم عمداً أوخطأ اه،فإنه علی القاتل حالا إلّا إذا اجل.

(الدرالمختار ۵/۴۵۵ کتاب المعاقل)

بناء نه ده. لعدم تحقق الدعوى عند الحاكم وهو الشرط كما في رد المحتار والهندية. هم دغه شان په شرط د صدق دا قاتلين د رقم وركونكو قاتلينو د طرف نه مكرهين نه وو.

باقي جواب د ما قبل : واضحه دې وى چې فقهاء كرامو، متكلمينو او د حديث مبارك د تصريح مطابق ﴿من مات ولم يعرف امام زمانه فقد مات ميتة الجاهلية﴾(١) په اهل اسلام باندې امام او بادشاه مقرر كول واجب دى. (٢) په كوم وطن كې چې مسلمان بادشاه نه وى هلته ډير مشكلات راځى مثلا د قتل عمد په صورت كې قصاص اخستل حكم شرعى دې خو د قصاص اخستلو دپاره دعوى شرط ده. كما في ردالمحتار ٥٥٠/٦ قبيل باب القود فيما دون النفس: السابعة لابد في القصاص من الدعوى بخلاف الحد سوى حد القذف(٣) پس بهر حال دا فيصله مسطوره يوه قومى فيصله ده شرعى فيصله نه ده. هم دغه شان د دې قاتلانو په څه روپو باندې د قسم خوړلو الزام ناقابل سماعت دې لفسقهم او نه د قتل يا تعزير سبب دې لعدم ثبوت هذا

---

١) قال العلامة على بن سلطان رحمه الله : (عن عبدالله بن عمر رضى الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول : من مات وليس فى عنقه بيعة مات ميتة جاهلية (رواه مسلم)وهو معنى ما اشتهر على الألسنة وذكره السعد فى شرح العقائد من حديث من مات ولم يعرف إمام زمانه مات ميتة جاهلية.

(مرقاة المفاتيح ٢٠٦/٧كتاب الإمارة والقضاء)

٢) وفى شرح العقائد :ثم الإجماع على أن نصب الإمام واجب.....والمذهب أنه يجب على الخلق سمعاً لقوله عليه الصلاة والسلام : من مات ولم يعرف إمام زمانه فقد مات ميتة الجاهليه ...والمسلمون لابدّلهم من يقوم بتنفيذ احكامهم وإقامة حدودهم.

(شرح العقائد ١١٠،١٠٩)

٣) (الدر المختار على هامش ردّ المحتار ٣٩٠/٥قبيل باب القود فيما دون النفس)

الالزام بالثبوت الشرعي (١) وبالجملة القتل صدر من القاتلين طوعا لا كرها (فافهم) وهوالموفق.

د شهيد حكمي د قاتلانو معلوميدل او د فقهاء كرامو د عباراتو مطلب

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې څو معلوم کسانو مثلا زيد، عمر، بکر او خالد څلورو وارو وليد قتل کړو، په دې څلورو وارو سرو کې دا معلومه نه ده چې هغه د چا په ټوپك يا چاړهٔ سره قتل شوې دې يا که صرف يو ډز ولګيدو او مړ شو. تعين د قاتل کوم چې فقهاء ليکي، اوس په دې صورت خاصه کې تعين موجود دې يا نه او وليد شهيد شوې دې يا نه؟ دويم صورت دا دې چې يو غير معلوم التعداد او غير معلوم الاسامي کسانو وليد قتل کړو نو مقتول وليد شهيد شوې دې يا نه؟ د لاندې عبارتونو څهٔ مطلب دې: إلا أن يعلم أنه قتل بحديدة ظلما أي ويعلم قاتله عينا فتح القدير قيل هذا إذا علم قاتله عينا، عناية، أقول كذا في النهاية وفي شرح الكافي وتاج شريعة والإتقاني، فتح القدير ٤٧٨ مطبع مصر، او صاحب بنايه د دې عبارت مذکوره شرح فرمائيلو سره داسې ليکي: (وهذا فيما اذا علم قاتله الخ بتغير) بناية جزثاني من الجلد الاول ١٤٢.

المستفتي: مولوی محمد يوسف وانډه لکی مروت ضلع بنون

الجواب: په دې دواړو صورتونو کې مقتول شهيد حکمي دې ځکه چې دومره مقدار متعين دې چې دا سړې ظلما قتل شوې دې او د هغه په قاتلينو باندې قصاص واجب دې. (٢) اګر چې په هغوی باندې اثبات نه دې شوې يدل عليه ما في البحروبهذا يعلم أن من قتله اللصوص في بيته ولم يعلم له

---

١) وقال المرغيناني: ومنها الشهادة ببقية الحدود والقصاص تقبل فيها شهادة رجلين...وما سوى ذلک من الحقوق تقبل فيها شهادة رجلين أورجل وامراتين سواء كان الحق مالا أوغير مال.(الهداية ١٥٤/٣ كتاب الشهادة)

٢) قال العلامة المرغيناني: فالعمد ما تعمد ضربه بسلاح أوما أجرى مجرى السلاح..... وموجب ذلک المائم والقود.(الهداية ٥٥٩/٤ كتاب الجنايات)

قاتل معين لعدم وجودهم فإنه لا قسامة ولا دية على أحد لانهما لا يجبان إلا إذا لم يعلم القاتل وهنا قد علم أن قاتله اللصوص وان لم يثبت عليهم لفرارهم فليحفظ هذا فإن الناس عنه غافلون ۲/۲۰۰۔(۱) وهوالموفق

په حدودو او قصاص کې د فاحشې زنانه په ګواهئ باندې فیصله کول د قواعد اسلامیه نه خلاف دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د قتل په یو کیس کې عینی شاهد صرف یوه فاحشه زنانه ده. د قاضی د دې فاحشې زنانه په شاهدئ باندې ملزم ته د مرګ سزا اوروِل څه حکم لري، او آیا دا سزا ورکونکی د الله پاك په نزد په دنیا او آخرت کې بری الذمة کیدې شی؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: اسماعیل شجاع آبادی، عزیز الرحمن جالندهری
مجلس تحفظ ختم نبوت ملتان ... ۱۵ شعبان ۱۴۰۲ھ

الجواب: په حدود او قصاص کې چې هرکله د عادلو ښځو شهادت نامنظور او کالعدم دې نو د یوې فاحشې زنانه شهادت به څنګه منظور او مؤثر وی. قال صاحب الهداية ۳: ۱۵۳ ولا يقبل فيها شهادة النساء لما ذكرنا (۲) وبمعناه في جميع كتب الفقه (۳) بهر حال د داسې مشتبه شهادت د وجې نه د مرګ سزا ورکونکې حاکم (یعنی د قصاص حکم ورکونکې) د قواعد اسلامیه نه منحرف دې. وهوالموفق

د اُجرتی قاتل د وارثانو د اُجرت په بدله کې په څمکه باندې دعوٰی وغیره صحیح نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې بل سړی

---

۱) (البحر الرائق ۲/۲۰۰ کتاب الجنائز، باب الصلاة في الكعبة)

۲) (هداية ۳/۱۵۴ کتاب الشهادة)

۳) وفي الهندية: ومنها الشهادة ببقية الحدود والقصاص تقبل فيها شهادة رجلين ولا تقبل في هذين القسمين شهادة النساء.
(فتاوى عالمگيرية ۳/۴۵۱ كتاب الشهادات)

په دې وینا قتل کړی چې زما دشمن قتل کړه نو دا سړې هغه دشمن قتل کړی دې نه پس دا مقتول له والا قاتل ته لاړ شی او د هغه په طرفداریٔ کې هر وخت پیش کیږی خو د څه اختلاف د وجې نه مقتول له والا قاتل قتل کړی په دې صورت کې د مقتول ثانی وارثان په یوه خاص ځمکه باندې دا دعوی وکړی چې دا هغه مقتول له قاتل (مقتول ثانی) ته د قتل په أجرت (مزدوری) کې ورکړې وه آیا د هغوی دا دعوی صحیح ده یا نه، که صحیح وی نو د دې د ثبوت او اثبات دپاره د کومو څیزونو او دلائلو ضرورت دې **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا مغفور الله مدرس دار العلوم حقانیه ... ۳۰ جولائی ۱۹۹۰ء

الجواب: چونکې دا قتل په أجرت (مزدوری) باندې دې او أجرت (مزدوری) علی القتل ناجائز دې، لهذا نه دعوی صحیح ده او ثبوت او اثبات محتاج دې **کمافی شرح التنویر: ولالاجل المعاصی (هامش ردالمحتار)**(۱)

او دا استیجار د قصاص د وجې نه وی نو بیا هم دا حکم دې

لان القصاص لابد له من الدعوی کمافی شرح التنویر علی هامش رد المحتار.(۲) **وهوالموفق**

...

۱) (الدر المختار ۵/۳۸ کتاب الإجارة، باب الإجارة الفاسدة)

۲) وفی الدر المختار: السابعة لا بد فی القصاص من الدعوی بخلاف الحد.
(الدر المختار ۵/۳۹۰ کتاب الجنایات، قبیل باب القود فیما دون النفس)

كتاب الدية والكفارة

د پاكستانۍ روپۍ په حساب سره د ديت مقدار

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې په قتل خطاء کې د ديت مقدار، د موجوده روپيو په حساب سره څومره جوړېږی؟ **بينوا توجروا**

المستفتی: محمد شاه بنوی، متعلم حقانيه اکوړه ختك... ۱۷ اکتوبر ۱۹۸۴ء

الجواب: په قتل خطاء کې ديت څلويښت روپۍ فی توله په حساب سره يو لاکھ پنځه زره شل روپۍ جوړيږی. (۱) والله اعلم بالصواب

د زنانه ديت، د سړی په مقابله کې د نيم كيدو نه د منكر حكم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې دلته زيد د ښځې د ديت د سړی په مقابله کې د نصف کيدو د اجماعی مسئلې انکار کولو سره د مساوات دعوی کوی او په خپل موقف باندې دلائل پيش کوی، صحيح احاديث ته ضعيف وائی، د اجماع صحابه او اجماع امت منکر دې، د ائمه اسلام موقف ته غلط وائی، او هغوی ته زنديق وائی. د هغه په باره کې شرعی حکم څه دې؟ **بينوا توجروا**

المستفتی: غلام رسول، نئی انارکلی، لاهور ۷ نومبر ۱۹۸۶ء

الجواب: د تفصيل نه همت لرم او نه فرصت، اجمالا عرض دا دې چې يو شاذ موقف خپلولو سره د مومنانو لار پرېښودل مردوديت او الحاد دې. د ائمه اربعه د طرف نه متعين شوې معنی پرېښودلو سره د بلې معنی اختيارولو

---

۱) د ديت مقدار د چاندۍ (سپينو زرو) په حساب سره لس زره درهم دی او ددې نه ۲۶۲۵ تولې جوړيږی، نن سبا ۱۲۰۰ روپۍ د يوې تولې په حساب سره (۲۶۲۵×۱۲۰۰=۳۱۵۰۰۰۰) يو دېرش لاکه او پنځوس زره روپۍ جوړيږی.

حق چاته هم نه دي حاصل. (۱) بله دا چې په مردم شمارئ کې مذکر کم، مؤنث زیات دی نو په بازاری اصول سره به د چا قیمت کم وی. بهرحال دا خلق ښځې محبوبات جوړولو سره قیمت لګوی که دې خلقو د ښځو حیثیت ته نظر کولې او یا ئې د هغوی د ذمه داریانو د مذکر د ذمه دارئ سره موازنه کولې نو په دې تجدد کې به نه پریوتلې. **وهوالموفق**

قاتله مور د خوی په قتل کې د دیت نه مستثنی نه ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د ځلوېښتو ورځو ماشوم د خپلې مور نه لاندې کیدو سره د خوب په حالت کې مړ شو آیا په دې صورت کې دا مور د قصاص، دیت وغیره نه مستثنی ده یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: سید ولی شاه. متعلم جامعه فاروقیه کراچی... ۲۹ ذی الحجة ۱۴۰۴ھ

الجواب: په صورت مسئوله کې د مور په عاقله باندې دیت واجب دې، مور د دې حکم نه مستثنی نه ده. که مور مستثنی وې نو فقهاء کرامو به ضرور د دې صراحت کړې وې (۲) لکه چې د قصاص استثناء ئې کړې ده. (۳) خو دیت

---

(۱) قال العلامة ظفر أحمد عثمانی: وحاصل ما استفاد من حکم الإلحاد والتأویل الباطل ماذکره ختام المحدثین شیخ مشائخنا الشاه عبدالعزیز بن الشاه ولی الله الدهلوی قدّس سرّه من ان التاویل الباطل المعبر عنه فی القرآن بالإلحاد هو ماخالف النصوص وما علیه الامة وهو قسمان: الأول: ماخالف النصوص القطعیة المتواترة أو الإجماع القطعی فهو کفر بلاریب. والثانی: ماخالف النصوص الظنیة القریبة بالیقین أو الإجماع العرفی فهو ضلال وفسق دون الکفر.

(أحکام القرآن ۴/۱۴۴، بحث حکم الإلحاد والتأویل الباطل)

(۲) وفی مجمع الانهر: وأما ما أجری مجری الخطاء کنائم انقلب علی آخر فقتله وموجبها الکفارة والدیة علی العاقلة. (مجمع الانهر فی شرح ملتقی الأبحر ۴/۳۱۲، کتاب الجنایات)

(۳) وفی الهندیة: ولا یقتل الرجل بابنه.

(فتاوی عالمگیریة ۶/۴، کتاب الجنایات، الباب الثانی)

يو وارث هم نه اخلي، او كفاره يعنى دوه مياشتي پرلپسي روژې نيولو كې مخلص نه دي وما فى موانع الدر المختار من سقوط الكفارة فغلط من النساخ(١) وهوواضح وهوالموفق

په عمداً قتل كونكى باندې د كفارې حكم

سوال: څه فرمائى علماء دين د دې مسئلې په باره كې چې د زيد او بكر ترمينځ شخړه پيښه شوه او زيد مجرم دې، بكر چې هغه ووهلو نو د زيد د بدلې اخستلو دپاره د هغه په عدم موجودګئ كې په قوميت باندې څو كسانو رچه په هغوى كې د زيد وارثان نه وو، په بكر حمله وكړه او بكر لره د زخمى كولو نه پس بكر حمله كونكى هم زخمى كړل چې په هغوى كې يو وفات هم شو بكر حمله د قتل په اراده نه وه كړې بلكه د ځان د بچ كولو دپاره ئې كړې وه نو قاتل (بكر) د علاقې د رواج مطابق ديت ادا كړو او زيد (د مقتول) وارثانو د قاتل (بكر) نه راضى كيدو سره هغه معاف كړو نو اوس په دې قاتل باندې متواتر دوه مياشتې روژې شته يا نه او قاتل ته به په آخرت كې عذاب وى يا نه او د قاتل څه حكم دى؟ **بينواتوجروا**

المستفتى: حافظ عبدالرحمٰن، لكى مروت ... ۵ جون ۱۹۷۱ء

الجواب: دا قتل عمد دى په دې كې كفاره واجب نه ده (٢) او كه زيد د شريعت په نزد مجرم او مباح الدم وى نو د هغه قتل او د هغه د مدافعينو قتل موجب قصاص وديت نه دې (٣) بهر حال د جرم د نوعيت او كيفيت باندې د

---

١) قال العلامة الحصكفى :والقتل اللموجب للقود أوالكفارة وان سقطا بحرمة الأبوة على مامر. (الدرالمختار ۵ / ۵۴۱ كتاب الفرائض، موانع الارث)

٢) وفى الهندية : اما العمد فما تعمد ضربه بالسلاح ...وموجب ذلک المائم والقود الا ان يعفو الأولياء اويصالحوا ولا كفارة فيه عندنا كذا فى الهداية. (فتاوى هندية ٦/٢ كتاب الجنايات ،الباب الأول فى تعريف الجناية)

٣) قال العلامة الزيلعى رحمه الله :ومن شهر ...[بقيه حاشيه بر صفحه آئنده

خبریدلو نه مخکښ جزوی حکم خلاف قاعده امر دې والله اعلم بالصواب

په ډرائیور باندې د دیت د معافئ نه پس کفاره ورکول ضروری دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی ګاډې چلولو. د سړک ترمینځه ناڅاپه یو ماشوم راښکاره شو او ګاډی سره په جنګیدلو باندې زخمی کیدو سره مړ شو، د ماشوم مور او پلار ډرائیور معاف کړو او د دیت اخستلو نه ئې انکار وکړو. نو ایا اوس په ډرائیور باندې بل څه لازم دی یا نه؟ بینواتوجروا

المستفتی: حافظ احتشام الحق، مدرس جامعه اشرفیه پیښور ۲۷ جمادی الاول ۱۴۰۸ھ

الجواب: په دې ډرائیور باندې کفاره ورکول مثلا دوه میاشتې متواتر روژې نیول ضروری دی (۱) والله اعلم

د هوائی فائرنګ په وجه په قاتل باندې کفاره او دیت لازم دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو سړی نه د

... بقیه ازحاشیه گذشته] علی المسلمین سیفا...وجب قتله ولا شیء بقتله لقوله علیه الصلوة و السلام ومن شهر علی المسلمین سیفا فقد أبطل دمه ولان دفع الضرر واجب فوجب علیهم قتله إذا لم یمکن دفعه إلابه ولا یجب علی القاتل شیء لأنه صار باغیا بذلک۔

(تبیین الحقائق ۶/۱۰ کتاب الجنایات، باب مایوجب القود ومالا یوجبه)

(۱) قال الله تبارک وتعالی: وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰ أَهْلِهِ إِلَّا أَن يَصَّدَّقُوا فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا۔ (سورة النساء آیت ۹۲)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله: وموجبه ای موجب هذا النوع من الفعل وهو الخطأ وما جری مجراه الکفارة والدیة علی العاقلة۔

(الدر المختار ۵/۳۷۷ کتاب الجنایات)

وادهٔ دوران کې د کلاشن کوپ په هوائی فائرنګ سره دوه نابالغ ماشومان هلاك شو. په دې کې د دیت او کفارې څه حکم دی؟ بینواتوجروا

المستفتي: مولانا فتح الرحمان فوجي شوګر ملز.... کهوسکی.... ۱ مئی ۱۹۸۸ء

الجواب: په ظاهره کې دا قتل خطاء دی په دې کې کفاره یعنی دوه میاشتې روژې نیول فرض دی او که د مقتول وارثان د دیت مطالبه وکړی نو باقاعده د هر مقتول دیت، کوم چې د شپیتهٔ روپۍ فی توله حساب سره (۱۵۷۵۰۰) روپۍ دی، ادا کولې شی. (۱) وهوالموفق

په واده کې د دواړو طرفونو نه ډزو سره د نامعلوم قاتل نه د مقتول د دیت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې په مهاجر کیمپ کې یو قوم د بل قوم دپاره د ناوې راوړلو په موقع باندې حاضره شوه. د عرف او عادت مطابق دواړو طرفونو ته ډزې وشوې، هغه وخت څلور سړی په غلطۍ سره زخمی شو، په هغې کې یو وفات شو. په دې کې د قوم اختلاف شو هر یو په بل باندې دعوی کول شروع کړل چې قتل ستا د طرف نه شوی دی او بل قوم د دوی برعکس خبره کوی، اولیاء مقتول او زخمی حضرات وائی چې قاتل مونږ ته معلوم نه شو خو دومره راته معلومه ده چې تکلیف ستاسو د طرف نه رارسیدلې دی. په دې صورت کې قصاص یا دیت د چا په ذمه دی؟ بینوا توجروا(جواب په عربۍ یا فارسۍ کې راکړی)

المستفتي: سحر ګل مهاجر... ۵ جولائی ۱۴۰۱هـ

الجواب: درصورت مسئوله بر هیچ کس قصاص یا دیت واجب نیست البته مصالحت بر مال که به ذمه مدعی علیهم عائد شود ممنوع نیست،ونظیره مافی الهندیة۶/۸۵: وإذا التقی قوم بالسیوف فاجلوا عن قتیل فهو علی أهل

---

(۱) قال العلامة شیخی زاده: وأما خطأ وهوفی القصد...أو فی الفعل بأن یرمی غرضًا آدمیًا ... وموجبهما الکفارة والدیة علی العاقلة.(مجمع الانهر ۴/۳۱۲، کتاب الجنایات)

المحلة إلا أن يدعي أولياءه على أولئك أو على رجل منهم بعينه فلم يكن على أهل المحلة ولا على أولئك شيئ حتى يقيموا البينة كذا في الكافي. (١) وقال الله بارك وتعالى: وَالصُّلۡحُ خَيۡرٌ. (٢) والله أعلم بالصواب

په کاڼي باندې وز کيدو او د هغې په صورت کې د راغورځيدونکي کاڼي په وجه باندې د زخمي کيدونکو کسانو د ضمان مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د دوه کسانو د وادۀ په موقع باندې د ډزو دوران کې يو نامعلوم سړي ګولۍ په کمر باندې ولګيده، د کاڼي نه يوه ټکړه جدا شوه او ګاډي کې ناستې زنانه پرې په سرونو باندې ولګيدې چې د هغې د وجې نه ئې په سرونو باندې سخت زخم راغلو او په هسپتال کې د علاج نه پس صحت مندې شوې اوس سوال دا دې چې د دې زنانو په زخمي کيدو او د علاج وغيره د اخراجاتو ذمه داری د شريعت په رڼا کې په چا باندې ده؟ بينواتوجروا

المستفتي: بهادرخان، صده کرم ايجنسي... ٢ ستمبر ١٩٨٥ء

الجواب: چونکې ډز کول بذات خود مباح دې خو د ناقابل احتراز فساد په وخت، نه د قابل احتراز فساد په وخت، پس په دې ډزو کونکو باندې باقاعده ضمان واجب دې (٣) وهوالموفق

---

١) (فتاوی هندية ٦/٧٨، الباب الخامس عشر في القسامة)

٢) (سورة النساء آيت ١٢٨)

٣) و في شرح المجلة: المتسبب ماكان فعله مفضياً الى الحكم كالتلف مثلاً من غير تأثير وانما الموثر هو العلة المتوسطة لكن تلك العلة قد لا يصح إضافة الحكم إليها فيضاف إلى السبب فعند ذلک ينظر: ان كان نحوالتلف حاصلاً عن فعل المتسبب بغير حق... يضمن ما تلف فيه وإن لم يتعمد، لأنه متعمد بنفس الفعل وان حاصلاً عن فعل مباح له في ذاته إلّا أنه تعمد بقصد إيجاد العلة الموثرة التي حصل منه التلف ولا تصلح لاضافة الحكم إليهافيضمن.

(شرح المجلة ١/٢٥٦ المادة ٩٣، المتسبب لايضمن إلّابالتعمد)

د مور په بچو باندې د سپږو دوائی اچولو سره د هغوی په مرګ باندې د دیت حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی د سپږو دوائی کور ته راوړه، ښځې د ماشومانو په سرونو باندې د سپږو وژلو په غرض سره استعمال کړې چې په هغې سره هغه ماشومان مړه شو درې بچې ئې خپل وو او دوه ئې وریرونه وو، د ډاکټر صاحب د قول مطابق به هغوی په سرونو باندې لاس راښکلې وی او بیا به ئې هغه په خوله کې وهلې وی چې په هغې سره د هغوی مړه کیدل لازمی وو اوس آیا په دې ښځه باندې دیت شرعی یا کفاره وغیره واجب ده یا نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: عبدالحی حقانی، بام خیل صوابی.... ۱۳ ربیع الاول ۱۳۹۶ھ

الجواب: د هغوی د قتل متعلق به دا وویل شی چې دې ماشومانو د ناپوهی د وجې نه خپل ځان وژلې دې لهذا په دې مخصوصې زنانه باندې به دیت یا کفاره واجب نه وی کما فی رد المحتار ۵/۴۸۷ :سقاه سماً حتی مات إن دفعه إلیه حتی أکله ولم یعلم به فمات لاقصاص ولادیة لکنه یحبس ویعزر، قلت التعزیر إنما یکون عند القصد ولا قصد ههنا، وقلت أیضا لایکون هذا القتل سببا وإلا لوجب فیه الدیة فافهم فلا وجه لإیجاب الکفارة أیضا.(۱) وهو الموفق

د درمختار عبارت کې د والدین نه سقوط کفاره د کاتب غلطی ده

سوال: مایقول العلماء فی هذه المسئلة انه اذا مات الولد تحت امه فی النوم هل تجب الکفارة علی الام ام لا؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی نور دت، معلم دینیات بحرین (سوات)

الجواب: سره د تتبع دا جزئیه ملاؤ نه شوه لهذا د قواعدو په بنیاد جواب

(۱) (الدر المختار ۵/۳۸۵ کتاب الجنایات، فصل فیما یوجب القود ومالا یوجبه)

ورکولې شي. د قواعدو تقاضه دا ده چې د مور حکم هم د نورو کسانو په شان دې يعنى په هغې باندې ديت واجب دې ځکه چې فقهاء کرامو د شبيه بالخطاء مثال ليکلې دې: كنائم انقلب على رجل فقتله او د دې نه ئې د مور يا پلار استثناء نه ده کړې (١) قلت: وما فى الدرالمختار فى كتاب الفرائض: والقتل الموجب للقود أو الكفارة وإن سقطا بحرمة الأبوة على ما مر أى فى كتاب الجنايات، (ردالمحتار) (٢) فغلط من الكاتب لأن ما مرهوسقوط القتل دون الكفارة فلا يدل على سقوط الدية فافهم. ويويده ما فى ردالمحتار ٣٧٩/٥: وإن سقطت ميتا بعلاج أوشرب دواء تتعمد به الاسقاط أما إذا ألقته ميتا ثم مات فعلى عاقلتها الدية فى ثلث سنين إن كانت لها عاقلة وإلافغى مالها وعليها الكفارة ولا ترث عنه شيئا (٣) انتهى، وجه التائيد ان هذا القتل ليس بعمده ولا شبهه ولا فرق بين الخطأ وشبهه فى الواجب. (٤) فقط

په اولياء مقتول کې د يو په معافئ سره ساقط کيدو سره ديت واجبيږی

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې مسمى کرم خيل اونبي شير قتل کړو، ملزم کرم ته د مرګ سزا واورولې شوه د دې نه پس په سپريم کورټ کې د نظر ثانى په وخت د مقتول مشر خوی او بنځې قاتل معاف کړو خو د مقتول مور قاتل نه معاف کوی لهذا تاسو ته درخواست دې چې د

---

١) و فى مجمع الانهر: وأما ما أجرى مجرى الخطاء كنائم انقلب على آخر فقتله وموجبهما الكفارة والدية على العاقلة. (مجمع الانهر فى شرح ملتقى الابحر ٣١٢/٤، كتاب الجنايات)

٢) (الدرالمختار ٥٤١/٥، كتاب الفرائض، موانع الإرث)

٣) (ردالمحتار ٣٠٥/٥، كتاب الحظر والإباحة، قبيل كتاب إحياء الموات)

٤) قال الدكتور وهبة الزحيلى رحمه الله: وكذلک عقوبات القتل شبه الخطاء عند الحنفية هى مثل عقوبات الخطاء (الكفارة والدية على العاقلة وحرمان القتل من الميراث والوصية. (الفقه الإسلامى وأدلته ٥٧٣٤/٧، المبحث الرابع: القتل الخطاء وعقوبته)

تولو نه افضل حق د کوم وارث وی؟ د مور، ښځې، لور یا خوی؟ یعنی په دوی کې څوك زیات حق لری؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: نامعلوم........ ۲ ربیع الثانی ۱۴۰۱ھ

الجواب: د دې مقتول په دې څلورو وارو وارثانو کې که یو هم معافی وکړی نو د نورو وارثانو د قصاص حق ساقطیږی او د خون بها (دیت) حقدار به شی

لما فی الهندیة ۲۲/۶: إن صالح أحد الشركاء من نصيبه على عوض أو عفا سقط حق الباقين عن القصاص وكان لهم نصيبهم من الدية ولا يجب للعافي شيئ من المال (١)۔ وهو الموفق

د ماشوم د مور نه لاندې کېدو سره دیت او کفاره لازم ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یوه ښځې سره وړه ماشومه اوده وه، د خوب نه په بیداریدلو باندې هغه ماشومه مړه بیا موندلې شوه. دا احتمال دی چې مور پرې ورکول او دې دوران کې اوده شوې ده او د مور د سینې زورولو د وجې نه مړه شوې ده. په دې صورت کې کفاره د قتل خطاء شته یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: مولانا محمد سردار، مدرس مدرسه تل... ۶ مارچ ۱۹۸۴ء

الجواب: تولو فقهاء کرامو د قتل خطاء قائم مقام قتل ته د کفارې سبب

---

١) (فتاوی عالمگیریة ۶/۱۲، الباب السادس فی الصلح والعفو)

وقال العلامة محمد كامل: سئلت عمن عفا من الشركاء عن القصاص هل يسقط بعفوه المذكور حق الباقين فی القصاص؟ فالجواب نعم، قال الكفوی نقلاً عن البداية ما نصه: وإذا عفا أحد الشركاء عن الدم...سقط حق الباقين من القصاص وكان لهم نصيبهم من الدية.

(فتاوی كاملية ۲۴۹، كتاب الجنايات)

ويلې دي او چا هم مور او پلار د دې نه نه دی مستثنی کړي (۱) بخلاف القصاص (۲) بله دا چې فقهاء کرامو په مور باندې د اسقاط حمل د وجې نه کفاره لازمه کړې ده چې کله ماشوم ژوندې پيدا کيدلو سره مړ شی كما في ردالمحتار ۵: ۳۷۹ (۳) قبيل احياء الموات،او په شرح التنوير کې په موانع ارث کې دا عبارت (وان سقط بحرمة الابوة) د کاتب غلطی ده بدليل قوله على مامرفليراجع الى ردالمحتار ۵: ۶۷۱ (۴) وهوالموفق

د مور نه د ماشوم د لاندې کيدو شک او احتمال سره د ديت او کفارې مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د يوې زنانه سره يوه واقعه پيښه شوې ده. هغه داسې چې د شپې د اوده کيدو په وخت د هغې د څلور کالو ماشوم چې ژوندي او صحت مند وو خو چې سحر هغه راپاڅيده نو هغه ماشوم مړ شوې وو چې د هغه د پوزې نه وينه بهيدلې وه. لهذا داسې معلوميږي چې د مور د لاندې کولو د وجې نه دا ماشوم مړ شوې دې تاسو مونږ ته بيان کړئ چې په هغې باندې کفاره شته يا نه؟ او که وی نو څومره؟ **بينواتوجروا**

المستفتی : سيف الرحمٰن. لوئر ماډل سکول باتړئ ... ۱۶ دسمبر ۱۹۷۲ء

---

۱) وفى مجمع الأنهر :وأماما أجرى مجرى الخطاء كنائم انقلب على آخر فقتله وموجبهما الكفارة والدية على العاقلة.(مجمع الأنهر فى شرح ملتقى الأبحر ۴/۳۱۲، كتاب الجنايات)

۲) وفى الهندية ولا يقتل الرجل بابنه.

(فتاوى هندية ۶/۴ كتاب الجنايات ،الباب الثانى)

۳) قال العلامة ابن عابدين :وأما إذا ألقته حيا ثم مات فعلى عاقلتها الدية فى ثلث سنين إن كانت لها عاقلة وإلا ففى مالها وعليها الكفارة.

(رد المحتار ۵/۳۰۵ كتاب الحظر والإباحة ،قبيل كتاب إحياء الموات)

۴) قال العلامة الحصكفى رحمه الله :والقتل الموجب للقود أو الكفارة وإن سقطا بحرمة الأبوة على ما مر.

(الدر المختار ۵/۵۴۱ كتاب الفرائض ،موانع ارث)

الجواب: واضحه دې وی چې په صورت مسئوله کې یقیني طور معلومه نه ده چې دا ماشوم د مور نه لاندې کیدو د وجې نه قتل شوې دی لهذا په دې کې د کفارې یا دیت حکم ورکول مناسب نه دی لان الحکم لا یثبت بالشك والاحتمال (١) او که بالفرض ومنلې شی چې دا ماشوم د خپلې مور نه لاندې کیدو سره قتل شوې دې نو په دې کې به دیت او کفاره ورکول وی وفی الدر المختار: والرابع ماجری مجراه (مجری الخطاء) کنائم انقلب علی رجل فقتله وموجبه الکفارة والدیة علی العاقلة۔انتهی (٢) بحذف یسیر،قلت ولم یستثنوا عنه الوالدة فدل علی أنه لایختلف الحکم فی الوالدة،نعم! استثنوا فی العمد (٣) لأن حکم الولاد کان مغائرا عن غیره، وقلت أیضا أن ماروی مافی بعض نسخ الدرالمختار فی الموانع :والقتل الموجب للقود أو الکفارة وإن سقطا بحرمة الأبوة علی مامر (٤) فهوسبق قلم لأن المار هوسقوط القود فقط۔وهوالموفق

په ټکر کې د مړ کیدونکی موټر سائیکل باندې سور د دیت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یو موټر سائیکل او ټرک ترمینځه ټکر وشی او قصور هم د موټر سائیکل والاد طرف نه وی، موټر سائیکل والامړ شو اوس به تاوان خالص په ډرائیور باندې وی یا که سورلئ به هم په دې تاوان کې شریکولې شی، ورسره دا چې که ټرک ډک وی

---

١) وفی شرح المجلة :المشروط بشرط إذا وقع الشک فی وجود شرطه لایثبت لأن ما لیس ثابتا بیقین لا یثبت بالشک کما أن الثابت بیقین لا یزول بالشک۔
(شرح المجلة ١/١٨، المادة ٤،الیقین لایزول بالشک)
٢) (الدرالمختار ٥/٣٧٧ کتاب الجنایات)
٣) وفی الهندیة : ولایقتل الرجل بابنه...و کذا الوالدة والجدة۔
(فتاوی هندیة ٤/٦ کتاب الجنایات،الباب الثانی فیمن یقتل قصاصا ومن لا یقتل)
٤) (الدرالمختار ٥/٥٤١ کتاب الفرائض ،موانع الإرث)

نو څه مسئله ده او که خالی وی نو څه مسئله ده؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: وزیر محمد صاحب.... ۱ فروری ۱۹۸۷ء

الجواب: دا ټرک صرف د ډرائیور دپاره د قتل آله ده، د سامان او سورلو په دې کې څه خاص مداخلت نشته، پس دیت او کفاره به صرف د ډرائیور د طرف نه ادا کولې شی (۱) واللهاعلم بالصواب

د مور او پلار ترمینځه د اودهٔ شوی ماشوم په مرګ باندې د کفارې او دیت حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ښځه او خاوند دواړه په یو کټ کې اودهٔ وی او ورسره ماشوم بچې هم وی چې کله هغه بیدار شی نو هغه مړ شوې وی او د لاندې ګیریدلو د وجې نه مړ شوې وی نو په دې صورت کې به د کفارې او دیت څه حکم وی؟ او که غالب ګمان په یو وی نو بیا به څهٔ حکم وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم متعلم ۴ محرم الحرام ۱۴۰۱ھ

الجواب: داقتل چې د کوم کس یا ډلې نه شوې دې نو په هغوی باندې دیت او کفاره لازمه ده(۲) بدلیل عدم استثناء الوالدین من هذا الموجب بخلاف القصاص (۳) وأما فی شرح التنویر فی مبحث موانع الإرث من سقوط القصاص والکفارة عنهما (۴)

---

۱) فی الهندیة :ولو اصطدمت السفینتان إن کان بفعل الراکب والملاح ضمن ولا ضمان فی الأنفس-(فتاوی هندیة ۶/۸۸، کتاب الجنایات،الباب السابع عشر فی المتفرقات)

۲) فی الهندیة :وأما ماجری مجری الخطاء فهو مثل النائم ینقلب علی رجل فیقتله... وحکمه حکم الخطاء من سقوط القصاص ووجوب الدیة والکفارة-
(فتاوی عالمگیریة ۶/۳کتاب الجنایات، الباب الأول)

۳) قال العلامة الحصکفی :ویقتل الفرع بأصله وإن علا، لا بعکسه لقوله ﷺ لا یقاد الوالد بولده-(رد المحتار ۵/۳۸۰ کتاب الجنایات)

۴) قال العلامة الحصکفی :والقتل الموجب للقود أوالکفارة وإن سقطا بحرمة الأبوة علی مامر- (الدرالمختار ۵/۵۴۱ کتاب الفرائض ،موانع الإرث)

فزلة من قلم الكاتب بدليل العبارة الآتية بعدها۔ وهوالموفق

د اولياؤ په ديت نه اخستلو سره کفاره نه ساقطيږي

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يوه زنانه په خوب کې خپل بچې د خپلې ډډې د لاندې راوستلو سره مړ کړي نو هغه به ګنهګاره وي يا نه؟ که ګنهګاره وي نو د دې څه کفاره ده او آيا د ديت په نه اخستلو سره کفاره ساقطيږي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا رشيد احمد، وروکې لاهور... ۱۰ جنوري ۱۹۸۹ء

الجواب: په صورت مسئوله کې ديت او کفاره واجب ده (۱) خو چې اولياء ديت نه اخلي نو هغوی د دې مجاز دی او کفاره د الله پاك حق دې کومه چې ناقابل عفو ده (۲) أما وجوب الدية فلعدم استثناء الفقهاء إياها بخلاف القصاص (۳) وأما الكفارة فواضحة وأما ما في شرح التنوير: والقتل الموجب للقود أو الكفارة وإن سقطا بحرمة الأبوة على ما مر ٥/٦٧١ (٤) فزلة قلم لأن المار هوسقوط الدية۔ وهوالموفق

---

۱) وفي مجمع الأنهر: وأما ما أجرى مجرى الخطاء كنائم انقلب على آخر فقتله و موجبهما الكفارة والدية على العاقلة۔
(مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ٤/٣١٢ كتاب الجنايات)

۲) وقال العلامة القرطبي: قوله تعالى (إِلَّا أَن يَصَّدَّقُوا) يعني إلّا أن يبرى الأولياء ورثة المقتول (القاتلين) مما أوجب الله لهم من الدية عليهم... وأما الكفارة التي هي لله تعالى فلا تسقط بإبرائهم... وإنما تسقط الدية التي هي حق لهم۔
(تفسير القرطبي ٥/٣٠٧ سورة النساء آيت ٩٢)

۳) وفي الهندية: ولا يقتل الرجل بابنه۔
(فتاوى هندية ٦/٤ كتاب الجنايات، الباب الثاني)
(فتاوى هندية ٦/٤ كتاب الفرائض، موانع الإرث)

٤) (الدر المختار ٥/٥٤١، كتاب الفرائض، موانع الإرث)

په کوتکونو (لښتو) سره د وهلی شوی مقتول د دیت مسئله

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړي نورو سړو په کوتکو سره وهلو باندې سخت زخمي کړې او په ګردو باندې ئې په کانړو وهلې وو چې د هغې د وجې نه ئې متيازې هم بندې شوې او په دې باندې څوك مضبوط ګواه نه وو د هغه خپل وصيت دا دې چې دا واردات په دغه څيزونو سره شوې دې، دا سړې د وهلو خوړلو نه پس دوه مياشتې ژوندې وو. دا دوه مياشتې ئې په دې بيمارۍ کې تيرې کړې، هيڅ کاروبار ئې اونکړو د هغه سر زخمي شو د کوم طرف نه چې په سر لګيدلې وو هغه طرف نه ئې وينه جاري وه. د مرګه پورې د هغه سر يو لويشت زخمي وو، په دې خبره باندې دهغه د کور نه علاوه نور څوك هم ګواه نشته. لهذا د مسئلې جواب راکولو سره د شکريه موقع راکړئ. بينواتوجروا

المستفتي: ناظم شير على، چمن کوئټه.... ۲۶ مئ ۱۹۷۵ء

الجواب: چونکې په زخمونو کې نتيجې ته کتلې شي نه حال ته. كما فى الهداية ۵۹۷/۴: **الجراحات يعتبر فيها مآلها لا حالها لأن حكمها فى الحال غير معلوم فلعلها تسرى إلى النفس فيظهر أنه قتل وإنما يستقر الأمر بالبرء**(۱) **فافهم**. پس د دې اصل په بنياد باندې به دا قتل، قتل شبه عمد وي په دې کې به ديت واجب وي (۲) خو د شهادت د عدم اقامت د وجې نه مدعى عليه دپاره باقاعده قسم خوړل ضروري دي. کنه نو د ديت ورکولو نه به ئې خلاصې نه وي. **لحديث البينة على المدعى واليمين على من أنكر**.(۳) **وهو الموفق**

---

۱) (الهداية ۴/۵۹۷، كتاب الجنايات، فصل الشجاج)

۲) وفى مجمع الأنهر :وأما شبه عمد وهو ضربه أى القتل قصدا بغير ماذكر فى العمد مما لا يفرق عند الإمام خلافاً لغيره لأن شبه العمد عند الغير ضرب القاتل بآلة لايقتل مثلها غالباً كالعصا والحجر الصغير والسوط واليد وموجبه الإثم والكفارة والدية.
(مجمع الأنهر ۴/۳۱۰ كتاب الجنايات)

۳) (جامع الترمذى ۱/۳۸۱، أبواب الأحكام، باب ماجاء فى ان البينة على المدعى الخ)

په ګاډي باندې د هلك په وهلو سره د دیت او كفارې حكم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو هلك د موټر مخې لره راغلو، ډرائیورئې د بچ کولو کوشش ډیر وکړو خو هغه پرې ولګیدو او مړشو اوس په ډرائیور باندې کفاره شته یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی محمد شریف، ټل، کوهاټ... ۱۲ جولائی ۱۹۷۹ء

الجواب: په صورت مسئوله کې دیت او کفاره واجب ده (شامی) (۱) **وهوالموفق**

قاتلین لره قتلولو کې د غیر قاتل په قتلولو باندې د قصاص او دیت مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې علی خان، شمل خان او حیا خان درې واړه وروڼه وو؟ بیا په هغوی کې شمل خان په نهر کې مړ بیا موندلې شو او په هغه باندې د زخم هیڅ اثر هم نه وو نو د هغه وارثانو په چا باندې هم دعوی ونکړه. بیا د خلقو په شیطانی باندې د هغه وروڼو میراجان او انور حبیب قتل کړو او هغوی سره ئې یو غیر سړې هم قتل کړو. په دې ګمان چې دا د میرا جان ورور دې خو د قتلولو نه پس معلومه شوه چې دا د هغوی ورور نه وو او دا درې واړه ئې په دې ګمان باندې قتل کړل چې هغوی زمونږ ورور قتل کړې حال دا چې نه په دې باندې ګواهان موجود دی او نه هغوی خپله اقرار کړې دې. اوس د دې مقتولینو وارثان تپوس کوی چې مونږ د قصاص حق لرو یا نه؟ او علی خان او حیاء خان وائی چې دا هلك زمونږ خطا کې قتل شوې دې او هغه دغه وخت د میراجان سره په کټ کې ناست وو او په دې میراجان باندې د قاتل کیدو الزام وو.

المستفتی: شیراجان... پیښور... ۲۷ نومبر ۱۹۸۵ء

الجواب: اګر دریں صورت ایں قاتلان ارادهٔ قتل دشمنان کرده بودندلیکن

---

(۱) قال العلامة الحصكفی رحمه الله: وموجبه أی موجب هذا النوع من الفعل وهو الخطاء ماجری مجراه الكفارة والدية علی العاقلة. (الدر المختار ۵/۳۷۷ كتاب الجنايات)

این کودک خطاء کشته شد -پس درین صورت دیت وخون بها لازم است (۱) واگر اراده قتل این کودک بودند باین خیال که این کودک برادر این دشمنان است پس بر قاتلش قصاص واجب است۔(۲) وهوالموفق

د ولادت تعلق مسقط قصاص دي مسقط ديت او کفاره نه دي

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د شپې د اودۀ کیدو په وخت ښځې او خاوند ووړکي ماشوم خپل مینځ کې څملولو، د خوب په حالت کې د یو د لاندې راتلو سره وفات شو، د شریعت په رڼا کې د کفارې څه حکم دي؟ بینواتوجروا

المستفتي: میان محمد رحمان ... خطیب جامع مسجد پاره چنار ۵ جون ۱۹۶۹ء

الجواب: د ولادت تعلق مسقط قصاص دي مسقط دیت او کفاره نه دي، لهذا په دواړو باندې به کفاره او دیت لازم وی. فی الدرالمختار: يجب القود بقتل كل محقون الدم على التأبيد عمدًا بشرط كون القاتل مكلفا و بشرط انتفاء الشبهة كولاد،(۳) وفيه أيضًا: وفی الواقعات شربت دواء لتسقطه عمدًا فإن ألقته حياً فمات فعليها الدية والكفارة (۴) انتهى، وما فی الدر المختار فی باب موانع الميراث: والقتل الموجب للقود أو الكفارة وإن سقطا بحرمة الأبوة على ما مر (۵) فهذا غلط من الكاتب لأن المار سقوط القود فقط۔ فافهم

---

۱) وفی الهداية: وموجب ذلك الكفارة والدية على العاقلة لقوله تعالى ''فَتَحرِيرُ رَقَبَة مُومِنَة وَدِيَة مُسَلَّمَة الى أهله۔(الهداية ۴/۵۶۱ كتاب الجنايات)

۲) وفی الهندية :وموجب ذلك المأثم والقود إلا أن يعفوا الأولياء أويصالحوا ولا كفارة فيه عندنا۔ (فتاوى عالمگيرية ۶/۲ كتاب الجنايات ،الباب الأول فی تعريف الجناية الخ)

۳) (الدر المختار ۵/۳۷۸ كتاب الجنايات ،فصل فيما يوجب القود و ما لا يوجبه)

۴) (الدر المختار ۵/۴۱۹ كتاب الجنايات ،فصل فی الجنين)

۵) (الدرالمختار ۵/۵۴۱ كتاب الفرائض ،موانع الإرث)

د سرکاري ډيوټئ د وجې نه په عقل خرابيدلو سره د حکومت نه د ديت اخستلو حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې د يو سرکاري کاريگر په صحت باندې، د سرکاري کار د زياتوالي له امله، مضر اثرات پريوتلې دي او دماغي بيماري هم ورته پيښه شوې ده کوم چې ميډيکل بورډ او د سرکاري محکمو ډاکټرانو هم منلې دې، او د وخت نه مخکښ د شپږ ديرشو کالو په عمر کې د ملازمت (مزدوري) نه راويستلې شوې دې، دماغي تکليف ورته د سرکاري ډيوټئ د وجې نه راغلې دې، په شريعت مطهره کې د دې څه حکم دې، آيا په حکومت باندې به ديت وي يا نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: حافظ انور خان...... ۲۲ رمضان المبارک ۱۴۰۵هـ

الجواب: په صورت مسئوله کې په حکومت باندې نه قصاص واجب دې او نه ديت، **لعدم كونه قاتلا ولا قاطعا ولا سببا.** خو د حکومت دپاره ضروري ده چې د داسې معذورينو دپاره چې کله غريبانان وي د بيت المال نه نفقه مقرر کړي. (۱) **وهوالموفق**

د اوده شوي ماشوم قتل په مور باندې نه ثابتيدلو کې احتياطا کفاره ادا کول غوره دي

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې که يوې زنانه د شپې د خوب د غلبې د وجې نه خپل بچې د خپل بدن د لاندې کړو او هغه ماشوم د دې نه مړ بيا موندل شو. آيا په هغې باندې کفاره لازم ده. دويمه خبره دا ده په بستره باندې سحر مور ماشوم مړ بيا موندلو، دا ماشوم لږ شان بيمار وو او هغه جامه چې په هغې باندې د ماشوم مخ پټ کړې شوې وو داسې

---

(۱) قال العلامة الحصكفي :و بقى رابع و هو لقطة و تركة بلا وارث ودية مقتول بلا ولى ومصرفها لقيط فقيروفقير بلاولى أى ليس له من تجب نفقة عليه ،قال فى البحر : يعطون منه نفقتهم وأدويتهم-(ردالمحتار مع الدرالمختار ۳/۳۰۸ قبيل باب المرتد)

معلومیده چې هغه جامه ماشوم خوله کې وهلې وه، کیدې شی هم د هغې په وجه باندې مړ شوې وی ځکه چې د رودلو نخښې هم پرې پرتې وې او په هغې باندې د قی لړ شان داغونه هم لګیدلې وو خو د ماشوم مور وائی چې ما دا هرګز د بدن لاندې کړې نه دې ځکه چې زه په کټ باندې داسې ملاسته وم ځکه چې زه اودهٔ شوې وم د پاڅیدو په وخت ما د ویرې د وجې نه جامه نه وه لیدلې چې یقینا د هغه حلق ته تلې ده یا نه خو ماته یقینی معلوم دی چې زما د وجې نه دا نقصان نه دې شوې. **بینواتوجروا**

المستفتی: صالح شاه پیښور.... ۲۲اپریل ۱۹۷۵ء

الجواب: چونکې په شهادت یا اقرار سره د مور قاتل کیدل ثابت نه دی لهذا په صورت مذکوره کې د مور وغیره کفاره به واجب نه وی، خو که احتیاطا مسلسل دوه میاشتې روژې ونیسی نودابه غوره وی(۱) **وهوالموفق**

په قتل خطاء کې د دیت په مقدار باندې مصالحت جائز دې

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی موټر سائیکل روان کړې وو یو موټر والا هغه وهلو سره زخمی کړو چې په هغې سره د موټر سائیکل والاخپې ماتې شوې او شپږ ورځې پس په هسپتال کې وفات شو اوس موټر والاراضی نامه کول غواړی، خو د وفات شوی بچی او وارثان وائی چې آیا زمونږ دپاره د دې سړی نه څه اخستل جائز دی؟ که مونږ ترې څه نغدې اخستل غواړو نو آیا د هغې څه حد مقرر دې؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: حاجی امان الدین، پیر پیائی، نوښهر... ۲۴دسمبر ۱۹۸۵ء

الجواب: په صورت مسئوله کې په مقدار دیت باندې صلح کول جائز دی لکه چې په قصاص کې په کم او زیات باندې جائز دې (۲) او د دیت مقدار د

---

(۱) قال الدکتور وهبة الزحیلی :یجب علی القاضی أن یقضی بما ثبت عنده بطرق الإثبات الشرعیة وهی البینة والإقرار والیمین والنکول-
(الفقه الإسلامی وأدلته ۸/۵۹۴۶، الباب الخامس :القضاء وطرق إثبات الحق)

(۲) فی الهندیة : اذا اصطلح القاتل وأولیاء القتیل علی... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

پنځوس روپۍ فی توله په حساب سره یو لاك یو څلویښت زره پنځوس روپۍ
جوړیږی. (۱) وهوالموفق

د حاملې زنانه د وژلو په وجه باندې د مړ ماشوم په صورت کې د غره د وجوب مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړی یوه حامله زنانه په ډنډا وغیره باندې ووهله، بیا د هغه زنانه نه د صحت مند کیدو نه پس مړ ماشوم پیدا شو او د عادت نه مخکښې هم پیدا شو. اوس د زنانه وارثان د وهونکی نه د غره مطالبه کولو کې په حقه دی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولانا محمد سردار صاحب، مدرس عربیه. تل.... ۶ مئی ۱۹۸۳ء

الجواب: د کلیاتو په بنیاد جواب دا دې چې که غالب گمان دا وی چه دا مرگ د دې ضرب د وجې نه واقع شوې دې نو په دې کې غره واجب ده. (۲)
والله الموفق

... بقیه ازحاشیه گذشته] مال سقط القصاص ووجب المال قلیلاً کان أو کثیراً... ثمّ الصلح فی فصل الخطا إن کان بعد القضاء بنوع من أنواع الدیة أو بعد تر اضیهما علی ذلک فإن وقع علی النوع الذی وقع القضاء به أو وقع التراضی علیه وکان الصلح علی أکثر من الدیة لا یجوز وإن وقع علی أقل مما وقع به القضاء فإنه یجوز نسیئة کان أو یداً بید.
(فتاوی عالمگیریة ۶/۲۰، الباب السادس فی الصلح والعفو، کتاب الجنایات)

۱) قال العلامة المرغینانی رحمه الله :والدیة فی الخطاء من العین ألف دینار ومن الورق عشرة آلاف درهم.
(الهدایة ۴/۵۸۵ کتاب الدیات)

۲) قال العلامة المرغینانی رحمه الله :إذا ضرب بطن امرأة فالقت جنیناً میتاً ففیه غرة وهی نصف عشر الدیة...وجه الاستحسان ماروی عن النبی ﷺ انه قال فی الجنین غرة.
(الهدایة ۴/۵۹۸ کتاب الدیات)

په کلي کښې د مقتول موندلې کېدو د وجې نه

په اهل قریه باندې د قسامت او دیت حکم

سوال: ماذا يقول العلماء الكرام فى المسئلة الآتية: إذا وجد رجل فى القرية ولم يعلم قاتله فالدية على أهل القرية أم لا؟ وماذا حكم أهل القرية؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد جمال، دير .... ۱۲ ذو القعدة ۱۳۹۷ھ

الجواب: حکم به د دې کلي پنځوس عاقل او بالغ کسانو ته قسم ورکوی چې نه مونږ دا قتل کړې دې او نه مونږ ته قاتل معلوم دې پس که ټولو قسم وکړو نو په هغوی باندې به دیت لس زره شرعی روپۍ (۲۳ زره پاکستانۍ روپۍ) لازم وی. کنه نو قصاص به وی. هكذا فى الهندية.(۱) **وهوالموفق**

ولد الزنا ماشومې لره قتلولو باندې د قصاص او دیت حکم

سوال: څه فرمائی علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يو سړی د خپلې لور واده وکړو هلته يوه جينۍ پيدا شوه چې کله جينۍ پيدا شوه نو هغې ته د فارغ خطی کاغذ ملاؤ شو. هغې ښځې جينۍ او کالی خان سره راوړل. هغه جينۍ کومه چې ئې د خان سره راوړې وه هغه ځوانه شوه نو د هغې د غير نه حمل راغلو کومه جينۍ چې پيدا شوې وه هغه ئې نيا او نيکه (د مور د طرفه) پوليس سره يو خای کيدو باندې ختمه کړه اوس د هغه دپاره څه حکم دې؟ او

---

۱) فى الهندية: إذا وجد قتيل فى محلة قوم وادعى ولى القتيل على جميع أهل المحلة أنهم قتلوا وليه عمداً أوخطاءً وانكر أهل المحلة فإنه يحلف خمسون رجلا منهم كل رجل بالله ماقتله ولاعلمت له قاتلاً ...فإن حلفواغرموا الدية.

(فتاوى عالمگيرية ۶/۷۷، الباب الخامس عشر فى القسامة)

وأيضًا فيها: الدية من الورق عشرة آلاف.

(فتاوى عالمگيرية ۶/۲۴، الباب الثامن فى الديات)

د دې کلي پنځلس کسان د دې خبرې ګواهان دي؟

المستفتي: محمد حکیم راولپنډی ...۲۷ اګست ۱۹۷۵ء

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت په دې جرم کې حصه اخستونکي ټول په ټوله مجرمان دي. په هغوی باندې توبه ضروري ده او دا چې د الله پاک نه معافي وغواړي (۱) باقي قصاص په ظاهره کې معاف دې خو په دې قاتل باندې د دې حرمونې جیني وارثانو ته دیت (خون بها) ورکول ضروري دي که هغوی مطالبه کوي (ماخوذ از شامی) (۲) وهوالموفق

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: واعلم أن قتل النفس بغير حق من أكبر الكبائر بعد الكفر بالله تعالى وتقبل التوبة منه.
(رد المحتار ۵/۳۷۶ كتاب الجنايات)

(۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ولو اشترك رجلان في قتل إنسان أحد هما يجب عليه القصاص لوانفرد والآخر لايجب عليه القصاص كالأجنبي والأب والخاطئ والعامد أوأحدها بالسيف والآخر بالعصا فإنه لايجب عليه القصاص و يجب عليه الدية ... (قوله أي أصله) لما في الخانية: لو كان في ورثة المقتول ولد القاتل أوولد ولده وإن سفل بطل القصاص وتجب الدية.
(ردالمحتار ۵/۳۸۰-۳۸۱ كتاب الجنايات، فصل في ما يجب القود وما لايوجبه)

کتاب المرتد

د قادیانی د مسلمانیدو د پاره د مرزائیت نه براءت کول ضروری دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زه مسمی فلان بن فلانی سره د اهل وعیال د دې اعلان په ذریعه اقرار کوم چې د نن نه مخکښې زما مذهبی اړیکه د جماعت احمدیه لاهور سره وه. ما د علماء او خپل خاندان او محبین په وینا باندې دا فیصله وکړه چې د نن نه پس زما د جماعت احمدیه لاهور سره هیڅ قسم مذهبی تعلق نشته، او د مرزا غلام احمد قادیانی ټول تعلیمات او دعوات کوم چې غلط او ارتدادی دی، د قطع تعلق د ګواهانو او علماء صاحبانو په مخکښې اعلان کوم چې د نن نه وروستو زه تر مرګه پورې د حنفی العقیده اهل سنت والجماعت کیدو اقرار کوم او محمد رسول الله ﷺ لره خاتم النبین او آخری نبی ګڼم او د رسول الله ﷺ نه پس د یو تشریعی یا ظلی یا بروزی نبی قائل نه یم. آیا د دې سړی د پاره دا براءت کافی دې؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم ...... ۷ نومبر ۱۹۷۳ء

الجواب: د یو لاهوری مرزائی د مسلمانیدو د پاره دا اعلان او براءت کافی دې (۱) په دې شرط چې دا سړې مرزا غلام آنجهانی لره بزرګ او خادم اسلام ونه منی. **وهوالموفق**

علانیه مرتد کیدونکی باندې علانیه توبه کول ضروری دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې زما یو رشته دار د خپل ټول خاندان مخکښې ناڅاپه د یو نوې دین خبره وکړه، هغه وویل چې

---

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: وإسلامه أن يتبرأ عن الأديان سوى الإسلام أو عمّا انتقل إليه بعد نطقه بالشّهادتين.(الدر المختار ۳/۳۱۳ باب المرتد)

د محمد ﷺ زمانه ختمه شوه او اوس نوي پیغمبر راتلونکي دي چې خلقو د هغه نه تپوس وکړو نوهغه ووئیل چې ما ستاسو دین یعنی دین اسلام پریښودي دي او ما نوي دین قبول کړي دي. د دې نه پس هغه باقاعده د خپل دین په اشاعت کې مصروف وو، اوس نژدې وخت کې د خپل خوی سره د بیمارئ نه پس مړ شو، د هغه د کور خلقو ووئیل چې هغه دوه خله په دین اسلام کې داغلې وو. خو د دې خبرې اقرار هغه د خپلوانو مخکښې نه وو کړې، او په اخبار کې د هغه خوی د هغه د دوباره مسلمانیدو بیان ورکړې وو، د خاندان خلق به د هغه کور ته نه تلل او دا به ئې ویل چې دا مرتد دي سوال دا دي چې آیا د هغه توبه به قبلیږي یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: نامعلوم ۱۳۰کتوبر ۹۰ء

الجواب: په دې مرتد باندې ضروری ده چې علانیه توبه وکړي (۱) ان سرًّا فسرّاوان جهرًافجهرٌ. بهر حال په خلقو باندې ضروری نه ده چې هغوی پته توبه ومنی. (۲) **وهوالموفق**

د موره پیدا قادیانی او مرتد قادیانی کې فرق

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د موره پیدا قادیانی او مرتد قادیانی یعنی کوم چې په خپله قادیانی شی په دوی کې څه فرق شته یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: خلیل الرحمٰن، آدینه... صوابئ... ۲۹ اګست ۷۴ء

الجواب: کوم سړې چې پخپله قادیانې شی د هغه حکم قتل دې، او کوم چې

---

۱) وفي الهندية :وإسلامه أن ياتي بكلمة الشهادة ويتبرأ عن الأديان كلّها سوى الإسلام وأن تبرأ عمّا انتقل إليه.(فتاوى هندية ۲/۲۵۳ الباب التاسع في أحكام المرتدين)

۲) قال العلّامةابن عابدين: (قوله لإجراء الأحكام الدنيوية)...لا يخفى أن الإقرار لهذا الغرض لابدّ أن يكون على وجه الإعلان والإظهار على الإمام وغيره من أهل الإسلام بخلاف ما إذا كان لإتمام الإيمان فإنّه يكفي مجرد التكلّم وإن لم يظهر على غيره. (ردالمحتار ۳/۳۱۳باب المرتد)

د پلار نیکه د تابعداری د وجې نه مرتد شی نو د هغه حکم قتل نه دې (شامی:۴۳۳) (۱) وهوالموفق

په احمدی او لاهوری مرزائیانو کې فرق، او هغوی لره د کافر نه منونکی حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د احمدی او لاهوری مرزائیانو مینځ کې څه فرق دې؟ او قادیانی لره د کافر نه منونکی څه حکم دې؟ بینواتوجروا

المستفتی: خلیل الرحمٰن، أدینه صوابی، ۲۹ اگست ۷۴ء

الجواب: مرزا غلام احمد علیه ما علیه لره مجدد منونکی لاهوریان دی او نبی منونکی قادیانی احمدیان دی (۲) او دا دواړه ډلې د ضروریات دین د

---

(۱) قال العلامة الحصکفی: والولد الأوّل یجبر بالضّرب علی الإسلام وإن حبلت ثمّة لتبعیّته لأبویه لاالثّانی لعدم تبعیّة الجدّ علی الظاهر فحکمه کحربیّ. (الدرالمختار)

و قال العلّامة ابن عابدین: قوله والولد الأول یجبر بالضرب والحبس، نهر أی بخلاف أبویه فانّهما یجبران بالقتل ... (قوله فحکمه کحربیّ) فی أنّه یسترق و توضع علیه الجزیة أو یقتل و أما الجدّ فیقتل لامحالة لأنّه المرتد بالإصالة أویسلم. (ردالمحتار مع الدرالمختار ۳/۳۳۵ باب المرتد، مطلب فی ردّة الصبی)

(۲) قال العلّامة المفتی محمود حسن الجنجوهی رحمه اللّٰه تعالی:

سوال: (۱) د قادیانی مذهب لاهوری، محمودی دواړه ډلې کافران دی او که یوه ډله؟ (۲) د مرزا صاحب دله ولې کافران شو؟

الجواب: حامداً و مصلّیاً دومره خو تاسو هم پوهیږئ چه مرزا غلام احمد قادیانی نه کافر ونیلې شوی دی او دا تکفیر اهل حق دینداره علماؤ کړې دې. او دا هم تاسو ته معلومه ده چې فی الحال د قادیانانو دوه ډلې دی یوه ډله مرزا غلام احمد نبی منی. او دویمه ډله ئې مجدد او د دیرې لوئې ډلې ولی منی ... [بقیه حاشیه بر صفحه آئنده]

انکار د وجې نه کافر دی (۱) او هغوی نه کافر نه وېونکې هم کافر دې (۲)
وهوالموفق

مرتد لره د قتل کونکی حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې اعلانیه مرتد کیدونکې که حکومت نه قتل کوی، بل یو سړې هغه لره قتل کړی نو قاتل ته به سزا ورکولې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: مولوی محمد ادریس، دار العلوم چارباغ سوات ... ۲۳ جمادی الاولی ۱۴۰۱ھ

الجواب: دا قاتل به صرف په دنیا کې ماخوذ وی، لحدیث: من بدل دینا فاقتلوه، رواه أحمد والبخاری (۳) وغیرهما (۴) وفی ردالمحتار ۳/۳۰۵: وأطلق

بقیه ازحاشیه گذشته] (۱) د دوارو ډلو یو حکم دی. (۲) د قطعیات او اجماعیاتو په وجه (فتاوی محمود یة ۲/ ۱۱۸ ما یتعلّق بالقادیانیّة)

۱) وفی مجمع الانهر : وامّا الإیمان بسیّدنا محمّد ﷺ فیجب بأنّه رسولنا فی الحال وخاتم الأنبیاء والرّسل، فإذا آمن بأنّه رسول ولم یؤمن بأنّه خاتم الانبیاء لایکون مؤمنًا، وفی فصول العمادیة من لم یقرّ ببعض الانبیاء بشیئ اولم یرض بسنّة من سنن المرسلین علیهم السّلام فقد کفر.(مجمع الانهر ۲/۵۰۶ باب المرتد، ثمّ إنّ ألفاظ الکفر أنواع)

۲) وفی المرقاة : إذا رأی منکراً معلوماً من الدّین بالضّرورة فلم ینکره و لم یکرهه و رضی به واستحسنه کان کافراً.(مرقاة المفاتیح :۹/۳۱۸ باب الامربالمعروف)

وقال العلّامة الکشمیری : څوک چې مرزا غلام احمد د څه شي شبهي نه بغیر کافی نه منی هغه هم کافر دې، ددې وجوهات دا دی بل څوک فرمایی مرزا غلام احمد قادیانی او دهغه منونکی ټول مرزایان کافر دی (اکفار الملحدین ۱۶۲، ۶۱)

۳) (صحیح البخاری ۲۹۱، کتاب الجهاد ،باب لا یعذب بعذاب الله تعالی)

۴) (بلوغ المرام من أدلة الاحکام ۳۰۰ رقم ۱۲۰۰)

فشمل الإمام وغیره لکن إن قتله غیره بلا إذن الإمام أدبه الإمام(١) انتهی-و هوالموفق

کافر سره د نکاح په صورت کې ارتداد او د ثبوت نسب مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې که یوه مسلمانه زنانه د کافر سره نکاح وکړی نو آیا په دې سره هغه مرتده شوه یا نه؟ او په دې نکاح سره پیدا شوی بچی به د چا نه ثابت النسب وی؟ او بچی به مسلمانان شمارلې شی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: نامعلوم ...۲۹محرم الحرام ...۱۴۰۱ھ

الجواب: که دا مسلمانه دا اقدام جائز ګڼی نو د اسلام نه خارجه ده. (کتاب المرتد، هندیة) (٢) وشامی (٣) او په نورو صورتونو کې د اسلام نه خارج نه دې، او دا ماشومان د پلار نه ثابت النسب نه دی صرف د پلار نه ثابت النسب دی (ردالمحتار۲: ۴۸۲) (٤) او د بلوغ نه مخکښ به مسلمانان

---

١) (رد المحتار ٣/٣١٣ باب المرتد)

و قال العلّامة ابن نجیم :أطلقه فشمل قتل الإمام وغیره لکن إن قتله غیره أوقطع عضوا منه بغیر إذن الإمام أدبه الإمام کما فی شرح الطحاوی.

(البحر الرائق ٥/١٢٩ ،باب أحکام المرتدین)

٢) و فی الهندیة :من اعتقد الحرام حلالاًأوعلی القلب یکفر ...هذا إذا کان حراماً لعینه. (فتاوی هندیة ٢/٢٧٢ ،الباب التاسع فی أحکام المرتدین ،منها ما یتعلق بالحلال والحرام)

٣) قال العلامة ابن عابدین :والأصل أن من اعتقد الحرام حلالًا فإن کان حراماً لغیره کمال الغیر لا یکفر وإن کان لعینه فإن کان دلیله قطعیاً کفر وإلّا فلا.

(ردالمحتار ٣/٣١١ باب المرتد ،مطلب فی منکر الإجماع)

٤) قال العلامة الحصکفی :و فی مجمع الفتاوی :نکح ...[بقیه حاشیه بر صفحه آئنده

شمارلې شي. (١) وهوالموفق

د مرتد توبه قبوله ده

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په محله کې يو سړې د درې څلورو کالو نه مرزائي دې او ربوه ته ځي راځي، تيره شپه هغه مسلمان شو لهذا استدعا ده چې د مرتد سړی دپاره خو په شريعت کې درې ورځې مهلت دې نو آيا د هغه توبه به صحيح وي؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: حاجي صاحب ګل، بازار شهيدان، هوتي مردان ٦ جمادی الثانی ١٤٠٢هـ

الجواب: چې حاکم يو مرتد ته درې ورځې مهلت نه ورکوی او هغه لره نه قتل کوی نو دا نه لازميږي چې د مرتد توبه دې نه قبليږي. (٢) **وهوالموفق**

د قاديانيت قبلونکې مرتدې زنانه حکم

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې يوه زنانه مسلمانه وه، اوس هغه قادياني شوې ده، د هغې دپاره د شريعت په رڼا کې څه

... بقيه ازحاشيه گذشته] كافر مسلمة فولدت منه لا يثبت النسب منه ولا تجب العدة لأنّه نكاح باطل ـ(در مختار)

و قال العلامة ابن عابدين :(قوله لأنّه نكاح باطل)أى فالوطى فيه زنا لا يثبت به النسب ـ(ردالمحتار ٢/٦٨٧، قبيل باب الحضانة)

١) قال العلامة ابن عابدين :والولد يتبع خيرالأبوين دينًا ... و يستوى فيما قلنا أن يكون عاقلًا أو غيرعاقل لأنّه قبل البلوغ تبع لأبويه فى الدّين.

(ردالمحتار ٢/٤٢٧ باب نكاح الكافر)

٢) قال العلّامة الحصكفى :كل مسلم ارتدّ فتوبته مقبولة.

(الدر المختار ٣/٣١٧ باب المرتد)

حکم دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: نذیر احمد گجرات......۲۲ نومبر ۷۸ء

الجواب: د حکومت دپاره ضروري ده چې دا ښځه جیل ته ولیږي تردې چې دوباره مسلمانه شي یا په جیل کې مړه شي. (۱) او په ارتداد باندې د اصرار په صورت کې جینۍ وارثه نه شي کیدې. (۲) وهوالموفق

د عیسائیت قبلونکې مرتدې زنانه حکم

سوال: څه فرمائي علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د یوې جینۍ مور پلار او نیکونه مسلمانان راروان وو او هغه خپله هم د مسلماني زنانه په تربیت کې وه او د بلوغ نه پس عیسائي شوه اوس هغې سره څه کول پکار دي؟ او حال دا چې مسلمانان مور پلار ئې د خاندان د بې عزتۍ سره سره د مذهب پریښودل لعنت، بې حد بد او د شرم مقام گڼي، دا اقدام ئې د ځولوفرو کسانو په اشاره باندې کړې دې بینوا توجروا

المستفتي: قاضي محمد سلطان... ایف ٦ اسلام آباد... ٦ شوال ۱۴۰۲ھ

الجواب: په شرط د صدق او ثبوت دا جینۍ به مرتد کیدو سره تر مرګه پورې په جیل کې بندولې شي. (۳) او هغه اشاره کونکو ته به سخته سزا ورکولې شي. (۴) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة المرغيناني: وأمّا المرتدّة فلا تقتل ولكن تحبس حتّى تسلم. (الهداية ۲/۶۰۰ باب أحكام المرتدين)

۲) و قال العلّامة السجاوندي: و أمّاالمرتد فلا يرث من أحد، لا من مسلم ولا من مرتد مثله وكذلک المرتدة. (السراجي ۵۹ فصل فى المرتد)

۳) وفى الاختيار: والمرتدة لا تقبل و تحبس و تضرب فى كلّ الأيام حتى تسلم. (الاختيار لتعليل المختار ۴/۱۸۳: فصل أحكام المرتد عن الإسلام)

۴) و فى التاتارخانية: و إنّما يجب التعزير بأن يرتكب منكراً ليس فيه حد مقدر شرعاً. (فتاوى تاتارخانية ۵/۹۹ كتاب الحدود، الفصل الثامن فى التعزير)

د مرتد قاتل میراث او د مسلمانیدو نه پس د امیر المجاهدین هغه لره معاف کول

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱ دهری که په خپل حالت باندې مړ شو، یا قتل شو، یا فرار کیدو سره د اهل حرب د حکومت سره متصل شو، د دهری حکومت یو فرد جوړ شو د هغه میراث به د شریعت په رڼا کې څنګه او په کومو خلقو باندې تقسیمولې شی؟

۲ که دهری په حالت کفر کې قتل یا جرح کړې دې او داعی الی الفساد دې نو دې دهری ته به د امراء المجاهدین د طرف نه معافی کول صحیح وی یا نه؟

۳: که دهری د کفر په حالت کې د جنګ دوران یا بغیر د جنګ نه نهٔ قتل کړې دې او نه جرح او نه داعی الی الفساد دې نو دې دهری لره د امراء المجاهدین معاف کول صحیح دی یا نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتی: مولانا عبدالحلیم، پیښور ... ۸ مئی ۱۹۹۰ء

الجواب: ۱: که دا مرتد په دار الاسلام کې وی نو د مرګ یا د قتل په وخت چې کوم وارثان وی په هغوی باندې به د هغوی مال تقسیمیږی، او که دار الحرب ته لاړو نو د الحاق د وخت اعتبار به کولې شی. (ردالمحتار ۴: ۲۴۷) (۱)

۲، ۳: د مسلمانیدو نه پس د حقوق العباد مواخذه باقی ده او ارباب الحقوق هر وخت د معاف کولو اختیار لری. (۲)

---

۱) قال العلّامة ابن عابدين: (قوله ورث كسب إسلامه وارثه المسلم) أشار إلى أن المعتبر وجود الوارث عند الموت أو القتل أو الحكم باللّحاق وهو رواية محمّد عن الإمام و هو الأصح. (ردالمحتار ۴/۳۲۸ باب المرتد)

۲) قال العلامة الحصكفي: (مسلم أصاب مالًا أو شيئًا يجب به القصاص أو حدّ السرقة) يعني المال المسروق لا الحدّ، خانية وأصله أنّه يؤاخذ بحق العبد وأمّا غيره ففيه التفصيل (أو الدية ثم ارتدّ أو أصابه وهو مرتدّ في دار الإسلام ثمّ لحق ... ثمّ جاء مسلمًا يؤاخذ به كلّه. (الد رالمختار على هامش الطحطاوي ۲/۴۸۹ باب المرتد)

نوټ : واضحه دې وي چې څنګه په پاکستان کې د جمعية العلماء مخالفين، نيشنل، مسلم ليګ، پيپل وغيره (کوم چې اسلامي نظام نه غواړي) کې ځيني مسلمان او بعض مرتد هم دي ټول کافر نه دي، هم دغه شان په افغانستان کې هم د مخالفينو هم دا حکم دې وهوالموفق

د مرتد د لمسو (که د خوی نه وي او که د لور نه) هديه اخستل صحيح دي

سوال: څه فرمائي علماء دين د دې مسئلې په باره کې چې زيد د پلار نيکهٔ د وخت نه د مرزائيت عقيده ساتي، مرزا نبي مني دا سړې په خپله رضا بغير د جبر او اکراه نه په يو ديني اداره کې تعاون کوي او د هغه تعاون کله د غلې په صورت کې وي، سوال دا دې چې د مذکوره سړي د تعاون د جواز او عدم جواز، د حلت او حرمت په اعتبار سره څه حيثيت لري؟ که جائز او حلال وي نو څو کسان مثلا طلباء، غريبانانو او مسافرو سره تعلق ساتلې شي يا نه؟ بينواتوجروا

المستفتي: در محمد، ضلع نواب شاه، پشين کوټ لالو، ٦ جون ٧٠ء

الجواب: د مرتد په لمسو باندې د ارتداد احکام نه جاري کيږي لهذا د هغوی عطيه او هديه اخستل صحيح دي خو خواص له د دې د قبلولو نه ځان ساتل ضروري ده چې مداهنت او ذلت نه بچ شي، او عوام به په فتنه کې نه پريوځي. يدلّ عليه ما في الدر المختار: والولد الأوّل يجبر بالضرب على الإسلام لا الثّاني لعدم تبعيّة الجدّ على الظّاهر فحكمه كحربي (١) انتهى.

وقال الله تعالى (وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُوْنَ) (٢) فيكون المداهنة و مقدماتها حرامًا فقط. وهوالموفق

(١) الدر المختار ٣/٣٣٥ باب المرتد، مطلب في ردّة الصبي)

(٢) (سورة القلم آيت ٩ پاره ٢٩)

موجوده قادیانی، د حربیانو په حکم کې دی

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې نن سبا حکمران، قادیانی نه قتل کوی، نو بیا به د دې قادیانو څه حکم وی، خپل مینځ کې به میراث اخلی یا نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: خلیل الرحمن انور، ادینه، ضلع صوابی ۲۹ اگست ۷۳ء

الجواب: چې کله بې دینه حکام د دې قادیانو د قتل نه مدافعت کوی نو په هغوی باندې به د حربیانو په شان احکام جاری کولې شی، کما یشیر الیه استثناء السراجیة فی بحث المرتد. (۱) وهوالموفق

د افغان حکومت په خدمت سره د ارتداد حکم

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې یو سړې افغانستان ته لاړو او د افغان حکومت هر قسم خدمت کوی، اوس هغه وائی چې زه د افغانستان نه وځم او اسلام قبلوم نو د هغه د راوړلو دپاره به څه شرطونه وی؟ **بینواتوجروا**

المستفتی: محمد سردار وزیرستانی، متعلم حقانیه... ۲۲ ذی القعده ۱۴۰۲ھ

الجواب: که دا سړې د دار اسلام نه خارج شوې وی، نو توبه په توبې او تجدید ایمان سره په اسلام کې داخل شمارولې شی. (۲) وهوالموفق

---

(۱) قال العلّامة السجاوندی: و أمّا المرتدّ فلا یرث من أحد لا من مسلم و لا من مرتدّ مثله و کذلک المرتدة إلّا إذا ارتدّ أهل ناحیة بأجمعهم، فحینئذٍ یتوارثون.
(السراجی ۵۹ فصل فی المرتد)

(۲) قال العلامة الحصکفی: و إسلامه أن یتبرأ عن الأدیان سوی الإسلام أو عمّا انتقل إلیه بعد نطقه بالشّهادتین.
(الدر المختار ۳/۳۱۳ مطلب فی أنّ الکفّار خمسة أصناف، باب المرتد)

د زندیق تعریف او د هغه د توبې د قبلولو مسئله

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې ۱: زندیق لفظ عربی دې یا عجمی، او د دې مصداق کوم خلق دی؟

۲: د زندیق توبه د گرفتارۍ نه مخکښ یا وروستو د گرفتارۍ قبلیږی یا نه؟

بینواتوجروا

الجواب: ۱، ۲: زندیق عربی لفظ دې او زندیق هغه کافر ته وائی کوم چې خپل کفر په پټو تاویلاتو سره پټ ساتی، نه په اقرار لسانی سره مثلاً وائی چې د رسول الله ﷺ د خاتم النبیین کیدو دا مطلب نه دې چې د هغه نه پس به بل نبی نه راځی بلکه مراد دا دې او د پیغمبرانو زینت دې، كما صرح به الشاه أنورشاه رحمه الله تعالى (۱) ويشير إليه ما في ردالمحتار ۲۴۲/۴ مطبع حلبی: فإنّ الزنديق من يموّه كفره ويروّج عقيدته الفاسدة ويخرجها في الصورة الصحيحة، وهٰذا معنى إبطان الكفر (۲) او د زندیق توبه قبوله ده د گرفتارۍ نه مخکښ، نه وروستو د گرفتارۍ نه، كما في الصفحة المذكورة. (۳) وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الكشميرى: او که چیرې د نبی ﷺ د نبوت اقرار او د اسلامی شعائرو د اظهار کولو باوجود داسې عقیدې لری چه هغه متفقه طور باندې کفر دې ددې خاص نوم "زندیق" دې.

(اكفار الملحدين ۶۵ زنديق ،ملحدين اور باطنيه كى تعريف)

۲) (ردالمحتار ۳/۳۲۴ باب المرتد ،مطلب فى الفرق بين الزنديق والمنافق)

۳) قال العلامة ابن عابدين :ثم بيّن حكم الزنديق فقال :اعلم أنّه لايخلوا إمّا أن يكون معروفاً داعياً إلى الضلال أولا ...والأوّل أى المعروف الداعى لايخلوا من أن يتوب بالاختيار ويرجع عمّافيه قبل أن يؤخذ أولا ،والثانى يقتل دون الأوّل.

(ردالمحتار ۳/۳۲۴ باب المرتد ،مطلب فى الفرق بين الزنديق والمنافق)

د زندیق وژل د حکومت ذمه داري ده

سوال: څه فرمائی علماء دین د دې مسئلې په باره کې چې د پیر مبارك شاه گنده عقائد، سحر او عملیات د چا نه پټ نه دی، هغه اول د ولی کیدو دعوی وکړه د هغې نه پس ئې د غوثیت، د هغې نه پس ئې خپلو مریدانو ته د عورت غلیظه د ښکاره کولو دپاره وویل، په هغوی باندې ئې جامې ویستلې او هغوی ته ئې وویل چې په دې جامو کې تاسو گناهونه کړی دی په دې وجه دا اوباسئ او دا خیال مه کوئ چې مونږ منکشف العورة یو بلکه د دې په عوض کې به تاسو ته جنتی جوړې ملاوېږی او وائی چې سیدنا آدم علیه السلام هم جامې ویستلې وې او انسان چې کله پیدا کیږی نو حفاة وعراة پیدا کیږی او د قبر نه پاڅیدو سره به هم مونږ حفاة عراة یو تاسو د خپل مور او پلار په نقش قدم باندې لاړ شئ او خپلو مریدانو ته ئې وویل چې ما الله پاك لیدلې دې او ما د هغه نه پوښتنه وکړه چې ماته زما امت راکړه، اوس به زما د تعیین سزا په باره کې تپوس کوم. څو ورځې پس ئې وویل چې په دې رسئ سره به هغوی پاکیږی، دا به په سټ کې لگوی او هلته یو قسم مرداري اوبه وې هغې ته ئې د آب زمزم نوم کیښودلو، په هغه اوبو کې به ډوبولې شی، د دې نه پس به وهلې شی، د هغې نه پس به وژلې شی او پیر ته به سجده کوی. د دې نه پس به ورته زیرې ورکولې شی چې جنت دې مبارك شه او خپلو مریدانو ته ئې وویل چې څوك زما د غوثیت نه انکار کوی هغه کافر دې او د هغه نفس او مال او عزت هر څه به جائز او حلال وی، د دې نه پس ئې وویل چې زه د الله په غیږ کې یم او زه چې څۀ وایم هغه پرې عالم دې او زه د الله سره ولاړ یم او هغه زما نه څلور کوټې لوړ وو، والعیاذ بالله، دا قسم ډیر افعال ئې کړې دی تردې چې زنا او لواطت ثواب گڼی او د نبوت دعوی کوی. د دې بدو عقائدو د وجې نه علماء په هغه باندې د کفر فتوی ورکولو سره هغه مردار کړو. اوس ځینې داسې خلق پیدا شوې دی چې دې مرگ ته شهادت وائی، لهذا تاسو مهربانی کولو سره د دې متعلق دلائل ولیکئ.

المستفتی: محمد منصور، شمالی وزیرستان.... ۱۰ جون ۱۹۷۵ء

الجواب: محترم المقام مولوی محمد منصور صاحب ادام الله نصرته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! اما بعد! پس واضحه دې وی چې دعا کونکې په خیریت سره دې، امید دې چې تاسو به هم په خیریت سره یئ، الله کریم دې تاسو په خیر او عافیت سره ساتی او د شرور او فتنو نه دې تاسو محفوظ وساتی او د فتنو د بندولو توفیق دې درکړی. دا پیر ستاسو د بیان او د نورو راتلونکو د بیاناتو مطابق کبیره ګناهونو لره حلالونکې وو لأنّ کشف العورة عند حضرة النّاس فسق، کما صرّح به فی ردالمحتار (١) وغیره (٢) نیز زندیق تها،لأنّ الزندیق من یبطن الکفر بحیث یموّه کفره ویروّج عقیدته الفاسدة ویخرجها فی الصّورة الصّحیحة أی بالاستدلال،فلیراجع إلی ردالمحتار باب المرتد(٣) بلکې مدعی نبوت وو لهذا د هغه قتل به د شریعت خلاف نه شمارل کیږی، خو قتلول ئې د شعری پولیتیکل وغیره ذمه ده (٤) او عوام هم هغه ته د ګناه ورکولو په وخت د تعزیر ورکولو مجاز وی. کما صرح به فی تعزیر الهندیة(٥) خو توبه کوونکې او د ذهن صحیح توازن نه لرونکې د دې حکم نه مستثنی دې وهوالموفق.

---

(١) قال العلامة ابن عابدین :والرابع سترعورته ووجوبه عام أی فی الخلوة وخارجها (قوله وفی الخلوة أی إذ کان خارج الصلوة یجب الستر بحضرة النّاس إجماعًا، وفی الخلوة علی الصحیح... ثمّ إنّ الظّاهر أن المراد بما یجب ستره فی الخلوة خارج الصلوة هو مابین السرة والرکبة فقط.(ردالمحتار ١/٢٩٧ باب شروط الصلوة ،مطلب فی ستر العورة)

(٢) قال العلامة ابن نجیم : واعلم أنّ سترالعورة خارج الصلوة بحضرة النّاس واجب إجماعًا إلّا فی مواضع، وفی الخلوة فیه خلاف والصحیح الوجوب إذا لم یکن الانکشاف لغرض صحیح.(البحر الرائق ١/٢٦٩ باب شروط الصلوة)

(٣) ردالمحتار ٣/٣٢٤ باب المرتد ،مطلب فی الفرق بین الزندیق والمنافق)

(٤) قال العلّامة أبوالحسن علی بن الحسین السغدی :فإن ارتدّ الرجل عن الإسلام استتابه الإمام فإن تاب وإلّا قتل...فإن لّم یستتبه وقتله أوقتله رجل غیر الإمام فلا شیئ علیه فی ذلک لأنه حلال الدم.(النتف فی الفتاوی ٤٢٤ کتاب المرتد)

(٥) وفی الهندیة :قالوا لکل مسلم إقامة التعزیر حال مباشرة المعصیة وأمّا بعد المباشرة فلیس ذلک لغیر الحاکم.(فتاوی عالمگیریة ٢/١٦٧ فصل فی التعزیر)

تمت